# د کلیاتِ اقبال (رح)

## (فارسي) منظومه پښتو ژباړه

ژباړونکي

بېلابېل شاعران

ټولونه اوڅېړنه

ډاکټر عبدالرؤف رفیقي

اقبال اکادمي پاکستان لاهور

# ټول حقوق يې له ادارې سره دي


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | د کلیات اقبال (اردو) منظومه پښتو ژباړه |
| ژباړونکي | :: | بېلابېل شاعران |
| ټولونه او څېړنه | :: | ډاکټر عبدالرؤف رفيقي |
| چاپ کال | :: | اګست 2015م کال |
| خپرونکي | :: | اقبال اکادمي پاکستان لاهور د ډاکټر رفيقي څېړنيز مرکز په مرسته |
| چاپ شمېر | :: | ۵۰۰ |
| کمپوزر | :: | حافظ رحمت نيازے |

ډالۍ

د پښتنې خاورې د امن او غوره سباوون په نوم

رفیقي

# د اقبال (رح)

## د فارسي کلیاتو د غه منظومه پښتو ژباړه

د شرق ستر نابغه علامه محمد اقبال چې د خپل هڅاند فکر او ژور نظر له کبله په نړیوالو ادبیاتو کښې د یوۀ لوړ نامه څښتن دے. د دۀ د فکري بنسټ بېلا بېلې منابع وې چې په هغو کښې دۀ د شرق او غرب د نومیالیو، منورینو، پوهانو او مفکرینو د مطالعې پس یو شمېر نتیجې ترلاسه کړې. د اقبال په دغه فکري اتلانو کښې یو شمېر افغاني او پښتانۀ نومیالان وو. لکه مولانا جلال الدین بلخي رومي، مولانا جامي، حکیم سنائي غزنوي، سید جمال الدین افغاني، خوشحال خان خټك، شېرشاه سوري، احمد شاه بابا، محمود غزنوي، حضرت علي هجویري او داسې نور یو شمېر نومیالي هم شامل دي.

اقبال چې کله د شرق او د غرب د علومو د مطالعې پس د عالمِ انسانیت حالت بالعموم او د عالمِ اسلام حالت بالخصوص وسنجاوۀ نو ډېر رنځ یې واخیست. فکر یې وکړ چې څۀ ډول باید خلکو او ملت ته اسانتیاوي وربرابري کړي. او څۀ ډول د هغوئ و دردونو ته درمل پیدا کړي. په دغه درملنه کښې هغه و امت ته یو شمېر لارښووني وکړې. دغه لارښووني پر خیالي او تصوراتي خبرو نۀ وې سپرې بلکې د ځمکني حقایقو سره یې ډېر ژور تعلق درلدود. همدغه وجه وه چې د نړۍ خلکو د اقبال فکري مسلك قبول کړ.

اقبال پېژندنه دا وخت یو نړیواله موضوع ده. د نړۍ په بېلابېلو ګوټو کښې مېشت د بېلابېلو قامونو په بېلا بېلو ژبو کښې د اقبال په فکر او فن باندې ورځ په ورځ نوي څېړني کیږي. تراوسه پورې د اقبال په باب د چاپ شوو کتابونو شمېره زرونو ته رسیږي.

د اقبال په فکر او فن باندې د خبرېدو دپاره د دهٔ شاعري اوله منبع ده. ځکه نو د نړۍ په بېلو بېلو ژبو کښې د اقبال د شعري ټولګو ژباړې په ځانګړې خو البته په ځينو ځايونو کښې په بشپړه توګه شوې دي.

په ځينو ژبو کښې يې د يوې او نيمې خو په ځينو ژبو کښې يې د زياترو ټولګو منظومې ژباړې شوي دي.

د دغه ژبو په بهير کښې پښتو هم هغه يوه ژبه ده چې د اقبال د درست اردو او فارسي کلام بشپړه منظومې ژباړې په کښې شوي دي. حتیٰ په ځينو ځايونو کښې خو په پښتو کښې د اقبال د يوې يوې شعري ټولګې تر يوې هم زياتې منظومې ژباړې شوي دي[1]

د دې وجه ښايي دا ده چې اقبال له پښتنو سره مينه درلوده. د خپل غوره کردار، لوړو اخلاقو، عمل، سخت جانۍ او سخت کوشۍ له کبله پښتانهٔ په دهٔ ډېر ګران وو. په خپل کلام کښې اقبال د پښتنو د دغه صفتونو ځایٔ پر ځایٔ يادونه کړې ده. ځيني ځايونو خو يې د پښتنو ستاينه ببخي په ډاګه کړې ده. البته په ځينو ځايونو کښې بيا په ځانګړې توګه[2] د پښتنو خویٔ و خاصيت او ملي مشاهيرو ته يې په درنه سترګه کتلي دي. نهٔ يوازې دا بلکې د اقبال په فکر باندې افغانيت ډېره درنه او توده اغېزهٔ او اثر ښندلے دے چې له کبله يې د ځينو نړيوالو پر اقبال باندې ببخي د افغان ګمان کېدهٔ. هم دغه سبب ؤ چې پښتنو د خپل د دغه غمخور د لویٔ شخصيت د دهٔ په ژوند کښې لا وپېژاندهٔ.

د اقبال په ژوند کښې لا د اقبال د کلام منظومې پښتو ژباړې پيل شوې.[3]

د اقبال د ټولو منظومو آثارو پښتو منظومې ژباړې و شوې. د يوې يوې شعري ټولګې يې بېلو بېلو شاعرانو ژباړې وکړې. تر څو و خپل دغه نړيوال شخصيت ته د خپلې بې کچې مينې څرګندونه وکړي.

دلته د اقبال د فارسي کلياتو په لړ کښې د هغۀ پر پښتو ژباړو او پښتنو ژباړونکو يو ځغلنده نظر اچوو. په دغه کلياتو کښې د اقبال دغه شعري ټولګې شاملې دي.

اسرار خودي ، رموز بېخودي ، پيام مشرق، زبور عجم، جاوېدنامه ، پس چه بايد کرد ، اې اقوام مشرق، مع مسافر ، ارمغان حجاز.

## اسرارِ خودي

اسرارِ خودي د اقبال د فارسي شعر هغه ټولګه ده چې لومړے ځل په ۱۹۱۵ء کښې چاپ شوه[۴].

اسرارِ خودي د اقبال د نړيوالې نظريې "خودي" هغه په زړۀ پورې فارسي شعري اثر دے چې د اقبال د افکارو او نظرياتو د خورولو دپاره يې لومړنۍ تيره کښېښوده او هسې هم اسرارِ خودي د اقبال د شاعرۍ لومړنۍ ټولګه وه چې د خودۍ اصطلاح يې نړيوالو ادبياتو ته وړاندې کړه.

خودي په انګرېزي کښې د EGO په عربي کښې د "من" يا "انا" په معنا کښې راځي او د پښتو اصطلاح يې ځان پېژندنه جوړېږي. دا هغه شيطاني خودي نۀ ده چې د هوس کينې او بغض څخه عبارت ده بلکې علامه د مولانا بلخي رومي پر پلۀ روان له انسانانو څخه د عرفانِ نفس دپاره د تسخيرِ قوت، قاهري او جابري غواړي ترڅو د انسانه څخه بې عملي او سستي وکوچېږي او هغه په الٰهي صفاتو وپسولل شي او د آدميت و معراج ته ځان ورسوي. هغه په دې چې جلال و جمال او قاهري

و دلبري لازم او ملزوم دي. د معنویت په لحاظ خو خورا درانهٔ او دقیق مطالب په ځان کښې لري.

په اسرارِ خودي کښې د ذات او نفس د عرفان څخه د حق تر عرفان او پېژندني پورې پراوونه په ګوته شوي دي. چې څهٔ ډول فرد په ملت کښې ورکېدے شي او څهٔ ډول د خپل شخصي توان په لاس ته راوړلو سره د انساني ښېګړې او تولني دپاره د خیر او برکت او پرمختګ ګړندي ګامونه پورته کولے شي.

د خودۍ لړۍ چې کله په یوه ډله یا جماعت ورګډېږي داسې وي لکه یو څاڅکے چې له دریابه سره مل شي او هلته نور د هغه دریاب برخه وګرځي. شخصي خودي چې کله په ګډه خودي ورګډه شي نو نوره هم پیاوړې کېږي.

په رموزِ بېخودي کښې د سیاست مظاهر او په اسرارِ خودي کښې د مذهب عناصر زیات دي. خو د دې دواړو منزل یو دے. د رموزِ بېخودي اصل د ملتِ اسلامیه د ژوندانهٔ او اسرارو تشریح ده.[۵]

د مثنوي اسرارِ خودي ماخذ قرآن کریم او د مولانا جلال الدین بلخي رومي مثنوي ده. په ګوسپندي نظریه عجمي تصوف او د وحدة الوجود د توحید منونکو په ضد یو زورور ضرب دے. دغه ټوله مثنوي د خودۍ تفسیر او تشریح ده. ځکه چې خودي هغه د ذات او نفس عرفان دے کوم چې د افرادو او قامونو د ژوندانهٔ ضامن وي. کوم چې انسان د مادي او روحاني مداریجو و څوکو ته د رسولو ذمه په خپله غاړه اخلي. اسلام هم دغه غواړي چې د هر انسان خودي یې نهٔ یواځې قائمه وي بلکې د ارتقاء منزلونه دي راپرې کړي. تر څو یوه داسې مقام ته راورسیږي چې د دهٔ نهٔ یواځې تقدیر په واك کښې وي بلکې د تقدیر قاضي

و انسان ته د هغه د مطلق تقدیر د لیکلو پر ځای د هغه څخه پوښتنه وکړي چې وایه کنه، ستا څهٔ خوښه ده؟ تقدیر دي څنګه ولیکم؟.

پر اسرارِ خودي باندې څهٔ ویل یا د اسرار خودي په نظریه باندې رڼا اچول زما رنګه لوستونکي دپاره ډېره درنه خبره ده او زما د محدودي علمي سویې د وس خبره نهٔ ده.

د اسرارِ خودي پښتو منظومه ژباړه ملك الشعراء سمندر خان سمندر کړې ده چې د پاکستان پبلکشنز کراچۍ له خوا چاپ شوې ده. د ژباړي کال یې ۱۹۵۴ء مطابق ۱۳۷۳هـ ق ده. د سمندر صاحب په ژباړه کښې ما ته د نورو ژباړو څخه بېل یو جلا خوند او کیفیت را محسوسیږي. هغه دا چې دا تشه لفظي ژباړه نهٔ ده. بلکې فکري او معنوي ښکلا یې پر هنري ښکلا غالبه شوې ده. دغه بدلون په دغه ښکلا کښې دومره اضافه کړې ده چې ګرسره ژباړه نهٔ ایسي. په دې هم چې د اقبال درانهٔ او ژور نظریات د خودۍ د نکتې د سپړلو په باب د فکري یون په دغه کړاو کښې د بېلا بېلو کړ لیچونو څخه راتېر شوے دے. زما په خیال دا به مبالغه نهٔ وي نهٔ به د بې ځایه ستاینې په لیکه کښې راځي بلکې دا به د سمندر صاحب د صلاحیتونو اعتراف وي. که زهٔ دا ووایم چې د سمندر په چپه به ګورو چې چا دغه ژباړي ته دومره خوندور پسول ورسپارلے واے نو بې ځایه به نهٔ وي.

اقبال اسرارِ خودي د فارسي په لنډ مثنوي بحر کښې کښلے دے. خو سمندر خان ولې چې په پښتو شاعري کښې د عروضو استاذ ګڼل شوے دے د دهٔ د همدغه غښتلي وصف له کبله یې خورا په ماهرانه انداز په اوږده بحر کښې دغه ژباړه سر ته رسولې ده.[۲]

اسرارِ خودي يوه بله منظومه پښتو ژباړه د پښتو نامتو شاعر جعفر شاه رښتوني هم کړې ده.[۷] بلې هو دا هغه جعفر شاه رښتونے دے چا چې د الهي کلام قرآن کريم پښتو منظومه ژباړه هم کړې ده.

## رموزِ بېخودي

رموزِ بېخودي لومړے ځل په ۱۹۱۸ء کښې چاپ شو.[۸]

رموزِ بېخودي د علامه د اسرارِ خودي د مثنوي دويمه برخه ده. اقبال د دې ښوولو کوشش کړے دے چې څۀ ډول د ذات او نفس د پېژندني يا د عرفان پس بنده د حق تر عرفانه پورې منزلونه را پرې کوا ے شي. او څۀ ډول فرد په ملت کښې د ورکېدو سره خپل شخصي توان د ملت په ګټه اچولے شي. کله چې د ټولني هر وګړے ټولنه له هره اړخه پر مخ بيايي نو بيا خودي په بېخودي کښې ځلا مومي. علامه د خودي او بې خودي پر دقيقو مسايلو د صوفياوو د فکري بنسټ څخه ګټه ترلاسه کړې ده. د هغه مسيحيايي د خودۍ او بې خودۍ ملت ته د ګډ عمل په نتيجه کښې و انسان ته د برياليتوب لار ښوولې ده. د ازل پر ځا ے د ابد د تسخيرولو مرام ورښوولے دے. د دغه تسخير دپاره چې يې د کوم دستورالعمل وړانديز کړے دے په هغو کښې يې فرد او جماعت دواړه يو د بل دپاره لازم او ملزوم بللي دي.

رموزِ بېخودي د قرآني معارفو او اسلامي حقايقو تشريح ده. د قامي انا راز دے، د علم الحيات او عمرانياتو درس دے. د فرد له جماعته سره ربط رحمت دے او د هغه جوهر د ملت کمال دے. جماعت هغه کليت دے په کوم کښې چې افراد د اجتماع د مقاصدو ساتونکي جوړ او خپلې خودۍ د اجتماع د بېخودۍ سره وصل کوي. د اقبال په وړاندې ملت بحر ذخار دے په کوم کښې چې هرڅۀ شته. دا

کوم هر شي چې خودي لري او د هغه وجود د بېخودۍ د څپېز بحر برخه جوړوي[۹].

د رموزِ بېخودي منظومه پښتو ژباړه هم سمندر خان سمندر کړې ده. د ژباړې کال يې ۱۹۵۲ء دے. چې لومړے ځل د پاکستان پبلکشنز کراچۍ له خوا چاپ شوې ده.

د سمندر صاحب د دغه ژباړې اسلوب هم د اسرارِ خودي اسلوب دے. زما په خيال هغه ټولې ښېګړې چې د اسرارِ خودي په لړ کښې په ګوته شوې. کومې چې د ژباړې په خوندورو ځانګړتياوو کښې راتلې هغه بيان شوې. د هغو بيا بيانول به تکراري وي.

دلته غواړم چې د سمندر خان سمندر و ژوند او آثارو ته لنډه کتنه وکړو. سمندر خان سمندر د منصور په کور کښې په لومړۍ جنوري په ۱۹۰۱ء کښې وزېږېدۀ. دے هم د نوشهرې د بدرشو د کلي اوسېدونکے ؤ. په ختېه سلېمان خېل غلجے ؤ نيکه ګان يې له کندهاره بدرشو ته راغلي وو[۱۰]. په کور باندې د بېخي لومړنيو زده پس يې تر څلورم ټولګي پورې زده کړې وکړې لېکن د دۀ خو د داره طبعيت پابندي نۀ منله خو په هر حال تر اتمه يې زده کړه وکړه.

د چپړاسي په حېث يې دولتي وظيفه پيل کړه. بيا يې ټانګه چلوله، د دې پس يې د انګرېزانو په ضد په مبارزۀ کښې برخه واخيسته. د همېش خليل په قول چې د خوشحال خان ختک او کاظم خان شيدا پس سمندر خان سمندر هغه لومړے شاعر دے. چا چې خپل پام و عروضي شاعرۍ ته واړاوۀ. د عربي او فارسي په مروجه عروضو کښې يې غزلې او نظمونه ليکل.

په ۱۹۴۸ء کښې د پښتو په عالمي مشاعره کښې چې د ملك الشعراء خطاب ورکړل شو او په ۱۹۴۳ء کښې یې په ریډیو کښې وظیفه ترلاسه کړه[۱۱].

څلویښت کاله یې دلته خدمت وکړ پنځه پنځوس کتابونه یې ولیکل. د پاکستان د دولت له خوا و دهٔ ته تمغهٔ امتیاز او تمغهٔ حسنِ کارکردګي ورکړه[۱۲].سمندر خان سمندر د جنوري په اوولسمه نېټه په ۱۹۹۰ء کښې په حق ورسېد[۱۳].

سمندر رښتیا هم سمندر ؤ. د اقبال سره یې ډېره مینه درلوده. د اسرارِ خودي او رموزِ بېخودي منظومي پښتو ژباړي یې کړې وې او زما په خیال سمندر خان سمندر چې خپل مشهور کتاب د توحید ترنګ" د کلیمې طیبې "لا اله الا الله محمد رسول الله" په تفسیر لیکلے ؤ. د شعرونو شمېره یې څلور شپېته زره ته رسېدله. د دې کتاب بنیادي اثر او تحریك یې هم د اقبال د فکر څخه اخستے ؤ. دا ځکه چې پر دهٔ باندې دغه اثر هغه وخت ولوېد چې دهٔ د اسرارِ خودي او رموز بېخودي پښتو منظومه ژباړه کوله.

د سمندر صاحب ځیني آثار په دې ډول دي:

* د الم څوکه * لیت او لار * د قرآن ژړا * خوږه شپېلۍ * رڼا *بلي ډیوې * تار او شاباز * د بلال بانګ * ګلکر * تماشې نندارې * خوږلن * کوزهٔ کښې سمندر * علم * پت * د توحید ترنګ (لس ټوکه) * د یثرب غم * دروند پښتون * اسرار خودي او رموز بېخودي منظومي پښتو ژباړې.

نثري چاپ آثار: * کاروان روان دے * خبري * لوګېدلے ژوند *پښتنې * ژور سمندر * اوښکي سمندر * قافیه * تشبیه * استعاره * لس خزانې * ژما ژوند

## پیامِ مشرق

د علامه مشهور منظوم فارسي اثر "پیامِ مشرق" لومړے ځل په لومړۍ مئ ۱۹۲۳ء له چاپه راووت. له ما «رفیقي» سره یې د لومړي چاپ هغه نسخه پرته ده کومه چې علامه په خپل لاسلیك په دا بله ورځ یعني دویمه مئ ۱۹۲۳ء و سر نواب ذوالفقار علي خان ته وړاندې کړې وه.

پیامِ مشرق علامه د الماني شاعر ګویټه د پیامِ مغرب په جواب کښې وکیښ او دغه ځواب د غرب په علمي فضا کښې هم هنګامه را پیدا کړه. ګویټه هغه ختیځ پوه ؤ چې د خواجه حافظ شیرازي، شیخ فرید الدین عطار او سعدي شیرازي څخه ډېر متاثر ؤ. کله چې یې په ۱۸۱۲ء کښې د حافظ د دیوان ژباړه په الماني ژبه کښې چاپ شوه نو د المان په ادبیاتو کښې د شرق تهذیب څرك وواهۀ. د ګویټه د دیوانِ مغرب محرك د حافظ دیوان شو. خو د دۀ پر فن باندې حافظ خورا په آب و تاب جلوه ګر دے. و بلي خوا ته اقبال بیا د ګویټه د دیوانِ مغرب ځواب په پیامِ مشرق ووایه. چې موخه یې د هغو اخلاقي، ملي او مذهبي حقایقو سپړل ؤ د کومو تعلق چې د افرادو او بیا وروسته د اقوامو د باطني تربیت سره ؤ.

په پیامِ مشرق کښې څۀ دي؟ د شرق دغه ځلاند لمر و شرق او غرب ته د خپل فکر کومي وړانګې د پیام په ژبه وړاندې کړې. د عالمِ اسلام د دغه ستر حکیم د خوارۀ وارۀ ځپلي ملت دپاره د بیا رغوني او نشاة الثانیه دپاره کوم پیغام وړاندې کړ. له پښتنو سره د اقبال څومره هیلې تړلې وې چې د پیامِ مشرق تړون یې د افغانستان د غښتلي او زړور پښتانۀ پاچا امان الله شاه غازي سره وکړ. په لومړني انتسابي ابیاتو کښې یې و امان الله شاه غازي ته څۀ اند ښښنې درلودې. د دغه او یو شمېر نورو پوښتنو ځوابونه ځانته جلا بحث دے. که ما د خپل لیك

د لوري ملوني نه راونيولې نو په سوونو څۀ چې په زرونو پاڼې به توري شي. د پيامِ مشرق منظومه پښتو ژباړه شېرمحمد مينوش کړې ده. چې لومړے ځل د اقبال اکاډمۍ له خوا د پېښور د پښتو اکېډمۍ په مرسته په ۱۹۲۳ء او دويم ځل په جنوري ۱۹۸۳ء کښې چاپ شوه.

د پيامِ مشرق د پښتو منظومې ژباړې شاعر شېرمحمد مينوش د ژوند لنډ حال او آثار په دې ډول دي. شېر محمد مينوش د صوابۍ تحصيل په ترلانډۀ د فروري په ۱۷ مه نېټه ۱۹۰۳ء کښې د ظهور الله په کور کښې وزېږېدۀ. لومړۍ زده کړې يې په کلي کښې تر سره کړې او د پنجاب پوهنتون څخه يې ايس وي تر لاسه کړه. ديني کتابونه يې پر مولانا عبدالحکيم باندې ووئېل[۱۴].

مينوش صاحب په خټه مندڼ ؤ او د شاعرۍ پيل يې د لوست د زمانې څخه کړے ؤ. لومړے تخلص يې بسمل ؤ. د مردان په افغان مجله کښې يې نظمونه خپرېدل او د پښتو په تکړه شاعرانو کښې شمېرل کيدۀ. مينوش صاحب په محکمه تعليم کښې مدرس ؤ او وروسته له هغه ځايه ريټائر شو. د اقبال د افکارو څخه ډېر متاثر ؤ د همدغه ذوق او شوق له کبله يې د اقبال زياترو کتابونو منظومې ژباړې کړې دي چې په هغه کښې "پيامِ مشرق" او ضربِ کليم چاپ شوي دي.

د پورته ياد شوو دوو کتابونو په څېر د همېش خليل د قوله چې مينوش صاحب د "بانگِ درا" او "زبورِ عجم" ژباړې هم کړې وې. مينوش د دغو ژباړو په وخت کښې خپله هم د اقبال د شعر څخه په خپل شعر کښې اثر قبول کړے ؤ.

د مينوش صاحب خپله شعري ټولګه "تصوراتِ مينوش" نوميږي. د اقبال د پورته ذکر شوو چاپي ژباړو او دوو ناچاپه ژباړو په څېر مينوش صاحب د اقبال د "بالِ جبريل" او "جاوېد نامې" ژباړې هم په

پښتو ژبه کړې وې چې تر اوسه نۀ دي چاپ شوې. له دې علاوه مینوش صاحب د غالب د دیوان هم منظومه پښتو ژباړه کړې وه. مینوش صاحب د اکتوبر په اتمه نېټه ۱۹۷۷ ء کښې په حق ورسېدۀ[۱۵].

## زبورِ عجم

زبورِ عجم لومړے ځل په جون ۱۹۲۷ء کښې له چاپه راووت. زبور د داؤد علیه السلام د اسماني صحیفې نوم دے. چې د برخو یا ټوټو په معنا دے. د اقبال کلام د غزل د برخو بڼه د تورو په قید کښې بنده شوه. د شرق د وګړو دغه اصطلاح د سپېڅلي مقصد دپاره ډېره په زړۀ پورې کار کړې ده. په لومړۍ برخه کښې یې په غوره انساني تخیل کښې د انسان هستي څۀ ده. یې د شرق د راپاڅولو د ولولو ډک نظمونه لیکلي دي. ګلشنِ رازِ جدید، د حیات اسرار، د فرد د نوي ډول په تعلیم سره د خودۍ د اسرار یاد تازۀ کیږي. په بندګي نامه کښې یې د محکومیت د سپیتانو یادونه سرے په لړز راولي. لومړۍ برخه یې عشق دے، دویمه برخه دعوت. د عشق حقیقت د کبریایي شان هینداره ده. په دویمه برخه کښې د اقبال هغه بې قراري څرګندیږي کومې چې تل مدام دے د بني نوع انسان د حقیقت و منزل ته د رسولو دپاره بې قراره ساتلے دے. په دغه کتاب کښې د اقبال عالي افکار د دۀ مابعدالطبعیاتي نظریه او د دۀ د مشهورې فلسفې خودۍ په باب دقیقې نکتې لوستونکو ته په لاس ورولي. پرته له دې زبورِ عجم د اقبال د وحدة الوجود او نورو تصوفي نظریاتو په باب خورا غني څرګندوني لري.

د دغه کتاب پښتو منظومه ژباړه سید تقویم الحق کاکاخېل کړې ده. چې لومړے ځل د پښتو اکېډمۍ پېښور په مرسته د اقبال اکېډمۍ له خوا په ۱۹۶۱ء کښې او دویم ځل په ۱۹۸۳ء کښې له چاپه راووته.

مولانا عبدالقادر صاحب د کتاب په پېژندګلوي کښې د اقبال اکېډمۍ او د هغه د کال خوایه ممتاز حسن سره د اقبالیاتو د منظومو ژباړو د عمل و سر ته د رسولو ښځي لومړني معلومات را یو ځائ کړي دي چې په پښتو کښې په څۀ ډول مونږ د اقبال د کلام و خپلې ژبې ته د رااړولو تابیا وکړه. دغه ژباړه ځاے پر ځاے طبع زاده معلومیږي او ژباړونکے د اقبال په کلام کښې داسې ډوب شوے دے چې په ژباړه یې د سړي د اصل تخلیقي کلام خیال کیږي. دغه راز یې د هنري ښکلا سره سره د اقبال د فکر د بحر څخه هغه معنوي ګوهر هم رابرسېره کړي دي کوم چې د دۀ په یوه تکړه ژباړونکي دلالت کوي.

د زبورِ عجم پښتو منظومه ژباړه سید تقویم الحق کاکاخېل کړې ده. د دۀ ژوند او آثار په دې ډول دي:

سید محمد تقویم الحق کاکاخېل په زیارت کاکا صاحب کښې د اګست په ۱۵ مه نېټه ۱۹۲۷ء کښې د سید حمیم ګل په کور کښې زېږېدلے دے شجره یې د شېخ رحمکار د زوے تر شېخ حلیم بابا پورې رسیږي. لومړنۍ زده کړې یې د نصرت الاسلام په مدرسه کښې سرته رسولې دي. وروسته د عالي زده کړو دپاره دیوبند ته تللے دے. له هغه ځایه د دویم جنګ جهاني په وخت کښې را فارغ شو. د هغه پس یې د پېښور پوهنتون څخه ایم اې عربي د سرو زرو د تمغې سره ترلاسه کړه.

په ۲۲ دسمبر ۱۹۵۲ء د اسلامیاتو د پروفیسر په حېث دولتي وظیفه ترلاسه کړه. د خیبر پښتونخوا په بېلا بېلو کالجونو کښې د استاد او پرنسپل په حېث پاته شو او بیا پروجکټ ډائرکټر شو.[۱۲]

ما رفيقي له نوموړي سره په ۱۹۹۷ء کښې په پېښور کښې وليدل د اقبالياتي خدماتو په لړ کښې مي مرکه ورسره وکړه تقويم الحق کاکاخېل د ګڼو علمي ادبي خدمتونو سره سره په اقبال پېژندنه کښې هم د لوئ نامه څښتن دے. په ۵م مئ ۱۹۹۹ء په حق ورسېد.

د تقويم صاحب ځيني آثار په دې ډول دي:

* زبورِ عجم (د علامه اقبال د اثر منظومه پښتو ژباړه) * پس چه بايد کرد مع مثنوي مسافر (د علامه اقبال د اثر منظومه پښتو ژباړه) * مخزن الاسلام (تحقيق او مقدمه) * ديوانِ کامګار خان ختټك (مقدمه و تشريحات له تسنيم الحق کاکاخېل سره په ګډه) * ديوان علي خان (شرح او مقدمه) * بنيادي حقيقتونه[17]

## جاوېد نامه

جاوېد نامه لومړے ځل په ۱۹۳۲ء کښې له چاپه راووت، جاوېد نامه د اقبال هغه په زړۀ پورې اثر دے چې اقبال ته په نړيوالو ادبياتو کښې اوچت مقام وروبخښئ او اقبال يې د تل دپاره په ادبياتو کښې جاويدان پاته کړ. په جاوېد نامه کښې اقبال د اسلامي تصوف، حقايقو او معارفو دقيق رازونه سپړلي دي. دانتې د ابنِ عربي فتوحاتِ مکيه د اسلامي معراج نامې په اثر ۲۰۰ کاله پس (comedy Divine) وکښه. تر څو په خپل تخيلي معراج د مشاهداتو په ذريعه د خپلې زماني پر علومو او فنونو تبصره وکړي. عين د دانتې د مرګ ۲۰۰ کاله وروسته اقبال جاوېدنامه وکښه. ګويا د ابن عربي د فتوحات مکيه او د دانتې د comedy Divine پس جاوېد نامه په نړيواله کچه هغه درېيم شعري فکري اثر دے کوم چې د معراج په روايت ليکل شوے دے.

جاوېد نامه د علامه د شاعرانه کمالاتو او فلسفيانه خيالاتو غوره بېلګه او د ژوندانۀ حاصل دے. په هنري توګه د جاوېد نامې رنګ د دۀ

له نورو آثارو څخه جلا دے. په کوم کښې چې دۀ په يوه اوږده تمثيلي نظم کښې د افلاکو سير کړے دے. حتیٰ د خدای پاك سره يې هم ملاقات شته. د فلسفيانه نظم باوجود په جاويدنامه کښې ادبي لطافتونه شته. په کلام کښې يې پوخوالے، خوږلت، رواني، سوز و ګداز موجود دے. و فلسفيانو مباحثو ته يې د غزل لطيفه پيرايه غوره کړې ده. علامه په حيات کښې دوام ويني، د عشق او جهاد بلنه ورکوي. ځوانانو ته د انقلاب راوستلو لارې چارې ښيي او په فکر يې د سنائي، عطار، رومي، جامي او عراقي د کلام د اثر جلوه تر سترګو کيږي.

جاويد نامه اقبال د خپل فکري يون د دغه پړاؤ حال په کومو کيفياتو کښې ليکلے دے د روح د درياب ګوهر، د معنويت د تل ملغلرې، د هنر د درياب دغه غوټه شوي اوباز څومره په غښتلي انداز رابرسيره کړي دي او په دغه توګه يې و خپلو افکارو ته څۀ ډول د تل دپاره دوام وربخښلے دے. استغفرالله، زۀ د جاويد نامې په مقام پوه يم؟ زۀ خو په خپل علمي قامت خبر يم. د جاويدنامې په وړاندې زما سويه څۀ ده چې پر وکاږم.

د جاويد نامې منظومه پښتو ژباړه د پښتو غزل بابا امير حمزه خان شينواري کړې ده چې د پښتو اکېډمۍ پېښور په مرسته د اقبال اکېډمۍ له خوا لومړے ځل په ۱۹۶۷ء او دويم ځل په جنوري ۱۹۸۳ء کښې چاپ شوه.

امير حمزه شينواري هم د جاويدنامې په ژباړه کښې ډېر شواخون ګاللے دے. د پښتو سوچه خوندور توري يې ډېر په ښکلي انداز د اقبال د فکري معنويت په لاړ پېيلي دي. ځاے پر ځاے يې د محاورو په استعمال د خپلې دغې ژباړې هنري ښکلا ته د بقا دوام وربخښلے دے.

په ځینو ځایونو کښې یې شاید چې چاره نۀ وه نو یې د اقبال تراکیب هم د دۀ د اصل متن په څېر په کار اچولې دي.

د جاوېدنامې د منظومې پښتو ژباړې شاعر د امیر حمزه خان شینواري ژوند او آثارو ته په لنډه توګه کتنه کوو:

ابو المراد امیر حمزه شینوا ے په دسمبر ۱۹۰۷ء کښې د میر باز خان په کور کښې د خیبر د لواړګي په کلي کښې وزېږېدۀ. لومړۍ زده کړې یې د کلي په مدرسو کښې ترسره کړې وروسته د پېښور په اسلامیه کالجېټ هائ سکول کښې داخل شو. د نهم ټولګي څخه بریالے شو چې په لسم ټولګي کښې یې د زده کړې مربوطه لړۍ وشلېده خو په زده کړه د مرګ تر ورځې اخته پاته شو.

په بېلا بېلو دولتي او غیر دولتي کارونو اخته پاته شو. په ۱۹۳۱ء کښې د پلار د وفات پس په طریقت اخته شو او د عبدالستار باچا مرید شو. د دغه عبدالستار باچا په امر یې اردو شاعرۍ ته شا شوه او پښتو شاعرۍ ته یې مخه کړه.[۱۸]

په ۱۹۴۱ء کښې د پښتو د لومړي فلم "لیلٰے و مجنون" د بدلو او مکالمو دپاره بمبۍ ته وغوښتل شو. دغه راز لومړے اثر په ۱۹۳۷ء کښې "تجلیات محمدیه پر تصوف باندې" راووتۀ. په ۱۸ فروري ۱۹۹۴ء کښې په پېښور کښې په حق ورسېد. روح دې یې ښاد وي. زما خوش قسمتي ده چې په ژوند کښې مې دوه واره د دۀ په خدمت کښې د حاضرۍ نېکمرغي وموندە.

د امیر حمزه شینواري نوم د پښتو ادبیاتو په معاصر بهیر کښې ډېر لوړ او ځلاند حیثیت لري. د حمزه څخه د پښتو د نوي شاعرۍ دور بالعموم او د پښتو جدید غزل دور بالخصوص پیل کیږي. حمزه وو چې

پښتو شاعري يې د پخواني او کلاسيك غالب څخه راويسته او د نوي رمز سره يې اشنا کړه. هم دغه سوب ؤ چې پښتنو و خپل ستر زېرمه خوار ته د پښتو غزل د بابا خطاب ورعطا کړ.

امير حمزه شينوارے د پښتو يو خورا لوړ وتلے او منلے عالم، فاضل او اديب و شاعر ؤ. ګڼ شمېر کتابونه يې ليکلي دي او د يو جامع شخصيت څښتن ؤ. ځکه خو د دۀ په ژوند کښې د دۀ پر فن او شخصيت باندې د تحقيق دپاره يوۀ څېړونکي ته د پي ايچ ډي کولو وياړ وسپار شو او د دۀ په ژوند کښې هغه ته پي ايچ ډي ورکړل شوه. د امير حمزه شينواري په چاپ شوو کتابونو کښې دغه کتابونه ما ته معلوم دي:

* ارمغان حجاز * انسان او خداى * تسخير کائنات * جاوېد نامه * د حجاز په لور * د خوشحال خټك يو شعر * د خيبر وړمې * ژور فکرونه * ژوند * غزوني * نوے پښتون * نوې څپې * يون *پرويني * کليات * جبر او اختيار(اردو) * انا (اردو) * سپېځلي ويناوي * د نهجة البالغه پښتو ژباړه [۱۹]

د حمزه شينواري پر کلام باندې د اقبال ډېر اثرات پراته دي. ځکه چې يو خو دۀ د اقبال د مشهورو کتابونو "ارمغانِ حجاز" او "جاوېد نامه" منظومې پښتو ژباړې کړې وې ځکه نو د حمزه پر کلام باندې د اقبال اثرات لوېدل يو فطري خبره وه. بل حمزه په خپله هم د عالمګيريت او آفاقيت د فلسفې قائل ؤ. ځکه نو حمزه په پښتو شاعري کښې د اقباليات موضوعات لکه خودي، همت، اميد، مرګ او ژوند، انسان کامل، وحدت ملت، د ژوند حقيقت، انسانيت قوميت او مذهب او پر غربي تهذيب باندې نيوکې وغېره يې ډېر په دقت سره شامل کړه.

د حمزه د همدغه افکارو پر بنیاد باندې حمزه د پښتو ادب په اقبال شناسانو کښې یو وتلے او منلے نوم لري. په ځینو ځایونو کښې خو یې شعر د اقبال څخه ماخوذ واقع شوے دے. د دې علاوه یې اقبال ته منظومې پیرزوینې هم وړاندې کړې دي. د اقبال د عالمگیر بین اسلامي ورورولۍ نظریه او د مرد کوهستان د هرې قبلې د جدا جدا رسمونو د بتانو په ضد هم هغه په دوئ کښې وحدت غوښت دغه فکري تومنه وه چې حمزه ته یې د عالمگیر بین الافغانیت رنگ ورکړ او دغه د پراخې پښتونوالې نظریه د حمزه برخه شوه [20]

## پس چه باید کرد اې اقوامِ شرق مع مسافر

اقبال د خپل دغه اثر لومړۍ برخه "مسافر" په ۱۹۳۴ء کښې او دویمه برخه "چه باید کرد اې اقوام شرق" په ۱۹۳۶ء کښې ولیکله او دغه اثر لومړے ځل په ۱۹۳۶ کښې چاپ شو. د مثنوي پس چه باید کرد" عنوانونه په دې ډول دي:

خطاب بمهر عالمتاب، حکمت کلیمي، حکمت فرعوني، لااله الا الله، فقر، مرد حور، دراسرار شریعت، اشکې چند بر افتراقِ هندیان، سیاست حاضره، حرفې چند، باامتِ عربیه، پس چه باید کرد اې اقوام شرق، درحضورر سالت مآب.

تر پورته ذکر شوو عنوانونو لاندې اقبال د خپل عالمگیر اسلامي فکر مزې ټینگ کړې دي. په دویمه مثنوي یعني مسافر کښې اقبال د افغانستان د سفر منظوم حال کښلے دے. دغه سفر حضرت علامه د نامتو عالم سید سلیمان ندوي او سر راس مسعود په ملتیا د افغانستان د پخواني پاچا اعلیحضرت محمد نادر شاه په ست په اکتوبر ۱۹۳۳ء کښې ترسره کړ. او هغه منظوم کیفیاتو چې دۀ په

کابل، غزني او کندهار کښې ويلي دي او را يو ځاے کړي دي. خپل دغه اثر مسافر يې ځيني ترتيب کړے دے.

په دې کيفياتو کښې د پښتنو او د پښتنو له خاورې سره د اقبال د مينې او ورسره د تړلو هيلو په زړهٔ پورې ننداري کېدلے شي.
د علامه د دغه اثر منظومه پښتو ژباړه سيد تقويم الحق کاکاخېل کړې ده. چې د پښتو اکېډمۍ پېښور په مرسته د اقبال اکېډمۍ له خوا په جون ۱۹۲۹ء کښې چاپ شو. دغه ژباړه تقويم الحق صاحب څنګه کړې ده؟. په دې لړ کښې د قلندر مومند داسې وايي:

د ښاغلي تقويم الحق کاکاخېل دې ترجمې ته که د دې زاوې نه وکتل شي چې دا د علامه د اهم ترين شعري دستاويز ترجمه ده نو ځکه د ترجمې دپاره هم، هم د غه پاے د دروند والي Sublimity ضرورت دے کومه چې په اصل کښې ده. دا به هم د مترجم نه د يو ناممکن څيز مطالبه وي. بايد چې ګران لوستونکي يې د معاصرانه فکر په تاريخ کښې د علامه مقام او پښتو ژبه کښې د فلسفيانه خيالاتو د اظهار مشکلات هر وخت د نظر لاندې ساتي. او هيله په داسې کولو په هغوئ د دې ترجمې په قدر و قيمت واقف شي چې په دې ترجمه کښې کوم څيز زيات د خوښېدو او قدرولو قابل دے. هغه د مثنوي دپاره د پښتو د متبادل صنف (بدلي) بحر دے. خو د ښاغلي تقويم الحق کاکاخېل استعمال شوے بحر او د عامو پښتو بدلو په بحر کښې دا يو فرق دے چې د پښتو عامي بدلي عام طور سره دوولس سېلابيزهٔ بحر کښې ليکلے شي او دا د مثنوي يوولس سېلابيزهٔ بحر کښې ليکل شوې ده. اګرچې ځاے په ځاے کښې دوولس سېلابيزي مصرې هم شته. د دې مشکلات يو علاج زما په خيال دا هم کېدے شي چې کوم ځاے کښې د قافيې مشکل مخې له راځي هلته کښې دوولس سېلابه نه پس يو

حرفِ علت زيات کړے شي نو د مصرعې وزن د عامو بدلو له وزن سره يو کېدے شي.

ځينو ځينو ځايونو کښې ترجمه د پښتو له محاورې داسې سمون خوري چې د ترجمې نه زيات طبع زاد او تخليقي ښکاري. د دې وجه د مترجم د فنکارانه صلاحيت نه علاوه دا هم کېدے شي چې اول خو د فارسي او پښتو تر منځ ډيري محاورې او الفاظ مشترك دي او دويم دا هم چې اقبال بنيادي طور سره د ژبې نۀ بلکې د خيال شاعر دے او و داسې شاعر ته چې مترجم دپاره ډېر مشکلات نۀ پيدا کول سيوا د هغو مقامونو نۀ چې خيالات په کښې د مترجم د ژبې د اولس او د فکر او پوهي نه اوچت وي نو ځکه هيله لرم چې ګران لوستونکي به په دغو مقامونو کښې د مترجم د مشکلاتو خيال وساتي[۲۱].

## ارمغان حجاز

ارمغان حجاز د علامه هغه شعري اثر دے چې ژور ديني او مذهبي افکار په کښې بيان شوي دي. د علامه د پېغمبرِ اسلام، شاه دو جهان حضرت محمد ﷺ د غرقي ميني خوندوري بېلګي په کښې دي. دغه کتاب علامه د خپل ژوند په پا ے کښې مرتب کړ. خو د دۀ د مرګ څو مياشتي پس په نومبر ۱۹۳۸ء کښې له چاپه راووت. لومړۍ برخه يې فارسي او دويمه برخه يې اردو ده. د دغو دواړو ژبو په د کلياتو په پا ے کښې د ارمغان حجاز خپله خپله برخه راغلې ده.

د يوې لوړي پايې مفکر او شاعر چې کله د خپل پاخۀ عمر د علم او فکر په وسعتونو او تجرباتو، مشاهداتو له کثرت څخه راتېر شي بيا د خپل فکر د پوخوالي او تخيل د پرواز و انتها ته را ورسيږي خو هلته يې بيا قوتِ حافظه او ذهني قواوي مخ په ځوړ شي. په نتيجه کښې يې

شاعر زیاتره د اوږدو اوږدو نظمونو څخه راوګرځي او خپل احساسات په څلوریځو او مقطوع کښې بیانوي. اقبال هم له دغه کیفیت سره مخامخ شوے دے.[۲۲]

خو لکه څنګه چې د کتاب د نامۀ څخه جوته ده د حجاز د میني اندېښنو ډېر مغلوبه کړے دے. د حبیب د روضې د دیدار شوق شاعر ټول عمر کړولے دے. د رسول الله عشق خو یې په رګ او رېشه کښې نغښتے دے. په دغه عمر کښې یې فلسفه او خرد ټول د رسوالله د عشق تابع شوي دي. ارمغان حجاز د هغو اندېښنو او ارمانونو څخه ډك دے چې د اقبال د شاعرۍ خلاصه، لب لباب او د رسول الله د عشق او اطاعت د څرګندوني ښکارندوے دے.

د ارمغان حجاز د دواړو برخو اردو او فارسي منظومه پښتو ژباړه د پښتو غزل بابا امیر حمزه خان شینواري کړې ده چې لومړے ځل د پښتو اکېډمۍ پېښور په مرسته د اقبال اکېډمۍ له خوا په ۱۹۷۴ء کښې چاپ شو. حمزه صاحب د فارسي د منظومي ژباړي په وخت د کمال تر ټاکه رسېدلے دے.

د اقبال د فارسي کلیاتو د منظومي پښتو ژباړي برابرول رښتیا هم زما دپاره د ویاړ خبره ده. او د پروردګار د فضل او احسان هر وخت غوښتونکے یم چې دا ډول خدمتونه تر سره کړم. د دغه کار بېل بېل لاملونه وو. یو په هغه کښې دا چې ما ۱۹۹۸ء کښې د پښین په ښار کښې د روزې د میاشتي په وروستۍ عشره کښې مي اقبال په خوب لیدۀ چې د پخواني اسلامي طرزِ تعمیر په یو لرغوني سراے کښې د اسلامي مشاهیرو د یوې لویې غونډې پر مهال په استقبالیه کښې پر یوه کټ مخ پر قبله پروت وي. پر مخ یې سپین نازك د ململ ټوکر پروت وي. زۀ احتراماً تر شا ورته ودرېږم خو بېرته زړۀ راغونډ کړم. مخ ته ورته

راشم او السلام علیکم ورحمة الله ورته ووایم. دے له مخه دغه سپین ږوکر لیري کړي او و علیکم السلام راته ووایي او راته وموسي په شا و خوا چاپېر کښې اوازۀ شي چې اقبال د رفیقي سره خبري وکړې. اقبال په ما رېغ وکړ چې ته ما در پورته کړه زۀ یو څۀ شیان درښیم. ډېره درنه جوسه لکه د ډېر وخت رنځور اول خو ما همت نۀ شو کولے خو چې دۀ په خپله هم د راپورته کېدو هڅۀ وکړه زۀ یې تر ښیۍ وږه ورلاندي شوم. تر کینۍ وږه یې زما د اکا زویٔ صلاح الدین خان چې د معلمي مقدسه دهنده په غاړه لري هغه ورلاندي شو. راپورته مو کړ له کټه په دغه سراے کښې مخ په قبله اووه غټ غټ محرابي ششکونه وي د لومړي ششك و مخ ته چې راغلو او اقبال راته ګویا شو:

موضوع د الهیاتو وه چې په دغه وخت کښې زما و سر ته پرته د ګړۍ د پېشلمي زنګ ووهل شو او زۀ را ویښ شوم. که هر څو مي بیا سترګي پټي کړې خو هغه روح پرور علمي مجلس نۀ ؤ. یو سپېڅلي شخصیت یې دا تعبیر راکړ چې اقبال له تا څخه د څۀ کار هیله لري. همدغه هیلي زۀ ناقرار ساتلے یم او د اقبال په څېړنو بوخت پاته شوے یم. د همدغه څېړنو په لړۍ کښې یوه هم دغه د اقبال د کلیاتو د پښتو منظومو ژباړو پر یوۀ ځایٔ را برابرول او له نوي سره په نوي لیکدود را اړول شامل ؤ.

د دغه کار دپاره زۀ د اقبال اکېډمۍ د هڅاند مشر جناب سهېل عمر صاحب شکریه ادا کوم چې د دغه کار د برابرولو او چاپولو ضمینه یې راته برابره کړه. او د ګران حافظ رحمت خان نیازي شکریه ادا کوم چې په ډېره مینه او اخلاص یې د کمپوز سترې په ځان وګاللې.

د پروردګار شکر ادا کوم چې له ما څخه یې د تاریخ په یوه داسې پړاو کښې د اقبال د فارسي کلیاتو د منظومي پښتو ژباړي د ترتیب

کار واخیست چې پښتانهٔ ورته تر بل هر وخت زیات ضرورت لري. د زمانې په جبر کښې راګیر د نړیوالو ځواکونو تر ځاپېړو لاندې ټوکر ټوکر پښتون ملت د ښهٔ سباوون په هیله ستاسي و درانهٔ حضور ته خپل دغه نیمګړے زیار وړاندې کوم. خدای دې وکړي چې زما دغه زیار د ملت په درد وخوري او هیله لرم چې په راتلونکي کښې به پښتانهٔ ځوانان شاعران د خپلو اولنیو پر پلونو پل ږدي او په اقبال پېژندنه کښې به خپل وس دادي.

**ډاکټر عبدالرؤف رفیقي**


ډاکټر رفیقي څېړنیز مرکز کاسي واټ کوټه
۲۰م ستمبر ۲۰۱۰ء
اي میل: abdulraufrafiqui@yahoo.com
اړیکه:۰۰۹۲/3337817768

# کتابیات او حوالې


۱ عبدالرؤف، رفیقي، ډاکټر، (ژباړه) د اقبال ژوند، اقبال اکېډمي پاکستان، ۲۰۰۷ء مخ ۲۷.

۲ لکه د محراب ګل افغان کے افکار، په جاوېدنامه کښې د افلاکو د سیر پر وخت د بېلابېلو پښتنو علمي، جهادي او ملي رجالو او مفاخرو سره ملاقاتونه، هم دا ډول په مثنوي مسافر کښې د افغانستان د سیل پر وخت د پښتنو د خاورې او خلګو په باب د دۀ درانۀ افکار

۳ عبدالرؤف رفیقي، ډاکټر، اقبال او پښتو شاعري، اقبال اکادمي پاکستان لاهور، ۲۰۰۴ء مخ ۲۸۵.

۴ د اقبال ژوند، مخ ۲۷.

۵ اختر راهي، (مرتب) اقبال سید سلمان ندوي کے نظر مېں، بزمِ اقبال، لاهور، طبع اول، ۱۹۷۸ء ص ۵۲.

۶ اقبال او پښتو شاعري، مخ ۳۰۵.

۷ اسیر منګل، سهېلي ستوري، پښتو ادبي چمن تل، ۲۰۰۹ء، مخ ۳۵.

۸ د اقبال ژوند، مخ ۲۷.

۹ عبدالله، ډاکټر، مطالعه اقبال کے چند نئے رخ، بزم اقبال لاهور، ۱۹۸۴ء ص ۲۰۲.

۱۰ عبدالرؤف بېنوا، اوسني لیکوال، دویم ټوک، دولتي مطبعه کابل، ۱۳۴۱ ه ش، مخ ۲۲۱.

۱۱ همېش خلیل، پښتانۀ لیکوال، لومړے ټوک، پبلك آرټ پریس پېښور، ۱۹۷۸ء مخ ۲۵.

۱۲ میاشتنۍ پلوشه، کراچي، جون ۱۹۹۰ء مخ ۲۲.

۱۳ میاشتنۍ اولس، کوټه، جنوري، فروري ۱۹۹۰ء مخ ۳۸.

۱۴ پښتانۀ لیکوال (لومړے ټوک) مخ ۲۱۲.

۱۵ د قلم خاوندان، مخ ۴۵۰.

۱۶ فرمان مسافر، اخوندزاده، ځلنده ستوري، مکتبه اباسین هشنغر چارسده، ۱۹۸۴ء مخ ۴۱۹.

۱۷ د قلم خاوندان، مخ ۹۰.

۱۸ پښتانهٔ ليکوال، لومړے ټوك مخ ۱۳

۱۹ حبيب الله رفيع، پښتو كتابښود، وزارت اطلاعات كلتور كابل، ۱۳۵۲ه ش، مخ ۹۱.

۲۰ اقبال او پښتو شاعري، مخ ۳۲۱.

۲۱ پس چه بايد كرد اې اقوامِ شرق مع مسافر، پښتو ژباړه تقويم الحق كاكاخېل، اقبال اكېډمي كراچي، ۱۹۲۹ء، مخ چ.

۲۲ زيت الرحمٰن، كلامِ اقبال كښې پشتو تراجم، تحقيقي مقاله برائے پي ايچ ډي، اردو، شعبه اردو پشاور يونيورستي، ۲۰۰۲ء ص ۱۸۸.

## د کلیاتو ترتیب



| کتاب | باړونکے | خ |
|---|---|---|
| اسرارِ خودي | سمندر خان سمندر | ۱۲۶/۳۱ |
| رموزِ بېخودي | سمندر خان سمندر | ۲۴۴/۱۲۷ |
| پیامِ مشرق | شېر محمد مینوش | ۴۳۱/۲۴۵ |
| زبورِ عجم | تقویم الحق کاکاخېل | ۵۸۸/۴۳۳ |
| جاوېد نامه | امیر حمزه شینوارے | ۸۰۰/۵۸۹ |
| پس چه باید کرد | تقویم الحق کاکاخېل | ۸۹۰/۸۰۱ |
| ارمغانِ حجاز | امیر حمزه شینوارے | ۱۰۱۲/۸۹۱ |

# د خودۍ اسرار

ژباړه

## سمندر خان سمندر

# فهرست


| شمیر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | تمهيد | ۳۵ |
| ۲. | د دنيا د نظام اصل له خودۍ څنې د ے | ۴۴ |
| ۳. | د خودۍ ژوندوند مقصدونو پيدا كولو څنې د ے | ۴۸ |
| ۴. | خودي له عشق او محبت څنې مضبوطتيا مومي | ۵۰ |
| ۵. | خودي په سوال كمزورې كيږي | ۵۶ |
| ۶. | خودي چې كله له عشق او محبت څنې | ۵۹ |
| ۷. | د خودۍ نشتوالے | ۶۲ |
| ۸. | د مسلمانو قامونو په تصوف | ۶۷ |
| ۹. | د شعر حقيقت او د اسلامي ادبياتو اصلاح | ۶۹ |
| ۱۰. | د خودۍ د پاللو درې مرحلې دي | ۷۶ |
| ۱۱. | دويمه مرحله نفس قابو كول | ۷۹ |
| ۱۲. | دريمه مرحله د خداى نائب توب | ۸۱ |
| ۱۳. | د حضرت علي رض شير د خداى د نامو رازونه برسېرول | ۸۵ |
| ۱۴. | قيصه د هغه زلمي | ۹۲ |
| ۱۵. | قيصه د ترې مرغۍ او مرغلرې | ۹۵ |
| ۱۶. | قيصه د لعل او كوئل | ۹۸ |
| ۱۷. | قيصه د شيخ او بامبڼ | ۱۰۰ |

۱۸. د غزا مقصد ۱۰۴

۱۹. د صحرايي بابا نصیحت ۱۰۸

۲۰. وخت غوڅوونکې توره ده ۱۱۶

۲۱. دعا ۱۲۲

# تمهید

دنیا وه روڼې لمر چي، څۀ وخت و وهله د شپې لاره
نو ژړامي د ګل مخ ته، نیغه کړه د اوښکو داره
نیز[*] زما د اوښکو یو وړو، د نرګس له سترګو خوب
او هم شنه مي زرغونه کړل، سوي ږغ لېمو څڅوب
ویناګانې مي زورناکي، ملیار ښې ازمایلې
چې مصرعې مي یې وکړلې، تیارې تورې و ریبلې
په چمن کښې یې لکه تخم، بس زما اوښکې خورې کړې
تنسته یې د باغ بودې ته، دا زما سوې نارې کړې
په قبضه کښې لمر زما دے، که هر څو ذره یم لره
څه لرم په ګرېوانه کښې، رنېدلي سل سحره
جام د جم به څۀ روښان ؤ، دا زما خاوره بلیږي
چې لا نۀ دے زېږېدلي، هغه هم په کښې ځلیږي
زما فکر غشي، ویشتي، ده هغه هوسۍ پخوا لا
چې تر نني ورځي پوري، نۀ شته نۀ هغه پیدا لا
شنه چې چرې به تهوکیږي، نن یې زۀ لرم چمن کښې
لا به یې ځانګې غوټۍ سپړي، هغه ګل مي په لمن کښې
ما ښنبل د ټنګ ټکور کړو، وران او بیا مي هسې خوار پرېښې
آدم خان شومه شاباز مي، د عالم د رګ په تار کښېښې

[*] نیز یعني سیلاب

دا زما د فطرت ساز دے، د دهٔ داسې نوے ترنګ دے
په نغمومي نهٔ پوهیږي،څوک که ناست زما تر څنګ دے
په دې غونډه د دنیا کښې، زهٔ راغلے نوے لمر یم
د اسمان له دود دستوره، لا تراوسه نا خبر یم
لا زما رڼا ده پټه، خوره نهٔ ده پر هر لوري
لا زما د ځ د ځل نه، تښتېدلي نهٔ دي ستوري
کړې چرته لا په بحر، پلوشو زما ګډا ده
نهٔ د غره ناوې مونډلې، سره نکریځه لا زما ده
د دنیا سترګي لا روږدې، نهٔ دي زهٔ داسې ځلېږم
زهٔ له دې غمه دکېږم، څنګه- څنګه چې ورخېږم
لاړه شپه مشرق ته ګوره، روڼ سحر یې راختل کړي
دنیا ګل او نوې پرخې، پرې دپاسه خسول کړي
د سحره ویښېدونکو، زما تاسو ته دي سترګې
مبارک دي چې لنبې مي، ګڼې پاکې او هم زبرګې
زهٔ هغه خوږه نغمه یم، له شابازهٔ بې پروا یم
یو آواز یم نن مي اورې، له شاعره د صبا یم
دا موجوده زمانه مي، ده ناپوهه په اسرار لا
د یوسف جوګه مي نهٔ دے، سور دے هغه شان بازار لا
یو هم نهٔ شته قدر وونکے، که زاړه یاران مي ډېر شي
طورمي سوزي لارته ګوري،که موسےٰ چرته راتېر شي
د یارانو قلزم څاڅکي، موده شوې یخ نیولې
زما څاڅکي سمندر دے، جلې- جلې راختلې

دا چې زهٔ سندرې وایم، دا به ځان ته بیل جهان وي
دا د هغه جرس رِغ دے، چې د دهٔ به بیل کاروان وي
داسې هم ډېر شاعران ؤ، پس له مرګه شول پیدا دوے
خپلې سترګې یې کړې پټې، زموږسترګې کړې بینا دوے
راښکاره شول د نازونو، سامان راوړو هغه تللو
ګوره ځنګه زرغونه شول، لکه ګل له خپلو خلو
په زرګونو کاروانونه، په دې لاره چلي تېر شول
څوک یې پوه په ښکالو نهٔ شول، د اوښ پلونه غلي تېر شول
زهٔ عاشق یم تل تر تله، ویر ژړا زما ایمان دے
د محشر شور مي په وړاندې، د قیزې زغلي روان دے
څو د تار د اندازې نه، دا نغمه زما سیوا ده
ساز مي پاتې شو که مات شو، نهٔ خهٔ ویره نهٔ پروا ده
چې زما د دې سېلابه، خاشکې وشي جدا ښهٔ دے
که قلزم یې له اثره، لیونې شي نو لا ښهٔ دے
دا زما داسې طوفان دے، چې په سیند کښې نهٔ ځاییږي
دومره دے خوربدل غواړي، په بحرونو کښې به کیږي

هغه غوټه چې په خپله، له غوړېدو ګلستان نهٔ شوه
پر ده نهٔ اوري جوګه مي، د سپرلي د باران نهٔ شوه
تندرونه- تندرونه، دي ویده زما په ساه کښې
صحرا ګانې غرونه غاړې، خهٔ رانغاړم په برېښنا کښې
شه را وړاندې مي قلزم ته، که طاقت لرې صحرا یې
زما تندر په سر واخله، که خهٔ زور دي وي سینا یې

ژوند* به چینه یې په برخه، ماته راکړه څه یې غور کړم
په پټ راز د ژوندانهٔ یې، له ازله څهٔ خبر کړم
مړه ذره مي را ژوندۍ کړه، په تاوونو د خبرو
خوار چینجے مي اورکے کړو، د ځلا او د وزرو
لکه ما د راز خبري، نهٔ ویلې چا تر اوسه
مرغلرې زما غوندي، نهٔ پېیلي چا تر اوسه
ټول عمري عیشونه غواړې، رانزدې شه ما ته راشه
که دا مځکه آسمان غواړې، راشه راشه خوا ته راشه
زوړ اسمان په غوږ وهلے، وایم راز واوره قالو نه
له خوږو خوږو یارانو، پټېدے نهٔ شي حالونه
ساقي! واچوه شراب نن، خو تر مورګو راته جام کړه
چې غمونه ځنې ورک شي، زړهٔ مي داسې په آرام کړه
هغه اوبهٔ چې ترې شغلې ځي، او چې اصل یې زمزم دے
که یې څښونکي ګدا هم وي، نو په خدایکو شاه عالم دے
چې د فکر قوتونه، پر دېرېږي هوشیاریږي
که بیداري هم وي سترګې، لا پر نوري بیداریږي
چې شغله یې د مچ وزر هم، دروند پر ځاے لکه د غر کړي
چې قوت د شنو زمریو، ګیدړانو ته هم ور کړي
کړي تورې خاورې پورته، ثریا پورې شي لاړې
چې یو څاڅکے سمندر کړي، هم یې تله هم بې غاړې
چې چپتیا کاندي په مثل، د محشر د میدان کوکې
چې د باز په وینو سرې کړي، د درو د زرکو نوکې

---

* آب حیوان یا آبِ حیات

**اې زما ساقي! را پاڅه، ما ته را هغه شراب**
**چې زما د فکر شپې ته، کړي یاران نور د مهتاب**
**چې تېروتې لاروې زه، د منزل په لور روان کړم**
**خوند د ډېرو تلوسو هم، نندارې لره سامان کړم**
**چې په نوي شوق لټون کښې،بدې پورته موټې چو کړم**
**چې د نوي ارمان سیندکښې، ځان په خپله ور لاهو کړم**
**چې د ذوق د خاوندانو، د زړهٔ سر د سترګو تور شم**
**چې یو ږغ شم د رازونو، د دنیا په غوږ کښې خور شم**
**چې په نوې جستجوکښې، په مختګ وي توند رسا شم***
**چې د نوي ارزوګانو، سره زهٔ لکه اشنا شم**
**چې دا جنس د ویناګانو، زهٔ ډېر لوې نرخ ته کره کړم**
**په ځولو- ځولو مي اوښکې، مرغلري ورسره کړم**
**د رومي فیض مي موندلے، چې دا خلګو ته بیان کړم**
**چې د پټو خزانو دا، دفترونه راعیان کړم**
**د هغه د روح خو پنګه، سرې لنبې د اور د لۍ ده**
**او په ما کښې ساه غړېږي، په مثال یوه سپرغۍ ده**
**پتنګ زهٔ یم خو ناڅاپه، بله شمعه په ما راغله**
**د شرابو لویه چله، په دې لوري زما راغله**
**زما تن ؤ سپېرې خاورې، د روم پیر لکه کېمیا کړې**
**دا زما له تورو خاورو، رڼاګاني را پیدا کړې**
**ذره پورته شوه له ځمکي، دومره وخته په پاس**
**چې د لمر و پلوشو ته، دا ور ورسوي لاس**

---

* د دې شعر لفظي ترجمه داسې وشوه

زۀ یم موج او رومي بحر، تل ته یې ځان غورزوم لري
لوے ارمان مي دے په زړۀ کښې، د مقصود د مرغلري
د هغه د شراب زور دے، چې دا مستي مستي وایم
د هغه د ساه سور اور دے، چې دا زۀ ورباندې پایم
د شپې پروت وم ناقراره، له خوږ زړۀ ختے فریاد ؤ
په زارو او په دعا مي، د چپتیا جهان آباد ؤ

د دې وخت درانۀ غمونه، زما خوله کښې حکایت ؤ
وه پیاله مي تشه توره، زما دغه شکایت ؤ
اخیرداسې شومه ستړے، سرمي کښېښونوروه نۀ شوم
پرېوتم د لارو بادو، سترګي پټې شوې ویده شوم
د روم پیر مي په خوب ولید، د راستۍ او علم کان
دا هغه چې یې دے کښلے، په فارسۍ ژبه قرآن
وې چې اې په عاشقانو، ته بې شانه ډېر مینه
واخله ګوټ د عشق شراب دي، درکوم په پیرزوینه
هنګامه د محشر جوړه، کړه عاشقه خپل ځیګر ته
سر ښیښې ته کړه ور مخکښې، سترګې ونیسه نشتر ته
خنداګانې په پرق پرق کړه، د فریاد او ژړا پنګې
د ځیګر ثطري کړه اوښکي، تکې سرې په وینو رنګې
څو به چپ لکه غوټۍ یې، شابه ته غوړېدلے ګل شه
کړه خوږې ورمې ارزانې، څه ورځه په کار د بل شه
سپېلنې غوندي د ننه، په خپل سر کښې لرې شور ته
خپله کډه کړه ور کډه، سرو سکروټو ته د اور ته

د خپل تن ذره ذره کړه، د جرس غوندي لړځانه
فریادونه چې ویده دي، کړه را ویښ له هرې خوا نه
دا دنیا غونډه رڼا کړه، لمبه وکړه ته خو اورې
سوځوه له خپله سوزه، د دنیا خلقې نورې
لکه موج د شراب وکړه، په کوزهٔ کښې ځلا دېره
د بابا د میکدې کړه، ټول رازونه رابرسېره
اندېښنه که آئینه وي، ته شه کاڼے مه اسرې کړه
د بازار په منځه لار کښې، دا ښیښه ذرې ذرې کړه
له درونه* شپېلۍ غوندي، پیغام یوسه په صدا شه
هغه ورک لېوني قیس ته، لکه زېرے د لیلا شه

شابه نوے یو انداز ته، خپلو چیغو ته ایجاد کړه
په یو بل ډول شورونو، دا مجلس ښائسته آباد کړه
پاڅهٔ نوې ساه سمندکړه، هر ژوندے وربانډې سور کړه
په یو "قُم" یې لکه اور کړه، د ژوند جوش د ژوندي نور کړه
پاڅهٔ نوې لاره واخله، روان اوسه پرمختګ څه
سوداګانې زړې پرېږده، په سم رو په رغ او زوګ څه
له وینا سره اشنا شه، خوند یې واخله وه زنګېږه
د کاروان جرسه ویښ شه، څو به چپ یې و ټنګېږه
د رومي بابا خبرو، کړو په تن را پورې اور
د شپېلۍ غوندي مي ډک شو، سر تر سره تن له شور

---

* درون: اول نیم، فتحه دویم سکون، درېیم فتحه، څلورم سکون، په پښتو کښې نسبتان ته وایي.

لکه ترنګ شو مه را هسک زه، له خپل تاره شوم آزاد
جنتونه د نغمو ما، کړل غوږونو ته آباد
د خودۍ په مخ پلو وه ، له یو واره مي کړو لرې
ما یې ټولې راښکاره کړې ، د اعجاز پټې خبرې
زهٔ د ختې ګوډاګے وم ، ډېر کچه بې حقیقته
یو نیمګړے یو بېکاره، ډېر بې قدره بې قېمته
عاشقۍ وسولوم ، پس له هغه بنیادم شوم
ښنګه خو* او په ښو بدو، هله پوه د دې عالم شوم
پلمې او وجې د اسمان، اوس چې ښوریږي زهٔ یې وینم
د سپوږمۍ په رګ کښې وینې، چې بهیږي زهٔ یې وینم
ما به تل په نورو شپو کښې، د انسان دپاره ویر کړو
نو د ژوند د راز پلو مې، ډېر په ګرانه سره څیر کړو
د امکان دغه دنیا چې، ما په مثل د کارګاه کړه
د بقا د راز خبره، په مشکله ما پیدا کړه
د دې دور تورې شپې ته، که سپوږمۍ غوندې زینت یم
اې د پوهې خاوندانو، د پښو خاورې د ملت یم
د هغه ملت چې رڼ یې، په ګټ ګټ د جهان خور دے
چې د نوي نغمې تاؤ یې، یخو زړونو وته اور دے
چې ذرې یې وه کړلې، او لمرونه یې انبار کړل
چې یې جمع په رشه کښې، هزارها رومي عطار کړل
اسویلے یم بره خېژم، تر آسمانه زما نیت دے
که هر څو لکه لوګے یم، زما اور سره نسبت دے

* کیف و کم.

له قلمه مي شول توري*، دا د فکر پروازونه
تول د نهو آسمانونو، يې کوزۀ واچول رازونه
چې يو څاڅکې دومره لوۍ شي، د سيند سارې په دنيا شي
چې ذره دومره وغوړيږي، چې بس بې سره صحراشي
مثنوي چې زۀ ليکمه، شاعري مي ارمان نۀ دے
بت ګري بت پرستي هم، څۀ مقصد او ايمان نۀ دے
د فارسۍ نه بيګانه يم، زۀ د هند د لاس سلې يم
لکه نورې ختې مياشته، لاس کښې تش تور کنډولې يم
مه زما ځنې ښايست، او مه خوبۍ د بيان غواړه
مه زما ځنې طرزونه، د خوانسار اصفهان[٢] غواړه
مورنۍ ژبه منمه، تر شکرو دا خوږه ده
خو فارسي په وينا طرز کښې، له دې خپلې لا خوږه ده
زما فکر مسحور وکړې، د دې ځل ته ځليدونې
اوس زما قلم ته ګوره، شو له ښاخ د طور ونې
زما فکر چورلکونه، بره آ خوا له ګردون خوري
تخيل زما اوچت دے، د فارسۍ سره سمون خوري
ګوته مه نيسه کوزې ته، وي به خاوره که ښيښه ده
يو څو ګوټه شراب وڅښه، چې نشه يې بده که ښۀ ده

---

* حروف

[٢] خوانسار او اصفهان د ايران دوه مشهور ښارونه دي چې هغو خاورو د فارسي ډېر نومورې شاعران زيږولي دي.

# د دنیا د نظام اصل له خودۍ ځنې ده

ورته ګوره د خودۍ نه، د دنیا ګرم بازار دے
د خودۍ رازونه سپړي، ترجمان د ساز هر تار دے
چې خودي شوه رابیداره، او دې وکړې غزونې
راښکاره یې یو جهان کړ، د پوهنې ځان بیننې
جهانونه جهانونه، پټ پراته د دې په ذات کښې
دا ډېر ډېر څۀ راپیدا کړي، چل یې شته دے په اثبات کښې
دې جهان په دښمنیو، بس په دې چل ولړلو
چې له ځانه یې ځان بیل او، یو پردے څیز وګڼلو
دا په خپله له خپل ځانه، د پردو وجود پیدا کړي
چې جنګ تود شي خوند یې واخلي، او سره دا خپله خوا کړي
کله ده په زور د متو، وژلل کاندي له دې نیته
چې ځان وه تلې خبر شي، له خپل زور او له قوته
د خودۍ ژوندون له څۀ دے؟ بس د ځان له تېر باسلو
ژوند هغه چې لکه ګل وي، بس د وینو په لامبلو
چې یو ګل د دې ارمان وي، سل چمنه ځکه وران کړي
د یوې نغمې دپاره، روا سل ژړا فغان کړي
یواسمان لره ښایست کړي، سل سپوږمۍ اوبلا ستوري
سل بحثونه کړي دپاره، د یوه مطلب د توري
ډېر زیاتے او بې خوړتیا دي، دا د دې کبله کېږي
معنوي جمال یې شوق دے، چې تکمیل ته ورسېږي

د شیرینې ښایست ګوره، تریخ فرهاد لره ژوندون کړو
سل هوسۍ یوې نافې یوړ، هم یې ژوند په میړتون کړو
رڼا مخ که نهٔ د شمعې، ځلېدلې بلېدلې
د پتنګ به نهٔ دا برخه، نهٔ په اور به سوځېدلې
خودي ډېري د نن نخښې، و په خپل قلم صفا کړي
دا د دې دپاره کړي چې، د صبا سحر پیدا کړي
په شعلو سل ابراهیمه[ع]، وسول دې په ځو ځو ځله
ان تر دې چې یې ډیوه کړه، د یوه محمد بله
دا د بخته په عمل کښې، کله څهٔ شي کله څهٔ شي
هم عامله هم معموله، هم اسباب علل څهٔ نهٔ شي؟
پاځي! پاځوي الوزي، برېښي هم په مخه تښتي
سوځوي ځلوي وژني، مري او بیا لیدے شي لوښتي
څهٔ د وخت په لوے میدان کښې، د دې اس په ترپو زغلي
دا چې پورته اسمان ویني، د پښو دوړي یې دي ختلي
دا دنیا ځولۍ د ګلو، بس د دې له ګلکارو ده
توره شپه د دې له خوبه، ورځ د دې له بیدارو ده
سرې سپرغۍ خورې ورې کړې، دے له خپلوشعلواوره
جز پرست یې عقل ښکه، په تعلیم سره کړو ګوره
چې د ځان په وژلو راشي، ښکه برخې برخې دا شي
لړه غوندي چې خوره شي، لویه دا لکه صحرا شي
کله کله ځان راټول کړي، دا و نغاړي وزرونه
له خوروالي را یو ځاے شي، و دریږي لکه غرونه

خپل جوهر ښکاره کوي دا، د خودۍ دغه عادت دے
په ذره ذره کښې وینه، ویده پروت د دې قوت دے
قوت دے خو پروت دے غلے، عمل کړو ته ناقلاره
سببونه مدام ګوري، د عمل د کړو دپاره
د دخودۍ له زور قوته، د دنیا د ژوند سمون دے
چې وي دا ځومره مضبوطه، نو مضبوط هومره ژوندون دے
د خودۍ تورے چې یاد کړي، د یو ځاځکي کړم خبره
نو که دے خړې اوبۀ وي، نو خپل ځان کړي مرغلره
د شراب خودي کمزوري، نو دوے ځکه بې جثه شول
چې په کوم صورت ؤ لوښي، چې ور پرېوتل هغه شول
دا منم د ځان په خیر کړي، هر صورت د شراب لوښے
خو زموږ له لاسه اخلي، حرکت د شراب لوښي
که لوړغرونه خودي پرېږدي، نوبه هم پرته صحرا شي
د دریاب څپې څپې به، یې د عمر ویر ژړا شي
موج په شکل ځودموج وي، په سینه دسیند په زور ځي
د دریاب پر اوږو باندي، د اوبو بېړۍ کښې سپور ځي

چې په ګیڼه کښې نور غونډ شو، ځکه شوې د لیدو سترګې
د جلوې په تلاش ګرځي مدام شوې په کتو سترګې
چې شینکي له خودۍ وموند، ؤ قوت د ټوکېدلو
نو د دۀ همت چمن ته، سینه څیر کړه و ختلو
شمعې ځان ته چې ځان ووېږ، شوه مضبوطه ځان بې ځان کړو
دې ذرې کړلې راغونډې، نو د ځان کور یې ودان کړو

خو په ځان ويلي کولو، چې دا راغله ځان يې سپک کړو
خپلواوښکو کښې يې خپله،جاله ډوبه ځان يې ورک کړو
که غمې په خودی کلک واے، او خپل ځان يې پېژندلے
نو به وه د بل له لاسه، داسې ولې پرهر ژلے
د پردی نامې په پنګه، ده د دۀ نشه ختلې
درانۀ مار د پردي نوم دے، د دۀ ولې لګولې
په خپل ځان باندې ښۀ کلکه، هم محکمه ده دا مځکه
نو سپوږمی د دې له سره، چورلېدني کړي تل ځکه
چې د مځکې ځنې هم ډېر، په خپل ځان قوي دا لمر دے
لکه سحر يې نظر دے، او د مځکې ګل د سر دے
وړي له سترګو زنبونړ، د چنار ځومره شوکت دے
دے د دۀ له برکته، که د غرونو څۀ عزت دے
تنسه بوده يې ښکاري، چې جامه د دۀ له اور ده
جره يې بس يوه دانه ده، خو سر هسکه په بر لور ده
د ژوندون په قوتونو، چې خودي ځان پهلوان کړي
که ژوندون وړه واله وي، لکه بحر يې روان کړي

# د خودۍ ژوندونه مقصدونو پیدا کولو څنې ده

د ژوندون بقا که غواړې، مومه یې بس په مدعا کښې
دا کاروان چې سم پر لار کړي، دے جرس په مدعا کښې
چې ژوندون یې تل لټون وي، له ژوندوهغه ژوندے دے
چې آرزو لري په زړهٔ کښې، په لټون کښې ګرندے دے
زړهٔ دے کور آرزو چراغ دے، لره یې بل نهٔ چې وژلے
هسې ته خاورین وجود ستا، شي د تورو خاورو څلے
پکښې ساه غوندي آرزو ده، دا جهان که یو صورت دے
د هر هر څهٔ په فطرت کښې، دا ارزو یو امانت دے
تمنا زړونه تاؤ ده کړل، تمنا رنې سینې کړې
دا خو تاؤ د تمنا دے، چې سینې یې آئینې کړې
تورې خاورې په الوت کړي، قوت ور کړي تمنا ده
د انسان عقل کلیم ته، لار بیونکې خضر دا ده
د ارزو له ډېره سوزه، په زړګي کښې ژوند پیدا شي
د ژوندي زړهٔ په دنیا کښې، هر باطل وه مري فنا شي
د آرزو پیدا کولو، چې شي پاتې غه څهٔ زړهٔ دے
د الوت وزر یې مات دي، او جوګه د هیڅ هم نهٔ دے
د خودۍ هنګامې ټولې، تمنا کړې را ولاړې
دا یو موج دے ناقلاره، خودي سیند بې تل او غاړې
مقصدونه که مرغے دي، نو آرزو یې په سر جال شي
د ارزو له برکته، په تنظیم واړه افعال شي

چې ارزوپه زړهٔ کښې نهٔ وي، ژوندے هم په مړوشماره
چې دننه سوز یې ورک شي، لمبه هم کښېني قلاره
دا زموږ بیداري سترګې، اصل څهٔ لري خبر یې؟
د دیدار لذت شول کځي، دا ښتن چې د نظر یې
زرکو وموندے په تول کښې، کلکي پښې او سرې یې نوکې
د نغمې له سعي چوڼېو*، ومونديې ژبو مخو کښې
شپېلۍ ووته له بڼه، چې بهر شوله آباده
پکښې سوې نغمه قید وه، نو هغه هم شوه آزاده
تل ناویات لټونکي عقل، دا ختونکے تر اسمانه
څهٔ پوهیږي چې پیدا شو، د اعجاز له کومې خوانه؟
د ارزو په دولت ډکه، زندګي چې مړه خوا شوه
پس له هغه یې د نس نه، عقل زوېکنده پیدا شوه
د قامونو د تنظیم او، قانون دود حقیقت څهٔ دے؟
علم او فن چې تل بهیږي، د دې رود حقیقت څهٔ دے؟
شوه آرزو له خپله زوره، پړوکي پړوکي تاره تاره
داترې جوړشول صورتونه، شوه بهر چې له زړهٔ ښاره
لاس او فاش او مغزهٔ سترګې، که غوږونه ستا زما دي
فکر خیال شعور او یاد شول، قوتونه که اعضا دي
ژوند چې اس ته پونده ورکړه، و وتو د جنګ میدان ته
دا وسلې یې کړلې جوړي، و ساتلو د خپل ځان ته

---

* بلبلو.

دا خو تش خبرېدل نهٔ دي، دے د علم، فن مقصود بل
بس غوټۍ او ګل خو نهٔ دي، د ښایسته چمن مقصود بل
حفاظت د ژوندانهٔ ته، ځار شم علم وسیله ده
چې خودي کړي قوتناکه، علم دے کار ته حیله ده
علم، فن د کور دننه، د ژوندون کره پیدا دي
دغه دواړه یې مریان دي، د ژوندون سره پیدا دي
ژوند خو راز دے اوچت پاڅه، اې له رازهٔ بې خبره!
د مقصد په شراب مست شه، څه میدان ته تېر له سره
د سحر غوندي روښانه، لا د نور وي ستا مقصد
چې دا ما سیوا ایره کړي، چې سور اور دے ستا مقصد
ستا مقصد د دومره بر وي، چې اسمان وي ورته لاندي
ستا مقصد دي داسې غور وي، چې د زړونو وړني کاندي
چې د زوړ باطل د خوني، ردي وباسي بهر دے
چې یې بحرله شوره ډک وي، سرترسره وي محشر دے
له زېږون د مقصدونو، په دنیا کښې مونږ ژوندي یو
د ارزو په پلوشو کښې، موږه ښکارو ځلندي یو

# خودي له عشق او محبت څخه مضبوطتیا مومي

چې پوهان یې خودي بولي، ده نقطه د نور بلېږي
دا سپرغۍ د ژوندانهٔ ده، زموږ خاوره کښې ځلېږي

دا له مينې وده اخلي، مضبوطيږي په پائيدو کښې
د ژوندون په سوځيدو کښې، ځليدو کښې بليدو کښې
هم د ميني له اثره، سره لمبه د دې جوهر شي
چې يې پټ څۀ ممکنات دي، ورو ورو وده کړي بهر شي
دا ځايي د عشق له فيضه، غوندووونکي ده د اور
دے د عشق ځنې زده کړے، چې رڼا کړي جهان خور
عشق د تورې له خنجره، نۀ ويريږي نې پروا ده
عشق پيدا دے نۀ له خاورې، نۀ اوبو او نۀ له باده
په دنيا کښې عشق هم روغه، او هم جنګ دے اې هوشياره!
عشق اوبۀ د بقا هم دي، هم ده توره جوهر داره
عشق چې يونظرپروکړي، نو شين ګټ وچوي پړق شي
چې کامل خو د حق عشق وي، اخير سر تر سره حق شي
اې! د عشق سبق ته کښېنه، يو بې مثله محبوب غواړه
روغې سترګې د نوح غواړه، مين زړۀ د ايوب غواړه
يې د تورو خاورو موتې، دغه خاوره د کيميا کړه
د اخلاص په شونډو يې ښکل کړه، د کامل درشل پيدا کړه
د رومي غوندي په خپله، کړه دا خپله ډيوه بله
د تبريز په سور انکار کښې، تمام روم وسوځه هله
يوه پټه معشوقه شته، ستا د زړۀ په کور کښې ننه
که دي سترګې وي نو راشه، چې در ويې وينم مينه
معشوقې ورته لوګے شه، دغه داسې عاشقان دي
زړۀ راکښونکي نوموړي، ميخوريز ښکلي روښان دي

د هغې معشوقې مینه، د زړهٔ زړهٔ دومره پیدا کړي
تورې خاورې پورته یوسي، سارے یې دا د ثریا کړي
د نجد خاوره هسې تونده، د هغې له برکته
چې په وجد کښې بره لاړه، تر افلاکو هم اوچته
په زړګي د مسلمان کښې، لوے مقام د مصطفیٰ ص دے
که زموږه څهٔ عزت دے، دا له نام د مصطفیٰ ص دے
طور د هغه دوړو موج دے، چې یې له خوني لاړې لړې
د کعبې لوے دوبه کړه، د هغوے هغه جونګړې
ابد کم دے دومري لوے دے، رپ د سترګو له اوقاته
وسعتونه ابد وموند، د حضور ص له پاکه ذاته
دوے په اړخ لګولو، د لمسي په ټوټه باندي
د کسریٰ تاج یې را پرېوت، د امت د پښو د لاندي
د حرا د غار خلوت ؤ، د جهان سنبالي نیت هم
رده کښېښوله د قام، او د قانون او حکومت هم
سترګې یې پټې په شپو نهٔ کړې، چې یې دومره ناکام وکړو
د خسرو د تخت د پاسه، یې امت هله آرام وکړو
شول فولاد په جنګ کښې جاؤ له، چې به دوے تورې وهلې
په لمانځه کښې به د اوښکو، مرغلرې دوے پیېلې
چې دعا بې د نصرت کړه، نور یې وو امین ویونکي
د شاهانو د نسلونو، وه دا توره غوڅونکي
دوے یونوے آئین راوړو،په نړۍ کښې یې خیر ډېر کړو
د وړو نبو ټولو قامونو د ګدیو وار یې تیر کړو

چې د دین کونجۍ یې راوړه، ور یې لرې د دنیا کړو
محمدﷺ غوندي بل څوک، دې دنیا کله پیدا کړو
په نظر کښې یې سره سارے، کوزۀ بره سپین او تور
خپل مریے سره دوے کښېناست، په یوه تالۍ او شکور
په یو جنګ کښې مصطفیٰ ته، ښځه شوه یوه اسیره
ؤ د "طےٗ"* قبیلې مشر، د هغه لور وه زهیره
پراته یې پښو ته ځنځیرونه، بې پردې راغله سر توره
سترګې یې خښې وې پر مځکه، له حیا شرم پېغوره

چې نبيﷺ د حیا دارې، سر تور والي ته نظر کړو
کړه یې پټه په پړده کښې، خپل څادر یې ور پر سر کړو
مورِ د طې له هغې ښځې، ډېر بې ستره بې څادر یو
په قامونو د دنیا کښې، ورک او سپک د مچ وزر یو
د هغه د رنې خنې، مو اسره ده په محشر کښې
په دنیا کښې به هم موږه، هغه پټ کړي په څادر کښې
که یې لطف دے که قهر، دغه دواړه یې شفقت دے
هغه یې دوست لره رحمت دے، دایې دښمن لره رحمت دے
دښمنانو ته چې یې کړله، د رحمت درزازۀ لرې
مکه والو څولۍ یوړې، .. لاتثریب**.. مرغلرې

---

* د عربو د طے نومي قبیلې سردار حاتم چې ډېر سخي ؤ، دا د هغه لور وه، یا د هغې قبیلې د بل کوم سردار لور وه.

** لاتثریب علیکم الیوم: ستاسو دپاره هیڅ تعزیر نشته، هرکله چې رحمة اللعٰلمینﷺ مکه فتح کړه نو هغه عرب کفار ورته د قیدیانو په صورت تړلي پېش شول

د وطن له قیده خلاص یو، د توحید په لاره سر مورِ
که له دوو سترګو و خیزو، اوسو یو لکه نظر مورِ
که هرڅو موږه خواره یو، په حجاز او چین ایران کښې
د یوه سحر د پرخې، ځاځکي یو په ګلستان کښې
د بطحا د ساقي سترګو، مستي کړله زموږ ژوند
د شراب او کوزې غوندي، مونږ وبله سره خوند
هغه ورکې له دنیا کړې، د نسب نسل خبرې
اور یې وسوځول داسې، خس خشاک له منځه لړې
بوے مو یو دے که ګلونه، د صد برګ سره بیل ښکاري
ساه د دې نظام هغه دے، او په خپله دے بې ساري
د هغه په زړهٔ کښې موږه، د راز پټه خزانه وو
چې ناره یې کړله پورته، راښکاره شوو په بانه وو
شته زما غلې شپېلۍ کښې، د هغه د عشق شورونه
سل سندرې اور ورینې، زما خوا کښې شته اورونه

د هغه مینه کوم ځیز دے، درته څهٔ ووایم ګلو
د هغه په بېلتانهٔ کښې، وچ لرګے هم ژړېدلو*
تجلې دي د هغه چې، د مسلم هستي رڼا کړي
د هغه د لارې دوړې، لکه طور غرونه پیدا کړي

---

کومو چې دوے ته ډېري ایذاګاني ور رسولې وې، د انتقام حق هم ؤ، او قوت هم ؤ، خو د عالمونو رحمت ص ورته دا پورته فقره وفرمایله، او ټول یې وبخښل.

* وایي چې د جماعت د کوټې یوه د لرګي ستن وه، هغې ته دوست د خدای ص تکیه لګوله، یوه ورځ هغه ستن بدلولې کېده، ناځاپه هغې ستني فریاد وکړو.

دا زما وجود ښکاره شو، د هغه په آئینه کښې
ترې زما سحر رڼا شو، داسې لمر يې په سینه کښې
په هر دم چې ناقرار یم، بس په دې کښې مي ارام دے
له سحره د محشر هم، لا ډېر تود زما ماښام دے
د سپرلي وریځ هغه دے، زۀ بوستان اوري راباندي
دا زما د انګور جرې، د هغه په نم دي تاندي
ما د مینې په پټې کښې، سترګې تخم و شیندلو
نندارہ د ښکلي مخ مي، حاصل ځکه و میندلو
د یثرب له پاکې خاورې، جهانونه دواړه ځار شه
چې دلبرمي پکښې اوسي، سر مي ځار له هغه ښار شه
د جامي د کلام ځار شم، له انداز او سوچه والي
چې دارو مي پکښې شته دي، د وینا د کچه والي
خزانې دي د معنو دا، که شعرونه يې دي ویلي
مصطفٰیؐ يې دے ستایلے، که ګوهر يې دي پېیلي
کتاب دواړه جهانونه، دیباچه ورته سردار دے
ټول عالم لکه مریان او، مصطفٰیؐ د دوے بادار دے
د شراب مستۍ يې شمارې، تر حد تیرې دي د عشق
ده یوه نامه تقلید هم، نامې ډېري دي د عشق
د بسطام* کامل تقلید کړو، خربوزه يې وه نۀ ځکله
دا معلومه ورته نۀ وه، چې رسولؐ ښنګه خوړله

* حضرت بایزید بسطامي رح له ختکي خوړلو په دې وجه پرهیز کړے ؤ، چې هغه دا خبره معلومه نه کړے شوه، چې رسول الله ؐ ختکے په کومه طریقه خوړلے ؤ، اقبال رح دې کامل تقلید ته عشق وایي.

که عاشق يې نو کلکوالے، په تقليد کښې د يار ډېر کړه
ستا کمند دي داسې پوخ وي، چې يزدان پکښې را ګېر کړه
په حرا کښې د خپل زړۀ خو، لږ په ډډه شه نيت وکړه
له خپل ځان ځنې لږ تېر شه، د حق لور ته هجرت وکړه
ښه له حق ځنې محکم شه، د خودۍ په لوري ورشه
د هوس لات او عزٰے ته، لکه تندر ور پر سر شه
ته دعشق دلوے قوت نه، جوړ يې شاته لوے لښکر کړه
په فاران د عشق و خېزه، ځلېدونکې ځان په سر کړه
د کعبې خدای به و تاته، په لمانځه سره ځير کړي
او د "اني جاعل"*، به اې مينه تا تفسير کړي

# خودي په سوال کمزورې کيږي

پر زمرو دي باچهي کړه، اې! چې وې له خراج وړو
نيمګړتيا دربانديې وکړه، چې په خوے شوې د لومبړو
پړوکي پړوکي رنځبدلے، چې يې ته کړې نيمګړتيا ده
ستا د رنځ او د دردونو، اصل جړه بس هم دا ده
نيمګړتيا د اوچت فکر، اوچتوالے په غلا وړل کړي
د پخو لوړو خيالونو، بله شمعه هم دا ګل کړي

* واذقال ربک للملئکة انې جاعل فې الارض خليفة، ژباړه: اې رسوله! ياد کړه چې ستا رب فرښتو ته وويل: "چې زه پر مځکه يو نائب مقرر کوونکے يم.

وڅښه ډک د نړۍ خم دے، چې و نۀ ګورې بل لور ته
هم د وخت د یو جګی نه، خپلې نغدي کړه را پورته
د عمر غوندي له اوښه* پسې کوز شه چابک واخله
د غیرت خبره دا ده، احسان چري د بل ماخله

په کوڅه- کوڅۀ به غواړې، منصبونه تر څو پوري
دا دے خوے د ماشومانو، د نچې په اس چې سوري
یو هغه فطرت چې یې خیزي، له اسمانه نظر وړاندې
دے د بل احسان پر مځکه، راګوزار کړي سر د لاندي
غریب توب لویه خواري ده، دا په سوال نوره ډیرېږي
ګدا ګر چې څو ګدا کړي، له ډېروالي هم تیرېږي
د خودۍ نظام له سواله، تار په تار شي اې مینه!
او هم سوال یې تجلې کړي، د خودۍ د سینا ونه
د غوښتو په منډو تړو، بادومه خپلې خاورې
خپلې غوښې خوړل ښۀ دي، د سپوږمۍ غوندي که واورې
که دنیا شي په تا تنګه، ناچاري پر تا خوره شي
شرق د ژوند په کډه راشي، او نۀ پاتې څۀ اسره شي
روزي مه غواړه هیچرې، د چا موږ منعم له وره
دا چینه د اوبو نۀ ده، اوبۀ مه غواړه له لمره
هسې نۀ د نبي ص مخکښې، شرمنده صبا ولاړ یې
هسې نۀ په لویه ورځ بیا، منګل مرورې خپړ داړې

* زموږ دویم خلیفه حضرت عمر پر اوښ سپور ؤ، چابک یې تر کښته پرېوتو، دوے پخپله د اوښ له ښا څخه ورکوز شو، چابک یې پورته کړاو د دې لړې خبرې دپاره یې هم بل چاته وینا مناسب ونه ګڼه او نه یې د احسان غر پر سر واخیست.

که سپوږمۍ ته روزي رسي، په اسمان دلمر له شکوره
دااحسان يې پر زړهٔ داغ شو، څهٔ پټ نهٔ دے ورته ګوره
لوے همت له خدایه غواړه، د اسمان سره په جنګ شه
چې خوله ورانه په سوال نهٔ کړې، د ملت مېړه د ننګ شه
د کعبې له پاکه کوره، چې اکبنلې چا بتان دي
هغه ذات دي فرمایلي، "کسب ګر د خدای دوستان دي"*
د هغه په حال ژړا ده، چې د بل شکور يې پر سر دے
ملا کړه او څټ يې مات دے، چې د بل احسان پر غر دے
د بل لطف لکه تندر، خپله څته يې کړه پر ورکه
د غيرت او عزت پنګه، يې خرڅهٔ کړله په کونجکه
پر رحمت شه چې يې سوځي، په سور لمر کښې ينه سرې
خو له خضره^ع هم نهٔ غواړي، يو کندول اوبهٔ دا ترې

د غوښتو په شرمندګۍ يې، نهٔ تندے اوبهٔ اوبهٔ شو
سرے وٙ سرے شو پاتې، لکه تورې خاورې نهٔ شو
د اسمان د لاندې هسي، ښکاره دغه بختور دي
لکه وياړ او په لويي کښې، يو سر هسکے صنوبر دي
که هر څو يې لاس شي لاندي، پورته لا خودي د دهٔ شي
ملا ترلے وينې ولاړ وي، که نصيب د دهٔ ويده شي
سمندر په سوال غښتلے، نيز د اور دے په کچکول کښې
د خپل لاس د پرخې څاڅکي، مرغلره ده په تول کښې

* الکاسب حبيب الله. کسبګر د خدای پاک دوست دے. (حديث)

برېبوکۍ غوندي تل اوسه، یاد د خپل غیرت له شوره
که په بحر کښې دي ژوندوي، هم کونډي ساته نسکوره

## خودي چې کله له عشق او محبت څخنې مضبوطه شي نو دادنړۍ ښکاره اوپټ قوتونه رالاندي کړي

چې له ډېره محبته، شي خودي کلکه محکمه
نو قوت يې حکومت شي، د دنيا پر غره او سمه
انځورونه چې د ستورو، اسمان کښېښول د بدئينې؟
ده غوټۍ دي شوکولې، د خودۍ له ګوري ونې
که لاسونه د بنده وي، دا قوت يې لاس د خدای کړي
بيا د ګوتې اشارت يې* ، د اسمان سپوږمۍ دوه ځاے کړي
بيا هم دے تيرې ايښول کړي، او منصب د ټول جهان شي
که دارا وي که جمشېد وي، ټول يې لاندې د فرمان شي

* کله چې به د خدای خوښه شوه نو د وخت پيغمبر به داسې کار وکړ چې بل چا به نه شو کولاے او کفار به عاجز شوو، داسې کار ته قرآن معجزه وايي، دوست د خدای محمد^ص هم ډېري معجزې ښيلي دي، يوه دا هم ده چې سپوږمۍ ته يې پخپله ګوته اشاره وکړه، نو هغه پر منځ دوه نيمے شوه او ټولو خلکو وليده خو ازلي کفارو بيا هم ووې: "چې جادوګر دے، جادو يې وکړ، دې شق القمر ته اقبال صاحب په دې شعر کښې اشاره کړې ده.

بوعلي و قلندر ؤ، چې نامه يې په هند ښکاره ده
د هغه قصه خو واوره، د ګوهر ډکه کاره ده
په ګلزار د هندوستان کښې، په* چغار هغه بلبل ؤ
خلقې ورته غوږ غوږ وې، په صفت د ښايسته ګل ؤ
دا تکړه مځکه هغه ده، چې پيدا ده له سور اوره
خو د دۀ د لمن باد دا، په دنيا جنت کړو ګوره
يوه ورځ د دۀ مريد ؤ، د بازار په لور په لار تلو
له شراب د بوعلي يې، نشه ختې وه سرشار تلو
را ښکاره د ښار حاکم شو، غاور سپور ؤ پر اس باندي
قهرژني زغلېدے، د چوب دارو وروستو وړاندې
يو ورچيغه په مريد کړه، وې يې چې واے چې روان توندېږې
د حاکم د سړو لار کښې، يې ولاړ لکه چې ړوند يې
په خپل فکر کښې درويش، ډوب تلو له ځانه بې خبر ؤ
سر يې زوړند ګرېوانه ته، له جهانه بې خبر ؤ
مست د کبر په نشه کښې، کوتک پورته کړو چوبدار
د درويش په سر يې مات کړو، غه ناترسه په ګزار
لاره خوشې شوه حاکم ته، فقير خاورو کښې ريمن لاړ
په خفګان اوزړۀ يې ډک ؤ،رنګ يې زېړاو مرغېژن لاړ
په دربار د بوعلي کښې، يې دا ناوړي وه ژړلې
تا به وېل چې پشکال دے، سترګې داسې ورېدلې

* د حضرت بو علےِ قلندرؒ دې شعر ته اشاره ده:
مرحبا اې بلبل باغِ کهن    ازګل رعنا بګوياماسخن

لکه تندر له اسمانه، ورخطا د غره په لور شو
شوه وینا یې د اور چله، بوعلي له قهره اور شو
له رګ رګ څنې ختلې، تکې سرې لمبې د دهٔ وې
د کاتب لور ته یې مخ کړو، په شعله ژبه یې ووې
قلم پورته په تلوار کړه، غوږ مي ونیسه فرمان ته
د فقیر د خولې خبرې، پر کاغذ وکښه سلطان ته

"ستا حاکم زما مرید ته، سر مات کړے په وهلو
سور انګار یې کړو راپور ته، په خپل ځان یې واچولو
دا ناکاره حاکم پوه کړه، سزا ورکړه وایم تا ته
ګني ستا سلطنت اخلم، وربخښمه یې بل چا ته"
خط د خدای د نازولي، تر سلطان و رسېدلو
ساه ترې وخته له وېرې، رپېدلو د ګېدلو
باندې خپل غړي درانهٔ شول، غر د غم د دهٔ پر سر شو
رنګ یې و تښتېدو داسې، زیړے لمر د مازیګر شو
په ځنځیر یې و تړلو، چې حاکم وه کړې زیاته
بخښني غوښتو ته لاړو، قلندر ته نتواته
وه خسرو شېرین زبانه! ، یو طوطي رنګین بیانه!
له ضمیره د قدرت وه، د نغمو چینه یې روانه
په فطرت لکه سپوږمۍ ؤ، شوه خبره ده ته پاتې
پوره نهٔ وه د بل چا نه، داسې ګرانه نتواتې
لاړ د ساز په ږغولو، هلته دے داسې راسر شو
چې یې زړهٔ ورته نرے، کړو ژړغونے قلندر شو

په ښکاره خو د غر غوندي، د سلطان شان او شوکت ؤ
په دې پوه شو چې لوړ شان يې، د يوې نغمې قيمت ؤ
چرې زړۀ د درويشانو، پام کوه چې آزار نۀ کړې
چې وريته د خپله ځته، پام کوه په انکار نۀ کړې

## د خودۍ نشتواله

**د انسان په نوغي کښې، د مريانو قامونو له خوا يوه نوې جوړه شوې خبره ده او په دې پټه طريقه د غالبو قامونو اخلاق پرې باسي.**

نرغونۍ يوه قيصه ده، اوريدلې په کشو کښې
وه د ګډو رمه پنډه، په پنډ غالي د ورشو کښې
ګيا ډيره وه زر زر به، د دوے نوغي لوئيدلو
نۀ يې ويره د دښمن وه، نۀ پرې چرې بلوسيدلو
د کنډک تقدير چې بد شو، بدې ورځ کړې سترګي ځيري
د بلا غشي پرې راغلل، کړې سينې يې د ټولو څيري
د زمرو غونډه پر راغله، د يو لوري د ځنګله
په ورشو د خوارو ګډو، زمرو وکړه د شپې هله
په اولجه* وهل ترل کښې، وې زمرې د قوت لار ده
سوبه[2] يې ده لکه د وينځې، تل برے د قوت لار ده

---

* کاراج. (۲) فتح.

زمري جاروه غرولو، چې مي زور شته شاهنشاه يم
آزادي د ګډو لاره، هر ګډ سر کښېښو چې ستا يم
د زمري خوے ماتول دے، هسې نۀ چې يې پټنه وه
د بزو ګډو وينو سره کړه، که ورشو له رنګه شنه وه
يوه ډېره زړۀ ګډه، په رمه کښې وه هوشياره
دې ليدلې زمانې وې، تېره وه په هره لاره
د خپل قام په غم غمژنه، دغه نيا وه د اوريو
ځر او ځکه پر حرام شول، له ظلمونو د زمريو
د تقدير ژړا يې وکړه، د ځان وير خو هم په کار دے
بيا يې زړۀ کښې داسې ووې، چې تدبير خو هم په کار دے
دا عادت دے د کمزوري، چې يې د سر ويره پيدا شي
بيا د عقل نه کار اخلي، تر حېلو خبره راشي
مصيبت په غلامۍ کښې، شي د عقل اس ته پونده
پس له هغه شي خبره، د تدبير د قوت تونده
ځنګه ځنګه چې پخېږي، لېونتوب د انتقام
د پټنو د جوړولو، فکر کړي عقل غلام
زړۀ کښې يې چې دا به څۀ شي، نيا د ګډو ځان ته ژاړه
دا زمورِ غمونه سيند دے، نۀ يې تل شته او نۀ غاړه
نۀ يو مونږ د زمرو ساري، نۀ به شو په زور آزاد
دي زموږه سپينې لېڅې، د هغو لاس د فولاد
ده ناشونې په وعظونو، څۀ که زړۀ د زمري ورکړم
په وينا به خواره ګډه، اخير ځنګه شير ببر کړم

په حکمت دا د کېدو ده، چې د ګډې غوندي شېر شي
که چلونه ورته جوړ کړم، شته امکان چې ځان ترې هېر شي
د بزرګۍ دعوه يې وکړه، شه واعظه د خبرو
بوډۍ کړه ځاے ته لاړه، د شېرانو پنجورو
وېل رښتيا نۀ دروغ* وايي، او لوئيمارو نۀ کړو هيېري
بده ورځ نۀ بدل لېدونکې، د هغې نه وه ويرېږي
خداى راکړے په خپل فضل، روحاني قوت دے غوره
شرمښانو هم زمرو نه، يم راغلې پيغمبره
هغه سترګې چې ړندې دي، زۀ هغو وته نور راغلم
پاک الله يم رالېږلې، او سره د دستور راغلم
له دنيا خو اخير تګ دے، توبه کړئ له بدو چارو
څۀ توښه د اخير بويه، مه ځئ نور پر ورانو لارو
هر چه تونډ او زورور وي، دے بدبخت بللے ځکه
ژوند به چرې محکم نۀ شي، ځو خودي نۀ کړي ځوک ورکه
له وښو خوراک موندل دي، د نېکانو د روح نخښې
خداى ته هغه ځوک نزدې دے، کوم چې نۀ خوري وازګي غوښې
در په سر بد ناموسي کړه، ستاسو پنجو تېرو داړو
د ادراک سترګې ړندې کړې، دا نظر يوسي له دواړو
د کمزور ډنګر** دپاره، بس جوړ کړے خداى جنت دے
د تاوان سبب هم دا شي، چې د چا سره قوت دے

* د سورة قمر پنځويشتم آيت او نولسم آيت "کذاب اشر" "نحس مستمر" ته اشاره ده.

** ضعيف.

ورک عظمت او هم سطوت شه، په لټون کښې يې پټ شر دے
هغے توبه له اميرتوبه، چې ناچار ژوندون تر غور دے
تندر دې ته غلے نهٔ دے، چې ايله په دانه راشي
چې رشه شي يا خره شي، باندې تندر ور خطا شي
که هوښياريې صحرانه شي، په ذره کړه ځان حساب ته
چې تل اخلي رڼاګانې، له انوارو د افتاب ته
چې پر ګډه کړې ته ما ته، ښهٔ لويي په دې طاقت
ځان کړه ذبحه ده ميړاني، که مقصود دي وي عزت
د ژوندون ماڼۍ کچه کړي، رده يې کني شا مدام
ښه ځيز نهٔ دے خبر قهر، زور زياتے او انتقام
نهٔ به شنه ؤ د پښو لاندي، نهٔ به بيا بيا ټوکېدل دوے
نهٔ به تل د مرګ له خوبه، خپل لېمه بيا بيا وينځل دوے
عقل دا دے اې زمريه! ، چې خپل ځان کړه اوډو هېر بس
لېونے دے لېونے دے، چې له ځانه نهٔ شي تېر بس
سترګې پټې غوږ کاڼه کړه، شونډې جختې هر چه کيږي
ګوره بيا چې ستا اسمان ته، فکر خيږي که نهٔ خيږي
د دنيا په دې ورشو کښې، هيڅ هم نهٔ شته دلته ښهٔ دي
مه تېر وځه که ښهٔ دي هم، هسې وايه چې ښهٔ نهٔ دي
زمرے ناست ؤله سخت ژوند، او له ميړانې ځنې ستړے
تن ساتنه يې ارمان ؤ، د مو زړونه ؤ تر وړے
نصيحت که الله هو وه، هر زمرے له دنيا موړ شو
تېر يې وه خوړوله ګډې، هغه تود ژوندون يې سوړ شو

هاے د ګډو ماتوونکي، شنه زمري ساده او سپين شول
شل اوګډه ړانده کانه شول، سر د ګډو بزو په دين شول
زمري كښېناستل وښوته، تردې حده يې بې خوندي شو
زمريتوب شو ځنې پاتې، مرغلره مات کودے شو
له غاښونو يې تيره والې، د وښو په خوراک لاړو
له سرو سترګو هيبتناکو، يې هغه رنګ اډو پاک لاړو

په ورو ورو وه دوريدلو، زړهٔ يې لاړو د سينې نه
اول تته بيا ړنده شوه، جوهر لاړو د آئينې نه
د کامل کوشش په دوے، کښې لېونتوب وه نهٔ شو پاتې
د عمل جوشونه بې ورک شول، زړونه بې خوني شوې ميراني
هغه عزم اقتدار او، استقلال د زمرو لاړو
که عزت که اعتبار ؤ، که اقبال د زمرو لاړو
هغه پنجې د فولادو، بس تارونه شول اومړي
شول تنونه يې قبرونه، ساړه زړونه پکښې مړي
چې د تن قوت يې کم شو، د سر ويره يې شوله ډېره
د همت پنګه ترې يووړه، چې ترې ويره شوه چاپېره
چې همت ورځنې لاړو، راپيدا شول سل رنځونه
بد فطرت بې لاسو پښوشول، هم ختلي د دوے زړونه
ويښ زمري د ګډي سحر بس، ويده لکه بې ساے کړل
په تهذيب يې و بللو، چې خپل تن او روح يې باے کړل

# د مسلمانو قامونو په تصوف

## او ادبیانو باندې د یونان د افلاطون د افکارو ډېر اثر شوه ده او د ګډېو په لار روان دي، باید چې د هغه له مخیلاتو ځانونه وساتي.

افلاطون یو زور راهب ؤ، فلسفې تې کښېښوې جرې
بوډا ګډ د زوړ کنډک ؤ، وې ښکرونو یې کړې دړې
داسې يې اس په ترپ سیلۍ شو، ددنیا په غرونو شاړو
په تیاره د فلسفه کښې، اډو ورک شو چرته لاړو
او جادو د نامحسوس يې، په سر داسې دے سور کړے
چې دے لاس که غوږ که سترګې، کړو بې ښې يې هر یو غړے

ده ووې چې د ژوند راز شته، په مرګي کښې یې مینډل شي
هغه شمعه بلېدونکې، سل جلوې مومي چې ګل شي
دې زموږه په خیالونو، باچهي کوي باچا دے
د دۀ جام ویده کونکے، لري کړونکي له دنیا دے
د ګډانو د رمې ګډ، په لمرو* کښې د انسان دے
د صوفي زړۀ که دنیا ده، پکښې ناست دا حکمران دے
تر اسمانه و ختلو، چې ده عقل کړو وزرې
د اسبابو دې دنیا ته، ووې ده خوشي خبرې

* لباس.

د ژوندون جزونه وړه ده، ګډ وډ خاورې ايرې کړل
د دې ګڼې ګوري ونې، ټول ښاخونه ده راپرې کړل
زيان ته سود افلاطون ووې، د خپل فکر نه جهت
هر يو شته ته يې نشت ووې، ايله دغه يې ؤ حکمت
هم يې خپل فطرت ويده ؤ، هم يې خوب نړۍ کښې ډېر کړو
بس د دهٔ د پوهي سترګو، را پيدا ايله او بتېر* کړو
د عمل له سمې لارې، نااشنا روان ؤ کوږ
دے مين په هغه ځيز شو، چې شربت ؤ او نهٔ پوږ
دے موجوړ عالم ته ورکړ،و بس د وهم حيثيت ده
کوم اعيان** چې حاضر نهٔ دي، و شمارل په حقيقت ده
په ژوندون کښې خوژوندون ته، دامکان عالم دے غوره
چې په ژوند مړه دي، هغو ته دا عيان عالم دے غوره
د هغه هوسۍ و نهٔ موند، د ترپللو چرې خوند
د هغه زرکې وه نهٔ موند، په ټول تللو چرې خوند
پرخه يې داسې ده بـې زوره، ښوريدے نهٔ شي له ځايه
ساه يې نشته په سينه کښې، د مارغه يې هيڅ مه وايه
د هغه يوه دانه کښې، نشته شوق د ټوکېدلو
هم پتنګ يې بې خبر دے، له مزو د سوځېدلو

---

* سراب.

** افلاطون د اعيان نظريه پېښ کړې وه، دا هغې ته اشاره ده، چې افلاطون دے موجود دے، دنيا نو دې ميلسې ته هسې يو وهم ووې چې ګڼي هيڅ هم نشته، او دا يو عکس دے، د هغه اعيانو کوم چې په عالمِ مثال کښې دي، اقبال وايي: "چې ارسطو د افلاطون په دې نظريه ډېر ښهٔ تنقيد کړے دے، خو افسوس دے، چې دلته د دې اوږدې مسئلې خبره خلاصيدے نهٔ شي.

دا راهب په تېښته لاړو، بله هیڅ ترې نهٔ شوه جوړه
د جهان تودې مېلې کړو، وار خطا له هغه سوړه
دې د تاؤ په تمه کښېناست، د سړې لښې په خوا کښې
ده دنیا د افیمیانو، کړله جوړه په دنیا کښې
چې د ځالې ځنې والوت، تر اسمانه لاړو پورته
ولې بیا نهٔ شو راستون دے، نهٔ راکوز د ځالې لور ته
لرغونے د فلک خم دے، پکښې ورک فکر د دهٔ شو
ریشتلے شواوکه خښته، خدای خبر په خم کښې څهٔ شو
ده قامونو د دنیا ته، د خپل فکر زهر ورکړل
د عمل مینه ترې لاړه، بس ویده یې پر بستر کړل

# د شعر حقیقت او د اسلامي ادبیاتو اصلاح

د انسان وینه توده ده، تل له داغ د آرزوګانو
دا د خاورو کندو روڼ دے، له څراغ د آرزوګانو
د ژوند جام ته سره شراب دي، تمنا وراچولي
هرڅه-هر څهٔ په نشه کښې، توندپه وړاندې ځکه زغلي
په کتاب د ژوندانهٔ کښې، یو مضمون دے د تسخیر بس
تمنا چې ورته وایي، دا افسون دے د تسخیر بس
دا ژوندون لکه ښکاري دے، تمنا یې لکه دام دے
چې یې لیږي د حسن لور ته، تمنا د عشق پیغام دے

ساه په ساه دا ارمانونه، چې د کومې خوا نهٔ راشي؟
زیراوبم د ژوند په رغ کښې، چې له کومې را پيدا شي؟
هر يو څيز چې خوندور دے، ډېر ښايسته دے په جهان کښې
دے زموږه لار ښيونکے، د طلب په بيابان کښې
چې ښايسته يې په کوم زړهٔ کښې، ښهٔ پوخ وه لګي انځور شي
آرزوګانې پکښې زيږي، هغه زړهٔ يو آباد کور شي
د آرزو پسرلے به نهٔ وه، خو ښايست پيدا کړو ځويه!
هم جلوه ده د ښايست چې، د آرزو ده ساتندويه
د شاعر سينه که ګورې، د ښايست د رڼا کور دے
له سينا ځنې يې راخيژي، د ښايست د رڼا زور دے
د هغه نظر دے داسي، چې هر ښهٔ له ښهٔ هم ښهٔ کړي
فطرت خوږ کړي له خوږو هم، د هغه جادو څهٔ نهٔ کړي
بلبلانو دي زده کړي، له شاعره ژړاګانې
اننګو د ګلو يې موندي، له رنګونو رڼاګانې
سوځېدنے د شاعر دے، دا په زړهٔ کښې د پتنګ هم
د شاعر له برکته، دے د عشق د قصو رنګ هم
د لوندې وچې لوئيوالے، د دهٔ خټه کښې پنهان دے
د دهٔ زړهٔ کښې نوے نوے، په جهان پسې جهان دے
په دماغ کښې يې ربدي شته، چې لا نهٔ دي ټوکېدلي
فريادونه او نغمې هم، چې لا نهٔ دي اورېدلي
په خپل فکر رسېدونکے، ناست په ګرده کښې د ستورو
دے د ښو پيدا کوونکے، نااشنا له بدو تورو

د دې خضر په تور تم کښې، د حیات اوبۀ پرتې دي
اوبۀ خور د ژوند د باغ کړي، چې د دۀ سترګې چینې دي
موږه يو سترې ستومان،ه ساه ختلي پښې مو ماتي
تر منزله پورې مونږ ته، لا ده ډېره لاره پاتې
د شاعر چوڼېـ* چغيږي، وايي دې خوږې سندرې
چې په مونږ کښې جوش پيدا کړي، لنډ کړي سر د لارې لړې
چې جنت د ژوندانۀ ته، موږه راکاږي په منډه
چې د ژوند لينده په مثل، د پوره سپوږمۍ کړي غونډه
قافلې دي چې چليږي، د شاعر جرس رغيږي
مخ په وړاندې ورپسې دے، رغ د سوي شپېلۍ خيږي
چې زموږ په ګلستان کښې، ؤ د دۀ نسيم الوت کړے
په ريدي ګلاب کښې ګډ شي، په نرمۍ چمن جنت کړي
د هغه فريب دے داسي، چې تر ژوند کلک هم ډېريږي
هم د ځان سره حساب کړي، هم په منډو ځي تيريږي
شاعر خپل دسترخوان ويړ کړي، رابلل د ټول جهان کړي
خپل اورونه و هر چاته، پس د باد غوندي ارزان کړي
وير د هغه قام په حال دے، چې يې مرګ وي برخه نغښتې
چې شاعر يې وي بې خونده، له ميدانه د ژوند تښتي
بد هم نۀ ور پکښې ښکاري، ځۀ بې وايي د هينداري
خوږ کلام يې سل نشتره، ځيګر يوسي ځيري ګاري
تازۀ والےِ ځنې يوسي، ښکلوي که مخ د ګلو
د الوت مينه کړي ورکه، نۀ زړګيو د بلبلو

* بلبل

ستا مستوالے د پلووچو، د هغه له بد افیون دے
د ژوندون دا درنه پنګه، وړي قیمت یې د مضمون دے
په چمن کښې دے د سرو، د ښایست نۀ پرېږدي ترې
ساه یې داسې ده بې سوزه، له شاهین جوړ کړي تنزرې
له سینې په کښته کب دے، او انسان دے بر تر سره
لکه وي ابنات البحر*، ځنې شته دے د سر ویره
په خوږو- خوږو سندرو، دا مهړ مانګړ ویده کړي
په خطا مخه یې بوځي، او بېړۍ ډوبه د دۀ کړي
ستادزړۀ قوت په غلا وړي، او نغمې ته یې خوند وایي
دا هم سحر د شاعر دے، ته چې مرګ وته ژوند وایي
ستا د زړۀ له تښتي وینزي، د ژوندون د خواهش رنګه
په پوهیږې چې شاعر وړي، سره لعلونه ستا له درنګه
هر یو سود لکه د زیان کړي، تا او ما ته چې ناره کړي
په دنیا کښې چې څۀ ښۀ دي، لکه بد یې را ښکاره کړي
د فکرونو په دریاب کښې، غوپه درکړي تا فنا کړي
د عمل له قوتونو، تا پړسمن او نااشنا کړي
هم په خپله هغه سترے، موږه یې هم وینا کړو سترې
د شاعر د جام له دوره، د محفل ژوندي شول مړي

---

* بنات البحر" په سمندر دریاب کښې درې شاپېرۍ یادیږي په انګریزي کښې ورته سائرنس (Syrns) وایي د مانګانو داو هم دے، چې د دې شاپیرو د وجود کښته برخه د ماهي یعني کب غوندي ده او پورته سینه او سر یې د انسان غوندي دے، د دې شاپیرو په سمندر و مانګې پسې سول شي، لار خطا کړي او بېړۍ ډوبه شي. د یونان په علم الاضمام کښې دا ذکر راځي، نو اقبال صاحب د بې مقصده شاعرۍ شاعر ته هم بنات البحر ویلے دے.

برېښ د تندر پکښې نهٔ شته، د هغه داسې باران دے
یواوبتیرد بوے اورنګ دے، د هغه داسې بوستان دے
د هغه ښایست دے لري، له رښتیا- رښتیا خبرو
په دریاب کښې نور څهٔ نهٔ شته، بې چیغو مرغلرو
څهٔ یې د ویښې نهٔ خوب ښهٔ کړو، قراري یې غور له شور کړو
د هغه سرو ساګانو، مړ زموږه تک سور اور کړو
زړهٔ ته زهر خونړي دي، دا یې ږغ د بلبل نهٔ دے
د هغه ګلالۍ وینې، تور سهار پکښې ویده دے
خم کوزهٔ که یې پیاله ده، ځان ساته ورځنې شابه
که رانه ښکاري هم تښته، د شاعر له دې شرابه
اې چې ته یې کړې بې خوده، د شراب یې دا اثر دے
د هغه په کوزهٔ ګۍ کښې، ستا د تورې شپې سحر دے
په نغمو یې هدیره کړه، ستا د زړهٔ دنیا ده غلې
قاتل زهر دي ستا نس ته، د غوړونو په لار تللې
اې سبب د تنزل دے، درته وایم ستا انداز
دي تارونه یې شلېدلي، ترنګ دي نهٔ خیژي له ساز
پړسمنتوب داسې بېکار کړې، چې ته هغه نهٔ یې نور یې
په دنیا کښې خو اوسېږې، د اسلام په لمن تور یې
پر ترلے شې بې وسه، د ګل رګ درته ځنځیر دے
د سحر وږمه دغس کړي، درته توره تسا ترې ویر دے
تور د عشق په لمن پاکه، پورې شو ستا له فریاده
تا د عشق تصویر خراب کړو، څهٔ دي وکړل اې بهزاده

ستا ازار ورته ګونه کړه، تکه زېړه رنګ يې سپور دے
ستا سوړوالے دومره ډېر ؤ، چې مړ کړے يې د عشق اور دے
ستاله ډېره سترې توبه پړوکي پړوکي پروت دے سترے
ستا له ډېرو ناتوانيو، هغه هم دے لکه مړے
په پياله کښې د شاعر خو، ژړاګانې د واړه دي
او د کور کالي يې لوخړې، اسويلي ساړه- ساړه دي
سرخوش توب له ميخانو دے،په غبتلي ګوټ پيدا کړي
د پردو خونو، کړکو کښې، د ختلي رڼا غلا کړي
رنځور غاړے مړغيژن او، تربت سر يې زوړند کښته
د غريب نه ساه وخيزي، د دربان په يوه لته
وچ لرګے لکه شپېلۍ شو، رنځېدلے غم زپلے
د آسمان ځنې ګيلې کړي، سر په چيغو نۀ شو غلے
خوشامنده او کينه يې، بس جوهر دے د هينداري[1]
ناتواني خوره مينه، لرغونے يې ملا د لاري
ډېربدبخت او خوار او لاندي، زړۀ ختلے ياد په ماټ شو
يو نامراد او نااميده، د حجرې نۀ د جومات شو
وير ژړا د شاعر يووړه، وه چې ستا سره په پنګه
په مالت کښې يې خوب حرام کړو، که هر څو نۀ وه دا رنګه
هاے په حال د هغه عشق دے، چې يې لمبه لاړه سړه شوه
دا راسره شوه په کعبه کښې، بت خانه کښې راغله مړه شوه
اې شاعره! که څۀ نغدي، د ويناوو ستا سره دي
د ژوندون پر نوک يې کښېږده، چې کوټه او که کره دي

---

(۱) آئينه.

ښيي لار د فکر شمع، د عمل په مخکښې زغلي
لکه تندر ته په وړاندې، بریښېدني تالیدلي
دي بایده چې صالح فکر، شي پیدا ستا په ادب کښې
په ستنه زغله تش لوښے،چې ستاخم دے په عرب کښې
بیا[*] عربي معشوقې ته، زړۀ ریبار کړه چې پخلا شي
چې د کرد[**] له تور ماښامه، د حجاز سحر پیدا شي
د عجم د باغ ګلونه، ټول کړل تا ډکي څولۍ تا
هم د هند ایران لیدلي، د سپرلیو ګل دلۍ تا
د شګلوړي بېدیا تاؤ ته، لږه بیا کړه څټه کلکه
د خورما زاړه شراب خو، یو څو څاڅکي کړه بیا څکه
د عرب صحرا که بټ دے، ته یې په غېږه کښې سر کښېږده
که تودباد دے در نۀ تاو شي، دغه تن دي پکښې پرېږده
تا پېرے دي اړولے، په نمرو[***] رېښمین پستو کښې

* اقبال سلمي ویلے دے، د عربو په ادب کښې معشوقې ته سلمي ویلاے شي، مقصد دے چې ادب دي اسلامي وي.

** کرد د قبیلې نوم دے، د شېخ حسام الحق ضیاء الدین کردي د خولې مقوله ده: "امسیت کردیا اصبحت عربیا" یعني ماښام کردے وم او سحر عربے وم، وایي چې د دین د طالبانو په یو ټولګي وراغلو، ورته یې سوال وکړو چې ما ته هم د باطني اسرارونو علم راکړئ، هغوے ورته په سخته ژبه ووې: "چې پخپله پښه کښې پړے واچوه، سر په کښته ټوله شپه ځان زوړند کړه، او دا ټکے وایه: "څۀ ټکي یې ورته وښیل" نو د زړۀ سترګي به دي وه شي، باطني اسرارو نه به در ښکاره شي، طالبانو خو دے و رټلو، چې لرې شي او زموږ وخت خراب نۀ شي، ولي شېخ هم هغه شان وکړل نو الله پاک د دۀ د ایمان مضبوطتیا او د ډېر اخلاص د کبله په رښتیا د زړۀ سترګي ورکړې، او لوے ولي د کرامت عزت څښتن شو. والله اعلم.

*** لباس.

راشه اوس يې ته عادت کړه، د خامتار په تنستو کښې
د رېدیو په تلګو کښې، کوي بنګړي له مودو راسي
د شبنم په فوارې تل، لکه ګل لانبي چې پاخي
د تودو شګو صحرا ده، لږ خوې کښيينه په سينه کښې
ته يوه غوپه خو وخوره، په زمزم غوندي چينه کښې
لکه چوڼړ به ځو ژاړې، د ګل خوا کښې ناخوشحاله
په دې هسې باغیچو کښې، به تر څو ولړې ځاله
دې هما عزت موندلے، ستا د دام له برکته
ورځه خپله ځاله کښېږده، د دنګ غر پر سر اوچته
زول، رِلیے، تندر په تخر کښې، داسې ځاله کړه ته سازه
چې بې شانه وي اوچته، له کنام* د کته بازه
دا ژوندون د جنګ ميدان دے، چې ته هم د جنګ جوګه شې
چې د ژوند اور ته ورټوپ کړې، روح او تن پکښې لمبه شې

# د خودۍ د پاللو درې مرحلې دي

## اوله مرحله اطاعت

د اوښ ژوند دے په څو ډوله، ډېر خدمت او ډېر محنت کړي
ملا تړلے صبرناک دے، که ډېر درونډ وي بار اوچت کړي

* باز جاله نه جوړوي، د وچو غرونو په ځوکو کښې د تړو خوا ته ځاے خوښ کړي، ډېر اوچت، ډېر پټ او دغه ځاے ته "کنام" وايي.

چې په لاره کوي تګ دے، اوږدې پښې خو کم آواز وي
د کاروان پېټے کړي پورته، په صحرا روان جهاز وي
د ځنګل ځنګل نصیب دے، د دهٔ پل ورباندې تېر شي
خوب بې لږ خوراک بې لږ دے، خو محنت بې له حد ډېر شي
مست روان وي په مخ تګ کړي، کجاوه پر زانګي پورته
د لار خوند اخلي او درومي، په ګډا د منزل لور ته
د خپل تګ له کیفیته، مستي اخلي نوره نوره
دے په صبر کړو کښې زیات وي، په سفر کښې له خپل سوره
که ته هم بې خونده نه شې، د خپل فرض بار اوچت کړې
دا جنت* د مانۍ عیش به، ځان ته جوړ کړې چې همت کړې
اطاعت له غاړه کښېږده، اې غافله! ځان خبر کړه
که اختیار** ته دي زړهٔ کیږي، نو د جبر غر پر سر کړه
اطاعت له تورو خاورو، جوړه کاندي مرغلره
سره لمبه که شي سرکښه، نو خس هم دے له دې غوره

---

* اقبال صاحب په مصرع کښې "عنده حسن المآب" ویلي دي، دا د قرآن شریف د سورة "آل عمران" څورلسم آیت ته اشاره ده، الله پاک فرمایلي دي چې: د خلکو په زړونو کښې د ښځو لوښو زامنو او د سرو سپینو د انبارونو محبت دے، د ښو ښو آسانو څاروو او پولو پټو خواهشونه پکښې پراته دي، دا څېزونه د دې دنیا د ژوندون متاع اسباب دي او (ښه دي خو) د هغه دنیا راتلونکې ژوندون چې ډېر خوږ بهترین دے، له خدای پاک سره دے.

** په اسلامي الٰهیات کښې د جبر او اختیار مسئله ډېر شهرت لري، په دې شعر کښې هغه لورته اشاره ده، مطلب دا دے، چې بنده ښهٔ اوچت اعلےٰ رښتونې حریت پس له هغه موندے شي، چې د یو حکمونو ته غاړه کښېږ دي، د دوست د خدای ص د ارشاد مطابق د مسلمان ژوند په کار دے، انسان نه خو کاملا مختیار دے، او نه مجبور دے.

چې د ستورو د تسخیر څوک، و آسمان ته تکل وکړي
د یو دود د ځنځیر غم هم، خپل پښو ته اول وکړي
باد چې بند شي په زندان کښې، څو خوشبو یه ګل شي ګوره
خوشبویي چې قبول کړي، د هوسۍ نافه شي وروره
دا کاروان د ستورو پورته، د منزل په لور سفر کړي
د یو دود د یو قانون دوۍ، اطاعت په سترګو سر کړي
شنه په دین د ټوکېدلو، چې ځان کلک کړي نو سمسور شي
که له دغه دین نه واوړي، نو په پښو کښې خاورې سپور شي
دا تل سوۍ او په زړهٔ داغ هم، ریدي وموند له خپله دینه
دې قانون یې زغلولې، په رګونو کښې ده وینه
د ګډون په قانون ګډ شي، خواره څاڅکي وي دریا شي
هم له دغه یوه دوده، ذرې یو ځاۍ شي صحرا شي
هر یوه څیز چې قوي وینې، یو آئین لري دننه
د قوت له دې سامانه، غافل مه شې اې مینه!
اې له زوړ دستور آزاده، راشه ځان په دین کښې بند کړه
دا د سپینو ځنځیر واخله، خپلو پښو ته یې بیا خوند کړه
د قانون سختو ته زغم کړه، مه ګیله کوه مه غم ته
له حدونو د رسول<sup>ص</sup> چې، بهر نه کړې یو قدم ته

# دوهمه مرحله نفس قابو کول

که پوهېږې ستا دا نفس، لکه اوښ دے ځان ساتونکے
ځان منونکے په ځان سور او، چې زړۀ بې غواړي کړي کوونکے
مهار ونیسه راکښلے، لکه نر مېږه زړور شه
که ټیکرکے یې د خاورې، په مړدی لکه ګوهر شه
خپلواکتوب که چا جوړ نه کړو، د خپل ځان په دنیا باندي
لکه خاورې به تل پروت وي، سر د بل د پښو د لاندي
ستا صورت چې یې له ختې، د ازل په ورځ تړلو
مینه ویره یې کړه ورګډه، چې قدرت خمیر لړلو
پکښې ویره د دنیا وه، د عقبٰے وه د خپل ځان وه
له هزار مصیبتونو، ویره مځکې د اسمان وه
د مال مینه د ال مینه، پکښې مینه د وطن هم
د خپلوانو هم د ښځې، پکښې مینه د مین هم
دا د خاورې اوبو ختې، تن پروره ځان آسانه
په ناکاره چارو بوخت وي، لري اوسي د حیا نه
که امصار لااله تل وي، په لاس کښې تا نیولې
د هر خوف جادو به مات کړې، ته په یوه کوتک وهلې
هغه تن چې حق د ننه، لکه ساه پکښې غړېږي
د باطل په پښو کښې چرې، د هغه سر نه خړېږي
چې دننه ویره ورشي، په سینه کښې یې نه وي لاره
نه وېرېږي د هیڅ چا نه، بې د یو پروردګاره

هغه څوک چې له ښهٔ مرغه*، په هیواد** د لا اباد شي
یو د ښځې د اولاد څه، له هر غم ځنې ازاد شي
ازادي هم داسې ښايي، چې يې خدايه هر څهٔ پرېږدي
په یوه*** اشاره ځوے ته، چړوکۍ په مرۍ کښېږدي
که هر څو هغه یو سر وي، خو قوت يې د لښکر وي
دا په دې چې د سر بیه، يې له باد که تر نظر وي
لاالٰه لکه سیپۍ ده، لمونځ ګوهر دے په ښهٔ کور کښې
مسلمان زړهٔ ته خو لمونځ، اصغر حج دے په ده کور کښې
لمونځ په لاس د مسلمان کښې، په مثال تېره خنجر دے
له بدي**** بې حیاتو به، يې غورزولے په دې سر دے
تور لښکر د لوړو تندو، د روژې قوت وهلے
هم خیبر د تن ساتلو، شي د دې په زور ګټلے
حج فطرت د مومنانو، لا کړي روڼ او ځلېدونکے
د هجرت دے لار ښیونکے، د وطن دے سوزوونکے

دا یو داسې اطاعت دے، چې دولت د جمعیت دے
شیرازه غوندي د پاڼو، و کتاب ته د ملت دے
ورکوي د زرو مینه، دا مقصد دے د زکات
کوز او بر کړي سره ساري، را پیدا کړي مساوات

---

* خوش قسمتي.

** وطن.

*** د حضرت ابراهیم ص بې مثاله قربانۍ ته اشاره ده.

**** ان الصلٰوة تنهٰی عن الفحشاء والمنکر. په تحقیق لمونځ له بې حیاتوب او بدو چارو ځنې منع کوونکے دے.

حتیٰ تنفقوا"* ته لا نور، ډېروي د زړګي زور ستا
کموي مينه د زور سره، او سپين زياتوي نور ستا
دا دي وړه سامانو ته، مضبوطتيا و ستا پر کاندي
ته به هله يې مضبوط چي، د اسلام جرګې وي تاندي
"ياقوي" تل وظيفه کړه، چې ځښتن د قوت زور شې
تر هغه چې د دې خاورې، په دې اوښ باندې ور سور شې

## درېيمه مرحله د خدای نائب توب

که دي زده کړواوښپېتوب نوبه ته واخلې له جهان باج
ستا پر سر باندې به خوند کړي، ښايسته د سليمان تاج
تل به ته جهان ښايسته يې، چې تر خو آباد جهان وي
شې تاجدار د داسې ملک به، چې به تل په امن امان وي
په دنيا د خدای نائب شه، دا ربنتونې ښاد منۍ دي
عناصر باندې غالب شه، دا ربنتونې ښادمنۍ دي
دا دنيا د خاورو تن دے، او د خدای نائب يې ساه ده
دے د اسم اعظم سيورے، داسې ساه نه چې هوا ده

* لن تنالو البر حتیٰ تنفقوا مما تحبون. تر څو چې هغه څيزونه د خدای په لار کښې ور نه کړئ، کوم چې تاسو ته ډېر خواره دي. تر هغو به نېکي وه نه مومئ.

ټول د جز او کل رمزونه، چې څۀ دي دے ترې خبر وي
د خدای امر کړي دنیا ته، په دې زور د بر نه بر وي
که په دې ویره نړۍ کښې، ده جونګړه واچوله
د رب او ډیلي کړي تر ایسي، مځکه واړوي په بله

زړۀ یې غواړي چې ښکاره شي، ده راوړے فطرت موړ
نوي نوي ارمانونه، دے کړي نوے جهان جوړ
یو د جز او کل جهان څه، له دې مځکې تر آسمانه
زرغونه یې د خیال چمن کړي، لکه ګل هزار جهانه
هر کنډو د اومو خاورو، پوخ او کلک په یوه دم کړي
کاڼي خاورې کړي ترې لرې، له بتانو پاک حرم کړي
شابازتوب د دۀ کړي پورته، سوے رِغ د زړۀ له تاره
د دۀ خوب وي او که ویښه، دواړه بې وي د خدای دپاره
د ځوانۍ سره روان کړي، بوډاوالے ځنګ پر ځنګ دے
هرڅۀ هرڅۀ ته ښۀ ورکړي، په کمال د ځوانۍ رنګ دے
د انسان نوغي ته زیرے، او هم دے شي ویرونکے
هم سپاهي هم سپاهګر، او هم امیر شي بروونکے
مدعا په دې دنیا کښې، دے د "علم الاسمآء*" دے
او هم راز په دې نړۍ د، "سبحان الذي اسرٰے**" دے

---

* و علم آدم الاسماء کلها ثم عرضهم علے الملٰئکة الخ. او خدای پاک آدم ص ته د هرڅۀ نومونه وښیل او بیا یې فرښتو ته هغه څیزونه پېښ کړل.

** سبحٰن الذے اسرٰے بعبده لیلاً من المسجد الحرام الے المسجد الاقصے الذے بٰرکنا حوله لنریه من اٰیٰتنا انه هو السمیع البصیر. پاک دے هغه ذات، کوم چې شپه په

روښان* لاس د دهٔ محکم دے، چې يې امصا پر ونيوله
و کامل قدرت او علم، يې سره نښتے دي وبله
شهسوار نائب چې واخلي، په خپل لاس کښې د وخت ولينې**
خشمناک شي د دهٔ لاندي، دغه اس په ترپو وينې
له هيبته*** کې خبر شې، نو وچ کړس درياب د نيل کړي
د فرعون له قيده خلاص دے، و اولاد د اسرائيل کړي
د هغه په يوه "پاځه" د تن ګور مړے روح پاځي
لکه ونه د چمن يې، په يو ږغ زنے روح پاځي
حقيقت د دے عالم ته، ده توجيه د نائب ذات
د بزرګۍ له برکته، يې عام ومومندو نجات
د هغه سيورے دے داسي، ذره لمر سره اشنا کړي
هغه دومره درنه څته، چې د ژوند قيمت سوا کړي
هديرې ته يې عمل ږغ شي، را ويښ مړي په اعجاز کړي
د عمل په طريقو کښې، را پيدا نوے انداز کړي

---

شپه محمد ص خپل بنده مسجدالحرام نه تر مسجد اقصیٰ بوتلو، د کوم خوا او شا چې مونږ برکتناک کړے دے، غرض دا ؤ، چې مونږ هغه ته د خپل قدرت نښانې وښيو، بېشک هغه اورېدونکے او ليدونکے دے.

* د موسیٰ ص قيصې ته اشاره ده.

** قيزي.

***بني اسرائيل د فرعون غلامان وو، ډېر ظلمونه به يې کول، موسیٰ υ دا خپل قام روان کړو، مخکښې درياب ؤ، شا ته د فرعون لښکر ؤ، ده د خدای په حکم خپله امصا په درياب کښې واچوله په درياب کښې لارې جوړې شوې، موسیٰ υ سره د قامه پورې وتل، د فرعون لښکر ورپسې هم په سيند ورننوتل اوبهٔ پر راغلې ټول ډوب شوو. اقبال وايي: "چې څوک د خدای نائب شي، د هغه دومره قوت نصيب شي.

چې یې چرته وي مخاسته*، نو رڼا ورځنې خیژي
څومره څومره موسیٰ ګان یې، په سینا پسې کړیږي
د ژوندون کتاب را واخلي، دے بې وکړي تفسیر نوے
دے زاړه خوب لره وکړي، معنیٰ نوې تعبیر نوے
دا نائب د ژوند په تل کښې، یوه پټه خزانه ده
د ژوندون د ساز په تار کښې، ناوریدلې ترانه ده
دا تخلیق** په لوے مضمون چې، فطرت زړۀ د وینو خوړ کړي
نو ایله چرته دوه بیته، د نائب د ذات را لړ کړي
له آسمانه پاس ختونکے، ؤ زموږ د خاورې زور دے
چې په دې دوره کښې زغلي، د وخت دغه چابک سور دے
د دې نن په ایره خول کښې، و زموږ پرته ویده ده
څۀ زموږ د صباح ورځې، نړۍ سوځه سره لمبه ده
د یوې غوټۍ لمن کښې، دي زموږ سل ګلستانه
د صباح د سحر څریکو، زموږ سترګې کړي روښانه

د دوران د نیلي سپوره، انتظار کښې ناست یو راشه
د دنیا د سترګو توره، ستا په لار کښې ناست یو راشه
د جهان دې هنګامې ته، رونق راشه بنې آباد کړه
د میشتنې په نیت راشه، سوړ د سترګو دا هیواد کړه

---

* نقشِ پا.

** داسې ترجمه هم وشوه.
طبعیت مضمون ترونکے د فطرت چې شواخون کړي
په خوارو چرته دوه بیته د نائب د ذات موزون کړي

د قامونو شور کړه غلے، د بنادی غوندي پرې راشه
په غوړ غوړ کښې جنت جوړ کړه، په سندرو لکه ورا شه
پاځۀ ورکړه جوړوونکے، یو قانون د اخوت بیا
شابه وچورلوه جام ته، د شرب د محبت بیا
په دنیا کښې بیا خورې کړه، خوشحالی د امن روغې
جنګیالو ته زیرے ور کړه، وروروَلی د امن روغې
د انسان نوغې پټې دي، ته د دې پټې حاصل یې
قافله د ژوند روانه او، هم ته د دې منزل یې
خزان ونې کړې لغړې، هم بې پاڼو هم بې باره
په دې سوي باغ زموږه، یو ځل بیا راشه بهاره!
راشه موږه شرمسار یو، سترګي کوزي او پښېمان هم
ټول به تاته سجده وکړو، لوے واړه زاړه ځوانان هم
سر هسکوالے که زموږ دے، راشه دے په وجود ستا کښې
نو که ژوند د زهرو ګوټ دے، تیروو یې په دنیا کښې

# د حضرت علي رض شیر د خدای د نامو رازونه برسېرول

شیر د خدای مېړنے ځوان او، وړومبے دا مسلمان دے
شیر د خدای د عشق دپاره، یو دولت د پوخ ایمان دے

ده د دې کورنۍ مینه، دا چې زهٔ ځنې ژوندے یم
د دې مینې د کبله، ګوهر غوندي ځلندے یم
یمه ورک په نندارو کښې، د نرګس غوندي حیران یم
د علي په ګلستان کښې، لکه بوے آزاد روان یم

خو ټکواڼې د زمزم دے، زما خاوره له حیدره
دا نشې هم له هغه دي، چې راخیزي مي له کوره*
زما تن د تورو خاورو، له کرمه آئینه ده
اوس نعرې پکښې لیدے شي، داسې پاکه مي سینه ده
د هغه په رڼا مخ کښې، پیغمبر ؤ فال کتلې
د هغه له شان شوکته، د ملت ؤ شان ختلې
دین موندلې مضبوطتیا ده، د علي له هر ارشاده
په نړۍ کښې قانون خور شو، د هغه له پاک اولاده
د رسول ص په پاکه ژبه، دا زمرے شو بو تراب** یاد
څومره شان دے چې یا دے کړو، "یدالله" د خدای کتاب یاد
پټ پراته په دې ناموس کښې، دي بې شانه ډېر رازونه
یوه هغه چې ږغولې، چا د ژوند خواږه سازونه
دا کندو د تورو خاورو، چې د تن په نامه یاد دے
عقل تل د دهٔ له لاسه، په ژړا او په فریاد دے

---

* انګور.

** حضرت علي رض ته رسول کریم ص "ابو تراب" یعني د خاورو پلار او قرآن شریف "یدالله" یعني د خدای لاس ویلې دے.

تر آسمان ختونکے فکر، دے د زمکې کج ته توند کړي
او هم دې غوړن کانه کړي، او د سترګو ښبنتن ړوند کړي
دے په لاس کښې رابمبل کړي، د هوس دوه مخي توره
دا شوکمار د لاروي کړي، زړګے مات ښته رنځوره
خاورين تن خيبر قلعاده، شېر د خداى مېرني سر کړه
کندوړي د تورو خاورو، ده رڼا د ايمان ورکړه
مرتضےٰ کړو حق روښانه، چې وه يې توره بې ځواب
چې د تن وطن يې سر کړو، ځکه ياد شو "بوتراب"
د ملکونو سر کووونکے، دا زمرے له کرارۍ دے
مرغلره چې ځليږي، ځل له داسې خود دارۍ دے

هغه څوک چې په نړۍ کښې، "بوتراب" شي او زړور هم
نو هغه که ورته لاس کا، کړي راهسک پرېوتے لمر* هم

* د مازيګر وخت ؤ، دوست د خدایﷺ لمونځ ادا کړے ؤ او شېر د خدای حضرت علي لمونځ نه ؤ ادا کړے، دوست د خدای د حضرت علے پر پنډۍ سر مبارک کښېښو او پر کاله شو لمر او غر سره وراغلل، لمونځ قضا کېدو، حضرت علي حيران شو، چې يو خوا د خدای لمونځ قضا کيږي، بل خوا د خدای پيغمبر غلے شوے دے، هسې نه دا د وحي راتلو وخت وي، چې نبيﷺ به د وحي راتلو په وخت کښې هم هسې غلے کېدو، چې لمر په ډوبېدو شو، نو حضرت علي وژړل، د نبي کريمﷺ پر مبارک مخ اوښکې پرېوتې، پاسېدو، و يې فرمايل: "چې ولي ژاړې؟ هغه وې لمونځ مي قضا شو، نبيﷺ د ديارلسمي سيپارې دا آيت تلاوت کړو: "وسخرلکم الشمس والقمر دائبين" يعني خدایج تاسو لره لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي، کوم چې روان دي. بيا يې لمر ته اشاره وکړه، لمر پسته راغلو، حضرت علي د وخت لمونځ ادا کړو او پس له هغه لمر ډوب شو. اقبال د پيغمبرﷺ دې معجزې ته اشاره کړې ده. سمندر.

هر چه زین ورباندې کښېږدي، تن د دهٔ په واک نیلۍ شي
لکه وي باچاهي مهر، د سرو ګوتي کښې غمۍ شي
د خیبر لویي را پرېوځي، په دنیا کښې د دهٔ ښو ته
او بیا هلته شي وېښونکې، د کوثر غوندي اوبو ته
چا چې ځان وپېژندلو، هم هغه ؤ "ید الٰهي"* کړي
څوک چې لاس د لوۍ الله شي، هم هغه شاهنشاهي کړي
د علمونو ښهرېې** ته، د دهٔ ذات لکه د ور شي
څلور کونجه دنیا کوزه، د دهٔ حکم باندې بر شي
له نشې ډکي اوبهٔ که، ؤ څوک غواړي له خپل کوره***
نو اول خپله خاوره، کړي په لاس کښې د زړهٔ سره
دا دۍ دین د پښکانو،چې ځان خاورې کړي هوشیار شه
مېړنتوب د سړي دا دۍ، شېر د خدای د خاورو پلار شه
اې د ګل غوندي نازکه، کلک د کاڼي غوندي ځان کړه
په رده کښې ورته پرېوځه، پوخ دېوال د ګلستان کړه
ته اول د خپلې خاورې، یو ښهٔ کښلې انسان جوړ کړه
له خاطره د انسان بیا، ته یو نوۍ جهان جوړ کړه
که ته نشې جوړولۍ، کور او ور او په شا تښتې
بل به ځان ته کاندي جوړي، ستا له خاورو د کور ختې
ته ګیلې کړې له آسمانه، تل د خپلو بد بختیو
او ستا جام په ویر ژړا دۍ، تل د کاڼو له سختیو

---

* حضرت علیؓ په قرآن کښې یدالله یاد شوۍ دۍ، یعني د خدای لاس.

** انا مدینة العلم و علیٔ بابها. ژباړه: زه د علم ښار یم او علي یې ور دۍ.

*** انګور.

په نارو، چیغو، کوکارو، به ترڅو یې ویر ژړلې
څو به کړې ګیلې د بل نه، مخ او سر سینه وهلې
په توندیو د عمل کښې، پټ مضمون د ژوندانهٔ دے
چې تخلیق خوندونه در کړي، دا قانون د ژوندانهٔ دے
مېړنتوب و ښیه پاخه، را پیدا نوے جهان کړه
د خلیل غوندې نوم یوسه، سرو لمبو کښې کور ودان کړه
که جهان ناموافق شي، ته یې رنګ واخلې له رنګه
اچول د تورې ډال دي، په میدان لکه بې ننګه
هر مېړه چې مېړنے شي، پخې چارې کړي هر لوري
زمانه ورته ور واوري، بیا د دهٔ سترګو ته ګوري
که د دهٔ په طبعه نهٔ شي، په ترس وګوري جهان ته
زمرے ووځي و میدان ته، پتون و وهي آسمان ته
زوړ بنیاد د موجوداتو، وران له بېخه یې لت پلت کړي
او یا نوې رده کښېږدي، دا ذرې په بل صورت کړي
د شپو ورځو ګرځېدونے، دا نظام له سره وران کړي
له دې مځکې تر آسمانه، تر او بام له سره وران کړي
یو قوت د خپلو متو، را پیدا نوے جهان کړي
چې یې زړهٔ په کومه غواړي، په هغې لاره یې روان کړي
ژوند خو ژوند د مېړنتوب دے، مېرني ژوه چې بې خوند دے
ګڼې و مره په مېړانه، دغه مرګ هم لکه ژوند دے
ازمېښتونه په خپل زور کړي، مېرني او درنې ختې
درنو چارو ته ور ووځي، ملا تړلې نغښتي متې

چې یې تل سختۍ اختیار کړې، دا د عشقه سره ښایي
خلیل سرې لمبې ګلزار کړې، دا د عشقه سره ښایي

هر مېړه چې سختي پسندي، او له هر مشکله تېر دے
اندازۀ یې له کاره وشي، چې ګیدړ دے او که شېر دے
هر نامړده دے بې تاوه، په وسله د کینې تود دے
راشه زۀ یې درته وایم، چې د ژوند خو بس یو دود دے
خانه! ژوند ښکاره قوت دے، د قوت سندرې وایي
اصل یې ذوق د غلبې دے، د رفعت سندرې وایي
تل بې وخت بې ځایه عفوه، د ژوند وینه کاندي موره
د ژوندون په موزون بیت کښې، د سکتې غوندي ده وروره
چې په کنده د ذلت کښې، هغه ځوک دے پرېوتلي
ناتواني ته مدام وایي، قناعت دا تېروتلي
ناتواني ده غله شوکماره، د ژوندون په لویه لاره
د دروغ او ویره یې راوړه، داسې مور ده امیدواره
هیڅ نېکۍ د دې په نس کښې، نه شته نه ورځنې زېږي
خو بدۍ په څو څو شانه، په شودو د دې لویېږي
اول ونغوړه خبره، نو بیا وینې اوسه هوشیاره
دا دښمن هغه دښمن دے، چې کښېني پټ نیسي لاره
که ښښتن یې ته د پوهې، نو و نه خوري ځنې تېر
د کربوړې غوندي زر- زر، بدلوي رنګونه ډېر
ډېر پوهان هم دي ناپوهه، دا یې و نه پېژندله
پلونه پر راکاږي، مخ یې پټ کاندي پخپله

کله یې رحم کړي پړونۍ، کله یې کړي په نرمۍ پټه
عاجزي کله بورقه کړي، پکښې نغاړي د دې ښته
کله دوۍ کاندي دا پټه، په لمرو* د مجبورۍ کښې
کله یې کښېنوي په ستر، په پړدو د معزورۍ کښې
کله دا تن آساني شي، د پلو نه په غلا بلوسي
د قوت له خاوندانو، په یوه مسکا زړهٔ یوسي
سره غبرګ دۍ زیږېدلۍ، صداقت او توان اې ګلو!
بس هم دغه جام د جم دۍ، که مو ځان و پېژندلو

دا ژوندون لکه پټۍ دۍ، او قوت ځنې حاصل دۍ
تل قوت ښهٔ ښکاره کړې، راز د حق او د باطل دۍ
که په لاس د مدعي کښې، دغه پنګه د قوت وي
بې پروا د دهٔ دعوه ده، بیا دلیل ته څهٔ حاجت دۍ
چې باطل قوت پیدا کړي، ځان ښکاره د حق په شان کړي
حق د سره دروغجن کړي، او د حق یقین په ځان کړي
بیا که وواېي چې وشه، نو که زهر وي کوثر شي
خیر ته وواېي چې شر یې، د هغه له زوره شر شي
له آداب د امانت** نه، اې وګړیه ناخبره!
ته له دواړو جهانونو، دا یو ځان وګڼه غوره

* لباس.

** انا عرضنا الامانة علی السمٰوٰت والارض والجبال فابین ان یحملنها و حملها الانسان انه کان ظلوماً جهولاً. یعني: مونږ د امانت (بار) اسمانونو، مځکو او غرونو ته ور وړاندې کړو، نو هغوۍ له پورته کولو ځنې انکار وکړو، او ورځنې و وېرېدل او انسان هغه بار پورته کړو، په تحقیق هغه ظالم او جاهل دۍ.

د ژوندون رمزونه ډېر دي، ځان خبر کړه نو بیا وایه
هم ظالم او هم جاهل شه، نور هرڅۀ ته بې له خدایه
غوږ او سترګې دي که خوله ده، هرڅۀ پرانېزۀ هوښیاره!
بیا راځه راپورې خانده، که دې ونه مونده لاره

## قیصه د هغه زلمي

## چې د مرو ښار نه د سید مخدوم علي هجویريؒ دربار ته وراغلو او د دښمنانو د ظلمونو ژړا یې وژړله

د خدای داسې نازولے، هجویري* بابا نوملے
چې خواجه چشتي زیارت له، ؤ د دۀ صاحب راغلے
په مزلو ده لمنې، خیري ویري د هر غر کړې
د دې هند په شاړه مځکه، د سجدو دانې ده کر کړې
په رڼا د مخ یې نوے، د فاروقرض وختونه بیا کړل
هم د حق توغونه پورته، د هغه د خولې وینا کړل

* سید ابوالحسن علي ډېر لوے ولي تېر شوے دے، په کال ۴۰۱هجري په غزني هجویري نومي محله یا کلي کښې پیدا شو. د علم د حاصل کولو نه پس په خراسان کښې ماوراء النهر ته لاړو او بیا په کال ۴۳۱ هجري کښې پنجاب لاهور ته را ورسېدو، ډېره موده یې په پنجاب کښې د اسلام تبلیغ وکړو. "سید ابوالحسن علي مخدوم هجویري" مشهور په "داتا ګنج بخش" په کال ۴۶۰ هجري کښې یې وصال په نصیب شو. والله اعلم.

د قرآن عزت ساتونکے، ؤ ولاړ د دین په ننګه
د هغه له یو نظره، د باطل خونه شوه ړنګه
د پنجاب خاوره که مړه وه، شوه ژوندۍ یې له اثره
که زموږه صبا روڼ دے، دا له مخ د هغه لمره
عاشق هم ریبار د عشق ؤ، زیرے روړو درنې ختې
د تندي نور یې ښکاره کړے، وې د عشق خبرې پټې
د هغه مېړني واوره، یو داستان په دې پټې کښې
د ټول باغ بوے او رنګونه، ځایومه په غوټۍ کښې
یو زلمے چناره ونه، مرو یې نوم د هغه ښار ؤ
د لاهور په سیمه راغلو، را روان په دغه لار ؤ
د بابا درشل ته راغلو، دا ستومان سترے د لارې
چې دا لمر یې تورو شپو ته، ور اوړدې کړې خپلې دارې
وېل تنګ کړے دښمنانو، زۀ بې بدو او بې ښې یم
په ما دے باران د کاڼو، شراب لوښے د ښیښې یم
اې د لوړ مقام خاونده، څۀ چل وښیه زۀ خوار یم
ژوند به څۀ رنګ تېرومه، دښمنانو کښې حصار یم
ځوان ته هغه بابا ووې، چې په خټه کښې جمال ؤ
د جمال سره یې موندلے، هم په برخه کښې جلال ؤ
"لنډ نظره یې زلمیه! ، بې خبر د ژوند له رازه
نه خبر یې له انجامه، نه خبر یې له آغازه
دچاویرې ته په زړۀ کښې، ځایګے مه ورکوه ترینښ شه
پر کالې ورے قوت یې، لږ سره وخندهوه وینښ شه

کاڼي کاڼي ؤ په ځان يې، د ښيښې ګومان کولو
نو د کچ غوندي کچه شو، کچ دے څيز د ماتېدلو
که ځان وګڼې ناتوانه، لاروي حوصله پرېښوه
د خپل سر پګه يې پخپله، د شوکمار په لاس کښې کښېښوه
چې تر څو به ته ځان شمارې، ګوډاګے د اوبو خاورې
اې شعله د طور پيدا کړه، له دې خپلې ختې ناورې
دا له خپلو عزيزانو، ګيلې مه کوه بې ځايه
دښمن د دښمنۍ هم، مه ژړا کړه مه څۀ وايه
دښمن نه هغه ستا دوست دے دوست زما دربانډې سود دے
که زما په خوله يقين کړې، ستا بازار په هغه نود دے
چې د ځان د پېژندلو، له مقامه څوک خبر وي
د خداى فضل ورته وايي، که دښمن يې زورور دے
هر دښمن لکه وريځ ده، د آسمان پر پټې ووري
د کولو قوتونه*، يې دا راويښ کاندي هر لوري
د لار کاڼي هم اوبۀ کړي، پوخ همت او نيت تر لري
د چړق لاره کښې دا هيڅ دي، که وي لوړي که ژورې
د لار کاڼے خو پرچو شي، د نيت تېغ تېره کولو
امتحان د تېرې تورې، شي د لار په غوڅولو
د خاروي ژوندون دي ورک شي، ډکېدو د تښتېدو دے
چې خودي مضبوطه نه وي، نو څۀ خير د پاتېدو دے
چې قوت د خودۍ واخلې، ځان له ځانه خبردار کړې
يا که زړۀ دي کړله خوښه، ټول جهان به تار په تار کړې

---

* ممکنات.

که دي خوبنه وي چې ورک شې، له خودۍ ځنې آزاد شه
که دي زړهٔ غواړي چې شته شې، له خودۍ ځنې آباد شه
له خودۍ چې څوک غافل شي، دغه مرګ دے ځان و ژاړه
ته څهٔ وایې چې مرګ څهٔ وي، ګني ساه چې له تن لاړه
په خودۍ کښې دومره پاس شه، چې یوسف ع بې کوټه زر شه
د تیاره د جېلخانې نه، تر شاهۍ پورې څه ورشه

د خودۍ په لار روان شه، کار کوونکے ځوان د ځاے شه
ته راوړونکے د رازونو، مېړنے بنده د خدای شه"
په قیصو بیانولو، کړم د راز څهره بربنډه
زما ساه د سپرلي باد شي، خوره یوسي غوټۍ غونډه
دا خبرې دي د نورو، په ښکاره چې زهٔ لګیا یم
ډک له خونده آدم خان ته، درخانۍ رازونه وایم

# قیصه د تږې مرغۍ او مرغلرې*

د چمن یوه مرغۍ وه، ساه یې ختله داسې تږې
له منبو کې تلې لوخړې، اور یې بل په ینه سرې
مرغلره یې ولیدله، سترګې یې کړلې ورته برندې
تر نظر اوبهٔ اوبهٔ کړو، دغه کاڼے یې ته تندې

* علامه اقبال د الماس ټکره او مرغلره دواړه استعمال کړي دي، او مقصد یې یو دے، ما یوازي مرغلره واخسته.

خپل ښایست دغه ګټکۍ هم، لکه لمر و ځلولې
د ناپوهي مرغۍ سترګې، وې او بتیر* په ځل غلولې
دې پر کښېښوله مښوکه، اوبهٔ نه وې وریته دا شوه
مرغلره په ځان کلکه، په دې پورې په خندا شوه
دې تې ووې چې اې تروره، بس ټونګې وهې نه ګورې
نس په مخه یې اخستې، پیتاؤ پېژنې نه سیورې
نه ساقي یم ستا دپاره، نه یم څاڅکې اوبهٔ زیاتې
نه پرته یم هسې خوشې، نه هرچا ټونګي ته پاتې
زهٔ دي خوړکړم په مښوکه، ستا ژوندون د لېونتوب دے
هغه ژوند چې ځان ښکاره کړي، ستا دپاره لکه خوب دے
دا زما اوبهٔ مدام کړي، د مرغو مښوکې ماتې
انسانان که مي کړي تېره، شي په خوني پر میراتې
چې پوره ورځنې نه شوه، د مرغۍ د زړهٔ خبره
ورو ترې لاړه په ځاے پاتې، ځلېدلې مرغلره
ارمان ونه رژېدلو، په زړګي کښې یې آباد شو
د مرغۍ وچه مرۍ کښې، خوږ آواز لکه فریاد شو
څاڅکي پرخه مرغلره، د ګل څانګې و ټومبلې
لکه اوښکه چې د چوڼي**، په بانه وي ځلېدلې
لمر پر کړلې زبادوني، دے ستایلو برېښنده ؤ
د هغه له ډېرې ویرې، نازک تنه لړځنده ؤ

---

* سراب۔

** بلبل۔

لکه ستورې ځغلېدونکې، له آسمانه زیږېدلې
د ژوند خوند یوې ګړۍ ته، مېلمنه وه درولې
غوټو هم ګلو تېریستې، یو ځل نه په هزار واره
د ژوندون نه بې نصیبه، مدام خواره بزګاره
لکه اوښکه د عاشق وه، په بڼو کښې ځلېدونکې
دا قطره پردۍ پردۍ وه، درنګ ساعت له پرېوتونکې
هم د دغه څانګې لاندې، دا مرغۍ و رسېدله
د دې ترې وازې خولې نه، دا قطره و څڅېدله
اې په ځان مینه وایه، له دښمن چې کوې ویره
نرم څاڅکې یې د پرخې، او که کلکه مرغلره؟
چې د تندې له ډېر زوره، د مرغۍ نه ساه ختله
د بل سر یې خور کړونه، وه په دنیا کښې لاره بله
نه د څاڅکي غړې کلک ؤ، نه یې ؤ خوې د مرغلرې
ګوهر پاتې په دنیا و، څاڅکي شوله نړۍ* لرې
د خودۍ په حفاظت کښې، ګړې هم چې بې غم نه شې
که ژوند غواړې کلک ګوهر شه، نرم څاڅکې شبنم نه یې
د خپل ځایه مه ښورېږه، پوخ فطرت لکه د غر شه
چې لرې آباد سیندونه، وریځ هغه پګ په سر شه
ته د ځان د پېژندلو، خپل ځان ومومه خبر شه
کړه دا خپله پاره ټینګه، لکه بې کوټه سپین زر شه
د خودۍ تار له ترنګ ورکړه، هسکې کړه خوږې سندرې
چې د هر چا غوږ ته ورشي، د خودۍ پټې خبرې

---

* دنیا.

# قیصه د لعل او کوئل

پورې ور د حقیقت ؤ، ستا پاره مې کړو لرې
راشه اې د زړګي سره، نورې هم واوره خبرې
یوه ورځې کوئله راغله لعل ته کښېناسته پهڅنګ کښې
دې وېل اې چې تل ځلېږې، د ډېوې غوندې په درنګ کښې
په یودرنګ کښې دواړه ووسو، زموږ خټه نسل[*] یو دے
په جنو جدا جدا یو، خو د ساه مو اصل یو دے
په تیاره درنګ کښې وروسته شم، بې کسۍ مې تن ځپلے
ته په سر د باچهانو، په تاجونو کښې تومبلے
تور مخ داسې کړم بې قدره، تورې خاورې یم د لارې
ستا نصیب داسې بنایست شو، چې چوي زړۀ د هندارې[**]
که زما له تور وجود نه، ده رڼا په انګیټو کښې
اخیر وسوځم ایره شم، ژوند مې خلاص شي په بټو کښې
سر زما وهي په لتو، هر څوک وايي ده بدرنګه
سرې سکروټې را دلۍ کړي، ټول زما د ژوند په پنګه

---

[*] ماهران وايي: "چې کوئله د ښو ځنګلونو نه جوړیږي، لکونه کالونه پخوا چرې د زلزلې یا په بل څۀ وجه ځنګلونه په مځکه کښې ښخ شوے وو، دومره موده پس هغه نن مونږ د کوئلې په صورت را اوباسو، لعل د کوئلې ورور دے، یعني دواړه د کاربن ځنې جوړیږي، خو رنګونه یې ځکه بیل دي، چې کوئله د ونو بوټو ځنې او لعل د پوټو د چیړ ځنې قدرت تیاروي. خو لکونه کالونه پر لګي. (دوقرآن، برق)

[**] آئینه.

سر سامان مي د ژړا دے، څکه تل په ژړا زۀ یم
دا زما وجود چې وینې، څۀ خبر یې چې له څۀ یم؟
یم هغه خوره لوخړه، چې را یو ځاے او سره شي
سرمایه زما سپرغۍ ده، په تس والوځي او مړه شي
ستا د ستورو غوندي خوے دے، هم دي مخ هسې ځلیږي
هره ډېره دي رڼا کړي، هر یو اړخ دي بلیږي
کله ته لوړو ماڼو کښې، د قیصر د سترګو تور یې
کله ستا نه ښایست اخلي، د خنجر په موټي سور یې
ورته لعل ووې چې غوږ کړه، نصیحت دے که یې واورې
روڼ غمے ځنې جوړیږي، چې پخې شي تورې خاورې
چې په خپله خوا او شا کښې، ملا تړلې تل په جنګ وي
شي د کاڼي غوندي کلکې، هم د کاڼي غوندي یې رنګ وي
له پخوالي نه موندلې، زما تن دي رڼاګانې
په سینه کښې مي هم نور دے، لکه وینې مي خواګانې
ته یې څکه داسې خواره، چې وجود د کچه رغړي
څکه وسوې او ایره شوې، چې بې خونده دي ستا غړي
اوسه بې غمه بې ویرې، په نړۍ کښې بې وسواسه
په کلکوالي کړه ځان کاڼے، کمه مه شې له الماسه
هر چه کلک وي په زغملو، هر چه کلک وي په نیولو
منور کړي دواړه داره، د خپل نور په ځلولو
د هغه هم اصل خاوره، چې تور کاڼے شي بللے
د حرم په ګریوانه کښې، چې کوم سر دے را اوکښلے

شوه د طور نه هم لا ډېره، مرتبه د هغه پورته
ښکلې مخ د ښکلولو، شو هغه سور ته هم تور ته
د عزت ژوندون که غواړې، نو پیدا کړه ښۀ پوخوالې
ناتواني که ناچاري دي، دا پیدا کړي نه پوخوالې

## قيصه د شېخ او بامبڼ

يو بامبڼ په بنارس کښې، شپه او ورځ په دې لټون ؤ
چې ژوند څۀ وي او مرګ څۀ وي، سر يې ايښې په رنګون ؤ
دے څښتن د ډېر عزت ؤ، د ډېر علم او حکمت ؤ
او د خدای کتونکو خلګو، سره يې مينه محبت ؤ
ؤ يې ذهن رسېدونکې، وې پکښې نوې خبرې
ثريا ته رسېدلي، وې د عقل يې وزرې
ايښې ده د ځالي ډکي، د عنقا غوندې ډېر بر ؤ
په انکار د دۀ د فکر، سپيلني سپوږمۍ او لمر ؤ
د دۀ عمر په خوارۍ او، شواخون کښې وتې تول ؤ
له شرابو د حکمت نه، يې لا تراوسه تش کنډول ؤ
ده د علم په چمن کښې، خپل دام بيا بيا وغوړولو
د معنا مارغه يې په سترګو، چرې هم ونه ليدلو
نوکې يې فکر کړې په وينو، خو وه غوټه ډېره سخره
پرانسترې شوه داسې چرته، دا د ژوند او مرګ خبره

نا امید یې زړۀ کښې اور شوے، پر ګواه د اَه لوخړه
د حیران زړۀ غمازګره، شوه څهره یې تکه زیړه
چرته داسې کامل ښخ ؤ،زړۀ یې دولت ؤ په سینه کښې
دابامبړ هلته حاضر شو، پرېوت شېخ ته په کوڅۀ کښې
غلے یې کښېناستو په وړاندې، هیڅ یې نه ختل ږغونه
د کامل وینا ته یې کښېښول، د سره هم د زړۀ غوږونه
شېخ وې اې چې بره چورلې، د آسمان په پورته لوړه
ته خو مځکې ته را کوز شه، لږ په خاورو هم وه رغړه
چې صحرا او په میرو کښې، منډې وکړې خوند یې ډېر دے
ستا خو فکر آس په ترپو، له آسمانه هم ور تېر دے
راشه مځکې ته را کوز شه، مه اسمان کښې ګرځه لرې
بس کړه مه لټوه نورې، دا د ستورو مرغلرې
زۀ دا نه وایمه تا ته، چې له بت ځنې وېزار شه
که کافر یې کافرتوب کړې، لږ جوګه خود زنار شه
زوړ تهذیب ستا د نیکونو، امانت دے اې بې پته
زړۀ لاره چې پرې نه ږدې، نصیب مه وهه په لته
که دنیا کښې جمعیت دے، چې ژوندون تر د ملت دے
کفر هم هغه دولت دے، چې پیدا له جمعیت دے
اې! چې ته په کافرتوب کښې، کامل نه یې لا تراوسه
زړۀ حرم دے د طواف یې، قابل نه یې لا تراوسه
موړه دواړه لرې وتې، یو د لارې د تسلیم نه
ته یې لرې د آزر نه، لرې زۀ د ابراهیم نه
قیس زموږه لا تراوسه، په سودا د محمل نه شو
لېونتوب د عاشقۍ کښې، دے تر اوسه کامل نه شو

چې د تن د تیارې خوني، ډېوه ګۍ د خودۍ ګل شي
خیر یې څۀ که د خیالونو، تر آسمان پورې ختل شي
او یو لاس ور واچولو، یوه ورځ د غره لمن ته
ګنګا سیند خبره وکړه، همالې د ملک مین ته
وې چې اې چې ازل راسي، یخې واوري ستا دستار دے
هر یو سیند چې بهېدلے، ستا په تن لکه زنار دے
خدای دي برخه کړه دنګوالے، تر آسمانه رسېدلې
ولې پښې دي په ځاے ښخې، نه یې له ځایه ښورېدلے
چې یې پښې درنه اخستې، نه د لار نه دے رفتار دے
دا کلکوالے که غځوالے، اوچتوالے د څۀ کار دے
ژوندون پر له پسې ترړې، ژوندون نوم دے د کرکنډو
د موج ژوند ته سامان وکړو، په سر تورې ډېرو منډو
غر له خود ځنې وتلے، د دریاب په دې پېغور شو
قهر داسې وه چولو، تا به وې چې سیند د اور شو
ورتې ووې چې سینه خو، ما ته تا هینداره* کړې
واوره ستا غوندي سیندونه، ډېر زما له سینې رغړې
په قدم د ناز روانه، داسې تلونکې مدام سپک شي
هر بې سول چې ځان ترې ورک شي، ځاے لري که هغه ورک شي
چې له ځانه خبر نه وي، هغه څۀ وي ستا په شان وي
تل په هغه څۀ نازېږې، چې په کومه کښې دي زیان وي
پاس اسمان چې سر پر چورلي، ته** پیدا یې له هغه نه
هغه غاړه ستا نه ښۀ ده، چې پرته وي تل ریمنه

* آئینه.

** د هندو قام دا عقیده ده چې ګنګا سیند له آسمانه راغلے دے.

خپل ژوندون دي وسپارلو، لوے قلزم ته نه ده رنګه
دا خو تا په خپله کښېښوه، د غلو مخکښې د ځان پنګه
لکه ګل د باغ دننه، شه خوددار چې لاړ دي شور شي
په ګل شوکو پسې مه ځه، په دې نيت چې بوے دي خور شي
په خپل ځاے زرغونېدل ژوند، په خپل ځاے دے لوئېدل ژوند
د خودۍ له باغيچې تل، د ګلونو ټولول ژوند
پښې په خاوروکښې ولاړيم، مودې وشوې ډېرې زياتې
ستا ګومان څۀ دے چې زۀ يم، د منزل نه ګنې پاتې؟
زۀ وړوکے دومره دنګ شوم، وختمه تر آسمانه
ثريا د مے ته غوړې، د لمن سيورے زما نه
سمندر ته پرېووځې ورک شي، نه د مومي که څوک ګوري
زما څوکه دومره هسکه، چې سجدې پر کوي ستوري
زما کڅې همه کڅې، د آسمان پټې خبرې
د ملکو الوت اورم، چې خورې کاندي وزرې
چې د پر له پسې سعي، اور کښې تير کړل ماکالونه
نو هله مي ګټه ګټه، شول غمي الماس لعلونه
دي په ما کښې سره کاني، په هر کاني کښې پټ اور شته
نه مي اور ته رسېدے شي، نه اوبو کښې دومره زور شته
دا خو سيند يې که يې څاڅکے، خپلو پښو ته هم مه غورځه
سمندر ته آرامېږه، هر طوفان پسې ور ګرځه
څاڅکے ځان کړه مرغلره، په طلب د روښنايۍ شه
شه يې زوړنده په غوږ کښې، يو ښايست د درخانۍ شه

یا خوره تونده وریځ شه، ګټې غورونه غرونه
د سیندونو وروونکي، غورزوونکي تندرونه
چې قلزم هم تا ته در شي، او طوفان په سوال و غواړي
بیا ستا ور کړے ته تنګوالے، د لمنې دے و ژاړه
پس له هغه به ځان ده ته، کم له موجه هم وه ښکاري
سر به ستا په پښو کښې کښېږدي، د ځان سارے به دي شماري

# د غزا مقصد

## د مسلمان د ژوند مقصد د کلمې طیبې اوچتول دي او جنګ که د ملکونو اخستو دپاره شي نو په اسلام کښې حرام ده

زړه* د خدای په رنګ کښې رنګ کړه، غوره رنګ دے اې لالیه!
که د عشق په ننګ ناموس یې، کلک ولاړ اې ننګیالیه
مسلمان د عشق له تاوه، تل بیباکه او قاهر دے
مسلمان چې عاشق نه وي، مسلمان نه دے کافر دے
که څۀ ویني که نه ویني، خو منل به د خدای پاک کړي
هم په وینه هم په خوب کښې، نلست روان که ښنباک خوراک کړي

* و من احسن من الله صبغة. او د خدای د رنګ ځنې بل کوم رنګ ښۀ کېدے شي.

د لوۍ پاک الله رضا شي، په رضا د دۀ کښې ورکه
دا خبره ده هم داسي، څوک باور نه کوي څکه
په میدان د الاالله کښې، تمبو ښخ کړي هر څۀ شاته
راغلو دې په اولسونو، یو شاهد ویرې دنیا ته
او په ده شاهد نبي دې، چې سردار دې د نبیانو
چې رښتونې تر بل نه شته، یو شاهد له شاهدانو*
تیر شه تیر له قال تیرشه، د حال وروهه صدا کړه
تورې شپې د عملونو، ته په نور د حق رڼا کړه
په قبا د باچهۍ کښې، درویش زوه لري ځاې
بیدارۍ لره لېمو کښې، او په زړۀ کښې یاد د خدای

د خدای خوا ته تلل مقصد کړه، هر عمل چې کړې دنیا کښې
تر هغې چې راښکاره شي، د هغه جلال په تا کښې
هغه صلح دي هم شر دې، چې له کومي مقصد غیر دې
که د خدای دپاره جنګ وي، نو دا جنګ هم لکه خیر دې
څو به زور زمونږ د تورې، چې د حق نوم اوچت نه دې
داسې جنګ د قام دپاره، توره نه ده عزت نه دې
میان میر** د خدای نیازبین، ؤ روح یې پاک او د دین متې
وې ښکاره یې د ځتې نور ته، همګي خبري پتې

---

* و کذالک جعلناکم امة و سطالتکونو شهداء علےِ الناس و یکون الرسول علیکم شهیداً. (سورة بقرة آیت: ۱۴۳. ژباړه: او دغه شان اې مسلمانانو! مونږ تاسو یو بهترین ټولۍ کړئ چې تاسي په خلکو شهادت کوونکي شئ. او د الله رسول ستاسي شاهد شي.

** د میاں میر صاحب زیارت په لاهور کښې دې.

سیخ پر لار د مصطفٰے ص تلو، محکم والے یې بې خبرې
په شپېلۍ د دهٔ د تن کښې، وې د عشق سوې سندرې
اوس زمورِ دا ښار د خاورې، د دهٔ ځلے سعادت دے
او هم دا زمورِ دپاره، بل مشعل د هدایت دے
پاس آسمان دے پر سر ایښے، د دهٔ داسې ده درشله
شهنشاه د هندوستان یې، مرید شوے ؤ په خپله
د باچا په زړهٔ پټې کښې، حرص تخم رازرغون شو
چې د بل ملکونه واخلي، سر په دې تابیا تړون شو
د حرص تاؤ یې په زړهٔ کښې، لکه سور تنور د اور وي
سرې لنبې ژبې بې داوې"څهٔ راواچوه که نور وي"*
دغه ورځو کښې تود شوے، د دکن پر ځکه جنګ ؤ
د لښکر یې په میدان کښې، د اکښلو تورو شرنګ ؤ
میان میر صاحب ته لاړو، شهنشاه چې دعا واخلي
د دعا له برکته، دے دا ټوله دنیا واخلي
مسلمان خو له دنیا ځي، تل په تېښته د حق خوا ته
پخول چې د تدبیر کړي، نو لاس پورته کړي دعا ته
شهنشاه وې دعا غواړم، میان میر صاحب شو غلے
هم ټولګے د درویشانو، شو غوږ غوږ او ساه نیولے

* د سینې په تناره کښې یې حرص بل ؤ لکه اور وي خپلې توري ته یې ښیلې دا نعره وه "که څهٔ نور وي"
په دې شعر کښې دې آیت شریف ته اشاره ده: "یوم نقول لجهنم هل امتلئت و تقول هل من مزید. پاره: ٢٦. ژباړه: په هغه ورځ به مونږ له جهنم تپوس وکړو چې ته ډک شوې؟ هغه به ووایي: "نور څهٔ شته؟

یو مرید له ورایه راغلو، روپۍ لاس کښې د پیر خوا ته
په قراره په ادب یې، د چپتیا تیره کړه ماته
وې چې اې کامله ځوانه! ، د تیرو نو دستګیره
شکرانه مې کړه قبوله، ډېر لږه ده اې پیره!
د محنت په سیند خویلو کښې، چې غوپه شوه زما ځته
ایله دا یوه روپۍ مې، په لمن پورې کړه غوټه
و وې پیر چې دا روپۍ خو، حق د دغه شهنشاه دے
په لمرو د باچهي کښې، بېنوا ورے ګدا دے
که یې دي تر حکم لاندي، لمر، سپوږمۍ هم واړه ستوري
خو سلطان مو ډېر غریب دے، خوار په خوارو ستړګو ګوري
په هر لوري د بل شکور ته، خواري سترګي دي نیولې
د دهٔ لوږه سرې لنبې دي، دا دنیا یې سوځولې
قحط، طاعون د دې تابع دے، توره یې داسې ده تاؤ ګیره
جهان وران لکه کنډر شو، دا د دهٔ له دې تعمیره
دا د دهٔ غریبي څهٔ ده، یو جهان یې په فریاد کړو
د تش لاس شندي یې ګوره، هر کمزورے یې برباد کړو
د دهٔ زور قوت دښمن شو، اوسېدونکو د جهان ته
دې شوکمار ده لار نیولې، د انسان نوعي کاروان ته
په خطا فکر روان دے، ځان تېرباسي شائې لار ته
دا یې خومره ناپوهي ده، چې تسخیر وایي ناتار ته
که فوځونه د دښمن دي، که زموږ د شاه لښکر دے
هم د دهٔ لوږه خنجر دے، دوه ډولي د هر یو سر دے

يوه لوړه د ګدا وي، بس ګدا لره تن سوځي
ولې لوړه د شاهانو، اولسونه وطن سوځي
د چا توره چې بمبل شي، بې له خدای کړي ګټې نوري
خپله توره يې اخير خيږي، هم له خپلې سينې پوري

## د صحرايي* بابا نصيحت

اې! چې خاورو کښې را لوے شوې، لکه ګل پکښې هم پايې
ته هم دې ښايسته چمن کښې، د خودۍ له نس پيدا يې
خودي مه پرېږده هيڅ چرې، ټول عمري ژوندون و مومه
که يو څاڅکي يې نو يې به، اباسين وه نغره درومه
دغه نور د خودۍ نور دے، دا چې ته ترې برېښنده يې
که خودي دي کړه محکمه، نو هله به پائنده يې
ويده نه شې ورته لاس کړه، چې سودمنه دا سودا ده
حفاظت د خودۍ وکړو، چې لويي په دې کښې ستا ده
لا ژوندے يې مرې له ويرې، ويرېدونکے له فنا يې
اې له سره د لوړې شم، پوهېدلے ته خطا يې
زهٔ خبر يم راشه خوا ته، واوره ترنګ د ژوند له سازه
چې د ژوند سندره څهٔ وي کړم خبر به دي له رازه

---

* د ډېرو خلګو خيال دے، چې د صحرائي بابا په کند کښې اقبال صاحب پخپله ناست ؤ.

دي غوټه وهل په ځان کښې، په مثال د مرغلرې
بيا ترلې ملا له ځايه، رسېدل دي لرې- لرې
د ايرو په دې ډېران کښې، د سرو ټکو غونډول دي
په يو غر لمبه کېدل دي، نظرونه سوځول دي
دا د غم خو ته وسوځه، چې زړهٔ شوه ځلوېښتو
له ځان تاؤ هغه شعله شه، چې تاوېږي تل په تېښتو
ځان د بل له طواف خلاص کړه، له تا ځار شم دغه ژوند دے
ځان کعبه کړه ترې تاوېږه، دغه ژوند دي ډېر يې خوند دے
وزر ووهه خيره، د دې خاورو له راکښلو
د مرغانو غوندي ګرځه، بې پروا له پرېوتلو
که مرغۍ د الوت نه يې، شته خبره ستا په کار کښې
ته بيا مه جوړوه ځاله، د دې خاورو په تور غار کښې
علم بحر ورل ترې غواړې، په ځوليو مرغلرې
نو د زړهٔ په غورو واوره، د رومي بابا خبرې
" علم تش د تن دپاره، تور ښامار دے د ګوزار دے
علم هغه زړهٔ چې ويښ کړي، يو ښهٔ يار دے تل په کار دے"
د رومي بابا له حاله، ځان خبر کړه د زړهٔ سره!
حلب* ښار کښې درس لوستۀ شو، د علمونو له دې لمره
وو د عقل دليلونه، يو ځنځير د دهٔ په پښو کښې
او بېړۍ يې جوړېدله، بس د عقل غلغلو کښې
موسیٰ وه خو بې خبره، دے د عشق د طور له سره
مينه څهٔ وي سود يې څهٔ وي، له سودا يې ناخبره

---

* حلب" د شام په ملک کښې يو ښار دے.

تشکک[۱] او که اشراق[۲] دے، وو لګیا په دې خبرو
تل به ده پېیل هارونه، د حکمت د مرغلرو
مشائین[۳] ته پرانستې ده، د سوالونو سخرې غوټې
په رڼا یې د خپل فکر، کړې ښکاره خبرې پټې
ګېر چاپېر به ترې پراته وو، کتابونه انبارونه
د یو یو به ده بیان کړل، چې په کښې وو اسرارونه
ووې شمس تبرېز ته، خپل مرشد صاحب[۴] کمال
ورغلو د پیر په حکم، مدرسې ته[۵] د جلال
وې دا څۀ بحثونه کیږي، او دا څۀ شور او غوغا ده؟
وهم قیاس استدلال دي، دا د څۀ چارې وینا؟
ملا سخته ورته ووې، چې خوله ونیسه څۀ ړوند یې
د پوهانو په خبرو، نه پوهیږې عبث خاندې

ووزۀ ورک له مدرسې شه، ښۀ پښې وباسه نه پوهیږې
قیل او قال دے د پوهانو، ستا څۀ کار په څۀ پوهیږې
ستا له پوهې ډېره پورته، دا زموږ تر منځ وینا ده
هم د دې وینا له نوره، د ادراک ښېښه رڼا ده"

---

(۱) (۲) د یونان د فلسفې پخوانۍ مدرسې یا دوه علمونه تشکک او اشراق وو، په انګرېزۍ کښې تشکک ته Seeptieism او اشراق ته Neoplatonism وایي اشراق د افلاطون د فلسفې نتیجه ده، په اسلامي تصوف یې ډېر اثر کړے دے. شیخ شهاب الدین سهروردي د دې علم ترتیب وکړو کوم چې سلطان صلاح الدین د وخت عالمانو په فتوٰے ووژلو.

(۳) مشائین د حکیمانو هغه غونډه چې د ارسطو متابعت یې کولو یعني (Peripateties)

(۴) حضرت شیخ کمال الدین جنیدي<sup>رح</sup>.

(۵) جلال الدین رومي<sup>رح</sup>

د ملا بې جوړ خبرو، تاؤ د شمس* یو په څلور کړو
سرې لمبې شوې ځنې پورته، د دهٔ روح یې سره اور کړو
لکه تندر یې نظر ؤ، چې ور پرېوتو پر مځکه
تا د روح یې ؤ بې شانه، سرې لمبې شوې هسکې ځکه
د زړهٔ اور شو تر چاپېره، لمبه یې درمن د ادراک کړو
لوے دفتر د فلسفې ؤ، اور ایره لکه خشاک کړو
ملاګرے له خبر نه ؤ، چې عشق څهٔ وي رنګ یې څهٔ وي
رباب ځنګه وي د عشق او، معجزهٔ د ترنګ یې څهٔ وي
ده کړه چیغه "چې دا څهٔ کړې، تا خو اور ولګولو
د حکمت دفتر د ما ته، سر تر سر وسوځولو"
هغه وې چې "مسلمان یې، خو په غاړه دي زنار دے
ذوق او حال د لېونو دے، غلے کښېنه ستا څهٔ کار دے
د حال نخښه مو بې شانه، ستا له فکره سر بالا ده
دا د خاورو نه زر جوړ کړي، سره لمبه زموږ کیمیا ده
د حکمت له یخو واورو، سرمایه ستا ودرېږي
ستا د فکر له وریځو، نور څهٔ نه ږلۍ ورېږي
پاڅهٔ پاڅهٔ سره اورونه، د خپل ځان په خشاک بل کړه
له دې تورو خاورو هسکې، سرې لمبې ته په یو ځل کړه
د مسلم علم کامل شي، چې په زړهٔ کښې اور پیدا که
د اسلام معنا خو دا ده، چې اُفلو* ته بس شا که

---

* شمس تبریزيؒ (۲) مولانا رومؒ.

* حضرت ابراهیم خلیل الله د آسمان په برېښنده ستوري د خدای ګمان وکړو، خو چې هغه ستورے پرېوتو نو حضرت ووې: "چې "لا احب الأفلین" یعني زما پرېوتونکي ځیزونه خوښ نه دي، بیا یې لمر، سپوږمۍ ولیدل چې را وختل دوباره هم هغه ګمان وکړو خو چې هغه پرېوتل نو د الله پاک نور یې ولیدو. (انعام)

ابراهیم چې ځان آزاد کړو، د افل ځنې په نره
سور انکار ورته ګلزار شو، نه ده دا پټه خبره
د حق علم ته دي شا کړه، مخ باطل ته نه وه رنګه
په یو ټوک ډوډۍ دي ورکړه، دومره لویه د دین پنګه
تل په منډو ترړو سر یې، هر خوا زغلې رانجه ګورې
هیڅ له ځانه خبر نه یې، دي ځائي د سترګي تورې
برېښېدلي بمبل توره، به اوبهٔ د حیات درکړي
ډک له زهروتور شامار به، خپله خوله جام د کوثر کړې
هغه تور[1] بختور کاڼے، غواړه ته له درمساله
له نامه د لېوني سپي، غواړه مشک چې درکړي تا له
ولې سوزدعشق مه غواړه،په حاضر[2] علم کنبې نشته
خوند د حق د جام مه غواړه، په کافر علم کنبې نشته
د دې علم په رڼا کنبې، څهٔ هم ډېره موده ورک وم
وم رازدان د نوي پوهي، ځکه ډېره موده سپک وم
باغوانانو د دې باغ چې، په ما وکړو امتحان
نو راز هله رابنکاره کړو، ما ته دوے د ګلستان
ګلستان نه عبرت ځاے دے، لکه ټل وي د ریدیو
لکه ګل چې د کاغذ وي، دے او بتیر[3] د خوشبو هیو
چې د دې ګلشن له بند یم، آزاد شوے کله راسي
د طوبٰے په څانګه ما کړه، ځاله جوړه هله راسي

---

[1] حجرِ اسود.
[2] د نن زماني علم و فن.
[3] سراب.

د نن علم غټ پلو دے، پروت زموږه پر نظر دے
د ړانده کړو بت پرست دے، بت فروش دے هم بتګر دے
په زندان د مظاهر کښې، شا مدام دے پښې ترلے
او د خس له سرحدونو، په تلاش نه دے وتلے
زړۀ يې خور دژوند په لار شو، د دۀ پښه چې وښويېدله
آخير ده په خپله توره، مرۍ ځان ته غمه کړله
د دۀ اور د رېدي اور دے، تاؤ يې نشته زما ناوري
په ښکاره تر شعلې خيژي، ننه يخ دے لکه واورې

دے ځايي د عشق له سوزه، بس راغلے دے آزاد
په نړۍ د جستجو کښې، تل ناکام دے هم ناښاد
رنځوري د عقل ډېري، عشق طبيب دے بله نۀ شي
عشق چې رګ ووهي ده ته، لېونتوب د عقل ښۀ شي
ټول عالم که وپوهېږي، په سجده د عشق کښې سود دے
منم عقل سومنات دے، ولې عشق ورته محمود دے
عشق شراب د نوي علم، کوزګۍ ترې تشه توره
بې نصيبه د دۀ شپې دي، د "الله الله" د شوره
خپل شمشاد درته ښکاره شو، ډېر بې قدره بې قيمته
د بل سرو درته ښکاري، له هغه ډېره اوچته
په خپل ځان د شندي وکړې، بې ځان ډډ لکه شپېلۍ شوې
پردي رڼغ ته دي غوږ کښېښو، خوند يې درکړلو للۍ* شوې

---

* يعني اوده شوې.

په خوزي پسې ګرځې، له پدري ښکار نه يې غواړې
ته خپل جنس ورپکښې ګورې، او پردي دوکان ته لاړې
د مسلم په غوندړه غيري، ډيوې اور ولګولو
او سپرغۍ د درمسال يې، جومات و سوځولو
د کعبې له خوا او شا چې، هوسۍ تر پلل پاتې نه شو
نو دا حال يې شود نشو، کړل غلبېل د ښکاري غشو
لکه بوے د ګل چې خور وي، پاڼې هم هسې خورې شوې
د خودۍ نه تښتېدليه! ، شه راستون ذرې شوې
د قرآن غوندي کتاب کښې، د حکمت امانتګره!
تا ورک کړے خپل يووالے، بيا و مومه شابه نره
د ملت يووالے کوټ دے، په وره مونږ ؤ دربدلي
د يووالي په پرېښولو، له ايمان شو لاس وينځلي
د زاړه ساقي پياله وه، هئ ټيکرے تار په تار شوه
د حجاز د مستو غوندړه، خوره بېله بېله يې لار شوه
مونږ په خپله کعبه کړله، په بتانو بيا ودانه
په اسلام پورې زمونږه، کفر شين شو له خندا نه

شېخ دولت د اسلام بائلو، د بتانو د عشق لار کښې
د تسپو دانې ناپوهه، و پېيلې په زنار کښې
د پيرتوب دپاره نخښه، سپين وېښته دے د پيرانو
په کوڅو کښې پسې ځغلي، دخندا کړل هلکانو
وېښته سپين او زړهٔ يې تور دے، نه پر لااله انځور دے
د هوس بتان بې شماره، د هر يو زړهٔ ورته کور دے

هر هغه پیر شو چې چا کړه، اوږده ږیره لومي لومي
هئ! د دین په خرڅول کښې، خیژي دوے تر کومي کومي
دوے سره د مریدانو، شپه او ورځې په سفر وي
د ملت له ښې او بدي، ضرورت نه څۀ خبر وي
دوے ړانده په غبرګو سترګو، ګڼي دي نرګس صورته
سپینې خوارې تشې تورې، د ژوندي زړۀ له دولته
که صوفي دے که واعظ دے، په منصب پسې تل خوار شو
دے روان په کږو لارو، ټول ملت بې اعتبار شو
واعظ سترګې بت خانې ته، که وي خیر په ځان یې سود دے
د پاک دین مفتي تاجر شو، د فتوو بازار یې تود دے
پیران مخ په میخانه دي، د دوے لار کرښه د مار شوه
اې یارانو! غونډه وکړئ، چې زموږه کومه لار شوه*

---

* داسې ترجمه هم وشوه:

روان مخ په میخانه دے هر هغه چې زموږ پیر دے
اې یارانو! صلاح وکړئ پس د دې مو څۀ تدبیر دے

# وخت غوڅوونکې توره ده*

د رحمت باران کړه څلې، شین هم تر د شافعيؒ
چې نشه یې کل جهان کړو، دا دے کور د شافعيؒ
د دهٔ فکر له آسمانه، کور** کړو ستورے ډک له نوره
دویم نوم یې وخت له کښېښو، ورتې ووې تېره توره
د دې توري بیان ډېر دے، څو به دا ژبه چلیږي
برېښېدلې مخ چې وینې، دا ژوندون پکښې ځلیږي
چا سره چې وي له خوفه، له امیده بې پروا وي
د موسیٰ تر لاسه روڼ وي، چې کوم لاس نیولې دا وي
په یوه ګوزار د ګټ نه، را روانه دا چینه کړي
په یوه ګوزار دوړنه، وچه دا د سیند سینه کړي
موسیٰ هم په لاس کښې ګله، کلک نیولې دا شمشیر ؤ
هغه ځکه په هر کار کښې، له تدبیره مخکښې تېر ؤ
په دې توره یې دریاب ته، سینه یووړه خیرې ګاره
دوړې پورته کړې له بحره، پکښې ځان ته وکړه لاره
د خیبر د سرکوونکي، شېر خیبر کښې کوم قوت ؤ؟
شافعيؒ چې و ستایله، د دې تورې برکت ؤ
د آسمان دا چورلکونه، خو د هر چا د لیدو دي
تګ راتګ د شپو او ورځو، د هر چا د پوهېدو دي

---

* الوقت سیف قاطع. د امام شافعيؒ وینا ده،

** کور یعني انګور

اې د شپو ورځو په بند کښې، بندیوانه! شه در یاده
د خپل زړهٔ ننداره وکړه، چې پکښې بله دنیا ده
خپلې خاورې ته د تخم، تروږمۍ ور واچوله
او د وخت د تورې مخ تا، یوه کرښه وه ګڼله
بیا په ډانګ د شپو او ورځو، کچ ته و دریډې ګله!
زمانه دې ناپ کوله، داسې لنډه وه دا کله
د شپو، ورځو تار په غاړه، ځان ته تا لکه زنار کړو
لکه پټ باطل فروشه، تود دې دا خوشې بازار کړو
ته کیمیا وې، ته اکسیر وې، اوس یې موټې تورې خاورې
زیږیدلې راز د حق وې، خو باطل شوې سپورې خاورې
په رښتیا که مسلمان یې، له ځان آ خوا دا زنار کړه
د ډیوې غوندي روښانه، ته دا غونډه د احرار کړه
خبر نه یې له زمانې چې، دا په اصل څهٔ راغلې
ځکه تا جاوداني هم، ځار شم نه ده پیژندلې
اې! د ورځو، شپو په قید کښې، به تر څو پورې کړیږې
"لي مع الله"* کښې وګوره، د وخت رمز که پوهیږې
وخت روان دے له رفتاره، یې هر څهٔ هر څهٔ پیدا دي
ژوندون هم ځنې یو راز دے، ډیر رازونه د وخت لا دي
وخت د لمر په ګردش نه دے، حقیقت د دهٔ څهٔ بل دے
لمر خو هر ماښام پریوځي، وخت په مخه روان تل دے

* لې مع الله وقت لایسعني فیه ملک مقرب ولا نبې مرسل الخ (الحدیث)
ژباړه: ما لره د خدای سره یو وخت دے چې نه پکښې مقربې فرښتې او نه بل نبي مرسل پکښې ځایېدے شي. الخ.

دے په وخت کښې عيش او غم هم، عاشوره ده او اختر هم
وخت يو راز دے چې موندلے، تر رڼا سپوږمۍ او لمر هم
اې ناپوهه! تا زمان هم، د مکان غوندي را خور کړو
تا په خپله ناپوهۍ کښې، پرون نور او صباح نور کړو
تا خو خپل ګلستان پرېښو، لکه بوے په تېښته لاړې
په خپل لاس دي زندان جوړ کړو، بنديوان پکښې ولاړې
نه زموږ د وخت اول شته، نه اخير دے ده ليدلے
د انسان د زړهٔ په باغ کښې، بس پخپله ټوکېدلے
وخت چې چا وه پېژندلو، په ژوندو کښې را ژوندے شي
سحر کله داسې روڼ وي، لکه دے چې ځلندے شي
ژوند پيدا له زمانې دے، زمانه له ژوند پيدا ده
"زمانې ته سپک مه وايئ"[1]، د رسول د خولې وينا ده
درته کړم يوه خبره، برېښېدلې مرغلره
چې عبد[2] څهٔ وي او حر[3] څهٔ وي، راته غوږ کړه سمندره!
عبد د شپو، ورځو حساب کړي، عبث، ګوند بنۀ ځيز شماري
د حر زړهٔ ترې بې پروا وي، زمانه څهٔ نه ځيز شماري
عبد د شپو ورځه تارونه تنسته بو ده کفن کړي
او بيا دغه کفن واخلي، پټ پر خپل بې روحه تن کړي
تن د خټې لويه بوخته، حر بهر تر په خپل زور شي
زمانه که ده هر څومره، دے يې ونغاړي پرې خور شي

---

[1] لا تسبو الدهر فاني انا دهر. ژباړه: زمانې ته سپک مه وايه ځکه چې زه زمانه يم. (حديث)

[2] "عبد" غلام بنده چې د زمان او مکان په قيد کښې اوسي.

[3] چې د زمان او مکان له قيده آزاد اوسي.

په کوږکي د صبح و شام کښې، عبد مارغه دے نښتے کښته
نه خبر دے له الوته، نه يې خبر دے له لذته
او د حر سينه چې ساه يې، تونده تېزهٔ توده سره ده
دا د وږځو شپو مرغونه، که پوهېږې نو پنجره ده
عبد موندلے موندل غواړي، فطرت داسې د هغه وي
واردات يې په وجود کښې، هيڅ هم نوي نوي نه وي
په يو ځاے ولاړ نابوده، سست يې ايښے پښے پر ساه وي
د سحر او د ماښامه، بس د دهٔ يوه ژړا وي
حر هردم نوے تخليق کړي، کوي نوي- نوي چاره
نوې نوې نغمې خيزي، تل تر تل د دهٔ له تاره
په شانه ګوري ځي وړاندې، خته بس داسې د دهٔ ده
د پرکار د کرښې ګېڼه، د حر مخکښې لاره نه ده
زمانه د عبد په ښنو کښې، پروت د اوسپنې ځنځير دے
شکايت يې له تقدير دے، تل د دهٔ په خونه وير دے
تل د حر د لوړ همت او، د قضا مشورې کيږي
همګي کېدونکې چارې، د هغه تر لاسه خيزي
څهٔ چې تېر دي څهٔ راتلونکے، په موجود کښې يې دے تمام
په تلوار توندي د حر کښې، کړي اوږدې مودې آرام
ده له ږغه هم له زوږه، داسې پاکه دا خبره
د درک مرجوړانه شي، بيا موندے دا مرغلره
وه مې وېل خو ښکاره نه شو، د معنا هغه رخسار ښه
معنا ما ته ګيله وکړه، چې په تورو کښې مې کار څه؟

که ژوندے معنا د تورو، لمري واغوستل خومړه شوه
ستا ساګانې داسې يخې، چې لمبه يې لاړه سړه شوه
پټې او ښکاره خبرې، خو په زړونو کښې پرتې وي
تـګ د وخت او راز د ورځو، پټ هم دغسې پکښې وي
اورېدے نۀ شي په غوږو، که نغمې د وخت د ساز شته
د زړۀ خونې ته ورکوز شه، پکښې ننه د وخت راز شه
هغه هم وې چرې ورځې، چې زمونږ د مټو زور ؤ
د وخت توره مو په لاس کښې، په جهان کښې يې شرنګ خور ؤ
مونږ د زړونو په پټو کښې، د دين تخم وشيندلو
د حق مخ مو را ښرګند کړو، مونږ پلو ترې واړولو
دا دنيا وه سخره غوټه، نوک مو پرانسته که واورې
چې سجدې مو باندې وکړې، بخت راويښ شو د دې خاورې
سره شراب د حق په خم کښې، خوند مو يې واخست له ګوټ ګوټه
پخواني شراب خانې مو، په شبخون کړې لوټه- لوټه
اې چې ستا په کوزۀ ګۍ کښې، ډک زاړه شراب دا نن دي
چې ښيښه ويلي کول کړي، ستا شراب داسې تاوژن دي
له ډېر کبر ځان منتوبه، اډو ګوري هم نه لاندي
د طعنې غشي را ولي، په تش لاس پورې مو خاندي
چرې چرې جام زمونږ هم، په دې شان د غونډې خوند ؤ
په سينو سيپو کښې زړونه، مرغلرې ژوند مو ژوند ؤ
منم* نوې زمانه چې، ښايسته په هره خوا ده
دا زمونږ کاروان چې تېر شو، له هغو دوړو پيدا ده

* دا خبره منلې ده، چې عربو مسلمانانو د سائنس په علمونو کښې دومره ګوتې وهلې وې چې په يورپ کښې د علمونو ننۍ ترقي د هغوے له اثره ده.

دا د حق پېژنې چې موږ دے، مونږ ورکړې خپله وینه
حق پرست د نړۍ وړه، زموږ دا احسان منینه
نړۍ موږه کړه آباده، چې مېړمن مو د تکبیر کړه
خپله خاوره مو هر چرته، بس کعبه ځنې تعمیر کړه
د اقرا* تعلیم و مونږ ته، راکړو خدای د خپلې خوښې
رزق ده زموږ په لاسو، کړو دنیا ته برخې- برخې
که له لاس مو تاج او تخت لاړ، لکه خس مه ګڼه ګرګه
بې نوا به یو خو واوره، ګوره مه په سپکه سترګه
ستا په سترګو کښې به موږه، ډېر زیانمن او خوار و زار یو
د زوړ عقل زړې پوهي، ګڼې سم په خطا لار یو
خو دستار د لااله، لوے عزت زموږ پر سر دے
ځار! د دواړو جهانونو، حفاظت زموږ پر سر دے
بې پروا له نن صبا موږ، لېوني په محبت کښې
چا سره مو ژبه کړې، ناست یو تل په هغه پت کښې
موږ د حق په زړهٔ کښې ننه، پراته پټه خزانه یو
وارثان یو د موسیٰ او، د هارون نا بېګانه یوه
لمر، سپوږمۍ دي ترې روښانه، تاؤ زموږ دے دا تراوسه
شته زموږه په وریځ کښې، تندرونه لا تراوسه
دا زموږه ذات چې وینې، آئینه د خدای د ذات ده
مسلمان په نښانو کښې، نښانه د خدای د ذات ده

* اقراء باسم ربک الذے خلق. (سورة علق) ژباړه: ولوله د خپل رب په نامه چا چې پیدا کړ. دا د اولنۍ وحي لفظونه دي چې په رسول کریم ص نازل شوي دي.

# دعا

اې! هغه چې په وجود کښې، د دنیا لکه د ساه یې
هم زموږه د زړۀ سر یې، هم په تېښته په بل خوا یې
ستا له فیضه دے میندلې، د ژوند ساز نغمې د خوند
مرګ چې ستا په لار کښې نوم یوړ، کړي حسد ورسره ژوند
یو ځل راشه د ناښادو، زړونو خونې کړه بیا ښادې
بیا مېشته شه په سینو کښې، دا میرې کړه بیا آبادې
اې! زموږ ځنې وغواړه، بیا د ننګ او نوم خبرې
ښه پاخه دا عاشقان کړه، بیا ترې واخله چارې نرې
له نصیبه ګیله من یو، اسویلي موځي براس دے
ستا د حسن نرخ اوچت دے، او زموږ ورته تش لاس دے
پلو لرې کړه له مخه، خوشحال مونږ غریبانان کړه
د بلال او سلمان عشق خو، راشه بیا یو ځل ارزان کړه
بیا بې خوبه سترګې راکړه، بیا د زړونو ترارې را
بیا په موږه مینه وکړه، ته فطرت بیا د پارې را
داسې نخښې* رابښکاره کړه، د آسمان له بره چته
چې زموږ د دښمنانو، شي سرونه ورته کښته
موږ خسښو غوندې رغړو، راشه ته مو د اور غر کړه
غیرالله زموږ له اوره، وسوځه پر غرهر کړه

* ان نشاء ننزل علیهم من السمآء آیة فظلت اعناقهم لها خاضعین. (الشعرا)
ژباړه: که مونږ وغواړو نو په هغوے (کفارو) به له آسمانه نښانې (آیات) را کوز کړو
او د هغوے سټونه به ورته زوړند شي.

کله راسي چې وګړي، وحدت پرېښےِ او تار تار دي
هغه راسي پکښې راغلې، سل آرېکې وران مو کار دے
په دنیا کښې لکه ستوري، مونږ خواره دانه دانه یو
هم سره خوارِه مین یو، هم وبله بېګانه یو
دا کتاب دے پانې پانې، غونډي بیا په شېرازه کړه
هغه تېر د درنو مینو، دود زموږه را تازهٔ کړه
د پخوا غوندي مو توند کړه، بیا د خپل خدمت دپاره
بیا په خپلو عاشقانو، خپلې چارې ته و سپاره
لاروي یو منزل مونږ ته، د رضا او د تسلیم را
د ایمان قوت په مثل، د ایمان د ابراهیم ع را

اې د "لا" د مشعلې نه، آګاهو ته عشق آګاه کړه
بیا چې راز د الاالله دے، د هغه سره یې آشنا کړه
زهٔ تل سوځم لکه شمعه، دا د نورو غم کومه
دا په غونډه کښې چې ژاړم، ژړېدل ورته نبیمه
لویه خدایه! زما اوښکې، ته کړه داسې دل افروزې
لړځېدلي ځلبلاندي، بې تیکاوه آرام سوزې
چې زې وکرم په باغ کښې، او اورونه زرغونه کړي
او بل خوا ته د قبا نه، د ریدي اورونه مړه کړي
زما زړهٔ دے پرون وړے، سترګې دي زما صبا ته
غونډه کښې لکه تنها یم، کڅي واړومه چا ته
هر چا وکړو دا ګومان چې، راسره یې یارانه ده
زړهٔ مي یو ؤ نه کتلو، د رازونو خزانه ده

پاکه خدایه! په دنیا کښې، ناست یوازي بې اشنا یم
ما دپاره کلیم[ع] نشته، که زۀ ونه د سینا یم
زۀ ظالم او ستمکار یم، ما په ځان وکړه په خپله
تکه سره لمبه د اور ده، ما په خوا کښې وساتله
دا لمبه چې په لمنه، د هوش اور کاندي ور پوري
چې د عقل خۀ سامان دے، هغه ټول کړې ایرې تورې
دا د عقل لېونتوب هم، دے لنبې دي ورښیلې
هر د علم کالې ژوند نه، دے لمبې دي سوځولې
لمر چې تاؤ د دې نه واخیست، نو آسمان یې شو مقام
هم د دې نه تندرونه، چورلکونه خوري مدام
د شبنم د سترګې غوندي، په ژړا ژړا بې نور شوم
نو هله امانتګر زه، داسې ننه د پټ اور شوم
چل ما شمعې ته ښیلې، دا ښکاره چې سوځېدله
د دنیا له سترګو پټه، سوځېده مي زاره خپله
خو اخیر له هر وېښته مي، سرې لمبې را وختلې
سرې سکروټې مي د فکر، له رګ رګ و څڅېدلې
زما چوڼې* سرې سکروټې، دانې ټولې کړې کې وینې
شوې د دۀ سندرې ځکه، سوځوونکې اور ورینې
یم په داسې زمانه کښې، چې زړۀ یې نشته په سینه کښې
مجنون ژاړي لیلا کوم ده، نشته هیڅ په کجاوه کښې
چې یواځې شمعه سوځي، ګران دے نه چې کار آسان دے
یو پتنګ مي د ښې نشته، هاے ارمان دے هاے ارمان دے

---

* بلبل

ځوک خوږمن مي چرته نشته زۀ به څو ځارمه لارې
په رازدار پسې به څو وي، زما ورځې نا قرارې
اې چې مخ د ځلولې، په اسمان کښې سپوږمۍ ستوري
دا خپل اور زما نه واخل،ه یو نظر زما په لوري
ته دا خپل امانت واخله، پسته مي له سینې نه
دا جوهر پکښې اغزے شو، اوس مي وکښه له آئینې نه
یا یو زوږ ملګرے مل کړه، ته زما سره پر لاره
هغه عشق چې جهان سوز دے، ورته اوس ورکړه هینداره
د څپو سره څپې دي، په دریاب کښې غاړه وتې
اوسي تل ناقرارو کښې، دوے وبله سره نښتې
ستوري ستوري سره مل دي، په آسمان کښې چې بر ښکاري
په زنګون د تورې شپې هم، سپوږمۍ ایښے دے سر ښکاري
سپینې ورځې خوا د تورې، شپې د خوا سره تړلې
نن د خپلې خویښۍ غوټه، د صبا سره تړلې
هر لنډے* په اباسین کښې، لاهو چرته په اټک کښې
باد څپې څپې روان وي، په خوشبوے کښې چرته ورک شي
هرې ورانې ته چې ګورم، نو آباده په نڅا ده
لېونے ځي لېوني ته، په یو ځاے د دوے ګډا ده
ته بې شکه هغه ذات یې، چې بې مثله یې یکتا یې
خو تا ځان ته تماشه کړه، د دنیا په تماشا یې

---

* لفظي ترجمه به داسې وي:

سیندروان وي ځي بهیږي په بل سیند کښې چرته پرېوزځي
باد څپې څپې الوځي په خوشبوے کښې چرته کښېوځي

زهٔ رېدي غوندي ولاړ یم، دا یو ډکے د بېدیا یم
ده چاپېره رانه ګوڼه، خو بیا هم لکه تنها یم
ما ته هم له خپل کرمه، راکړه داسې یو ملګرے
چې رازونه مي دننه، په فطرت کښې وینې زړے
داسې مل چې لېونے وي، هم په سول هوشیار وي جوړ وي
د دنیا د هغو د غو، له خیالونو ځنې موړ وي
چې دا خپله مسته چیغه، یې بارې روح ته وسپارمه
بیا یې د زړهٔ په آئینه کښې، څېره خپله و وینمه
چې دا خپلې خاورې واخلم، د هغه وجود ترې جوړ کړم
چې هغه ته زهٔ هم بت شم، هم بتګر شمه زړهٔ سوړ کړم

# رموزِ بېخودي

## ژباړه

**سمندر خان سمندر**

# فهرست


| شمېر | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | د اسلام ملت ته | ۱۳۱ |
| ۲. | تمهيد: د فرد او ملت ګډون | ۱۳۵ |
| ۳. | ډېر مېړونه په راغونډېدو ملت شي او د | ۱۳۹ |
| ۴. | د اسلام د ملت بنيادي ستنې | ۱۴۲ |
| ۵. | نااميدي، غم او ويره ژوند تباه کوي | ۱۴۶ |
| ۶. | د غشي او توري خبرې | ۱۴۹ |
| ۷. | حکايت د عالمګير رح او د زمري | ۱۵۱ |
| ۸. | دويمه ستن (رسالت) | ۱۵۴ |
| ۹. | د محمد ص د رسالت څنې مقصود | ۱۵۸ |
| ۱۰. | حکايت د ابو عبيده رض او جانان | ۱۶۰ |
| ۱۱. | حکايت د سلطان مراد او يو ترکاڼ | ۱۶۳ |
| ۱۲. | اسلامي آزادتيا او د کربلا د حادثې راز | ۱۶۵ |
| ۱۳. | د محمد ص د توحيد او رسالت په رده پروت دے | ۱۶۹ |
| ۱۴. | وطن د ملت رده نه ده | ۱۷۳ |
| ۱۵. | د محمد ص ملت د زمان انتها هم نه لري | ۱۷۶ |
| ۱۶. | بې له قانونه د هيڅ يو ملت نظام نه جوړېږي | ۱۸۱ |
| ۱۷. | د پرېوتلو په وخت کښې د اجتهاد | ۱۸۵ |
| ۱۸. | د ملت د سيرت پوخوالے د خداى د قانون په منلو کښې دے | ۱۸۸ |
| ۱۹. | د ملت سيرت د محمد د ادابو په اخستو ښايسته کيږي | ۱۹۲ |

۲۰. د هر ملت ژوند محسوس مرکز ۱۹۷
۲۱. روستونے جمعيت د ملت د نصب العين په ۲۰۲
۲۲. د ملت د ژوند اوږدوالے د عالم د نظام ۲۰۷
۲۳. د ملت زاړه روايتونه ياد ساتل په ملت کښې ۲۱۲
۲۴. د نوعي تلوالي له مورتوب ځيني د ے ۲۱۷
۲۵. دمسلمانانو ښځو دپاره فاطمة الزهرا کامله نمونه ده ۲۲۱
۲۶. د اسلام سترمنو ته ۲۲۴
۲۷. د مثنوي خلاصه د سورة اخلاص په تفسير کښي ۲۲۵
۲۸. قل هو الله احد ۲۲۵
۲۹. الله الصمد ۲۲۷
۳۰. لم يلد و لم يولد ۲۳۲
۳۱. ولم يكن له كفواً احد ۲۳۵
۳۲. مصنف په حضور کښې د رحمة اللعالمين ۲۳۷

# د اسلام ملت ته

اې چې پاک الله کړې غوره، د قامو يې سر تمام کړې
ځومرې دروند کړې د زړهٔ سره!هرآغاز ته يې انجام کړې
اې هغه چې ستا سپېڅلي*، انبياء غوندي ستايلي
خپلې يښې چې يې دي سوي، هغو زړونه ور وستلي
تا نظر غشي ته نخښه، د ترسا** د ښايست کښېښوه
دا په کومو کندو سر شوې، د کعبې لار خو دي پرېښوه
اې چې ستا د کوځې خاورې، پورته والوتې آسمان شو
"اې چې مخ د تماشو ستا، تماشه د ټول جهان شوه"
اورپه پښوکښې زغلي زغلي لکه موج چې په لړزان يې
"تماشې چې دا ته کوم خوا، تماشو پسې روان يې"
د پتنګ تر څنګه کښېنه، سوځېدل زده کړه په اور بيا
سرولمبوکښې رده کښېږده،اوودان کړه ځان ته کور بيا
راشه سر يې داسې کښېږده، تاؤ د عشق کړه د تن تبه
لېونۍ د مصطفےٰ ص شه، کړه تازهٔ ورسره ژبه
ما چې ستا مخ دے ليدلے، يم مين له هغه راسې
زړهٔ مې موړ دے له ترسانه، هم د دهٔ له ناستې پاستې
هم نواوو ته زهير يم، چې پردي مخونه ستايي
خال و سترګې کله ژبه، کله سترے وربل واے

* پاکان.

** آتش پرست کافر.

د ساقي پر درشل رغړي، پر تندي سولوي مړي
د ګل مخو شراب ستايي، لکه وي د شاړې ترې
زۀ خو ستا په نظر غشي، شهيد شوے يم که واورې
ښايستونه دي نوروړک شي،زۀ يم ستا د کوڅې خاورې
زۀ له دې مقامه تېر يم، نه ستايل راځنې کيږي
زما سر خو بې له خدايه ج، بل هيڅ چاته نه ټيټيږي
جوړوم له ويناګانو، زۀ هينداري* د زړۀ سره!
په خپل کار کښې داسې ورک يم، بې پروا له سکندره
څټ او سر مي زغمي چرته، پېټے درونډ د احسانونو
غوټۍ غوندي لمن نغښتې ،ګرځم اې د باغ ګلونو
هيڅ مه وايه خورا** کلک يم، لکه توره په جهان کښې
له پردي کاڼي مينډلے، ماکلکوالے دے په ځان کښې
بحر يم ولې موجونه، و زما بې تابه مه شه
نه په لاس کښې مي کاسه ده، د غليو غوندي تشه
زۀ پرده لکه د رنګ يم، څۀ ورمه د ګل خو نه يم
چې په کومه مخه باد ځي، ورپسې به ګني زۀ يم
دا دنيا که سور تنور دے، يم سکروټه پکښې ننه
سورمنډوس مي پرسروينې، دا مي دے له خپل خوړلنه
ما راوړې ستا کوڅې ته، عاجزي او ډېر نيازونه
سوځېدل، ويلي کېدل دي، دا سوغات هم آوازونه

* آئينه۔

** ډېر۔

بر آسمان لکه په سيند وي، دے را اوري پر سر باندي
په دې سوي زړهٔ مي هر دم، راڅخيږي زهٔ ور لاندي
سيندراغونډکړمه په زړهٔ کښې،بياله سترګويې واله کړم
وتړم ورته ورخونه، چې دا ستا چمن اوبهٔ کړم
داکړم ځکه چې ته غور يې، او ډېر خوښ مي د دلبر يې
نو زما د سترګو تور يې، هم زما د زړګي سر يې
عشق رده د فغان کښېښوه،ورته يې ځاے زما سينه کړه
د دې اور اثر خو ګوره، زړهٔ مي يې پاکه آئينه کړه
لکه ګل مي سينه يوړه، څيرې- څيرې ګاره- ګاره
چې په مخکښې درته کښېږدم، د کتلو دا هينداره
چې ځان و وينې شيدا شې، چې ورک شوے راپيدا شې
چې خپل حسن درته دام شي،چې مرغۍ په دام کښې راشې
هله کړم به را د سره، ستا زړې قيصې خبرې
په سينه به دي تازهٔ کړم، بيا داغونه که پرورې
چې له ځانه خبر نه دے، ما د هغه قام دپاره
محکم در له خدايه و غوښت، په زارو په ناقراره
په چپتيا د نيمو شپو کښې، ناقرار به په ژړا وم
نور به ټول خلګ ويده وو، زهٔ به ويښ په واويلا وم
نه مي صبر، نه سکون ؤ، پړقېدم د بټ نينه وم
په خوله حي يا قيوم او، اوښکي تلې لکه چينه وم
لکه زړهٔ د ارمان غوټه، ما خوره کړه وينې وينې
بيادسترګوپه کوڅهٔ کښې،مارخصت کړې اوښکي سپينې

شپه اوورځ درېدي غوندي، سوځېدل چې به ترڅو وي
له سحره پرخې غواړم، دا غوښتل چې به ترڅو وي
لکه شمع په ژړا يم، په تن اوښکي رغړومه
له تيارو سره لګيا يم، اوږدې شپې به رڼومه
رڼاګانې مي کړې زياتې زۀ که کم شوم ځان مي سود کړو
ما آباده کړه دا غونډه، ما محفل د نورو تود کړو
فرصت نه مومم له سوزه،پروت دے اورسينه وريته کښې
ادينه چرې را نغله، د ژوندون يوه هفته کښې
د هډونو په پنجره کښې، زما روح دے سولېدلے
که ځلنده اسويلے دے، په لوخړو کښې نغښتلے
زۀ چې پاک الله پيدا کړم، د ازل په سحر پار کښې
ناقراري مي شوې چيغې، د رباب په هر يو تار کښې
د عشق راز ښکاره کونکي، بې مثاله د زور چيغې
د وينا د آرمانونو، خون بها لکه اور چيغې
د خشاک فطرت د ارو کا، د تاوونو له اثره
تورې خاورې پتنګ خوے که، بې پرواه له سروزره
عشق نورڅۀ غواړي له خدايه، په سينه يې درېدي داغ دے
د ګرېوان به يې څۀ وايې، له ژړا د ګلو باغ دے
اوس يو دغسي ګل تانه، په پټکي کښې ږدم عزت زه
په بې سولو په اوه وستا، جوړومه يو قيامت زه
چې له خاورو دي تل، تل شي، د رېديو انګارونه
چې ساګانې دي خورې شي، په دنيا کښې بهارونه

# تمهید

# د فرد او ملت ګډون

که یو تن لره رحمت دے، نو ګډون د جماعت دے
وجوهر یــې کمال مومي، څوک چې غړے د ملت دے
یو دے خدای ښه، چې توانېږي، جماعت سره مل اوسه
که احرار دي غښتے پړے، په دا پړي کښې ول اوسه
پیغمبر ص دي فرمایلي*، چې شیطان له ډلي بیل دے
په پښتو کښې هم متل دے، چې بې ډلي سړے غل دے
د یو بل دوه آئینې دي، فرد او قام څۀ نه دے لرې
لکه ستورے آسمان** لار دي، لا دي تار او مرغلرې

* علیکم باالجماعة فانه من شذ شذ فے النار، ژباړه: څوک چې له جماعته بیل شو هغه جهنم ته ولاړ، په دې حقله د حضرت عمرτ قول هم دے، لااسلام الا باالجماعة، ژباړه: بې جماعته اسلام څۀ اسلام نه دے.

ولاتفرقوا الله اکبر وایي
بې ډلي دوزخي دے پیغمبر وایي
اسلام بې جماعته څۀ اسلام نه دے
نه وایي سمندر حضرت عمر وایي

** کهکشان.

په ملت کښې چې ورګډ شي، مېړه* مومي احترام
له مېړونو غونډېدلو، ملت وه مومي نظام

که یو تن پکښې ځان ورک کا، د ملت غونډې ته ورشي
په طلب د لویېدو کښې، وي یو څاڅکے سمندر شي
مړه خواشي سره خواشي، د زاړه سیرت په پنګه
تېر او وړاند ژوندانهٔ ته، آئینه شي په شا زنګه
د راتلونکي او تېر وخت، یو کوونکے د دهٔ ذات شي
د ابد غوندي بې سره، نامعلوم د دهٔ اوقات شي
زړهٔ کښې شوق د ډېرېدلو، خو رېدلو له ملته
د عمل حساب يې کېږي، د ملت له برکته
که قام نه وي دے به نه وي چې دے نه وي ساه به يې نه وي
که ښکاره دے که څهٔ پټ دے، چې قام نه وي دا به نه وي
قام د دهٔ شي لکه ژبه، په زبان د قام ویل کړي
چې پر تللي مشران دي، دے پر هغه لاره تلل کړي
د صحبت له تاوه پوخ شي، لکه لوښے ټنګېدلے
دا یو تن لکه ملت شي، د معنا تلے تللے
شي** یوتیا د دهٔ محکمه، دا د ګڼې برکت دے
او دا ګڼه يې په یوتیا کښې، د یوتیا غوندي صورت دے

---

* فرد.

** د دې شعر به لفظ په لفظ ترجمه داسې ښهٔ وي:

مستقیم د دهٔ وحدت له کبله د کثرت دے
او کثرت يې په وحدت کښې چې ورګډ شي نو وحدت دے

که د بيت نه بهر وزي، شي يو لفظ يوې خواته
مرغلره د مضمون وه، په سپيېڼ کښې شوله ماته
تکه شنه او تانده پاڼه، که له ونې پرېوتله
که سپرلے پر ورېدلو، نو هم شوه خاوره خزله
د ملت اوبۀ زمزم چې، يې د مرې نه کښته نۀ شي
د هغه د ساز په رِغ کښې، د لمبو تاوونه مړه شي
فرد يواځې بې مقصد دے، نه د تلو نه درېدو دے
شته قوت يې شته په تن کښې، ولې مخ په خورېدو دے
قام سرے په سرېتوب کړي، د قانون سره يې آشنا کړي
په قراره هوار درومي، لکه باد يې د صبا کړي
پښې د ځکي پر دې خاورو، سم يې نېغ لکه نښتر کړي
ځکه يې وتړي پښې لاس چې، صحي آزادي ورکړي
چې بندي د يو قانون شي، بهر نه وي له آئينه*
وي هوسۍ دترپودانګو،مشک يې شي په نوم کښې وينه
تا خودي له بېخودۍ نه، آشنا وه نه پېژندله
زغلوې ته ګومانونه، واوره- واوره د سر ګله
يو جوهر د نور اوسيږي، ستا په خاوره کښې دننه
د هغه د پلوشې نه، ستا ادراک کړي ځلېدنه
د هغه له غمه غم ستا، په ښادۍ کښې ستا ښادي ده
د هر دم د انقلابه، يې ستا ژوندون او آبادي ده

* آزاده ترجمه يې داسې هم ښۀ ده:
چې پابند د يو نظام شي، چې بندي د يو قانون شي
پښتون هله مسلمان شي مسلمان هله پښتون شي

یو دے نه زغمي دوه والے، که یې له حاله خبر نه یې
ځکه یې زهٔ رڼاته زهٔ یم، ته یې د نور په مخکښې ته یې
ځان ته زهٔ وایي خوددار دے، ځان مین د ځان پالونکے
دے په نیاز او عاجزۍ کښې، د نازونو دے ساتونکے
شته د دهٔ دومره تاوونه، چې زور وکړي نو اور وکړي
په لمبه کمند ګوزار کا، دغه سپڼ کښې چې زور وکړي
که په تن کښې بندیوان دے، خو آزاد د دهٔ فطرت دے
تا ووي منګل د کل نه، په دې جز کښې ډېر قوت دے
روړددپرله پسې جنګ دے،تل په ګواښ کښې اخلي خوند
یو دے دوه لري نومونه، یو خودي او بل یې ژوند
چې ځان وباسي بهر ته، پاتې نهٔ شي په خلوت کښې
پښې اوږدې کړي هنګامې ته، دے ورګډ شي په جلوت کښې
نو په خونه د زړګي کښې، نقش ګیر "هغه" د دهٔ شي
ځان ته زهٔ یې له فکره ووځي،هغه "زه"له سره "ته"شي
جبر واخلي تر اختیار نور، له هر څهٔ نه کنګال شي
چې یې ګورې سر تر سره، بس د مینې پنګه وال شي
ناز چې څو پورې هم ناز وي، کم نیازونه پیدا کیږي
چې نازونه سره یو شي، سم نیازونه پیدا کیږي
ځان کړي ورک په جماعت کښې،خودي وه دانګي له سره
نو د ګل له یوې پاڼې، چمن جوړ شي ښایسته غوره
د فولادو تیرې تورې، دي زما نکتې خبرې
که پر نه یې پوهیدلے، زهٔ له مخې مې شه لرې

# ډېر مېږونه په راغونډېدو ملت شي او د هغه کامل تربیت له نبوت شي

چې ګډون د بنیادمو، څنګه وشو او له څۀ نه
دا قیصه ډېره اوږده ده، په تیاره کښې سر دننه
یو مېږه چې موږه وینو، په ملت کښې ځکه ښاد دے
لکه ګل په ګلستان کښې، له کیله د قام یاد دے
دے فطرت د دۀ بس داسي، د یو والي مخ ته رغړي
حفاظت یې دے په دې کښې، چې ښایست شي د وګړي
د ژوندون پر لویه لاره، ځي روان دے په غورځنګ
سرې لمبې د اور تر تاؤ دي، د ژوندون د تاوده جنګ
مېړنې مېږونه هغه، چې ډېر غونډ په یوه لار شي
یو تر بله ور تر خوا شي، مرغلرې د یو تار شي
په تود جنګ د ژوندانۀ کښې، ټول یوه پوره لښکر شي
که تا بیا کول که کار وي، پر راسر لکه اشر شي
هریوځان ته بل را کاږي، نه دي کم له ستوري ستوري
څۀ ښایسته محفل یې تود دے،دے محکم له ستوري ستوري
دا باندہ چې د کاروان ده، دا د غرونو د راغونو
دا د لومو صحراګانو، ځنګلونو د باغونو
دا بې ځانه سسته پسته، لکه ورانه تنسه وي
لا غوټۍ د دې د پوهې، پټه خوله غلې پرته وي
تندر ږغې ساز یې چپ وي، دے لا نه وي ږغېدلے
لا د سوي نغمو تاؤ یې، له پړدو نه وي ختلے

نه په څېر د جستجو وي، لا د دهٔ اواز ختلے
لا تارونه د دهٔ نه وي، د آرمان شاباز خوړلے
د دې نوې جوړې غوندي، شرابيان هسې کم آب وي
په لانبه را اخستے شي، ايله دومره يې شراب وي
شنه وي اوس زرغونه شوي نوي نوي له دې خاورې
په ږکونو کښې د کور* يې، وينه وي لا يخے واورې
د پېريانو د دېوانو، تل له ويري کړي خبرې
د خپل ځان له پېژندلو، مدام اوسي لرې- لرې
لا ميدان يې تنګ وړوکے، وي هستي يې کچه خامه
هم يې فکر وي لاځوړند، دېر لا کښته وي له بامه
ويره يې وي په زړهٔ کښې ناسته له هرڅهٔ اوله هرچانه
له هر خوا له هرې مخې، له توند باد او له بارانه
په شا تښتي کوي دده، له سختئ سعي محنته
لاس نه اچوي لمن ته، نه يې راکاږي له فطرته
چې په خپله زرغونيږي، هغه اخلي بد که ښهٔ وي
له آسمانه چې را پريوځي، هغه اخلي چې هر څه** وي
خدای په دغه وخت کښې داسي،يو صاحب د زړهٔ پيدا کړي
چې هغه له يوه توري***، دفترونه را املا کړي

---

* انګور-

** دا ترجمه اولسي محاورې ته نوره نزدې ده:

همت نکړي خو هغه خوري چې پخپله زرغونه وي
کټورے غواړي له زانو که وي وي که نه وي نه وي

*** حرف.

ساز نواز* له اوازې نه، را پیدا کړي داسې خوند
چې کړي وینې ویدې،خاورې ورته ورکړي نوے ژوند

ذرې واخلي رڼاګاني، له غه بې مثاله لمره
د هر خیز قیمت و خیزي، چې یې شي ښهٔ له ښهٔ اثره
په یو دم یې سل ژوندي شي، یکښې ساه وکاندي مڼه
د یوې پیالې له رنګه، کړي رنګینه ټوله غونډه
د واړه سترګې یې وژل کا، چې دوه والے مړ فنا شي
په ویلو ساه پوکل کا، چې یو والے را پیدا شي
د تار سر یې په آسمان وي، هغه تار چې پر ګنډل شي
چې ټکره- ټکړه ژوندون، پر غونډول پیوندول شي
نوې غوندیو انداز دے، را پیدا کړے په نظر کښې
آبادي د ګلستان کړي، هم په سمه هم په غر کښې
نو ملت د دهٔ له تاوه، نا قراره سپېلنے شي
د ټوپونو د شورونو، د دوونو لیونے شي
د ملت په زړهٔ کښې ننه، دے یو سپڼکے ورګوزار کړي
دا دلی د تورو خاورو، سرې لمبې په غرهار کړي
چې هر چرته قدم کښېږدي، د دهٔ پل خاورې بینا کړي
ورته دومره رڼا ورکړي، ذره سیا له د سینا کړي
لغړتوب د عقل پټ کړي، په ښایست او په ښهٔ رنګه
دا ناچاره موږ او پټ کړي، د ښایست په ډېره پنګه

* د موسیقي په اصطلاح کښې هغه راګ ته وایي چې په ساز کښې له دوه مقامو ترکیب مومي، دا تلمیح ده له دین او دنیا ځنې.

هم سکروټو ته يې کښېني، ورته ووهي لمنه
زر يې وباسي له اوره، که وي کوټ پکښې دننه
بند پر بند وي پښې ترلې، پرے پرانيزي هرچا ته
د خدايانو له کوڅو نه، بنده بوزي سمې خوا ته
ورته ووايي په جار دا، چې بنده د بنده نه وي
دا چې تا ورته سر اينښے، لکه دوے دي هسې ته يې
د قانون پرے په پښه کښې، مدعا ته يې راکاړي
چې يې وه رسوي ځاے ته، هغه خوا ته يې راکاړي
بيا يې پوهه په توحيد کړي، دا نکته ورباندې سود کا
هم يې پوه په عاجزو کړي، هم يې پوه د نياز په دود کا

# د اسلام د ملت بنيادي ستنې
# لومړۍ ستن
## ((توحيد))

په جهان د څنګه* څو کښې، عقل ډېر و ګرځېدلو
له منزل وه لرې پاتې، خو توحيد و رسولو
ګني لار ده ناچاره، تر منزل وه لاره چرته
د ادراک ورکي بېړۍ نه، ده موندله غاړه چرته

* کيف و کم.

یاده کړه د خدای دوستانو، د توحید د رمز خبره
د "اٰتیِ الرحمٰن عبدا*"، په سپیئې کښې مرغلره
چې یې تاته درښکاره کړي،ډېر رازونه شته په تا کښې
د عمل دنیا ته راشه، امتحان یې دے په دا کښې
هر څۀ دي له دغه رمزه، دین آئین او که حکمت دے
که لويي که مرتبه ده، یا که زور او که قوت دے
چې جلوه یې ورښکاره شي،عالمان ګوته په خوله کړي
عاشقان له سره تېر کړي، د عمل میدان ته تله کړي
چې پر چا یې سیورے وشي،که پرېوتے وي اوچت شي
خاورې هم لکه اکسیر کړي، زيات یې قدر او قیمت شي
لاس یې رسي چې کول کړي،دبنده شان یو په سل کړي
بنده هغه بنده نه وي، په خوبیو یې بیا څۀ بل کړي
بیا د حق پر لار شي توند، لکه تندر شي په تـګ کښې
لکه برېښ دآسمان زغلي،توده وینه یې په رګ رګ کښې
عمل ومومي ژوندون، او شک ؤ ويره دواړه مړه شي
سترګې هم په حال خبرې، د عالم دننه زړۀ شي
چې بنده د خدای بنده شي، او مقام د دۀ محکم شي
که کچکول وي د سوالګري، په خوبیو جام د جم شي
دا ملت لکه یو تن دے، پکښې ساه د لااله ده
د دې ساز پرده څېړونکې، زخمه** دا د **لااله** ده

---

* ان کل من فیِ السمٰوٰت والارض الا اٰتیِ الرحمٰن عبداً، (قرآن سورت مریم)
ژباړه: په آسمانو او مځکه کښې چې څومره مخلوق دے، ټول به د الله تعالیٰ په حضور کښې په حالت د بندګۍ پېښ کيږي.

** شهباز.

لاالٰه مي د رازونو، خزانه هم دروازهٔ ده
په دې تار زموږ ګنډلي، د فکرونو شېرازه ده
دغه توري دي په خوله کښې،چې لړشي ورکښته زړهٔ ته
یو په شل نه یو په سل کړي، قوتونه ژوندانهٔ ته
دا که لیک شي پر شنه کاڼي، ګټ به شي لکه زړهٔ ښاد
هغه زړهٔ شو تورې خاورې، چې وه نسوه د دې یاد
چې د دې دغم له اوره، دا خپل زړونه کړل روښان موږ
په یو اُف د جهان درمن، د ایرو کړلو ډېران موږ
اوبو غوندي نري زړونه، څهٔ زموږ سینې چینې کړې؟
تاؤ د لاالٰه مي ویلي، دا دننه آئینې کړې
د ربډي غوندي چې موږه، شو تک سره د دې له اوره
بې له دغه یوه داغه، پنګه نشته زموږ نوره
د توحید له برکته، زموږ تور لکه سور ګل شي
د عمر[رض] د زړګي سر شي، د بوذر[رض] هم لکه خپل شي
د پردو هم خپلو مینه، ده په زړهٔ کښې د ساتلو
شوق خو هله مستي مومي، چې جام یو وي د نوشلو
په یورنګ کښې زړونه رنګ شي بیارمه نه ده ملت دے
له یوې جلوې میندلې، دغه غر دے طور رڼا عزت دے
قام فکرونو ته یو بویه، یوه خوله یوه خبره
په یو زړه- زړهٔ سیپیۍ کښې، یو مقصد وي مرغلره
چې جذبه د دوے یوه وي، د یو تن هم بېله نه وي
بد د ټولو په خوله بد وي، ښهٔ د ټولو په خوله ښهٔ وي

سوز د حق چې پکښې نه وي، ساز د فکر نو غوغا ده
طریقه د داسې فکر، بې امکانه ده خطا ده

موږ ځايي مسلمانان يو، پلار زموږ د خدای خليل^ع^ دے
"ابيکم"* دے له قرآنه، که يې غواړې دا دليل دے
امتونو خو ترلے، په وطن پورې تقدير دے
په نسب يې رده ايښې، دروئے يې تعمير دے
ګڼي اصل د ملت نو، له وطنه دے څۀ ناوړې
ګڼي تش و پرستش دے، د اوبو او باد او خاورې؟
ناپوهي ده ناپوهي ده، په نسب به فخر وياړ لا څۀ وي
چې نسب خو دے له تنه، تن نن وي او صبا نه وي
اې زموږه د ملت خو، رده بله بنياد بل دے
چې په زړۀ کښې ده زموږه، له هغې ځنې مراد بل دے
يو حاضر زموږه زړونه، په غائب پورې ترلي
نه مو دا جهان په کار دے، نه مو هغه پسې ژړلي
د دې قام رشته يوه ده، سره دي خپلو کښې ستوري
خو نظر غوندي نه ښکاري، که زموږه سترګي ګوري
د تيرو توبريو غشي، د يو خال د يو کمان موږ
په يو شان د يوې مخي، د يو فکر يو زبان موږ
بس يوه مو مدعا ده، يوه لار او يو يې سر دے
يومو خيال او يو مو دود دے، ډېر سرونه يو يو ور دے
د هغه له نعمتونو موږه، يو په بل قربان شو
په يو زړۀ په يوه خوله شو، د يو تن غړي يو ځان شو

---

* ملة ابيکم ابراهيم. ژباړه: دا دين ستاسو د پلار ابراهيم دے.

# نااميدي، غم او ويره ژوند تباه کوي
# او توحيد د دې خونړو رنځونو ورکول کوي

چې ارمان په زړهٔ کښې نه وي،مرګ دے دغه نشت بېشکه
د **لا تقنطوا*** قوت دے، چې د ژوند رده کړي کلکه
ارمان پرله پسې بويه، دا اميد و د سړي شي
نوميدي خو ژوندانهٔ ته، لکه زهر خونړي شي
نااميدي توره بلاده، لکه ګور نچوړول کا
که هر څو د مورې** غر يې، دا له پښې ځنې راکښل کا
ناتواني ده د دې وينځه، شا مدام په غم لړلې
هم د دې په لمن پوري، نامرادي ده تل تړلې
مايوسي ژوندون ته واي، "الله هو" د خوب ږغونه
سستوي د عناصرو، پټې پلي او هم رګونه
د روح ستړګې ړندول کا، رانجه نه کړې د دې پوري
که ژوندون وي سپينې ورځې دايې شپې کړي تکې تورې
چې يو دم پر دا ورکف کړي، قوتونه د ژوند مړه کړي
دژوندون چينې کړي وچې،دېرلا نور هم هسې کړه کړي

* لا تقنطوا من رحمة الله. (قرآن) ژباړه: د الله له رحمت ځنې مه نااميده کيږئ.
** په اصل کښې دا لوند غر دے، خو ما د خپل وطن غر وليکلو، چې ذهن ته زر پرېوزي، خبره يوه ده څهٔ الوند غر او څهٔ موره غر.

دا د غم سره ویده ده، د یوه څادر د لاندي
که ژوندون دے له شارګه، غمِ نشتر دے په رګ باندي
اې د غم په بند کښې بنده، اې د غم تر لاسه خواره
لا تحزن* دي ولې هېر کړو، تعلیم وکړه له سرداره
دې سبق صدیق- صدیق کړو، له زړګي یې غم شو لري
داپیاله چې یې خولې ته یووړه غم ؤزیات که کم شو لري
مسلمان رضا اوچت کړي، لکه ستورے ځلېدلے
د ژوندون په ګرانه لار ځي، مسکېدلے- مسکېدلے
که په خدای دي پوخ یقین وي، نو د غم نه آزاد اوسه
وران او سم نه آزاد اوسه، زمات او کم نه آزاد اوسه
د ژوند مزے به دي اوږد کا، د ایمان قوت کښې دا شته
**لا خوف علیهم**** وایه، چې دي څو په تن کښې ساه شته

---

* د هجرت مشهوره واقعه ده، چې دوست د خدای(ص) او حضرت صدیقτ د هجرت په ورځ څهٔ مزل وکړو، نو په ثور نومي غار کښې کښېناستل، چې دمه وکړي، او په دې هم پوه شي، چې کفار ورپسې دي او که نه؟ آخر کفار ورپسې ورسېدل، چا نخښې ورکړې، چې هم دلته وو، په سوونو خلګ خواره شول، آ خوا دېخوا، په کنده کښې، په سمه کښې، په غار کښې په اړخ کښې هر خوا ته یې کتل نو د حضرت صدیق(رض) زړهٔ لاندې باندې شو، عرض یې وکړو، چې یا رسول الله! دښمنان خو راغلل، اوس به څهٔ شي، حضور(ص) ورته و فرمایل: "لاتحزن ان الله معنا، ژباړه: مه وېرېږه غم مکوه، زموږ خدای راسره دے، د حضرت صدیق(رض) زړهٔ ډاډه شو، کفار خدای ړانده کړل، د غار له خولې نه پستنه لاړل، اقبال صاحب دې قیصې ته اشاره کړې ده.

** لاخوف علیهم ولا هم یحزنون، ژباړه: اوس د هغو دپاره نه څهٔ قسم وېره شته او نه به غم خوري.

چې امصا یې کړه اوچته، په فرعون پسې ورسم شو
بس یو ډاډ د لا تخف* ؤ، د کلیمؑ زړهٔ پرې محکم شو
بې له خدایهﷻ بل څهٔ خوف، پوخ دښمن ستا د عمل دے
قافلې د ژوندانهٔ ته، لکه لار و هونکے غل دے
نیت همت ته زړهٔ کښې کښېني، په خوله یې داسې وینا وشي
هسې نه چې داسې وشي، که دا وشي بیا به څهٔ شي
که ستا خاوره کښې شي تخم، دانې لړې وي که زیاتې
دے پر لار د ترقي کښې، ژوندانهٔ ته پښې کړي ماتې
ویره ده پیدا کمزورې، د کمزورې مینې یووړه
رپېدلي د ګبدلي، زړهٔ او لاسو سره یې جوړه
زموږ لار په سر پرته ده، دا د پښو طاقت په غلا وړي
لوړ فکرونه له دماغه، له هر چا ځنې هم دا وړي
یو دښمن که په تا پوه شو، چې لړ هم یې وېرېدونکے
تا به وشو کوي ګله، له چمنه شو کوونکے
وي تېره به یې نظر توره، د فولادو له خنجره
هم بې توره د فولادو، ووځي ستا له تن او سره
را پراته زموږه پښو ته، دي د ویرې ځنځیرونه
ګني سیند زموږ ختلے، چلې- چلې سېلابونه
که ستا ږغ نه خیزي ګله، یوه وجه ده نه بله
په رباب د دې تارونه، سست د ویرې له کبله

* قلنا لا تخف انک انت الاعلیٰ، مونږ ورته اووې اې موسیٰ مه وېرېږه بېشک هم ته غالب یې.

غوږ یې راکاږه چې ترنګ یې، په جهان کښې قیامت جوړ کړي
چې دزېراوبم له تاوه، په آسمان کښې قیامت جوړ کړي
ویره ده د مرګ جاسوسه، ده راغلې له هیواده*
لکه میم د مرګ چې تور دے، په زړهٔ توره هسې دا ده
دي ورانکاري د دې سترګې، ورانوي د ژوندون چاري
هم دي غله د دې غوږونه، تل وهي د ژوندون لارې
ستاپه زړهٔ کښې چې هرشر دے، یا شر چرې پیدا کیږي
که رښتیا راباندې وایې، دا له ویرې پیدا کیږي
کینه مکر خوشامنده، که دروغ له پاک زبان دي
د دې ټولو یوه مور ده، دا د ویرې ماشومان دي
تېر،ټګي، منافقتوب دے، رخت د دې قمیص ترې کیږي
د لمن لاندې یې په غیږ کښې، سل فتنې دي چې لویږي
له همته نه کلکیږي، ویره ځکه ټوله ربړدي
په خندا یې تیروي دا، که بد حال وي غاړه کښېږدي
هغه څوک چې په رمزونو، د نبي دے پوهېدلے
نو هغه د زړهٔ په سترګو، پټ په خوف کښې شرک لیدلے

# د غشي او تورې خبرې

دتودجنګ په یو میدان کښې، غشي تورې ته بیان کړو
تورې اینسے ورته غوږ ؤ، د حق راز هغه عیان کړو

* وطن.

وې اې تروږې دے جوهر ستا، ښاپېرۍ د غرونو ګرانو
ذوالفقار د علي رض هم دے، ستا له لوړو مشرانو
د خالد رض غوندي مېړونو، قوتونه تا لیدلي
ماښامونو ته پر سر تا، شفقونه دي شیندلي
د خدای قهر سره اورونه، ستا په خونه کښې دولت دے
اې* چې ستا د سیوري لاندي، د فردوس غوندي جنت دے
زۀ که یم په غشي ور کښې، که پر اس د هوا سپور یم
چې یم چرته تورې تروري، نه سرېږمه سور اور یم
د سینې په لوري زغلم، د لیندۍ نه چې خطا شم
په کښې ننه ښۀ وګورم، په سینه کښې چې رسا شم
که محکم زړۀ پکښې نه وي، له غمونو ویرو پاک
داسې زړۀ وي چې پکښې کا، اندېښنې فکرونه ژواک
نوپه خپله تېره څوکه،یې څیري یو سم غوښې- غوښې
ورته وکړم د سرو وینو، نیم تنې د خپلې غوښې
او که نه خو نه رڼا کړي، پکښې ننه زړۀ مومن وي
هم ظاهر یې ځلېدلې، له رڼا نه د باطن وي
نو د دغه زړۀ په مخکښې، توري ترور اوبه- اوبۀ شم
دا د اوسپنې توبرې مې، پرخه وه څاخې و نه شم

---

* ان ابواب الجنة تحت ظلال السیوف، ژباړه: جنت د تورو تر سایو لاندې دے.

# حکایت د عالمگیر رح او د زمري

یو باچا د باچهانو، عالمګیر ؤ مشهور
لکه پوزهٔ په مخ دے و، قبلې ته د تېمور
که لوړتیا د مسلمان شته، په آسمان دے هغه وړے
د نبي ص د غوري شرعي، احترام دے هغه کړے
دا تر منځ د دین او کفر، جنګ تود شوے نرغونے ؤ
خو زمور په غشي ور* کښې، دا یو غشي وروستنے ؤ
هغه تخم د الحاد چې، د اکبر کوم و کرلو
بیا په خاوره د دارا کښې، شو ښکاره و ټوکېدلو
د سینو په کوټکو کښې، نه وو زړونه ډیوې بلې
ؤ زمور په دې ملت کښې، فسادونه شور او هلې
خدای په هندکښې کړلوغوره،و دې کار ته عالمګیر ځوان
په شاهۍ کښې دفقیر شان، ښهٔ مېړه ؤ د شمشیر ځوان
په دې کار کړوخدای مامور دے، چې ژوندے ربښتونے دین کړي
چې کاروان پرسمه لارکړي،بیایې له سره پوخ یقین کړي
برېښ د تور یې لکه تندر، رشه وسوه د الحاد
ډیوه یې کړه د دین روښانه، دا محفل یې بیا کړو ښاد
ناپوهانو پورې جوړ کړل، د ناحقو داستانونه
په اوچته مرتبه یې، پوهه نه کړل چا ځانونه

---

* ترکش.

د توحید د بلې شمعې، په رڼا مین پتنګ ؤ
په دې توره بتخانه کښې، د باطل سره په جنګ ؤ
په شاهانو کښې نوموړے، بې مثال هغه ښاغلے
تر شعلې د فقر خیزي، که چا ولید د دهٔ څلے
د لوے شان او د لښکر، و شهنشاه فقیر مزاج
تخت یې کړه په پښو ویاړنه، کړه په سر یې لویې تاج
یوه ورځ روان شو سیل ته، د ځنګل په شاړو پاړو
یو مرے چې وفادار ، هغه هم ورسره لاړو
پکښې ډوب او مست روان ؤ، داسې خوږ د سحر باد ؤ
ونه- ونه کښې چغار ؤ، هر مرغے په ثنا ښاد ؤ
په لمانځه و دریدلو، لکه ورک شو شاه په پت* کښې
د مجاز له پولې واوښت، شو ورګډ په حقیقت کښې
چرته وړے زمرے راغلو، په ځنګل کښې غړمبېدلے
غړمب یې ملک پر سر اخسترے، له آسمان راتمبېدلے
د بنده په بوے پسې وه، راغلو خوا ته شهنشاه ته
ور خطا یې کړله پنجه، شړپ یې ورکړو د دهٔ شا ته
نالیدلې یې توره راکښه، د مومن ګوزار یې وکړو
کړو زمري، زمرے دوه ځایه، مېړنے ؤ کار یې وکړو
لږهم نه شوکوزهٔ بره نه یې په زړهٔ کښې څهٔ خوف تېرشو
څهٔ خبر ؤ له زړوره، شېر ببر د قالین شېر شو
په بې صبره منډه راغلو، مین بیا د لمانځه ځاے ته
له حضوره سره لمونځ یې،ؤ معراج و درید خدای ج ته

* وفا.

داسې کلک او خود نما زړه، چې هم نرم خود شکن وي
د سیپۍ ګوهر ور ځار شه، د مومن سینه یې وطن وي
لکه نشت د خدای په ور شي، هر بنده د حق چې ورشي
د باطل په وړاندې ښخ وي، نه ستنېږي لکه غر شي
اې ناپوهه! څهٔ به ښهٔ وي، که پیدا د غسي زړهٔ کړې
معشوقې لره باید چې، کجاوه تیاره ته کړې
ځان ته ځان مه وایه ځار شه، بس په دې کښې ځان موندل دي
ورته خور کړه دام د نیاز چې، دا مارغه د ناز نیول دي
اندېښنه فکر پر سوزه، د عشق سره کړه انګارونه
د خدای مخکښې لومبړ اوسه، د زمرو کوه کارونه
خوف دخدای چې وي په زړهٔ کښې،دایمان دغه عنوان دے
د بل چا نه ویره شرک دے، خو ښکاره نه دے پنهان دے

# دوهمه ستن

# ((رسالت))

د "افلو[۱] برېښېدونکې، ابراهیم ع[۲] د خدای خلیل دے
چې پر سمه لاره پلونه، و نبیانو ته دلیل دے
خدای ج به تل وي دا خلیل يې، یوه نخښه د قدرت ؤ
او ارمان د دهٔ په زړهٔ کښې، د یو ښهٔ پتمن ملت ؤ
دواړه سترګې يې تل روانې، نه يې خوف نه يې آرام ؤ
چې "**طهر بیتي**[۳]"، راغلو د الله ځنې پیغام ؤ
ده زموږ د خیر دپاره، ورانه شاړه کړه آباده
ده طواف[۴] ته د قامونو، د خدای خونه کړه بنیاده

---

[۱] افل: هغه څیز ته وايي، چې کوم شي ورکېدونکې او ډوبېدونکې وي، لکه لمر، ستوري، دا اشاره د قرآن ده، آیت له ده "لا احب الأفلین. ژباړه: زه له ډوبېدونکي څیز سره مینه نه لرم.

[۲] ابراهیم ع دا دعا کړې وه: ربنا واجعلنا مسلمین لک و من ذریتنا امة مسلمة لک، ژباړه: اې زموږ خدایه! او مونږ دواړه فرمانبردار کړهٔ، او زموږ له اولاد ځنې یو امت پیدا کړه، چې ستا فرمانبردار وي.

[۳] وعهدنا الی ابراهیم و اسمٰعیل ان طهرا بیتي للطائفین والعٰکفین وارکع السجود.
ژباړه: او مونږ د ابراهیم او اسمٰعیل ځنې لوظ واخستو، چې تاسو زما کور د طواف کونکو، اعتکاف کونکو او رکوع، سجده کونکو دپاره پاک صاف ساتئ.

[۴] ربنا اني اسکنت من ذریتي بواد غیر ذي زرع عند بیک المحرم.

چې آخر د "**تب علینا**[۱]"، بوټي شولو ستړګې- ستړګې
بیا زموږ د سپرلي باد کړو، باغ د ګلو ستړګې- ستړګې
پاک الله ته وه منظوره، جوړه یې غوندېه ستا زما کړه
چې یې جوړ د ملت تن کړو، رسالت یې ورته ساه کړه
ؤ دنیا کښې خواره توري، نه مطلب نه آوازونه
رسالت داسې یو ځاۓ کړو، لکه وي مصرع موزونه
یو وجود شو په جهان کښې، دا تکوین له رسالته
زموږ دین له رسالته، هم آئین له رسالته
رسالت کړو لکه موتې، صد هزار ؤ که بې شمار ؤ
کړویې موږه پرله پوري، که بیل- بیل وو که تار- تار ؤ
هغه ذات چې مهربان دۓ"**یهدي من یرید**[۲]" "یې شان دۓ
کړه ویړه[۳] د رسالت یې، له مونږ تاؤ چې نګهبان دۓ
دغه غوندېه د ملت تل، غزوي دا ګینه خپله
دۓ مرکز یې په مکه کښې، نه بیلیږي له بورجله
رسالت پورې تړلي، نو یادیږو په ملت موږ
نورو خلګو د دنیا ته، لکه زېرۓ د رحمت موږ
عظیم بحر رسالت دۓ، لکه موج له بحره خیږو
هرې خوا ته ځو غزیږو، نه خوریږو نه بیلیږو

[۱] ابراهیم ع پخپله دعا کښې دا هم ویلي ؤ چې:
وارنا مناسکنا و تب علینا انک انت التواب الرحیم
ژباړه: او مونږ له د عبادت طریقې وښیه، او زموږ توبه قبوله کړه، ښشکه ته توبهٔ قبلونکۓ او رحم کونکۓ یې.
[۲] معنه:- چا ته چې وغواړي نو هدایت ورته وکړي.
[۳] شپول.

د رسولؐ امت د ننه، پنا ځاے د حرم تل[1] کښې
د تکبیر کوي رغونه، لکه وي زمرے ځنګل کښې

که لوستو ته مي د تورو[2] ، د صدیقؓ نظر پیدا کړي
په معنا پسې کې یې خانه، د تحقیق وزر پیدا کړي[3]
نو نبيؐ به هله تاته، لوے قوت د زړهٔ ځیګر شي
درته خوږ به شي له خدایه، نبيؐ داسې د زړهٔ سر شي
د مومن د زړهٔ دپاره، د نبيؐ کتاب قوت دے
او حکمت یې دے شهرګ، چې ژوندے ځنې ملت دے
که لمن یې موږه پرېږدو،بس نومرګ به زموږ دا وي
لکه باد چې د خزان کا، د چمن ګلونه مړاوي
قام موندلے که ژوندون دے، دا راوړي پیغمبر دي
که څهٔ تود زموږ سحر دے، نو دا تاؤ د دغه لمر دے
پلوشو د دغه لمر ته، موږه برېښو ځلندي یو
پیداوښت د یو الله ؤ، دا راغونډ کړو نو ژوندي یو
یوه خوله شوپه یو زړهٔ شو،چا اوچت کړو؟رسالت کړو
بس یوه مي مدعا شوه، چا د پټ کړو؟ رسالت کړو
د یوې مدعا ګڼه، په یوه لاره وحدت شو
دا یو والے لکه غر شو، غر ولاړ نوم یې ملت شو

---

(۱) غولے.

(۲) حرفونه.

(۳) زما کار خو دغومره ؤ، چې ترجمه مي د شعر وکړه، د دې شعر مفهوم څهٔ ډوب ښکاري، ځکه چې اقبال صاحب ډېر لوے عالم او غټ فلسفي او هم صوفي ؤ، په دې شعر کښې هم د تصوف رنګ معلومېږي. خدای ښهٔ پوهېږي. ((**سمندر**))

د یووالي نه موندلې، هرې ګڼې و ژوندون دے
د فطرت له دین اسلامه، د مسلم- مسلم تړون دے
دغه دین چې د فطرت دے، له نبي[ص] دے مونږ موندلے
هر یو تن د حق پر لاره، یو مشعل دے بلېدلے
دا ګوهر چې راسره دے، دا یې له بحره بې پایان دے
موږه ټول یو پرله پوري، د هغه په مونږ احسان دے
که یو دغسي یو موټې، ورځ په ورځ به کوو وده
دومره اوږد به مي ژوندون شي، یو ژوندي به تر آبده
زموږغونډه[1] خدای[ج] کړه خوښه،نبوت یې پرې تمام کړو
هر چه دے زموږ رسول[ص] نو، رسالت یې پرې تمام کړو
خوندور د وخت محفل دے، دا زموږه له جامونو
هغه ختم د نبیانو، موږه ختم د قامونو
دا خدمت د ساقیتوب یې، مونږ ته وسپاره پر مځکه
بس وروستۍ دغه کاسه وه،چې یې مونږ ته کړه را ډکه
ګله! "**لا نبي بعدي**[2]"، دا د پاک الله احسان دے
د نبي د دین ناموس ته، ده پرده عزت او شان دے
بس چې ختم نبوت دے، دا دولت د قام قوت دے
د ملت یووالي راز دے، د راز دغه حفاظت دے
دا هغه ته ده منظوره، خدای کړه هره دعوه رده
د اسلام رده یې پخه کړه، چې پرته وي تر آبده

---

[1] امت.

[2] زما نه پس نبي نشته.

مسلمان د یو الله دے، نه ترېِ زړهٔ په بل پوري
کړي"**لا قوم بعدي**[1]"چیغه،نعرې نه کړي نوري توري

# د محمد ص دځنې مقصود د ا ده چې د ادم د نوغي دحريت، اخوت او مساوات تاندي مضبوطي شي

بنیادمو په دنیا کښې ،د بندیانو بنده توب کړو
واک پردې نابوده غړي،نور يې ډېر بې خونده توب کړو
د قیصر کسرٰے زورونه، غله وو خلق يې لوټلي
د هر چا مرۍ کښې پړې، هم يې لاس او پښې تړلي

کاهنان[2] او پاپاګان[3] او، سلطانان[4] ډېر ازاریان وو
د یوې مرغۍ دپاره، په هر لوري ډېر ښکاریان وو
د غازي توره بمبل وه، کړه يې تیکي ته دننه
وې چې بس په ما حرام شه، ستا د وینې تویونه
شوه جنډه د ایران کوزه، آخر فتح دا میدان شو
د ساسان د اولاد اور ؤ، د سرو ایرو ډېران شو
پس له هغه شوه ښرګنده، چې قیدي خو سر لښکر ؤ
او جابان د دهٔ نامه ده، په زړورو کښې زړور ؤ

(۱) له مونږ نه پس بل قام یعني امت نشته.
(۲) کاهنان:- د یهودو مذهبي مشران وو، هغه ته به يې کاهن وې، یعني جادوګر
(۳) پاپا:- پاپا به يې د عیسایانو مذهبي مشر ته وې.
(۴) سلطان:- شخصي حکومتونه هم ډېر وو، اکثر به يې په سلطان بللے شو.

سر لښکر بو عبيده ؤ، ننګيالو کښې د حجاز
په تود جنګ کښې به يوازي، په مرغو و راغلو باز
ده وې اې مسلمانانو، که زما په رِغ مو غوږ دے
موږ د يو رباب تارونه، پکي يو زموږه رِغ دے
لکه چيغه د بوذر رض ده، لکه چيغه د حيدر رض ده
که له کومي راختلې، د بلال رض او د قنبر رض ده
د ملت همه سرونه، ساتندوے د امانت دي
د هر يو کينه او روغه، کينه روغه د ملت دي
که د فرد د روح دپاره، وي ملت رده ژوره
نو بيا لوظ د ملت دے، د يو آن د خولې خبره
دا منم چې دا جابان دے، يو دښمن په لاس راغلے
خو زموږ يو مسلمان ورور، دے يو ځلي دے بخښلے
د خيرالانام امته! اوس ورکړے مونږ امان دے
نه د دهٔ قتل روا دے، نه دا شان د مسلمان دے

# حکایت د ابو عبیدهرض او جابان

# د اسلامي ورورولۍ په حقله

جنګ د حق او د باطل ؤ، د یخوا نور احوا انکار ؤ
یو غازي زمرے راګیر کړو، د ایران سپاه سالار ؤ
جنګیالے ؤ توریالےؤ، ازمیلے ؤ هوشیار ؤ
تېریستونکے ؤ چلګر ؤ، ډېر خوله ور ؤ بد مکار ؤ
کړه یې خپله عهده پټه، هیڅ یې و نه وې چې څوک یم
څۀ مي نوغے، څۀ مي نوم دے،څۀ مقام اودڅۀ څوک یم
خوله یې خواره کړه غازي ته،وې چې امن دسر غواړم
تل بخښل مسلمانان کړي، زۀ هم ستا په مخکښې ژاړم
اورخانو کښې اورپرست ؤ، که ښتن ؤ د اورنګ[1]
د اولس په پنجرونو، د چا برخه چا قلنګ
جنتونه خرڅوونکي، اسقفانج ورېي د مال ؤ
په دې خوار مارغه پسې به، ګرځېدل په مټه جال ؤ
چرته دوے ته رشې وسوې، اور پرستو په اورونو
چرته یې لوټ برهمن وکړو، په باغونو په کورونو
مرئیتوب اولس بې ښې کړوهم بدل یې کړه اووړه[2] شول
د شپېلۍ سوي ږغونه، په شپېلۍ کښې ننه مړه شول

---

(۱) تخت.

(۲) کړه وړه: خت و خال ته وایي، دلته د اقبال د فطرت په معنا استعمال شو.

را پيدا امانتګر[۱] شو، حق يې وسپاره حقدار ته
د خاقان ګدۍ يې ورکړه، يو بې نومه مريي خوار ته
ده له مړو يخو ايرو نه، سرې لمبې په غرهر کړې
ده کوهکن کړلو راپورته، د پرويز رتبې يې ورکړې

د مريي د کار قيمت يې، کړو اوچت له يوه واره
بادارتوب يې واخستلو، په يو ځلي له باداره
دادخداى قوت چې راغلو،هر يو زورصورت يې مات کړو
جوړ يې نوعي د انسان ته، نوۓ کوټ نوۓ حيات کړو
نوې ساه يې پکښې پو کړه، آدم و مېند نوۓ ځان بيا
د خدايانو نه يې واخست، د خدايانو بنديوان بيا
دا د دۀ ژوندي کول شول، لکه مرګ زړې دنيا ته
مرګ شو اورته اوړپرست ته،بت خانې ته هم ترسا ته
د هغه له پاک ضميره، شوه پيدا آزادي غوره
دا خواږه شراب څڅن شول، د هغه د کور له کوره[۲]
نوي دور که راوړې، سل ډيوې دي بليدلې
په ځولۍ کښې د هغه دي، د دوۓ سترګې غړيدلې
داسې نوې نخښې را کښې، يو قوت يې را پيدا کړو
د دنيا سنبالوونکي، يو امت يې را پيدا کړو
بې له خدايه نور له هرڅه، بس په څنګ دغه ملت شو
او ډيوې د مصطفٰے<sup>ص</sup> ته، بس پتنګ دغه ملت شو

---

(۱) نبي<sup>ص</sup>

(۲) انګور.

تاؤ د حق کړو سینه زورر، دا يې شوه داسې امت دے
چې ذرې د لمر په کور کښې، ده ډیوه داسې امت دے
داسې مسته نشه يې راوړه، چې دنيا يې کړه رنګينه
بت خانې همه کعبې شوې، افريقې فارس تر چينه
غور نيکونه يې نوموړي، انبياء او مرسلان دي
په اکرم[1] يې خداى بللے، پرهېزګاره متقيان دي
کل مومن اخوة يې، په غمي د زړۀ ليکلے
بې له خدايه بل د هر يو، قيد او بند څنې وتلي
نه اوبۀ په ډانګ بيلېږي، نه دوے بيل کړل رنګ ؤ ذات
دوے په وينه کښې راوړلي، ورورولي او مساوات

د دې پاک امت اولاد تل، لکه سرو وي آزاد تل
د ازل د ورځې لوظ، د **قالوا بله**[2] يې ياد تل
په هروچولي يې ګل جوړ دے، کړي سجدې د خداى په لوري
له ادبه يې په پښوپرېوت، د آسمان سپوږمۍ او ستوري

---

[1] ان اکرمکم عندالله اتقکم. ژباړه: بېشکه په نزد د الله تعالے عزتمن په تاسو کښې هغه څوک دے، چې کوم ډېر پرهېزګار وي.

[2] الست بربکم قالوا بلے. ژباړه: زه نه يم ستاسو رب؟ (ټولو خلکو) ووې چې هم ته يې.

# حکایت د سلطان مراد او یو ترکاڼ

## د اسلامي مساوات په حقله

یو ترکاڼ ؤ ډېر نوموړے، شهریه کښې د خجند
وه په کار د آبادۍ کښې، د دنیا په مخ ښرګند
د فرهاد نوغي اخته شو، کړو ښکاره یې خپل صنعت
د سلطان مراد په حکم، ده کړو جوړ یو جماعت
دشاه خوښ نه شوتعمیر، سور له قهره شو غوغا شوه
د معمار* دغه تقصیر، خپل هنر ورته بلا شوه
د سرو سترګو نه یې تاوونه، ښخېدل د اور بڅري
لاس یې غوڅ کړوترې په توره، شوپه شان دیو وزري
د ترکاڼ د وینو سیند ؤ، مځکې سره کړه په خرړا لاړ
بې ګناه غریب ناچاره، لوے قاضي ته په ژړا لاړ
هنرمند ؤ په دې لاسو، سوري کړي وو کاڼي ډېر ده
د باچا ظلم له سره، لوے قاضي ته کړلو تېر ده
وې چې اې هره خبره، ته د خدای په شریعت کړې
د قانون د محمد ص هم، ته ښېښکه حفاظت کړې
مرېے نه یم د شاهانو، دلته غور د ځان غواړم
په باچا زما دعوه وه، فیصله د قرآن غواړم
قاضي و چیچله شونډه، وو عادل نه ډوډي غړب وه
په باچا پسې کاغذ لاړ، عدالت ته یې طلب وه

---

* ترکاڼ.

د قاضي په وړاندې راغلو، رنګ یې زېړ و تښتېدلے
د قرآن له ډېري ويرې، رپېدلے، دګېدلے
کوزي سترګې له ډېر شرمه، ناقراره پر زلزل وه
اوس که زېړؤنواوس سورشومخ یې بس درېدي ټل وه
په یو لوري دعوه ګر وه، یو ترکاڼ نیمګړے بخت
په بل لوري ګناهګار ؤ، یو څښتن د تاج و تخت
باچا اووې شرمنده یم، زما غاړه شرعه پرے
زهٔ په خپل جرم ډاډه یم، اعتراف مي دے راوړے
قاضي اووې چې سلطانه،حکم "**فه القصاص حیوٰة**[1]" دے
چې په دې قانون چلیږي، هغه ژوند لره ثبات دے
مسلمان که مریې هم وي، هیڅ کم نه دے له احراره
که ستا وینه تکه سره وي، غوره نه ده له معماره
چې قاضي د دې آیت نه، ؤ سلطان مراد خبر کړو
لاس یې واچولو لاس ته، تر لستوڼي یې بهر کړو
مدعي ورته ږغ وکړو، ټینګ یې نور نه کړلو ځان
د قرآن آیات یې اووې، چې **باالعدل والاحسان**[2]
وې چې بس دے ما بخښلې، ستا ګناه د خدای دپاره
بیا به مخ د مصطفےؐ مي، وه بخښلې شهریاره
که اخواته سلمان وه، خو مېړے ورباندې بر دے
اوس د زړهٔ په سترګو ګوره، دا قانون د پیغمبرؐ دے

---

[1] ولکم فے القصاص حیوٰة: ژباړه: او تاسو ته په قصاص کښې ژوند دے.

[2] ان الله یامرکم باالعدل والاحسان. ژباړه: الله امر کوي د عدل او احسان.

که مریږ وي که باچا وي، د قرآن په مخکښې یو دي
که وي کند او که قبا وي، د قرآن په مخکښې یو دي

## اسلامي ازادتیا او د کربلا د حادثې راز

چا چې سر په رښتیا کښېښو، پر درشله د پاک رب ج
د هغه له غاړې ووت، د بل هر یو رب جلب
مومن تن اوعشق یـې ساده، که یو نه وي بل به نه وي
هغه وړه عشق دے کړے، چې ناشوني مونږ ته څۀ دي
عقل هم دے ډېر بې رحمه، ډېر ناترسه دے سفاک دے
عقل لا څو چونګه دپاسه، ډېر چالاک بېباک او پاک دے
عقل نښتے د اسبابو، علتونو په ول- ول دے
عشق کوي تل اسپنډوسه*، میدان وړے د عمل دے
عقل اچوي دامونه، ښکار په مکر کوي مکار دے
عشق د مټو په زور خانه، رانیولے هر یو ښکار دے
عقل شک او ویره پنګه، په صندوق زړۀ منډلے
عشق یقین او عزم دواړه، په لمن پورې ګنډلے
عقل داسې آبادي کړي، چې آباد کاندي برباد
عشق هم داسې بربادي کړي، چې برباد کاندي آباد

---

*چوګاز بازي.

عقل بس د باد مثال دے، په دنیا کښې دے ارزان تل
عشق کېمیا کمه موندے شي، دې قیمت یې ځکه ګران تل
عقل ځان نښهٔ مضبوط کړے، په آرود[1] ښنګه ښو[2] دے
عشق لغړ نوکو تر سره، له لمرو[3] د ښنګه ښو دے
عقل وایي مخکښې تېر شه، وکړه بحر او په بر لوبې
عشق خو وایي امتحان دے، اول وکړه په سر لوبې
عقل دے پیدا له کسبه، آشنایي د غیر کړي ګله!
عشق خو فضل دے چې وشي، کړي کرل رېبل پخپله
عقل وایي خوشحالي کړه، په دنیا کښې ښاد آبادد شه
عشق اول وایي بنده شه، پس له هغه بیا آزاد شه

د عشق روح ته لکه پاهه، قرار دغه آزادي ده
د دهٔ اوښې ته ساروانه، په لار دغه آزادي ده
تا به دا وي اورېدلي، د میدان د جنګ او تندي
چې په عقل خواراوړدسترګې عشق وکړلې څهٔ څهٔ شیندي
هغه سر د عاشقانو، د زهرا د زړګي سر وه
آزاد سرو یې په چمن کښې، د نبي نورالبصر؁ وه
د پلار شان ته خو یې وګوره، لکه "ب" د بسم الله وه
دځوے شان یې ښومره لوے دے،د"ذبح"[4] عظیم معنا وه

---

[1] آرود، رود.
[2] ښنګه ښو، چون و چند.
[3] لمرو، لباس.
[4] وفديناه بذبح عظيم، ژباړه: او موږه یوه ډېره لویه ذبیحه د هغه په بدل کښې ورکړه.

چې دے خير د امتونو، د هغه د سترګو تور دے
چې خاتم دے د نبيانو، د هغه د اوږو سپور دے
دا چې عشق دے پر غاوره، د هغه د وينو رنګ دے
دا مصرعې ځکه خوږې دي، پکښې ياد د هغه ننګ دے
دومره پورته په امت کښې، و د دغه صاحب ځاے شته
لکه توري[1] **قل هوالله**،په کتاب کښې چې دخداي ج شته
دموسٰے ع او حسين رض يو خوا، د فرعون او يزيد بل خوا
دي هم دا دوه قوتون،ه که ژوندون شي زر او سل خوا
دحسين رض قوت او ننګ دے،چې سمسورتړې دحق باغ دے
او باطل د اميرتوب يو، د ارمان وروستنے داغ دے
خلافت چې قرآنه، رشته پرې او بيله لار کړه
حريت[2] ته يې په خوله کښې، و د زهرو ګپه ور کړه
د خير الامم جلوه وه، شوله هسکه چې رڼا شي
لکه ښۀ ډکه وريځ وي، د قبلې له مخې راشي
په بنجر د کربلا کښې، وريز و وريده لاړه
د ريدي ګلو په کر يې، کړه آبادده دا ويجاړه
نغرې د استبداد[3] يې، تر قيامته پورې سوړ کړو
خپل وينې يې لښتي کړې، ګلستان يې جوړ او موړ کړو

---

[1] حرفونه.
[2] آزادي.
[3] ظلم.

په سرو وینو تورو خاورو، و رغښتو د دین دپاره
دے بنا[1] د لاله شو، پاکه یې کړله د دین لاره
که مقصد یې په دنیا کښې، باچهي واے د زړهٔ سره
بیا بې داسې سفر نه وه، بې سامانه بې لښکره
لس او شل او زر څهٔ وایې، لکه شګې مي دښمنان وو
د دهٔ ملونه څو زاړه وو، یا نو ښځي ماشومان وو[2]
هغه راز چې ؤ تر منځه، د پلار ځوے په منا کښې
د منا هغه مجمله، شوه تفصیل په کربلا کښې
کې یې خبر په اراده شې، لکه غر غوندي ولاړ وه
کلک او دروند او توند او تېز، کامیاب چې څهٔ ته لاړ وه
توره ده د دې دپاره، چې محفوظ د دین عزت وي
چې قانون په حفاظت وي، چې ملاتړ د شریعت وي
چې مومن وي بې له خدایه (ج)، په بل ورنه کښته کېږي
که فرعون ته مخکښې ورشي، د دهٔ سپر نه کښته کېږي
د امام د وینو څاڅکو، دغه راز لکه په جار کړو
که ملت په خوب ویده ؤ، په دې رغ یې را بیدار کړو
چې د"**لا**"توره یې بمبل کړه تورې شپې شوې ورځې سپینې
د دروغو د خدایانو، شوې روانې د رګ وینې

---

[1] سردار و نه داد دست در دست سیزیل
حقا که بنائی لا اله است حسین (ع)

(خواجه معین الدین چشتي (رح))

[2] د دې شعر لفظي معنٰے به داسې وي:
دښمنان یې لکه شګې وو بې شمار قطار وو
او دوستان د دهٔ که واے د یوه الله په شمار وو

لکه وي په کاڼي کرښه، **الا الله** یې وه لیکلو
د نجات دغه سر خط مي، په صحرا یې وه لیکلو
د قرآن د رمز خبري، حسین مونږ ته کړې بربنډې
د هغه د عشق له اوره، شعلې کړلې موږه غونډې

شان د شام او د بغداد ؤ، خو نن دے تېرې خبرې
د بد به د غرناطې ؤ، خو نن دي هېرې خبرې
خو په هغه زوړ شاباز مو، تار لړ ځان دے لا تراوسه
پروت په غوږ کښې دایمان مو،زوړ اذان دے لا تراوسه
راشه اې د صبا باده! ، اې ریبار د هغه تللیو
دا د اوښکو ځولۍ یوسه، د هغو تر پاکو ځلیو

# د محمد ص ملت د توحید او رسالت په رده پروت ده، ځکه د دهٔ ځاه مکان انتها نه لري

چې له ځانه خبر نه وي، سړے څهٔ وي بند په دام کښې
موږنه قیدیوپه مقام کښې،نه شراب غوندي په جام کښې
څوک د هند دي که د چین دي، دا ټیکرے زموږ د جام دے
که د روم دي که د شام دي، زموږ خاورې د اندام دي
ولې ملک زموږ د زړونو، هند او شام او نه ختن دے
زړهٔ وطن دے د اسلام او، بس اسلام د زړهٔ وطن دے

کعب[۱] رض راغلو پیغمبر ص ته، چې یې پرېښولو عناد[۲]
ده لیکلې قصیده وه، نوم یې وه بانت سعاد
نور ستایلو د دهٔ تورې[۳]، مرغلرې کړې له نوره
پیغمبر یې و ستایلې، ښهٔ "د هند له تورو توره"
عالمونو ته رحمت وه، له آسمانه ډېر اوچت وه
خوښ یې نهٔ کړل دغه توري، د یو ملک سره نسبت وه
وې چې راته وایې، نو له تورو د خدای وایه
حق پرست یې نو کوږمه ځه،چې وینا کړې د ځاے وایه
چې رازدان دجز اوکل دے، او چې خاص دے د خاصانو
چې رانجه یې د ښو خاورې، دي د سترګو د نبیانو
دې ملت ته یې هم وېلې، چې "و ستا د دنیا زه
خوښومه خوشبویي او، هم طاقت او هم نسا زه"

---

[۱] حضرت کعب چې اسلام را وړے نه ؤ، نو رسول الله ص ته به یې ډېر تکلیف رسولو چې مکه مسلمانانو فتح کړه، نو دے طایف ته وتښتېدو، هلته یې زړهٔ واوړېدو، د نبي ص قصیده یې ولیکله، نامه یې ورته "بانت سعادة" کښېښوه" او د پیغمبر ص خوا ته راغلو، توبهٔ یې وکړه، د تیرو ګناهونو یې بخښنه وغوښته، نبي کریم ص خو د عالمینو رحمت ؤ، معاف یې کړو، او د قصیدې په انعام کښې یې خپل څادر مبارک ورکړو، په دې قصیده کښې حضرت کعب د حضور نبي کریم ص په حقله "سیف من سیوف الهند" ټکے استعمال کړے ؤ، یعني د هندوستان له تورو یوه توره، ګنې په هغه زمانه بهٔ د هندوستان توري مشهورې وې، حضور ص د کعب په دې شعر کښې اصلاح وکړه، وې چې داسې وایه چې: "سیف من سیوف الله" یعني د خدای له تورو یوه توره، مقصد دا چې پیغمبر د یو ملک سره خپل نسبت خوښ نه کړو.

[۲] دښمني.

[۳] حروف.

اوس که شوق د د معنو وي، لاره ښيونکې مل د لاري
نو په توروکښې د"ستاسو"نکته شته دے که هوشيارې
يعني دا چې په دې سرا ے کښې، هغه شمع وه روښانه
بلېده په دې دنيا کښې، ولې نه وه له دنيا نه
لا[1] په خاورو په اوبو کښې، آدم پروت ؤ چرته لرې
چې لېوالو فرښتو کړې، د هغه د نور خبرې
نور خبر له دې زهٔ نه يم، چې هغه له کوم وطن دے
دومره يمه پوهېدلے، چې په موره ډېر مين دے
داجهان يې زموږشمار کړو،که موجود ؤ هم په دا کښې
ځان يې داسې و شمارلو، لکه وي په مېلميستيا کښې
يعني دا چې مونږ روحونه، تابا[2] نونه دي ورک کړي
موږ د خاورو په کنډو کښې، خپل ځانونه دي ورک کړي
زړهٔ تړل په وطن پوري، دا ده کوزهٔ ستا له شانه
د دنيا په څنګه څو کښې، چې ورک نه شې مسلمانه!

مسلمان کله ځايږي، په لمن د يو هيواد[3] کښې
شام او روم خوشې خبرې، د هغه په زړهٔ آباد کښې
که يوزړهٔ دي کړوپه لاس کښې،نو دا دومره لوے جهان دے
پکښې ورک شي جهانونه، چې دا زړهٔ د مسلمان دے[4]

---

[1] کنت نبياً وآدم بين الماء والطين. (حديث)
ژباړه: زه پيغمبر وم چې آدمؑ لا پيدا نه ؤ.

[2] د ټوټکو يو قسم دے، لکه د مشعل بلېږي، ډېره خوږه رڼا کوي، تابان ورته وايي.

[3] وطن.

[4] لفظي ترجمه بهٔ داسې وي:
زړهٔ قابو کړه چې لوے کار دے درته کړم د زړهٔ خبره
دا دنيا د اوبو خاورو پکښې ورکه شي له سره

دا خبره خوښوه پاکه، د مسلم د قومیت بس
چې وطن شوپر ځاے پاتې، پاک نبي ص وکړو هجرت بس
په دنیا کښې خورېدونکے، یو ملت یې کړلو جوړ
کلمه یې ورته رده کړه، په حکمت یې کړلو جوړ
بخښانه د شاهنشاه وه، په دنیا شو خواره ځکه
جماعت مو شوه تندو ته، یو تر بله سره مځکه
هغه ذات چې په قرآن کښې، خداې کوي د کوم صفت
چې الله یې ژبه کړې، ده د سر د حفاظت
دښمنان یې له هیبته، غړي مړه او ساه نیولي
شان شوکت یې ډګولے، توره ډال یې غورزولي
هغه ولې وطن پرېښو، نغري وو د نیکانو؟
ګني و تښتېد له ویرې، چې وه زور د دښمنانو؟
ده رښتیا خبره بله، نه ویونکو چې ویلي
د هجرت معنے څۀ نوره، دوے پرې نه دي پوهېدلي
د هجرت خانه مسلمان ته، یو دستور د بنۀ کېدو دے
یو آئین د ژوندانۀ دے، یو سبب د شته کېدو دے
د هجرت معنا بس دا ده، لوښي لوے وه اوبۀ کمه
چې را و نغاړي سیندونه، ځکه لاړو له شبنمه
د ګلګي له خوا نه تېر شه، ستا مقصود خو ګلستان دے
ستا د ډېري لویي ګټې، سر له دغه پوټي زیان دے
لمرته نه ګورې چې خور دے،آزاد تګ که مخ په وړاندې
څۀ عزت لري اوچت دے، ده دنیا یې د پښو لاندي

د واله غوندي تل پنګه، له باران ځنې مه غواړه
داسې بحر بې پايان شه، چې نه تل وي نه دي غاړه
دا سپير مخي او تريخ بحر، چرې وه بېديا ويجاړه
شو اوبه- اوبۀ له شرمه، چې يې غوره کړله غاړه
اراده دي د تسخير وي، له دې مځکې تر آسمانه
تر هغې دي قرار نه وي، چې غېږ تاؤ کړې له جهانه
لکه بحر کښې کب اوسي، دلته هسې آباد اوسه
د مقام او ځاے له قيده، په دنيا کښې آزاد اوسه
که هر چا ته همت اووې، چې اړخونه پرېږده خيږه
هغه تاؤ لکه آسمان کړه، له شپږ واړه لوريه غېږه
د ګل بوے د ګل نه ووځي، بې پرواه له دغه کور شي
څوک يې مخه نيواے نۀ شي،په تمام چمن کښې خور شي
اې بلبله! ګل ته ناسته، څۀ له ځانه هم خبر يې
ايله ځاله په چمن کښې، دے در کړې خداى وزرې
لکه باد د صبا سپک ځه، هيڅ يو پېټے پر سر ماخله
دواړه لاسه ترې راتاؤکړه، ګلستان په غېږ کښې واخله
ځان له نوي دوره ژغوره، کټوري نه لري زانې
لارويه! هوښيار اوسه، نوې مځکه ده شخوئدانې

# وطن د ملت رده نه ده

وروروليي ده هسې پاتې، يو تر بله ځان ځانۍ دي
په وطن يې ردې ايښې، د ملت د ودانۍ دي

چې وطن یې کړله شمعه، دوے د شمعې پتنګان شول
د یو نوعي بنیادم وو، قبیلې او د ځان- ځان شول
هم یې قام دے ورګډ کړے، جهنم ته په سپور اور کښې
هم ارام د جنت ګوري، په درزخ غوندي بد کور کښې[1]
د وطن دې یوې ونې، روغ جنت له خلګو وړے
دښمني یې مېوه وکړه، داسې تریخ ؤ د دې زړے
هغه تاؤ د مېړنتوب یې، شوے خبرې نشه سور دے
هر سړے پردے- پردے دے، هر سړے د بل نه موړ دے
روح له تنه دے وتلے، ده پنجره د اندامونو
ادمتوب شو ورک اوس یاد دے، په جدا- جدا قامونو
د مذهب پر ځاے چې راغے، سیاست په نوي شان کښې
نو دا ونه زرغونه شوه، د مغرب په ګلستان کښې
د عیسیٰ د دین خبرې، شوې زړې خوشي جګړې
په ګرجوکښې شمعې مړے شوې،اسویلوغوندې لوخړې
د تیر وار غوندي تېول لاړل، د اسقف[2] نه قوتونه
مهري یې و وتې له لاسه، عبث لاړل محنتونه

---

[1] الم تر الی الذین بدلوا نعمة الله کفرا و احلوا قومهم دار البوار، جهنم یصلونها و بئس القرار،
ژباړه: اې پیغمبره! تا هغه کسان نه دي لیدلي چې د الله نعمت یې په کفر بدل کړے دے او خپل قام یې په جهنم کښې ورګډ کړے دے، چې هغه ډېر ناکاره ځاے دے.
د دې شعر لفظي ترجمه بهٔ داسې وي:
لا جنت اوس لټول کا په بئس القرار کښې خوار دوے
او دا ځکه چې احلوا قومهم دار البوار دوے
[2] لوے پادري.

د عیسیٰ امت ګرجې نه، له یو واره ورکړه لته
د دین پنګه چلیپا هم، هر څۀ وه غورزول کښته
د هریت چې ؤ مذهب ته، جامه څیر کړه تاره- تاره
دا شیطان و خپل استازې، رالیږلے دې دپاره
د فلارنس[1] باطل پرست دا، د ناحق لومې اوږدې کړې
د چا سترګې چې وې روغې، نو د دۀ رنجو ړندې کړې
چې په نوم د باچهانو، یو کتاب ده و لیکلو
نو زموږه په پټې کښې یې، د جنګ تخم و شیندلو
خپل فطرت روان په لورې، د تیارو په تیاره لاره کړو
د قلم په تېره توره یې، حق ټوکړې او تار په تار کړو
د آذر غوندې په خټه، دے بت ګروه پیدا شوے
نو ښتن د خطا فکر، بل ي بت تیار کړو نوے
مملکت[2] د دۀ په دین کښې، د معبود لکه د خدایؑ کړو
زړۀ خوخونه دیوخدایؑوه،څومره غټ بت یې ورځاے کړو
داخلاصه چې یې ښو کښې،دې معبود ته و سر کښېښو
د دنیا سود یې کړو کاږے، حق پرده لکه ذر کښېښو
د باطل تیغې یې لوے کړو، د تعلیم یې دا اثر دے
ټګي، مکر، تېریستنه، په دنیا کښې نن هنر دے

---

[1] یعني د فلارنس اوسېدونکے میکیا ولي نومیده، ده یو کتاب لیکلے ؤ، نوم یې ؤ: (کتاب الملوک) په دې کتاب کښې یې اولس دهریت او کفر ته اړولے ؤ.

[2] لفظي ترجمه یې داسې ده:

مملکت د دۀ په دین کښې د معبود په شاني ده کړو
خطائي د فکر ګوره چې ناکاره څیز یې ښۀ کړو

چې حاصل یې بدانجام وي، رده یې کښېښوه د غوچارو
مالکونډي یې وه نوستلې، د نن وخت په کوځو لارو
ده په سترګو کښې د خلګو توره شپه غوره او ښهٔ کړه
تېر او مکر او فرېب دي، مصلحت یې ده نامه کړه

## د محمدؐ ملت د زمان انتها هم نه لري،

## ځکه چې د دې شریف ملت د تلوالي وعده شوې ده

تا لیدلي په سپرلي کښې، ډېر جوشونه د بلبلو
ټوکېدنې د غوټیو، هم غوړېدني د ښو ګلو
دي په شنو جوړو کښې جوړي، غوټۍ دي لکه ناویانې
ما وې مځکه یې د خاورو، که له ستورو ډک آسمانې

شنه راښه- راښه پراته دي، د سحر اوښکو وینځلي
دي سندرو د واله ته، خوبولي- خوبولي
په ښاخونو کښې د غوټو، په مسکا چمن آباد دے
غېږه یې ده ځنې تاؤ کړې، خوښ په دې د نسیم باد دے
په چمن کښې هغه غوټه، چې مالیار و شوکوله
لکه بوے له چمن ووځي، هسې دا هم و وتله
ګوګوشتکو وکړې ځالې، جوړ یې وکړلو الوت لاړ
پرخې راغلې له آسمانه، بوے له ځایه شو اوچت لاړ
د ربدي غوندي ګلونه، که سوونه و رژیږي
د سپرلي ښایست پوره دے، په هیڅ شان و نه کمیږي

ګنج يې پس له زيانېدلو، لکه ؤ په هغه شان دے
په خندا محفل د ګلو، لکه ؤ په هغه شان دے
د سپرلي عمر ترې ډېر دے، عباسي دے که رامبېل دے
که ګلاب دے که خاتول دے، که شبو دے که چامبېل دے
را ښکاره چې د لعلونو، جواهرو چرته درنګ[1] شي
هغه چرې نه کمېږي، که يو لعل ځنې په څنګ شي
څۀ بې شماره په مخ تېر شول، سحرونه ماښامونه
ځي د وخت له خم نه لاړل، ډېر د ورځو شپو جامونه
څومره-څومره شراب ګوټ شول،خولاپاتې دي صهبا[2] شته
پرونۍ ورځې شوې تېرې، څومره څومره صبا لا شته
هم دا هسې ډېر سرونه، را پيدا فنا شي شخړې
تر هغو د امتونو، ډېر وي مضبوطې جرړې
مسافر پر لاره درومي، او صحبت وينه قايم دے
فرد په شان د لاروي دے، او امت وينه قايم دے
ذات صفات سره د دواړو، يو تر بل دي لري- لري
طريقې د مرګ او ژوند هم، يو په سل دي لري- لري
فرد د موتي تورې خاورې، ګوډاګے غوندي وي راشي
قام زرغون له هغه زړۀ شي، چې له نوره ډک پيدا شي
فرد شپيته اويا ته رسي، نو بس تپ شي او لا دپ شي
او د قام په ژوندانۀ کښې، صدۍ هم د سترګو رپ شي

---

(۱) کان

(۲) شراب.

ساه او تن سره يو ځاے شي، د فرد ژوند له دغه تاره
حفاظت دزوړ ناموس کړي، د قام ژوند وي له دې کاره
چې اوربشه يې شي تمامه،مرګ‌دفرددمېلمه وي راشي
مرګ دقام پيدا له دې شي، چې مقصد د ژوند خطا شي
منم څنګه چې يو تن مري،په خپل وخت هسې ملت مري
غاړه يې ايښې ده اجل ته، لکه فرد چې يو کرت مري
دا امت د مسلمان دے، د خداى نخښه ده نېک بخته
د دۀ اصل دے راغلے، د "**قالوا بله**[1]" له وخته
له اجل نه بې پروا دے، دا قام داسې کلک پيدا دے
لکه غر ولاړ مضبوط ښه، دے له "نحن نزلنا[2] " دے
حفاظت ته د قرآن يې، دا امت دے پيدا کړے
د قرآن له مداموالي، مدام والي يې دے را کړے[3]
**يطفئوا**[4] يې زله ويلي، چې بۀ دا ډيوه وي بله
که کفارو خوښوله، او که نه يې خوښوله
دا امت چې دے بې ساري، حق منلو کښې کامل دے
پر د خداى دوستان مين دے، ورکوونکے د باطل دے

---

[1] ولکل امة اجل، ژباړه: د ټولو امتو دپاره اجل شته.

[2] انا نحن نزلنا الذکر و انا له لحٰفظون، ژباړه: قرآن مونږ نازل کړے دے او هم مونږ به يې حفاظت کوو.

[3] د دې شعر لفظي ترجمه به داسې وي:

واوره ذکر يې قايم کړو، د ذاکر له پو نه قيامه
مداموالے د ذاکر شو د دې ذکر له دوامه

[4] يريدون ان يطفئوا نور الله بافواههم والله متم نوره ولوکره الکٰفرون، ژباړه: کفار د خداى د نور ډيوه مړه کول غواړي، خو خداى د دې نور مکمل کونکے دے، هر څو که شې کفا مخالفت کوي هم.

د خلیل د نرغونیو، ارمانونو له نیامه[1]
خدای را وکښله دا توره، دي برېښونه یې ناتمامه
چې باطل خاورې ایرې کړي، د دې تورې تندرونه
چې ژوندے کړي رښتیا والے، د دې آب سمندرونه
مورِ هغه چې په یووالي، د یو خدای باندې دلیل یو
د قرآن په حفاظت کښې، په مثال د تېغ اصیل یو
د آسمان چارو ته ګوره، کړو په جنګ یې ناقراره
ده په تخر کښې پټه غوندي، فتنه راوړه له تا تاره[2]
دا فتنه چې ې کړه جوړه، ننداره یې ده کوله
په دې یې موږه ازمېیلو، دا یې په موږه ازمېیله
دا فتنه وه چې لتاړ کړل، د پښو لاندې جنتونه
د نظر د تورې برېښ یې، څنګه جوړ کړل قیامتونه
دې راوړے ؤپه غېږ کښې، ډېر دردونه غم او شور نور
د پرون نه یې نن بد تر ؤ، چې به ډېر ؤ پکښې اور نور
دبدبه د مسلمان یې، کړه له خاورو سره خاوره
روما هم لیدلي نه وے، د بغداد خبرې واوره
ولې راشه له آسمانه، کوږ روانه تپوس وکړه
له ښۀ جور او زوړ غاوره، سرګردانه تپوس وکړه
هغه اور د تاتاریانو، اوس د چا ښکلے ګلزار دے
سرې لمبې چې وې ختلې، نواوس ګل د کوم دستار دے

---

(۱) تیکي.

(۲) د چنګیز فتنه.

موږ له ځایه ؤ راوړے، دا فطرت د ابراهیم[ع] دے
هم د خدای[ج] سره تړون مي، له نسبت د ابراهیم[ع] دے
موږ د لوے انکار په منځ کښې، د ګلونو انبار جوړ کړو
موږ د هر نمرود له اوره، د سرو ګلو ګلزار جوړ کړو
د دنیا انقلابونه، سرې لمبې په غرهار شي
چې زموږ په کښته راشي، د خوړو وړمو بهار شي
د رومیانو بازار تود ؤ، د تاوونو وار یې تېر شو
د دنیا د خپلولو، د غارونو وار یې تېر شو

د ساسان ښیښه شوه ماته، په سرو وینو کښې لتاړه
د یونان د شراب خونې، د رونق خبره لاړه
هم د مصر ککرۍ کړې، امتحان د مځکې زړے
د هډونو پنجرې شولې، د اهرام د لاندې سترے
په جهان کښې جوړه، چغه د اذان وه ده او وي به
د مسلم د ملت سیوره، د نشان وه ده او وي به
دې څلور کونجه دنیا ته، عشق آئین دے د حیات
دغه عشق دے یو کوونکے، د دنیا دا سالمات*
دي زموږ دزړۀ سوزوته،عشق له دې سوزه ژوندے دے
دے د "**لا اله**" په سر کښې، عشق له دغه ځلندے دے
که غوټۍ غوندي دلګیر یو، کور د هر زړۀ د ارمان وي
خدای[ج] دي نه کړي که موږنه یو، بس ویجاړ به ګلستان وي

* سالمات" یعني ترکیبي اجزاء چې د کومو جزونو ځنې جوړ شوے وي.

# بې له قانونه د هيڅ يو ملت نظام نه جوړيږي

# او د محمدص د ملت قانون قران ده

آئين ځکه د ملت ده، که تر لاسه و وتله
خاورې والوتې په باد کښې، سره و شلېدل و بله
مسلمان که دے شته شوے، دا ژوندون يې له آئين دے
سل خبري به وي نوري، خو دا سر زموږ د دين دے
په قانون شوې پاڼې غوندي، ګل چنه څۀ ښايسته شوه
د آئين سنبل تر تاؤ شول، نو ګلونه ګلدسته شوه
د خولې ږغ چې په قانون شي، ډېره ښۀ نغمه پيدا شي
هغه ږغ چې بې قاعدې وي،بيا نوبس خوشې غوغاشي

ساه زموږه په مرۍ کښې، ده چپه غوندي د باد
بادچې بندشو په شپېلۍ کښې، شو محفل يې په ږغ ښاد
خبر يـې چې آئين څۀ وي، څۀ کړه داسې دبدبه ستا؟
داکوم رازدے په دنيا کښې، چې شوه پورته مرتبه ستا؟
دا هغه ژوندے قرآن دے، چې حکيم او بې مثال دے
چې حکمت يې هم قديم دے، هم بې شکه بې زوال دے
يوه پټه خزانه ده، د رازونو د حيات
له قوته يې کچه پوخ شي، بې ثبات مومي ثبات

نه يې ټکے کښي چې شک[۱] شته، نه يې بدل د مرغلرې
نه يې شته د اياتونو، په خبرو[۲] کښې خبرې
د دهٔ زور د خولې خبره، کړي په کاڼي باندې کربښه
کډولې د دهٔ له زوره، کاڼے مات کړي لکه پرخه
بند په بند بنده بندي کړي، پس له هغه يې آزاد کړي
د ښکاريانو په نصيب کښې، ژړاګانې او فرياد کړي
د انسان نوعي ته راغلو، دا پيغام چې آخرين دے
د راوړونکي شان يې ګوره، چې رحمت د عالمين دے
چې هيڅ قدر دچا نه وي، په عالمو کښې يې ګران کړي
چې په مځکه خدایج ته پرېوزي هغه سربره آسمان کړي
لار وهونکي رهبران شول، دا د دهٔ په حفاظت شول
په تعليم د يو کتاب دوے، صاحبان د عدالت شول
بېدياګانې کچ کوونکي، په رڼا د دې څراغ کښې
رڼاګانې د علمونو، هر يو راوړي په دماغ کښې
داسې پېټې[۳] چې نه مځکې، آسمانونو کړلو پورته
او نه يې لوړو دنګو غرونو، کښېښو تن دبدبې زور ته

---

[۱] ذالک الکتاب لاريب فيه، (سورة بقره)
ژباړه: دا کتاب چې دے نشته هيڅ شک په ده کښې، چې د طرفه د الله تعالىٰ نازل شوے دے

[۲] لا تبديل لکلمٰت الله، ژباړه: د الله تعالىٰ په خبرو کښې هيڅ فرق نه وي.

[۳] انا عرضنالامانة علىٰ السمٰوٰت والارض، ژباړه: او بېشکه مونږ دا امانت (بار) زمکي او اسمانو ته پېښ کړو.

سرمايه د اميدونو، ځاے کړه مځکې نه آسمانو
ښنګه ځاے کړه په سينو کښې، دا زموږه ماشومانو
د سور اور غوندي تاؤ ژني، هغه څۀ وچې ميرې وې
چې د لمر په تاؤ يې سترګې، لکه وينې تکې سرې وې
د هوسۍ تړپے ورځار شه، هسې يې وه زغلا د اوښې
تاؤ په دم او اور په پښو کښې، د هغې بېديا د اوښې
خوب پر مځکه په سر پورته، د کجورو پرنګے سيورے
تل د کډو لېږدولو، وه نښه د کاروان ستورے
سر په ورانو په ويجاړو، تل کالي کډې به ولي
بې مقصده ګرځېدلي، نه يې کورونه نه يې کلي
د قرآن ګرمۍ تاوده کړل، زړونه يې کړل د دوے بکرې
د ختلي سيند موجونه، شوې قرارې مرغلرې
له کتابه يې سبق و لوست، هله ورغلل تر ځايه
بندګان کوڅې ته راغلل، باچهان لاړل له خدايه[ج]
الله[ج] دومره ډېر څۀ ورکړل، چې شاهۍ يې و بخښلې
هم ګدۍ د جمشېدانو، د دوے پښو کښې پرېوتلې
د پښو دوړو يې آباد کړل، ډېر ښارونه وطنونه
د هغو له يوه ګله، پورته شول سل چمنونه
اې هغو چې را حصار مو، په رسمونو کښې ايمان دے
اې هغو چې لار او چار مو، کفر تاسو ته زندان دے

دین[1] مو کړلئ برخې برخې، شوئ ټولی- ټولۍ ویزاره
د "**الله**[2] **شيئ نکرا**"، نن ده نیولې تاسو لاره
اې وګړیه که غواړې، چې د ته مسلمان ژوے
څۀ امکان یې هډو نشته، چې به بې له قرآن ژوے
صوفي ډوب په پشمینو کښې، چې په حال کښې وي بدحال مست
ځان تر ورک وي په نشه کښې، په سندرو د قوال مست
عراقي د شعر اور یې، د زړۀ خونه سوې یوړه
د دې خوارو محفلونو، او قرآن نه راځي جوړه
دي ټغري قالینونه، که تاجونه او رنګونه
د دۀ فقر درویغژني، ټولوي ترې قلنګونه
یو خلوه ور د قصوباتو دے، مکرجن رغړوي ګټې
وړه خوله لویې خبرې، معنا هیڅ جملې یې غټې
د خطیب[3] او دیلمي نه، دے کوي تل وینا ګانې
د مرسل ضعیف او شاز نه، دے کوي سل ویناګانې
له قرآنه تلاوت کړه، ځاے لري پسې وردرومه
که پر دغه لار روان شې، څۀ چې غواړې هغه مومه

---

[1] فتقطعوا امرهم بینهم زبراً، ژباړه: دوے تر خپل منځ دین ټوټه ټوټه کړو

[2] یوم یدع الداع الیٰ شيء نکر، ژباړه: په هغه ورځ به بلونکے ؤ، بلے د هغه سخت ناګوار څیز په لور یعني دوزخ.

[3] خطیب او شاز د محدیثونو نامې دي، مرسل، ضعیف او شاز د حدیثونو قسمونه دے.

# د پرېوتلو په وخت کښې د اجتهاد[1]

## ځنې تقلید[2] ډېر ښۀ ده

موجوده زمانه بده، د فساد فتنو پرې ده
بې پروا طبعه یې ګوره، افت ګره خونړې ده
د زړو قامونو غونډه، ده د دې تر لاسه ورانه
ګوره ونه د ژوندون یې، وچه کړسه له خزانه
د دې پرق خطا کړو داسي، بې خبر له ځان او کاره
زمورېسازیې داسې سست کړو،ږغ یې نه خیزي له تاره
دے زمورِ له زړونو یوړو، هغه تاؤ او هغه اور زوړ
روښانتیا د **لا ا له** او، هم یې یوړو د زړۀ زور زوړ

ژوند چې هرکله کوته شي، قوت مات شي بې ثبات شي
نو ملت هله ټینګیږي، په زړۀ لاره چې مات شي
د نیکونو لاره واخله، چې په دې کښې غونډېدل دي
د تقلید معنا تنظیم دے، د ملت را پنډېدل دي
د خزان لغړې ښانګې، چې نه پاڼې نه د بار شته
چې له ونې بې له نشې، په خزان پسې بهار شته
سمندروې ځان دي وچ کړوغلے مه شې خوره دزیان غم
که وړوکے جرِ خوړکے یې، ویده نه شې کړه د ځان غم

(۱) کوشش کول.
(۲) بل پسې تلل.

ګني بیا د لوړو غرونو، چلې راشي سمندر شي
ګني بیا د طوفانو یو، قلزم په غوره هر شي
که د زړهٔ سترګې لرې ته، دي صحي روايتونه
له احوال د اسرائیلو[1]، ځنې واخله عبرتونه
څنګه تریخ د هغو ژوند ؤ، دي تودې سرې پر تېرې
شواخون د هغو ګوره، تیرېدې پرې سختې ډېرې
وینه شوه د هغو موره، نه یې پله نه رګ ژوندے ؤ
که درشلې وې سوونه، د دوے یکي یو تندے ؤ
د آسمان خبر که هر څو، و نښتېزل[2] لکه د کور دوے
د موسیٰ هارون یادګار وه، فنانه کړل هیڅ ضرر دوے
آتشین رغ یې بې سوزه، زېر نه بم وه پکښې پاتې
خو ختلي ترسا نه وه، لا څهٔ دم وه پکښې پاتې
جمعیت ددوے چې خورشو،او په خپلو کښې تارتار شول
چې پر تللي مشر بر ؤ، دوے روان پر هغه لار شول
زړهٔ غونډه د خوره شوه، اې چې ستا خوبي د بل شوه
ستاسینه کښې چې روښانه،د ژوندون ډیوه وه ګل شوه
زړهٔ تختیِ دي ښهٔ کړه پاکه، معنا لیک پرې د توحید کړه
که تدبیر کوې د چارې، تګ پر لاره د تقلید کړه
په دوران د پرېوتو کښې، اجتهاد دے له تاوانه
بس بساط د قام و نغاړي، ورکوي یې له جهانه

---

(١) یهودیان.

(٢) نچوړول.

عالمان چې کم نظر وي، د هغو له اجتهاده
پخوانو پسې هم غوره، هم محفوظه اقتداده
ستا د پلار نيکونو عقل، هوس نه وه سولولے
چري کار د پاکو خلکو، په عرض نه وي لړلے
د پاکانو فکر وريشي، ډېر بې شانه نرې ثار
د هغو پاکوالے بوزي، هغوے خوا ته د سردار
نه دے پاتې د جعفرؓ شوق، د رازيؒ کتني څۀ شوې؟
د عرب ملت آبرو او ښې، خوبۍ وي پاتې نه شوې
شوه په موږه باندې تنګه، د پاک دين باچهي لار نن
هرحريص د دين رازدار شو، کړې کرښې کاږي مار نن
اې چې لرې شوئ له دين نه، ناخبر د دين په کار يي
ټول په يوقانون راغونډشئ، دغه راز دے که هشيار يې
د ژوندون په نبض پوهه، حکيم راکړل ګل او قند
چې تر منځه اختلاف، مې ده بياتي* د خواږه ژوند
په يووالي کښې عزت دے، هم دي ژوند دے مسلمانه!
له يووالي جوړ ملت دے، هم ژوندون دے له قرآنه
موږه څۀ يو توري خاورې، او هغه خو زړۀ آګاه دے
لاس ور واچوۍ په ګډه، چې هم دغه حبل الله دے
د هغه د لاړ ګوهر شه، وزۀ مه له دغه تاره
ګني څه په باد کښې خور شه، د بېديا عبث غباره

---

* قېنچي.

# د ملت د سیرت پوخواله د خدای(ج) د قانون په منلو کېږي

شریعت کښې بله- بله، معنا مه غواړه خطا ده
مرغلره کښې نور څۀ وي، ټوله بس رڼا- رڼا ده
خدای(ج) پخپله جوړه کړې، پکښې نشته هیڅ خبره
هم بهر ده مرغلره، هم دننه مرغلره
غلط مه شې نور څۀ نه دي، رښتیا علم شریعت دے
د سنت اصل که ګورې، نور څۀ نه دي محبت دے
د مېړه دپاره شرعه، بې مثاله سرمایه ده
مقامونه یې ډېر لوړ کړي، د یقین اندر پایه ده
او هم دا د خدای قانون دے، چې ملت ترې نظام مومي
د نظام له مضبوطوالي، خوشحالي او دوام مومي
دي په علم کښې د شرعي، بې مثاله طاقتونه
که روڼ لاس دے که امصا ده، یا که نور دي قوتونه
تا ته وایمه که واورې، چې دے راز د اسلام شرعه
هم انجام د اسلام شرعه، هم آغاز د اسلام شرعه
اې چې ته امانتګر یې، د پاک دین د لوے حکمت
دا د زړۀ په غوږو واوره، ده نکته د شریعت

مسلمان چې کړي څۀ چاره، که دا وي له مستحبه[1]
ځوک د دۀ کړي بنده لاره، هيڅ بې هيڅۀ بې سببه
مستحب وه ګڼي فرض، وه تړي د فرضو نيت
په هيڅ شان نه په شا کيږي، ژوندون وګڼي قدرت
که په ورځو کښې د جنګ بيا، د دښمن لښکر ونه شي
تر منځ دا ګومان پيدا شي، چې به روغه ګني وۀ شي

تورې و منډې په تيکو، ګرانې کړي په ځان آساني
له يوه سره تهول وران کړي، پناه ځاے او قلعه ګانې
څو بيا نه وي سنبال شوي، څو لښکر يې بې نظام وي
ورختل تر هغه وخته، د دښمن په ملک حرام وي
څۀ په راز يې پوهېدلے، دا فرمان چې د کتاب دے
ژوندچې ډک له خطرو وي،هغه ژوندپه ژوند حساب دے
شرعه غواړي که ورګډ شي،په يوتودميدان دجنګ کښې
دلمبې غوندي تاويږي، کاڼي دل کړه په غورځنګ کښې
ستا د مټو زور پرې ګوري، غر دي ودروي په وړاندې
اې چې ځان ته مين وايې، يو ازمېښت کوي درباندې
درته وايي چې هن غر دے، دا رانجه کړه که باتورې
شابه ويلي کړه دا ګټې، په ګرمۍ د خپلې تورې

---

[1] چې په کولو کښې يې ثواب وي، په نه کولو کښې يې هيڅ ګناه نه وي، يا دا چې فرض د خداى حکم دے، سنت د رسول الله طريقه ده او مستحب د اصحابو طريقه ده.

جوړ له جوړه سره ښايي، څۀ ناتوانه خواره مېښه
د هغه ساري خو نه ده، که په شنه زمري شي پېښه
په چرچڼو چې شي روږدې، هغه باز ووځي له کاره
د منګل د ناستې نۀ شي، خوار زبون شي له دې ښکاره
نو صاحب د نيغې لارې، د ښۀ بد نه خبر داره
د قدرت دغه نسخه يې، و ليکله ستا دپاره
له عمله يې ستا په تن کښې، پلې د اوسپنې کولې
څنګه يــې ته په دې جهان کښې،په درانۀ ځاے کښېنولې
کمزورتيا نه لري باسي، مضبوطوالے ډېر وي ستا
له اوچتو دنګو غرونو، هم کلکوالے تېر وي ستا
هرڅۀ دين دمصطفٰے[ص] دے، يو قانون د ښۀ ژوندون دے
شرعه سمه پاکه لار ده، تفسير شوې د قانون دے
ته که پروت يې لکه مځکه، وړي دي پورته له آسمانه
خداى[ج]چې څو رنګې تاغواړي،جوړوي هغه له ستا نه
د هغه صيقل کړي جوړه، له تبې رڼه هينداره[1]
هم له اوسپنې زړۀ زنګ وړے، دي دا هر څۀ ستا دپاره

د نبي[ص] شعار دولت دے، چې دولت له لاسه لاړو
بس يو رمز د بقا ؤ، د امت له لاسه لاړو
هغه هسکې څوکې بوټي، ځنې ولاړ د مونږ په زور
صحراګانې کچ کوونکے، مسلمان د اوښې سپور

---

[1] آئينه.

چې تر څو يې قدم ايښے، پاکه مځکه د بطحا کښې
پائيد لوغوړېدلو، په تاوونو د صحرا کښې
خواوس داسې خواروزار دے، چې بهر شو له هيواده[1]
د سپېلني غوندي په وير دے، د عجم له ساړه باده
دا هغه چې ماتول به يې، شنه زمري لکه بزې خوارې
اوس په پښو کښې دمېږي هم، له دردونو کړي کوکارې
دا هغه چې په تکبير به يې، شنه او کلک کاڼي اوبۀ شول
د لمبلو په تارو اوس دوے، د ويرې لکه مړه شول
دا هغه چې ارادو يې، غرونه ؤ په خل شمارلي
اوس که لاس اوپښې يې روغ دي په توکل يې دي سپارلي
دا هغه چې به يې دښمن ته، د څټ وجې ماتولې
په ضربونو[2] د سينې يې، اوس د زړۀ تاندي و شلولې
داهغه چې په هر ګام کښې،يې جوړې څومره هنګامې کړې
ګوتګې کښې به يې پښې کړې،غوندي اوس يې هيري دا نامې کړې
دا هغه چې له فرمانه يې، دې دنيا ورځ و موندله
سکندر ؤ که دارا ؤ، ولاړ دوے ته په درشله
کوششونه يې څومره ډېر وو، خو دوے صبر ؤ په لړه
تر دې حده صبرناک ؤ، وياړ[3] کولو دوے په لوړه

---

(۱) وطن.

(۲) دا د موجود غلط تصوف خبري دي، چې شاګرد ته استاد څۀ وظيفه لا طريقه وښيي، هغه په يو خاص طريقه په پټه کوټګي کښې وايي، له سينې او زړۀ يو خاص آواز را وباسي.

(۳) فخر.

شېخ احمد یو ښهٔ سړے، ؤ نازولے د دین توره
چې به لمر رڼا غوښتله، د هغه د زړهٔ له نوره
په پاک ځلي یې غوړېدلي، رنګارنګ ګلونه ښایي
چې له خاورې یې ګل ټوکیږي، لا ا له په ژبه وایي
هغه اووې خپل مرید ته، چې غوږ ونیسه اې ځویه
د عجمو له خیالونو، لرې- لرې تېښته بویه
که د فکر په زانګو کښې، له آسمان ځنې بر لاړل
د نبيؐ د دین له حده، اې بچیه! بهر لاړل
دا د زړهٔ په غوږو واوره، نصیحت د هغه ځوان دے
نازولے چې د خدا ےج ؤ، له ملت د هغه ځوان دے
په زړهٔ واچوه دا حقه، چې ښهٔ کړونے پهلوان شې
په عرب پورې نښې شه، چې رښتونے مسلمان شې

# د ملت سیرت د محمدؐ د ادابو په اخستو ښایسته کیږي

یو فقیر نارې وهلې، کوځهٔ یې وه پر سر اخستې
د قضا غوند نه تلونکے، وه یې ذمه د ور اخستې
سوخت شوم ماپر کوتک کښېښېو، شو په ویر ږغونه یې لوے شول
ګوډے یې د مشلیدو د تخر نه، څهٔ چې ؤ هغه ترې توے شول

د ځوانی په سر کښې عقل، د بې سول یاد ویده وي
لېونۍ کله پوهیږي، چې بد څۀ وي او ښۀ څۀ وي
په دې کار مې پلار خفه شو، ما کتل حال یې بدل شو
که یـې مخ تازۀ تک سور ؤ، د رېدي یو مړاوۍ ګل شو
په سینه کښې زړۀ لړزان شو، هم یې ینه دړې- دړې
اسویلي یې له خولې لاړول، په صورت د شنې لوخړې
سترګې شوې د دۀ را ډکې، پکښې اوښکې ستورې- ستوري
پر ښېو وځلېدلې، توې شوې پرخه لکه ووري
دهغه مارغه په حال شوم، چې په ځاله کښې لړزان وي
چې چیچل کوي بادونه، او موسم پرې د خزان وي
پوه په خپله ناپوهې شوم، تا به وې چې مې سا لاړه
کجاوه شوه تشه پاتې، او د صبر لیلا لاړه
راتې اووې چې اې زویه، صبا ورځ چې د قیامت شي
هغه دوست د خدای ج ولاړ وي،اوراجمع ټول امت شي
ایسته ډله وي ولاړه، په ملت کښې د غازیانو
ایسته ډله وي ولاړه، د قرآن د حافظانو
شهیدان بۀ هم ولاړ وي، د دین ستنې په یو لوري
په آسمان کښې د ملت دوۍ، ځلېدونکي لکه ستوري
زاهدان به هم ولاړ وي، عاشقان بۀ هم ولاړ وي
ګناهګار به هم رپیږي، عالمان بۀ هم ولاړ وي
چې په دغه حشرګاه کښې، دا فقیر کړي چیغه پورته
په ژړا په چغو سر شي، ګته نیسي زما لور ته

بې سورلۍ د صراط ګران دے، اې زړګیه اې ناپویه
پیغمبر که ما ته مخ کړي، زۀ به څۀ وایم اې زویه
که وا وایي چې "خدای تاته، مسلمان زوے ؤ سپارلے
او زما له مدرسې غه، تش لاسونه دے وتلے
ستا په سر دغه یو کار ؤ، هغه سم قدر هم نه شو
چې یو ختې د تور خاورو، بنیادم قدر هم نه شو"
د کریم نبي ص له خولې چې، پا غوندي د ملامت وي
یو خوا دا شرم او ویره، بل خوا طمع د رحمت وي
وې د فکر پر آس سپور شه، اې بچیه! ورکړه منده
د خیر البشر ص په مخکښې، یاده کړه د امت غونده
چې په سپینه ږیره هلته، په بدحال یم د زړۀ سره
په رپا دګا ولاړ یم، هم امید او هم مي ویره
دومره زیاته نه ښاییږي، چې زوے کاندي په پلار هسي
مابنده د خدای ج په وړاندې، مه ور استوه خوار هسي
زویه ته لکه غوټۍ یې، د نبي ص د بڼ آزاده
ښه و غوړېږه لکه ګل شه، د هغه د سپرلي باده
ګله! رنګ و بوے ته دواړه، له بهار د حبیب ص واخله
د اخلاقو د قلزم نه، څو چې کیږي نصیب واخله
پیرد روم چې په قطره کښې یې، اباسین پروت دے قرار
څنګه ښۀ یې دے ویلي، مرغلرې یې دي ګفتار
"خپل ژوندون مه لرې باسه، د نبیانو له سروره
تکیه کمه په خپل ګام کړه، مه یې ګڼه له خپل هنره

مسلمان ځاے شفقت دے، سر تر نوکو محبت دے
په دنیا کښې بې ضرره، لاس و ژبه یې رحمت دے
چې سپوږمۍ پرسرد ګوتې، لوے رحمت کړله دوه ځایه
شاباش او اخلاق یې دومره،لوړ دي چې ستایلي دي له خدایهج
د هغه د لوړ مقامه، که شلېدلے اوسې لرې
ته زموږ له غونډې نه یې، پکښې نشته څۀ خبرې
او که نه زموږ سکه یې، یوه وینه یو مو رګ وي
یو مارغه د دې چمن یې، یوه ژبه یو مو ږغ وي
نورا ګډ شه په بوستان کښې، جدا مه اوسه بې ځایه
یوه څانګه باندې کښېنه، په شریکه نغمه وایه
د دنیا داهر څه- هر څه، چې حساب دي په ژوندو کښې
لکه مري اوږه اوبو کښې، داسې هر څۀ په پړدو کښې
سندر غاړیه بلبله، ږغ بلبلو سره یو کړه
په چمن کښې سیل ته ګوره، نو الوت په هغه رو کړه
په اوبو کښې ایلۍ ژوي، ولې لاندې د دریاب یې؟
ستا ژوندون خو هلته ښایي، څه صحرا ته که عقاب یې
او که ستورے یې ځلیږه، رڼا کړه له خپل آسمانه
ښه هیچرې مه وباسه، ته د خپلې خوا او شا نه
که یو څاڅکے اوبۀ یوسې، له نیسانه اې مینه
په فضا د ګلستان کښې، هغه وه ساتې دننه
دې دپاره چې د پرخې، غونډي دے د ګل والۍ شي
یا یـې ځاے لکه وړوکے، د غوټۍ تنګه ځولۍ شي

بیا غه تار د پلوشو چې، یې تل سحر له نوره غړي
له اثره یې په دې مځکه، بوټي- بوټي غوټۍ سپړي
د دې ځاځکي له جوهر که، پر عنصر د نم و زېبښتې
له جزونو نا قرارو یې، یوسې خوند د ټکو تېښتې
شو د خړو اوبو ځاځکي، ستا امید د مرغلرې
د خوارۍ نه دي ځارېږم، خو سراب دے هغه لرې

ځاځکي واچوه دریاب ته، چې ګوهر درته تابان شي
په رڼا وځلېدلو، لکه ستورے د آسمان شي
د نیسان هر هغه ځاځکے، چې بهر دے له دریابه
لکه غوټه ده د پرخې، په خس خل پرته بې آبه
پاک سرشت د مسلمان هم، په مثال د یو ګوهر دے
دا رڼا ځلا او برېښ یې، د نبي ص له سمندر دے
ته که ځاځکے د نیسان یې، د نبي ص غولۍ ته ورشه
د هغه په سمندر کښې، ځلېدلے یو ګوهر شه
لمر که روڼ دے په دنیا کښې، ته تر یو په سل رڼا شه
هغه وي او کله نه وي، ته ځښتن د تل رڼا شه

# د هر ملت ژوندمحسوس مرکز غواړي او د اسلام ملت مرکزیت "الحرام" ده

راشه- راشه چې دي پوه کړم، زهٔ په اړ د ژوندانهٔ نن
ټول رازونه درته سپړم، لکه لړ د ژوندانهٔ نن
لکه خیال چې بې تیکاؤ دے، هسې ژوند په خپله تښتي
د یو اړخ د یو لور نه، ساتي خپله لمن نغښتې
دے حصار ؤ توند جهان ته، آخر راغلو ژوندون څنګه؟
او د دهٔ د وخت نه زیږي، صبا څنګه پرون څنګه؟
اول وګوره خپل ځان ته، که د سترګې وي ځیګره
ته یې پرله پسې تېښته، اې له ځانه بې خبره
تر پټ ځان ښکاره کولو، دا لا نه اخلي اور لړونے
سره لمبه د ژوند وي پټه، خپل لوګے کړي تر پړونے
چې تر څو د دهٔ دا تېښته، یو سکون دے تر نظره
جوش د دهٔ د سیند دے موره، چې لیدے شي مرغلره
ژوندچې ساه په بره راکښه،په سینه کښې اورخوندي شو
دا په څانګو کښې نه وینې؟، هغه اور دے خوریدي شو
اې د شل فکر څښتنه، چې پوه یې په لمر او سیوري
چې درنګ الوت ته ګل وایې، تاخو تور کړلو ور پوري
ژوند د جالي مرغۍ نه دے، او نه جاله جوړول کړي
لکه رنګ دے د نکریځې، بل څهٔ نه کړي الوتل کړي

هم حصار دے هم آزاد دے،که هرڅو دے په پنجره کښې
ورسره هم په فریاد دے، که یې خوند شته په ناره کښې
په څانګونو الوت وينزي، هر دم نه چې کله- کله
خپلو کړوته څۀ چل ګوري، وې دا چا؟ وې چې په خپله
پکښې واچوي اړکے، کار په خپله ځان ته ګران کړي
او بیا پرانځي دې غوټې، هغه ګران په ځان آسان کړي
پښې په خاورو کښې کړي ښخې،د تونډژوند تونډي ګڼه شي
دا ده پاره د دې کړي چې، د تنګ شوق یې دوه دونه شي
دسازونو يو جهان پروت، د ژوندون د سوز تر خوا دے
هم د دۀ د نن نه زیږي، که پرون ؤ که صبا دے
دم په دم دي ګرانوونکې، ګران په آسانه تېرونکې
نوي- نوي لومې کاندي، نوي چارې ډېروونکې
په هرخوا کړي منډې ترنډې لکه بوے دے لاړشي راشي
چې مېشته شي په سینه کښې، دغه ژوندے نوم یـې ساه شي
خپل یـې ځان خپل یـې تارونه، په خپل ځان باند و دل کا
پلوشه شي غوړېشه شي، ځان ته غوټې اچول کا
د يو زړې غوندي دے هم، مېوه پاڼې لري ننه
چې و ځان ته کتل وکړي، نو شي دنګه ګوره ونه
دے په خاورو په اوبو کښې، عزت څومره څۀ پیدا کړي
لاس او پښې د تماشو هم، پکښې سترګې زړۀ پیدا کړي
د دې تن په کوټګی کښې، چې دننه خوښ شي ژوند
نو دے روغي- روغي غونډې، را پیدا کاندي د خوند

چې ژوندون په دې دستورشي يومرکزته وکړي غونډه
امتونه ترې جوړيږي، دا اوږده او هم ده لنډه
د پرکار ګېږه که تن دے، نو مرکز يې لکه ساه ده
که يې نقطه په منځ کښې نه وي،بيا د دۀ کرښه خطا ده

که نظام که يو کېدل دي، قام يې مومي له مرکزه
که تول عمر پائيدل دي، قام يې مومي له مرکزه
چې زموږه ده رازداره، هم مو راز هغه کعبه ده
چې زموږ دپاره سوز دے، او هم ساز هغه کعبه ده
په سينه[١] کښې يې مونږ پاللي، خپل روحونه هغه دا ده
موږه تول لکه يو تن يو، دا په مونږ کښې خوږه ساه ده
که مو باغ تازۀ لېدے شي، له شبنمه د کعبې دے
اوبۀ خور مو په پټې کښې، له زمزمه د کعبې دے
د هغې داسې ذرې دي، لمر ترې مومي رڼا ګانې
لمر مدام پکښې غوپې خوري، د نور سيند يې فضاګانې
که دعوه ده هغې کړې، نو دا موږه پرې دليل يو
هسې پرله پسې راغلو، له دليلو د خليل[ع] يو
شهرت چغه زموږ پورته، په جهان کښې دې حريم کړه
موږ حادث[٢] يې کړو يو مزے، شېرازه يې پر د قديم کړه

---

(١) داسې هم کېدے شي، خو په –
يو شعر کښې ملت او کعبې دواړو ته روح ويل د اقبال د مقام ځني کوزه خبره ده:
لکه روح يو دے پاللے په سينه کښې پر مين موږ
دا زموږه ساه ده او په مثل د يو تن موږ
(٢) پيدا کړے شوے. مخلوق. خدای پاک چې نه چا پيدا کړے نه تر څوک پيدا دي.

ټول په يو زړهٔ ځنې چورلي، د ملت د زړګي سر دے
دا ملت لکه سحر دے، د پنجرې مرغۍ يې لمر دے
په حساب د هغې موږه، له يووالي ځنې ډېر يو
خودموځکه داسې پوخ دے، چې يووالي کښې را ګېر يو
د دې کور سره تړليه، که ژوندے يې دا يې ځکه
چې له دغه خونې چورلې، مضبوط هسې پا يې ځکه
د دنيا د امتونو، لکه ساه ګڼه يووالے
په حرم کښې که پټ راز دے، نو بس دا ګڼه يووالے
د موسیٰ؈ قصه کړه ياده، څهٔ انجام يې د امت شو
واوره- واوره مسلمانه، هغه تا وته عبرت شو
چې مرکز د هغو لاړو، نو شول څنګه خوار و زار
د يووالي تار يې وشلېد، ځکه دوے شول تار په تار
دا هغه چې رسولانو، ؤ په غېږو کښې لوے کړي
جز يې پوه د کل په راز ؤ، په دنيا کښې ؤ نوموړي
وخت په غوږ د دې امت کړه، ور خطا توده څپېړه
ژوند يې سرې وينې له سترګو، و څڅېد په ګونه زېړه
نم ترې لاړوکور[1] يې وچ شو،که غونچې به يې شو کولې
خاور يې داسې شوه بې خونده، ولې يې هم نه ټوکولې
سپک او ورک بې کوره اوره، زاره چاؤ د نيستۍ وهلي
نه يې خوله نه وينا ګانې، نغري نه يې کور ؤ کلي

---

[1] انګور

بس نو لاړه ډېوه مړه شوه، وير ژړلي يې پتنګان
د هغو قيصه چې لولم، زلزله مي شي ټول ځان
د چور لند آسمان په توره، پرهر ژلو خوار و زارو!
اې د شک شيبې او وهم، په کوږکي کښې راحصارو!
دا جامې مو کړئ ور ايسي، په دے تن جامه احرام کړئ
را پيدا مو سپين سحر بيا، له دوندونو د مابنام کړئ
د نيکونو غوندي پرېوځي، په يو ور سجده- سجده شئ
داسې ورک په محبت کښې، نوک ترسرسجده سجده شئ
پخوانو مسلمانو، عاجزي داسې پيدا کړې
چې نيازونو يې خورې ويرې، دنازونو په دنيا کړې
چې په سروغنوروان شول،بې پرواه دخدایؒ په لار کښې
د نړۍ ټول ګلستان يې، و ټومبلو په دستار کښې

# روستونه جمعیت د ملت د نصب العین

## په ټینګ نیولو کښې ده او د محمدﷺ د امت نصب العین د توحید حفاظت او خورول دي

کاینات[1] هم لري ژبه، که کړې غوږ زما په لوري
عملونه د ژوندون يې، هم لفظونه دي هم توري[2]
که په تار د مدعا يې، تړون وشي برابر شي
نوژوندون به دچار بيتې، يو ډېر ښکلې غوندي سر شي
مدعا کومي مهميز[3] شي، موږه يې و تړو په پونده
نو زموږه توره اسپه، به سیلۍ غوندي شي تونده
مدعا هغه يو راز دے، ژوند موندلې ترې بقا ده
کې قوت خوره پاره وي، غونډوونکې يې مدعا ده
چې هر چرې دا حيات، د مقصد سره آشنا شي
يو ضابط او سمووونکے، د اسباب د دې دنيا شي
دے چې ځان ورته تابع کړي،په مقصد پسې ورتلل کړي
د هغه دپاره چوڼ کړي، خوښول نا خوښول کړي

(۱) دنیا.
(۲) حرفونه.
(۳) د سپور په پونده اوسپنه.

تـګ په سیند کښې د ماهګانو، تل په لوري د ساحل وي
چا چې لارې دي اخسترې، د هغه پر سر منزل وي
د پتنګ په زړګي داغ، له ارمان د سوځېدو دے
هر چور لګ یې له خراغ، له ارمان د سوځېدو دے
که مجنون په ورانوسرشو،دے او ځومره ځۀ صحرا ده
کجاوه د لیلا ګوري، بس هم دغه یې مدعا ده
چې زموږ کومه لیلا ده، ک مېشته وي په آباده
بیابه ولې پکښې پښه ږدو، چې صحرا خوشې صحرا ده
په عمل کښې مقصودیت پټ دےلکه سا وي په وجود کښې
حاصلیږي ځنګه ځو تل[۱] ، هر عمل ته په مقصود کښې
په رګونو کښې دا منډې، چې د وینې ستا زما دي
دا همه توندی له پاره، د موندل د مدعا دي
ژوند د دې له ډېره تاوه، دا خل ځان و سوځولو
سره اورونه غونډول کا، ژوند په شان د ریدي ګلو
مدعا لکه شاباز دے، ږغوي ساز د همت دا
مدعا هغه مرکز دے، چې راکاږي هر قوت دا
مدعا لکه د شا ده، ښوروي دا د قام غړي
په یوه کتنه دې وي، په زرګونو سترګې وړي
د مقصود معشوقه شمعه، پسې ته ورک لبوزے شه
پتنګ هسې ترتا وېره، د دې مخ ته سپېلنے شه
ځۀ خوږږغ ځنې را خیزي، ساز نواز دا قم هوښیار دے
د معنا شاباز یې ایښې، اوره ځنګه په خوږ تار دے

---

[۱] کیف و کم.

"لاروے که پښې ته لاس کړي، اغزے اخلي د زړۀ سره
په دې لړه حصارتیا کښې، محمل ووځي له نظره"
که یورپ قدر د سترګو، لارویه ته غافل شوې
په شا لاړې تمبېدلے، سل فرسنګه له منزل شوې[1]
دا وجود ډېر لرغونے دے، چې یې عالم بولي قامونه
له ګډون د عناصرو[2]، د دۀ جوړ شول اندامونه
سل بڼونه نچې یې لو کړې، یو فریاد آزادول شو
سل چمنه یې خړوب کړل، یو زرغون تر رېدي ګل شو
څومره نخښې یې واچولې، هر نخښه یې بیا کړه ورانه
په تختۍ د ژوندانۀ یې، وروستے جوړ کړې مسلمانه!
ژړاګانې یې کرلې، په پټۍ کښې د خپل ځان
چرته ډېره موده پس یې، حاصل وشو یو اذان
په مودو ۀ ده تود کړے، د احرارو سره جنګ
د خدایانو د روغژنو، سره ناست ۀ څنګ پر څنګ

دانه تخم د ایمان یې، آخر خاوره کښې کړه خښه
کلیمې ته د توحید یې، دغه ستا ژبه کړه خوښه
د عالم دورونه ګرځي، نقطه ګاه شوه لا اله
د عالم د دومره کار، انتها شره لا اله

---

[1] رفتم که خار از پاکشم محمل نهان شد از نظر :: یک لحظه غافل گشتم و صد ساله را هم دور شد

[2] اور، اوبه، خاوره، باد، دا څلور عناصر بللے شي.

دا د لا ا لٰه زور دے، چې آسمان کړي چور لیدنې
هم تر دې د لمر تاوونه، ځلېدنې بلبدنې
په دې زوړ بحر پیدا کړي، مرغلرې داسي- داسي
هم د سیند موجونو وکړې، غورزې پرزې هم بدا سي[1]
هم له دغه خوږ نسیمه، تورې خاورې لکه ګل شي
که یو موټےِ د بڼو وي، له دې سوز ځنې بلبل شي
چې رګونه تر د کورو، دي روښانه دغه سوز دے
صراحي د تورو خاورو یې، کړه تابانه دغه سوز دے
پکښې نغمې دي څۀ سوې، چې تاوونه یې دي بې شانه
د عالم رباب دي غواړي، شاباز لاس کښې آدم خانه
په رګ رګ کښې دي ړغونه، لکه وینه زغلي پرېږده
هر څۀ پرېږده پاخه- پاخه، دا شاباز دي په تار کښېږده
او دا ځکه چې تکبیر کښې، راز و ستا دشته کېدو دے
ستا مقصود د لا ا لٰه د، حفاظت او خورېدو دے
چې تر څو د حق دا چغه، په عالم کښې نۀ شي عامه
که رښتونےِ مسلمان یې، تل به ویښ یې بې آرامه
ګله هغه سړے څۀ وي، چې له ځانه خبر نه وي
ستا[2] خطاب عادل امت شو، وایه نور عزت به څۀ وي
د مخ مالګه د خپل وخت یې، روښنایي د خپل زمان یې
په قرآن کښې ته شاهد، په قامونو د جهان یې

---

[1] مد و جز.

[2] وکذالک جعلنٰکم امة وسطا لتکونوا شهداء علےِ الناس،

ژباړه: او هم دا رنګه مي تاسو یو درمیانه ټولۍ کړئ، چې تاسو ګواهان شئ په

پوهنده ؤ نکته دانو، لره عام بلنه ورکړه
په علمونو د امي يې، تر خپل وسه ښهٔ خبر کړه
اې هغه چې ګفتار يې، پاک وينځلے له اهوٰے[1] دے
اې هغه چې يې خبرې، ښهٔ تفصيل د ما غوٰے[2] دے
کاينات لکه رنځور وه، ده چې يې نبض ونيولو
نو بربنډ يې هغه راز کړو، د ژوندون د سمېدلو
د دې باغ د رېدي ګلو، سخا لمري چې وليدل ده
د مودو راسي ور پوري، زاړه خيري وه وينځل ده
دهغه په دين کښې ژوند دے ژوند به نه وي چې دين نه وي
څهٔ امکان د حيات نشته، که يې په مخکښې آئين نه وي
اې چې تخر کښې دي، قرآن دے خوبولې نور مه زانګه
ناسته، پاڅهٔ ځه روان شه، د عمل ميدان ته دانګه
د انسان فکر تېروځي، بت پرست او هم بت ګر دے
په تنونو په جسمونو، په جڅو پسې تل سر دے
بيا رده د اذرتوب يې، اينښې ده په فکر زوړ
چې يې خنګه زړهٔ غوښتله، کړل يې نوي خدايان جوړ
خوښ په وينو تويولو، دا خدايان د دهٔ عجب دي
چې ياد شوي په نومونو، د ملک او د رنګ نسب دي
دا بتان هغه بتان دي، چې نه يې تول نه څهٔ قيمت دے
لکه ګډ د قرباني پروت، د دوے پښو کښې آدميت دے

---

[1] وما ينطق عن الهوٰے، ژباړه: او هغه په خپل خواهش خبري نه کوي.

[2] ماضل صاحبکم وما غوٰے، ژباړه: ستا رفيق (رسول) نه ګمراه دے او نه يې تېر خوړلے دے.

اې هغه چې په شرابو، د خلیل ع د کوزې مور یې
ستا په وینه کښې تودوالے، هغه راسي نه چې سور یې
د باطل په حق لباس کښې، تیرېستل د هر اولس کا
"اې له خدایه چې رڼاشي ورک د وخت له شپو دا تور کړه"[1]
بې له خدایه نورڅۀ نشته،په دې توره ترې سرغوڅ کړه
وه ځلېره چې رڼا شي، ورک د وخت له شپو دا تور کړه
چې کامل[2] درباندې راغلو، هغه دین په دنیا خور کړه
وار خطا شم ستا له شرمه، ستا به حال څۀ وي صبا ته
هغه فخر د نبیانو، که در واوړوي مخ تا ته
چې قرآن د خدای کتا ب ؤ، ما په تا باندې سپارلے
هغه تا تر نورو خلکو، ولې نه دے رسولے

## د ملت د ژوند اوږدواله د عالم د نظام

## د قوتونو په تابع کولو کښې ده

اې! چې تا وه نالیدلي، ژبه ورکړه له ازله
اوس به مخه آزاد زغلي، لکه وي بې غاړې چله

---

(۱) لاموجود الا هو، ژباړه: بې د الله تعالیٰ څنې بل موجود نشته.

(۲) الیوم اکملت لکم دینکم و اتممت علیکم نعمتي، ژباړه: نن مي ستا دین ستا دپاره کامل کړو.

د چمن له خاورې پاڅه، لکه بوټي لوړ ګرنګ شه
زړهٔ په غیب پورې تړلے، د حاضر سره په جنګ شه
دا حاضر عالم چې وینې، پوهوي تا چې غیب څهٔ وي
چې دغیب تسخیر کول شي، نوشروع به يـې هم له ده وي
سر تر سره دنیا ټوله، و تسخیر لره پیدا ده
د نظر غشي ته خانه، خال سینه د ما سیوا ده
په یو"کُنْ" ټکي یې پیدا کړو، دا تمام جهان چې ګورې
چې ته خپل د همت غشے، له سندان وباسې پورې
تا دي وي سره تر سره، غوټې غوټې او بندونه
چې له دې ځنې پیدا شي، پرانستلو کښې خوندونه
که غوټۍ یې نو خوره شه، له خپل ځانه چمن پاسه
که یو څاڅکے یې د پرخې، بره لمر کړه را تر لاسه
دریغه ستا ځنې پوره شي، دا نا دره چاره ګوره
دخپل روح په تاؤ کړه ویلي، بیا تو دې کړه وینې موره
محسوسات چې چاتسخیر کړل،دې خبرې تـې ځان جوړ کړو
که رښتیا راباندې وایې، له ذرې یې جهان جوړ کړو
چې سینو د فرشتو، ته ښکاري غشي ورشړلو
له هغې یې آدم مخکښې، په فتراک کښې و تړلو
د محسوس د سخرې غوټې، شو اول په پرانستلو
خپل همت یې و کتلو، په موجود تابع کولو
سمه غر په لنده وچه، د دنیا په هره برخه
ګورې نه چې عالمانو، د تعلیم کړه پورته نخه

د اسبابو په عالم کښې، اې بې سوله افيم خوره
تل دنيا ته بده وايې، لوټه آ خوا کړه له لوره
پاڅۀ و غړوه سترګې، په نشو کښې يې غم لړلے
بد پرې هيچرې مه وايه، عالم تا ته دے تړلے
چې خور نوعې د مسلم شي، غرض دا د دې جهان دے
چې له ده دي څۀ کېدونکي، د هغو پر امتحان دے
وخت يې توره درخطا کړه ښخه يې خپله خواکښې وينې؟
دا ښيي درته په سترګو، چې لا شته په تا کښې وينې
سينه ژوبل کړه پر واخله، د زور کانې که ورېږي
خپل هډونه پرې وګوره، سره اورونه که غورېږي
د دنيا دا ښايستونه يې، د مومن د سترګو تور کړل
د نيکانو برخه يې شماري، خدای هغوے د دې په لور کړل
دا جهان باچهي لار ده، پر کاروان په مخ روان دے
د مومن د سرود ياره، لکه کانړے هم جهان دے
که په ترخ وي غېږ ترې تاؤکړه،نه کښېوځې ته ور کښېوځه
ښه شراب شه تا بۀ اخلي، په پياله کښې د دۀ پرېوځه
ستا د فکر آس سيلے دے، په تونديي کښې دے بې شانه
دے په جوتو ترپو ګرځي، له آسمانه تر آسمانه
نېمګړتيادژوند په دې خوا، مخ په کښته کړو را خوشے
له آسمانه يې را خطا کړو، کوزۀ مځکې ته دا غشے
چې ته ځان په هرهنر کښې،تردې حده پورې پاس کړې
د عالم په دې نظام کښې، قوتونه ټول تر لاس کړې

**چې د خدای په دې جهان کښې، بنۀ تائب یې بنیادم شي**
**اور اوبو په خاوره باد، د آدم حکم محکم شي**
**څومره څومره چې تنګتیاستا،ځي اوغړیږي په دنیاکښې**
**هومره هومره به ستا کارنو، بنۀ جوړیږي په دنیا کښې**

**شابه لاندې کړه بادونه، ته مرغۍ د هر یو لور شه**
**لکه اوښ یـې ځان ته جوړکړه مهارونیسه پرسپور شه**
**متې ونغاړه آرام شه، غرونه واړوه په بله**
**د ګوهر د ځل واله نن، له سیندرا واله اې ګله!**
**په فضا- فضا کښې شته دے، جهانونه- جهانونه**
**په ذره- ذره کښې پټ دي، د لمرونو څۀ شانونه**
**د هغو د پلوشو نه، نالیدلي کړه لیدلي**
**هغه پټې کړه څرګندې، چې چا نه دلي پېژندلي**
**هم ترې واخله ډېر تاوونه، هم په بنۀ د لمر ځلا کړه**
**له دریابه له سېلابه، هم بجلۍ د کور رڼا کړه**
**ګرځنده هم ولاړ ستوري، چې لارغه لا په آسمان وو**
**د پخوا تېرو قامونو، د سجدو دغه خدایان وو**
**دغه وینځې او مریان دي، ته بادار یې په دوے باندي**
**دے پیدا د دې دپاره، چې شي تا ته وروستو وړاندې**
**د لټون چاره مضبوطه، په تا بیا او په تدبیر کړه**
**بې له خدایه پاتې هر څه، په مړدۍ ورته تسخیر کړه**
**سترګې و غړوه وینه، د اشیاوو په یو- یو کښې**
**چې دا څومره څۀ نشې دي، د شرابو په پلو کښې**

چا چې خپله برخه یوړه، د اشیاوو له حکمته
کمزورتیا شوله راپورته، باج یې یوړه له قوته
د دنیا دا صورت نه دے، بې معنا کښېږده غوږونه
دا رباب که لرغونے دے، پکښې شته نوي ږغونه
لکه تندر یې هر ږغ دے، پوهه غواړي اې هوشیاره
پوهان ځان ورته شاباز کړي، ږغ یې وباسي له تاره
چې "انظروا یې اووې تا ته، دا خو ته یې پوهولې
نو بیا ولې په دې لاره، د ړندو غوندي ته زغلې
هغه ځاځکي چې د خپلې، روښانتیا په راز خبر دے
نو ښکاره په ګل شبنم دے، او شراب ننه د کور[1] دے
که دریاب لره ورکوز شي، پکښې دے شي مرغلره
خپل جوهر یې و ځلیږي، لکه ستوري چې دي بره
چې الوځي په ګلونو، مه په شان ته د صبا شه
دا ګلزار د معنا سیند دے، ورغوټه کړه مرجوڼا شه
هغه چا چې کمندونه، په اشیا دي اچولي
دا بجلۍ او بړاسونه یې، زین آسونه زغلولي
د هنر مرغو ته ږغ کړئ، له الوته یې کړئ راکښته
دوے خوږه نغمه له سازه، بې شابازۀ کړي اوچته
دژوند لار ده ډېر ستوخه، اې چې مخکښې د ګڼ خر دے
څۀ ویده ویده روان یې،ژوندخو جنګ ولاړ پر سر دے
مله دي ټول دي رسېدلي، په تا شوې څۀ بلا ده
د محمل نه هغو وړلي، د معنا ښکلې لیلا ده

[1] انګور.

او ته ورک لېونۍ ګرځې،په صحراکښې زړۀ دې سترې
مات ښنګرې زاره چاوده، وړې ترږې مانده مړې
ځار شم، علم د نومونو[1]، د آدم پر سر دستار دے
او حکمت یې د څیزونو، د آدم نه تاؤ حصار دے

# د ملت زاړه روایتونه یاد ساتل په ملت کښې د خودۍ احساس ویښ او مکمل کوي

تا یو داسې ماشوم ولید، اې آشنا بالغ نظره!
چې له ځان خبر نه دے، نه خبر له وره غره
نه په لرې، نزدې پوهه، نه په کوزۀ نه په پاس کښې
په ټوپونو دې سپوږمۍ نه،چې را ونیسې په لاس کښې
نور له هرڅۀ څنې موړ دے، د مورکي په خوا مست دے
یاپه خوب اوتي په مست دے،یا په شورپه ژړامست دے

نا آشنا د دۀ غوږونه، بې خبر په بم او زیر[2] دے
ښه نغمه د دۀ دپاره، شرنګهار یې د ځنځیر دے
پاک ساده د دۀ فکرونه، پرېشانۍ ورځنې لرې
پاکې پاکې یې خبرې، پاک په شان د مرغلرې
بس لټون د دۀ د پوهې، سرمایه ده نا اوزګار دے
ولې؟ څنګه؟ څو؟ او چرته؟ ، په هر دم د دۀ ګفتار دے

(۱) وعلم اٰدم الاسمآء، ژباړه: الله تعالٰے آدم ته ټول د اشیاء نومونه وښیل.

(۲) غټ او نرے

تل يـې فکر وي بل خوا ته، آ خوا دې خوا په هر لوري
دے له ځانه بې خبره، نور څېزونهويني ګوري
که د دهٔ سترګې کړي پټې، څوک د شا له مخې راشي
نو بې شانه ډېر خفه شي، له خفګانه په ژړا شي
کچه فکر يې دنيا کښې، لکه هغه نوے باز دے
چې په ښکار پسې الوتے، نوے- نوے يې پرواز دے
چې په ښکارپسې يې پرېږدي،الوتل يـې په هر خوا شي
چې را وبلي دے ځان ته، بيا د دهٔ منګل ته راشي
دې دپاره چې ښکاره شي، اورجنتوب يې د فکرونو
له ټوټکے د غاورتوب نه، وکړي کر د اور ګلونو
ځان ته وګوري په خپله، فکر و کاندي چې څهٔ يم
چاچوکی[1] په سينه کښېږدي،او دے ووايي چې "زه" يم
د دهٔ ياد کاندي راوېښ دے، د خپل ځان سره آشنا کړي
دوه تارونه سره غوټه، دے پرون او د صبا کړي
په زرتار کښې ده پېيلي، تېرې ورځې او خبرې
لکه پر له پسې لړوي، په يو تار کښې مرغلرې
که هر څو هره کړی دے، ټولوي خوروي خاورې
"زهٔ هغه يمه چې ومه"، دا په زړهٔ لري که واورې
دغه"زه"په ماشوم زړهٔ کښې، بس آغاز د ژوندانهٔ دے
خيزي رغ د بيداری دا له، دې ساز د ژوندانهٔ دے
يو ملت که نوے پاځي، د ماشوم غوندي کوکی وي
ماشوم هغه چې په غېږ کښې، ګوډاګے د مورکی وي

---

[1] لاسونه.

يو کوچنے غوندي د لوبو، له خپل ځانه بې خبره
لکه خاورو کښې ککړه، ننه شوې مرغلره
په نن پورې د دهٔ نه وي، په صبا د دهٔ پیوند
لا يـې پښو کښې لکه لومې، ورځې شپې نه وي د ژوند
دے په سترګو د دنيا کښې، لکه کځي وي روښانه
بل ته ګوري هغه ويني، ولې ورک وي له خپل ځانه
دے را پراينځي سل غوټې، د خپل ځان له يوه تاره
سر د تار د خودی ګورے، زړهٔ چوي د دې دپاره
که په خپله زمانه کښې، دے را مټ کاندي په کار
نو دا نوے شعور ځان کړي، تر خپل وسه ښهٔ پايدار
پکښې نخښې جوړول کړي، جوړول کړي ورانول کړي
د خپل ژوند د قصې خونه، په شان- شان ودانول کړي
دخپل ژوند دورځو شپو نه، چې بې غم شي کوم يو فرد
غاښ يې پرېوځي شي کړشپه، د ادراک منګز د مرد
سرګذشت[۱] چې يې سنبال وي، هغه قام دے لوړ او ښاد
ځان هغو دے پېژندلے، چې خپل حال لري څوک ياد
هېروونکے د خپل حال خو، په مثال د بونې سپک شي
بياشي خاورې خاورې بادشي،ددنيا له مخه ورک شي
ستا د شتنې د مېشتنې، دارو دغه دي هوښياره
شېرازه تړلې کيږي، تل د ورځو شپو له تاره
رابطه د ژوند د ورځو، ښهٔ لمري[۲] زموږ په تن دي
د زړو قيصو ساتنه، دے لمرو ته تار و ستن دي

(۱) تاريخ.
(۲) جامه.

تاريخ پېژنې چې څۀ وي؟ اې له ځانه بې خبره
څۀ قيصه ده څۀ داستان دے؟ هيڅ خبر نه يې له سره
تاريخ تا وهي په غوږو، دے خبر کړے تا له ځانه
تاکړي پوهه چې بۀ کړې څه، کړي پيدا در کښې مېړانه
روح ته پنګه د قوت ده، کړي يې کلک لکه د ګټو
تاريخ جسم د ملت له، دې په شان د پلو او پټو
تاريخ ستا لکه د توري، په برچو(۱) باندې وهل کړي
پس له هغه د دنيا ته، څنډول او برېښول کړي
زوړونه وړي څۀ ښکلے ساز دے،روح لوټي په لويه لار کښې
څۀ خوږې تېرې سندرې، دي ويدې د دۀ په تار کښې
دتاريخ په سوزکښې وينه،شته سوراورخومړغېزن دے
څنګه ښکلے شان پرون دے، چې په غېږکښې يې دنن دے
امتونو ته يې ده شمعه، د بخت ستورے له آسمانه
د پرون وه که د نن ده، دواړه شپې دي ترې روښانه
اې! نن سترګې د يو پوهه، ويني ورځې هغه تېرې؟
تا ته يـې اچوي په مخکښې، هغه تېري له تا هيري؟
د هغه په کوزړۍ کښې، شته شراب د سلو کالو
په شرابو کښې مستۍ شته، د زړو مستو لېوالو
چې زموږ له ګلستانه، کوم مرغۍ وه الوتلې
دې ښکاري وه لومه ايښې، راشه بيا يې دے نيولې
د تاريخ په جوړول کښې، کلک بې شانه ګرندے شه
چې ختلي دي ساه ګاني، بيا يې راکاږه ژوندے شه

---

(۱) کاڼے.

هغه تېر پرون را واخله، د خپل نن سره يې پيوند کړه
لکه باز په منګل ناست وي، رووږدے[1] هسې ته دا ژوند
تل د ورځو مزې غړه، په دې کار کښې اوسه تونd
ګني ګرځه په تيارو کښې، شوپرک د ورځي ړوند
ستا دا نن به هله نن شي، که پرون وه لرې ياد
له پرون کړه نن آباد، ستا صبا به شي ترې ښاد
که پرزړهٔ دي داارمان وي، چې دي ژوند شي بې زواله
مه شلوه د ماغي[2] تار له، مستقبل[3] او هم له حاله[4]

د ادراک د خپو پر له، پسې توب ځيګره ژوند دے
په حق حق[5] چې کوزهٔ سروي، دمستانو غوره ژوند دے

[1] عادت.
[2] پرون.
[3] صبا.
[4] نن.
[5] د کوزی آواز

# د نو غي تلوالي[۱] له مورتوب[۲] څنې ده او د مورتوب حفاظت ؤ احترام اصل د اسلام ده

که سرے رباب ږغيږي، ښځه ده له شاباز
کړي د ښځې آرزوګانې، دوه دونه د سړي ناز
د سړو د بربندوالي، پټول د ښځې بت کړي
زړۀ را کښونکے ښایست څنګه،دعشق تن ته کاردخت[۳] کړي
تل تر تل د دې په غېږ کښې، د خدای ج مینې دي پاللې
ښځه څۀ غلے شاباز دے، دا ږغونه يې دي ختلي
چې لویي پرې کاینات کړي، دوست د خدای ج دے هغه ذات
واوره ښځه دوے ستایلې، ده په طیب او په صلوٰت
دا چې نن مسلمانانو، ښځې وینځې دي ګڼلې
د قرآن له حکمتونو، برخې دوے نه دي تړلې
که پوهیږې نومورتوب خو، په دنیا کښې یو رحمت دے
چې د دۀ او نبي توب، سره خپلو کښې نسبت دے
د نبي ص د شفقت غوندي، مور مېرمنه د شفقت ده
مور دنیا کښې جوړوونکې، د قامونو د سیرت ده

---

(۱) بقا.

(۲) هن لباس لکم و انتم لباس لهن، ژباړه: دوے (ښځې) ستا لباس دي او تاسو د دوے لباس يئ.

(۳) قمیص.

مورنۍ مینه ښۀ پوخ کا، و تعمېر زموږه وروره
او د مور د تندي کرښه، دے تقدیر زموږه وروره

که دي عقل وي په سر کښې، او معنا ته څۀ رسېږې
په امت ټکي کښې ډېرې، نکتې شته دي که پوهېږې
چې له مخه یې دنیا ده، د هغه د خولې وینا ده
چې په پښو کښې دے د میاندو، که جنت د مدعا ده

د نسونو[۱] چې عزت وي، له دوے زېږېدنه امت وي
ګني بیا د ژوندون چاره، کچه ورانه بې صفت وي
واوره زویه له مورتوبه، تل ده تونده د ژوند منډه
اې ناپوهه له مورتوبه، د ژوند پټه شوه بربنډه
له مورتوب مي دے په سیند کښې، داغلئ څپې زورونه
دا بدهاسي[۲] چورلکونه، بربوکۍ دي که شورونه

[۱] اقبال ارحام لفظ استعمال کړے دے، کوم چې په قرآن شریف کښې د سورة نسآء په اولني آیت کښې دے. واتقوالله الذے تسآءلون به والارحام، یعني او د هغه الله ځنې و وېرېږئ، د کوم په نامه چې تاسو یو له بله سوال کوئ، او د خپلولۍ (تعلقات د پرېښولو) ځنې و وېرېږئ. په دې سورة نساء کښې د اسلام د تمدن او معاشرت قانون واضح شوے دے، چې مسلمانان به د خپلو خپلوانو سره څۀ سلوک کوي، د یو بل عصمت عفت به څنګه محفوظ ساتي، سړے به د ښځو پړونو ته او ښځې به د سړو پګړیو ته څنګه درانۀ کتل کوي، د یو رحم یعني نس ځنې نر او ښځه دواړه پیدا کیږي، څنګه چې د نر احترام کیږي، باید چې د ښځې هم وشي، هله به محکم امت وي، ګني کار به خراب وي.

[۲] مد و جزر.

هغه لور چې د باندې وي، نه پوهېږي په خبره
وي جاهله سخا خير نه، چيته غټه سر ببره
بې ادبه بې نمکه، د مېچن او د غوجلې
نه خوله وره ساده ګوټې، د جارو او د خزلې
ننوتي کړاغې سترګې، مخ يې ګونځې په ژوندون کښې
زړهٔ يې سترے دمورتوب په،خوږ ؤغم وشواخون کښې
که د دې له غېږې پاخې، مسلمان چې ننګيالے وي
په ملت کښې د خدای شېر وي، مېړنے وي توريالے وي
نو زموږه ژوند محکم دے، له ناکام د داسې لوڼو
نړی[1] رونړے مي سحر دے، له ماښام د داسې لووڼو
او بيا هغه نازک تته، کور ساتلي خرشه پرشه
د زړهٔ غله ګوډی د لوبو، خواره شوې غېږه تشه
د دې فکر ورته برېښي، د مغرب[2] رڼا په ده ده
په ښکاره خو ښځه ښکاري، خو دننه ښځه نه ده
ناز، نخرې يې شې له سترګو، سېلاب ووت د بې سولې
د ملت که قامولی وي، ټولې يې يوړې يخې پولې
کلکي سترګې فتنه ګرې، بس د دې دا آزادي ده
د حيا شرم نهٔ لرې، بس د دې دا آزادي ده
د دې علم په سر پېټے، د مورتوب وه نه زغملو
په ماښام د خواري يو هم، ستوري ونه ځلېدلو

(١) جهان دنيا.

(٢) د فيرنګي ملک.

داسې ګل دي زرغون نۀ شي، په امان شې زموږ باغه
د ملت لمن مينځلې، ښۀ ده پاکه له دې داغه
"**لا ا له**" ويونکي ډېر دي، په شماره لکه د ستورو
پټې سترګې لا ساتلې، زمانې په تېرو تورو
د نشتوالي له تېرو لا، راوتلې بهر نۀ دي
په دې ښار د څنګه څو[1] لا، را دننه په ور نۀ دي
لا زموږ په تورږمو کښې، دي پرتې نۀ دي وتلې
هغه ډېرې رڼاګانې، چې لا مونږ ښۀ دي ليدلې
کوم شبنم چې لا د ګلو، بسترې ليدلي نۀ دي
د صبا نوکو چې کومي، غوټې لا څېرلي نۀ دي
دامکان داريدي زار به، يې زرغونه کړي ستا د وړاندې
وبه يې ويني چې سمسورشي،باغ زموږه درنې مياندې
که رېشم پشم که نغدې، که سره سپين او که دستار دے
سرمايه ګورې دا نه ده، که دا هر څۀ وي قام خوار دے
اې هوشياره! تېروه نه خورې،د قام پنګه ښۀ اولاد دے
چې کلک توند او مېړنے دے، چې په روغه څټه ښاد دے

د دولت د اخوت هم، حفاظت کيږي له مياندو
د قرآن او د ملت هم، حفاظت کيږي له مياندو

[1] کيف و کم.

# دمسلمانانو ښځو دپاره سیدة النساء فاطمة الزهرا رض کامله نمونه ده

که مریمه ع ابی مونږ ته، په یوه عیسیٰ ع خوړه ده
نو په دریو نسبتونو، فاطمه زهرٰے خوږه ده
دا اول د سترګو توره، د هغه ده چې امین دے
اولین هم آخرین دے، هم رحمت د عالمین دے
دا هغه چې مړه دنیا یې، را ژوندۍ په نوې ساه کړه
زمانه د نوي دود یې، لکه زیړے را پیدا کړه
چې تاجدار د "**هل اتٰه**[1]" دے، د هغه د کور رڼا ده

---

[1] په سورة دهر کښې د اووم نه تر لسم پورې آیاتو نه د یوې واقعې سره تعلق لري، مفسرین لیکي: "چې د حضرت علي τ زوے ناروغ ؤ، د دواړو جهانو سردار ورکره راغلو، ارشاد یې وکړو، چې ښځه خاوند درې روژې د خدای په نامه وه منئ، ګوندي هلک خدای روغ کړي، دوے منته وکړه، هلک جوړ شو، روژې دواړو شروع کړې، کور کښې څۀ نه ؤ، شېر د خدای روژه په خوله لاړو، څۀ محنت مشقت یې وکړو، سېر نیم اوربشې یې راوړې، بي بي فاطمې روژه په خوله زر زر بغرۍ، بېړے، مېچن، اوړه او ماښام قابو یې تبخے کښېښو، ډوډۍ پخه شوه، بانګ ته لږ ساعت پاته دے، په کوځۀ کښې ږغ شو چې: "خیرات راوړئ، د پیغمبر کورنۍ! مسکین یم، د لوږې مړ شوم، حضرت علي ټوله ډوډۍ ورکړه، دواړو روژه په اوبو ماته کړه، پېښمنے یې هم په اوبو وکړو، صبا بیا شېر د خدای روژه په خوله مشقت یې وکړو، بي بي اوربشې اوړه کړې، ډوډۍ تیاره شوه، بنګ ته لږ وخت ؤ، د کوځې نه ږغ راغلو چې: "خیرات راوړئ، د پیغمبر کورنۍ! یتیم یم وږے یم، حضرت علي بیا

د خدای شېر مشکل کشا دے، د هغه د کور رڼا ده
مرتضیٰ هغه باچا ؤ، چې جونګړه کښې يې شان ؤ
يوه توره يوه زغره، ايله دغه يې سامان ؤ
دې مرکز د عشق پرکار ته، دا د هغه هوشيار مور ده
قافله د عشق يې سيخه، کړه د هغه سالار مور ده
د حرم د خونې شمعه، پلوشو يې وکړې منډې
چې ساتنه يې مقصد وه، د خپل لوے نيکه د غونډې
اراده يې د ورکولو، د کينې او شور او شر کړه
د نيکه لمسي له نيته، تخت او تاج ته لته ورکړه
هغه مشر د مينو، سر د غونډې د نيکانو
په دنيا کښې يو قوت ؤ، د احرارو د پاکانو
دا سوزونه له حسين دي، د ژوندون سوي نارو کښې
سوي زده کړي له حسين دي،حريت په شنوزمرو کښې
سيرتونه د زامنو جوړول، کا خوا د مياندو
د صفا صدق جوهر هم، برکت دے له آدميانو

ډوډۍ ورکړه، او سڅې خاوند تشې اوبهٔ و څښلې، په درېيمه روژه بيا له دروازې ړغ راغلو چې: "خيرات راوړئ د پيغمبر کورنۍ! له قيد نه اوس را خلاص شوم، څوک مې نشته، وږے يم، سخي بيا ډوډۍ ورکړې، درېيمه روژه يې هم په اوبو ماته کړه، د لوے او غيرتمن خدای د غيرت قلزم جوش وکړو، وحي په تلوار راغلو، وې چې: "يوفون باالنذر و يخافون يوماً کان شره مستطيراً، و يطعمون الطعام علےٰ حبه مسکينا و يتيما و اسيرا، انما نطعمکم لوجه الله لانريد منکم جزاء ولا شکوراً،
ژباړه: جنت مې هغه چا ته ښايسته کړے دے، چې خپلې منتې پوره کوي، او له هغه ورځې وېرېږي، د کومې مصيبت چې به هر خوا خور وي، او مسکينانو ته، يتيمانو ته او قيديانو ته د هغو د مينې له کبله ډوډۍ ورکوي، او وايي: "چې مونږ خو د خدای په رضا په تاسو خورو، نه در څخه بدل غواړو او نه شکرانه.

د تسلیم رضا د کښتي، فاطمه حاصل منه ده
د اسلام د میاندو وړاندې، دا کامله نمونه ده
زړهٔ یې و سوځېدو داسي، د محتاج د غم له اوره
په یهود یې څادر خرڅ کړو، شوه په خپله دا سر توره
که مسلم که نا مسلم ؤ، په سلام د ې د ور تل
د څښتن هره خبره یې، اخسته په سترګو سر تل

هغه پاکه صبرناکه، په رضا د خدای ج خوشحاله
د مېچنو اهونکې، قرآن خوانه بې مثاله
په ژړا وه سر او سر یې له، سر ویکدې[1] موږ وه لرې
د لمانځه په دونکاچه به، یې تل نوستلې مرغلره
جبرائیل به د دې اوښکې، له دې مځکې ټولولې
لکه پرخه به یې پورته، پر عرش باندې واچولې
که ځنځیر د شریعت مې، پښو نه نه واے پرېوتلے
چې فرمان د مصطفٰے دے، ما هغه ته نه کتلے
نو مدام به چور لیدنې، ما له پاک خلې د دې کړې
هم یې تل په پاکو خاورو، د اخلاصه ما سجدې کړې

[1] بالبنت.

# د اسلام سترمنو ته

اې چې ستاسو پاک پړوني، شه زمور د ناموس رنګه
اې چې ستاسي رڼاګانې، دي زمور د فانوس پنګه
اې په خټه پیدا پاکو، وجودونه مو رحمت دے
هم پاک دین لره قوت دے، هم بنیاد مو د ملت دے
چې ماشوم زموږه ستاسي، په شودوکړي خوله کنګاله
نو په مم د لا ا له یې، اول تاسو کړئ خوشحاله
ستاسي ډېره تېره مینه، پس له هغه سړه خوا شي
چې زموږه دود او فکر، هم کول ویل وه تراشي
چې وریځ ستاسي ساتلے، زمور تندر ؤ په خوا کښې
هغه وه برېښېد ګوزارشو،هم په غرونو هم صحرا کښې
اې ربښتیا امانت ګروا ! ، لوے نعمت د خدای آئین دے
ستاسي هره- هره ساه کښې، تاؤ د پاک الله د دین دے
د دې دور خوله خوږه ده، تېرایستونکې د چلول دے
که کاروان یې روان وینې، د دین لار وهي غټ غل دے

ړوند او کوڼ له خدایه لرې، دغه حال یې د درک دے
هر نامړد یې کلک تړلے، په خپل پیر او په چور لک دے
دا ښښتن د کلکو سترګو، ډېر بې باکا ؤ بې پروا دے
د ښو په غشو ویشتے، ده زړګوتے د هر چا دے
هغه ده چې دے تړلے، په آزادو حساب ځان کړي
هغه ده چې دے وژلې، د ژوندو په ځان ګومان کړي

اوبۀ ستاسي ونه غواړي، جمعیت ستاسي په سر دے
سرمایه ساتنه غواړي، دا ملت ستاسي په سر دے
چې سودا دسود اوزیان مي، آخوا نه کړي له خپل سره
بې له پلار نیکه د لارې، لاهو نه شئ بې ګودره
د بد دور له خېرې، هم بچې ساتئ هم ځان خپل
تېنګ را وه نیسئ په غېږ کښې د زړۀ غوښې فرزندان خپل
زېړې خولې مرغۍ بچوړي، شوي يې نه دي لا وزرې
د چمن له ځانګې ځالي، پرېوتلي څومره لرې
د خدايي جذبو مېرمنو! ، راشئ بیا ونغاړۍ متې
سمه لار ده د زهرا ژوند، ګوري سترګې نه کړئ پټې
کړئ راستون تېرشوے واربیا،په چمن کښې کړئ بهار بیا
چې مي وکړي هره څانګه، د حسین غوندي بنۀ بار بیا

# د مثنوي خلاصه د سورۀ اخلاص په تفسیر کښې

## ((قل هو الله احد))

یوه شپه مي خوب کښې ولید،ؤحضرت صدیقرضبې شکه
ما يې د لار له خاورو یوړه، د سرو ګلو ځولۍ ډکه

دا هغه دے چې ستايلے، پيغمبر امن الناس[1] دے
دے زمونږ لومړے کليم دے، چې په طور ختلے پاس دے
دا ملت لکه پتېر دے، او د دهٔ همت ؤ ابر
دے دويم ؤ د اسلام ؤ، هم د غار ؤ بدر قبر
ما وې اې! چې ستا د عشق، لوړ مقام د بر نه بر دے
سره عشقه ستا له عشقه، چې د عشق د دېوان سر دے
ستا په لاسو ايښے شوې، ده رده زمونږ د ژوند
نن ولاړ يو په سور اور کښې، راته وښيه څهٔ بند
وې چې څو به پکښې پروت يې، خواهشونه جېلخانه ده
د اخلاص سورت نه واخله، عزت پټه خزانه ده
هغه دا چې سينې دېرې، ساه يوه پکښې غږيږي
په رازونو د توحيد کښې، دے يو راز که څوک پوهيږي
دهغه په رنګ کښې رنګ شه، دهغه د رنګ مثال شه
د هغه په دې جهان کښې، لکه سيورے د جمال شه
هغه چا چې مسلمان کړې، ته يې په دې نامه ستايلے
له دوه والي نه يې په لوري، د يووالي يې راکښلے
کله وايې چې زهٔ ترک يم، کله وايې چې افغان يم
څهٔ وې؟ څهٔ شوې؟ دا ژړا ده، وايې نه چې مسلمان يم
له نامونو خلاص کړه نو ملي، له نومونو ځنې تېر شه
اې! د خم سره کړه جوړه، له جامونو ځنې تېر شه
اې چې نوم داسې ذليل کړې، اې د نوم تر لاسه خواره
ئې هغه مېوه د ونې، چې کچه شي را ګوزاره

---

[1] امن الناس علے في صحبته وماله ابوبکر، (حديث)
ژباړه: ابوبکر په ما ډېر احسان کوونکے دے، په خپل مجلس او خپل مال کښې.

له يووالي سره روغ شه، د دوه والي پرېږده نخښې
چې دا خپل غوره يووالې، چرې نه کړې برخې- برخې
اې منونکيه! د يو که، دا ته ته يې ځان وه مومه
د دوه والي دا سبق به، آخر ته لولې تر کومه
خطامه شې دواړه يوکړه، په خوله نوري په زړهٔ نوري
دا خو ور د خپلې خوني، تا خپل ځان ته کړلو پوري
دا خو يکي يو ملت ؤ، تا ترې سل توکي پيدا کړل
په خپل کوټ دي شبخون وکړو،په ځان شندې دي داستا کړل
يو شه و ښيه يووالې، د توحيد مينه خپل سود کړه
هغه پټ چې دے له سترګو، له عمله يې را موجود کړه
د ايمان خوندونه ډېر شي، د هغو چې عمل کاندي
دي هغه مړه ايمانونه، چې عمل ته نه دي وړاندې

# الله الصمد

که په خدای بې نيازهٔ پوري، تا دا خپل زړهٔ وتړلې
له سرحد د سببونو، يې په کتو بهر وتلې
نو بنده د خدای بيا کله، بنده توب لا د حيلو کړي
ژوند رهټ نه دے چې چورلي، نه پرواه د ډول چکلو کړي
که رښتونې مسلمان يې، بې پرواه له هر يو غير شه
اوسېدونکو د دنيا ته، سر تر سره پورې خير شه

د مړو سرو په مخکښې، هيڅرې نصيب مه ژاړه
تويوه مه چرې اوښکې، مه لاس نېسه او مه غواړه
د علي قوت پيدا کړه، ته په روڼه د اوربشو
خيبر واخله غشےِ ښخ کړه، د مرحب په سينه تشو
د ښکاره د ځښتن ولي، د احسان ځوکونه اخلې
ته په دواړو سترګو ولي، د وه نا دوکونه اخلې
له نامردو له شومانو، ته خپل رزق ولې غواړې
ته يوسف يې نه سليږې، په ارزانه بيعه لاړې
که هر څو لکه مېږے شې، کم طاقته بې وزره
حاجت مه وړه سليمان ته، نه ښاييږي د زړهٔ سره
لاره ده بې شانه ګرانه، کډه سپکه کړه پر مه مره
د الله په دې جهان کښې، آزاد ژوه آزاد وه مره
شپه هم ورځ ته وظيفه کړه، د اقلل من الدنيا[1] ته
غوټه ته کړه "تعش حرا"، مدام اوسه مړه خوا ته
په غوښتلو به شې خاورې، څو توانيږې ځان کيميا کړه
د ګټلو د خوړلو، د خورولو ژوند پيدا کړه
بوعلي په ګور يې نور شه، که يې خبر يې له مقامه
څکه وکړه دا يو ګوټ دے، د هغه صاحب له جامه
"څهٔ که تخت د کيکاؤس شي، بې پروا شه لته ورکړه
چې خبره د ناموس شي، ځار قربان تر مال و سر کړه

[1] اقل من الدنيا تعش حرا، ( د حضرت عمر فاروق وينا ده،
ژباړه: دنيا کمه کړه نو ژوند په آزادۍ سره کوه.

که دي تشه پيمانه وي، بې نيازي دي وي وزرې
نو که بنده ميخانه وي، هم په خپله يې ور شي لرې
د اسلام ځلنده ستورے، چې د کوم نامه هارون ده
چې مېړانه يې ليدلې، د نقضور[۱] سترګو پرون ده
مخ يې کړو امام مالک ته، وې چې "اې د علم لمره!
د اولس تندي اخستې، رڼاګانې ستا له وره
په چمن کښې د حديثو، اې بلبله نغمه ګره!
چې څۀ زده کړه له تا وکړم، ده په زړۀ مي دا خبره
لعل به څووېپه يمن کښې اوس راووځه له خپل درنګه
ته رڼا د خلافت شه، د بغداد ښايست کړه رنګه
د عراق د رڼو ورځو، رڼاګانې تل خورې دي
زړونه وړونکي ښايستونه، څنګه ښې- ښې ننداري دي
د حيات اوبۀ ترې څاڅي، شه نزدې د عراق کور ته
هم يې خاورې دي ملهمې، د عيسٰے غوندي پرهر ته"
مالک اووې: "زما نشته، بله هيڅ سودا په سر کښې
زۀ غلام د مصطفٰےؐ يم، خوښ يم تل د هغه ور کښې
ډيرېـې خوښ يم په فتراک کښې،لويـې نشته له دې نوره
هيچرې به زۀ لاړ نه شم، له درشل د پاکه کوره
د يثرب د پاکو خاورو، ښکلولو کښې مي ژوند دے
د عراق له رڼا ورځو، ډېر زما په شپو کښې خوند دے
عشق په چغه راته وايي، چې مي وينې اوسه فرمان ته
که شاهان دي مريان کيږي،هم نزدې يې مه کړه ځان ته

[۱] نقضور د روم باچا ؤ هارون رشيد څو څو واره شکست ورکړے ؤ.

او ته دا خوبونه وینې، چې لا ته زما بادار شې
زهٔ آزاد و ستا بنده شم، ته زما د واک اختیار شې

هم تعلیم کوې زما نه، هم کوښې ته استاد غواړې
د ملت خادم به څنګه، ستا چاکر شي خطا لاړې
که د دین د علم برخه، ستا مقصد وي دلته راشه
د درس ګرده کښې زما ته، زنګون و وهه لګیا شه"
د بې نیازو بې نیازۍ کښې، پټ پراته وي ډېر نازونه
ډېر نازونه د نیازبینو، لري ډېر- ډېر اندازونه
بې نیازي خو د خدای رنګ دے، د خپل تن پرې پټول دي
بې له خدایه د بل رنګ بس، له لمرو ځنې وېنځل دي
د بل علم خو دي زده کړو، کړه خوندي د دغه پنګه
په خپل مخ دي ومښلو، روڼ دي کړو له دغه رنګه
مرتبه او عزت څنګه، له پردي عادت نه غواړې
دا ته ته يې که څوک بل دے، دا په کومه کډه لاړې
په نسیم یې شوه ستا خاوره، چپ سره خبر در وشه
له ګلونو کشمالو هم، ستا لمن پاتې شوه تشه
خپل پېژنه له خپله لاسه، ورانوې ته مسلمانه!
سوال ترې مه کړه دا وریځ ده، تشه توره له بارانه
دے ستا عقل یې تړلے، په خپل فکر کار د بل دے
په مرۍ کښې دي ساګانې، ځي راځي خو تار د بل دے
ویناګانې ستا په خوله کښې، تا غوښتلې دي د بل نه
آرزوګانې ستا په زړهٔ کښې، تا غوښتلې دي د بل نه

ګوګوشتکو ته رغونه، تا غوښتلي له بل چا دي
ستا د سرو په تنونو، قباګانې غوښتي تا دي
شراب غواړې په کوڅو کښې، جام دي نورو ته نيولې
لا دا بل شرم د ګوره، جام دي هم قرض غوښتلې
هغه سترګې چې په شان کښې، **مازاغ البصر**[1] دنيا شي
که د خپل امت په مخکښې، پستنه دنيا ته راشي
هغه شمعه بنۀ پوهيږي، چې مي کوم يو پروانه دے
هغه يې پيژني له ورايه، چې دا خپل دا بېګانه دي
که په "**لست مني**[2] " مونږ ته، پيغمبر زموږ ګويا شي
بيا به مځکه هم ونه چوي، چې پکښې سترګې فنا شي
څو به يې لکه د ستورو، د ژوندون په دې سفر کښې
ستا هستي به وي څو ورکه، په رڼا د سپين سحر کښې
تېر د تور صباح ده وخوږ، اې کاروانه اې روانه
کډې تا و لېږدولې، له لمنې د آسمانه
ځان دي نه دے پيژندلې، ته خو وګوره آفتاب يې
رڼا مه غواړه له ستورو، د رڼا خو ته درياب يې
تا د خپل زړګي دپاسه، دا د غيرو نخښه ځاے کړه
تورې خاورې دي پرسرکړې، اوکيميا دي لاړه باے کړه
دي د نورو بريښېدنې، ته به څو ورته ځلېږې
کړه پردۍ نشې ترې کوزې سردي سپک کړه که پوهېږې

---

[1] ما زاغ البصر وما طغٰی، ژباړه: سترګې د دۀ بل خوا ته واوړېدې نه.
[2] ته زما د قام ځنې نه يې.

د محفل ډیوه کښې څۀ دي، نور له دې ته مه تاوېږه
که دي زړۀ وي په سینه کښې، له خپل اوره وسوځېږه
ته د سترګو په پړدو کښې، نظر کښېنه مه تر ووځه
په خپل ځاے کښې مېشته اوسه، هم په هره خوا الوځه
په دنیا کښې مدام اوسه، برېوکے غوندي هوښیاره
خپلې خونې ته مي پرېږده، د پردو دپاره لاره
یو سړے که سړے کیږي، نو د ځان په پېژندل شي
قام هغه بللے بویه، وي د ځان نه چې بل شي
له پیغام د مصطفےٰ ص ته، ځان په زور او زېر آګاه کړه
نور فارغ شه له هر چا ته، دا یو ځان د یو الله کړه

## لم یلد و لم یولد

وې چې ستا دقام مقام دے، ډېر له رنګ او وینې پورته
سل د سرو سپینو رنګونو، شه لوګې یې یوه تور ته
د اودس د اوبو څاڅکي، د قمبر رض کړه یوې خوا ته
د قیصر له وینې زیات دے، که یې وه نیسې بها ته
مور که پلار که تربولي ده، ته آزاد له هر یو دام شه
یومخیز لکه سلمان رض شه، زېږولے د اسلام شه[1]

---

[1] سلمان فارسي یو اصحابي ؤ، چا تر د هغه د شجرې تپوس وکړو، چې ته د کوم نسب یې؟ هغوے ځواب ورکړو: "چې سلمان ابن الاسلام، یعنې سلمان د اسلام زوے.

دې نکتې ته زما ګوره، که نظر دي وي ککو کښې شات[1] په څۀ شان له پراته دي، د يو وړي کورکو کښې پکښې ګوره يو بخرے، د رېدي د زړۀ سور اور دے له نرګسه يو پيسانړے، د هغه د سترګو تور دے نه په دې سوړه کښې ږغ شته،چې زۀ نوغي د شهلا يم نه له هغه کوره چيغه، چې ګلاب نوغي اعلا يم دے ملت د ګبين وړے، عجب شان د ابراهيمع دے په دې وړي کښې دا شاتج، پوخ ايمان د ابراهيمع دے په ملت کښې که دي کړله، د نسب نامه راګډه اخوت لکه قلعا وه، تا رده کړه ورته ډډه په دې مځکه کښې زموږه، چرې نه لګي ستا جرې لا دي فکر نامسلم دے، ځه چې هر لوري ته رغړې د عشق شمعه بلوونکے، ښۀ مېړه ابن مسعودرض د عشق اور وسوځولې، د دۀ ساه او هم وجود مرګد ورور پر بل اوربل[2] کړو، نغرے د دۀ سينه شوه له ډېر تاوه يې ويلي ويلي، د زړګوټي آئينه شوه نور يې زغم کولے نه شو، په ژړا شولو خوږ ورور ته لکه مياندي وي په چيغو، روړې ده کړې هسې پورته "چې ارمان- ارمان چې لاړې، د نيازونو سبق خوانه د نيازونو مدرسې ته، تل زما سره روانه

---

(۱) شهد.

(۲) دوهم.

د چناري وني وروره، زۀ وم ستا سره ملګرے
د نبي ص د عشق په لاره، وې زما سره ملګرے
هاے ارمان! چې ته جدا شوې، له دربار د نبوته
زما سترګې دي روښانه، له ديدار د نبوته"
نه د روم سره پيوند يو، نه عرب سره پيوند يو
دا زمونږ ترون څۀ بل دے، نه نسب سره پيوند يو
د نبي ص د عشق په خم کښې، زمونږ زړونه دي لړلي
مونږ له دغه يوه کبله، په يو بل پورې تړلي
مونږه ټول سره تړلي، د هغه د مينې تار ښه
د هغه د دې شرابو، لرو سترګو کښې خما ښه
چې په وينه کښې يې زمونږه، دي مستئ وکړله منډه
لکه زر له اوره ووځي، شوه مي نوې زړۀ غونډه
جمعيت او يو کېدو ته، سرمايه د نبي ص عشق
په رګونو د ملت کښې، وينه ده د نبي ص عشق
دعشق کوروي تل په روح کښې،تن دے خاوره نسب زېږ
تار د عشق غښتلے پوخ دے، د نسب تار دے اومړے
که د عشق په لاره درومي، تېر شه- تېر شه له نسبه
هم له روم او له ايرانه، تېر شه- تېر شه له عربه
د نبي ص غوندي امت هم، "نور د حق" په رڼا مور دے
که منې وجود زمونږه، د هغه له وجود جوړ دے
"نور د خداى" ته څوک نه وايي، زيږېدلے وسېدلے
او د خداى د خلعت تار شي، نه رېشلے نه وودلے

دچاپښو ته چې ؤ بیاسته، ملک ؤ رنګ ؤ آب او جد دے
دا بې سوله بې خبر په، **لم یلد ولم یولد** دے

## ولم یکن له کفوًا احد

چې دنیا ته کتل نه کړي، زړهٔ یې په خدای پورې تړلے
مسلمان د دې خوبیو، څهٔ وي؟ تا دے پېژندلے؟
راشه واوره ریدي ګل دے، چې ولاړ د غره پر سر دے
له څولۍ نه د ګل چینو، ډېر دے لرې بې خبر دے
سرې لمبې ختلي وینې؟ د دهٔ اور په غرهر دے
دا قوت خو له ساګانو، موندے ده د لوے سحر دے
دې آسمان دے کلک نیولے، په ځان پورې که پوهېږې
وروستنے ستورے یې شماري غورزوي یې نه له غېږې
اول ده ته په پښو پرېوځي، پلوشې د لمر چې پاځي
د خوب دوړې یې له سترګو، شبنم وینځي چې را ځاځي
**لم یکن** پورې بنهٔ کلک شه، چې بیل نه شې له دې تاره
ستا مخي به پکښې نه وي، که قامونه شي بې شماره[ج]
هغه ذات چې بې مثال دے، یکي یو دے لا شریک
د بنده سره یې نه بنایي، هم دي نه وي ستا شریک
د مومن مقام اوچت دے، د بل هر یو بر نه بر دے

نه زغمي د دهٔ غیرت بل، که د سر دپاسه سر دے
د لا تحزنوا* کنډر يې، اغوستلے پکښې ژوند کړي
تاج **دانتم الاعلون**، يې پر سر باندې څنګه خوند کړي
بار د دواړو جهانونو، د مومن اوږو کړو پورته
بحروبرد دهٔ په غېږ کښې،دے لوے شوے ګوره يې زورته
غوږ يې تندر ته تل ایښے، په باران او په ږلۍ کښې
چې کړس وکړي راخطا شي، سم يې واخلي په ځولۍ کښې
د باطل په مخکښې توره، د حق ډال تل يې سائل کړي
امر و نهي يې خير او شر نه، لکه تله ده تلل کړي
د سکروټي يوه غوټه يې، سرې لمبې لري سوونه
ژوند کمال ورځنې مومي، دے جوهر يې بې کمونه
په فضا د دې دنيا کښې، که شته ډېره هله ګله
بې د دهٔ له يو تکبيره، نغمه نه شوه چيغه بله
ډېر يې عدل اوبخښه، هم احسان د دهٔ عظيم وي
که له قهره سور انکار وي، هم مزاج د دهٔ کريم وي
په بزمونو کښې يې ښهٔ ساز و،هرچاته زړونه ښهٔ کړي
په رزمونو کښې يې تاوونه، غرونه اوسپنې اوبهٔ کړي
د بلبلو سره يو ځاے، په چمن کښې دے چغار کا
په بېديا او په ځنګل کښې، کټه باز الوځي ښکار کا
دمه نه مومي هيچرې، د دهٔ زړهٔ د آسمان لاندي
خټه يې هله شي قراره، چې شي دا په فلک باندي

* ولا تهنوا ولا تحزنوا و انتم الاعلون .... الخ. (قرآن)
ژباړه: مه غم کوئ مه ويره کوئ هم تاسو به ډېر اوچت يئ.

پر ټوټکے د دهٔ مارغه کړي، ستوري دے ورته خځوځي
له دې زوړ آسمانه آ خوا، چرته ډېر لري الوځي
تا ځانګونه دي را نغښتي، نه يې آسمان ته الوتلے
لکه وي چينجے د ختو، خاورو لاندې پروت يې غلے
له قرآنه چې شوې لرې، خوارۍ شوې درباندې ډېرې
سر وهې له زمانې تل، له دوران ځنې يې انګيرې
لکه پرخه له آسمانه، يې پر ځمکه را ګوزاره
دا ژوندے کتاب په تخر کښې، او بيا هم نه مومې لاره
په دې خاورو په څو رغړې، پاځهٔ دا وطن دي پرېږده
شابه پورته کړه واخله، د آسمان پر سر يې کښېږده

## مصنف په حضور کښې د رحمة اللعالمين ص

اې چې ستاظهور زلمے کړو،ژوند اومتوب وُلا تر اوسه
ستاجلوه ورته تعبير شوه، ژوند يو خوب وُ لا تر اوسه
ځمکې ستا له لوړ درباره، دا بې شانه عزت و موند
چې ستا بام يې ښکلولو، آسمان ځاے و اوچت و موند
ټول جهان کښې هر مخه، ده روښانه ستا له مخه
ترک، تاجک،عرب،هندي څه، ستا په نورکړي د هر څوک سخه(۱)

(۱) لوے.

ستا له مخه جوړه رنګه، د دې واړه کاينات ده
ستا له فقر ځنې پنګه، د دې واړه کاينات ده
په دې غونډه د دنيا کښې، تا د ژوند ډيوه کړه بله
بندګانو ته دي خنګه، سروري ور وښيله
چې ته نه وې په جهان کښې، شرمنده او لکه ورک وو
د اومو خاورو کندوان ؤ، صورتونه داسې سپک وو
خاورو هم اورونه وکړل، دم قدم د هر څۀ سم کړل
تا د تورو خاورو څلي، په دنيا کښې بنيادم کړل

ذرې وختې را تاوې، له سپوږمۍ او هم له لمر شوې
يعني ستا له برکته، دوے له خپل زوره خبر شوې
چې نظر مې په تا پرېوت، د هر چا د سترګو توره
ډېر بې شانه راته خوږ شوې، هم له پلاره هم له موره
عشق را باندې اور بل کړے، تن تنور په غوره هار دے
خدایج ده سره ښۀ وکړه، روح مې هم سره انګار دے
يو فرياد زما سامان دے، يم شپېلۍ سورے ځيګر کښې
دا يوه ډيوه بليږي، په دې کور لکه کنډر کښې
زړۀ پټ- پټ کوي دردونه، داسې غم نه ويل ګرانه
د ښيښې په کوزۀ ګۍ کښې، د شراب پټول ګرانه
د نبي ص له راز نه څومره، مسلمان دے لرې وتے
دا کعبه شوله بيا ډکه، هر يو بت ور ننوتے
د چا لات د چا منات دے، چا عزا د چا هبل دے
هر يو تخر ته چې وګورم، بت پټ کړے هر يو غل دے

شېخ بامبړ ته کافر واي، خو په خپله ځنې زیات دے
د دهٔ سر په سترګو وینم، چې دننه سومنات دے
رخت دژوند یې د عرب نه، کړو راپورته خوند د دهٔ شو
د عجم شراب خانې ته، چې را ورسېد ویده شو
د عجم اوبهٔ د واورو، مړه د دهٔ لاس او هم پښې شوې
له یخنۍ د ږلو اوښکو، سرې لا د دهٔ نشې شوې
د کافر غوندي د ګیرې، له اجله کوي ویره
په سینه سیلۍ کښې نشته، د ژوندي زړهٔ مرغلره
طبیبانو ته مي یووړو، خو ژوندے نه شو دا مړے
اې د دوو کونو سرداره!ص، اوس مي تاته دے راوړے
ما دې مړي ته اوبهٔ دي، د حیوان ور ځښولي
ما رازونه اسرارونه، د قرآن ورته ویلي
ورته تېر شومه د نجد، د یارانو له داستانه
هم خوږې ورمې مي راوړې، څو د نجد له بوستانه
د وینا په بله شمعه، دا مجلس کړو ما روښانه
د ژوندون په رمز پوهه، ما دا قام کړو تر خپل توانه
قام کړو تور راپورې وایي، چې افسون د فیرنګي دے
دا د دهٔ غوغا او شور خو، له قانونج د فیرنګي دے
اې چې تا زما دپاره، د سلما دغه ساز غور کړو
څهٔ نصیب د بصیري[1]، ؤ خپل څادر دي ور پر سر کړو

[1] بصیري د قصیده برده مصنف چې په خوب کښې یې نبيِ کریمص ته قصیده واوروله، او هغوے ورته په بدل کښې خپل څادر ورکړو، څهٔ نصیب ؤ، د بصیري، خوک وایي چې بصیري چې دا خوشحالي پ ویښه لیدلې ده، خدای به خبر وي.

ذوق د روغې سمې لاړې، ورکړه ته دې خطاکار ته
بې خبر له خپل متاعه، ورکړه رو دې ګناهګار ته
که زما وي په سینه کښې، زړهٔ هینداره بې جوهره
که په تورو کښې زما وي، بې قرآنه څهٔ خبره
نو اې ته خبر زموږه، په حالونو د سینو یې
پلوشه د سحرونو، د وختونو زمانو یې
نو زما د داسې فکر، د ناموس خیري لمن کړه
که زما وجود ازغے وي، نو جارو یې له دې چمن کړه
دژوندون قمیص پرې تنګ کړه، که په تن کښې مي ضرر شته
دوګړي نه یې په څنګ کړه، په ده کښې داسې شر شته
که پټے مي شاړ بنجر وي، مه یې شین سمسوروه ته
د سپرلي ډکي وریځې، باندې مه را وروه ته
په انګورکښې مي نم وچ کړه،داشراب له مرګه تېر کړه
کافوري شراب زما ته، په ترخو زهرو ګنډېر کړه
ما شړلے، شرمېدلے، د قیامت په لوے میدان کړه
ستا د پښو د ښکلولو، ما زړهٔ چاودے په ارمان کړه
او که نه، ما له قرآنه، مرغلرې وي پېیلې
مسلمان ته لار ښیلې، حق وینا مي وي ویلې
نو بیا ستا احسان دے داسي، ذره کړي له لمره تېره
د وینا په مزدورۍ کښې، ستا یوه دعا ده ډېره
غني خدای ته لاس کړه پورته،چې زما وړۍ شړۍ کړي
چې مي عشق اوعمل دواړه، یو تر بل غاړه غړۍ کړي

ناقراره روح يې راکړو، دا منم چې لوے دولت دے
د دين علم يې هم راکړو، دا منم چې لوے عزت دے
خو زۀ داسې لويي غواړم، چې ملا و تړم عمل ته
چې زما نيسان ګوهر شي، و رسي د بحر تل ته
چې راغلے يم دنيا ته، او په زړۀ کښې تل ارمان دے
چې لا نه دے رژېدلے، نو هغه لا بل ارمان دے
لکه زړۀ وي په سينه کښې، هسې دے پکښې آباد دے
د ژوندون د سحر راسي، د دې خونې خانه زاد دے
ما چې ستا نامه له پلاره، کله راسي اورېدلې
هغه راسي زما خونه، دې ارمان ده سوځولې
دا آسمان چې ځنګه ځنګه، زړوي او سړوي ما
د دنيا په دې ټيکري کښې، لوبوي او رغړوي ما
دا ارمان مې زلمے کيږي، ورځ په ورځ لشه پيدا کا
دا زاړه شراب تېزيږي، ورځ په ورځ نشه سيوا کا
دا زما په خاوره پټه، تمنا ګوهر بليږي
چې زما شپه ترې رڼه ده، دا يو ستورے دي ځليږي
د پړے مخو د ګل رنګو، سره ډېر يم اوسېدلے
د ګلګوت وېښته خوبانو، سره عشق يم لوبولے
ناست دښکليو په ټولګي کښې،په نشومې خوا سره کړه
د آرام بله ډيوه مې، په لمن وهلو مړه کړه
تندرونه را خطا شول، او زما رشه يې صفا کړه
په ډاکو پسې ډاکې وي، د زړۀ خونه يې تالا کړه

ولې دا زاړه شراب مي، په پیالۍ کښې لا پراته دي
دا له اوره ختې رزم، په څولۍ کښې لا پراته دي
زما عقل بت پرست ؤ، ده زنار کړلو په غاړه
ده خپل نقش کښېښولو، ملک د روح مي لکه پاړه
په مودو- مودو موښې، په مغزو کښې زما شک ؤ
نه مي تلو له خشک دماغه، لکه رنګ ورپورې کلک ؤ
د یقین د علم چرې، ما یو توری نه ؤ وړې
زهٔ د عقل او ګومان په، دنیاګۍ کښې ځان وم سترې

بېګانه زما تیارې وې، تل د حق له رڼاګانو
بې نصیبه مي ماښام ؤ، د شفق له ځلاګانو
ولې ننه مي په زړهٔ کښې، دا خبره وه پرته وه
ښه سنباله په سیپۍ کښې مرغلره وه پرته وه
آخر شور مي شو په زړهٔ کښې، نارې پاڅېدې له خوبه
کاشې شوې ترمورګومورګوخاخکي تویې شول له څښوبه
اې چې زړهٔ مي رڼا خونه، پکښې تل ستا محبت وي
زهٔ به خپل ارمان ښکاره کړم،خو که ستاسو اجازت وي
چې په ژوندکښې یې عمل نه وي،نوهغه به لا څهٔ وایي
جوګه نه یم دا ارمان مي، هم زما سره نه ښایي
زهٔ چې نیت کړم د ویلو، حیا شرم مي ټول تویې کړي
خو چې ستاشفقت ته ګو رم، نیت مي پوخ او زړهٔ مي لوې کړي
چې رڼاترې ټول جهان دې، دغه ستا د رحمت شان دې
چې زهٔ مړ شوې په حجاز کښې، دغه یو زما ارمان دې

يو مسلم چې بې له خدايه، نور له هر څۀ بېګانه وي
د زنار مزے پر غاړه، پروت به څو په بتخانه وي
که تمامه يې شي اوربشه،مرګ يې و وهي اورمېږکښې
هاے ارمان چې درمسال بې،صورت ونيسي په غېږ کښې
دا زما هډوونه خاوره، که شي پورته ستا له دره
دا بې خونده نن مي څار شه، د صباح غوندي اختره
مبارک نشته دې ښار بل، ته پکښې وې له هغه نه
تورې خاورې يې رانجه دي، چې پکښې وه ستا مېشتنه
چې استوګنه د محبوب ده، هغه ښار دے چې ديار دے
دا وطن خوږ دے عاشق ته، څنې ځار دے چې د يار دے
کړه اوچت او ځلېدلے، دا زما پرېوتے ستورے
د يو څلي جوګه راکړه، ماته ستا د دېوال سيورے
چې دا بې ټيکاوه زړه،مي ستا په خوا کښې په ارام شي
چې شي لرې لړځېدني، چې پاره زما قيام شي
چې فلک ته يو رږغ وکړم، چې اې! ګوره مي آرام ته
تا آغاز زما ليدلے، اوس مي وګوره انجام ته

پاے

# پیامِ مشرق

## ژباړه

## شېرمحمد مینوش

# فهرست


| مخ | سرلیک | شمېر |
|---|---|---|
| ۲۵۳ | پېش کش په حضور کښې د اعلي حضرت امیر امان الله خان | ۱. |
| ۲۶۱ | لاله طور | ۲. |
| ۳۰۹ | افکار رومبے ګل | ۳. |
| ۳۰۹ | دعا | ۴. |
| ۳۱۰ | د اختر سپوږمۍ | ۵. |
| ۳۱۰ | د فطرت تسخیر | ۶. |
| ۳۱۱ | د ابلیس انکار | ۷. |
| ۳۱۲ | آدم ته لمسون | ۸. |
| ۳۱۳ | آدم له جنت نه را ووځي او وایي | ۹. |
| ۳۱۳ | د قیامت ورځ | ۱۰. |
| ۳۱۴ | د ګل خوشبوئ | ۱۱. |
| ۳۱۵ | د وخت چیغه | ۱۲. |
| ۳۱۶ | سپرلے | ۱۳. |
| ۳۱۹ | دایمي ژوند | ۱۴. |
| ۳۲۰ | د ستورو خیالات | ۱۵. |
| ۳۲۱ | ژوندون | ۱۶. |
| ۳۲۱ | د علم او عشق خبرې | ۱۷. |
| ۳۲۲ | د ستورو سندره | ۱۸. |
| ۳۲۵ | د سحر نسیم | ۱۹. |
| ۳۲۵ | د باز نصیحت خپل بچې ته | ۲۰. |
| ۳۲۷ | د کتاب چینجے | ۲۱. |
| ۳۲۸ | کبر او غرور | ۲۲. |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۳. | د ریدي ګل | ۳۲۹ |
| ۲۴. | حکمت او شعر | ۳۳۰ |
| ۲۵. | اور اورکے | ۳۳۰ |
| ۲۶. | حقیقت | ۳۳۲ |
| ۲۷. | حُدي ((د حجاز د ساروان نغمه)) | ۳۳۳ |
| ۲۸. | د اوبو ښاښکي | ۳۳۶ |
| ۲۹. | د خدای تعالٰے او انسان تر منځ خبرې | ۳۳۷ |
| ۳۰. | ساقي نامه | ۳۳۸ |
| ۳۱. | شاهین او ماهے | ۳۴۰ |
| ۳۲. | اور اورکے | ۳۴۱ |
| ۳۳. | تنهائي | ۳۴۱ |
| ۳۴. | پرخه | ۳۴۲ |
| ۳۵. | عشق | ۳۴۵ |
| ۳۶. | که ژوندون غواړې مدام یه په خطر | ۳۴۶ |
| ۳۷. | د عمل دنیا | ۳۴۷ |
| ۳۸. | ژوندون | ۳۴۸ |
| ۳۹. | د یورپ حکمت | ۳۴۸ |
| ۴۰. | حوره او شاعر | ۳۵۰ |
| ۴۱. | ژوند او عمل | ۳۵۱ |
| ۴۲. | الملك لله | ۳۵۱ |
| ۴۳. | د اوبو لښتے | ۳۵۲ |
| ۴۴. | د عالمګیر خط | ۳۵۴ |
| ۴۵. | بهشت | ۳۵۴ |
| ۴۶. | کشمیر | ۳۵۵ |
| ۴۷. | عشق | ۳۵۶ |

۴۸. بندګي ۳۵۷
۴۹. غلامي ۳۵۷
۵۰. د تورې اړ ۳۵۸
۵۱. جمهوريت ۳۵۸
۵۲. په یورپ کښې اسلامي مبلغ ته ۳۵۸
۵۳. غني کشميرے ۳۶۰
۵۴. مصطفٰے کمال باچا ته خطاب ۳۶۱
۵۵. الوتکه ۳۶۲
۵۶. عشق ۳۶۳
۵۷. تهذيب ۳۶۳
۵۸. پاتې شراب غزلې ۳۶۴
۵۹. بهار چې په ګلشن کښې خوشحالۍ کړلې برسېره ۳۶۴
۶۰. حلقه مي کړه په ځلي باندې جوړه نوحه ګرو ۳۶۵
۶۱. مدام نوي خدايان مي فکر ځان له جوړوي ۳۶۶
۶۲. د خپلو روغو سترګو نه زما دغه ګیله ده ۳۶۷
۶۳. په دې طریقه دلته د محرم تلاش کومه ۳۶۹
۶۴. حجاب لرې که ځه د محرمانو نه د ساز ۳۷۰
۶۵. د باچا په کل چاکران زۀ پویومه په دې راز ۳۷۱
۶۶. راشه نن چې ساقي ښکلي لاس کښې واخستلو چنګ ۳۷۲
۶۷. ما سجده بت ته ونه کړه بتخانې مي کړلې ورانې ۳۷۳
۶۸. د سپرلي هوا د باغ نه کړله جوړه ميخانه ۳۷۴
۶۹. هغه ترك ګرم مزاج ته مي د لوري سلام وايه ۳۷۵
۷۰. چې آشنا دي هر ازغے که د قصې سره زما ۳۷۶
۷۱. بختور، عقل د ميو په انګار و سوځوه ۳۷۷
۷۲. آسمان مو شه آشنا زرکه شراب راله راوړه ۳۷۷

۷۳. د توري، د خنجر او د نېزې کړم تمنا ۳۷۸
۷۴. په تار کښې د زنار د تسپو زده کړه بوښل ۳۷۹
۷۵. د خپلو خاورو غواړه چې کوم اور نه دي پیدا ۳۸۰
۷۶. د بحر د سینې نه د ے آسان د موج شلول ۳۸۲
۷۷. ټوله شپه د غم په شوګیرو کښې تېرول ۳۸۲
۷۸. کړه توري په رانجو دي دا ملالي سترګې بیا ۳۸۳
۷۹. د عقل د مکرونو کشمکش د ے د لیدو ۳۸۴
۸۰. په زړۀ کښې مي ارمان د هغه بدر د لیدو د ے ۳۸۵
۸۱. د تندي نه په ښاخ کښې د ژوندون مي ده نمي ۳۸۶
۸۲. فرق نه که په کعبه او بتخانه کښې عاشقان ۳۸۷
۸۳. د عدم د خوبه سترګې به پر مخ دي غړومه ۳۸۸
۸۴. د ښیښې دغه ګنبد هم یې دا لوړے او ژوري ۳۸۹
۸۵. په صوفیاوو کښې یو صوفي ته لیکلے ۳۹۰
۸۶. یم رهبر د شوق د لاري لمن کلکه زما نیسه ۳۹۱
۸۷. زما د زړۀ دنیا کښې خو دوران د قمر نشته ۳۹۱
۸۸. زما چیغې نا رسا دي بې اثره مي ژړا ۳۹۲
۸۹. سوز و ساز د شاعرۍ وي د زړۀ چیغې مستانه ۳۹۳
۹۰. لوړے والے واخلي غرونو نه وښو ته یې بخښي ۳۹۴
۹۱. حرم کښې ته ځایېږې نه راځې په بتکده کښې ۳۹۴
۹۲. د عجم د بت کدو ګرمي نه رسي تر ګداز مي ۳۹۵
۹۳. آئینې هسې مه وینه همېشه پردے جمال ۳۹۶
۹۴. د عشق دنیا کښې شته نه امیري نه سروري ۳۹۶
۹۵. چې مي غلام نه د ے د دوست داسې سردار نشته ۳۹۸
۹۶. په باغ کښې لېونو بلبلو بیا وکړ آواز ۳۹۹
۹۷. د خاورو نه پیدا تلو کښې یم تنده ستاره ۴۰۰

۹۸. د سرو اوبنکو په درياب مي تول عرب شه لاله زار ۴۰۰
۹۹. دے نقصان دي په نظر کښې هم دے عقل کچه ستا ۴۰۱
۱۰۰. په شرابو دي سر خوش يو خم شکن نه دے چې نه دے ۴۰۲
۱۰۱. که شاهي ټوپۍ او تاج يې هډو نشته دے پر سر ۴۰۳
۱۰۲. يو انګار لري په ګيږ کښې بې پروا مينه زما ۴۰۴
۱۰۳. تا بتان نوي جوړ کړي صد افسوس ۴۰۵
۱۰۴. نقشِ فيرنګ نظمونه ۴۰۶
۱۰۵. پيغام ۴۰۶
۱۰۶. جمعيت الاقوام ۴۱۰
۱۰۷. شوپن هار او نټشا ۴۱۱
۱۰۸. فلسفه او سياست ۴۱۲
۱۰۹. صحبت رفتګان ((په عالم بالا کښې)) ټالسټائ ۴۱۲
۱۱۰. کارل مارکس ۴۱۲
۱۱۱. هيګل ۴۱۳
۱۱۲. ټالسټائ ۴۱۳
۱۱۳. مزدك ۴۱۳
۱۱۴. کوهکن ۴۱۳
۱۱۵. نټشا ۴۱۴
۱۱۶. حکيم آئن سټائن ۴۱۴
۱۱۷. بائرن ۴۱۵
۱۱۸. نټشا ۴۱۵
۱۱۹. جلالؒ او هيګل ۴۱۶
۱۲۰. پټوفي ۴۱۷
۱۲۱. د فرانسيسي حکيم اکسټس کومټ او د مزدور محاوره ۴۱۸
۱۲۲. هيګل ۴۱۹

۱۲۳. جلال رح او ګوئټې ۴۱۹
۱۲۴. د برګسان پیغام ۴۲۰
۱۲۵. د یورپ میخانه ۴۲۱
۱۲۶. موسیو لینن او قیصر ولیم (لینن) ۴۲۱
۱۲۷. قیصر ولیم ۴۲۲
۱۲۸. حکماء ۴۲۳
۱۲۹. لاك ۴۲۳
۱۳۰. کانټ ۴۲۳
۱۳۱. برګسان ۴۲۳
۱۳۲. برونڼګ ۴۲۳
۱۳۳. بائرن ۴۲۳
۱۳۴. غالب ۴۲۴
۱۳۵. رومي رح ۴۲۴
۱۳۶. د یورپ میخانه ۴۲۴
۱۳۷. انګلستان ته خطاب ۴۲۵
۱۳۸. د مزدور او مالدار وېش ۴۲۶
۱۳۹. د مزدور چیغه ۴۲۶
۱۴۰. د سمندر ازادي ۴۲۷
۱۴۱. خرده ۴۲۸

# پېش کش په حضور کښې د اعلي حضرت

## امیر امان الله خان د افغانستان د مستقبل دولت فرمانروا خلد الله ملکه و اجلاله.

اې امیره! اې کامیابه شهریاره!
په ځوانۍ کښې د بوډا هسې هوشیاره!
ستا نظر د هر یو راز وینم محرم
په سینه کښې د زړګي دے جام د جم
اراده دي پائنده لکه د غر
هره ګرانه کړې په پوهه باندې سر
ستا همت زما د خیال رنګي بلند
د دانه وانه ملت کاندې پیوند
دي درکړي باچهانو پېشکشونه
بې بها لرې یاقوت ښایسته لعلونه
اې امیره! اې په پلار نیکه امیره!
کړه قبوله دا تحفه ته له فقیره
چې په راز یې د ژوند کړمه خبردار
که په تن یې را له پورې یو انګار

یو آواز مي دا سینه کړه نوراني
چې په عشق باندې یې راوسته ځواني
د یورپ پیر چې شاعر دے جرمني[1]
چې عاشق دے پوخ د ژبې پهلوي
ده د مستو معشوقو جوړ کړو بیان
کړو مشرق ته یې سلام هسې عیان
د مشرق نه یې ما وکړولو ځواب
چې ماښام له د مشرق شولو ماهتاب
چې د ځان نه خبر یم نه یم خودبین
اوس کوه د حقیقت مو ته تعین
هغه ځوان ؤ د یورپ تلو لکه برق
د پیرانو شونډې زۀ لرم د شرق
دې چمن کښې دے پیدا پکښې لوے شوے
زۀ د وچې للمې ځمکې ټوکېدلے
هغه باغ کښې د بلبل هسې ګویا
زۀ جرس هسې رغېږم پر بېدیا
دواړه پوهه یو په زړۀ د کاینات
دواړه مرګ لره یو زېرے د حیات
دواړه تورې یو صیقل کوه نظر
زۀ دننه لا په کاټې غه بهر
ملغلرې یو هم دواړه بې بها
په یو بحر ناپایاوه کښې پیدا

[1] شاعر الماني "ګوئټې"

چې هغه شو سمندر کښې بېقرار
نو ګرېوان يې د سينې کړو تار په تار
زهٔ سيپۍ کښې هغه شان يمه بې تاب
په لړمون کښې د يو بحر ناپاياب
لاړ له ما ځنې اشنا مي بېګانه
هم له د ير ځنې مي تشه پيمانه
ورته شان زهٔ د خسرو عطا کوم
د کسرٰے تخت يې د پښو د لاندې ږدم
دا نادان راځنې غواړي دلبري
ما نه غواړي مزيداره شاعري
ناقرار زړهٔ مي نه وينې کم نظر
ظاهر ويني د باطن دے څهٔ خبر
چې فطرت مي عشق په غېږ کښې اونيوه
د خشاک او اور ياري سازهٔ کړه ده

حق زمونږ د ملک او دين کړه را عطا
بل مي هر نقش د سترګو شو فنا
د ګل پاڼه مي شوه ښکلې په مضمون
زما هره مصرعه څاڅکے مے د خون
لېونتوب و نه ګڼې دا شاعري
ده کمال د دې جنون کښې هوشياري
په دولت يې د هنر کړمه مالدار
خو د هند په دې وطن يې کړمه خوار

د غوغا نه مي ګلونه بې نصیب
په خپل باغ کښې یم بې ملکه عندلیب
دا آسمان دے تل ملګرے د ارذال
هاے افسوس! د باکمالو دے بد حال
ښه یې وینې ته باچا عالي جناب
چې لا لمر مو دے دننه په حجاب
حجازي خپله میره کښې شه ګمراه
تپ یې نه لري سینه د الاالله
په غولې کښې د نیل پرېواته مصریان
شو بېکاره د توران زلمي نران
په شکنجه کښې د وخت ګیر شو عثماني
چې مشرق، مغرب یې وینې کړو خوني
هېر د مینې نه آئین شو د سلمان رض
د ایران مځکه شته، نشته ایرانیان
سوز و ساز د ژوند یې خاوره نه لري
شوه سینه یې د زاړه اوره خالي
او هندي مسلم د خېټې دے غلام
ځان بایللے بې خبره د اسلام
چې مسلم کښې پاتې نه شوه محبوبي
نه خالد رض شه نه فاروق رض نه ایوبي رض
اې فطرت چې درکړه پاکه آئینه
هم د دین په غم سورے- سورے سینه

د صدیق[رض] او عمر[رض] کړه دستور تازه
د میرې په ګل صبا هسې ورځه
دغه قام دے واړه خور په سمه غر
چې په ښته دے هر یو زمرے ببر
پوهه کلک دے او روښانه یې جبین
هم نظر یې تېز په شانې د شاهین
د خپل حق نه بېنوا دے په دنیا
د قسمت ستورے یې نه لري پړقا
ځان له ناست دے خلوتونو کښې د غر
د ژوندون د هنګامو نه بې خبر
محنتي یې خدای درکړې حوصلاً*
د پښتون تهذیب ته و بخښه ځلا
په صدیقو کښې چې شمار شي دا امت
شي به دین لره هم پنګه د قوت
زندګي کوشش دے نه دے د چا حق
بې د علم نه موندے نۀ شي منطق
وایي خدای چې دے حکمت خیرِ کثیر
د هر ځایه یې حاصل که په تدبیر
پیغمبر[ص] زمونږ چې رایې وړ کتاب
وو رازونه ورته واړه بې حجاب

---

* حوصله

عینِ ذات یې په چشمانو ولیده
بې اختیاره ربي زدني اووې ده
آسماني علم دے علم د اشیا
هم همساده دغه هم یدِ بیضا
په دې علم د یورپ ده ترقي
چې ماسته پرې د شلومبو نه جوړوي
خو په موړه کښې ذوق نه شته د احساس
ګني خوارې دا ذرې دي د الماس

دې ملت لره نظام علم دولت
معتبر شي په دې شي سره ملت
د آزادو ځنې علم زده کوه
او دولت د غر سینه کښې لټوه
په خنجر وهه کالبوت د کاینات
لري ګېډه کښې ګوهر لکه سومنات
شته لعلونه دي سوچه په بدخشان کښې
د سینا رڼا دي شته په کوهستان کښې
دے په کار درته کشور محکم اساس
هم نظر درله پوره مردم شناس
آدم زاد دي ډېر چې کاندي ابلیسي
شیطانان دي ډېر چې کاندي ادریسي
تش نمود وي د ظاهر خرخوي رنګ
د لاله غوندي یې پروتوي په زړهٔ رنګ

ښه خو ښکاري خو دا نه یې ده ټکي
ده په ترخ کښې یې کلهم ټکي برګي
ته بینا یې ورته ښۀ کوه نظر
پړقېدونکې هر حجر نه دے ګوهر
هغه پاک رومي حکیم چې لرم پیر
د ژوندون او مرګ کوي هسې تفسیر
هر امت چې تباه شوے پخوا ؤ
دوے په کاڼو به د عود ګومان کا ؤ
زموږ دین کښې خادمي ده سرداري
فاروقي، عدل دے، فقر، حیدري
خدمتونو کښې د دین او د ملت
د زړګي سر کوه پټ مصلحت
چې د ځان شه په ربنتیا څوک څوکیدار
چرې وتې یې له دامه نه دے ښکار
قلندر اوسه جامه کښې د شاهۍ
همېشه غړوه سترګي په نېکۍ

د ملت هغه قائد باچا مراد
چې یې تبغ کښې تندر پړق ؤ خانه زاد
هم فقیر ؤ، هم باچا فریدون فر
آرد شېر ؤ خو ؤ روح یې د بوذر[رض]
ؤ لباس یې فولادي په تن مهین
خو زړګې یې په سینه کښې ؤ ربنتین

سرداري کړله هغې مسلمانانو
چې شاهي کښې يې ؤ خوےد فقيرانو
امارت کښې يې لا فقر زياتېده
او سلمان^رض^ شان مدائن کښې اوسېده
حکمران ؤ ورڅخه نه ؤ سامان
ؤ يې لاسو کښې فقط توره قرآن
چې سامان شه د چا عشق د مصطفیٰ^ص^
په پلو کښې د لمن يې شوه رڼا
سوز پيدا کړه د صديق^رض^ او د علي^رض^
د الله نه غواړه مينه د نبي^ص^
دے ملت د دۀ په عشق باندې حيات
هم دا عشق دے ساز سامان د کائينات
په جلوه د دۀ ظاهره تمامي شو
په ضمير کښې د وجود چې هر څۀ ؤ
د نبي^ص^ مينه دے روح لره آرام
د دې مينې ورځ له نشته دے ماښام
پاڅۀ دور کړه تازۀ د عشق د جام
کړه تازۀ غر کښې د عشق هغه پيغام

# لاله طور

(۱)

شهيد يې که په ناز همه مجلس دے د وجود
نياز يې په هر شي کښې برابر وينه موجود
لمنو د آسمان وته سحر که نظر وکړې
نو لمر يې په تندي باندې ده نخښه د سجود

(۲)

په نور که مې د مينې دے روښانه اندرون
د سترګو نه مې څاڅي که د اوښکو په ځاے خون
الله! د ژوند د رازهٔ يې ټول عمر کړے محروم
هغه سړے چې وايي محبت وته جنون

(۳)

که عشق بخښي باغونو ته هوا د فرور دين
عطا کړي ځنګلونو ته غوټۍ لکه پروين
پلوشې د لمر د مينې چې درون په سمندر شي
په تل کښې يې مهې وته نظر بخښي ره بين

(۴)

ده مینه چې بها د باتورانو کموي
تنذري په بازونو پسې مینه خلاصوي
زړګې مي ځان په دړه ساتي تول عمر د دهٔ نه
خو مینه پرې ورتوپ کړي په یو چل یې ګیروي

(۵)

پر پاڼو د لاله د ګل کوي کله نقشونه
په ما کله را خلاص کړي د غمونو لښکرونه
سینه دي د دې خاورو هر چرې ک اوڅېرله
پکښې به ووینې د محبت پوره قتلونه

(٦)

د مینې په دولت باندې موړ نه دے هر انسان
او نه ده د هر چا سره دا مینه همزبان
په مینه شي زرغون دغه لاله په زړهٔ داغلے
شي پاتې بېنوا د مینې لال د بدخشان

(۷)

د بوے هسې پرېشانه دې چمن کښې يمه زه
خبر نه يم چې څۀ مې مدعا ده کوم څه؟
ک سر شي که سر نۀ شي تمنا مې په دې نه يم
مین په سوز و ساز د تمنا دے زما زړه

(۸)

جهان دے موټے خاورې دغه زړۀ يې دے حاصل
هم دغه څاڅکے وينه يې بنا ده د مشکل
دوبين مو دے نظر ګني چې فکر ورته وکړې
په خپل زړۀ کښې جهان دے د هر چا پوره کامل

(۹)

چمن کښې عندليب هسې سحر اووې مالي ته
په خاوره د دنيا به بس د غم بوټے کرې
نظر کوه ازغي وته چې پوخ عمر ته رسي
او ګل شي په ځوانۍ کښې نيمه خوا ذرې ذرې

(۱۰)

نظر کوه دنيا ته چې هر بود يې دے نابود
او زيان يې دے ترلے جوخت لمن سره د سود

کړه ورانې دا زړې واړه، د نوو بنا کښېږده
زیاتي زهٔ د دنیا زغملے نه شم دیر و زود

(۱۱)

نغمې د محبت لره آدم دے ګورې ساز
مدام سپړي ګلونه لا دے خود هغسي راز
جهان هغه پیدا کړلو آدم لا ښایسته کړو
شریک یې د نظام دے خو په لارې د نیاز

(12)

غرض مي نه انجام، نه مدعا مي ده آغاز
د راز په طلب ګرځمه په خپله یمه راز
که لري څوک د مخ د حقیقت ځنې پړده کړي
خو هغه تلوسه به مي بیا هم وې د مجاز

(۱۳)

که تا سره همرایه هڅو نه ده پروانه
نو هېره دي کړه ولې خپله طبعه مردانه
د ځان په دغه اور خو دي یو ځلي ځان ستي کړه
لا ګورې به تر څو پورې اورونه بېګانه

(۱۴)

د خاورو نه دي ځان له بدن جوړ که په زمين
چې وي پوره محکم او د قلا هسې سنګين
پکښې دغه دردمند زړهٔ چې دے اوسي هسې شان
لمنو کښې د غره لکه لښتے چې وي شيرين

(۱۵)

د خاورو ځنې جوړ کړلو وجود ښکلے الله
دنيا هم د ارم د ښاريې ځنې زيبا
مګر دغه ساقي د عشق د ميو په انکار
لا جوړه مي د خاورو نه کړه بل رنګې دنيا

(۱٦)

ګويانه شو بامبړ د خداى په مخکښې په محشر
کمال د زندګۍ هډو يو پړق ؤ د شرر
ليکن که خفه کيږې نه نو کړم يوه خبره
چې بت مي د آدمه ځنې دے پائنده تر

(۱۷)

چې ځومره ګرندے د صبا ستوریه ته لاړې
زما د غرقه خوبه جوړې لاړلې ویزار
زما نه ګورې لار ده جهالت غلطه کړې
او ته راغلے وینښ وې هډو وینښ لاړې په لار

(۱۸)

مدام به وه خالي له شور او شر نه میخانه
او خاوره به مو هم وه د انکاره بېګانه
نه ؤ به محبت نه به دا شور و شر د دۀ ؤ
د عقل په شان وې چرې زړګے که فرزانه

(۱۹)

پیدا یې هسې کړے د پرواز خودي اغاز
فطرت دے سراسر یوه مزه ده د پرواز
حرص خو پاتې کړے یمه زۀ د الوتو نه
او ته د الوتو په محبت یې سرفراز

(۲۰)

خبر نه یمه خدایه! په ژوندون کښې څۀ دے سود
د هرې ذرې زړۀ کښې چې دا جوش دے د نمود

چې تبغ د غوټۍ څيري کله څانګه کړي د بوټي
نو خنګه په خندا شي زر د ذوقه د وجود

(۲۱)

پتنګ ويل عدم کښې په انداز د بندګۍ
که ما ته را عطا شي څۀ ګداز د زندګۍ
سحر مې بيا ايره د دې وجود واړه تس نس کړه
خو بس يوه شپه راکړه سوز و ساز د زندګۍ

(۲۲)

يو راز مسلمانانو! لرم زړۀ کښې بې عديل
چې بر دے په رڼا کښې لا د روح د جبريل ع
د وخت د آذرانو مې ساتلے څکه پټ دے
چې دا يو امانت دے د رازونو د خليل ع

(۲۳)

مدام يې چې کوښې له ته زما زړګيه! ځې
نو وايه ما يواځې ولې دلته کښې پرېږدې؟
هر وختې خواهشونه چې له ځانه جوړوې
نو ښکارې چې اوزګار يې جوړې کار څۀ نه لرې

(۲۴)

د ستوري په سینه کښې دا منمه کوې لار
د ځان د حقیقت نه مګر نه یې خبردار
په شانې د دانې که دے لږ ځان ته شو نظر
جوخت سره به رابهر لکه د تېغ کړې په تلوار

(۲۵)

په وخت د صبحدم په یوه څانګه د بوستان
ویل په خوږ آواز یوې بلبلې هسې شان
باهر یې را وباسه چې دي هر څۀ وي سینه کښې
که آه وي، که سرود وي، که وي چیغه، که فغان

(۲۶)

د راز یوه خبره درته پټه غوندي وایم
زما نه که سبق د زندګۍ ته زده کوې
که ساه دي په بدن کښې چرې نه وه نو بس مړ یې
که ساه دي په بدن کښې وه نو هیڅکله نه مرې

(۲۷)

د هاغې وارخطا خبرې ما ته مه کوه
د سوز دغه وینا یې چې غوږونه خوږوي

پتنګ ویلي نه شم زهٔ هغې پتنګ ته چرې
چې نبغ په لمبه نه ورځي او څنګ ترې نه کوي

(۲۸)

چې شې یې ته په څښو سره له ځانه ناخبره
نو زهٔ ګورې اوبهٔ هغه خوندناکې نه لرمه
زما دغه بازار کښې لټون مه کړه د بل مال
د ګل هسې دولت بس د ګرېوان څېرې ساتمه

(۲۹)

دا سیل به مې د باغ چرې خوشحاله نه کړي تا
که ستا په زړهٔ کښې نه وي چرې ذوق د تمنا
رګونو کښې د ګل چې وي څهٔ پټ درته یې ښایم
طلسم د رنګونو ګورې باغ نه دے زما

(۳۰)

د بود او د عدم د دې غلیٔ ځنې را ووځه
د لاندې که د پښو دي دا جهان د کیف و کم
درون دغه بدن کښې دي تعمیر د خودیٔ وکړه
په شانې د خلیل[ع] شه ته معمار د دې حرم

(۳۱)

زهٔ یمه، د بلبلو د دې باغ ځنې ناشنا
په ښاخ د ځالې ناست ځکه چغېږمه تنها
زما نه کوه ډډه که زړګے دي وي کمزورے
چې سرې وینې څڅېږي د غوغا ځنې زما

(۳۲)

جهان دي دے اې خدایه! څهٔ عجبه میخانه
چې مست دي کړه تمام یوه دي ورکړه پیمانه
نظر دي له نظره سره که غاړه تر غاړه
او زړونه او روحونه د یو بل نه بېګانه

(۳۳)

خبره کړې خضرؑ ته څهٔ ښهٔ وه سکندر
په سوز و ساز کښې مل شه څه ته هم د بحر و بر
په شان د تماشګیرو تماشه کړې د جنګونو
ور دانګه ځان شهید کړه چې ژوندون دي شي بهتر

(۳۴)

شه تخت د قبا خاورې ورسره هم تاج د جم
دي خاورې دا ګرجه او بتکده او هم حرم

لا پوهه په ځان نه یم چې زما څۀ حقیقت دے
د خاورې نه پیدا، نظر له عرشه سره سم

(۳۵)

که ستا په موتي خاوره کښې دننه يې وي ایښے
یو زړۀ په غم د مینې سره غوښ پَرې پَرې
نو چل د ژړا زده کړه د وریځو د سپرلي نه
د اوښکو په باران به دي ګلزار وټوکوې

(۳٦)

مدام وینه نقشونه نوي نوي جوړوي
هیڅکله په یو شان نه وي قرار د زندګۍ
د نن دي هم نقشه لکه په شانې د پرون وي
نو خاوره کښې دي نه لري شرار د زندګۍ

(۳۷)

که ذوق مي د نغمو کړمه جلوت وته سائل
نو ګوره نمونه به دمحشر مي شي محفل
که شوه مي اراده چې په خلوت شمه دننه
نو ځاے به په زړګي کښې دا جهان کړمه کامل

(۳۸)

په زړه، سینه کښې شے څۀ دے؟ پوښتې يې څۀ حالونه
چې مل د عقل سوز د محبت شه نو شه دل
په سوز د محبت سره زړګے ګوره زړګے دے
د دې نه بېنوا چې شه کوم وختې بیا دې ګِل

(۳۹)

خرد ویل هغه کله په سترګو کښې ځایېږي
لري د شوق نظر ځکه امیده سره بیم
په هیڅ وجه قیصے چرې د طور به په زړۀ نۀ شي
چې شته دے تمنا ګورې هر زړۀ کښې د کلیمؑ

(۴۰)

که دیر، که جماعت دے، که ګرجه، که صومعه ده
بغیر د موتي خاورو دي نور هیڅ نه کړه پیدا
د غیر ځنې به خلاص به د زړګي د مرستې نۀ شي
خو حیف دے یه غافله! چې پیدا نه کړه زړۀ تا

(۴۱)

هیڅ کله د دنیا ښکلې په ژوند به نه شم ښاد
په دغه باب کښې یم له هره بنده زۀ آزاد
په باغ کښې د نسیم هسې څۀ وخت کښې ګرځېدمه
چمن مې که تازۀ ترې ووتمه لکه باد

(۴۲)

زندان به پخوانے درله په خود کړي دا شراب
تازۀ چې ور له جام کښې اچولي ما شراب
په شان د پخواني پیرِ مغان د پاکو میو
پور کړي مې د سترګو د ساقي صفا شراب

(۴۳)

زما کچه کنډول شه په دې میو جام د جم
دننه مې په زړۀ کښې سمندر وینه مدغم
د سر نه زما عقل بتکده وه جوړه کړې
په فیض د محبت د دې خلیل<sup>ع</sup> شوله مدغم

(۴۴)

په دام د نن پرون کښې مې دے عقل بندیوان
د غوړ سترګو بتان مې دي د عقل معبودان

دننه په لستوڼي کښې يې بت دے پټ نیولے
زنار يې د بامبړ هسې دننه په ګرېوان

(۴۵)

هر چا له عقل سر کښې اېښے شوے دے درون
د نورو هسې تن دے زما هم د خاک و خون
خو بې زمانه څوک هم په دې راز نه دے خبر
چې دے د خاک و خون دغه ضمير مي بې چګون

(۴۶)

په خواست چې د جلوې لاړلے طور له کوم دم
نو پوهه شوم د ځان د حقيقت نه يې محرم
دپاره د آدم د لټولو قدم واخله
الله دے ګوره هم په جستجو کښې د آدم

(۴۷)

زما له لوريه وايه هسې شانې جبرائيل ؑ ته
چې ما د ځان په شان ونه ګڼې ګورې نوري
زموږه د خاکيانو بې تابي ده د ليدلو
نوريانو څۀ ليدلې ده د مينې مهجوري

(۴۸)

هما د علم ورک به دي په دام هله انبنلي
چې ګير يې په شکونو کښې او کم کاندي يقين
په کار که دي عمل وي نو محکم دي دا يقين کړه
د يو شه هغه يو غواړه مدام اوسه يک بين
]

(۴۹)

د عقل ججابونو رانه پټه ستا ځېره کړه
نظر مي پرېشان دے په طلب دي د ديدار
زما د زړګي شوق سره مدام اندېښنې مل وي
اخته دي په کړاؤ کړم په غمونو ګرفتار

(۵۰)

د مرګ له ويري رېږي دغه زړهٔ دي هر زمان
او زېړ يې له دې ويرې نه په شان د کور کمان
د ځان نه خبردار شه چې محکمه دي خودي شي
نو بيا که هډو مړ شوې يې ژوندے به جاودان

(۵۱)

کوې د تن او روح مي د پيوند ځهٔ تپوسونه
چې ما په خومره ځنګه کښې نيولے هډو نشې

مثال مي دے د ساه چې هر ساعت وي ناقراره
چې وځم د شپېلۍ نه نوشي جوړي رانه چيغې

(۵۲)

په هسې شانې ما ته زما پير دي فرمايلي
چې ګوره دے هر نن کښې د صبا هغه پيغام
ساته دي دغه زړهٔ تل د کاواکو معشوقو نه
په بل دے بې دياره دا حرم ګورې حرام

(۵۳)

تپوس به د معنو د قرآن څهٔ کړې د "رازي" نه
زموږه دا ضمير يې د آياتو دے دليل
چې عقل بل کړي اور، نو همېشه پکښې زړهٔ سوځي
او بس دغه تفسير دے د نمرود او د خليل ع

(۵۴)

د ځان د شته او نشت په حقله ځکه يم خاموش
چې شم به خود پرست که چرې وايمه چې يم
خو پوهه نه يم هيڅ دغه ساده آواز د چا دے
چې ننه په سينه کښې زما وايي هو زهٔ يم

(۵۵)

زما له لوريه دا ښکلي شاعر وتهووايه
د سوز نه د لاله هسې هيڅ نشته دې فايده
د ځان په حرارت دي نشې ځان ويلي کولې
او نه پر بلواے شې د غمژن د شپې ډيوه

(۵٦)

آګاه دي په ښو بدو زۀ څۀ يمه د جهان
چې تا يې دے جوړ کړے سود او زيان لره ميزان
مجلس کښې دي تنها زما نه بل هډو څوک نشته
چې کړم په تورو سترګو تماشا دي د جهان

(۵۷)

اې د حرم شېخه! لکه ته ترې خبر نه يې
چې جهان د محبت لره هم شته دے خپل محشر
او هلته نه ګناه شته، نه ميزان نه حسابونه
او نه هلته تميز شته د مسلم او د کافر

(۵۸)

په نور د خودۍ خپلې نوراني چې شه کوم خاشکے
سوونو ملغلرو کښې شي دے يوه دانه

په داسې قسم اوسه په مجلس کښې د یارانو
چې باغ شي په تا باندې د خلوت هغه ستانه

(۵۹)

زۀ یمه سالکانو په دې باندې ناقرار
چې عقل په څۀ حل د دې خبرې نه پوهیږي
زموږ په موتي خاورو کښې چې څنګه دا زړۀ اوسي
د خیال د هوسو دشت، دغه زړګے چې معلومیږي

(۶۰)

چرې چې په ساحل دې ګرم نه کړې مجلسونه
کمزورے دغه ځاے ده د ژوندون ټوله غوغا
په جنګ شه د موجونو سره دانګه سمندر ته
کوشش دې ذریعه ده که ته غواړې تل بقا

(۶۱)

د سر نه زۀ تر پښو یمه د راز یوه خبره
نظر د سخن سازو نۀ شي ما وته کتاے
ویلې زۀ خپل ځان ته نه مختار شم نه مجبور
چې ژوند مې انقلاب دے هم په دې یمه ژوندے

(٦٢)

د ژوند د انقلاب به نه کوې څۀ تپوسونه
د دې په رنګینو دي لا نظر ښۀ نه پوهیږي
له ذوقه د سفر ځنې به داسې قسم مست یم
چې ما وته منزل د لاندې کاڼي معلومیږي

(٦٣)

که تا په سنګریځه باندې سم واچوه نظر
په فیض د تمنا به دي دا کاڼے شي ګوهر
غلام د زرو نه شې دا دي تله د تول نه ده
نظر دي دے جوړ کړے د زرو ځنې زر

(٦٤)

سینې کښې مي دا زړۀ ؤ د پردو هسې نا آشنا
نظر یې بېقراره تل په ذوق د تمنا ؤ
چې وې لیده آشنا زما د غیرې په هوا شو
خبر نه وم په دې چې د پخوا نه یې آشنا ؤ

(٦٥)

د عشق د معاملو به تپوسونه هډو نه کړې
په هغه رنګه شے دے چې تې غواړې په کوم رنګ

د ځاځکي نه زیات نه دے په سینې کښې دے دننه
حساب یې هډو نشته چې تر ژبې شه کوم درنګ

(٦٦)

نازکي غوټۍ ګوره چې خفګان ونه کړې نور
لا نور در له څۀ درکړي وایه دا د چمن کور
لښتړے، ښکلي ګلونه، د مارغانو آوازونه
صبا سره شبنم د بلبلانو سحر شور

(٦٧)

یو ورځې راته کړله مړاوي ګل هسې خبره
زموږه زندګي لکه پرواز دے د شرر
زړګے مي په محنت د جوړوونکي دے زهیر
چې څومره یې کمزورے د قلم دے هر اثر

(٦٨)

زموږه دا دنیا ده څومره لویه بې حسابه
ده ډوبه د مهي هسې د وخت په سمندر کښې
که تا چرې خپل زړۀ ته وکتل نو اوبۀ وینې
د وخت دغه دریاب د سرو شرابو په ساغر کښې

(٦٩)

د باغ د بلبلانو سره يمه همزبان
او هم د بې زبانه غوټو يمه ترجمان
چې مړ شمه دا خاوره مې صبا ته حواله کړه
په دې چې منجور وم د ګلونو د بوستان

(٧٠)

چې ښکاري دا ګلونه څۀ که وي چرې هم دغه
نو څۀ دي د لاله په سوي زړۀ سوي داغونه؟
چمن خو په نظر کښې زموږ موج دے د رنګونو
خو وکړه د بلبلو نه يې هم څۀ تپوسونه

(٧١)

زما که چرې لمر يې ته، نو زۀ دي يمه ستورے
او ټول زۀ نوراني يمه بس ستا په نظاره
په دې يمه نيمګړے زه، چې لرې يمه ستا نه
زما يې ته قرآن او زۀ دي يمه سيپاره

(٧٢)

دا ښۀ چې خيال د يار مې په چشمانو کښې اوسېږي
غمونه يې ډېرېږه هډو تن که مې اوچېږي

نکته یوه ښودلې یو سالک ده هسې ما ته
کږه وږه لار غوره له منزله معلومیږي

(۷۳)

د ماغ مي دے کافر پوره اچولے یې زنار
بتانو له بنده دے او هم دے پروردګار
مدام د عشق له غمه مي زړګے په وینو ژاړي
د دین او د قانون سره مي مه لره څۀ کار

(۷۴)

که وي دا صنوبر یې یو آزاد غوندي بنده
په فیض یې د شرابو که باغونه دي ښایسته
که شمس و قمر ستوري یې دي واړه حرمونه
خو زړۀ د بنیادم یې دے لا بنده دروازه

(۷۵)

له یو ستوري تر بله دي سوونه جهانونه
او په هر اړخ خواره دي لري لري آسمانونه
خو ما چې ښۀ په غور سره وکاته خپل ځان ته
نو دے هسې جهان چې یې میندے نۀ شي حدونه

(۷٦)

که پښو ته دي وانه چول څنځیرونه د تقدیر
یقین وکړه چې لار شته په ګنبد کښې د آسمان
باور که په ما نه کړې اوچتېږه چې یې مومې
که هر کله دي پورته که قدم شته دے میدان

(۷۷)

د ځان په طلسماتو کښې مي زړۀ دے ګرفتار
زما د نور له فیضه په دنیا کښې دي انوار
تپوس د ورځو، شپو چې مي د لمر ځنې ونه کړې
زما د زمانې مخکښې تول ستوري دي تار تار

(۷۸)

له فیضه د شهباز دے زما ساز کښې ژوندون
باهر زما یې څنګ هم مي زړګے کښې اندرون
ډیوې هسې ژوندے په تا، له تا نه بغیر مرمه
بېچونه بې زما نه وایه ته یې په څۀ ګون؟

(۷۹)

یو موج دے ناقراره غوندي ساه مي ستا د
شپېلۍ هم مي نغمې په برکت دي ستا د

په غاړه د ابد د ولې مونږ شوي وانبه
رګونه وجودونه دي هر څۀ مو ستاد

(۸۰)

سینې کښې دي دردونه د توحید ؤ بې قراره
په دې وجه پیدا دي دا جهان د رنګ و بوے که
زما چې د بېباکه محبت نه خفه نه شې
په خپله دي پیدا دغه عالم د هاے و هوے که

(۸۱)

په چا پسې تاویږې راته وایه ګورې څوک؟
هغه خو سم څرګند دے خو ته نه یې هویدا
که ګورې ته هغه څۀ به ونه وینې بې ځانه
تکل که دي د ځان وکړو نو مومې به آشنا

(۸۲)

اول ځان په ادب که دے دي خوے د ماشومانو
که سم یې مسلمان نو لویي مه کړه په نسب
په وینه، په رګونو، په سور رنګ او په څرمنې
که فخر دا عرب کوي نو پرېږده ته عرب

(۸۳)

نه موږه افغانان يو، نه ترکان يو، نه مغل يو
له يو ښاخه پيدا يو واړه، يو مو دے ګلزار
په دې وجه حرام په مونږ تميز د رنګ و بوے دے
چې يو سره پيدا د خيلمې کل د يو بهار

(۸۴)

دننه په سينه کښې زما شته دے يو جهان
په خاوره کښې مي زړهٔ دے په زړګي کښې مي غمونه
د کومو ميو نور چې مي روښانه اندرون که
پراته دي صراحي کښې مي لا هغه شرابونه

(۸۵)

زړګيه! اې زړګيه! اې زما خوږه زړګيه!
زما ته سمندر، هم يې ساحل، هم يې کشتۍ
چې ته زما په خاوره پريوتې لکه د پرخې
يا ته که ترې زرغون شولې په شانې د غوټۍ

(۸٦)

د ښو، بدو د حرف به څهٔ کومه درته شرحه
خبره ده پېچې څکه دا ژبه ترې ويرېږي

جدا شي ګل ازغي هله، له ښاخه چې را ووزي
په څانګه کښې دننه يې تميز هډو نه کيږي

(۸۷)

يم غمونه په زړګي چې څوک نه لري پنهان
دم نو روغ يې خو بدن دے ولې نشته پکښې ځان
يو د روح که طلبګار يې نو د ځان دپاره غواړه
نم يو غم خو هسې غم چې نه يې سر وي نه سامان

(۸۸)

تپوس يې هډو مه کوه يم څوک د کومې راغلم
د ځان نه به تاويږم چې تر څو يمه ژوندے
په غيږ د سمندر کښې زۀ يو موج يمه بېتابه
که تاؤ نه شم د ځان ځنې بيا نه يمه څۀ شے

(۸۹)

سره د ډېر نموده لا ته پټ يې په پړدو کښې
د شوق دغه نظر زموږه ځان ته نه پرېږدې
د ميو د مستۍ هسې په وينه کښې مې زغلي
په خوے يې بېګانه، په ګرانه لاسو له راځې

(۹۰)

سودا د قيام پرېږده په اخلاص کوه سفر
د لمر او د سپوږمۍ په شانې پاک دي که نظر
د دين او عقل پنګه د دې نورو حواله که
او غم د مينې پټ که ځان څخه لکه ګوهر

(۹۱)

اې عشقه! ما له راشه چې مراد مې يې د دل
زما ته هم پټې يې هم د دې مې ته حاصل
د خاورو نه پيدا دے دا د څيلمې زاړه شوي
اوس جوړ نوے آدم که ته فِے الحال زما د ګل

(۹۲)

غمونه شاعري ده ولې خوښ مې دے غم
زما خوښې بې شانه دي دا چيغې دم په دم
خبر مې سکندر د دغه غم د مزو نه دے
چې خوښه مې نغمه د سلطنت نه ده د جم

(۹۳)

نه زۀ څۀ په يو ښکلي اس د پاسه يمه سپور
او نه تعلقدار زۀ د شاهانو د دربار

زما دپاره بس دغه دولت دے همنشینه
چې ننه مې سینه کښې د لعلونو دے انبار

(۹۴)

کمال که دي په کار وي د ژوندون چرې نو زده که
د سترګو غړولو سره ځان وته کتل
په شانې د اوبو د ګوټ، جهان د ستوني تیر که
په کار د دنګ اوچت دغه جادو دے ماتول

(۹۵)

د خاورو نه پیدا دے ته خو وایې آدم زاد
جهان په لومه ګیر دے تل د کون او د فساد
لېکن ته د قدرت دغه اعجاز وته هم ګوره
چې اېښې دے د بحر یې لښتي باندې بنیاد

(۹٦)

که زړهٔ دي شه بې خوفه نو زمرے دے ګورے رنـګ
که دے شه بریدونکے، نو هوسۍ به شي پلنګ
که خوف دي چرې نه ؤ نو بېدیا دے لکه بحر
چې ویره دي پیدا شوه دے هر موج کښې یې نهنګ

(۹۷)

په دې نه شومه پوهه يم شراب زهٔ که ساغر
لمن کښې دے ګوهر زما که خود يمه ګوهر
چې زړهٔ وته سم وګورمه هسې راته ښکاري
چې روح مي لا څهٔ بل څهٔ شے دے زهٔ يمه ديګر

(۹۸)

ښکاريږي هسې ښنتې وه مرغۍ زما په دام
او دي د دغه دام ځنې واته يې اوس حرام
د تن په ملګرتيا سره مي شرحه د روح وشوه
زما دغه خنجر لره برجوده خپل نيام

(۹۹)

چې څرنګ له پيدا شي تمنا زما د دل؟
او بل شي په څهٔ قسم له څراغ مي د منزل
دا څوک ګوري او څهٔ ګوري زما په سترګو باندې؟
او ځاے مي په دې خاوره کښې څنګ زړهٔ شولو کامل؟

(۱۰۰)

په باغ کښې د جنت چې ګرځېدمه پس له مرګه
نو ؤ لا په نظر کښې زما دا مځکه، آسمان

دا روح مې ؤ حیران ورسره شک شه په جګړه
جهان هغه رښتیا ؤ که تصویر ؤ د جهان؟

(۱۰۱)

زموږ دغه وینا چې ده نقشه یوه نیمګړې
ده ګېره انقلاب کښې د سحر او د ماښام
شاید چې د قضا په سوهان باندې شي هواره
چې دے دغه پیکر خو لا تر اوسه ناتمام

(۱۰۲)

په څۀ طریقه باندې د آسمان سیلاني لمره!
له دومره لرې سترګو له زموږه را رسېږې؟
له خاورو خومره لرې یې بیا هم ورسره یو یې
اې لمره نوراني! وایه ته چرته کښې اوسېږې؟

(۱۰۳)

د ځان دپاره لاره تیشۍ خپلې که جوړه
د بل په جوړه لاره باندې یون دے یو عذاب
که هر چرې له لاسه دي یو کار وشو څۀ لوے
که ؤ هډو ناکاره دے په ښو باندې حساب

(۱۰۴)

نه وي د عارفانو هډو کار څۀ په منزل
او نه يې څۀ پروا وي په دې اور او اوبو ګل
چې ونه ګڼې دا ګني په تن کښې دے خوشحاله
د دغه سمندر څۀ غرض نشته په ساحل

(۱۰۵)

يو ځلي خپل دلبر ته د فطرت خو مخامخ شه
دننه په دې ګټ ګښې د خلوت څۀ له اوسيږې
چې تا لره الله سترګې ښې پاکې دي درکړې
د نوره يې بينا شه په خبره که پوهيږې

(۱۰٦)

په دې جهان کښې اوسمه خو يمه په خلوت کښې
او شوم له فارابي او افلاطون ځنې جدا
د چا ځنې مي کړے چرې خواست د نظر نه دے
په خپلو سترګو خود دے دا جهان ليدلے ما

(۱۰۷)

نه دے څوک د آغازۀ د خودئ ځنې خبر
چې نشته دا په دام کښې د ماښام او د سحر

د خضر ع اوریدلې دا نکته عجیبه ما ده
په عمر کښې د موج نه مشر نه دے سمندر

(۱۰۸)

اې زرۀ د ژوند د رمز دے غوټۍ څخه حساب
چې پروت دے حقیقت یې په مجاز کښې بې حجاب
منمه چې تیغ د تورو خاورو زرغونیږي
خو سترګې یې غړیږي په شعاعو د آفتاب

(۱۰۹)

که باغ دے که ځنګل د خدای په نور سره ښایسته دے
د خدای په میو ښکلے هم د ګل دے دا ایاغ
جهان کښې د چا شپه یې پریښودلې نه ده توره
چې تل د دغه سوزه په هر زرۀ کښې دے څراغ

(۱۱۰)

په باغ کښې د نرګس د ګلو نوې غوټۍ و شوې
او خوب یې د چشمانو نه دے پرخې و وینځه
نظر کوه خودۍ د بې خودۍ ځنې پیدا شوه
آخیر یې ومیندل هغه دنیا چې څۀ کاته

(۱۱۱)

جهان له خپله ځانه هډو نه ؤ خبردار
کته يې په کوځې د تمنا کښې چرته لار
له غېږې د عدم ځنې را وتښتېد په پټه
دننه په زړګي کښې د آدم شو په قرار

(۱۱۲)

زما زړۀ يې ښۀ پوهه دے په راز د تن او ځان
چې دا ګومان ونه کړې ګڼې مرګ دے په ما ګران
که پټ مې يو جهان شه د چشمانو نه غم نشته
سوونه جهانونه مې ضمير کښې دي پنهان

(۱۱۳)

زما هسې اخته ګورې ګل هم دے په مشکل
او ګير په طلسماتو کښې دے هم دے د محفل
اګرچې يې ګويا د دغه پاڼو ژبه نه ده
مګر خيرې سينې کښې يې دننه شته دے دل

(۱۱۴)

پېژندلے مې مزاج دے د لاله غوندي خود رويه
په ځانګه کښې دننه پېژنمه بوے د ګلو

په دې وجه مارغان د چمن واړه زما خپل دي
د راز نه د نغمو یمه واقف زهٔ د بلبلو

(۱۱۵)

جهان دے سراسر وینه ګلزار د تمنا
او هم دے زیر وبم د دې په تار د تمنا
په مخکښې مې دا هر څهٔ چې دي، ؤ او یا که وي به
ګنړمه یې یو دم زهٔ د ژوند کار د تمنا

(۱۱۶)

زړګے مې سر تر پایه بېقرار د تمنا دے
درون مې په سینه کښې هم د دې نه ده غوغا
زما نه همنشینه! زما غواړي څهٔ خبرې
له ځانه سره یمه زهٔ لګیا په مشغولا

(۱۱۷)

د عمر دغه شوے دے د ژوندون دغه زما دوام
په شانې د مهي دے قرارے په ما حرام
وېرېږه د ساحل نه چې په غېږې د ساحل کښې
ذره بې قراري ده او اجل دے د مدام

(۱۱۸)

خفه چې د بامبړ ځنې واعظه د ښار نه شې
که اووې راته ده وکړئ بتانو ته سجده
نظر کوه چې جوړ زموږه خدای کله آدم که
نو ده هم د ملکو نه سجده ده وته غوښته

(۱۱۹)

که خیال وکړې سوونه بتان مات کړل حکیمانو
خو هغسي لا دے د هست و بود په بتکده کښې
په څۀ شانې قبضه کښې به یې خدای او فرښتې شي
چې را نغے آدم یې لا تر اوسه په قبضه کښې

(۱۲۰)

زما د موتي خاورو نه زیریږي جهانونه
نو راشه ځان له پنګه مي که جوړه د حاصل نه
د دوست د مقام لار دي ده د سر نه خطا کړې
په دې کښې مشوره واخله راځه زما د دل نه

(۱۲۱)

که ناسته مي فطرت سره زرګونه کاله وکړه
او داسې یې مل شومه چې د ځانه جدا شوم
مګر په دې دوټکو کښې زما قیصه ده ختم
بتانو ته سجدې کړمه، جوړومه، ماتوم

(۱۲۲)

په ارته فضا کښې زهٔ د ازل چې الوتمه
له قیده د دې خاورو د دنیا خبر نه ومه
زما جوړې هم ستا په نظر کښې غټه بها وه
چې تا د دې وجود دغه بازار ته راوستمه

(۱۲۳)

دننه چې په زړهٔ کښې مي افکار دي دا دي څه؟
باهر رانه چاپیره چې اسرار دي دا دي څهٔ؟
په دغه باب کښې ما ته صفا ووایه سالکه!
هر روح ګرځي، تنو نه په قرار دي دا دي څه؟

(۱۲۴)

په دې کومه ناز چې ګدا یمه بې نیاز
شم ګرم، سوځم، ویلي په اثر د خپل آواز

زما دغه نغمو چې یې په اور کښې ودرولې
نو یم د سکندر په شانې زهٔ آئینه ساز

(۱۲۵)

که یې پوره واقف دي د خپل ځان په کیف و کم
نو جوړ که په هنر دي د شبنمه ځنې یم
تر څو به د سپوږمۍ ځنې ته خواست د رڼایې کړې
په فیض سره دي شپه توره روښانه که د دم

(۱۲۶)

د دې مه کوه غم ګڼي ژوندون دے د زړهٔ دم
او یا په دام کښې ګیر دے زړهٔ د بود او د عدم
د مرګ د خطر مه کوه غمونه کم نظره
فنا که شي دا دم زړهٔ به باقي وي نشته غم

(۱۲۷)

تر څو چې غلے ناست یې زما غیږې کښې زړګیه!
نو کند مې د شاهانو د خلعت نه دے بهتر
چې یې به پس له مرګه ته بیا هم زما سینه کښې
تل یمه ستا له لاسه په امید او په خطر

(۱۲۸)

زما د لوریه دا رنګي صفا صوفي ته وایه
مین دے په رب هم د حقیقت سره آشنا
غلام د همتونو د هغې کامل انسان یم
چې ویني تل الله د خودۍ خپلې په رڼا

(۱۲۹)

د باغ نه د نرګس په شانې پټې سترګې مه څه
د بوے هسې بند شوے هم غوټۍ کښې مه تېرېږه
چې تا لره در کړې دي الله سترګې روښانه
نو وینښ په عقل زړهٔ باندې ویده مه روانېږه

(۱۳۰)

د ځان په شکل بت مي هسې ځان لره بنا که
نو خدای مي جوړ که ځان لره "ګویا" د ځان په شان
د ځان له دائرې ځنې وتل راته مشکل دي
په هر شکل چې یمه خو بنده یمه د ځان

(۱۳۱)

وینا کړله نازکې غوټۍ پرخې وته داسې
زمونږ د چمن زادو نظر نه دے لا رسا

لمرونه بې حسابه چې دي هر هغه دنیا کښې
چې دنګ او چیت لري، که نه لري دغه دنیا

(۱۳۲)

ګڼې به ته رازداره د آسمان ګورې دا مځکه
او شرحه د مکان ګڼه دا راز د لا مکان
په لوري د آشنا د مقام هره ذره زغلي
او دا رواني شګي یې د لاري دے نښان

(۱۳۳)

بغیر له تا نه څوک نه دے ضمیر د کن فکان
او بې له تا نه څوک نه دے نښان د بې نښان
په لاره د ژوندون ښۀ زړور اخله قدمونه
چې نشته بې د تا نه څوک په مخ د دې جهان

(۱۳۴)

زما د میکدې د دروازې خاوره ده مځکه
او دے بره آسمان مي یو چکر د پیمانې
زما د سوز او ساز ټوله قیصه پوره اوږده ده
چې دے واړه جهان یې دیباچه د افسانې

(۱۳۵)

فنا شه سکندر او هم يې توره او علم
او لاړه دولتونه ورسره تمامي سم
همېش د باچهانو نه پائیدار وي امتونه
نه وینې چې ایران هغسي شته دے نشته جم؟

(۱۳۶)

زما چې دي زړګے وتښتولو له سینې نه
او لوټ دي کړله ګوره زما ټوله خزانه
اې! چا لره دولت د تمنا زما دي ورکړ
اې! تا مي د زړو غمه سره وکړه څۀ کانه؟

(۱۳۷)

جهان د رنګ او بوے زما د مخې نه فنا شه
او هم مځکه آسمان او څلور واړه طرفونه
چې لا مي ړې اې زړه! ته د هغه د هنګامې نه
ک وغوښته آشنا دي د خلوت نه رخصتونه؟

(۱۳۸)

لرم نه د پړدې ځنې د ساز څۀ آګاهي
خو پوهه په دې یم چې د ژوندون آواز څۀ وي

په داسې قسم ما غزلې اووې په چمن کښې
چې ګل کوې پوښتنه د بلبل نه چې څوک دې؟

(۱۳۹)

سندرې مې ښې مستې ووئېلې په محفل
انکار مې د ژوندون ننه باسه په دغه ګل
د عقل په رڼا باندې روښانه مې زړګے که
او عقل مې کړه که په معيار باندې د دل

(۱۴۰)

عجم مې د نغمو په برکت سره شه ځوان
له فيضه د سودا زما يې ګرم شه دوکان
بې لارې يوه ډله په ميرو کښې ګرځېدله
چې جوړ که دے آواز مې د جرس ترې نه کاروان

(۱۴۱)

زما په نغمو ګرمه شوله مځکه د ايران
آواز يې روغ جرس دے په بوتلو کښې د کاروان
په شانې د عرفي وايه نغمې د حدې ګرمې
چې لاره د ناشنا، ستړې بارونو کړه اوښان

(۱۴۲)

د خپلې بېتابۍ چې مې برسېره که انګار
نو زړۀ مې که پیدا نوې سینه کښې د ایشیا
زما د ژړا فیض یې سور انګار کړله دا خاوره
په شانې د بجلۍ مې درله زړۀ کښې کړه رڼا

(۱۴۳)

په شانې د نسیم یې چې زۀ کړمه اواره
او شه لکه د ګل هسې مې زړۀ پاره پاره
زما دغه نظر پوره ظاهر لیدلے نه شو
مین .یې لیونے که ګوره ښتګ په نظاره

(۱۴۴)

چې عقل د خامتا ځنې کېږه جوړه زري کړي
او جوړه په هنر یې کړه د کاڼي آئینه
نو وګوره جادو ته د خبرو د شاعر هم
چې جوړه د ترخو نه یې د ژوند کړه نوشینه

(۱۴۵)

د ښاخ له تمنا ځنې مېوه ده ما خوړلې
په راز د زندګۍ باندې یم ځکه پوهه شوے

په دې دي پويوم ښکاري! وېرېږه د مالي نه
چې ما دي ګورې باغ له د سپرلي زېرے راوړلے

(۱۴۶)

شه خيال مي څه؟ چې راوړي د جنت د باغ ګلونه
را وښايي چې ما ته نوي مضمونونه
د ګل د پاڼي شاني مي زړګے رېپي سينه کښې
په څاڅکي د شبنم باندې لونديږي چې ګلونه

(۱۴۷)

عجم په داسې قسم سمندر دے ناپايابه
پکښې شته ملغلرې د الماس هسې رنګ رنګ
خو زۀ خپله کشتۍ په هيڅ سبب نه چلومه
په هغه سمندر کښې چې پکښې نه وي نهنګ

(۱۴۸)

چې کار ته د دنيا چرې ونه وايې کمزورے
زموږه هر يو دم خو د ابد دے پرده دار
په کلکه طريقه ونيسه نن او صبا پرېږده
چې پټ دي په لړمون کښې لا دننه د روزګار

(۱۴۹)

منمه د خدایانو د یورپ نه دي ځان خلاص که
خو وګوره چې اوس کوې قبرونو ته سجدې
دے هوے دي داسې قسم د هندوانو په شان شوے
بتان چې اوس د ګاڼو نه د لاري جوړوې

(۱۵۰)

چې خیري به تر ځو وي دا قبا دي د ژوندون
ترڅو به د میړو په شاني سوړي جوړوې
اوچت بره هوا ته شه، کړه خوے د باتورانو
تر کومې به رېګونو کښې دانې به لټوې

(۱۵۱)

په مینځ کښې د ګلونو جوړه ځان لره که ځاله
او چل د بلبلانو ځنې زده کړه د ژړا
که ته د ناتوانۍ نه هر چرې یې بوږا شوے
نو خپله برخه واخله د ځوانۍ نه د دنیا

(۱۵۲)

په روح مي دي قسم وي چې دا تن ورلره جوړ شه
هوس دے د جلوې چې دغه ګل یې که دوه رنګه

چې روح ؤ ناقراره د رنګونو شمار يې نه ؤ
بدن ورځنې جوړ شه چې شه هر کله يک رنګه

(۱۵۳)

د خاورو د يو قبر نه مي داسې شو تر غوږو
په مځکه کښې دننه شي کېدلې زندګي
که ساه مي پکښې وي به ولې روح پکښې نه وينم
چې څوک چرې ژوندون د بل په طمع تېروي

(۱۵۴)

د خپلې موتې خاورې ځنې مه شه نا اميد
جلوه چې د تس نس يې او هم نه ده پائيدار
چې هر کله کالبوت نوے فطرت دلته کښې جوړ کړي
کمال ته رسوي په يو هنر سره خپل کار

(۱۵۵)

جهان دے دا مکان ګوره يو شے د پوهېدلو
په دې مقام کښې ډېر ګلونه شته د ټولولو
د ځان د حقيقت نه چې ځان نه کړې نا خبره
دا روح دې هسې شے دے چې هم دا دے د ليدلو

(۱۵٦)

ته وایې چې زهٔ یمه خدای مې نشته په دنیا
او دا هغه دنیا ده چې یې نشته انتها
خو نه دے دغه راز راته تر اوسه ښیلے شوے
چې شته دي که دي نشته دا په مخکښې دي زما

(۱۵۷)

زما پر دسترخان نه د مرغو شته دي کباب
او نه زما په جام کښې شته تازهٔ ښکلي شراب
هوسۍ مې د ورشو په شنو وښو باندې تل پایي
خو وینه د زړګي یې ده نافه ګوره نایاب

(۱۵۸)

زما د سوے په فیض دي د مسلم رګونه ګرم
چې اوښکې یې بې واکه له چشمانو څنې څي
خو دې مې د قیامت څنې د زړهٔ لا خبر نه دے
کتلي یې دنیا ته لا زما په سترګو نه دي

(۱۵۹)

بیان د لا مکان کله کېدے شي په ویلو
د دې ټکي تفسیر ننه په زړهٔ کښې دے هم ستا

په داسې قسم اوسي زما روح په دې بدن کښې
چې ويلي نۀ شي څوک دلته کښې شته دے هلته نا

(۱٦۰)

له هر زرۀ سره وي مدام د مينې نوے رنګ
ملګرے د بنيښې کله مګرے شي د سنګ
که ته يې کړے بې خوده او اخته يې په ژړا کړې
زۀ يې ګوره هم کړمه د ځان په رنګ کښې رنګ

(۱٦۱)

د خاورو د دې دام ځنې لا نه يې بهر شوے
که وايې چې رومي يمه لا يمه افغاني
او زۀ خو له اوله نه بې رنګه آدمي يم
او يم د هغې پسه بيا هندي او توراني

(۱٦۲)

سودا د شاعرۍ راله زخمي کړ دا ځيګر
ريګونه ؤ د لارو چې شه موتې د شرار
د مينې په بيان باندې مې شوندې وې پرانستې
خو لا شه هغه راز په دې ويلو مستتر

(۱٦٣)

د عقل او د علم ځنې لاړلو په تېښته
په فیض د محبت يې که زړګے ځان لره خون
تپوس به د اقبال ملکوتي په حقله څۀ کړې
زموږه نکته دان حکيم خو غوره کړو جنون

# افکار ړومبه ګل

لا تر اوسه نه لرم چمن کښې یار
زۀ یې ګل یمه ړومبۍ راځي بهار
د ولې اوبو کښې ګورمه خپل مخ ته
که روزي مي شي په دې د چا دیدار
د ژوند لیک یې چې په کوم قلم دے کړے
په هغې په ما پیغام لیکلے یار
د پرون سره مي زړۀ دے سترګې نن ته
د فردا مینې مي نوے کړ کردار
چې زرغون شومه د خاورو شومه ګل
هغه ستورے د پروین یم نه یم بل

# دعا

چې شراب دي را له راکړه د فطرت د میکدې نه
نو د دې په حرارت باندې کړه ویلي جام زما
د فریاد دغه ګرمي مي سرمایه د محبت کړې
یوه مسته کړې لمبه مي ته دا خاوره د سینا
پس له مرګه مي د خاورو د لاله ډیوه کړه جوړه
په دښتونو یې کړې روښانه چې تازۀ شي داغ زما

# د اختر سپوږمۍ

اې میاشتې د اختر، شې پټېدے کله له سترګو
دي تاله د هر لوریه نه نظر ایښي دامونه
ځان ته وکړه پام د تشي غیږي غم دي کړے
سینه کښې دي پراته د ښوارلسمي دي ډالونه

# د فطرت تسخیر

# د ادم زوکړه

عشق وکښله یو چیغه، شه پیدا زخمي ځیګر
شه حسن په رپا، راغے خاوند چې د نظر
مخ سور شه د فطرت چې د مجبور جهان د خاورو
بهر شه څه خودګر او خودشکن او خودنګر
خبر زر د ازل تبارې ته لاړو د آسمان نه
چې ویښ دي پرده دار شي واړه راغے پړده در
په غېږ کښې د ژوندون ویده بې خوفه تمنا وه
چې سترګې یې کړلې پورته نو جهان یې که دګر
ژوندون ویل ډېره وم په دې خاورو کښې بیتابه
آخیر دغه ګنبد کښې د آسمان مي وموند در

# د ابليس انكار

زهٔ ناپوهه هلک نه يم، چې آدم ته به سجده کړم
دے له خاورو نه پيدا، زهٔ يم له نسله د آذر
په رګونو د عالم کښې، ده ګرمي زما د وينې
که مي تندر هسې غاؤ دے، دومي دے لکه صرصر
که نظام د عناصرو دے، که ربط د ذرو دے
ورانولے، جوړولے، شمه يې يمه اور د بښيښه ګر
دغه خپل جوړکړے مات کړمه، تمام ذرې کړم
بيا د دې خاورو زړو نه، يې کړم ساز نوے پيکر
دا آسمان دے چور لېدونکے، دے يو موج د سمندر مي
جوړوونکے د دنيا دے، حرارت مي د جوهر
که دي ستوري دي جوړ کړي ،چور لولي درله ما دے
په جهان کښې دي دننه، د ژوند روح يمه مضمر
که دي تن لره ساه ورکړه، حرارت ور له ما ور که
په سکون يې ته رهزن شوې په تپش يې زهٔ رهبر
د تنګ ظرفو نه خواستونه، د سجدو چرې زهٔ نه کړم
زهٔ قاهر يم بې دوزخه، بې محشره يم داور
دا خاکي آدم دي ډېر دے، پست فطرته کم نظره
که پيدا دي شه په غېږ کښې، شي به زوړ زما پر در

# ادم ته لمسون

د سوز ژوندون غوریز دے، له سکونه د دوام
باتوران کونترې کیږي، خو چې وښلي په دام
بغیر د سجدو نه، نور ته هیڅ کولے نه شې
سر د سروي غوندي دنګ کړه چې دي سوړ دے دا خرام
د تسنیم کوثر نومونو، درنه ذوق د عمل واخیست
د انګورو د ښیښې څنې، شراب جوړ که ګلفام
دا نیکي او بدي دواړه، دي تش وهم د مالک دي
د عمل مزه به ګورې، خو که وا دي خسته ګام
یوه نوې باچهي درته، نن ښایمه څه پاڅه
لړې وغړوه سترګې، چې یې ووینې نظام
یې وړوکے غوندي څاڅکے، شه تا بناکه ملغلره
د آسمانه څه کوزیږه، نیسه بحر کښې مقام
ته یو توره یې نامداره، څه په څټ د جهان کښېنه
چې ظاهري دي خوبۍ شي، را بهر شه د نیام
د شاهین هسې په ښکار باندي، ور خلاص شه د تنځرو
چې شاهین لره د ځالي، ناسته مرګ دے د دوام
ته له دې نه خبر نه یې، شوق په وصل باندې مړ شي
دوامي ژوندون څۀ شے دے، خو یو سوے دے ناتمام

# ادم له جنت نه را ووځي او وايي

ښځۀ ښايسته به وي داژوند،که سرترپايه سوزوساز شي
د ښتونو غرونو زړونه، چې په يو دم کښې ګداز شي
د پنجرې ځنې د باغ، په طرف لار جوړول غواړي
د آسمان سفر کول دي، چې د ستورو سره راز شي
د باطن په اثرونو، د ظاهر په نياز باندي
يو نظر د خريدار چې، دي حرم وته د ناز شي
کله هغه يو ليدل دي، د ګلونو په هجوم کښې
د ازغي او ګل په منځ کښې، په کار کله امتياز شي
واړه سوځ يم ناتمام، تمامي درد د تمنا يم
په ګومان يقين ورکومه، چې تلاش باندې فدا يم

# د قيامت ورځ

## (ادم د خداى په حضور کښې)

ستا د لمر په برکت مي، د زړګي ستورے روښان شه
د دنيا تياره روښانه، مي د زړۀ شوه په تنوير
سمندر مي هنرونو، په يو تنګه لار روان که
په تيشې مي کړله جوړه، د غر زړۀ کښې جوے شير
که سپوږمۍ ده، که زهرا ده، دي په دام کښې مي انښتے
کار ايستونکے عقل ما له، جوړ جهان کړلو راګير

هم پر مځکه شوم دننه، هم آسمان ته وختلم
که لمر دے که ذره ده، په جادو مي کړل اسیر
که تیرنګو د دنیا کړمه، د لارې نه بې لارې
غلطي راته معاف کړه، و بخښه راته تقصیر
جهان نه راته قابو کښې، څو چې مل ورسره نه وم
چې د نیاز کمند دي واچوو، ناز به هله کړې اسیر
چې په ګرمو اسویلو مي، دا د ګټې بت شي ویلي
ؤ زنار تړل یې ما له، په دې وجه نا ګریز
د عقل په دام نښلي، چې فطرت د چا چالاک وي
او د اور پیدا ابلیس، پاتې د خاورو شي غلام

## د گل خوشبوئ

په ګټ ګښې د جنت یوې بېتابې حورې اووې
دې پورې د آسمان نه خبر نه کړمه هیڅ چا
نه پوهه په مطلب د ورځې، شپې، سحر، صبا شوم
او هم په او شه، مړ شه دے حیران عقل زما
د ګل هسې د ځانګې نه پیدا شوه بوے ترې جوړ شه
د نن صبا جهان ته په دې شانې راغله دا
چې پرا یې نستې سترګې غوټۍ شوله په خندا
شه ګل، او دوړېده پر مځکه پاڼه- پاڼه بیا

د هغه نازولې چې آزاده شوه د بند نه
شه پاتې اسویلي چې بوځے یې نوم دے پر دنیا

# د وخت چیغه

لمنه کښې مي لمر دے، دي مي ستوري په ګرېوان
که ګورې مي هیڅ نه یم، ګوره ځان ته یم دي ځان
که دښت که ښاریه ده، حویلۍ که شبستان
کله عیشِ فراوان یم، کله درد، کله درمان
زۀ "توره جهانګیره"، هم چینه یم د حیوان
چنګیز ؤ، که تیمور ؤ، زما یو موټے د خاورې
فساد ؤ د یورپ مي، یو بخرے د انګار
انسان او کل جهان یې دے زما نقش و نګار

سره وینه د ځوانانو مي سامان دے د بهار
که ګرم اور زۀ یم، نو هم چمن زۀ د رضوان
هم ولاړ او هم روان یم، دا عجبه تماشه ده
شرابو کښې د نن مي، اثر ګوره د صبا
درون مي په ضمیر کښې، جهانونه دي بلا
سوونه شهابونه، ګنبدونه ډېر خضرا
لباس یم د انسان زه، هم قمیص یم د یزدان
زما فسون تقدیر دے، او تدبیر دے ستا فسون

مین ته په لیلا، زهٔ بیابان دي د جنون
د روح په شانې پاک یمه، زهٔ ستا د وسوسو نه
که راز یې زما ته، زهٔ هم راز د اندرون
د ځانه دي پیدا یمه، هم تا کښې زهٔ پنهان
زهٔ دي رهرو، ته مي منزل، زهٔ دي پټے، ته مي حاصل
ته ساز یې په سل رنګه، دے راټول په تا محفل
په آب و ګل کښې ګرځې، که په لاس دي راغلے دل
په جام دننه پروت دے، سمندر پوره کامل
ستا له یوې څپې پیدا دے همګي زما طوفان

# سپرله

(۱)

څه پاخهٔ شه دیره، غرونو، دښتونو کښې بهار

بلبـــــــل کـــــــوي چغـــــــار
مرغـــــــی قطـــــــار- قطـــــــار
پـــــــر غـــــــاړه د جوئبـــــــار
هـــــــر ځـــــــاے دے لالـــــــه زار
پـــــــه کـــــــار یـــــــې دے دیـــــــدار

څه پاخهٔ شه دیره، غرونو دښتونو کښې بهار

(۲)

ځه پاڅۀ باغ و راغ ته قافلې راغله ګلونه

عجـــب ښــــکلي باغونـــــه
مرغـــــۍ کـــړي آوازونـــــه
ســـپړدے شـــي ســـره ګلونـــه
د ګـــــل نـــــوي رنګونـــــه
د عشـــــق نـــــوي داغونـــــه

ځه پاڅۀ باغ و راغ ت قافلې راغله ګلونه

(۳)

چغیږي بلبلان د صوارلکو ګوره خروش

د بـــاغ وینـــه پـــه جـــوش
تـــه یـــې ولـــې خـــاموش
دا وخـــت نـــه دے د هـــوش
صـــفا شـــراب کـــړه نـــوش
ږغیـــږه ښـــۀ ګلپـــوش

چغیږي بلبلان د صوالکو ګوره خروش

(۴)

د ګټ نه را بهر شه د صحرا په لوري ځه

نـــــدی ښخــــــه کښـــــېنه
اوبـــــو تـــــه پـــــام کـــــوه
نــــــرګس تــــــه وګـــــوره
د بـــــــــاغ د زړهٔ تهوتـــــــــه
تنــــــدے یـــــــې ښــــــکلوه

د ګټ نه را بهر شه د صحرا په لوري ځهٔ

(۵)

شه پوهئ په حقیقت، اې له ظاهره بې خبر!

ګلونـــــــــــه سراســــــــــــر
تـــــر نیمـــــــي ســـــره اکثـــــر
پرېــــــوځي یـــــې پـــــه ځیګـــــر
دا پرخــــــــــه د ســـــــــحر
شــــــفق تـــــه کـــــړه نظـــــر

شه پوے په حقیقت اې له ظاهره بې خبر!

(٦)

د باغ خاورو رازونه کړه ظاهر د کائينات

هـــــر خـــــوا وينــــه صـــــفات
جلـــــــوې دي هـــــــم د ذات
ګنېـــــې چـــــې يـــــې حيـــــات
چـــــې ويـــــې ورتـــــه ممـــــات
تمـــــام دي بـــــې ثبـــــات

د باغ خاورو رازونه کړه ظاهر د کاينات

# دايمي ژوند

ګومان مه کوه دا چې ختم کار شه د مغانو
شراب شته نا څکلي ډېر، رګونو کښې د تاک
چمن دے ښۀ ليکن پکښې غوټۍ هسې مه اوسه
قبا يې چې د ژوند دۀ د صبا په پوکو چاک
د ژوند په راز که پوه يې، مه يې اخله، مه يې غواړه
له خاره د آرزو څنې زړګے چې کوم وي پاک
د غر هسې محکم به تېروي همېشه عمر
که خس شوې نو باد تېز دے هم يې اور دے خطرناک

# د ستورو خیالات

(۱)

یو ستورے داسې اورمه، بل ستوري ته ویل
په بحر کښې پیدا یو مګر کوم مو دے ساحل
سفر خو یې اخښلے دے زموږه په خمیر کښې
مګر د قافلې زموږه چرته دے منزل

(۲)

که ستوري اوس هم دا وي لکه دوے چې ؤ پخوا
د عمرونو د ځلند نه راته وایه کوم دے سود
په دام د زمانې کښې تل عمري یو موږه نښتي
دے هغه بختور چې د چا نشته دے وجود

(۳)

د داسې درنو پېټو تاب لرلے څوک شي کله
د داسې زندګۍ نه خو نشت والے ؤ بهتر
دا شنه ارته فضا مې په هیڅ وجه نه ده خوښه
د داسې بلندۍ نه ؤ بهتر د مځکې سر

(۴)

غوريز رانه انسان دے، چې دې تل دے ناقرار
پر آس د زمانې باندې دے سپور لکه شاه سوار
قبا يې برابر نۀ د قيامت سره د ژوند ده
نوې- نوې منصوبې کاندي هر وختې نوے کار

## ژوندون

يوه شپه ژړل وريځ د سپرلي داسي
زندګي خو بس ژړا ده دم په دم
شه يو پړق تيزي بجلۍ ورته دا اووې
نه خطا شوې، ژوند خندا ده د يو دم
خبر نه يم باغ ته چا دا خبر يوړو
سره کور کښې دي لګيا ګل او شبنم

## د علم او عشق خبرې

### علم

نظر مي د اوو څلورو دے رازدار
په کمند کښې مي جهان دے ګرفتار
زما سترګې جهان بينې په دنيا شوې
د آسمان نه مي هورې نيشته څۀ کار

وایي رنګ- رنګ له نغمې مي دغه ساز
زمانې ته مي ښکاره که هر یو راز

## عشق

په جادو دي سمندر که سور انګار
باد شه تود لکه سموم او زهردار
چې زما چرګ اشنا وي نو وي نور
چې جدا شولې زما نه شولې نار
په خلوت کښې د لا هوت شولې پیدا
خو په لومه د شیطان شوې مبتلا
راځه چې دا جهان کړو ګلستان
چې کړو دا بوډا د نوي سره ځوان
راشه درد مي د زړګي ځنې لږ واخله
چې جنت جوړ کړي د لاندې د آسمان
له ازله ځنې یو سره همدم
د یوې نغمې یو دواړه زیر وبم

## د ستورو سندره

ده هستي مو خپل نظام
ده مستي مو خپل خرام
ګرځنده یو بې قیام
دا مو ژوند لره دوام

ځي آسمان زموږ مراد هرڅۀ ګورو مخکښې ځو

د شـــــهود دغــــه جلــــوه
د نمـــــود يــــې بتکـــده
د ژونـــــــدون دا معرکــــــه
د وجــــــود دا تنازعــــــه

د دنيا دا تماشه هرڅۀ ګورو مخکښې ځو

هــــم د جنـــک دغــــه ګرمـــی
د هوشـــــيارو يــــې خـــامی
تخــــت و تـــاج ســــره ســــولی
د شــــــاهانو تبـــــاهی

د آسمان دغه بازۍ هر څۀ وينو مخکښې ځو

لاړه- لاړه ســــــــــروري
بنـــــده پرېښـــــوه چـــاکري
نشـــــته زاري و قيصــــــري
خـــــتم شــــوه ســــکندري

شوله خلاصه بتګري هر څۀ وينو مخکښې ځو

ځپــــې خـــاورې وکـــړ جـــوش
بـــې بنیـــاده خـــو ســـخت کـــوش
کلــــه کانـــدي نـــایې و نـــوش
جنـــازۀ یـــې کلـــه پـــر دوش

مالک هم حلقه بګوش، هر څۀ وینو مخکښې ځو

تـــه اختـــه پـــه چـــون و چنـــد
کـــړي د حـــل یـــې عقـــل بنـــد
لکـــه هوســـۍ شـــوې پـــه کمنـــد
ډیـــــر زبـــــون او درد منـــــد

نشیمن مو دے بلند، هر څۀ وینو مخکښې ځو

څـــۀ پـــړده ده، څـــۀ ظهـــور؟
څـــۀ بنیـــاد د تیـــارې نـــور؟
څـــۀ دي ســـترګې، دل، شـــعور؟
څـــۀ فطـــرت دے ناصـــبور؟

څۀ نزدې دے څۀ دا دور؟ هر څۀ وینو مخکښې ځو

دي دا ډیـــر دي مـــا تـــه کـــم
کـــال دے مـــا لـــره یـــم دم

ســـتا پـــه غیـــږ کښـــې ویـــنم یـــم
خـــو صـــابر یـــې پـــه شـــبنم

موږه ګورو بل عالم، هر څهٔ وینو مخکښې څو

## د سحر نسیم

د لوریه د دریاب د غر د سر نه زهٔ راځم
له کومه مې آغاز، خبر د دې نه هیڅ نه یم
زهٔ زېرې د سپرلي خفه بلبل له ورکوم
ګلونه ورله سپین د ځالي لاندې زېږوم
له ښاخه د ګل تاؤ شمه، وښو کښې ورغړم
باهر یې د وجود نه رنګ او بوے را وباسم
چې ځانګې یې زما په ګردشونو کړې نشې
په پاڼو د ګلونو د رېښمو په ځان ځم
د غم د محبت ځنې شاعر چې په ژړا شي
شریک یې په ورو- ورو زهٔ د دې غم د چیغو شم

## د باز نصیحت خپل بچې ته

شه خبر، یو کل بازونه یو ټبر
د زمري مو زړه، که یو موټې وزر

ښه محکم لره تدبیر، کوه نیکي
نیسه غټ یے دلاور او غیرتي
د تنځرو سیسو مل چې ګورې نه شې
خو د ښکار په نیت که ته ورسره ځې
کوم یو قام چې وي کمزورے غورزېدلے
پا کوي په خاورو تل مشوکي خپلې
شوه د ښکار له لاسه ښکار، هغه بابښه
چې یوه یې ښکار سره شوه عقیده
داسې ډېر شکري پربوتي دي په خاک
چې له لاسه د چرګانو شو هلاک
ځان دي وپېژنه ښۀ تېروه ژوند
اوسه کلک او ښۀ زړۀ ور او طاقت مند
نزاکت ده مدام برخه د سیسو
ځان که سخت لکه د ښکرو د هوسو
په جهان کښې چې څۀ قدر شته ښادي
وجه یې کار دے مضبوطي او محکمي
ویل ځوے وته باتور چې اې پسره!
ده د لعل ځنې یو څاڅکے وینه غوره
د هوسو، ګډو، په شان مه شه رمه
خلوتي دي د نیکونو په شاه یه
دي د خپلو مشرانو نه مي یاد
چې د ځالي په شجر مه ږده بنیاد

چې مقام نه کړې پټې او نه باغونه
دي په غر او په صحرا کښې جنتونه
ټولول دانه پر مځکه ده خطا
میراثه مو د آسمان ده شنه فضا

چې پر مځکه کوم اصیل ایښې ده پښه
د چرګانو نه سیوا شه کمینه
کاڼي، ګټې د بازانو دي فرشونه
چې تېزیږي په دې کاڼو یې نوکونه
یې د ذات نه د زیږ سترګو د صحرا
د سیمرغ په شان ده لویه خونه ستا
د غزا په ورځې وینه اصیل ځوان
را وباسي تل د بور نه چشمان
الوتو کښې دي اثر دے د نوري
ده رګونو کښې دي وینه کافوري*
د شا تیټې ګرځنده آسمان د لاندې
هغه خوره چې ته یې ښکار کړې لاندې باندې
خو د بل ګټه ځوانان چرې نه خوري
په وینا د نېکو نېک عمل کوي

* د باز په ډول یوه سپینه ښکاري مرغۍ چې د ترکستان په غرونو کښې اوسیږي.

# د کتاب چینجه

یوه شپه کتب خانه خپله کښې اورم
چې پتنګ وته چینجي وې د کتاب
ما لیدلي د سینا کل کتابونه
هم کتلي د حکیم مي د فاریاب
خو د ژوند په مصلحت نه شومه پوه
زړۀ کښې نه مومم رڼا زۀ د آفتاب
دې پتنګ نیم سوځېدلي ورته اووې
حل کولې دا نکته نۀ شي کتاب
ښه ژوند وي تر و تازۀ په حرارت
ورکوي د الوتو ژوند له طاقت

# کبر او غرور

د غر یوې نالې ته یخ د کبره ویل داسي
بې حده ډېر تنګ کړي یو مونږ ستا دغه رفتار
روان یې څۀ بې خوفه، د مستۍ نه وهې چیغې
مدام دي زور او شور د تېره کاله وي بسیار
د غر د اوسېدونکو نه یې سیال په یوې لارې
ځان مه ګڼه اولاد کښې د وریځو د کهسار
تاویدنه، رغړېدنه، بهېدنه دي په خاورو
چرته بله لاره واخله ځه په لور د مرغزار

لښتې ورته ويل چې مکړه دومره سپکې سپوري
غرور او کبر تل وي د ناپوهه خلګو کار
چې سارے نه يم ستاسو زه، بس اێ دے درنه لاړم
د لمر نه دي خپل ځان درله ساتل مګر په کار

# د ريدي ګل

يم هغه شعله چې د ازل نه د عشق غېږ کښې
پخوا د عندليب، پتنګ نه نور مي پړقېده
د لمر نه يمه لوے هرې ذرې کښې زما نور دے
ميندلي دي آسمان زما د اور نه ګرمېده
سينې کښې د چمن لکه د ساه شوم ور دننه
په نم چې مي د خاورو نه يو ښاخ و ټوکېده
زما نه يې سوې يوړه وې شه غېږ کښې مي لږ غلے
خو کله غم ځپلے زړۀ زما غلے کېده
د ځانګې تنګه ګېډه کښې يې وخواړه پيرونه
د ګل مقام ته هله مي جوهر ورسېده
په لار کښې راته پرخې ملغلري اونوستلې
سحر راته مسکے شه نسيم ماته غزيده

بلبل خبر که ګلو، چې ما بيلودل سوزونه
وې ګرانه يې سودا وکړه د ژوند او ژړېده

په دې وجه مي لمر ته که ګرېوان پاره پاره
که ما ته را عطا کړي هغه سوۓ مي دوباره

# حکمت او شعر

ورک په دوړه کښې د اوښې بوعلي رح شه
ده، رومي رح په لاس نیولې کجاوه
ده د بحر تل کښې وموندہ ګوهر
هغه خس هسې ګهنمڼ کښې شه دېره
حق چې شي بې سوزه نو حکمت شي
شعر ساز شي چې پرې سوز کوي پیره

# اور اورکه

په پنګه د ژوندون چې شوه مړه یوه ذره
د شوقه هسې سره شوه پتنګي یې کړله زده

روښانه یې کړه شپه

د لمر سترۓ پلوشه شوله راغونډه شوه شرر
د ژوند د حرارت په برکت شوله سره زر

او اویې شه نظر!

پتنګ ؤ بې قراره هر طرف ته ؤ په کو
په شمع وشوه داسې چې شو دواړه سره يو

## بېخي شو لکه يو

او يا وړوکې ستورې د سپوږمۍ د خوا و شا
د مځکې خوا له راغې په غرض د تماشا

## د لوريه د سما

او يا وړه سپوږمۍ چې دې يو پړق يې اختتام
احسان د پلوشو د لمر په ځان ګڼي حرام

## هر ځاې لري مقام

درته ګورمه شب تابه، دې بدن دي واړه نور
ښکاره دي الوتلو کښې شته غيب او هم حضور

## دستور دي د ظهور

تيارو کښې د دې شپو يې د مارغانو رڼا ته
له فيضه د کوم سوز دي وايه دي دا پړقېده

## دا ګرم ګرځېده

د خاورې ځنې موږه هم د څېلمې یو پیدا
که وینو که نه وینو، په هر حال مو ده کړا

ترمراد نه شو رسا

خبره درته وایم پټه ښهٔ کلکه پخه
د مقام په تمنا مه شه همېش په وړاندې ځه

تل ښایه جلوه

## حقیقت

ویل یو ځل دوربین پوره باتور هسې کرګس ته
زما چې په نظر کښې، دا څهٔ وینم دے سراب
ویل ورته ځواب کښې په دې شاه هغه هوشیار
چې سراب یې ته ګڼې زهٔ یې پېژنم دے آب
د ویخ نه د دریاب ورته ماهي ووئېل داسي
چې څهٔ خو شته ولې اخته په اضطراب

# حُدي ((د حجاز د ساروان نغمه))

اې زمـــا اوښـــې شـــم زار
ئـــې هوســـۍ مـــي د تاتـــار
دے درهـــم کـــه مـــي دينـــار
کـــه دا لـــږ دے کـــه بسيار
يـــې دولـــت مـــي تـــه بيـــدار

قدم واخله په تلوار، چې منزل مو لرې نه دے

تـــه مـــي ښـــکلې محبوبـــا
معشـــــوقې ښـــــکلې زمـــــا
يـــې د حـــورو نـــه اعلٰـــے
د لـــيلا ځـــنۍ ســـيوا
نـــازولۍ د صـــــــحرا

قدم واخله په تلوار، چې منزل مو لري نه دے

پـــه ګرمـــي کښـــې د آفتـــاب
ســـمندر کښـــې د ســـراب
پـــه رڼـــا کښـــې د مهتـــاب
ځـــي پـــه شـــانې د شـــهاب

او حـــرام پـــه تـــا دے خـــواب

قدم واخله په تلوار، چې منزل مو لري نه دے

تـــه وریـــځ یـــې خرامـــان
تـــه کشـــتۍ بـــې د بادبـــان
تـــه رهبـــر د خضـــر شـــان
دے هـــر ګـــران درتـــه آســـان
د زړهٔ ســـر یـــې د ســـاروان

قدم واخله په تلوار، چې منزل مو لري نه دے

ســـتا ســـوز دے دا زمـــام
ګـــنم ســـاز دي دا خـــرام
بـــې خـــوړو څښـــلو مـــدام
ســـفر کـــړې علـــے الـــدوام
ســـترې کیـــږې پـــه قیـــام

قدم واخله په تلوار، چې منزل مو لري نه دے

کـــه ماښـــام یـــې پـــه یمـــن
یـــې ســـحر لـــه پـــه قـــرن
ســـتا دے دا شـــکے وطـــن

دي دي پښـــــو لـــــه ياســــمن
لكـــــه هوســــــۍ وي د خـــــتن

قدم واخله په تلوار، چې منزل مو لري نه دے

كـــــره ســـــپوږمۍ ســـتړے ســـفر
شــــا تـــــه لاړلــــــه د غـــــــر
شـــــه مشــــرق وتـــــه ســـــحر
خـــــتم شــــپه شـــوه سراســـــر
د ميـــــرو هـــــوا شــــوه ســــر

قدم واخله په تلوار، چې منزل مو لري نه دے

دي نغمـــــې خـــــوږې زمـــــا
زيــــر و بــــم يـــــې دلربــــا
د كــــــاروان جــــــرس دے دا
غـــــم لړلـــــې غـــــم ربـــــا
اې حـــــرم بانــــــدې شــــيدا

قدم واخله په تلوار، چې منزل مو لري نه دے

# د اوبو څاڅکي

مدعا چې ده تازهٔ مضمون زما
نو روا دي که زړې وایمه بیا
"د وریځې چې یو څاڅکے پرېوته
شرمنده شه چې يې بحر ولیده
چې په محکښې زهٔ د بحر یمه څه
که دې وي حقه ده هیڅ نه یمه زه"
خو دریاب ورته په چیغه اووې دا
په دې خپلې کمزورۍ نه شې خطا
دے لیدلے دي ماښام او هم سحر
هم لیدلي دي باغونه دښت و در
په وښو هم پر اوړو د دې سحاب
پرقیدلے يې له فیضه د آفتاب
کله تنگ د ځنګل سره شې مل
د چمن د لېونو کله شې مل
کله شې ته په انګورو کښې مستي
کله خاورو کښې خاموشه دي هستي
يې زما له تېزهٔ موجه نه پیدا
وې له ما ځنې پیدا بیا شوې زما
راشه کښېنه مې خلوت کښې د سینې
شه جوهر مې د زړګي د آئینې

شه په غېږ د سمندر کښې مي ګوهر
چې د ستورو او سپوږمۍ نه شې بهتر

# د خدای تعاله او انسان تر منځ خبرې

## خدای[ج]

دنیا مي تمامي له یوې خټې نه پیدا کړه
او تاسو پکښې جوړ کړه د ایران تاتار ملکونه
د خاورو مي پیدا کړه درله څټګ سوچه فولاد
دي تاسو ترې جوړ کړي غشي تورې ټوپکونه
ته ونو د باغونو له تبرو نه سازوې
د باغ ښکلو مرغو لره پنجرې ته جوړوې

## انسان

شپه دي جوړه کړه نو ما ساز که څراغ
که را دي که کنډول نو جوړ که ما ترې نه ایاغ
چې کهسار او بیابان، ځنګل، دي جوړ کړل
نو ګوره چې ما جوړ کړل ترې پټې، چمن او باغ
د کاڼي نه مي جوړ کړه درله څټګ ښکلے آئین
د زهرو نه جوړومه په هنر سره ګبین

# ساقي نامه*

دا څهٔ ښکلې موسم دے ګوره څهٔ ښکلې بهار
چې ستوري الوتونکي شو پیدا په مرغزار
بهار کړه د تارو د وزرونو په شان مځکه
او شولې فوارې د ملغلرو یو آبشار
چې هر پله نظر ځي په ګلونو کښې ارغړي
هوا ده چې هر خوا کوي مستي په سبزهٔ زار
په غاړه د لښتو خو دي ښایست د غوټو ولید
په لاس کښې وي آئین لکه د ډېر ښکلي نګار
چې ځنګه یې خواږه او مزیدار دي آوازونه
چې غوږو له را رسي د هر کټ نه د ګلزار
په تن کښې ساه په ساه کښې مي بیداره تمنا شي
په شور د تاروګانو، د بلبلو په چغار
د دنګو- دنګو ونو د مرغو آواز ته ګوره
شو ځنګه د نغمو سره ګډ وډ د جوئبار
سرے چې ګوري وایي چې جنت جوړې الله
د پورته نه را کوز که جوخت لمن ته د کهسار
په دې چې مي بندیان د دې جنت په رحمتونو
دمه شي لږ له غم نه د سختۍ د انتظار

---

* د کشمیر په نشاط باغ کښې لیکل شوے ؤ.

په باغ کښې دا ګرځے چې دانه غواړم څۀ به غواړم
په کار دي را له مې، رباب، کتاب سره نګار
زما خوږه ساقي د سپين بشر نه دي قربان شم
مې راکه له نيکونو مي چې پاتې دے يادګار
په جام کښې هسې شان لړې اوبۀ راته عطا کړه
چې نور هسې روښانه شمه، ګرم لکه نار
ګلونه د لاله مي له ويدو خاورو پيدا کړل
چې خاورې پرې زما شي د جنت هسې ګلزار
د کاشغر نه هندوستانه پورې هر خوا ته چې ګورې
نو هغه يو انداز دے د مرغو د هر ديار
په سترګو د قامونو کښې شوې هغه اوښکې وچې
چې جوړ به يې اثر که د ازغو ځنې ګلزار
عادت مي د غلامۍ سره دا رنګ له کشيري* شه
چې ځان له يې بتان کړه دغه کاڼي د مزار
ضمير يې د خيالونو پاکيزۀ ؤ نه خالي شه
له ځانه خبر نه دے دا د ځان نه شرمسار
د دۀ په سر آقا ئې قبا اغوندي ريښمينه
د دۀ په نصيب ريخي، چيرړانګي تار په تار
فروغ يې د نظر نه په چشمانو کښې ليدے شي
او نه يې شته زړګے درون سينه کښې نا قرار
د هغه ميو څاڅکي د کشمير په خاوره او که
چې د دې سرو ايرو نه را برسېر کړي انګار

* د کشمير اوسېدونکو ته کشيري هم ويلے شي.

# شاهین او ماهه

ماهي بچې ناغس دا د شاهین بچې ته اووې
پرې دي د موجونو دا د سیلمې نه دریا
په مستې ناکې لکه وریځ شته غرېدونکې
پکښې شته بلاګانې قسم- قسم له بلا
درانهٔ یې سېلابونه عالمګیر او تېز رفتار
سینې کښې اندرون یې ملغلرې شته یکتا
بهر یې د سېلاب د دائرې نه وتې نه شو
کښته، پورته، لاندې، باندې را چاپېر دے رانه دا
په شانې د زلمو مدام په دو باندې روان دے
کمې یې د قوت هڅو لیدلې نه دي چا

بچې چې د ماهي په وینا خپله کښې راسور شه
بچې ته د شاهین وته مسکې شه په هوا
ویل یې زهٔ شاهین یم زما کار څهٔ دے پر مځکه
زما د وزر لاندې سمندر دے که صحرا
هوا ته پورته والوځه ور تېر شه له اوبو نه
پوهېږې د دې راز په حقیقت باندې بینا

# اور اورکه

ځۀ اورمه، یو ورځې چې ویل اور اورکي
نه یمه زۀ مېږے چې ګڼي خوے مي دے چیچل
بغیر د اور غوښتو نه، سوځېدل نه ده ځۀ ګرانه
خطا دې په ما باندې د پتنګ ګومان کېدل
که شپه توره لکه سترګې د هوسۍ شوه
د ځان په رڼايي به زۀ مدام کومه تلل

# تنهائي

بېتابه موج د بحر ته مي اووې ورله لاړم
وهې چې تل د وونه حل کوې د ځۀ مشکل؟
سینې کښې دي بې شماره قیمتي شته ملغلرې
زما د سینې شانتې لرې ته هم جوړې دل؟
په غورځنګ لاړه له غاړې هیڅ ګویانه نه شه دے
بیا لاړمه یو غر له، ورته وې مي دا ښۀ نه ده
چې اورې په غوږونو د غمژنو تل ژړا
که په زړۀ کښې دي وي پروت د وینې خاځکے لکه لعل
نو وکړه ما غمژن سره ځۀ قدرې مشغولا
نو چپ شه ساه یې رانښکه هیڅ ګویانه نه شه دے

نو لاړمه ترې لرې د سپوږمۍ مي تپوس وکړو
چې وایه مسافرې شته منزل دي څۀ که نا؟
جهان خو دي روښانه د سپین مخ په رڼائي دے
په خړ داغ کښې دي جلوه د زړګي شته دے او که نا؟
په ترس یې کتل ستوري ته خاموش پاتې شوه دا
تر شمس و قمر تیر شومه نېغ لاړمه الله له
ویل مي ورته نه لرم جهان کښې دي آشنا
جهان کښې دي زړۀ نشته دے زۀ سر تر پایه زړۀ یم
چمن دے ښه، خو نشته دي پکښې هي همنوا
نو یو ذره موسکۍ شه نور هیڅ ګویانه نه شه دے

# پرخه

ویل یې ورته کښته د آسمان نه راکوزېږه
په خود شه د دې بحر غصه ناک سره یوکېږه

د موج نه یې تاوېږه
یو نوے نقش کښېږده
ګوهر شه او پړقېږه

زۀ عيش د سمندر د وصالت نه قبلومه
چې خود زما نه يو سي هغه مے چرې نه څښمه

د ځـــان نـــه خبـــر يمـــه
جهـــان نـــه پېژنمـــه
پـــه ګـــل اوښيدمـــه

ويل وته ګل، وايي بلبلان د سحر څه؟
چې دوے ښکلي مجلس کوي تل پاس په شجر څه؟

دے دا زيـــــر و زور څـــــه؟
انجـــام د نظـــر څـــۀ؟
ازغـــے د ګـــل دے څـــه؟

ته څوک يې او زۀ څوک يمه صحبت مو دے دا څه؟
په څانګه د مرغو ده د غوغا مدعا څه؟

دے مـــراد د نـــوا څـــه؟
مقصـــود د صـــبا څـــه؟
ده ســـراے زړۀ دا څـــۀ؟

ویل مي چمن ځاے دے د ژوندون د هر ځایي
آخیر دغه مجلس به شي تس نس په جدایي

ســــــــــــاوونه ګرمــــــــــــــــایي
او روح دلکشــــــــــــــــــــــــــایي
رازونــــــــــــه د خــــــــــــــدایي

زۀ راغلم آسمان، له خاورو ته و ټوکیږي
ټول ذوق د نمود دے، که ټوکیږي که ښخیږي

کــــــه ښــــاخ کښــــې رپیــــدي
کــــه چــــاک دي کــــړي پــــردې
تــــــر مــــــراد ورســــــیدې

د زمانې په رګ کښې ګرځي زما اوښکې د سحر
دا کښته پورته څۀ دي، خو فریب دے د نظر

ســــــتورے مــــــي پــــــه بــــــر دے
زمــــــا د زړګــــــي ســــــر دے
هــــــم نــــــور مــــــي د بصــــــر دے

قميص کښې د دې ګل ښکلې يو ستن ګڼه دا خار
دے خار، خو همنشينو د اشنا کښې يې دے شمار

د عشـــــــــق دې پرهــــــــار
خـــــو غيـــــرِ کښـــــې دې د يـــــار
ســــــــامان دې د بهـــــــار

ځه پاځۀ مجلسونه پښواني پرېږده اې زړه
ګلونو د لالا سره کوه ليده کاته

د هوشـــــــيارو مـــــــل شـــــه تـــــه
آســـــمان تـــــه کـــــه خاتـــــه
کـــــــوې کـــــــه آلواتـــــــه

## عشق

چې تلاش پسې مې خيال واخيست قدم
لاړ تر در پورې د دير او د حرم
په صحرا کښې د تلاش به زغلېده
چور ليده لمن پر سر باندې د ده
بې رهبره ته په لورې د منزل
په اوږه يې ؤ د خيال ايښے محمل
ؤ د ميو په تلاش خو مات يې جام
لکه ايښے په هوا سحر وي دام

تا وېده لکه موجونه د دریاب
د صحرا بربوړکو هسې بېتاب
چې ناڅاپه دي عشق زړهٔ یوړو زما
هغه کلکه غوټه حل شوله زما
کړم آګاه یې په هستۍ او په عدم
کړه د عقل بتخانه یې راله حرم
چې مي تندر هسې پرېوت په خروار
په مزو د سوځ یې کړمه خبردار
شوم بېخوده او د تلو نه ووتم
لکه سوزے د خپل ځانه جدا شوم
ورسولم یې تر عرشه پورې زه
هغه راز چې را عطا که راته ده
تر ساحله مي کشتۍ شوله رسا
بدرنګي زما د حسن شوه رڼا
بې د عشقه مي بل نه زده حکایت
په دې کار نه لرم کار په ملامت
د علم د بنایست نه بې نیازهٔ یمه زه
سوځم، ژاړم، د تپش نه ویلي کېږمه زه
که ژوندون غواړې مدام یه په خطر
د زړهٔ حال یوې هوسۍ بلې ته اووې
ژوند به پس د دې نه په حرم کښې تېروې
په میرو کښې راته ساؤ کښې دي ښکاریان
د ژوندون زموږه ورځې شته نه شپې

په امان به شو د شر نه د صياد
شي په زړهٔ مو د غمونو نه آزاد
دې ملګري ورته وې واوره دانا
که ژوندون غواړې مدام يه په خطر
د غمونو په برجو وهه تل ځان
چې دي تيز وي تل د ښې تورې جوهر
دا خطر دي د طاقت دے امتحان
دا ده تله د مخلوق د تن او ځان

# د عمل دنيا

دا ده هغه ميخانه چې دے دعوت خو په کښې عام
خو د ميو پکښې وېښ کيږي په کچ باندې د جام
حقيقت د هغه راز چې لا آواز ترې خبر نه دے
هغه دلته کښې په شونډو دے د جام باندې کلام
دلته حال نشه عطا کړي، ضرورت څهٔ د قال نشته
د منطق رازونه دلته د ويخ لهه ده د جام
موږ د دې لاري سفر کښې د دنيا ساه دې پرېښودې
د دنيا د سحر لمر، دلته زيړے دے د ماښام

اې د خپلو غلطیو چې کوې تل تاویلونه
ته سکون چې ورته وایې هغه دلته دې خرام
په تلاش کښې یې چې مونږ له خپله کوره رابهر شو
علم مو ژوندے که د عمله بهرور شو

## ژوندون

تپوس د یو آزاد نه وکړ ما، څهٔ وي ژوندون؟
ده وې خومره چې تراخه شي شراب وې ګنه بهتر
ویل مې ژوند چینجے دے چې د مځکې نه بهر شي
ویل یې دے بچے د اور په شان د سمندر
ویل مې جوړې شر دے بس د دې غلي فطرت کښې
ویل یې خیر یې هم هغه دے ته چې وایې ورته شر
ویل مې ورته شوق یې رسا نه که تر مقامه
ویل یې چې منزل یې په دې شوق کښې دې مضمر
ویل مې دے خاکي ځکه په خاورو کښې ښخیږي
وې دانه چې خاوره وشلوي شي ګل ترې نه بهر

## د یورپ حکمت

داسې وایي یو سالک ؤ د ایران
هنرمند ؤ پوهنده او نکته دان

مړ شه ډېر په ځنکدن و کړېدۀ
زړګے ډک د ارمانونو يووړه دۀ
دا سړے شه پاک الله ته په ژړا
دے اجل نه زړۀ ذرې- ذرې زما
طريقه د ساه ايستو يې ده زړه
زده يې نا د وژلو نوې طريقه
دے په کار د سا ايستلو کښې لا خام
دنيا نوې شوه د دۀ دے زوړ نظام
د يورپ زده هنرونه ناآشنا
د قطرې نه سمندر کړي دوے برپا
تاؤ د فکر نه پرکار کړي د اجل
ټول هنر يې پرستش کړي د اجل
د ناکې هسې آبدوز يې وي روان
جهازونو يې بادونه کړه حيران
نه- نه وينې چې دا لمر ښکلے تک شين
په لوخړو کښې را پټ دے د مشين
په وژلو کښې ټوپک يې هسې تېز
چې د مرګ ملايکې ترې کړي ګرېز
دغه زوړ ساده يورپ ته ولېږه
چې هنر کړي د چټ پټ وژلو زده

# حوره او شاعر

## (( د ګوئټې د "حوره او شاعر" نظم په ځواب کښې ))

### حوره

نه مین یې په شرابو نه په غټو ما ته ګورې
عجیبه ده چې د عشق د لاري چاري ناآشنا یې
واړه ساز د جستجو دے، پوره سوے د تمنا دے
دغه ساه چې اخلې راخلې، دا سندرې چې ته وایې
د نغمو په برکت دي، هسې ښکلے جهان جوړ که
چې په مخکښې یې ارم یو تماشه ده، ته به وایې

### شاعر

په تېرو خبرو زړونه ته غلوې د رهروانو
خو مزه کښې برابر نه دي خلش سره د خار
خو فطرت مي سمې نه خوري د یو ځاے سره څۀ وکړم
د سحر د باد په شانې زړۀ لرمه نا قرار
په یو ښکلي بشر باندې چې نظر مي ور مین شي
نو زړګے مي په هوس شي غواړي ښکلے نوے یار
د شرر نه ستوري غواړمه د ستورو ځنې لمر زه
د منزل هوس مي نه شته ځکه وژني مي قرار
چې د باد نه د بهار چرې پیاله واخلمه پاځم
غزلونه نوي وایم په هوا د بل بهار

چې يې نشته انتها زۀ د هغې انتها غواړم
دي مي زړۀ کښې اميدونه هم نظر مي ناقرار
د عاشقو زړونه تل په دائمي وصل مړيږي
چې نه چيغې، نه دردونه وي نه غم او نه غم خوار

# ژوند او عمل

## (( د هائنا اسرائيلي شاعر د "سوالات" نومي نظم ځواب ))

يو پربوتي ساحل وې زۀ مودو راسي ژوندے يم
خو افسوس دے پوهه نه شومه په دې چې زۀ څۀ يم
مستانه موج چې داواوريد،نو په زغل شو زر يې اووې
چې روان يمه نو يمه چې اودريږمه نو نه يم

# الملک لله

پر غاړه د اندلس چې طارق وسوله کشتۍ
ملګرو ورته اووې کار دي وکړو ډير خطا

یو لرې د وطن نه او واپس به څنګه ځو؟
دي کله شریعت کښې د سبب پرېښول روا
نو توره یې بمبل کړه په خندا یې ورته اووې
هر ملک خو زما ملک دے، چې دے ملک د رب زما

# د اوبو لښته

## ((د ګوئټې د نظم "نغمهٔ محمد" ازاده ترجمه))

نظر کوه ولې ته ده روانه په مستۍ
په شان د کهکشان ځي په ګرېوان د مرغزار
د ناز په خوب ویده ؤ د وریځو په زانګو کښې
په غېږې کښې د غره د خوارِه خوبه شو بیدار
د کاڼو نه رفتار یې څهٔ نغمې خورې وباسي
په شانې د آئین صفا جبین او بې غبار
په لور د سمندر څهٔ د مستۍ په ادا ځي
د ځان سره آشنا او د هر چا نه جدا ځي
په لاره کښې سپرلي هغه ته جوړ که پرستان
نرګس لالا اوچت شو او رامبېل وتوکېده
په ناز وته ګل وې شه لږ خو ما څخه معطل
غوټۍ شوه په خندا لمن یې راښکله د ده
د باغ د حسینانو د نخرو نه خبر نه ؤ
روان دے په مېرو کمر او غر یې وشلوه
په لور د سمندر څهٔ د مستۍ په ادا ځي
د ځان سره آشنا نور د هر چا نه جدایي

ویل وته بېشماره د میرو غرونو لښتو
چې مخ دي د دې مځکې وي تل تا سره سازګار
د زیم کمي یو موږه پاتي کړي له سفره
د شګو د صحرا نه مو ته وساته کنار
بادونو ته پرانستې ده سینه د شرق و غرب
په غېږ کښې یې نیولي دي ملګري خوار و زار
په لور د سمندر ځۀ د مستۍ په ادا ځي
د ځان سره آشنا نور له هر چا نه جدایي
ؤ مست غوندي دریاب شه د هر بنده نه ورتېر
پر سمه په وادئ شه هم د غر په لمن تېر
په شان یې د سېلاب لوړې ژورې کړې هوارې
د شاه په حوېۍ شه په سنګر په چمن تېر
روان د زړۀ له جوشه ځه بېتابه تند و تېز دے
مقام یې تل وي نوے په ان فن د کهن تېر
په لور د سمندر ځۀ د مستۍ په ادا ځي
د ځان سره آشنا نور د هر چا نه جدایي

# د عالمگیر خط

## (( یو ځوه ته، چې پلار ته به یې ښېرې کولې چې مړ شي ))

ته نه پېژني خدای؟ چې ؤ او وي به تل تر تله
جهان کښې د هر قسمه تماشا یې ولیدله
زمونږ د زاره چاودو اوسېدونکو د دنیا
ده سختي- سختي چیغې اورېدلې دي بلا
په شانې د شبیر رض دي ډېر په وینو لمبېدلي
مګر ده په هیڅا پسې چري نه دي ژړلي
په چیغو د یعقوب ع نه یو ذره ولړزېده
نه دے څۀ په غمونو د ایوب ع وژړېده
د دې ښکاري په باب کښې غلط خیال کړے دے تا
چې دے به شي راګیر ګني په دام د دعا ستا

# بهشت

چرته دا ښکلے شیش محل د دنیا
چې جنت دا رنګه آسمان نه لري

نه يې يوسف^ع غم د زندان ليدلے
هم زليخا يې زړۀ نالان نه لري
نه يې خليل^ع دے چرې اور ليدلے
موسىٰ^ع يې اور زړۀ کښې پنهان نه لري
نه يې صرصر سره کشتۍ ده په جنګ
ويره د موج نه د طوفان نه لري
نه يې يقين وته په ساؤ کښې ګومان
وصل يې فکر د هجران نه لري
څۀ به وي خوند د غلط تلونکي عقل
که يې منزل لاره پيچان نه لري
نه مې دے خوښ دغه بې کيفه جهان
چې به يزدان لري شيطان نه لري

# کشمير

پاڅۀ ځه کشمير ته، سمه غر د دې وطن وينه
شنه- شنه وابنه تل په تل ګلان چمن- چمن وينه
باد د سپرلي موج په موج، مرغۍ قطار- قطار وينه
تنځري، زرک جوړه- جوړه په سر د نارون فلک
چې نشې د نظره، په نظر د نظر باز خلګ
ته د مځکې مخ باندې برقعې د نسترن وينه

ګل بهر د خاورو، موج وله کښې ناقراره شه
خاوره یې شرر شرر، اوبهٔ یې شکن- شکن وینه
ور کړه ټنګ رباب له، په پیالې کښې شراب واچوه
دا د خوشبویي نه ګل، وطن ختن- ختن وینه
ښکلې هندوګۍ، سپینه خربه او لاله رخه ده
دې ته چې ته وګورې د زړهٔ پرې الوتن وینه

## عشق

هغه عقل چې جهان یې یو بېباکه لمبه سوې شي
د جهان رڼا کولو کار د مینې زده کوې شي
هغه عشق دے چې په تا کښې هر یو کیف پیدا کواے شي
د روميؒ بې قراري د فارابيؒ حیرت کېدے شي
دا خبره مزېداره، زهٔ کوم او زهٔ ګڼېږم
که عشق ټوله بې تابي ده، خو پرې زړهٔ قرارېدے شي

هر مفهوم ځائېدے نهٔ شي، د الفاظو په جامه کښې
یو ساعت زړهٔ ته درون شه، ته به یې وموميې کېدے شي

# بندګي

بېګا تر سا بچه ساقي ويل په ميخانه کښې
خبره درته وايم د زړهٔ غوږ ورته لره
د تېرو شراب نوشو داسې قسم طريقه وه
چې تلل د ميکدې به، په مستۍ کښې هوش سره
نه وايم درته دا، چې مه کوه د عشق خبرې
خو اوسه په ادب سره شراب په قدر څښه
د لارې دوړه، "يو" ولې جوهر مو تمنا دې
بندګي، سره د شانه، په خدايي مه بدلوه

# غلامي

په خپله ناپوهي آدم بنده شه د آدم
يو لعل ؤ ورخخه ولې که نذر يې د جم
په خوۓ د غلامۍ سره د سپو نه شه هم لاندي
د سپي سر مي ليدلۍ نه دۓ سپي ته چرې خم

# د توري اړ

دا کوم داسې کلک خیز دے چې له کانې ځلا اخلي
د خضر^ع حاجتمند نه دے په شان د سکندر
پاک مخے دے په شانې د نظر د لمدو سترګو
ولې ته شي ورګډ ولې لباس یې نهٔ شي تر
ادا یې په یوه چسته مصرع پوره مضمون دې
چرې بلې مصرعې وته محتاج نه دے مګر

# جمهوریت

ته پنګه د معنا د کمینه خلګو نه غواړې
نو چرته کښې مېږے چرته حکمت د سلیمان^ع
غلام د پوخ سړي شه له جمهورو ځنې تښته
کولے نهٔ شي دوه سوه خره کار د یو انسان

# په یورپ کښې اسلامي مبلغ ته

اور بل بیا د نمرود کړه زمانې په دې جهان
په دې چې شي ظاهر هغه جوهر د مسلمان
د داغ نه د زړګي راځه چې بیا لرې پرده کړو
چې لمر شه جهانګیر هله چې دے شولو عریان
دي ښکلو د یورپ ته دي رازونه ډېر ویلي
بتان دي بلا ویلي کړل د علم په برهان
خبر د عرب ځوان که د سلمٰے د ښار له حاله
بڅري کړه د شوق ته بل په زړهٔ کښې د توران

ځه لار د خرآسان، عراق وهه مقام شناسه*
غزل سره واقف په دوباره که عجميان
له عمره راسي دے په انتظار د ربابي کښې
چې مړې ډېري نغمې شولې په ساز کښې د افغان
ته څۀ د محبت خبري وايې بوالهوس ته
وا نه چوې مېږي ته ته رانجه د سليمان

* عراق و خراسان و مقام د موسيقى اصطلاوي دي.

# غني کشمیره

غني ښکلې شاعر د بلبلانو همصفیر
مدام به چغیده چې په جنت کښې د کشمیر
چې کور کښې به ؤ نه، ؤ به پورې یې تل ور
او لرې به یې پرېښوده چې اوبهٔ وته بهر
ویل وته چا اې چې ته شاعر یې خوش بیان
دے ستا په دغه کار باندې هر کس پوره حیران
جواب یې مزیدار وکړ بې حده دې فقیر
فقیر ؤ خو بېشکه د معنا د ملک امیر
دوستان چې مي څهٔ ویني دغه کار نه دي ناآشنا
په دغه کور کښې نور هم څهٔ شته وایه بې زما؟
غني چې وي په خپله تر خو ناست په کور دننه
نو ښکه قېمتي وي هغه وخت په ور دننه
د هغه عندلیب نه چې خالي شوه دا خانه
نو خوشي به سیوا وي ترې لا کومه کاشانه

# مصطفٰے کمال پاچا ته خطاب

(جولايي ۱۹۲۲ء)

هغه ؤ يو امي چې د حکمت اثر يې دا ؤ
چې اوچتې مونږ پردې کړې له رازونو د تقدير
ؤ اصل مي د اور د رنـګ الوتږ شان بخرے
په فيض يې د تعليم شو مونږ لمرونه جهانګير
د زړهٔ نه د حرم د نګهبان مينه ده وتې
ذليل ځکه شو موږه په انداز د خپل تقصير
هوا ده د صحرا د طبعيت سره مو راسته
څپو د نسيم مونږ کړو د غوټۍ هسې دلګير
چې تبره د آسمان نه وه زموږه کومه چيغه
ژړا شوه چې راګيره شوه په دام د بم او زير
بغير له دامه موږه ؤ ښکار کړے بې حسابه
د ښکار له لاسه ښکار شو، دي په دست مو لينده تير
"چې آس دي شه ورسم په کوم طرف نو ځه ورځه پرې
دلي مو ماتې کړې ده د څو واره په تدبير"

((نظيري))

# الوتکه

په ځانګه کښې د ګل ناسته مرغۍ وه یو سحر
هغې نورو مرغو ته اووې داسې په هنر
قدرت چې د وزرو نه محرومه کړه بنده
په دې وجه په مځکه یې حصار کړلو ساده
ویل ورته ما دا چې هسې بوس بادوې ته
رښتیا که زهٔ ووایم نو خفه چې نه شې ته
دي مونږ د الوتکو نه جوړ کړي وزرونه
په لوري د آسمان موږه دي کړي سفرونه
پا شاني د مارغانو په آسمان که الوته
او تېز د فرشتو نه دے رفتار د دهٔ د تله
د باز په شانې الوزي قوي لکه عقاب
نظر یې له لاهوره ان پرېوزي په فارياب
هوا کښې منزلونه ښهٔ په جوش سره وهي
په ځاله کښې خاموشه وي په شاني د ماهي
د خاورو او اوبو نه عقل جوړ کړو جبرائیل
د پاره د آسمان یې که د مځکې نه دلیل
چې واورېده بیان دغه هوشیار مارغه زما
نو ما ته یې یو وارے وکاته لکه آشنا

وزرو کښې مشوکه ووهله اووې ده
څهٔ ستا په دې خبره تعجب نه کوم زه

نظر دے اې چې تل په ممکناتو باندې ستا
په دام د کوز او پاس کښې ګرفتار يې د دنيا
د مځکې کار دي سم که؟ منصفي شوله په تا
چې راغلے د آسمان په لوري بره په هوا

((سعدي رح))

# عشق

خبره مزېداره دا، چې راز دے او راز نه دے
په ډاګه وايم دا چې کوم ځاے واورېده له چا؟
دا پرخې د آسمان که راپټ اووې ګل ته
او ګل اووې بلبل ته ده خبر که ترې صبا

# تهذيب

انسان چې د تهذيب په غازۀ مخ که ځان له ښکلے
نو شوله توره خاوره يې آئين غوندي صفا
او پټه يې کړله پنجه د رېشمو دستانه کښې
کانې پرې د قلم شوې تېغ يې لرې کړو له ملا

د عامي صلحې جوړه بتکده کړه حرصناکو
چاپېر ترې ګډېدل به په ډولونو په سرنا
لیدله مي چې جنګ یې د ناموس پرده کړه څیري
بس تشه تربګني وه او هم یسفک الدما

# پاتې شراب

## غزلې

بهار چې په ګلشن کښې خوشحالۍ کړلې برسېره
غټو پرانستې سترګي د بلبلو په سرود

مه وایه چې مو واخښلې ازل کښې شوله خټه
موږ هغسې لا خیال یو په ضمیر کښې د وجود

په علم غرور مه کوه د رندۍ علم جدا دے
د ښار د قاضي ګوره ټول لباس دے مے آلود

سپرلي خورې ورې پاڼو د ونو کړلې جمع
زموږ نظر سبب شه د ګلونو د نمود

تل ځان ته چې نظر کړي دے د هغو دا نښان
چې نه کوي خبري د غائب او د موجود

پرون يو زنده دل بوډا دا اووې ميکده کښې
د هرې زمانې وي خپل خليل[ع] او هم نمرود

د ژوند په کارګاه کښې مي کوم شے نه دے جوړ کړے
ټول تلونکي ؤ چې لاړل همګي شولو نابود

نرمي د بت پرستو سره کړه ځکه چې مينې
بنا د بت د زړۀ کښې اچولې د محمود

د هند پر مځکه چيغه د ژوندون ده بې اثره
چې مړے به ژوندے په نغمو نۀ شي د داؤد

حلقه مې کړه په خلي باندې جوړه نوحه ګرو
ګل رنګو، زهره مخو، ماجبينو، سپين بشرو

په باغ کښې د ګلونو قافلې راغلې دېره شوې
د کوم لوري راتله وشو دلې د غوځ ځیګرو

تلاش د عقل، ذوق، ادب کوي چې مدرسه کښې
شراب کله خرڅیږي په بازار د ښیښه ګرو

صیقل که زما عقل دانایانو د یورپ که
خو زړهٔ مي ځلا وکړه په صحبت د نیک نظرو

کوه هغه نغمې چې دي پرتې ستا په سینه کښې
ناپوهه شه خالي له پردو چیغو بې اثرو

خبر نه شو هیڅوک چې زما هم څهٔ بها شته دې
زهٔ یم هغه متاع چې وي په لاس د بې بصرو

مدام نوي خدایان مي فکر ځان له جوړوي
د یو بند نه چې خلاس شي نو راګیر شي په بل بند

حجاب د مخ نه لرې که ښکاره راشه بلې له
زما په شان دي بل د دیدن نشته آرزومند

د خپلو روغو سترګو نه بې حده زۀ شرمیږم
په مخ دي د نظر نه جوړوم ځکه روبند

یو اوښکه، یو نظر، یوه خندا د حیا پټه
د عشق دغه وعدې له بل پکار نه دے سوګند

په عشق ځکه غاور یم چې دردونو د فراق یې
زما اوکه ستا مینې سره دا نوے پیوند

د اوره د سینې ځنې مې تپ واخله بلبله
سیوا چې د زړا دي شي اثر په خو- خو چند

که ورک شه د تیمور هغه چنګ ساز یې خو لا شته دے
د لوریه راروان دے جوړې بل د سمرقند

په ترخ کښې یې هر وختې وي پټ، نوے خدای نیولے
حرم ته که اقبال د حرم پیره! ځکه بند

د خپلو روغو سترګو نه زما دغه ګیله ده
چې لري ته پرده کړې نو پرده مې شي نظر

زما خاورې د لوريه نوريانو ته دا وايه
د دې خود دارو خاورو نه پکار دے تل حذر

بهار کښې مدام سوځومه په سوز غزلي وايم
بدن مې ډک له اوره په ژړا دې د سحر

له ځانه بې خبر مې د ژړا نه څۀ خبر دې
جهان د هغه بل دے او زما دې بل ډګر

په شانې د لاله يمه د باغ يوه ګوشه کښې
يو غشے د نظر مې دے ښخ شوے په ځيګر

په دين د زنده دلو، زغمل سختي زندګي ده
نه ځم ځکه کعبې ته، دے بې خوفه يې سفر

بې شماره جرګې جوړې کړې او بيا يې زر خورې کړې
په دې فاني دنيا چې دې روښانه پرې قمر

د خاورو نه دي جوړ نوے آدم که، درته وايم
چې وخت دي د ژوندون ګورې يو پړق دے د شرر

که نه يې بوالهوس نو يو خبره درته کړمه
چې عشق له بې اثره ژړا ډېر دے پخته تر

زما چيغو تازۀ هغه مړ اور کړ د عجمو
عرب مي د نغمو نه لا د شوق نه دے خبر

په دې طريقه دلته د محرم تلاش کومه
په غزلو کښې خبري د آشنا بيانومه

خلوت چې شي حجاب په کښې خبره هلته زه
په ژبه د نظر د زړګي راز بيانومه

چې ستا دې ښکلي مخ ته په کتلو شي لايق
د شوق نظر د اوښکو په ولو زۀ پاکومه

غوټۍ هسې اګرچې ما کړي ډېب له شيرازۍ نه
له شوقه د رڼا نه د لمر سر اوچتومه

د موج هسې وجود مي دے جوړ شوے له سېلابه
ګومان مه کړه چې بحر کښې ساحل زۀ لټومه

د ستړګو د نظر هسې یو زۀ هغه په کور کښې
سره د دومره لرې نه بس جوخت ورسره یمه

جهان یې زما مخې ته جوړ کړے یو حجاب دے
د لاس د جادوګر نه په جادو کښې بندي یمه

په ځاے یې نه شوم زه، په دغه بې وره ګنبد کښې
په دې وجه ازغې زۀ د آسمان د ستړګو شومه

له ذوقه د پرواز نه چرې ځاله کښې کښېنمه
پر غاړه د اوبو کله د ګل په خوا کښېې یمه

حجاب لرې که څه د محرمانو نه د ساز
چې ووایي نغمې نوي بلبل په خوږ آواز

په وینو د تلو لاره، د ګلونو یو پټې شه
د نیاز دې قافلې لره رهزن شو د چا ناز؟

چې تا یې خوبولې سترګې پرانستې چمن کښې
نو بیا خو دي نرګس په نظر هم که سرفراز

"دراز خبره ستاسو شوه تر خولې د ماشومانو"
زما د لوري وايه محرمانو ته د راز

د چل دغه سجدې دي کافران په واويلا کړل
دا تا چې د دې خلګو مخکښې لمونځ کړلو د راز

بها د عشق د عقل په موجب ده ډېره کمه
په تخت د جم به ورنه کړم زۀ آه ځګر ګداز

محمود وته بامبړ ويل چې ګوره کرامت مي
چې مات دي زما بت که نو بنده شوې د اياز

د باچا په کل چاکران زۀ پويومه په دې راز
چې جهان قابو کېدے شي د ستي زړۀ په آواز

څه نازيږي په دې پنګه، چې په بنار کښې د غمژنو
د محمود زړۀ څوک نه اخلي تبسم کښې د اياز

پوره ناز يې بې نيازي، بې نوايي يې واړه ساز دے
د شاهانو زړۀ رپيږي چې ګدا شي بې نياز

څۀ هوس مي د مقام کړې یم د زړۀ په دام کښې نښتې
نه نشیب مي دے نشیب، نه فراز مي دے فراز

که د عقل لار دي پرېښوه نو به ورسې تر یاره
که زړګے دي نیازمند وي او نظر دي وي پاکباز

کچه ستا بې پروایي کړم یم دې لاره کښې نیمګړے
لوغړن کړلمه ستا د نیم کشو سترګو دې ناز

کړله لار د بتکدې مي سجدو تخته د ګنو
په دې دوه رکعته لمونځ کښې نه ځیږي زما نیاز

د یارانو په جګړو کښې څۀ ناز او نیاز نه وي
خو یو زړۀ بهانه سوز وي بل نظر بهانه ساز

راشه نن چې ساقي ښکلي لاس کښې واخستلو چنګ
د سپرلي هوا چمن که واړه نقش د ارژنګ

د سپرلي د زړګي وینه یې نکریځې کړې د لاسو
د لالا د ګلو ناوې څۀ مینه وه په رنګ

چې نغمه وي اثري نو تر خپل ځایه نظر رسي
د هغې خبري مراد ته چې ترې ژبه کوي ځنګ

په نظر د مینې ګوره چې سراغ یې در معلوم شي
دے د عقل په نظر کښې دا جهان واړه نیرنګ

د عمل سبق د عشقه ځنې واخله هله کار کړه
چې هغه د هوش جوهر دے هم دے روح لره فرهنګ

دے زما او ستا مقام لا د آسمان نه هم په بره
د دې لارې قافلې له لمر دے ځلے د فرسنګ

همت ناک خاشکیه واوره چې دي و دانګل له سره
چې ګوهر نه شې دریاب کښې را وتل دي درله ننګ

د خپل قدره خبر نه یې چې د تا نه بها مومي
که نه وي لعل خو دے یوه ټوټه د سنګ

ما سجده بت ته ونه کړه بتخانې مې کړلې ورانې
زۀ یو داسې تیز سېلاب یم په هر لوري هوار ځمه

په دې شته او نیشت زما کښې لا د عقل دي شکونه
شوه د عشق د برکت نه دا معلومه چې زهٔ یمه

بتکده کښې مي نیاز دے په کعبه کښې مي لمونځونه
شکه په غاړه مي زنار دے نو تسپې لاس کښې لرمه

ستا د مینې د غم پنګه د تالان لایقه نه ده
د زړهٔ وتې اوښکې ځکه په لېمو کښې ماتومه

که مي کار د لېونو دے په وینا کښې زهٔ هوشیار یم
ستا د شوق له سرو شرابو زهٔ هوشیار لېونے یمه

د سپرلي هوا د باغ نه کړله جوړه میخانه
شه منګے یې دا غوټۍ او ګل یې جوړ شو پیمانه

چې کامله شوله مینه، رقابت ورځنې ورک شي
کړي یو ځاے طواف د شمعې، څنګه هره پروانه

د ژوندون په ساز کښې سوز دے په دې سوز کښې ساز د ژوند دے
څهٔ بې درده سوز یې ګوره، کړي بې تابه ترانه

د تنځري د وزرو د سایې ځنې ویرېږي
چې پنجره کښې د شاهین بچے عادت شه په دانه

اې مالي وایه اقبال ته، د دې باغ نه کډه اخله
چرته دا جادوګر نه کړي، مونږ د ګلو بېګانه

هغه ترک ګرم مزاج ته مې د لوري سلام وایه
چې یې تپ د نظر سوے یو جهان دے د آرزو

هغه زړهٔ چې وي غمژن، په دې خبره به پوهېږي
که توبه مو ده ایستلې، خو منګې نه ماتوو

ما د ګل په وفا پوهه، سل کرته کړې بلبله!
ولې ستا هم زړهٔ دے جوړ بل څهٔ ترې نه نه شو

که ته راز د ژوندون ګورې، بې له سوزه هیڅ کښې نشته
قرارې په سمندر کښې، شرم دے د آبِ جو

یم خوشحاله عاشقانو له دي سوے د عمر ورکه
چې بیدا دي د مرض د جستجو نه کړه دارو

ته چې وې وصل مې مه غواړه د خیاله دي اوچت یم
شوه د اوښکو بهانه ګرو بهانه جوړه ښهٔ وشو

په دې چیغو دي که باغ کښې د قیامت نمونه جوړه
چې تر څو دي دم سینې کښې دے بس نه کړې هاے و هو

چې آشنا دي هر ازغے که د قصې سره زما
د جنون دشت ته دي بوته، که دي هلته کښې رسوا

ګنهګار زهٔ په دا نه یم، هغه سجده باندې رانده شه
نه دي سازهٔ ما سره، نه د هغه شولې آشنا

سل جهانه راته کیږدي لکه ګل هسې مې خیال کښې
یو جهان دي راله جوړ کړو، په مرګې د تمنا

د جمال پړقا دي پورې ده د رنګ هسې ترې وتې
د مینا چینه پرده کړه د شرابو هسې تا

نوې طرحه را پیدا کړه، طبعیت کښې مې جدت دے
دا دي څهٔ حیرت خانه د نن صبا کړله پیدا

بختور، عقل د میو په انکار و سوځوه
د لالا هسې دولت یې د سور اور راجمع که

ته هم په سرو شرابو د بشرې نه چمن جوړ که
چې د مکر ریاکار سپرلي صوفي ته وبخښه

زړهٔ مي خفه په محرومۍ شو د حرم د فقهي
د فتوٰے په عوض جام پیرِ مغان چې ور نه که

اندازهٔ مي د سرود له بې اثره نوا مکوه
د نغمې په برق شي ملک د سکندر ستي کېده

اې نسیمه! ځه سلام مي د ویمر* چمن ته یوسه
چې په فیض د عقلمندو دغه ملک روښانه شه

آسمان مو شه آشنا زرکه شراب راله راوړه
د ځانګو نه نغمې لکه غوټۍ وټوکېدې

په یاد د کمو ښښو یې د امام د حرم ښښمه
چې تل یې ښښي یارانو سره، شاته د پردې

* د جرمني د یو ښار نوم دے چې ګوئټې شاعر پکښې دفن دے.

د هغه سالک قام د کبل زیله شه چې اویې وې
د ژوند د لار ډیوې دي د امید دغه جلوې

بلنده د یارانو د همت نه مي نغمه ده
غزلي مي په خوشي ځاۓ کښې تل ځکه اووې

د شعر د جنس ذوق د خریدار لره معیار دۓ
چې پنګه مي څوک ناخلي خفه یمه په دې

د شعر د اقبال نه دا خبره څرګندیږي
کوله یې عاشقي او ؤ استاذ د فلسفې

د تورې، د خنجر او د نیزې کړم تمنا
زمانه لر شه لار ده د شبیر مي تمنا

دپاره د دې جالي مي دا ډکې راوړه ګوره
او بیا وینه انکار ورله تاؤ ګیر مي تمنا

ویل یې راته چپ شه حال ونه وایې هیچاته
ویل مي بس ده یو چیغه تکبیر مي تمنا

ویل یې راته وایه تمنا چې دي کوم شے وي
ویل مي دا ظاهر لیده تقدیر مي تمنا

بغیر د دې نه هیڅ د ځان د حاله خبر نه یم
چې خوب دے رانه هېر او د تعبیر مي تمنا

د ناز هغه نظر چې یې اول مي زړۀ ؤ وړې
شي لوے دے ګزار بیا د هغې تیر مي تمنا

په تار کښې د زنار د تسپو زده کړه بوټل
دورنګ که دي نظر وي درله ښۀ دے نه کتل

په شان د بوے بهر شه د خلوت نه د غوټۍ ته
په وخت د سحر زده که د نسیمه سره تلل

په شانې که د پرخي یې پیدا کړلې کمزورے
نو پاڅۀ د لالا په ګلو زده کړه څڅېدل

که نرم د تنکي ګل د ازغو په شان یې ته
دپاره د ناموس د چمن زده کړه سومبېدل

له باغه که مالي لر کړې باهر يې وئیستلې
په شان د کبل زده که بیا د سر نه ټوکېدل

که وایې چې کامل شمه په زور او په تاثیر کښې
له میو ځنې زده کړه په خلوت کښې پخېدل

د بل د بر د لاندې به تر کومه پورې اوسې
چمن کښې د آزادې هوا زده که الوتل

چې لاړم بتکدې ته بامبړانو راته اووې
حرم کښې اور که بل او ورته زده کړه تودېدل

د خپلو خاورو غواړه چې کوم اور نه دې پیدا
چې ستا د تقاضا ده سارې دغه تجلٰے

د جم په ملک به زۀ د نظیري مصرع ور نه کړم
چې څوک نۀ شي شهید نه دے له قامه نه زما

منم چې جادوګر عقل تر تاؤ کړه لښکرونه
خو غم مکوه هیڅ چې محبت نه دے تنها

خبر نه ته د راه، نه د مقام ځنې واقف یې
ګني هره نغمه شته دے په ساز کښې د سلمٰی

په ځان کښې یمه محو اوزګار نه یم ننداري ته
او دې خوا حسن خور شو د جانان مي په دنیا

په ښار د معشوقو کښې راځه جوړې چې کړو چیغې
جنون د زنده دلو په کار نه دے په صحرا

قیصې د نهنګانو د ښکارونو راته وایه
مه وایه چې کشتۍ مي د دریاب نه ده آشنا

د هغه بهادرانو معتقد یمه چې نه ځي
پر هغه لار، چې نه یې پکښې دریاب، غر او بېدیا

شریک به په مجلس کښې د رندانو باده نو شو
د هغه پیر نه تښته چې دے تښتي له غوغا

ښکاره کول خبري، د وینا څهٔ هنر نه دے
مدام وي د رازدارو په رموز سره وینا

د بحر د سینې نه دے آسان د موج شلول
په ورځ د خپل لښتي باندې دریاب راسمول

د زړونو یو جهان د غم په چیغه غوځول
په باد د نسیم زړونه د یو باغ ګلو خیرل

په لاس باندې جبریل لکه بلبله کښېنول
وزر یې د یو سوي وېښته ول سره تړل

حکومت د جام د جم نه هم نازک دے سکندره!
بارونه د آئینو څۀ دي په کاڼو ماتول

که ځان دي کړ محکم دغه طوفان هډو هیڅ نه دے
آسان دے د ګوهر هسې دریاب کښې کښېناستل

فقیر یمه بې نیازۀ بس زما دغه دستور دے
د خواست د مومیایي مي خوښه ملا ده ماتېدل

ټوله شپه د غم په شوګیرو کښې تېرول
سوونو اسویلو نۀ شي یو شعر دل آویز

په عشق او په هوس کښې که پوهیږې فرق څهٔ دے؟
تېشه ده د فرهاد هغه، دا مکر د پروېز

خبر که راز داران چې دا زما یو پوټے خاورې
ده دوره نظر بازهٔ هم ده خاوره بلاخېز

بې خود شمه مطربه هم ساقي زهٔ پرې مستېږم
آواز چې مي تر غوږو د مارغ شي سحر خیز

د لور د سمرقند ځنې راپورته چرته نهٔ شي
فساد د هلاکو، هنګامه نوې د چنګېز

مطربه غزل بیت که واے د روم د پیر به واے
چې روح مي لړ غوپه شي په انکار کښې د تبرېز

کړه تورې په رانجو دي دا ملالي سترګې بیا
چې ذوق د جنون زیات شي غزلګویو لره لا

جهان کړه نوے جوړ او کلک آدم ورله پیدا که
د خاورو ګوډاګے خدای له جوړول نه دي زیبا

نه حال د زړهٔ ویلو دے نه درد یې د ښودلو
ملګرو چاته وکړمه ژړا او انګولا

لري نه ګرمي اوښکې نه تاوده- تاوده آهونه
د عقل ښیښه و ویشته په کاڼي باندې ما

په چنګ غړولو جوړ که باغ او باغ کښې مجلسونه
شراب خوره غزل وایه، تنۍ لر که د قبا

سحر شه قافلې وکه لمونځ، ځي بس روانیږي
خو نه دے اوریدلے جوړ آواز د جرس تا

د شاه نه منت بار نه یې کرم وته محتاج یم
وګوره بوالهوسه! دا همت د دې ګدا

د عقل د مکرونو کشمکش دے د لیدو
چې مشر د کاروان دے ولې خوے یې دے د غلو

د لاري تپوس ونه کړې د عقل کلان کار نه
په دغه باب خبره ده د عشق د اوریدو

منم چې یورپیان خبري ستورو سره کاندي
خو ځان ترې نه ساته چې رنګ یې دے د چلولو

کوي دغه دنیا کښې د مرګ ژواک څۀ تپوسونه
دا ژوند د غم نه ډک دے ځنکدن لري مرګو

په خوا کښې د غازیانو د قبرونو لړ ایسار شه
د حال په ژبه تا ته دوے خبري کا یو څو

عربو کښې دېره شه چې مجلس کښې د عجمو
شراب دي ختم شوي هم یې جام د ماتېدو

نه شیخ دے نه شاعر او نه کندپوش ګوري اقبال
دے سترګي یې مړې که ګدا ښکار د کوڅو

په زړۀ کښې مي ارمان د هغه بدر د لیدو دے
دے لاس مي پر زړۀ ایښے او نظر په لور د بام

ویل حسن زما هډو ماښام د سحر نشته
ویل وته دے عشق زۀ ناقراره یم مدام

غرض مي په نن شته نه په صبا په پرون باندي
لرم لوړي ژوري نه، نه شته زما مقام

شراب سمه د راز خو لا يو څښونکي مي ونه موند
زما په ميکدې کښې وي دايم دور د جام

زما دغه غوغا ښخه نانجاېه مه تيرېږه
مقام مي دے لاهوت د يار دے ما ښخه پيغام

حجاب مي اوچت کړے دے وينا کوم پرده کښې
يم توره خونړۍ اوسم دننه په نيام

د تندي نه په ښاخ کښې د ژوندون مي ده نمي
د آبِ حيات سعي به دليل وي د کمي

زۀ حال د زړګي چاته ووايمه چرته لاړ شم
چې آه شه بې اثره هم کتل بې ادبي

د ساز پرده دي کوزۀ که، غزل په دمه وايه
د دې باغ د مرغو چيغې لا غلې غوندي دي

ده پنګه د کاروان زما لوټلې حجازيانو
خو وايي به څۀ نه ګورې دے يار مي عربي

په تندر د یورپ تازۀ چمن شه د ترکانو
ظهور د مصطفٰےؐ له بولهب همېشه وي

په تله د عجم او هند مي مه تله شعرونه
چې دا د نيمې شپې اوښکې سوچه لعلونه دي

د روم د پير د خم نه مي مے راوړي د سخن دي
چې خوند کښې ښۀ کورو د شرابو ځنې دي

فرق نه که په کعبه او بتخانه کښې عاشقان
جلوت يو د آشنا دے بل خلوت دے د جانان

مزار مي د حرم لاره کښې جوړ شه يم خوشحاله
له کعبې نه بتکدې ته به زۀ ځمه په مژګان

يو ملګرے چې هوشيار وي ورسره شراب دوه جامه
دے بهتر له کل جهانه هم له حورو د جنان

هر سړے په سترګو ګوري، هر سړے خبرې کړے شي
په مجلس کښې دي شروع دے په داستان پسې داستان

دغه څوک دے چې شبخون يې په دې زړونو بانده وکړ؟
د ترکانو هسې لوټ يې د آرزو کړل سل جهان

جبرئيل مي په ښکارګاه کښې نا پکاره غوندي ښکار دے
اې زما نره همته! په قبضه کښې که يزدان

چې کوم راز د ويلو نه ؤ، نو اقبال پر منبر ووې
د خلوت د ميکدې نه شه باهر کچه نادان

د عدم د خوبه سترګې به پر مخ دي غړومه
جدا ستا نه بې له تانه ژوندون نۀ شي تېرېدے

چې دا زړۀ مي دے دنيا کښې، که دنيا مي ده په زړۀ کښې؟
په دې باب کښې څۀ مه وايه د دې حل نۀ شي کېدے

د يارانو زړونه اوسو دې زما غمژنو چيغو
يم په داسې نغمه مست چې حال د ويلو يې نه دے

څۀ فائده ده صبا وایه د دې پرخې د پونې نه
د لالا د ګلو اور کله په دې شي سړېدے

په ربنتا شه د الله، مدد مه غواړه د شاهانو
دغه بت ته د لایق د سولېدو نه دے تندے

د ښیښې دغه ګنبد هم یې دا لوړے او ژورې
د عاشق زړګي کښې ځاے شوه تمامي دغه دنیا

که اسرار د ازل غواړې لږ دي ځان وته نظر که
د وحدت او د کثرت ده هر طرف ته تماشا

اې بندي زړګیه! وایه پوهه شولې څۀ وي مینه؟
څه د سترګو په لار وزۀ که سینه نه زغمي تا

د سپرلي موسم کړه بله د ګلونو ډیوه پاڅه
د صحرا فضا کښې کښېنه لږ په خوا کښې د لالا

زر افسونه دي د مینې او زر لارې دي د حسن
نه شمېرلے چرته ته شې نه شماره کیږي له ما

ځو- ځو واره وختلې ځو- ځو ځله پرېوتلې
خاقاني، فغفوري ډېرې لاړې راغلې په دنیا

ورسره هم ترې نه بیل یم دا فراق دے که وصال دے؟
عقل وایي څۀ په دې کښې؟ عشقه رایه څۀ ده ستا؟

په صوفیاوو کښې یو صوفي ته لیکلے

د لیلا د مقام مینه ته لرې نه شته زما
د صحرا د تاؤ زغملو همت ستا شته نه زما

زۀ ساقي یمه ځلمے ته پښوانے پیرِ مغان یې
دے مجلس د ځیلمې ترے، نشته یو څخه صهبا

زړۀ او دین مو کاڼه کړي په سپین مخو د عجم دي
د سلمٰے د مینې، یو نه لري، دواړو کښې سودا

ؤ ټیکرے چې په غاړه مو د بحر ؤ تول کړے
د یو تن په لاس کښې نشته یو دانه ګوهر یکتا

د ورک شوي یوسف ذکر دوباره ګوره ونه کړې
خریدار را کښې یو نشته دے په شان د زلیخا

دا به غوره وي چې موړه زړګے صبر په ډیوه کړو
توان مو نشته چې مونږ وګورو جلوو ته د دنیا

یم رهبر د شوق د لاري لمن کلکه زما نیسه
که بخرے د سور اور مي خپلو خاورو کښې آمیز

د لالا ناوې د ناز د حویلۍ نه را بهر شوه
لږ راشه چې دي وسومه د شوق په بیان تېز

چې په هره زمانه کښې یې په نوي رنګ بیان دے
د فرهاد د غم قیصه ده د عیشونو د پروېز

که پیدا یمه په هند کښې دي مي سترګې بینا کړې
پاکو خاورو د کابل د او بخارا او د تبرېز

زما د زړهٔ دنیا کښې خو دوران د قمر نشته
دے داسې انقلاب چې یې ماښام او سحر نشته

په هغه بې همته قافله باندې افسوس دے
غواړي هغه لاره چې پکښې هیڅ خطر نشته

د مینې د طوفان سره آشنا شه عقل پرېږده
د عقل په ولقه کښې نوم نشان د ګوهر نشته

د دواړو د دې خیال چې مدعا څۀ ده پوهېږې؟
نظر هسې دے سترګو کښې باهر یې اثر نشته

زما چیغې نا رسا دي بې اثره مې ژړا
د دې سوز و ساز حاصل دے یو زخمي زړګے زما

په تکل کښې یې زړۀ یــې کوره شه دا دیر و حرم شه
زۀ یې یم په تمنا هغه مې دے په تماشا

محرمانو پرده لر کړه زۀ خودی کښې شومه محوه
غیرتي عشق ته مې ګوره څوک دیدن غواړي د چا

میکده کښې پرون کړې ده، مطرب څۀ بنۀ خبره
چې شراب څکل ګنا ده څښل یې نه دي ناروا

زندګي د رهروانو تل سفر دے که پوهیږې
د موجونو د کاروان منزل لیدلے نه دے چا

یو انګار یې راله پورې په خشاک د ژوندانۀ کړ
چې مرشدؒ مي د روم اووې "دے منزل مو کبریا"

سوز و ساز د شاعرۍ وي د زړۀ چیغې مستانه
د دې شمعې رڼا تیزۀ ده د زړۀ په پروانه

موتې خاورو کښې د تن مي ذوق و شوق د چیغو نه ؤ
شه د دې هنر سبب یې د زړګي دا پیمانه

دا بې نوره تورې خاورې چې جهان دي ورله نوم که
د زړګي دا بتخانه ده د دې بت زړۀ ستانه

نجومي په رصدګاه کښې تماشه کوي د ستورو
په تکل کښې د سرحد دے د خپل زړۀ د ویرانه

په کمند کښې د نظر یې راحصارې فرښتې دي
هم صوفي دې خپل زړګے سختو حملو که دېوانه

هغه محمود چې په سوونو بتخانې یې نړولې
اوس په غاړه یې زنار دے د زړګي په بتخانه

ما لیدلے غټ غافل د مسلمانه ځنې نه دے
چې سینې کښې یـې زړګے دے ترې نه دے دې بېګانه

لوے والے واخلي غرونو نه وښو ته یې بخښي
د جم شاهي توپۍ کله ګدا له ورکوي

په کار د عاشقۍ کښې څۀ تپوس د نسب نشته
کمال د کلیمې کله نصیب شي د حبشي

محروم لخت جګر کړي د باچا کله له تخته
او کله ورله راولي د کوئ ځنې قیدي

نظام د حکومت کله ګدا ته حواله کړي
خو تیغ وته اول د پاک نظر عطا کوي

عقل چخڼے کړلو مینې دا جهان واړه بدل شو
آیا ما ته اجازت د اسویلو به عطا شي

حرم کښې ته ځایېږې نه راځې په بتکده کښې
په نورو مشتاقانو څۀ په شوق سره راځې

حرم ته د عاشق د زړۀ بې خوفه ځه دننه
د کور يې ته مالک شۀ له د غلو هسې ورځې

کوې د لمونځ ګزارو تمامي پنګه تالا ته
په زړۀ د بت پرستو شۀ ناترسه کړې حملې

په وژله د دوستانو پسې کړې کله لښکرې
شراب کله مجلس کښې د دوستانو سره څښې

په ونه د کليم کله ناڅاپه بل کړې اور ته
په شمع د يتيم کله پتنګ هسې ورځې

يو جام واخله اقباله! د خودۍ د ميکدې نه
بې خوده د فيرنګ د ميکدې راغلے يې

د عجم د بت کدو ګرمي نه رسي تر ګداز مي
د عربو محمد ص په يو نظر واخيست حجاز مي

زياتوي مي مشکلونه دم په دم فريبي عقل
که په فيض د نظر مات کړي دا طلسم د مجاز مي

د ژوندي زړهٔ بېتابۍ ته فریب نه رسي د عقل
د منطق د دیر نه راشه لږ حرم ته د ګداز مي

آئینې هسې مه وینه همېشه پردې جمال
د سترګو او زړګي نه و وینئه پردې خیال

د حرم د بلبلانو د نوا ځنې اور واخله
د پردۍ ونې د ځانګې جاله که ستي فې الحال

دنیا کښې الوتنه هم په خپل وزرو زده کړه
هیڅکله الوتل نهٔ شي د بل په پر و بال

زهٔ بنده یمه آزاد او داسې قسم غیرتي یم
چې په یو جام پردو میو به شم بې تېغه حلال

اې نزدې راته د ځان نه، چې دي نه وینم په سترګو
ستا بېلتون به بدل نه کړم د اغیارو په وصال

د عشق دنیا کښې شته نه امیري نه سروري
دغه بس ده چې کواږ شي تمام عمر چاکري

که طواف يې د بت وکړ او زنار يې کړ په غاړه
دا مه وايه زده کېدے ګني په دې شي کافري

دلته دي ډېر خيبرونه قسم قسم بلاګانې
هر سړے کولۓ نۀ شي په اوربشو حيدري

په نظر کښې د هوشيارو دے بهتر له سکندر نه
کوم ګدا چې پېژندلې ده رښتيا سکندري

د سپين مخو فريبيانو مجلسونو کښې څۀ نشته
شه مريد د هغه پير چې شي کولۓ دلبري

د يورپ هوشيارو جوړ کړه د ښيښو ځنې جامونه
خو حيران يمه په دې چې واي دې وته پري

د مسلم د بې دينیِ به زيات له دې ځنې څۀ وايم
چې دے ځوے د خليل دے، ده پېشه يې آذري

لږ مي راشه غمکدې ته خو چې تا وته ښکاره شي
چې زۀ يمه سوے ستورے خو مي زده کېمياګري

ته مجلس ته د اقبال راشه يو دوه جامونه نوش که
چې خرېيلے يې سر نه دے خو ورځې قلندري

چې مي غلام نه دے د دوست داسې سردار نشته
او نه غلام لکه خواجه يې خريدار نشته

وعظ خو واړه د واعظ دے په کليمؑ او په طور
خو هغه پړق يې آئينې کښې د ګفتار نشته

د مصلحت په غرض پير مي شه مجاز ته رجوع
که نه وي ښکلو سره هيڅ يې سروکار نشته

ځان له کندپوشو کناره که، شه غلام د هغه
ځان ترې ساته پکښې هوسۍ دي د تاتار نشته

زما د ساز ځنې نغمې د عافيت مه غواړه
چې په رباب کښې مي د دغه نغمو تار نشته

راغے زړګے مي شه بامبړ ځان له تندے يې که سور
خو لياقت په کښې بيا هم لا د زنار نشته

ځکه مدام په ميکده کښې کوي عشق خبري
چې په دې دير او په حرم کښې يې رازدار نشته

په باغ کښې ليونو بلبلو بيا وکړ آواز
او ناوې د لالا د ګل شوه سر تر پايه ناز

يې پوهه په پړدو ته دا آواز راځي د غيبو
د خولې د غزل خوانه نه د تاره دے د ساز

چې ساز ته د ژوندون يې ور رسا سر د شهباز که
نو واوره دا زما نه دے محرم دغه د راز

د حال د محرمانو د دنيا نه يې خبر کړم
خو چپ يمه لا ځکه چې آسمان دے دوکه باز

په لاره د دوستۍ چليږه رښتي سپورې مکوه
زموږ دواړو پيوند ګوري يو کار دے خدا ساز

د دغه تورو خاورو له مقامه څوک خبر دے
چې هر څهٔ لکه تلونکي شګې زغلي په پرواز

له باغه د کشمیر د جنت ګل مي دا وجود دے
زړګے مي حجازي دے دي نغمې مي د شیراز

د خاورو نه پیدا تلو کښې یم تنده ستاره
د شین آسمان په بحر کښې لټومه کناره

زما شته او نشتوالے خو د ژوند یوه شعله ده
شرر هسې په ذوق د خودۍ یم پاره- پاره

ووایه فرښتو ته د سلیم عقل له فیضه
په ستورو د سورلۍ د خاکي وینې نظاره

په عشق کښې د غوټۍ هسې په باد صبا پو
په کار د زندګۍ کښې مګر کاڼي یو خاره

په دې چمن کښې شوې مي نرګس هسې دي سترګي
نقاب له مخه لري که یم واړه نظاره

د سرو اوښکو په دریاب مي ټول عرب شه لاله زار
او عجم خزان ځیلے له ښۀ دم زما بهار

زندګي دا حرارت دے، حرارت جاوداني دے
د دې خاورو ذرې واړه مي يو زړۀ شه ناقرار

نه قيام يې په منزل نه يې په لاره قرارے شته
دغه زړۀ مي مسافر دے شه الله يې مددګار

ځاے مي وساته د عقل نه، هر کار يې دے نيمګړے
زما زړۀ په هغه ساز وړي چې شلېدلے يې دے تار

ته ځلمے يې لا بې غمه زما شعر واړه غم دے
خداى دي کړي چې غزلونه مي شي تا سره سازګار

که مي زړۀ ته شوې دننه دا آرزو به پکښې مومې
چې خداى کاندي دغه پرخه سمندر شي بې کنار

هغه ژوند دي خداى نصيب که چې مدام وي بې قراره
د ژوندون د بې تابۍ نه دي روزي مه شه قرار

دے نقصان دي په نظر کښې هم دے عقل کچه ستا
نۀ شي هيچرې به پوخ بې د کليم د تقاضا

سالکه! ځان ته ګوره که ده لار هڅو خرابه
خو مهي نه ویخ د بحر کښې هم لا ښکاري صفا

غیرتي بنده حاجت چرې شاهانو پسې نه وړي
د ګیا خوړ به په غر کښې هیچرې نشي پیدا

ښې د شو ق نغمې مي واوره چې پکښې به ومومې ته
د شاهۍ او فقیرۍ واړه رازونه هویدا

دے پوکړے مي درله داسې لکه ګل لره نسیم وي
که مزې وي د سحر د اسویلو لیدلې تا

اې آسمانه! دي دا سترګې دي پوره کلکې ناغې
معلومیږي چې ته غواړې جوړې نوې تماشا

په شرابو دي سر خوش یو خم شکن نه دے چې نه دے
په سروشوندهودي مست یوشیرین سخن نه دے چې نه دے

عربي قبا کښې ګوره په څۀ قسم ښکلے ښکاري
په قامت دي برابر یو پیرهن نه دے چې نه دے

وي خاموشه به دي شوندوې ولې ستا د مستو سترګو
کوم زما د سوي زړ سره ګفتن نه دے چې نه دے

ستا خبرو له جوړومه دا د شعر مجلسونه
په خلوت کښې مې درون يو انجمن نه دے چې نه دے

معجزې د سليمان زده دوباره که مسلمانه!
دې غمې وته دي غل يو اهرمن نه دے چې نه دے

که شاهي ټوپۍ او تاج يې هډو نشته دے پر سر
خو ګدا دي د در نه دے د بادشاه ځني کمتر

دے زلمي واړه ويده د بوډاګانو زړونه مړه دي
په نصيب کښې د يو هم آهونه نشته د سحر

چې په دې بهانه ته پاتې د طلب ميره کښې نشې
چې د دې لاري دي نشته نن زمان ګنې رهبر

چې له ځانه غافل نه شې د هغې زمان کوشش که
چې پرې نشته د کلونو او د مياشتو څۀ اثر

که امید د عافیت د دې جهان ځنې لرې ته
نو د ژوند په کشمکش دي جوړي نشته دے نظر

کاتبان به د عمل، لیکي زما څۀ ګناهونه
چې جهان کښې دي زما وه برخه بس دغه نظر

راځه یاره! چې موړه د اقبال لمن کړو ټینګه
په رښتیا دے د خانقاه د کند فروشو نه بهتر

یو انکار لري په غبږ کښې بې پروا مینه زما
یو بڅرے قدرې اور مې سنړ حکمت نه که پیدا

چې کامل چرې نیاز شي نو ټول سر تر پایه ناز شي
د جنون دښت کښې مې وېلے شي مجنون وته لیلا

ما درشلې لره ستا راوړي دي د خپل وطن
چې د شوق کومې سجدې مړې په تندي کښې وي زما

دې زوړ کافر ته توره ته په لاس کښې دي لا ورکړه
بیا جهان کښې مې ته ګوره هنګامه دي د اِلاَ

بیا ګردش ورکه آسمان له چې د وخت د دې ضمیر نه
تېر پرون مي ببرته راشي په جام کښې د فردا

د درګا په نعمتونو دي مړه تږوله دنیا کړه
راکوې مي ناسینا له د سینې ولې رڼا

وایم پټه به یې خدای وته ښکاره یې تاته وایم
اې رسوله<sup>ص</sup> د الله! هغه دے پټ وینمه تا

تا بتان نوي جوړ کړي صد افسوس
نه دي ځان ته دي کتلي صد افسوس

د یورپ په تاؤ شوې توے هسې د سترګو
داسې قسم له شوې ویلي صد افسوس

چې په کوم بازار د خاورو بها شته دے
تا په هیڅ هم نه اخلي صد افسوس

که کامل شولې په عقل خو د عشق
تا ابجد نه دي ویلي صد افسوس

د کعبې طواف دي وکړ دیر ته لاړې
نه دي ځان ته دي کتلي صد افسوس

# نقشِ فیرنگ نظمونه

## پیغام

اې باد د صبا! پیغام زما وایه یورپ ته
چې څومره عقل الوحي دے دومره ګرفتار
که ده بجلي پیدا کړله هغه کړله راښکاره
د عقل جادوګر ځنې دا عشق دے جګردار
د ګل د رنګه زیات چرته هیڅ شے نه ویني سترګې
اګرچه دي پرده کښې د رنګ هر څۀ په دیدار
لرې که معجزې د مسیحا څۀ تعجب دے
په دې دي تعجب دے دي بیمار پوره بیمار
په دست کښې دي که عقل دے زړګے دي پرېښودلے
کره دي په کوټه باندې افسوس چې دے بائللے
څۀ نشته د حکمت او فلسفې سر او سامان
څپېړه یې د مینې نشته دے په دبستان

تمام عمر له کاندي رهزني د ويښو خلګو
د هر قسم فساده يې دے ډک دواړه چشمان
د دۀ له يخه نازۀ زړۀ ګرميږي نه هيڅکله
په سوي کښې د غمزو يې د خوند نشته څۀ نښان
هوسے يې يوه رانه وړه کړه کچ يې ځنګلونه
طواف يې د باغ او که نشته ګل يې په ګرېوان
په کاردي چې د عشق په فيض آسان کړو ګران کارونه
او وکړه سجده عشق ته ترې نه وغواړو مرادونه
چې عقل دے کړه لاره کښې کښېښوده قدم
اوبو کښې يې اور وزغلوو جهان يې کړ برهم
په زور يې د کېميا سره د شکو نه زر جوړ کړه
مګر له سوي زړۀ يې که اکسير د مينې سم
زموږ په سادګۍ باندې افسوس، چې پرې دوکه شو
په ساؤ کښې ورته ناست ؤ ګوره وې لوټه آدم
هنر يې د تهذيبه د يورپ نه راوړه خاوره
او وايې چوله سترګو کښې هم ځوے له د مريم
تر څو به وي بخري کرل اور ترې نه رېبل
په زړۀ کښې مدام غوټي اچول او پرانستل
جدا دے خودبين عقل، بيل دے عقل جهان بين
جدا- جدا وزر دي د بلبل او د شاهين
چې انوي دانې پر مځکه بيل هغه مارغان دي
دے نور هغه آسمان کښې چې دانې خوري د پروين

چې ګرځي په چمن کښې د نسیم هسې بل شې دے
دے بل چې شي ور دننه په زړګي کښې د نسرين
د دې نهو آسمانو پورې تلونکې نظر بل دے
دے بل هغه چې هر کار يې دے په ظن او په تخمين
خوش بخته عقل دے چې ويني دواړه جهانونه
لري سوز د آدم د فرښتو د زړهٔ نورونه
يو د مينې د خلوت نه باهر موږه راوتلي
د آئينې په شان مو خاورې د قدم دے پړقېدلي
دواړه کونه مي په داد باندې کړه داؤ همت مي ګوره
ؤ پرده کښې مو ګټلې دے په ډاګه مو بائللي
سلسله د ورځو شپو مي همېشه مخکښې تېرېږي
دي پر غاړه د لښتي باندې تمبوان مو درولي
چې د زړهٔ اور مي شبخون دے په دنيا باندې وهلي
نو دا وچ لانده يې دواړه دي د څيلمې سوزولي
لمبه ؤ چې تکړې شو نو شو ګل شرر- شرر
سالکان شو هم د ذوق د تمنا هم د نظر
چې مينه بوالهوس شوه هر بند يې وشلاوه
نو شر يې د مهي هسې آدم په نخښه که
د صلحې يې جنګ غوره که لښکر يې کړے جوړې
مدام يې په دوستانو باندې ظلم جور وکه
يو لوټ يې که شروع ويل يې دغه حکومت دے
غريب له مات که تير د ملا چورلټ په ظلم ده

د ساز دغه ټکور وته بربنډ په ګډېدو شه
د خپل عزيز د وينو نه يې جام پيمانه که
په کار دے دا زمان چې کړو آئين نوے بنا
د نوي خط دپاره کړو تختې د زړهٔ صفا
د باچا ټوپۍ شوه کوزهٔ راغے دورِ عوامي
نه شپېلۍ سکندري شته نه نغمه شته دارايي
بيا فرهاد تېشه را واخسته پروېز يې که په مخه
شو فنا د زمانې نه کل عيشونه آقايي
بيا په تخت د عزيز وګوره يوسف متمکن شه
د فريب د زليخې، ختم شوه ټوله صفايي
چې رازونه ؤ کوم هغه د څيلمې نه ظاهر شو
شولې پټې جرګې خلاصې يقين نه دے چې بيا يې
سترګې پرانزهٔ چاپېره نظر وکړه که بينا يې
ژوند لګيا دے ځان له جهان نوے جوړوي
هم په دې خاورو کښې زندګي زهٔ عيان وينم
او بينا يې هم په شانې زهٔ د ستورو چشمان وينم
د دې مځکې لړمانه کښې چې پرته کومه دانه ده
زهٔ پکښې ګلونه، څانګې، مېوه هرڅهٔ عيان وينم
دا لوے غروه د خسنې هسې سپک راته ښکارېږي
او دا خس به تول کښې دروند زهٔ د دې غرونو په شان وينم
چې په زړهٔ کښې د آسمان کوم انقلاب ټيګېدے نهٔ شي
ښه يې وينم خو حيران يم چې يې زهٔ په څهٔ شان وينم

بختور دے چې به وېني هغه ځوان دغه غبار کښې
د رپا نه د تارونو به نغمه پېژني تار کښې
ژوندون روان لښتے دے او همېش به وي روان
شراب دغه زاړه پاخه کامل به وي دا شان
دا شته چې ناپکاره خومره دي واړه به ورک شي
که نشته خو چې دي پکار هغه به شي عیان
په طمع د دیدار باندې دا عشق واړه نظر دے
او حسن چې مشتاق دے د نمود وبه ښيي ځان

چې ما پر کومه مځکه دي په سرو وینو ژړلي
ځیګر کښې به یې زما اوښکي لعلونه وي پنهان
زیړے د سحر مے بیا موند توره تیاره شپه کښې
د لمر د ختو نخښه ده په وژلو د ډیوه کښې

## جمعیت الاقوام

## ((قامیځه جرګه))

بدلې چې دنیا کښې طریقې کړي د جنګونو
زړۀ سواندو د جهان کړه څۀ جوړ نوي چلونه
نور هیڅ ترې خبر نه یم خو را ته ول څو کفن کش دي
چې ویشي په رضا په مصلحت سره قبرونه

## شوپن هار او نېټشا

په نيت د سيل د جالې نه ګلشن ته مرغۍ والوت
نازک تن کښې يې ازغۍ د ښاخ د ګل وسوځېده
مزاج ته د ګلشن د زمانې يې سپورې ووې
په غم د نورو هم په زحمت خپل وژړېده
ويل يې چې لالا د وينو داغ د بې ګناه دے
د سپرلي غوټۍ کښې ده ته جخت فريب وځلېده
ويل يې دا جهان چې دے بنياد يې کوږ د ويخه
سحر ؤ داسې کله چې ببګا پرې نه کېده
ژړا يې برابر د خپله وسه پورې وکړه
د سترګو يې سور څاڅکي له فرياد وڅڅېده
اثر د دې ژړا يې د هدهد په زړګي وشو
د دهٔ نه يې ازغۍ زر په مښوکه ووېشته

ويل يې ورته نفع وباسه د زيان له جيبه
په چاودو کښې د سينې خپلې سره زر ګل ومونده
د درد نه دوا جوړه که چې غوخ کله په تن شي
له خاره سره سازهٔ وساته چې کل چمن شي

# فلسفه او سیاست

چرې وته ګنې یو شان سیاسي او فلسفي
د یو سترګې بې نوره دي د بل دغه بې نمه
که یو حقې خبرې له کمزوري دلیل ګوري
ناحقه دغه بل کړي په دلیل سره محکمه

# صحبت رفتګان ((په عالم بالا کښې)) ټالسټائ

د شاه دغه سپاهي وینه بارګیر دے د شیطان
دپاره د ډوډۍ توره د ظلم چلوي
ښه بد و ته یو ښکاري مغز پوست نه پېژني دے
د بل د سود دپاره به خپلوان حلالوي
دوا د بېخودۍ یې وطن، تاج او کلیسا دے
وړیا به ځان په یو جام په مالدارو خرخوي

**کارل مارکس**

د جز او کل رازدان هسې له ځانه نامحرم شه
د مال په محبت دښمن آدم چې د آدم شه

## هيګل

رابښکاره باغ او ځنګل کښې کل رازونه شي مستور
حقيقت دے سر تر پايه مرغونے هم انګور

دا په جنګ کښې اخته کړے د اضدادو طبعيت دے
که خواجه دے که مزدور دے که امير دے که مامور

## ټالسټائ

فلسفه د خودبيۍ ده دورتګ عقل جوړ کړې
د رضا په سبق باندې غلوي چې دے مزدور

## مزدک

د ايران تخم زرغون شه د قيصر اوزار په مځکه
نوے مرګ مانۍ ته ورغے د شاه او د امير
د نمرود په سور انکار کښې ابراهيم څۀ موده سوځي
د بتانو نه پاکيږي د حرم هله ضمير
د پرويزو هليه پاڅه، دور ختم د پرويز شه
د خسرو ځنې خپل حق دي زر که بيا واخله زورګير

## کوهکن

څۀ ساده زما دلبر دے هم بېشانه کم آميز
جګړه مار او جفاکار دے هم پوره فتنه انګيز
په ظاهره امن- امن دے زړګے يې دے خونريز
که يې ژبه د عيسیٰ ده ولې زړۀ يې د چنګيز
د جنون د جوش دے دور طناؤ وشلېده د عقل
رابښکاره که مخ آشنا زړۀ مې له شوقه دے لبريز

وشو څۀ که غر سورے، هډو زما دغه تښتې کړ
چې آسمان خو لا دے هغه شان پر لارې د پرویز
د آسمان مځکې تر منځه هر یو شي زغلي په منډه
ګړندے شه قدم تیز که د کاروان دے قدم تیز

**نیټشا**

په سستۍ د عناصرو د انسان یې زړۀ خفه شه
نو پیدا ورله محکم بدن که بل په فکر ده
په ملک کښې د یورپ یې یو تازۀ انقلاب راوست
جوړ دکان د ښیښه ګر ته لیونے ورسېده

**حکیم ائن سټائن**

په شانې د موسیٰ یې تقاضا د تجلیٰ وه
آخیر د نوراني زړۀ نه ظاهر یې شه یو نور
د سترګو د آدم نه تر آسمانه دم کښې رسي
د کچ نه د پرواز یې چې ناچاره دے شعور
خلوت کښې یې دننه د سکرو هسې تورتم دے
جلوه یې سوزي ونه لکه خس په سر د طور
په حد کښې دا مکان دے ناخبر له انقلابه
لا ډېر اوچت د دې نه په څو چنده دے ضرور
ضمیر کښې یې مرګ ژوند، تیاره رڼا او سوز و ساز شته
که سوز یې اهرمن دے ساز یې دے ملک او حور
د دې حکیم هوشیار به د مقام درته څۀ وایم
له قامه د موسیٰ نه دے زردشت کړے ظهور

## بائرن

په شانې د سرو ګلو په زرغون د مځکې اور شي
په خاوره د چمن که یې مئ و ځاځي د جام
هوا یې د یورپ پخه په طبعه نه وه راسته
شوه د عشق قاصد لره بجلي د دهٔ پیغام
لوړ خیال یې ګوره څنګه پرستان دے بنا کړے
ځواني شوله بې هوشه، چې ښکاره شو دے پر بام
آخیر دغه مارغه د هنر والوته د جالې
خوښه یې په خپله جوړ حلقه شوله د دام

## نیټشا[۱]

غرض که دي نوا وي نو د دهٔ له مخې تبته
قلم کښې دي د تندر هسې و وینه اثر
ښخ یې د یورپ په زړګي باندې نشترونه
په قتل د صلیب یې دواړه لاسه دي احمر
په شکل د حرم باندې بنا یې بتکده کړه
که زړهٔ یې د مومن دے نو دماغ یې د کافر
خپل ځان د دې نمرود په سور انګار باندې ستي کړه
چې باغ د خلیل^ع تل دے بنا شوے په آذر[۲]

---

(۱) نوټ: نیټشا په مسیحي فلسفه زبردسته حمله کړې ده، د هغه دماغ په دې سبب کافر دے چې د خدای منکر دے، ولې د ځینو اخلاقي نتیجو په بنا د هغه خیالات د مذهب اسلام سره ډېر نزدې دے، "که زړهٔ یې د مومن دے نو دماغ یې د کافر" رسول الله^ص داسې قسم خبره امیه ابن الصلب (یو عربي شاعر) په نسبت کړې وه، امن لسانه و کفر قلبه.

(۲) آذر په معنٰې د اور.

# جلالرح او هیګل

یوه شپه مې په خپل فکر پرانستلې
پخې غوټې د حکیم لوی د المان
د دهٔ فکر دی په ښهٔ شان څرګند کړی
ابدي مخلوق له هغې چې دی فان
د دهٔ د خیال وسعت ته چې وګورې
په تنګوالي ملامته شي جهان
سمندر وته د خیال یې چې ور کوز شوم
ګیره کړه کشتۍ د فکر مې طوفان
په سودا د اوږده فکر کښې ویده شوم
کناره مې که د دواړو کونو ځان
په خوب کښې چې نظر مې پرواز وکه
نو مرشد مې د روم ولیده عیان
هغه لمر چې د هغه په رڼایي
دی وطن د شام و روم همه روښان
چې لمبه یې ده د تور جهان په زړهٔ کښې
یو څراغ دی د راهب پر بیابان

چې معنا یې د حرفونو څنې زېږي
لکه کېږي سره لالا پر ګلستان
وې یې پاڅهٔ یې ویده ولې؟ ویښېږه
په سراب کښې خو کشتۍ بیایي نادان

که په عقل باندې لار د عشق وهې
لکه لمر چې په ډیوه ته لټوې

# پټوفي

## د هنګري ځواني مرګ شاعر چې په قامي جنګ کښې مړ شو او مړه يې ونه موندای شو

په چمن کښې د ګل ناوې هسې وستایله تا
چې د چا دي زړۀ خوشحاله د چا غم دي که سیوا
د لالا د ګل لاسونه دي په خپلو وینو سره کړل
د سحر په اسویلو دي غوټۍ ښکل کړې د صحرا
په نوا خپلې مین وې هم هغه دي شولو قبر
په مځکه کښې ښخ نه شوې ځکه نه وې ترې پیدا

# د فرانسیسي حکیم اکسټس کومټ او د مزدور محاوره

## حکیم

"بنیادم دي ټول د یو بل اندامونه"
چې دي واړه د یوې ونې ښاخونه
که دماغ دي پوهه فیض دے د فطرت
که پر مځکه دي پښې دا لري حکمت
یو حاکم وي بل کوي یې محکومي
د محمود نه کله کیږي ایازي
دا نه وینې چې تقسیم باندې د کار
د ازغو نه د ژوندون جوړ شي ګلزار

## د مزدور ځواب

مه غلوه مي اې حکیمه! په حکمت
ستا د عقل جادو ډیر لري طاقت
ته خو سره زر د تانبې نه جوړوې
ما په خوے د جي قربان مجبوروې
ستا بحر مي ابنایې کښې کړلو ګیر
په تیښې مي راوستلو جوے شیر

د فرهاد هغه حق ورکه ګوره تا
د پرویز هسې بېکار له ناروا
چې د بدو نه په چل بنهٔ جوړوې
د سراب په دام نیوے خضر نه شې
شه زردار ځکه پر مځکه باندې بار
چې څهٔ نشته بې خوړو څښلو یې کار
دے زما په مزدورو جهان رڼا
چې ګمان دي د غلو ونه شي په ما
د زردار ګناه له عذره جوړوې
دا سره د عقله څهٔ خطا کوې

## هیګل

د دهٔ عقل حکمت چې د محسوس نه شه همراز
دے یې فکر ښکلے داسې لکه ناوې د ډولۍ
آسماني مارغه د عقل د دهٔ پوهه شه پرې څهٔ شے دے؟
یوه مسته چرګه ده چې راوړي بې بوقه اګۍ

## جلال رح او ګوئټې*

یوه ورځې جرمني حکیم جنت کښې
د عجمو پیر سره ؤ په صحبت کښې

* د جرمني حکیم نه مراد ګوئیټې دے، د دهٔ یوه مشهوره ډرامه "فوسټ" نومیږي، په دې ډرامه کښې شاعر د فوسټ نومې حکیم او د شیطان د لوظ قول په ترس کښې د انسان د روځنے پالني تر امکاني حده پورې ټولې درجې په ډېرې خوبۍ سره بیان کړې دي.

دے هغه لکه دے، دې عالي جناب
چې نبي نه دے لري مګر کتاب
کړه محرم ته د اسرارو يې ښکاره
د حکیم او د ابلیس لوظ نامه
اې د شعر روحه! ویل ورته رومي رح
چې یزدان او ملایک دي دام کښې دي
ستا فکر چې خلوت ته شه د زړه
بیا له سره زوړ جهان نوے که ده
سوز و ساز دي د روح ولید په پیکر
هم تعمیر دننه سیپۍ کښې د ګوهر
هر سړے نه دے د عشق په راز اګاه
نه لایق دے هر سړے د دې درګاه
"دے واقف ترې خوش قسمه او محرم
زیرکي ده ابلیسي، عشق دے آدم
((رومي))

## د برګسان پیغام

چې تاته ښهٔ ظاهر واړه اسرار د زندګۍ شي
جدا چې د شعلې نه ځان په شان د شرر نه کړې
دپاره د دیدار یې ته آشنا سترګې پیدا که
وطن کښې د پردو هسې ژوندون چې بسر نه کړې
نشې دي کل د خیلمې نه وهمونه دي باطل
پیدا که عقل هغه ته شاګرد چې وي د دل

# د يورپ ميخانه

څۀ وخت ۀ عجيبه چې ومه خود دغه وطن کښې
دا جام ته چې يې نه رسي آئين د سکندر
مستي سترګې د ساقي يې د شرابو پرورش کړي
پيغمبر دے شراب نوشو له د دۀ نيمچه نظر
رڼا يې بې کليمه[ع] ده انکار يې بې خليله[ع]
بې پروا عقل يې وګڼه د مينې غارتګر
هوا کښې يې د سوو اسويلو نشته ګرمي
ونه يې لري رند د ميکدې حقه مستي

## موسيو لينن او قيصر وليم (لينن)

موده وشوه چې دې د بني آدم زړۀ دنيا کښې
د ژوند په پلونو کښې درون پرته دانه
وژلے فريبونو د زارۍ او قيصرۍ دے
په دام د کليسا کښې پروت دے وشوه زمانه
وړې غلام خنګه قميص خيري د آقا کړ
پرته چې پرې وه وينه د دۀ کل دانه وانه
په اور شوه د عوامو ستي کل زړۀ دنيا
د پيرِ کليسا شړۍ سره د شاه قبا

# قیصر ولیم

ګناه څهٔ د بتانو د نخرو په دې کښې نشته
طواف دے په خمیر دننه پروت د برهمن
همېشه به خدایان جوړوي ځان له نوي- نوي
چې دے د زوړ معبود نه دے ویزاره همه تن
د ظلم د رهزن به راته څهٔ قصې کوې
خپل مال له هر رهرو ګنړه په خپله ته رهزن
په سر که د عوامو هړو تاج شه د شاهانو
بدل ذره حالت نه دے بالکل د انجمن
چرې به د آدم په زړهٔ کښې مړ دا حرص نهٔ شي
چې اور په انګیټۍ کښې دے هم پروت هغه زوړ نن
د اقتدار ناوې عقلونه چې جادو دي رانیولي
زړونه یې راګیر کړي د زلفانو په شکن
"نه پاتې به شي ناز د شیرینۍ هم بې تپوسه
که ورک هړو پرویز شه مګر شته دے چې کوهکن"

## حکماء

### لاک

سحر ورله د لمر په میو ډکه پیمانه کړه
کني نو په چمن کښې د لالا ؤ خالي جام

### کانټ

بخښلې ؤ یو ذوق وته فطرت د صافو میو
له ځان سره راوړے د ازل نه ده ؤ جام

### برگسان

نه مے یې د ازل څنې راوړے ؤ نه جام
لالا د زړۀ له داغه سوزش وموند د دوام

## شاعران

### برونگ

شراب د زندگۍ مي پاتې شوي دي کمزوري
د خضر[ع] اوبۀ غواړمه ډکومه ترې نه جام

### بائرن

سینه به په احسان د خضر[ع] چرې زخمي نه کړم
د خپل ځیګر د آب نه ډکومه ګوره جام

**غالب**

"چې لا شي تېز شراب او ښۀ مي غوځۀ پرې سینه شي
ښیښه ویلي کومه او ډکومه ترې نه جام"

**رومي رح**

آمېزش چې پکښې نشته دے د هر خیري نه پاکې
ډکومه د انګورو د سوچه اوبو نه جام

# د یورپ میخانه

پرون چې میکدې ته د یورپ زۀ ورغلمه
یو رند* صافه وینا کړه پرې زړګے مې مین شه
ویل چې ته دا مه وایه چې دا ګنې ګرجه ده
پکښې چې مستي نجونه سرودونه ګورې ته
زموږ ده میکده دا یې اثر دے د شرابو
چې نوش دي کړه نو ښکاري به بد واړه درته ښه
د ښو، بدو تلنه مې په بله تله کړله
که ده یې د یهود او نصارٰے تله هر څه
که زور دي چرې نه ؤ روا واړه ناروا دي
او واړه بد روا دي که زور دي چرې وه

---

* نیټشې ته اشاره ده.

که فکر ورته وکړي زندګي واړه ټکي ده
چې دلته شه ربتینې یقین وکړه تبا شه
د حق تړوله وینا یې فریبونو له پرده ده
چې وایي مو پیر، واخله مس په سپینو زرو ته
د ژوند هغه رازونه د پردې مې درته اووې
مه وایه حال چرې که غواړې تر مراده رسېده

# انګلستان ته خطاب

شراب یې مشرقي څښلي په جام کښې د یورپ دي
عجبه نه ده ما ته که یې کړه زړهٔ توبه
په لارې د تدبیر دي نوې فکر روان کړې
شوه وینه دي نصیب د دې غلام څکه توده
په شور ګوري ساقي نه شې ناراضه له رندانو
چې دا دې نښلولې چا؟ په تا شوه فیصله
خوشبوې د دې رهبر شوه چې یې راوسته چمن ته
کنې بلبل ته د دې لارو کله پته لګېده

# د مزدور او مالدار وېش

دا شور د کارخانو او مشینونو دي زما شه
او ستا دغه نغمې شوې د باجو د کلیسا
چې اخلي حکومت پرې مالیې ځکه زما شوه
او ستا د جنت باغ سره سایه شوه د طوبٰی
چې سر خوړوي تل، دغه ترخې اوبهٔ زما شوې
او ستا پاک شرابونه د آدم او د حوا
زما شولې کونترې دا ابلی، دغه تنځري
او ستا برخه عنقا شه هم شه سیورے د هما
زما شوله دا ځکه هم په دې کښې چې هر څهٔ دي
د دې نه پورته، عرشه پورې هر څهٔ سره ستا

# د مزدور چیغه

په خون د مزدورانو ساده پوشو، خواري کښو
لباس نادان مالک یې دے اغوستے د حریر
د والي د لاس غمے ګنه زما د خولو څاڅکے
او اوښکې مې لعلونه دي د ملونې د امیر
په وینه مې ګرجه ده د ژورې په شان غټه
او هم یې حکومت زما په متو جهانګیر

دا شاړې مي باغونه په ژړا کړل د سحر
ګلونه يې تازهٔ زما په نم دي د ځيګر
د رګونو نه د ساز مي نن نغمې نوې راڅاڅي
چې ويلي کړي دا جام پکښې مے هغه اچوو
بدل چې دا نظام کړو هم د دير هم د مغانو
بنا د ميکدو زړو د ويخ نه نړوو
د باغ د رهزنانو نه بدل د ګلو اخلو
د ګلو د ژوندون طريقې واړه بدلوو
طواف به د دې شمعې څو پتنګ هسې کوو
د ځان نه ناخبره بهٔ تر کومي پورې يو

## د سمندر ازادي

يوې بطې وې آزاد شه سمندر
حکم کړے دے د خضر[ع] عدالت
يو نهنګ ورته ويل څه هر طرف ته
ولې ما نه غافل نه شې يو ساعت

# خرده

قراره ده زموږ هره ذره
دے دننه په هر ساه کښې مو محشر
د مرګي ځنې دا ژوند ګورې مشکل دے
خضرؑ پوهه که ظلمات کښې سکندر

د دریاب نه ښهٔ واقف به وي ګوهر
دے د ژرندې د ګردش نه څهٔ خبر

کوي ډېر قلم چې څهٔ قسم خروش
دے کوتلے سلایي خومره خاموش

په ترخ کښې ننه بت کړې طواف مې د حرم دے
او هم د بت په مخکښې الله هو ویلي ما
روان پر داسې لار شوم چې نرۍ ده له وېښته نه
په زړهٔ کښې مې تر اوسه د طلب ده تقاضا

ګل اووې عيش د بهار دے غوره
د عمره يو دم ګلزار دے غوره
اول له دې چې په دستار شي د چا
د ښاخ په غېږ کښې دي مزار دے غوره
وينا کړے شي ماشوم وي که ځلمے وي که بوډا
د کلونو او د مياشتو پروا نه لري وينا

درې ځيزونه به دي ښۀ کاندي نظر
شنه واښه اوبۀ روانې ښۀ بشر
درې ځيزۀ خربوي هر يو بدن
بې غمي ريښمين لباس او بوے خوشتر

په راز د زندګۍ دي پويوم فکر کوه
چې خوب معمولي مرګ دے مرګ کوټلے خوب ګڼه

که د رحم نه لرې چرې جذبه
نو دښمن پسې هله جنګ له پاځه

په سینه کښې دي حسد چې ځاے ونه کړي
ګډول ښۀ نه دے شاتو کښې سرکه

د طبعې د شاعر د نزاکت به څۀ نه وایې
ښیښه هسې نازکه ده پوکي باندې ماتیږي
د ژوند د کشمکش کله کولے شي دے شرحه
"د ډز نه د آګې چې یې زړګے کله اوبوږنیږي"

جهان کښې شه په شانې د ولې د کوهستان
د لوړو او ژورو دغه ټولو شه خبر
یا روان شه د سیلاب غوندې هوار په خولې ځګونه
پروا مه کوه ځه هوار د زمانې پر سمه غر
ته ګل چینه بد یې مه وایه د خار
چې پیدا دے ګل سره په یو بهار

چې وسمه په ږیره بریتو لګوې
په ټګۍ به ځواني شنګه ستونوې

بې همتو سره عشق نه لري کار
چې شاهین تنځرے نه نسي مردار

د شاعر نقدي کره کوټه بازار
کره شي داسې بازار کښې شي تروټه

څۀ به ښۀ وه که نيکان خلګ زموږه
واړه آزاد د پخوانو ټولو قيدونو
د تقليد پر لاره تلل که چرې ښۀ واے
پيغمبر ص به هم پر لار ؤ د نيکونو

پاے

# زبورِ عجم

## ژباړه

## تقویم الحق کاکاخېل

# فهرست


| شمیر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | د زبور لوستونکو ته | ۴۳۷ |
| ۲. | لومړۍ برخه | ۴۳۸ |
| ۳. | دعا | ۴۳۹ |
| ۴. | زبورِ عجم دویمه برخه | ۴۷۹ |
| ۵. | گلشن راز جدید | ۵۳۷ |
| ۶. | تمهید | ۵۳۹ |
| ۷. | (۱) سوال | ۵۴۲ |
| ۸. | ځواب | ۵۴۲ |
| ۹. | (۲) سوال | ۵۴۵ |
| ۱۰. | ځواب | ۵۴۵ |
| ۱۱. | (۳) سوال | ۵۴۸ |
| ۱۲. | ځواب | ۵۴۸ |
| ۱۳. | (۴) سوال | ۵۵۱ |
| ۱۴. | ځواب | ۵۵۲ |
| ۱۵. | (۵) سوال | ۵۵۴ |
| ۱۶. | ځواب | ۵۵۴ |
| ۱۷. | (۶) سوال | ۵۵۷ |
| ۱۸. | ځواب | ۵۵۷ |
| ۱۹. | (۷) سوال | ۵۶۰ |
| ۲۰. | ځواب | ۵۶۱ |
| ۲۱. | (۸) سوال | ۵۶۳ |
| ۲۲. | ځواب | ۵۶۴ |

۲۳. (۹) سوال ۵۶۶
۲۴. خوب ۵۶۶
۲۵. غزل ۵۶۷
۲۶. خاتمه ۵۶۹
۲۷. بندګي نامه ۵۷۱
۲۸. د غلامانو د فنون لطیفه بیان کښې موسیقي ۵۷۵
۲۹. مصوري ۵۷۷
۳۰. د غلامانو مذهب ۵۸۱
۳۱. ق ۵۸۴
۳۲. د آزادو آبادی ۵۸۵

## د زبور لوستونکو ته

کله یو وینښته هم زما سترکو ته پرده شي
کله دواړه کونه راښکاره په یو نظر شي

سخته ده اوړده د عشق لار خو کله کله
لار د سلو کالو په یوه اسویلي سر شي

خپل کوشش کوه او د میدان لمن کړه ټینګه
کیږي چې مراد درته په لار مخې ته در شي

# لومړۍ برخه

تېر شومه له دره، د کور حال مي برملا اووې
خنګه قلندر یم نا ویلړ مي صفا اووې

# دعا

خدایه! د سینې دننه زړهٔ باخبر راکړه
وینم چې باده کښې نشه داسې نظر راکړه

زهٔ داسې بنده یم چې د بل په ساه ژواک نه کړم
یو کور زیږېدلے اسویلے د سحر راکړه

زهٔ عظیم طوفان یم دا تنکۍ چینې بهٔ څهٔ کړم
لوے میدان د خوړ او د کمر او د غر راکړه

غواړې؟ چې د شنو مستو څپو سره اخته سم
منځ کښې د موجونو اطمینان د ګوهر راکړه

تا لکه شاهین د پلنګانو په ښکار پرېښوم
کلکې پنجې راکړه، همت راکړه، وزر راکړه

ځم چې د حرم د طائرانو ښکار اوکړم
غشے چې تا ویشتے لا سورے کړي ځیګر راکړه

خاورې مې په نور د داؤدي نغمو رڼا کړه
هره یو ذره د زړهٔ له سوزه شرر راکړه

# غزلي او قطعې

(۱)

هرے کوځے مینه، د تا د لار تر خوا ور وسته
په خپل کوشش څه له نازیرے لار تر تا ور وسته

(۲)

په سینه کښې مو زړهٔ سوونکې تمنا له کومې راغله؟
پیاله خپله ده، پیاله کښې دا صهبا له کومې راغله؟

زهٔ منم چې دنیا خاوره ده او مونږ یو موټے خاوره
په ذرو کښې مو دا سوز و تمنا له کومي راغله؟

نظرونه مو پرېوزي په ګرېوان د کهکشان
دا جنون له کومي راغلو؟ دا غوغا له کومي راغله؟

(۳)

یو غزل اووایه بیا- بیا ورکې نغمې پیدا کړه
مړژوانده زړونو کښې څو نوې ولولې پیدا کړه

حرم او دیر او کلیسا و بتکدې تشي دي
دې نیم کشو سترګو کښې زر رنګه فتنې پیدا کړه

هغه شراب چې زما خاورې ته يې اور ور ګډ کړو
دے نوو- نوو شاه ځلمو ته څو پيالې پيدا کړه

چې په سينه کښې زړګے ګډ کړي هغه نې را واخله
تند او تراخه شراب چې ويلي کړي پيالې پيدا کړه

د عجميانو نېستان* کښې صبا تېز چليږي
يو داسې ساز چې ترې نه وڅاخي لمبې پيدا کړي

(۴)

اې چې ګرموې زما په سوي آه و ناله
پورته کړه زما په چيغو مړه هزار ساله

خپل زړهٔ به څهٔ ستايم چې د ژوند په مستو ميو
مسته شوه، ژوندۍ شوه، خاورې- خاورې پياله

پرانزهٔ په ساه مې د غونچې د زړګي غوټه
کړه مې په صبا تازهٔ داغونه د لاله

خيال مې له سپوږمۍ له مشتري له مهرو تېر شه
څهٔ ته غلے ناست يې بښکار کړه دغه غزاله

ستا د در ګدا دے بې عزته درنه نهٔ شي
هسې ته دبل له چينې ډکه کړې پياله

---

* ځنګل

(۵)

ته له موتې خاورې سل نغمې پورته کوې
ځان نه مې نزدې یې ځان زما نه پټوې
پټ د صبا څپو کښې راشې د باغ خوا ته
کله بوے کښې خور شې غوټۍ کله تښتوې

ستا نه بې خبره دے مغرب، مشرق ویده دے
وخت دے که دنیا کښې نوے نقش جوړوې

څنه د شاهۍ زوړ لیونتوب لرې په سر کښې
واخله چنګیزي نشتر که دا پرې سړوې

زهٔ آزاد بنده یم هسې نه چې ببرته پټ شم
زلفې زولنې کړه که مې خوا کښې اوسوې

بې سوړ اسویلي نه خبر نه یم غزل څهٔ وي
دا څهٔ لکه پرخه په سینه مې څڅوې؟

(۶)

سورو خټو کښې لرم زه، د سپین زړهٔ سپینه رڼا
برندې سترګې لکه ستورې د جمال په تماشا

نه ګمان کوې چې ګوندې له نغمو پرېوتے ساز یم
دا نغمې غلې پرتې دي د مضراب په تمنا

چې خاکیانو ته نور ورکړم چې نوریانو ته سوز ورکړم
داسې سره بڅري راکړه داسې سوې نغمې را

تب و تاب و درد و غم مې همګي نیازمندي ده
ته الله یې بې نیاز یې وبه نه رسې په دا

نه مې ځان چا ته څرګند کړو نه مې ځان د چا نه پټ کړو
یو غزل مې داسې اووې چې هر غم کړي هویدا

(۷)

څۀ مستې نغمې څۀ آوازونه دړدېدلي
ما په ترو ډک د ژوند خمونه دي وېشلي

تا یو بېنوا ته هغه نوے ژوند ښکاره کړو
لا یې د چا زړۀ کښې آرزو نه ده ټوکېدلې

تا په یو نظر زړۀ و ځیګر کښې مقام ونیو
چا چرته د دۀ نخښې په یوه غشي ویشتلي

څۀ سپرلے دي وښیلو زما ناشنا نظر ته
غر په سمه ژاړم نوي زر که راوتلي

یو فقیر په دوه کونه کښې نۀ شي ځایېدلے
څۀ که دوه شاهان نه دي یو ملک کښې ځایېدلي

(۸)

واړوه د کفر و دین په سر د رحمت جام
عامي کړه جلوې دي په دنیا ماهِ تمام

واوروه زړې نغمې او جام ته ګردش ورکړه
بیا زمورِ مجلس کښې روان و وینه خپل جام

ولې دي د خپلې بلې ناست طائران پرېښو؟
ولې دي د باغ په طرف وړې د زلفو دام؟

شکې د عراق ترې پټې د حجاز وچ دي
بیا د حسین وینه غواړي ستا کوفه و شام

خپله ځان ته لار ښایي رهبر نه مخکښې کیږي
مینه د چا لاس کښې ورکوي نه خپل زمام

ما د دیر په خوا کښې بې خبره اسولي کړل
څو مي په حرم کښې موندے نه ؤ خپل مقام

زۀ چې د سپرلي د قافلو نه مخکښې راغلم
اوس د پنجرې ګوټ کښې ځان ته وایم خپل پیغام

(۹)

ځکه مي غمجن آواز بې باکه غم انګیز دے
کور کښې مي بسرے دے او باد د سحر تیز دے

عشق سر و سامان نه لري بې له یوه تبره
زړهٔ چوي د کاڼي پاک له ویني د پرویز دے

دا د یو هوشیار نکته مي پرېوتله زړهٔ ته
مست نظر د ترکو له خوږو خبرو تېز دے

راشه لږ مي کښېنه تر بالښته چې له غمه
نن د تا د میني د دې تږي جام لبریز دے

باغ مي تول د خپل سوي زړګي په اور رڼا کړو
سو ړ په شبنم نه شو چې لا باد د سحر تېز دے

پټې غمزې هم کور ورانوي خو زهٔ پخپله
هغه نظر غوام چې بېباکه او خونریز دے

دواړه د دې خاورې اوسېدونکي دي دا ولي؟
عقل خوښ د خاورو په مجلس زړهٔ کم امېز دے

ما ته نظر وکړه هند کښې بل څوک داسې نشته
ځوے د برهمن اشنا له روم او له تبریز دے

(۱۰)

که مي زړهٔ که مي نظر دے واړه خوند دے د لیدلو
څهٔ خطا که مي له کاڼي یو صنم او تَراشلو

ته د حسن په شعلو کښې پټ نظر تنبوې ببړته
بې له سوړ اسویلي شته دے بله لار د صبرېدلو؟

څۀ به وشي که څو ګامه د کاروان تر سرایه واخلې
یو ټوټې- ټوټې زړګے دے سرمایه د دړدېدلو

یو د سوز غزل مي اووې چې مي زړۀ لږ په آرام شي
د اور تاؤ لا څۀ زیاتیږي د بڅرو په ختلو

دا ژوندے زړۀ چې دي راکړو د پردو سره نه ښایي
سترګي راکړه په شین کاني کښې د سرو لمبو لیدلو

د زړګي هر ذره کښې یو مستي ده یو سرور دے
دا یو غم دے په زر برخې په څۀ رنګې ووېشلو

د طوفان درنو څپو کښې هغه سختې خطرې نشته
کوم خطر چې عشق په غلې کنارو کښې ولیدلو

بې نیازۀ په مستۍ کښې له شاهانو داسې تیر شوم
لکه سپینه سپوږمۍ تت کړي واړه ستوري په ختلو

(۱۱)

شته شاهین د عقل تیز و تند او خوش رفتار دے
پټ په دې ځنګل کښې ښکاري هم په انتظار دے

کلکې لوندې غوټې بې تکلیفه پرانستلے شي
داسې خلک شته دي چې لایق د دغې کار دے

خوله که پرانستې شي د خبرو اشنا نشته
زار دے د هغو چې راز په زړهٔ کښې لري زار دے

زړهٔ یې رنګ- رنګ وسوم په سل سوزه په سل واره
زار شم له دې سوي چې له هر سازهٔ همکنار دے

موږه موتې خاورې د ژوندي زړګي لایق شو
دا ژوندے زړګے او موږه خدایه! د تا کار دے

دا د زړهٔ لمبه زما د زړهٔ د کور رڼا ده
دا د کور رڼا ده چې ټول کور پرې تار په تار دے

عقل جهان بین د افلاطون مې په کار نه دے
زړهٔ لره چې شوخ او نظر باز او ناقرار دے

(۱۲)

څهٔ دے دا جهان واړه، دیر دے د پندار زما
قید ساتي جلوې د دې، دیده یې بیدار زما

زهٔ په یو ساده نظر، ټول جهان رانیسمه
یو حلقه ده جوړه کړه ګردش پر کار زما

غیب و که حضور دے دا، سیرو که سکون دے دا
ټول زما د زړهٔ جادو، څوک وايي اسرار زما؟

هغه بل جهان چې ټول، ربې پکښې کر خپل
نور و نار يې سم ساتي، سبحه و زنار زما

زهٔ د تقدير ساز يمه، سل نغمې لرم پټې
چرته چې مضراب رسي، هلته به وي تار زما

اې! زهٔ ستا له فيضه يم، ستا نښان آخر څهٔ شو؟
دواړه کونه ما جوړ کړو، ستا جهان آخر څهٔ شو؟

(۱۳)

رنګ رنګ د بلبلو نغمې فصل بهار هسي
لر کړه پرده، وايه غزل، ورک کړه خمار هسي

خپلو مستو سترګو او زما اوښکو ته ګوره
اوروره زما پر زړګي برف و شرار هسي

ووايه سپرلي ته چې زما په خيال پسې شي
اونولي پر غر پر سمه نقش و نګار هسي

غر پر سمه هر شنکے زما په اوښکو لوند دے
خپل مي کړل د تا د چمن هر ګل و خار هسي

دا د خاورو ختهو جهان سم زما په زړهٔ کړه
خپل تياره رڼا بيل کړه زما په اختيار هسي

زړهٔ له هر چا ځانته له دوو کونو بې نيازه
در به په محشر شم ستا حضور ته تيار هسي

زوږ بلبل دي ما په نغمو مست په باغ کښې اووې
هيچا په چمن کښې کړے نه دے چغار هسي

(۱۴)

تل د شته او نشت له کشمکشه يې رها کړم
زهٔ د تا رضا په هره بنهٔ بده رضا کړم

څومره تاؤ را تاؤ شو عشق په دې بې کره للمه
زر دانې يې اوکرلې زهٔ يې را پيدا کړم

خدای خبر دي ما ختهو کښې څهٔ بنکاريدل ده ته
زر ځله يې ويلي کړم، زر ځله يې صفا کړم

خوا او شا دنيا خس و خاشاک او زړهٔ مي اور دے
څومره په سختو د امتحان يې مبتلا کړم

وا مي خله پياله له لاسه ووتم له وسه
يووړم د ساقي غمزو له هوشه يې خطا کړم

(۱۵)

پاڅۀ په اوبو د ژوند تازۀ کړه مړ جهان
اور زموږه سوړ کړه او خپل اور شعله فشان

غونډ په میکده کښې دي تش جامي او ځان ورکي
اوسي مدرسه کښې په زړۀ مړه په خوله ځوانان

فکر مو غلام دے دین مو نقل و روایت دے
ځکه مو سینه کښې زړۀ هدف دے بې نشان

دواړه یو منزل ته ځي د هر یو خپل کاروان دے
عقل یې په چل- چل بوځي عشق کشان- کشان

عشق غورزوي آ خوا ته خېمه د شش جهاتو
لاس لګوي پورته په طناب د کهکشان

(۱۶)

ته وایې جوړ خیال د استانې لرم
کار له جوړوونکې د خانې لرم

زۀ که مړه شعله یم کم مي مه ګڼه
تب د ابد تاب د زمانې لرم

مخکښې څمه روستو شاته نه ګورم
نیت د صبا طرز د زمانې لرم

مینه مي طوفان مینه کشتۍ ساحل
زۀ نه سفینې نه کرانې لرم

اور را وروه خو ومي نه سوځې
نوۍ یم لا غم د اشیانې لرم

"زۀ په دې امید چې ته په ښکار راشې"
منډې له حلقې د زمانې لرم

ته که فرمایې دوۍ ته بې وبخښم
څو جامه شراب د میخانې لرم

(۱۷)

سپور په کړو- کړو کتو تېریږي
لاړمه وخت مي د نیوو تېریږي

زۀ به د یار د جلوو څۀ ووایم
لکه شعله په الوتو تېریږي

تر هغې میاشتي رسېدل مشکل دي
مینه د ستورو په اوړو تېریږي

د وخت پردې دي نااميده نه کړي
د نظر غشي له تبو تېریږي

زما شبنم هم د طوفان څپه ده
د کهکشان له کنارو تېرېږي

که تر خلوته لاړې سترګې بند کړه
چې هلته زړونه له کتو تېرېږي

زهٔ به څهٔ ووایم د خپلې ژړا
زړهٔ مې له سترګو په ټوټو تېرېږي

(۱۸)

ښه ده که په عقل باندې ووهې شبخون
یو ټکے د زړهٔ ښهٔ دے له علم فلاطون

پیر د میخانې راته پرون دغه راز اووې
خپلې اوښکې ښې ګڼه له باده ګلګون

هغه فقیري چې زړونه خپل کړي بې له توره
ښهٔ ده له شوکته د دارا او فریدون

ښکلي مضمونونه وایه دلته میکده کښې
وایه خانقاه کښې افسانه وي که افسون

بې د طوفانونو له احسانه که چینه کښې
یو چپه ستا پورته شي دا ښهٔ ده له جیحون

ستا سېلاب د ښهر په کوڅو کښې نه ځايېږي
دا طوفان بند ښهٔ دے په خلوت کښې د هامون

مه وايه اقبال غزلخوان ته چې کافر يې
لږ- لږ سودايي دے له مکتب يې کړه بيرون

۞

(۱۹)

يا مسلم ته مه وايه چې سر پر تلي کښېږده
يا دے زوړ بدن کښې نوې ساه کړه را پيدا
دا اوکړه يا دا

يا اجازتورکړه چې يو نوے صنم جوړ کړي
يا د زناريانو سينه ډکه کړه له تا
دا اوکړه يا دا

يا يو بل آدم چې د ابليس نه څهٔ خو کم وي
يا دې امتحان ته بل ابليس کړه را پيدا
دا اوکړه يا دا

يا نوے جهان يا تازهٔ نوے امتحان
څو پورې به خپل کړي په موږه کوې بيا
دا اوکړه يا دا

فقر راکوې؟ د بادشاهانو عظمت راکړه
عقل راکوې؟ د فرشتو طبعيت را

دا اوکړه یا دا

یا زما سینه کښې ارزو مړه د انقلاب کړه
یا به بله واړوه دا ستا زړهٔ دنیا

دا اوکړه یا دا

(۲۰)

عقل هم عشق دے او له ذوقه بې خبره نه دے
خو دا غریب له په دې مینه تیر له سره نه دے

نه پرې پوهیږم، منزل څهٔ دے، خو بس خیال دے زما
خو همت لاره کښې بایلل اوس کار څهٔ غوره نه دے

هره لحظه به یوه نوې جولانګاه غواړمه
ځو مې هر یو بیابان وتړے له نظره نه دے

ما په دا دومره لېونتوب کښې ګرېوان وساتلو
هر لېونے داسې له ځانه باخبره نه دے

(۲۱)

سوز و ساز ستا له تلاشه، ژوند پیدا له سوز وسازه
لګه مار مې چیچې لاره، که مې یو قدم خطا شي

جبرائیل سینه پرانستې، د مینو خوا کښې تېر شي
ګوندي چرته له دې اوره، یو بڅرے ور عطا شي

ستا د میني په مستۍ کښې، هر حجاب پاره- پاره کړم
خپل نظر ځان ته پرده کړم، خپل نظر مي نا رسا شي

زۀ دي تا تلاش کښې ورک شم، که د ځان تلاش کښې ورک شم
عقل، فکر، سترګي، زړونه ستا په لاره کښې خطا شي

زۀ دي تا د باغ غوټۍ یم، که یو څاڅکے پرخه راکړې
ستا چینې به وچې نۀ شي، د غوټۍ زړګے به وا شي

(۲۲)

نن په دې محل کښې، چې شراب شته نه ساقي
څوک دے چې در وبخښمه، څو څاڅکي باقي

څوک چې خواره زهر څکي، د سرو زرو په جام کښې
کله به خاورین کنډول، کښې اخلي تریاقي

اور مي له سینې خیزي، څۀ بل کړم څوک جلیا کړم
بد دي وکړو را دي کړه دا دومره مشتاقي

خړې کړې مغرب چینې، د علم و عرفان واړه
یو تیاره کړه جوړه مشایي او اشراقي

زړۀ "اناالمسموم اناالمسوم، ژاړي او عقل
وایي "ما عندي، یتریاق ولا راقي"

څۀ که ملايي که درويشي که سلطاني ده
ځوک په سالوسي[1] ګټي، او ځوک په زراقي[2]

داسې وران بازار کښې، چې صراف په سترګو ړوند دے
خوار هغه غمے وي، چې کړي زياته براقي

(۲۳)

راکړه ساقي! راکړه يو شعله تېزۀ نمناکه
بيا مي ګډ په خټه قيامتونه د دنيا که

ده په يو دانه د غنم و ويشتم په مځکه
ته مي په يوه جرعه اوچت کړه له افلاکه

ورکړه ترخه تېزۀ مرد افګنه پياله عشق ته
ګډ يې پاتې شوے ربش تلې کړه له ادراکه

فکر و فلسفې په غرو دروند او په کار سست کړم
اې خضره! له دې بارونو سپکه زما ملا که

عقل په دې ګرمه پياله ويلي شو، نه تود شو
اوس هغه غمزه غواړي بېباکه او چالاکه

---

(۱) مکاري.

(۲) ټګي.

خلق په کشمکش کښې د امید و نااميدي دي
واړه بې خبره کړه له ګردشِ افلاکه

ړېږدي د خزان ځولۍ کښې پاڼې د ګلونو
پاڅۀ دا زېلي ونې شنې په سپرلي بيا که

(۲۴)

هغه مستې اوبۀ راکړه چې لالا ترې نه ټوکيږي
زما خاوره هلته کښېږده چې سپرلي چرته وريږي

د فيرنګ تورو پيالو مي د خرد لارې تياره کړې
ستا راهي ته نظر ورکړه چې تر تا در ورسيږي

يو بې شکه يقين غواړم زړۀ مي تنګ شو له شکونو
د هوا هره څپه کښې لکه خس له ځايه خيژي

څو بخري د آرزو دي کله وي او که نه وي
زما شپې ته ستوري ورکړه چې په يو مخې ځليږي

تا قلم ګوتو کښې راکړو چې شاهي نقشونه جوړ کړه
راته هغه تندے راکړه چې دا نقش پر جوړيږي

(۲۵)

پاک زړهٔ د نظر له هره نقشه صفا راغلم
یو پاکې معنٰے پسې ساده* معرا راغلم

کله- کله عقل د جنون د لار رهبر شي
زهٔ څیري ګرېوان د عقلمندو له خوا راغلم

کله له ما تاؤ شي کله زهٔ له دنیا تاؤ شم
خلاص مي کړه له دغه کشمکشه تر تا راغلم

دلته ساقي نشته هلته سوز د طلب نشته
ستړے له مجلسه د صوفي او ملا راغلم

دغه صحرایي به شي پکار ستا د خاصانو
زهٔ شاه ته بېباکه مخکښې کېږم که بیا راغلم

(۲۶)

دا زما بې قیده زړهٔ دے په ایمان کښې کافري کړي
د حرم درته سجدې کړي د بتانو چاکري کړي

د عمل د کمي پنګې تله خپل ځان ته درنه کړي
د الله سره بازار کښې د قیامت سوداګري کړي

* ساده، صفا

غواړي دا چې اسمان مځکه دي د دهٔ په مراد چلیږي
دا د لاري موتي خاوره د مولا برابري کړي

کله حق سره اشنا شي کله حق سره په جنګ شي
کله- کله حیدري کړي کله- کله خیبري کړي

له هر رنګه بې نیازهٔ په رنګونو آلوده شي
دا کلیم ګوره په یو ځاے ساحري پیغمبري کړي

دور اندېش عقل یې خپله له نظره جنون واخلي
بیا سره د دې جنونه بې خطره نشتري کړي

ځان ته کله رسېدے شي دا مړ ژواندے تن اسانه
زر- زر کاله دیري ښخې په مقام آذري کړي

(۲۷)

ته له شاعره مستي چیغې په محشر څهٔ غواړې؟
ته چې پخپله هنګامه یې شور و شر څهٔ غواړې؟

زهٔ دي اشنا کړم، د نغمو مستو موجونو سره
د دې سینې نه سمندر غواړه ګوهر څهٔ غواړې؟

زهٔ بې حضوره سجدې نه شم کواے، نه شم کواے
زړهٔ مې راوړے دے زیاتي له دې کافر څهٔ غواړې؟

(۲۸)

نه مي خیال ته جنګ راځي د کفر و د ایمان
نه مي زړهٔ خوړلے په خوبونو د رضوان

زهٔ که مي څوک وکني یو ستا له خیال ډک دے
تار په تار جلوې لکه سپوږمۍ پر بیابان

(۲۹)

واړه مرغان ستا دي که ښایسته وي که ښکاري
ستا جوړ کړے ژوند دے که نوري دے که ناري

دا بیدار زړګے او موتي خاوره او نظر
ستا سپینه سپوږمۍ ده ستا شب ګونه عماري

ستا راکړے فکر دے په زړهٔ دے که په خوله دے
ستا دریاب دے ستا ده د ګوهر و تاب داري

زهٔ هم هغه ګرد یم چې نه رسي تر هیڅ ځایه
تا لاله پیدا کړو او تا ابر بهاري

زهٔ خو تش قلم یمه، نقشونه ټول له تا دي
نن دے که پرون ؤ، ټوله ستا ده ګل کاري

ډېري دي ګیلې مي خو په خوله مي راتلے نهٔ شي
ستا وفا جفا ده ستا یاري او عیاري

(۳۰)

ښه دے، ښهٔ دے له زر رنګه پارسايي
يو قدم تلے پر لار د اشنايي

راشه- راشه په سنيه کښې مي دمه شه
ستړے- ستړے له محنته د خدايي

ته يې چرته او دا زهٔ په کوم مقام يم
لږ مي پوه کړه د خپل ځان په رسايي

ياد کړه لږ هغه د ميني کتل ياد کړه
پرېږده پرېږده ياره! دا بې پروايي

تېره شپه راته په غوږ کښې سپوږمۍ ووېل
صبر- صبر شه په دې نا رسايي

دا هم ښهٔ وايي خرمينو کښې حرام دے
صبرېدل، په غم وهلې جدايي

غوټه شوے زړهٔ مي ستاسو مخکښې کښېښو
بويه دا چې څهٔ خو حل وفرمايي

(۳۱)

زما پر زړهٔ باندې د دهٔ تاخت و يرغل اووينه
دا مړه کول او سوځول او رغول او وينه

داسې زړۀ نشته چې له دې پلوشو نه ځليږي
زړو آئينو کښې د يو مهر ځلېدل او وينه

چې په يو لاس د باچهانو خزانې غونډوي
له بې نيازۀ فقيرانو يې بايلل او وينه

چې د دانا په زړۀ او فکر شبخونونه وهي
بې دا نشانو ته د دۀ ډال غوروزول او وينه

(۳۲)

بوخت دي په طلب کښې زما دل دے
غم د قافلې او د منزل دے

څۀ شو هغه تندر چې نے و سوځي
فکر مي د کشت او د حاصل دے

اوس مي دا کشتۍ په طوفان ګډه کړه
زړۀ مي لا په طمع د ساحل دے

سول او سول، او نه رسېدل ژوند دے
ښه دے چې تلاش کښې د محمل دے

څوک چې له دوو کونو را بهر نه شو
ډوب په فريبونو د باطل دے

یو جلوې مي سترګې مړې نه کړې
کوم ځاے کښې علاج د درد دل دے

یار ته مي قیصه کړله اوږده شوله
زړۀ مي لا در مانده په ویل دے

(۳۳)

تېر شو تېر د ژمي وار
را ژوندے شولو بهار

صبا ګل ته وږمې ورکړې
له نسیمه د جوے بار

د لالا ډیوې شوې بلې
پر صحرا پر مرغزار

زړۀ مي موړ دے له ګلونو
ګریزانه له بهار

کله ډوب وي په خپل غم کښې
کله سر وي په چغار

چې مي سوز د زړۀ کم نۀ شي
هیڅوک نه غواړم راز دار

(۳۴)

بې نیازهٔ له منزل او له قرار یم
اجنبي یم مسافر د هر دیار یم

سحر موټې ایرو وې د صبا باد ته
"د صحرا په چپاوونو مړ شرار یم

نرم- نرم قدم ږده زما پر خاورو
چې د مستو کاروانونو خوږ یادګار یم

لکه پرخه زما هم اوښکې را توې شوې
زهٔ هم خاوره یم او پروت یم ره ګزار یم

ورو مي غوږو ته له زړهٔ نه آواز راغلئ
زهٔ د ژوند د شنو رودونو کوهسار یم

ازل جوړ زما له تېره تب و تابه
د ابد بنا د شوق د انتظار یم

ته د خپلې موټې خاورې فکر مه کړه
ستا قسم چې بې پایانه بې کنار یم

(۳۵)

مست د نظر، په مست شراب یم
بې مے خراب یم، بې مے خراب یم

شوق مي زياتيږي، ځو چې ښکاريږي
ښکاري که پټ وي تل پېچ و تاب يم

تار د رباب مي، اور شي په لاس کښې
اور يمه اور يم تول، تب و تاب يم

ځان مي منزل دے، ځان مي مراد دے
ځان نه جدا يم، خانه خراب يم

ځو د مشرق نه، لمر پورته نۀ شي
زۀ لکه ستورے، پاتې له خواب يم

(۳۶)

زما شپه د سپين سحر کړه، په رښتيا چې ته آفتاب يې
چې پيدا لکه آفتاب يې، ښايي دا چې بې حجاب يې

ته زما د درد دوا شوې، په زړګي کښې مي رڼا شوې
له نظره مي په تېښته، ولې تل پښه په رکاب يې

ته قرار د بې قرارو، ته عيار د کم عيارو
ته دوا د دلفګارو، خو موندے نه شې ناياب يې

غم و خوند د محبت تل، لري دوه رنګه اثره
اوس به سوز وي اوس به درد وي، اوس به مست اوس به خراب يې

زما زړهٔ چرته وُ؟ که نشته؟ نن زما سینه کښې نشته
د زړګي قیصه مي وایه، ته خبر یې که هر باب یې

په لویي مي ستا قسم دے، چې بل هیڅ ارمان مي نشته
خو بس دا چې دې کونترې ته یقین وركړه چې عقاب یې

(۳۷)

ستا په میخانه کښې مي ساقي څوک اشنا نشته
زهٔ جوړ د راتلونکې زمانې اول آدم یم

کله مي دا زوړ سوے کالبوت، کړې موتړے خاورې
کله مي اوبهٔ کړې، بیا له اوره سره سم یم

زوړ شان و شوکت او هغه زوړ جام جم راکړه
زهٔ ویزار د نوو هنګامو نه د عجم یم

(۳۸)

د دردمندو په دنیا کښې، وایه ته څهٔ کار لرې؟
په دې تب و تاب پوهېږې؟ زړهٔ لرې؟ نګار لرې؟

ته له سرو روانو اوښکو، څهٔ خبر یې چې خپل ځان ته
د شبنم ګوهر پر پاڼو، د لالا نثار لرې

له دې ژونده به څهٔ وایم، چې په سوال غوښتلي ساه ده
د دې ژوند په غم خبر یې؟ د ساګانو شمار لرې؟

(۳۹)

ستا په لیدو که زۀ ورکېږم نالیدلي ښۀ يې
د تا د میني سودا ګرانه شوه که ما غواړې

خبره سپینه کړه د پټ پټوني ورځې لاړې
د بل په خوله به خبرېدو چې دا او دا غواړې

څۀ ځان ساتې چې د دې دومره بې نیازیو سره
د خپل وجود په ګواهۍ وینه زما غواړې

د بندګۍ مقام جدا د عاشقۍ جدا دے
نوري سجده کړي د خاکي نه زیات تر دا غواړې

زۀ به دا خپل بې قدره مس په محبت کېمیا کړم
چې زۀ درځمه څۀ پېشکش خو به صبا غواړې

(۴۰)

ستا په نور رڼا شو، د جهان شام و سحر
دا لمر او سپوږمۍ او غر او سمه بحر و بر

ته په هغه مست يې، چې نظر د يې اشنا شو
زۀ غواړم هغه، چې يې لیدے نۀ شي نظر

(۴۱)

راکړه هغه زړهٔ چې مست په خپله پیمانه دے
واخله هغه زړهٔ چې له خپل ځانه بېګانه دے

راکړه هغه زړهٔ چې تمامي جهان را خپل کړي
اخله دا چې بند د کم و بېش په افسانه دے

ما ښکاري بهر کړه د تقدیر له دې ترکشه
غشے نا ویشتلے کله ښخ په نښانه دے

ژوند نه سترے کېږي د دنیا په رانیولو
یو جهان مې ونیو او بل مې نښانه دے

(۴۲)

خپله موټې خاوره ستا په لار کښې دوړوم
دا امید لرم چې تر اسمان یې رسوم

څهٔ وکړم د علم و د دانش په وچو ځانګو
داسې ازغي نشته چې په زړهٔ یې ځایوم

غم د جدایي زما د میني اور تازهٔ کړو
مرمه، که دا اور مې په سینه کښې مړ کوم

ګډه مي په وینه کښې مستي ده ستا د مینې
داسې مي در نه دے زړهٔ چې بیا یې ګرځوم

تا زما په پاکه تختۍ نقش مدعا کړ
اوس مي دومره پوه کړه چې يې سمه پاسوم

ستا په مخ کښې کله چې زما غزل څوک وايي
دومره قدر وايه چې "دے زۀ هم پېژنم"

(۴۳)

زړۀ چې دي راکړے اوس يې ډک کړه له يقينه
جام زما رڼا کړه زيات له جام جهان بينه

دا تراخه شراب چې را تويږي زما جام ته
زيات يې کړه رندانو ته له شاتو له ګبينه

(۴۴)

د ستا د ميني فسانه ناکس ته وېلے نه شم
د لمبې تاب و تپش خار و خس ته وېلے نه شم

تا راته ذوق د وينا راکړو راته وايې وايه
چې مي په زړۀ دي هغه هيڅ يو کس ته وېلے نه شم

د زړۀ د سره مي د سوز ډکې نغمې راخيژي
ګل ته به يې وايم دا خو زۀ قفس ته وېلے نه شم

که شوق مي تل تر تله نه ؤ، عجیبه به وي دا
په دغه رنګ خو دې قیصه یو کس ته وېلې نه شم

## (۴۵)

ځومره ښې وې هغه ورځې د بهار و چنګ و نے
ستا په لاس کښې صراحي وه زما لاس کښې جام د مے

چې زما خوا ته نزدې شې په خزان کښې سپرلے راشي
چې مي ته په خوا کښې نه یې سور- سور وسوځي سپرلے

بې له تا زۀ هغه ساز یم چې هر تار یې شکسته وي
چې ته راشې له سینې مي نغمې خېزي پے به پے

ما د شوق تر محفلونو څۀ را وړے دے خبر یې؟
یو باغ ګل، یو نېستان چغې او یوه خمخانه یې

بیا ژوندی کړه هغه مینه چې مینو ته ژوند ورکړي
د دومي فقیران کښېني پر سریر باندې دکے

عزیزان مي خوشحالېږي چې ملنګ تر کوره راغلو
زۀ ستومانه چې د علم اوږدې لارې مي کړې طے

## (۴۶)

سترګې مي ستوري وروي ګرېوان کښې
له اسمانونو مي نظر تیرېږي

پر مځکه اوسم خو له ستورو بر يم
د لمبې ژوند راسره نه ښايېږي

زۀ د دې ورځو شپو نه، نه جوړېږم
د ما نه دا شام و سحر جوړېږي

د اسمانونو ښيښې تشې شولې
بله مينا راکړه ستا څۀ کمېږي

دا رهگذر زما دا بل زما دے
جنون مي دوو کونو کښې نه ځايېږي

(۴۷)

مشرق چې اسمانونه، راولي په خپل کمند کښې
له ځانه بې خبره دے، بې سوزه بېنوا دے

د دۀ په تياره خاوره کښې، د ژوند لمبې اوردې دي
په غاړه ولاړ گوري، د طوفان په تماشا دے

بې اوره دے بې سوزه، بتخانه ده که حرم دے
او پير د ميکدې، اخته په عشق و په هوا دے

خرد د مغربيانو، پروت مجاز ته په سجدو دے
په رنگ و بوے کښې ډوب دے، نابينا دے او بينا دے

ګردش کښېږي له اسمانه، تښتوو کښېږي تېز له مرګه
چالاک و بې مدار، و کلانکار و بدنوا دے

مشرق واړه خراب دے، مغرب زیات له دې خراب دے
عالم واړه بې ذوقه بې تلاشه بې وفا دے

ساقي راشه! مے راوړه، محفل جوړ، میخانه لر کړه
بیا موړه واړه مست، په خپل اشنا اشنا نظر کړه

(۴۸)

هسې نه چې زړۀ مي کشمکش ته شي اوزګار
بیا دي را خوړې کړه ول- ول زلفې تار په تار

تا مي په سینه کښېږي هغه سره لمبه پیدا کړه
لمر، سپوږمۍ مي وسو په ترخو د انتظار

ستا د لیدو میني د بتانو دستور کښېښو
مینه په تګۍ تګۍ قرار کړي امیدوار

هله به د مست زړګي خوږې ترانې وایي
خپل ګل ته چې اورسي مرغۍ د مرغزار

کاڼے که چَوي په تېشه دا عجیبه نه ده
مینه په اوړه اوچتوي واړه کهسار

(۴۹)

زړۀ مي په جنګ دے له روزګاره سره
چینه ده ژاړي د کهساره سره

څرګند په جنګ دے او پټ- پټ په جنګ دے
ناپایدار د پایداره سره

په دې صحرا او غر کښې ځان ته پروت یم
نه د رازدار د غمګساره سره

واړه بې سوزه بېنوا بې شوقه
دا ابشارونه د جویباره سره

بې سوزه ژاړي بې مقصده ژاړي
دا بلبلان د دې شاخساره سره

زما د داغ تر سوزه نه رسیږي
سوے زړګے د لاله زاره سره

د تا محفل د تا ساقي نه لري
څۀ مناسب له بې قراره سره

(۵۰)

په وینا د تا یې پرې نه بنو کار خپل
در واپس مي کړلو زړۀ بې قرار خپل

دا څۀ زړۀ دے چې د ساه په شمېر اخته دے
په خپل لاسو کښې یې نه دے روزګار خپل

زۀ د زړۀ شوم، تا له شوق د نمایشه
زر په ډاګه دا غمے کړو ګزار خپل

سپوږمۍ ستوري ګیله من دي ته خبر یې؟
چې دې خاورو ته دے ورکړو شرار خپل

په سینه کښې مي دا غشے غنیمت دے
چې له ښنو به پورته نه کړي شکار خپل

(۵۱)

ټوله تمنا په یوه ټکي کښې ځایېږي
ما د تا په مینه اوربَد کړے خپل بیان دے

ته د مشتاقانو ژبې نیسې خبر نه یې؟
میني وربخښلے هر نظر ته یو زبان دے

چرته هغه نور چې خبر وړي د بل څۀ نه دے
چرته دا خاکي چې په څولۍ کښې یې اسمان دے

یو وړه ذره که مي کمېږي له وجوده
تل تر تله ژوند به پرې وانخلمه چې ګران دے

زهٔ ستا بې پایانه شنو څپو سره اخته یم
نه مي کناره، نه مي ګوهر د زړهٔ ارمان دے

ستا له دې معنا چې لکه پرخه را وریږي
څپلو اسویلو ته مي جوړ کړے بل جهان دے

(۵۲)

څو به خوروې په مخ پردې د صبح و شام
پورته شه خورې کړه پلوشې ماه تمام

سوي کښې داسې خوند دے چې زما نه به جام غواړې
ته که لږ خبر شوې په مستۍ د دې مقام

ما د ژوند په ساز د دهٔ د اور لمبې تازهٔ کړې
نم د پرخې ورکړه چې شي لوند د لاله جام

عقل پاڼي- پاڼي لټوي مینه خبر شوه
تېز مرغۍ په چل کښې دانه یوسي پرېږدي دام

چرته دا نغمې او چرته زهٔ ټولي بانې دي
ګرځم په څهٔ چل را تېزوم د اوښو ګام

وخت د سپینو- سپینو دے خو زهٔ په چل- چل وایم
څهٔ وکړم تر اوسه مي ملګرے دے لا خام

(۵۳)

لا د ساه په شمېر اخته یم، لا په پېچ کښې د روزګار یم
د درياب په شان فرياد کړم، کنارو کښې را حصار یم

د درياب له زورهيځوک، په امان په ارام نشته
د صدف په تنهايي کښې، زۀ د خپل ځان نګهدار یم

د هغې ګوهر چې پروت دے، زما زړۀ زما سینه کښې
له صرافه تپوس مه کړه، چې زۀ خپله خپل عيار یم

څوک زما د ويرانې نه، د خراج په طمعه نه دے
د دوحي په غاړه ناست یم، قلندر یم شهريار یم

بل زما په دې سینه کښې، عجیبه ده عجیبه ده
څوک خبر دے چې دا ته يې، که د ځان سره دو چار یم

د آدم له تورو خاورو، د تقدير پرده کړه پورته
زۀ د تا په لار کښې پروت یم، د خپل ځان په انتظار یم

(۵۴)

په فرياد شونډې نه پرانزمه اثر نه لري
غم نا ويلے ښۀ دے هر سړے ځيګر نه لري

حرم او دير څۀ کوې هر ځاے کښې خبره يوه ده
خو پټ زما او د تا راز دے څوک خبر نه لري

څۀ عجیبه د نه لیدو ده دا زموږه دنیا
کله د اور لمبې لري کله شرر نه لري

تا زما زړۀ کښې ځان ته ځاے وکړو د سترګو په لار
خو داسې لاړې چې لا سترګې هم خبر نه لري

یو پوهېدونکے جوهري چې په ګوهر را نغلو
اوس یې په تا باندې سپارمه څوک نظر نه لري

خرد افروز مي پیمانې چې فیرنګیانو راکړې
لکه د لمر دي مګر پرخه د سحر نه لري

(۵۵)

زۀ د پلوشو غوندي تار- تار راغلے یم
څوک خبر دے څنګه پر دې لار راغلے یم

تا زما د زړۀ د غم قیصې رقیب ته وکړې
خپلو اسویلو نه شرمسار راغلے یم

لري دي له مخه کړه نقاب چې لکه لمر
ډک له سترګو ستا په انتظار راغلے یم

ته مي ارادې په یقین کلکې کړه چې زه
جنګ ته بې پیاده او بې سوار راغلے یم

ته نه يې خبر چې ستا د لارې نظر څۀ کړي
سر په دعاګانو ستا په لار راغلے يم

(۵۶)

خدايه د شمس و د قمر! دا خپل جهان ووينه
ذره کښې جوړې غلبلې دي بيابان ووينه

په يو سينه کښې بې پايانه حسن ځاے نيولے
لمر دے پټ شوے په شلېدلي ګَريبان ووينه

د بنيادم زړۀ دے د مينې په بلا اخته کړو
په دې ځنګل کښې دے دا اور شعله فشان ووينه

وينځې زاړه- زاړه داغونه د هستۍ له جامو
خومره سختۍ خوښوي دا داغيي دامان ووينه

زموږه موټے خاوره ځان ته بل اسمان جوړوي
خواره ذره او دا تعمير د بيابان ووينه

# زبورِ عجم دویمه برخه

"د سدره" سمسوري څانګې! خارو خس د بوستان نه شې
د هغه نه که منکر شې خو منکر چې له ځان نه شې

دواړه عالمه ښکارېدے شي له مینا چې لرم
هغه نظر څۀ شو چې وکړي تماشا چې لرم

بل لېونے به را پیدا شي بیا به ښار ژوندے کړي
سل هنګامې به شي پیدا له دې سودا چې لرم

کم عقله غم د شپې د تورو تیرو ولې کوې؟
لکه د ستورو د زړګي د داغ رڼا چې لرم

ما خپل مجلس ته ګډوې ښۀ ده خو زۀ وېرېږم
د تا به خوښه نۀ شي دا شور و غوغا چې لرم

(۱)

پاځه! د آدم د راختو وخت شو
خاورې ته د ستورو د سجدو وخت شو

هغه راز چې پټ ؤ د هستۍ زړهٔ کښې
اوس يې د وينا د ګفتګو وخت دے

(۲)

ستوري او سپوږمۍ د شوق په لاره هم سفر دي
پوهې او ادا فهم و خوش نظر و باهنر دي

خدای خبر چې څهٔ وينې د خاورو په ډېري کښې
شايي اسمانونو ته ده مونږ ته په نظر دي

(۳)

په يو نفس د غوټۍ غوټه پرانستې شي د زړه
د لاله زړهٔ ته رسېدے لکه صبا کولے شې

زندګي څهٔ ده؟ د ځان قيد کښې د جهان را وستل
ته لا په قيد کښې د جهان يې کله دا کولے شې

د ازل لیک دے لمر، سپوږمۍ به درته سر ټیټوي
ته لا خبر نه یې چې څنګه څۀ په چا کولے شې

که ته زما د میکدې نه یو پیاله پورته کړې
د موټې خاورو نه د بل جهان بنا کولے شې

څنګه دي کړه خپله سینه بلې ډیوې اقباله!
څۀ چې خپل ځان سره دي وکړلو په ما کولے شې

(۴)

ته که د میني کرانه غواړې
په زر لمبو یو زبانه غواړې

زۀ د الوت په لذتونو پوه شوم
ته په چمن کښې اشیانه غواړې

د اشنایانو لمن ټینګه نیسه
که یو نظر محرمانه غواړې

بې لېونتوبه هاے و هوے کوې
په وچه بزم شبانه غواړې

ته هم شوخي او دلبري زده کړه
که مې غزل عاشقانه غواړې

(۵)

وخت خو یو روان دوان قاصد د دل آرام دے
داسې پیغامبر چې سر تر سره یو پیغام دے

مه کوه ګمان چې ستا نصیب کښې جلوې نشته
شوق دے په سینه کښې لا نیم ګړے دے او خام دے

دا منم چې ته لکه شاهین بلند پرواز یې
خیال لره چې زوړ تجربه کار ښکاري او دام دے

کله جبرئیل دے موتې خاورو ته رسیږي
نوم یې اوچت شوے دے په دې چې بلند بام دے

ته د خپلې ساه په شمیر ژوندے یې خبر نه یې
ژوند د شپو او ورځو د جادو ماتوو نام دے

زۀ د مغربي علم و دانش په باب کښې وایم
ښه دے شور فریاد خو چې تر خو نظر ناکام دے

زۀ لا د هلال د چلیپا په غم کښې نه یم
دروند مصیبت نوے بل په زړۀ کښې د ایام دے

(٦)

نور به د یار د سادګیو درته څۀ ووایم
خپله زما په خوا کښې ناست ؤ د درمان یې اووې

څهٔ يې د مينې اووې بې له دې چې نه شم وېلې
که زړهٔ پرې ډېر خوشحالېدو او په شان- شان يې اووې

ښه هغه کس دے چې را کوز شو په ضمير د وجود
يو څو ګوهر يې را بهر کړو او اسان يې اووې

خفه پرې مه شه له جهانه يې بهر نه ووځي
چې څهٔ يې ګل نه شو ليدے مرغ نالان يې اووې

د شوق پيغام چې يې هر چا ته بې حجابه وايم
د شبنم څاڅکي ګل ته وراغلو پنهان يې اووې

که مي خبرې تار په تار دي څهٔ عجيبه نه ده؟
چا چې د دې زلفو څهٔ اووې پرېشان يې اووې

(۷)

عقل چې غوښتونکے او ميندونکے د هر څيز دے
ګرمه تماشه يې را نيولې په نظر ده

پاکه جلوه غواړې له سپوږمۍ او لمره تېر شه
هره يو جلوه دلته لړلې په نظر ده

(۸)

د هغو څلمو غلام يم چې د مينې غلامان دي
د شپخانو غوندي نه دي چې زړهٔ تنګي او ځان- ځان دي

میخانې او مسجدونه د خپل زړهٔ په محک ګوري
هغه زړونه چې بې رنګه د هر رنګه اشنایان دي

نظرونه یې رسیږي له سپوږمۍ له ستورو پورته
نه په غم کښې د منزل دي نه په غم کښې د آشیان دي

په خلوت کښې یې محفل دے په محفل کښې یې خلوت دے
د هر چا سره نزدې دي د هر چا نه ګریزان دي

دې صادقو عاشقانو ته په سپک نظر مه ګوره
اصل مال د قافلې دے دغه بې سر و سامان دي

غلامانو ته یې داسې آزادۍ ور وبخښلې
چې اوس بې رمې شپونکے دے برهمن دے که شېخان دي

پیاله پورته کړه چې وایي دلته سره شراب حلال دي
دا حدیث کمزورے ښکاري خو درانهٔ- درانهٔ راویان دي

(۹)

باغ کښې سور لاله په وینو رنګ دے لا تراوسه
مه غورځوره ډال له لاسه جنګ دے لا تراوسه

هغه مصیبت چې سل فتنې ترې پیدا کیږي
پاتې په زانګو کښې د فیرنګ دے لا تراوسه

اې چې په آرام په غاړه ناست یې پاڅه- پاڅه
کار دے له گرداب او له نهنګ دے لا تراوسه

مه کښېږده تېشه له لاسه کار د عقل نه دے
ډک په سرو لعلونو زړۀ د سنګ دے لا تراوسه

کښېنه چې څو نوي مقامونه دربښکاره کړم
پور په نوو- نوو نغمو چنګ دے لا تراوسه

پورته نقش ګر چې وکتل زما جنون ته
وې ویل چې ده ته میدان تنګ دے لا تراوسه

(۱۰)

تکیه به بحث و په تقریر او په بیان هم کوئ
د حق کارونه په شمشیر او په سنان هم کوئ

داسې هم وي چې د خلقې لاندې کړي زغرې پټې
مین په هر یو حال کښې مست وي په دا شان هم کوئ

چې جهان زوړ شي پاک یې وسوځئ او لري یې کړ ئ
له هغې خاورو نه بنا د بل جهان هم کوئ

په یو نظر د ژوندونه ټوله سرمایه قربان کړي
دا سوداګر سودا د میني په تاوان هم کوئ

ځۀ چې کوئ د هوا موج د سپکو پخو سره
داسې کانې کله په غر په کهکشان هم کوئ

مینه خرڅېږي په بازار کښې د ژوندون په بیه
په دې سودا کښې اکثر ګټه لکه زیان هم کوئ

د دې دپاره مې فریاد وکړو چې ته را ویښ شې
کني دا مینه بې فریاد و بې فغان هم کوئ

(۱۱)

دا درته چا اووې چې پښې وغزوه کښېنه
مسته شنه څپه شه له خپل ځانه طوفان جوړ کړه

پاڅۀ له چمنه د پړانګانو په ښکار لاړ شه
غر له خېمو ډک کړه له صحرا ګلستان جوړ کړه

پورته شه دا لمر، سپوږمۍ په خپل کمند کښې ګير کړه
ستوري کړه را مات او پر رونق د ګرېوان جوړ کړه

پوه یم چې شراب د خودۍ تېز دي او تراخه دي
وګوره خپل درد ته له دې زهرو درمان جوړ کړه

(۱۲)

اخیر به راشي قافلې له دې اوږده سفره
خضر د وخت به د صحرا نه د حجاز راشي

زۀ غلامانو ته سطوت د باچهانو بخښم
که د محمود شعلې له خاورو د اياز راشي

ژوند په کعبو په بتخانو کښې په عمرونو ژاړي
که به مجلس د ميني يو اشنا د راز راشي

د زمانې په زړۀ کښې نوي بنيادونه کښېږدئ
هغه فرياد چې د سينو نه د نياز راشي

زما له لاسه رباب واخلئ چې بې وسه شومه
هسې نه وينه د رګونو نه د ساز راشي

(۱۳)

د باچهانو نه اميد نه لرم
زۀ مسلمان يم بتان نه جوړوم

يو بې نيازۀ زړۀ لرم سينه کښې
چې فقيرانو ته شاهي وبخښم

څۀ چې اسمان مې په لاله وروي
زۀ يې په پاڼو د وښو وروم

له مهر و ماهه پلوشې نه غواړم
لکه پروين له بله سوال نه کوم

که لمر مي خپله را روان شي خوا ته
زۀ يې په بله لاره مخ واړوم

خدای راته داسې آب و تاب را کړے
تورو وريځو کښې شعلې پړقوم

خرونه په بام او په کوهي کښې يوسف
زۀ د شاهانو دستور نۀ پېژنم

(۱۴)

په نشه د فقر مست شه پيالې واخله د مادم
او چې پوخ شي بيا تر لاس کړه تخت د کې او جام د جم

وې چې دا ښايسته جهان مي وايه تا سره جوړېږي؟
ما وې ما سره نه ښايي وې چې مات يې کړه برهم

چې دې شاړو ميخانو کښې د مجلس ملګري نشته
د رستم سره جام اخله د مغانو سره کم

اې لاله د بيابانه! ته يواځې سوے نه شې
د زړۀ سوے داغ دے کښېږده په سينه کښې د آدم

ته د دۀ د زړګي سوز يې ته د دۀ د ويني تاؤ يې
که يقين دي نۀ شي ورکړه چاک سينې ته د عالم

عقل ستا د لار ډيوه ده، دا د لاري په سر کښېږده
مينه ستا د مستۍ جام دے؟ مل کړه ځان سره محرم

د ښو نه مي تويېږي د زړۀ وينې د زړۀ غوښې
سره ياقوت د بدخشان دي لګوه يې په خاتم

(۱۵)

خدای خبر چې نوري څو فتنې دي په پړده کښې
اوس هم د هوس جادو کوي جهانداري

مينه ماتوي زمان- زمان بتان د عقل
مينه مسلمانه ده او عقل زناري

مير د قافلې يې ډېر کوشش او تل کوشش کړه
دلته حيدر هغه دے چې زړۀ کړي کراري

سترګي دي کړې پټې او بيا وايې جهان خوب دے
وغړوه سترګې چې دا خوب دے بيداري

جوړ کړه په خلوت کښې انجمن ځان ته چې مينه
يو پېژني، غواړي تماشې ته بسياري

يو لحظه مضطر[1] شو او فتراک[2] کښې يې ځاے وموند
ښه هغه هوسۍ ؤ چې يې زخم ؤ کاري

---

[1] پرېشان.

[2] هغه تسمه چې ښکاريان ورپورې ښکار تړي.

خپلې نغمې هسې وروم پر غر پر سمه
ګران مال مې ارزان شو توبه دا سست بازاري

(۱٦)

وتې فرشتې د اسمانونو له طلسمه دي
بیا یې هم نظر دے موتې خاورو ته نیولے دے

دا ګمان ونه کړې تولې مینې یو دستور لري
بې د لېونتوبه د لالا ګرېوان شلېدلے دے

ستا د شوق خبري د اشنا خلوت کښې کولې شي
هغه اسویلے چې له هوسه پاک وینځلے دے

ته په یو ساعت کښې راختے له ستورو کسے شې
عقل دے په لاسو کښې ښکاري شاهین نیولے دے

لري دي نقاب کړه چا چې تا ته لن ترانې وې
اوس په انتظار کښې ستا جلوو ته اودرېدلے دے

چا په دې چمن کښې دا د سوز سوې نغمې ووې
سر غوټۍ تیټ کړے دے او ګل خولو وهلے دے

(۱۷)

څۀ شولو عرب چې مجلس مست کړي شبانه
څۀ شوې د عجمو ترانې عاشقانه

ارتې خلقې ګرځي پيران تشې شيشې خوا کښې
نشته څوک چې ولټوي ډکه پيمانه

دې چمن کښې هر څوک ځان ته خپله ځاله ګوري
نشته څوک چې وسوځوي سازهٔ آشيانه

ډيرې قافلې راغلې او ودريدې، ولاړې
هيچا دې خوا ونه کړو نظر محرمانه

پاڅهٔ د څپې غوندي طوفان سره اخته شه
غواړې کنارې؟ چرته کښې شته دے کرانه*

راشه چې انګور د تازهٔ وينو نه را ډک شو
بيا به داسې نه وايې چې نشته ميخانه

لنډه اوږده لار د زمانې په يو قدم کړه
تېر له زر او رو شه نوره څهٔ ده زمانه؟

(۱۸)

لکه صبا سحر را پاڅهٔ خوربدل زده کړه
ګل و لاله پسې لمنې غونډول زده کړه
او د غوټۍ زړهٔ کښې دننه رپيدل زده کړه

* کناره

خلکې دي واچولې او بې له ذوقه وسوځېدې
وسوځېدلې او تر هيڅ ځايه ونه رسېدې
له ډېره شوقه او له ذوقه سوځېدل زده کړه

کافره! بيا دي په هغه پورې دا زړهٔ وتړه
ځان ته نظر وکړه د هر چا نه لېمه وتړه
بل شان ليدل او په بل رنګې نه ليدل زده کړه

دا ساه دے څهٔ ده؟ يو پيغام دے خو تا ونه وربدو
د ستا په خټه کښې يو نور دے چې تا ونه لېدو
بيا ليدل زده کړه بيا ليدل او اورېدل زده کړه

موږ د عقاب سترګې او زړونه د شهباز نه لرو
لکه چرګان د بلې مينه د پرواز نه لرو
اې د کور چرګه! پاڅهٔ نوي الوتل زده کړه

د کې د جم شاهي د لارې په سر نه خرڅوي
څوک د وښو په بيه ونې او غر نه خرڅوي
د زړهٔ د وينو په بدل کښې اخستل زده کړه

وژړېدې او تقدير هغه دے چې مخکښې څهٔ ؤ
حلقه هغه ده ځنځير هغه دے چې مخکښې څهٔ ؤ
نوميده مه شه په بل شانې ژړېدل زده کړه

لا سوے نه يې د لاله د زړهٔ شرر راغونډ کړه
له ځانه تاؤ شه او دا ټول ځنګل او غر راغونډه کړه
لکه لمبه په نېستان کښې زغلېدل زده کړه

(۱۹)

ویدې غوټۍ! لکه نرګس له ارمانونو پاڅه
کور مو تالا کړلو درنو- درنو غمونو پاڅه
د مرغو چیغې دي او شور د اذانونو پاڅه
هنګامه ګرمه ده د زړونو د تاوونو پاڅه
له دې درنو- درنو- درنو- درنو خوبونو پاڅه

له دې خوبونو پاڅه

لمر د سحر یې مخې ناوې ته جامې واچولې
د زړۀ د وینو نه یې سرې- سرې اوېزې واچولې
قافلې پورته شوې اسونو ته یې قیزې واچولې
بیدار نظره په کتو د جهانونو پاڅه
له دې درنو- درنو- درنو- درنو خوبونو پاڅه

له دې خوبونو پاڅه

مشرق تمام لکه غبار د سر راه دے او بس
خاموش فریاد دے او یا بې اثره آه دے او بس
هر ذره کښې غوټه شوے مړ نګاه دے او بس
د هند و سندهه او د عراق له میدانونو پاڅه
له دې درنو- درنو- درنو- درنو خوبونو پاڅه

له دې خوبونو پاڅه

د تا دریاب څۀ دریاب نه دے اسوده صحرا دے
د تا دریاب زیاتیږي نه په کمېدو لګیا دے
څۀ د آشوب او د نهنګ نه بېګانه دریاب دے

له مړې سینې یې مست په شانې د موجونو پاڅه
له دې درنو- درنو- درنو- درنو خوبونو پاڅه
له دې خوبونو پاڅه

دا یو نکته ده او په دې کښې راز د کل جهان دے
ملک د بدن غوندي دے دین پکښې د روح په شان دے
بدن ژوندے او روح ژوندے په ربط د تن و جان دے
سره د شنو خلکو، نېزو او شمشیرونو پاڅه
له دې درنو- درنو- درنو- درنو خوبونو پاڅه
له دې خوبونو پاڅه

ته د ازل د وراثت امین یې ته امین یې
د دې جهان د مولا ته یسار او ته یمین یې
هم ته زمان یې اې خاکي بنده او ته زمین یې
د یقین جام وڅکه اوچت له ګمانونو پاڅه
له دې درنو- درنو- درنو- درنو خوبونو پاڅه
له دې خوبونو پاڅه

فریاد- فریاد له د لبرۍ دل اویزۍ د مغرب
فریاد- فریاد له شېرینۍ او پروېزۍ د مغرب
عالم تباه خراب ویران کړو چنګېزۍ د مغرب
د حرم مشره! په تعمیر د جهانونو پاڅه
له دې درنو- درنو- درنو- درنو خوبونو پاڅه
له دې خوبونو پاڅه

(۲۰)

څۀ ده دا زموږه دنیا؟ بس یو موټے خاوره
څنګه په دا تلے نفس بیا په بېرته ورشي؟

تکه توره شپه چې د غریب ګور کښې ویده ده
ستوري او سپوږمۍ نه لري څنګه به سحر شي؟

زړۀ مي لا یزاله تب و تاب پسې تلاش کړي
څوک ترې نه خبر دي چې به برق که به شرر شي؟

دا د شوق نظر او اوچت خیال او د ژوند مینه
دا یقین مي نۀ شي چې به ټول خاورو ته ور شي

داسې تېر کړه ژوند چې که دا مرګ - مرګ دوام شي
خپله کردګار په خپلو کړو شرمنده تر شي

(۲۱)

بیا په دې تلي په راتلونکي یو نظر په کار دے
پاڅۀ چې بل فکر او غم او بل خطر په کار دے

مینه د ورځو په ناقه اخپل محمل اچوي
میني ته بل لباس د شام و د سحر په کار دے

پیر زما وایي دا دنیا په یو ځاے نه اودري
د دې له بدو او له ښو قطع نظر په کار دے

تا که دنیا پرې اینښې نیت دے د هغه کړے دے
اول له خپل سر او له خپل ځانه ګذر په کار دے

ما وې چې زړهٔ کښې مې ډېر لات او ډېر منات پراته دي
ده وې چې هر یو داسې بت زیر و زبر په کار دے

(۲۲)

زما خیال هم اوسېدونکے د اسمان ؤ
په ځولۍ کښې د سپوږمۍ او کهکشان ؤ

دا خیال مه کوه چې دا خاوره مو ځائے دے
چې هر ستورے یو جهان دے یا جهان ؤ

کله- کله یو مېږي ته را ښکاره شي
هغه راز چې نا خبره تر اسمان ؤ

درانهٔ غرونه دي دا ځکه یې په شا وړي
زما موټے ګرد د دې پر اوږو ګران ؤ

د لالا له داغه جوړې پیالې شوې
چې دے بې آوازهٔ هم ډک له فغان ؤ

(۲۳)

تېر په ما قیامت کړلو نغمو هیڅوک خبر نه شو
ستا محفل کښې څهٔ دي زیر و بم د ځائے و راه

فکر مي په ختهٔ کښې د میني سره ګډ دے
تل نیمګړے اوسم پوره نه شوم لکه ماه

شونډې دي را بندي کړه د هجر سوے دي خپل کړه
مینه فریاد نه کړي چې له ځانه شې آګاه

ځان لمبه کړه مخې ته دي خس و خاشاک سوځه
نه مومي خاکي د زندګۍ د حرم راه

ته شاهین یې څهٔ له د بلۍ د چرګو مل شوې
و زمایه* وزر دي ستا الوت نه دے کوتاه

زهٔ د موجوداتو شبستان کښې اورکے یم
ځاے پر ځاے رڼا کړم لږه- لږه او ګاه- ګاه

ووې په غزل کښې اقبال حال د خودۍ ووې
دا نوے کافر له بتخانو نه دے آګاه

(۲۴)

دا ډک جام زما یادګار کله د جم دے
زړهٔ زما نچوړ ښیښه کښې د عجم دے

لکه موج آدم وجود پسې تاویږي
لا تر ملا- تر ملا په منځ کښې د عدم دے

---

* و ازمایه

دا جادو راځه چې مات لکه خلیل کړو
په دې دیر کښې بې له تا هر څۀ صنم دے

که په زړۀ د زمانې ورننه نه ووزې
تماشې ته خپل نظر پرېښول ستم دے

ورکېدل هم په دې لار کښې یو مزه ده
ښه ده دا چې منزل لرې پېچ و خم دے

تغافل چې زۀ یې پرېښوم تماشې ته
د هر رنګې التفاته سره سم دے

زۀ اګرچه بتخانه کښې یم لوے شوے
هغه راز وایم چې زړۀ کښې د حرم دے

(۲۵)

زۀ د صحرا لاله په باغ کښې وده نه شم کولے
ما چرته غر ته او صحرا او بیابان ته یوسئ

زړۀ لومبړه شوم، له ځانه بې خبره شومه
اې چاره ګرو! دا مزرے مو نیستان ته یوسئ

په دې سینه کښې مې یو ټکرے ؤ او ورک شو رانه
اګرچه زوړ یمه ما بېرته دبستان ته یوسئ

غلےِ رباب یم خو یو څو تازۀ نغمې لرمه
چې بیا مې وچېړي ما هغه غزلخوان ته یوسئ

زما د شپې رڼا کوو ته د زړۀ داغ کافي دے
دا فانوسونه مو د بل چا شبستان ته یوسئ

ما غلامانو ته ښیلو د شاهۍ رازونه
ډېر ګنهګار یمه دا عذر مې سلطان ته یوسئ

(۲۶)

تازۀ خبري کوم یو مې په مطلب نه رسي
جلوې خورې شوې او نظر په تماشا لا نه رو

تېر شه د دې ښیښه خانې نه لکه کاڼےِ تېر شه
ورک هغه کاڼےِ شه چې بت شو تر مینا لا نه رو

زاړه ټوټې- ټوټې کړه بیا نوې بنا وتړه
څوک چې د "لا" ګرداب کښې ورک شو تر "الا" لا نه رو

ته د کلیم نه سبق زده کړه چې دانا د فیرنګ
د دریاب زړۀ اوچوو، اور ته د سینا لا نه رو

مینې زما د زړۀ نه زده کړه درد و سوز و تپش
دا زما زړۀ ؤ چې سور اوسو او بل خوا لا نه رو

(۲۷)

دا څۀ مین دے چې خوله ډکه له فغانه لري
مین هغه دے چې په لاس کښې دوه جهانه لري

مین هغه دے چې خپل ځان ته جهان نوے جوړ کړي
ځان ته جهان بې کنارو او بې پایانه لري

دا دانایان د فیرنګیانو وینښ زړګے نه لري
منم چې سترګه به په هر اړخ نګرانه لري

مینه یې نشته دے او عقل یې چیچې لکه مار
زري جامونه ډک له سور لعل روانه لري

زما د جام خیري راټول کړه میخانه کښې نشته
داسې بوډا چې باده تنده ترخه ځوانه لري

(۲۸)

د ګل خوا کښې د مرغانو نیت بدلیږي
په ګلشن کښې یې بل خیال په آشیان بل دے

ځان ته وګوره، دنیا نه ګیلې پریده
که د تا نظر بدل شو جهان بل دے

په غور وګوره هر دم دې میخانه کښې
جام بدل، ساقي بدل، پیر مغان بل دے

سلام وایه زما میر د قافلې ته
لار منمه چې هغه ده کاروان بل دے

(۲۹)

موږ له خدایه ورک یو او هغه په جستجو دے
سر دے په طلب ګرفتار شوے په آرزو دے

کله د لالا پر پاڼو لیکي پیغامونه
کله د مرغانو په سینه کښې په ها هو دے

پټ شي د نرګس په مستو سترګو کښې دیدن ته
داسې غمزه دان چې هر نظر یې ګفتګو دے

سوړ- سوړ اسویلے کړي هر سحر زموږ په غم کښې
نه او بهر لاندې باندې په هر سو دے

یو خاکي لیدو ته یې کړې څو هنګامې جوړې
تشه یو بانه یې دا جهان د رنګ و بو دے

پټ هره ذره کښې دے تراوسه نا اشنا دے
سپین لکه سپوږمۍ خور پر ګلو او په کوڅو دے

دے خاورو کښې ورک د ژوند ګوهر دے خو چې څۀ دے؟
دا ګوهر چې ورک دے دغه زۀ یم که هغه دے؟

(۳۰)

وينې د مزدور ورکړو لالا ته لعل و ناب
ظلم د مالک کړو د دهقان پټې خراب
انقلاب
انقلاب اې انقلاب

شيخ اوړدو تسپو کښې ښکار کوي مسلمانان
ګير کړو برهمن ساده کافر د ترګ په تاب
انقلاب
انقلاب اې انقلاب

مير و سلطان دواړه جوارګر، دانه يې غله ده
روح له غلامانو تښتوي او دوے په خواب
انقلاب
انقلاب اې انقلاب

شيخ په جماعت کښې دے او ځوے يې مدرسه کښې
دے بوډا ماشوم، هغه زوړ وخت کښې د شباب
انقلاب
انقلاب اې انقلاب

تښته مسلمانه! له فتنو د علم و فن
ډير دي شيطانان په دې دنيا او رب ناياب
انقلاب
انقلاب اې انقلاب

وګوره شوخي د باطل، حق ته مخکښې کیږي
ګوره شوپرک ته چې جنګیږي له آفتاب
انقلاب
انقلاب اې انقلاب

ګوره کلیسا کښې یې عیسیٰ په دار اخته کړه
یوړو د کعبې نه مصطفیٰ ام الکتاب
انقلاب
انقلاب اې انقلاب

ما د دغې دهر په شیښو کښې دي دلیدلي
زهر، چې ماران دي ترې نه ګډ په پېچ و تاب
انقلاب
انقلاب اې انقلاب

کله ضعیفانو ته قوت د پلنګ ورکړي
کله لمبې خیژي له فانوسه
انقلاب
انقلاب اې انقلاب

(۳۱)

په دې پوهېږم چې له پېچ و تابه نه خلاصیږم
خو دومره ده چې یوه ورځ به بې نقابه راشي

یو ګزار راکړه چې ویده زړهٔ مي له خوبه پاڅي
بې له وهو به نغمې کله له ربابه راشي

انګور سیراب کړه د سحر په یخو- یخو اوښکو
چې سینې سپینې پلوشې دي له آفتابه راشي

وړه ذره یې زۀ ویرېږم چرته ورکه نه شې
ځان دے پخته کړه چې شعلې دي له آفتابه راشي

ځان خاکي مه ګڼه ته خپل ګریوان ته سترګې واړو
که یو څېر ورکړې ترې بهر به سل مهتابه راشي

که ور یې بند کړو د حریم په کاڼي سر ووهه
چې ترې بهر سره- سره لعلونه بې حسابه راشي

(۳۲)

په روڼ تندي په ښۀ او بده زمانه تېرېږه
په جال او باغ او په قفس او اشیانه تېرېږه

زۀ دا منم چې مسافر یې او لار نه پېژنې
بیا هم د مینې په کوڅۀ محرمانه تېرېږه

په هره ساه دنیا بدله کړه په بل شان یې کړه
له دې دنیا لکه بې فکره زمانه تېرېږه

که درته مخ کښې جبرئیل او حوري لار ونیسي
څو کرشمې پر ووه دلبرانه تېرېږه

(۳۳)

ژوند خپله سیپۍ کښې د ګوهرو جوړول دي
نه ویلي کېدل او په لمبو کښې اوسېدل دي

مینه له دې بې وره ګښته را وتل دي
میاشت لکه ښیښه له پاس آسمانه غورځول دي

دین او زړۀ له لاسه غورځول د شاهۍ کار دے
سر په سر سودا ده ځان ورکول او جهان وړل دي

لوے همت په کار دے فلسفې ته او حکمت ته
دوو کونو پسې د فکر توره را ایستل دي

بې تعبیره خوب نه دے مذهب د ژوندي زړونو
پاکه له دې خاورې دنیا نوې جوړول دي

(۳۴)

اومې مونده لاره له دې ګښته د وتو
مخکښې شوم له فکر د سحر په اسویلو

تا خو اې شاهینه! ځاله جوړه کړه چمن کښې
هسې نه چې پاتې شې له پورته الوتو

ګرد شوې؟ په دې ځاے کښې په آرام اوسېدل نشته
مل شه د صبا په لار کښې مه کښېنه د ښو

پرپړده شين آسمان د کهکشان له چينو تېر شه
زړۀ مري له منزله که منزل شي د سپوږمو

يو هغه بې رنګه بې پروا رڼا که نه وي
غر د سينا سپک راته ښکاريږي تر وښو

څنګه د مجلس لحاظ کوي و پټ- پټ سوځي؟
څۀ خبر يم زۀ شهيد د لارې د کتو؟

پس زما به شعر زما لولي دا به وايي
ملک بدل کړو يو سړي چې ځان يې پېژندو

(۳۵)

زۀ غيرت لرمه بې خدمته بدل نا خلم
مرم چې وابسته دي په تقدير زما تقصير شي

خيال مي ستا د مينې د مستۍ له برکته
دومره پورته ځي چې د لمر سترګې راته خير شي

زۀ له ډوبې ورځي په ګرداب او څپو ګډ يم
لږ که درياب غلے شي، طوفان مي چاره ګير شي

څو ځله مي مخکښې جهان ګړ په شور او شر کړو
اور په عافيت پورې زما له بم و زير شي

ځکه ترک[1] په غاړه د بتانو مخکښې ګډ شوم
شېخ مې له نېکانو د مستانو په تکفیر شي

کله له ما تښتي کله بیا مې خوا ته راشي
کله مې صیاد شي کله- کله مې نخچیر[2] شي

بې سوزه زړهٔ کله برخه اخلي له محفله
پاکه تانبه راکړه چې زما په لاس اکسیر شي

(۳۲)

سترګې چې بینا دي اول خپل زړګي ته ګوري
ړوند جهان د زړهٔ د آئینې نه بې پروا دے

تلونکے بې یقینه، لاره ورانه او شپه توره
خومره مشکلاتو کښې ګیر شوے رهنما دے

ځان له قاصد مست دے، رقیب مست دے، مین مست دے
حرف د دلبرانو پور په څو رنګه معنا دے

شک د کافرانو او یقین د مومنانو
څهٔ وکړمه زړهٔ مې په بلا کښې مبتلا دے

---

(۱) زنار
(۲) ښکار

مستو ځپو خپله کنارې ته کشتۍ راوړه
کښېنستم په امن چې طوفان مې نا خدا دے

خدای خبر چې چا ځپو ته داسې سترګې ورکړې
شګې باهر ولې ګوهر زړهٔ کښې د دریا دے

هيڅ زما له سوزه نصيب نه شو د دې خلګو
ورک زما اکسير هسې په خاورو د صحرا دے

زړهٔ کښې که د نوې دنیا وي نو ر اوباسه
چاؤد د فیرنګیانو زړهٔ له دې زړې دنیا دے

(۳۷)

کم خلک پوهېږي په یارۍ دلنوازۍ
غرق شه ځان کښې وساته آبرو د عشق بازۍ

مرم له دې چې ته سره د دومره نمایشه
پټې ساتې ما نه طریقې د عشق بازۍ

څوک په دې نازکه نکته رسي بې ایازه
مینه د محمود زیاتوي درد د ایازۍ

زهٔ به هغه علم و فراست په هيڅ وانه خلم
کوم چې ناولده کړي ځلمي له تېغ بازۍ

واخلئ د رازي په عقل زور د حیدر واخلئ
دا ګوهر ارزان دے په هر نرخ چې يې ارزی*

ته که لرې يو موټے وزر يو خاشکے وينه
راشه چې در وښيمه لار د شهبازی

ته لا دا ګنې د خولې خبرې خبر نه يې؟
نوري په سينو کښې زېږوي نے نوازی

(۳۸)

دا علم چې ته غواړې مشتاق د کتو نه دے
لار کښې سترے پروت دے بې همته د تلو نه دے

دا آدم چې نقش د جهان يې له زړهٔ ووزي
خوند د اسويلو لري او بې اسويلو نه دے

هر څو که سپوږمۍ مينې له سره آواره کړه
داغ يې په سينه کښې ځائېدلے د سوو نه دے

ما د دهٔ له مخه چرې پورته نظر نه کړو
ده ته د خدای ورکړے لا توفيق د کتو نه دے

ښه قبا اغوستې اقبال کار د جهان وکړو
کار د درويشانو څهٔ موقوف له خلګو نه دے

* اخلي، خريدن

(۳۹)

د سحر په شانې سترګې د کتو پیدا کېدے شي
په دې خاورو کښې ځایونه د جلوو پیدا کېدے شي

خپل نظر داسې تېره کړه لکه څوکه وي د ستنې
د ګوهر په زړهٔ کښې لاره د ورتلو پیدا کېدے شي

نه یې دا جهان حجاب دے نه هغه جهان نقاب دے
که طاقت لرې نو سترګې د کتو پیدا کېدے شي

"ته د ونې په یخ سوري کښې د ځالې تمنا کړې"
که را والوتې ښکارونه د سپوږمو پیدا کېدے شي

(۴۰)

خپلو پیالو کښې دي شریک کړو بېګانه په مخه
د بل په نور دے وځلوله پیمانه په مخه

وڅکه څو جامه د مشرق د زوړ ساقي له لاسه
چې دي له خاورې نغمې خیزي مستانه په مخه

زړهٔ چې د شوي تمنا په تاب و تب خبر شي
له لمبو ځان ولې په شان د پروانه په مخه

جوړ د ژوندون ساز و سامان کړه د سحر په اوښکو
پټې به شاړ شي که ور نه راغله دانه په مخه

جام دي را وګرځوه پرېږده هنګامې د فيرنګ
زر قافلې لاړې په دغه ويرانه په مخه

(۴۱)

مينه تلاش کښې وه آدم يې و موند
جلوې يې دې خاورو کښې ځاے لري

لمر او سپوږمۍ او ستارې به ورکړم
په موټي خاوره چې زړګے لري

(۴۲)

بيا مشرقيانو په دنيا نوي نقشونه جوړ کړو
د بتخانې په طرف مه ځه، چې بتان ټوټې شو

ښنګه جلوه ده دا چې زړونه يې د ليدو په خاطر
لکه بڅري خړو خاورو کښې را وځليدو

چرته دي هغه تورانيان چې يې دنيا لړزوله
د خپلو زړونو د سينو په تاؤ کښې خپله اوسو

ته هم په خپله خودۍ پوه شه چې ملګري د لار
د خپله ځانه سره غونډ شو له هر چا وشليدو

دنیا یو لویه قید خانه ده د مړزړو په خیال
یو دوه پیالې یې مستي نوش کړې له جهانه خلاص شو

زهٔ خو غلام یم د هغې بیدار همته سورو
چې په نېزو یې د اسمان ستوري اوچت واخستو

اوس فرشتې سجدو ته هغه شان اوزګارې نه دي
دغه نوریان په تماشو کښې د خاکیانو مست شو

(۴۳)

په عشق نازېږه مه چې شته یې د نیشت غم نه لري
بندي په قید کښې د حاضر او د موجود نه دے

مینه که ووایي له سره تېر شه- تېر شه ترې نه
چې عشق محبوب دے او مقصود دے سر مقصود نه دے

د سومنات په ماتولو کافري پخیږي
د بتخانو مجلس سوړ شوے په محمود نه دے

دا میخانه او جماعت او کلیسا او کنشت
سل تماشې مي زړهٔ ته جوړې کړې خوشنود نه دے

د کهسارونو د چینو نه مي نغمې واخستې
یو اسویلے هم په چمن کښې غم آلود نه دے

ما ته راځې؟ سوے زړهٔ راوړه او ساړه اسویلي
اثر په تا کښې دے، نغمو کښې د داؤد نه دے

عیبونه مه لټوه ځان زما په جام وګوره
مینه پرې نه کړي هغه زړهٔ چې غم آلود نه دے

(۴۴)

بېتابه زړهٔ به مي ساقي په څو پیالو قرار کړي
دے کیمیاګر دے او اکسیر به په سیماب ووهي

زهٔ نه پوهېږم چې سینه کښې مي دا نور که نار دے
دومره پوهېږم چې رڼا به يې مهتاب ووهي

په زړهٔ مي غلې نغمې ورو- ورو چپاوونه کوي
ساز به له ذوقه ځان په خپله په مضراب ووهي

بې فکره اوسه، د اسمان دې بې اوبو صحرا کښې
داسې چینې دي چې شبخون به په سېلاب ووهي

چې نوش مي خورې نو له نشتره مي هم مه وېرېږه
نشتر په کار دے چې آدم ته رګ د خواب ووهي

(۴۵)

خاورې به نورونو نه افزون* شي یوه ورځ
دا مځکه به پورته له ګردون شي یوه ورځ

---

* زیات

خیال زمورږ چې لوے مو کړو په مستو طوفانونو
پورې به له دې بحر نیلګون شي یوه ورځ

ما مه پوښته خپله د آدم په معنا پوه شه
دا نیمګړے تکے به موزون شي یوه ورځ

داسې به موزون شي دا پامال غوندې مضمون
زړهٔ به د یزدان ورځنې خون شي یوه ورځ

(۴۶)

دومره په خبر یم چې د عشق منکر کافر دے
نور څهٔ خبر نه یمه د دین په مسلو

دغه د حرم مسافرانو ته دعا کړم
خدای دې توفیق ورکړي د آدم د پېژندو

زهٔ لا د ملګرو په تپوس یم خلګ وایي
مخکښې مل د لارې ګوره بیا لاره د تلو

داسې د مغرب حکیم د خوند بدل پوره کړو
زیاته یې کړه د میو رڼایي په جام د سرو

زر ځله تیارې د بې عقلیو ترې نه ښې دې
ځیني دانایي نه وي د زړونو د منو

ګرچه د خرد په پېچ و تاب کښې مزه شته دي
سپین د ساده زړونو یقین ښهٔ دے له نکتو

پاکه مې د زړهٔ تختۍ صفا له فلسفې کړه
زړهٔ مې په نشتر د تحقیقونو وسپړدو

زهٔ د استانې نه د باچا را کناره شوم
خدای مې بې توفیقه خدای ته مه کړه په سجدو

(۴۷)

ځان ته له هر چا کښېنه، صحبت د اشنا غواړه
خدای نه خودي غواړه، د خودۍ نه خدا غواړه

یو جلوه لره کرشمه کار نهٔ شي کولے
عقل ته جدا زړهٔ او نظر ته جدا غواړه

مینه خو ښیښې د کایناتو تشول دي
جام د جم ته لاس مه نیسه، لاس د وفا غواړه

لار له ازغو ډکه ده او تلونکې پښې- پښې ابلې
ځان ته رسېدل غواړې جامه د رضا غواړه

فقر چې کمال ته ورسیږي باچهي شي
تخت که د کے غواړې د پښو لاندې بوریا غواړه

مخکښې- مخکښې ګوره چې ژوندون تر کومي رسي
څۀ چې وو او تېر شو ټول پرېږده انتها غواړه

کله چې د وخت ګزار غمژني نغمې در کړې
ورو زما د مېو جام کېده او موميا غواړه

(۴۸)

هر څۀ ته ګورې ځان ته نه ګورې
خومره ساده یې غافل* نشينه!

نور يې، قديم يې، شپې د رڼا کړې
لاس د کليم يې پټ په استينه!

ځان را بهر کړه له دې جهانه
ته زيات له دې يې زيات له هر شي نه

مرګ نه وېرېږې؟ زنده جاوېده!
مرګ بنکار کيږي ستا له يقينه

صورت ګري دي د ما نه زده کړه
بيا که جوړې ځان کار آفرينه

* بې غمه

(۴۹)

نه وربږم زه، د حادثاتو نه د شپو
شپې چې سحر کيږي په ګردش د ستارو

ځان نه ناخبره ونبته د ځان په دام کښې
مينه چې يې ځان څرګندولو په هاهو

آه چې له زړهٔ خيزي د ځيګر د سوو دپاره
مات يې کړو سينه کښې پرې يې نه دے تر وتو

نشته ميکده کښې د فطرت له جامه غواړه
مے چې نه ځايېږي د دې ډلو په ښيښو

هغه زړهٔ چې وشلېدو له دوسته آرام نه کړي
نه د تا په دم نه په دانش د مدرسو

(۵۰)

ته څوک يې راغلې له کوم ځايه چې شين رنګي اسمان
د تا کتو ته خواره کړي سترګي- سترګي ستوري

زهٔ درته او ويم چې څهٔ وې څهٔ دي وکړو څهٔ شوې
چې د محمود په ايازۍ مي له زړهٔ وينې اوري

هغه به څنګه مصلې له کهکشان جوړه کړي
چې د صوفي او د شاعر په خوله په بادو سور وي

فیرنګي ستا د فکر څو غوټۍ خو پرانستلې
اوس دے د بل رنګي نشې په سرو جامونو ګوري

ټول د میزان او د نامې اوږدې خبرې کوې
او حیرانتیا دا ده راغلے قیامت نه ګوري

ښه هغه کس دے چې سینه کښې یې حرم ولیدو
ځان سره سوځي نه څۀ وایي او نه ځي، نه ښوري

په دې مکتب او میخانه اعتبار نه شم کولے
زۀ سجدې نه کوم په هغه استانه چې نور یې

(۵۱)

هغه پاکه مځکه چې د درد سره اشنا ده
هره یو ذره لري د زړونو جلوې هلته

نه غواړي څوک هلته جام د میو له مغانو
خپله په نظر ماتوي ډکې ښیښې هلته

ضبط لیونتوب کړه سر دے ټیټ کړه له ادبه
هوش کښې اوسه مه دې وړه شلېدلے خلکې هلته

(۵۲)

زاړه شراب او یا پیے مخے جانان هیڅ شے نه دے
سترګو لرونکو ته دا حور و جنان هیڅ شے نه دے

دا چې محکم او پاینده ښکاري دا ټول به ورک شي
غر او صحرا او بحر و بر و کران هیڅ شے نه دے

د مغربیانو عقل یا دا د مشرق فلسفه
ټول د بتانو عبادت دے بتان هیڅ شے نه دے

ځان نه وېرېږه له صحرا په ویره مه تېرېږه
ته یې او نور دا باقي- باقي جهان هیڅ شے نه دے

په دغه لار کښې چې په سرو ښو مي او کنسته
رودونه شګې او منزل او کاروان هیڅ شے نه دے

(۵۳)

دا قلندران چې په خپل ځان یې قبضه وکړه
اخلي له شاهانو قلنګ اوسي خرقه پوش

ناست دي په محفل کښې مهر و مه په کمند ګیر کړي
کښېني په خلوت کښې جهانونه در آغوش

پټ دي په رېشمو په کېمخابو په مجلس کښې
جنګ کښې شنه زمري وي خود آګاه تن فراموش

نوے نظام وبخښي دې دوه انګه اسمان ته
سترې ستارو ته جنازې کښېږدي پر دوش

لرې زمانې کړو د صبا د مخ نقاب
مست دي میخواران لا د زړې پیالې په جوش

خولې ته مې یو څو خبرې راغلې ویلې نه شم
څومره عجیبه ده چې ملا ناست دے خاموش

(۵۴)

دو دسته تېغ یم او آسمان څرګند کړم
تېز یې کړم سخت یې کړم، را ویې ایستم

زهٔ هغه خیال یم د خالق د فطرت
د ګل جهان یې وران کړو زهٔ یې جوړ کړم

هغه شراب دي چې یې جام ویلي کړو
دا چې پیالې ترې نه د تا ډکوم

ما دا آواز په ګرمۍ وپېژنی
چې د سینې دننه ساه سوز وم

زړې کشتۍ د ادراک ماتې شولې
بچ دے هغه چې زهٔ یې پورې باسم

(۵۵)

زۀ ذرېِ لکه بڅري سوځومه
سوځمه، ځلوم، الوزمه

له خپل لاسه د الماس سختېِ ټکرېِ زه
لکه پرخه څڅوم ويلي کومه

د نمود له ځايه داسېِ نغمېِ وايم
چېِ په نيمه شپه سحر را ويښومه

ورک يوسف مي له نقابه را ښکاره کړو
دېِ بېِ وزرو ته اخسته ور ښيمه

ميني مړو خاورو ته ورکړے لوندېِ سترګېِ
اوس بۀ زۀ د کتو مينه ورکومه

(۵٦)

په دنيا کښېِ ورکېدل دي د خودئ نارسايي
د خپل غم سره اشنا شه پرېږده نوره اشنايي

څو به ستا تندے سولېږي د شاهانو په دربار کښېِ
د خپل رب له شانه زده کړه بېِ نيازي کبريايي

د ځوانمردو ځوانه مينه يو ورځ داسېِ ځاے ته رسي
چېِ يېِ پرېوځي له نظره دلبري دلربايي

ما په هغه آستانه کښې داسې سوې نغمې ووې
چې محرمو ته خوږه شوه له وصاله جدايي

زهٔ له دغه غمه سوځم پېژندونکې سترګې نشته
سړوي بازار د میني د رندو بې پروايي

راشه مست قدم را واخله چې بیاکه پیالې نوش کړو
د رندانو په مذهب کښې روا نه ده پارسايي

ځهٔ له دې مسلمانانو چرته لاړ شه مسلمان شه
دوے په خپله خوښه کړي د کافرو خدايي

(۵۷)

زهٔ لکه لاله سوځم د تا په خیابان
اې عجمي ځوانه! ستا په ځان زما په ځان

فکر مي د ژوند په زړهٔ کښې ډوب شو را بهر شو
تا ته مي را وئیستو یو څو فکره پنهان

پورته مي نظر له مشتري او مهره لاړو
بل حرم مي جوړ کړلو په دې کافرستان

ځان ته مي را غونډه کړه چې تېزهٔ او تېره شي
سره لمبه خوره وره ده ستا پر بیابان

ور به يې کړي تش لاس د مشرق ته زما فکر
لعل مې را اخستې دے د تا د بدخشان

دا دے را روان دے ځنځيرونه به مو و شلوي
نوے ځلمے وينم له روزنه د زندان

اې له خاورو جوړو چار چاپېره رانه غونډ شئ
اور مې په سينه کښې دے د تاسو له نيران*

(۵۸)

زما له سوو اسويلو نوے سپرلے اباد شو
زما په اوښکو د وښو نه ياسمين ټوکيږي

زما په وينو د لاله د زړګي داغ تازهٔ دے
لکه په مستو سرو شرابو چې پيالې ځليږي

دومره اوچت پروازم لرم چې د اسمان په خوا کښې
نوريان اکثر غلي زما په تماشه اودريږي

آدم ترې ښهٔ دے هر ځل نوې تماشه جوړوي
ستوري سپوږمۍ خو همېشه هغه کوي چې کيږي

خپله ډيوه مې ځکه بله کړه چې لاس د کليم
نن صبا پټ دے په لستوني کښې ونه ځليږي

---

* اور

په سجده پرېوزه، د شاهانو نه مدد مه غواړه
د فقیرانو دستور دغه دے په دغه کېږي

(۵۹)

دا کسان پرېږده چې يې خپله څۀ ليدلي نه وي
اوړدې- اوږدې خبري کار د نظر نه ورکوي

خبري اورم د شاعر او د فقير او کليم
ونې به دنګې لوړي څۀ کړم ثمر نه ورکوي

د بتخانې رڼا چې پير پرې دومره ډېر نازيږي
زرګونه شے پيدا کوي يو سحر نه ورکوي

له خپله خدايه ګيله من يم خو ويلے نه شم
زړۀ خو اوچت له سينې وړي او دلبر نه ورکوي

په بتخانه، حرم کښې يو داسې ساقي نه مومم
چې ورکوي لمبې- لمبې يو شرر نه ورکوي

(۶۰)

ډېره موده پس مي د ساروان آواز په غوږ شو
بيا جوړي په دغه شاړه لاره کاروان راغلو

مال د سل کاروانو به په مینه اولجه ورکړم
بېرته که یوسف مي د فرعون له زندان راغلو

(٦١)

چرې د شاهین زړهٔ په ښکار کړي مرغۍ سوځي
ته لا فیرنګیانو نه د خیر طمع لرې

لعل که دے د پلار میراث کښې ومومې نو څهٔ پر
چرته هغه لطف چې د کاڼي زړهٔ چوې

ما ته د جهان د شته او نشت خبرې څهٔ کړې
زهٔ یمه، په بل څهٔ مي کار نشته چې څهٔ یې؟

هره ښیښه رپي محتسب نه میخانه کښې
بې مینا د میني که پرې کاڼي ماتوې

ته وایې پړده خودي، وي به خو دا وایم
تاب د سترګو نشته دا پړده ونه شلوې

وچه شوه دا خاڅکه خو د دې پر سیوري لوے یې
دا بې غیرتي ده چې ترې ځاله نړوې

څهٔ ځیر د غزلو چې زوړ ساز زړهٔ نغمه وي
نوے غزل وایه که جهان پرې بدلوې

(٦٢)

مات کړه د مغرب جادو او تېر شه له مشرقه
یو اوربشه نه لري دا زوړ نوې بها

داسې لکه پخه چې د باد مخې ته کښېږدې
لاړو سکندر ؤ کیقباد ؤ که دارا

ژوند په طریقه مجلس اباد ساقي ځان ځانته
ته په قافله کښې مل او بیل شه له هر چا

نه د لمر، سپوږمۍ نه زیات رڼا یې زیات منیر یې
هرې یو ذرې پورې د اور سوې رڼا

هغه قیمتي غمے چې تا شیطان ته ورکړو
څوک به یې جبریل ته هم ور نه کړي په رضا

واخله پیاله و یې څکه په چل او بیرته لاړ شه
موږه میکده په کم نویشو کړه رسوا

(٦٣)

خنکه دا ښکاره جهان د رنګ و د بوے راز دے؟
پورته کړه نغمې چې ته مضراب یې او دا ساز دے

مست نظر په سپینو پلوشو باندې ښوییږي
ته وایې حجاب دے او نقاب دے او مجاز دے

راشه او دا شنې درنې پردې له مینځه لرې کړه
پاکې شعلې وینې چې نظر د چا پاکباز دے

ما ته دا خاکدان زما له هر جنته ښۀ دے
ځاے د ذوق و شوق دے او حریم د سوز و ساز دے

کله هغه ورک شي کله زۀ له ځانه ورک شم
کله دواړه وینم دا څۀ راز دے دا څۀ راز دے؟

(٦۴)

اې د خیابان لالا! زۀ هم د تا په شان یمه
زړۀ مي د غمونو نه چمن- چمن داغدار دے

دا سوي آهونه د خلوت صحرا کښې ښۀ دي
څۀ وکړمه زه؟ د انجمن سره مي کار دے

(٦۵)

چې په اشناؤ سترګو زړۀ د لاله وینم
ټول ذوق و شوق وینم آه و ناله وینم

کښته او پورته هر خوا د ژوند ګرمي ښکاري
پر غر پر سمه پر خوړ دا غزاله وینم

نه ژوند د ما سره دے او نه له ما دے ژوندون
هر ځاے ژوندون ښکاریږي چې له کوم خوا دے ژوندون

(٦٦)

دغه جهان او هغه جهان
دا بېکران او آ* بېکران

دواړه یو خیال او دواړه ګمان
زهٔ یې لمبه یم دواړه د ځان

دا یو څو آنه هغه څو آنه
زهٔ جاودان یم زهٔ جاودان

دغه کوتهٔ دے، هغه کوته دے
یو زهٔ کره یم نقد روان

دلته کښېږي کښېنم، هلته کښېنم
بس یو لحظه او بس یو زمان

دلته کښېږي څهٔ کړم او هلته څهٔ کړم
آه و فغان او آه و فغان

دا مي رهزن دے هغه رهزن دے
دلته مي زیان دے هلته مي زیان

---

* هغه

دواړه به جوړ کړم دواړه به سېزم
دا آشیان او هغه آشیان

(٦٧)

سپرلےِ راغلئ سترګې لامبي بیا په اور کښې د لاله
بیا له زړونو پورته کیږي اسویلي آه و ناله

د هغې میو څو څاڅکي د چمن خاوره کښې توے کړه
چې خزان ته بې پروا شي دا نرګس او دا لاله

دا د رنګ و بوے دنیا ده ولې زړۀ پېژني څۀ دے؟
یو سپوږمۍ چې له آفاقو غونډوي ځان ته حاله

(٦٨)

دې صورت ګر چې ورځ او شپه جوړه کړه
ځان تر اخپلې تماشې رسوي

صوفي! یو څو قدمه دې خوا راشه
قدرت شېلو ته سامان خوروي

سحر او ستوري او شفق او سپوږمۍ
څومره جلوې په یو نظر خرڅوي

(٦٩)

بیا دا زوړ شوے عالم ځوان پکار دے
هر یو وانبه کوه ګران پکار دے

دے موټي خاورو کښې نظر پیدا شو
د زړهٔ دننه یې فغان پکار دے

دې زاړه لمر او سپوږمۍ هیڅ ونه کړو
د نوو ستورو بل جهان پکار دے

هر یو نګار چې مي تر سترګو راځي
ښه دے خوښه تر څو چندان پکار دے

خدای وایي داسې دے نور هیڅ مه وایه
ته وایې داسې دے، دا شان پکار دے

(٧٠)

نرګس په مستو سترګو ډوب په تماشه نهٔ لا
د لاله زړهٔ کښې دلته داغ د تمنا نهٔ لا

خاورو کښې ساه وه تله را تله چرته زړهٔ نه ښکارېدو
د ژوند کاروان اخته په سود ؤ په سودا نهٔ لا

د میکشانو د هاهو نه میخانه خالي وه
د میو ډکې پیالې وې باده پیمانه ؤ لا

د سینا سپینو پلوشو پټې ګیلې کولې
څوک د ایمن په خوړ کښې پروت په تقاضا نه ؤ لا

مینې د مونږ له فریادونو هنګامې جوړې کړې
هیڅوک په دې غلي مجلس کښې د غوغا نه ؤ لا

(۷۱)

چا په دیر کښې پورته هنګامې کړې او غوغا
واړه زناریان لکه شپېلۍ دي په ژړا

کور وي د شاهانو که جونګړه د فقیر وي
هر ځاے داسې غم دے چې کړي ځوانه ملا دوتا[1]

چرته دے علاج چې په علاج مرض زیاتیږي
عقل ټول حیله ده او جادو دے او سیمیا۲

بې له طوفانونو د آدم کشتۍ تلے نهٔ شي
هر یو زړهٔ هزار ګیلې لري له نا خدا

ما نه خو د ژوند د سفر هیڅ پوښتنه مه کړه
درد سره عادت شومه او ځم غزل سرا

ځان مې د سحر د هواګانو سره مل کړو
خوند مې د ګل واخستو او تېر شوم په هوا

---

[1] دوه برخه. ۲ مداري توب.

دا دنیا مې وکته په سترګو د سپوږمۍ
خور ګلو کوڅو کښې له ګلو کوڅو جدا

(۷۲)

اې لاله د کوهستانه! اې ډیوې د باغ وراغ
ما ته وګوره چې درکړم درته زۀ د ژوند سراغ[۱]

نه شوخ رنګ یم او نه بوے یم چې به الوزم بې ځایه
زۀ هغه یم چې ځایږي هم په زړۀ هم په دماغ

دا مستي وي د شرابو په پیاله کښې مستي نه وي
دومره ده چې شرابونه ځکلے نۀ شي بې اياغ[۲]

زړۀ روشن په سوي داغ کړه د وجود په توره شپه کښې
د خپل ځان پېژوند ګران وي که بل نه وي دا څراغ

شعلې! ونیسه سینه دي د صبا د باد څپو ته
یخه پرخه دے مړه نکړي سره لمبه د زړۀ د داغ

(۷۳)

زۀ آزاد بنده یمه، عشق زما امام دے
عشق زما امام دے، عقل مې غلام دے

---

(۱) پته.
(۲) پیاله

جام زما گردش کښې دے، گرم مجلسونه دي
ستورے د مابنام زما، دا ماه تمام دے

ځان په نشت کښې ورک پروت ؤ، بې له تمنا و غم
مستې نغمې ما ورکړې، گیر زما په دام دے

اې د رنگ و بوے دنیا، دغه ملگرتیا تر څو
مرگ د تا دوام وینم، عشق زما دوام دے

ښکاري مې ضمیر کښې دے، پټ مې په ضمیر کښې دے
و مومه مقام زما، دا د دهٔ مقام دے

(۷۳)

بې خولې غوټۍ چې په پردو کښې یې د زړهٔ راز ؤ
په انجمن کښې د گلونو څو ملگري کتل

د سپرلي باد یې ځان ته خوښ کړو، د چمن بلبلې
تکیه یې وکړه په هغو باندې چې څوک الوتل

(۷۵)

ځان ته سجدې کومه، دیر او حرم پاتې نه شو
یو په عرب او دغه بل، په عجم پاتې نه شو

وچ شو لاله والوتو، رنګ او نم يې پاتې نه شو
غلې نغمې شوې د مرغو زېر و بم پاتې نه شو

زړۀ دنیا کښې يو هم نوے نقش نه وینمه
هیڅ نوے نقش جوړې پټ په عدم پاتې نه شو

ستوري اسمان کښې ګرځي يو انقلاب نه راولي
طاقت د ورځو شپو په پښو کښې د رم[1] پاتې نه شو

لاس په پښه کښیناستلو سترے بې همته خفه
جوړ په سینو کښې د دوے ختم شو دم پاتې نه شو

یا د امکان کتاب کښې پاڼه تشه پاتې نه شوه
یا د قضا قلم کښې تاب د رقم پاتې نه شو

(۱) منډه.

# گلشن راز جدید

د تا په زړهٔ کښې مي تازهٔ نوے جهان را جوړ کړو
د تا د سترګو په ککو کښې مي نظر پیدا کړو

مشرق ویده ؤ چې ما پټ له شب بیدارو ستورو
په سرودونو د ژوندون نوے سحر پیدا کړو

# تمهید

د مشرق بدن نه ساه لاړه
له روحه سوز لاړو نو دا لاړه
لکه تصویر یې بې د ساه نه ژوند دے
پوهیږي نه چې ژوند کښې څومره خوند دے
زړهٔ یې د هرې مدعا نه پرې دے
ساز یې د سوز او د نوا نه پرې دے
اوس به په بل رنګې مقصود ووایم
دا به څواب کښې د محمود ووایم
د هغه شېخ د زمانې نه تر دې
هیچا زمورِ زړهٔ ته ور نه کړې لمبې
کفن په غاړه پراته خاورو کښې یو
په یو فتنه د محشر پورته نه شو
تیر وو په مخکښې د دې پیرِ تبریز
قیامتونه د فتنو د چنګیز
نظر مې نوے انقلاب ولیدو
ما راختونکے بل آفتاب ولیدو
د دې معنا نه مې نقاب لر کړو
او د ذرې لاس کښې مې لمر ورکړو
نه چې زهٔ مست بې پیمانې یمه
فقط شعرونه افسانې یمه

په هغه کس کښې به هیڅ خیر نه وي
څوک چې په ما تهمت د شعر تړي
د دلبرانو په لار کار نه لرم
په سوي زړهٔ کښې غم د یار نه لرم
تن مي په لاره کښې غبار نه دے
زړهٔ مي د بل په اختیار نه دے
رقیب قاصد او دربان نه پېژنم
د جبرئیل له خوا خبرې کوم
دې فقیرۍ کښې د کلیم سامان دے
زما خلکه کښې د شاهانو شان دے
که خاوره یم پر صحرا نه ځایېږم
که یم اوبهٔ پر دریا نه ځایېږم
د کاڼي زړهٔ مي د ښیښې نه رېږي
زما موجونه ساحل نه خوښوي
پټ تقدیرونه په پردو کښې لرم
زهٔ قیامتونه په ځولو کښې لرم
ځان مي د ځان سره یو ځل تنها کړو
نوے جهان مي ابدي پیدا کړو
"ما ته له دې شاعري عار نه راځي
چې په عمرونو یو عطار نه راځي"
زړهٔ مي په جنګ د مرګ د ژوند اخته دے
د ابدي ژوند په پیوند اخته دے

تن مي ستا روح نه بېګانه ولیدو
نفس مي خپل رو غوندي در اوپوکلو
زړهٔ مي له خپله اوره داغ په داغ دے
دا داغ د تا د تورو شپو څراغ دے

زما په خاورو یې زړهٔ وکرلو
پر دې تختۍ یې بل خط ولیکلو
د خودۍ مینه او خواږه یې راکړو
زهٔ درته څهٔ وایم چې څهٔ یې راکړو
اول مي خپله دا خوند وڅښلو
بیا مي په ټول مشرق کښې و وېشلو
که دا نامه مي جبرئیل ولولي
نور به د ځان نه لکه ګرد و څنډي
له خپله ځایه له منزل به ژاړي
او د الله نه به څهٔ بل څهٔ غواړي
"داسې څرګنده ستا جلوه نه غواړم
نه غواړم نوره تماشه نه غواړم
دا همېشه وصال دي ببرته واخله
ما ته د سوي اسویلو خوند راکړه
ناز و نیاز د بنیادم غواړمه
سوز و ګداز د بنیادم غواړمه

## (۱) سوال

اول په دې حیران یم فکر څۀ دے؟
تفکر څنګه وي او دا له څۀ دے؟
کله صحي کله خطا دے ولې؟
کله طاعت کله ګناه دے ولې؟

## ځواب

په دې سینه کښې د آدم څۀ نور دے؟
څۀ نور دے دا چې غیب د دې حضور دے؟
کله یې ولاړ کله روان وینمه
کله یې نور کله نیران وینمه
کله اور اخلي له دلیله ځنې
کله نور اخلي له جبریله ځنې
د روح رڼا دي د سینو رڼا دي
زیات د آفتاب له پلوشو صفا دي
خاورو کښې پروت دے له مکانه پاک دے
په ورځو شپو کښې له زمانه پاک دے
ژوند یې د ساه په شمیر شمیرلے نۀ شي
داسې موندونکے بل موندلے نۀ شي
کله وي سترے او ساحل ته پروت وي
کله دریاب د دۀ په جام ځایېږي
هم دے دریاب هم د موسیٰ لرګے دے
چې د دریاب زړۀ ترې نه دوه ټوټې دے

له هوسۍ پاس په اسمان کښې ځړي
د کهکشان په چنو ځان مړوي
پر مځکه کله پر اسمان روان وي
تنها په منځ کښې د کاروان روان وي
دغه تياره او نور د دهٔ احوال دے
مرګ و جنت و حور د دهٔ احوال دي
ابليس له ده آدم له ده څرګند شو
د دې جهان دا غم له ده څرګند شو
د دهٔ جلوې دي چې نظر تبنوي
د دهٔ جلوې د دهٔ مولا هم غلوي
په يوه سترګه خپل خلوت ته ګوري
په بله سترګه خپل جلوت ته ګوري
که يوه سترګه پټه کړي ګناه ده
که غړوي دواړه نو لار صفا ده
خپلې چينې نه دريابونه جوړ کړي
خپله ګوهر شي او په تل کښې کښېني
هغه لحظه دے خپل صورت بدل کړي
خپله غواص شي او ځان بيا را واخلي
سل هنګامې لري او بې خروشه
رنا او آواز يې بې له چشم و ګو شه
د دهٔ ښيښه کښې زمانې پرتې دي
چې مونږ ته ورو ورو په وار ښکارېږي

ژوندون له ده نه خپل کمند واچوي
کوزۀ او بره آ خوا دېخوا ښکاریږي
خپله په خپل کمند کښې ځان راولي
د ما سیوا مرۍ کښې ساه بنده کړي
دواړه عالمه یو ورځ ښکار شي د ده
بند د ول ول کمند په تار شي د ده
دواړه عالمه که یو ځل راګیر کړې
آفاق به ټول و مري او ته به نه مرې
په دې میدان کښې سست قدم مه کښېږده
اول جهان د ځان دننه ګیر کړه
کمزورے ځان اوچت په ځان نیوو کړه
که مولا غواړې ځان ته ځان نزدو کړې
خپل تسخیر وکړه چې قبضه دي ځان شي
ستا په قبضه کښې به دا ټول جهان شي
یو ورځ به وي چې دا جهان را ګیر کړې
د آسمانونو سینې پړق وشلوې
سپوږمۍ دي پښو ته په سجدو را پرېوزي
ستا د موجونو په کمند کښې کښېوزي
دې بتخانه کښې پابندي نه منې
ځان له په خوښۀ خپل جهان جوړوې
په یو تلي کښې ټول جهان را اخستل
د نور و صوت و رنګ و بو نه وتل

کم زیاتول او زیات یې زیات کمول
هر څۀ د خپل زړګي په تله تلل
غم او خوشی پورې یې زړۀ نه تړل
د آسمانونو ساحري ماتول
په زړۀ په شان د یو غشي ورتلل
په دې اوربشو غنم نه بدلول
باچهي دا ده باچهي هم دا ده
دا دنیا دین دے او دا دین دنیا ده

## (۲) سوال

علم د کوم یو سمندر ساحل دے؟
د دې له تله کوم ګوهر حاصل دے؟

## ځواب

ژوند یو درياب دے شنې څپې دي د دې
علم او پوهه کنارې دي د دې
مستې څپې او شنه موجونه لري
په کنارو صحرا او غرونه لري
خومره بې تابه وې څپې د دې
په توپ یې پرېښوې کنارې د دې
لاړې اوړدې صحرا ته یې نم ورکړو
نظر ته یې خوند و کیف و کم ورکړو
څۀ چې یې مخې ته راځي صفا شي
ددې شعور له فیضه سپین رڼا شي

په خلوت مست دے صحبت نه خوښوي
ولې هر ځیز و ته خپل نور ورکوي
اول یې په خپل نور منیر کړي
بیا یې ورو ورو په خپل آئین اسیر کړي
شعور نزدې کړلو ترې دې جهانه
جهان خبر کړلو له خپله ځانه
خرد له مخه یې نقاب پورته کړو
او بیا خبرو تر حجاب پورته کړو
د دې بدلو دینا کښې نه ځائیږي
دنیا د دهٔ یو مرحله ښکاریږي
بهر له خپل ځانه جهانویني
غر او ځنګل او بحر وکان ویني
دغه دنیا یو ګلدسته ده زموږ
دغه آزاده وابسته ده زموږ

خودی په یو تار دنګه تړلي
مځکه، اسمان او مهر و مه تړلي
زموږه زړهٔ ورته پټ پټ په یون دے
چې هر موجود مو د نظر ممنون دے
که څوک یې ونه ویني حال یې زار شي
که څوک یې اونه ویني چپي کهسار شي
جهان زموږه په کتو غټیږي
بوټے زموږه په لیدو لویږي

دا د ناظر منظور قيصې پټې دي
هره ذره التجا هسې کوي

# ق

زما شاهده! ما مشهود کړه ته
په يو کتنه مي موجود کړه ته
د ذات کمال د شي موجود کېدل دي
او يو شاهد لره مشهود کېدل دي
عقل حضور نه بې خبره ساتي
د خپل شعور نه بې خبره ساتې
په جهان بې له ما رڼا نشته دے
جلوه د نور او د صدا نشته دے
ته هم د دۀ نه ملګرتيا وغواړه
سترګې د دۀ په پېچ و خم ونغاړه
او يقين وکړه چې شيران ښکاري
غواړي دې لار کښې دميرو نه ياري
په دې ياریٔ له ځانه ځان خبر کړه
اې جبرئيله! پيدا بال و پر کړه
ډېر ته د عقل په نظر وګوره
په تماشه د "احد" ځان خبر کړه

او خپل نصيب له پيرهنه واخله
بوے په کنعان کښې له يمنه واخله

خودي اکثر ښکار کوي لمر او سپوږمۍ
په خپل تدبير ګېروي لمر او سپوږمۍ
لکه اور ځان په دې جهان ورګډ کړ
شور په مکان او لا مکان ورګډ کړ

## (۳) سوال

دا د ممکن واجب وصال څۀ دے؟
د دې نزدو او لرې حال څۀ دے

## ځواب

درې مخې دا جهان د چون و چند دے
عقل د دې د بېشه و کم کمند دے
دا د اقليدس و طوسي جهان دے
زموږه عقل ته کافي جهان دے
اعتباري زمان مکان دے د دې
اعتباري مځکه اسمان دے د دې
لينده دي را کاږه آماج و مومه
نکته په دې کښې د معراج و مومه
نشته مطلق په دې دير مکافات
صفا مطلق دے يو نور السمٰوٰت
حقيقت لا زوال و لا مکان دے
مه وايه بيا چې عالم بې کران دے
ساحل يې "ننه" دے "بهر" نه دے
ننه کم زيات زير و زبر نه دے

د دې "دننه" نه بالا نه زیر دے
ولې "ماهر" د دې وسعت پذیر دے
خرد ابد سره نا سازګار دے
"یو" دے په سترګو کښې د دهٔ "هزار" دے

دا ګوډ سکون غواړي آرام لټوي
مغز پرېږدي پوټخې عام لټوي
ده حقیقت په سل حصو تقسیم کړو
څهٔ یې په "تلو" په اوربدو تقسیم کړو
په لا مکان کښې یې مکان پیدا کړو
وخت یې تر ملا لکه ترګ وتړلو
په خپل ضمیر کښې یې وخت ونه لیدو
په ورځو، شپو، لمر او سپوږمۍ پسې شو
دا ورځې شپې دي حقیقي مه ګڼه
د "کم لبثتم" په مطلب اورسه
له ګنې خوا ته شه د ځان په خوا شه
خپله په خپل ضمیر دننه راشه
جان و بدن ته دوه ویل کلام دے
جان و بدن جدا لیدل حرام دے
په روح کښې راز د دې جهان سنبال دے
بدن نور څهٔ دے خو د ژوند یو حال دے
معنٰی په شکل د صورت کښې راغله
خپل نمایش ته یې جامه واغوستله

حقیقت خپله شو پردې جوړوي
نه په تکلیف را وتل خوند ورکوي
فیرنګي جان و تن جدا ولیدو
نظر یې بیل دین و دنیا ولیدو
کلیسا خپلې تسبیح بیلې شماري
د حاکمۍ سره څۀ کار نه لري
د حاکمانو کار له مکر و فنه
تن یې بې جانه دے او جان بې تنه
دې د عقل سره همسفر کړه
لږ د ترکانو په ملت نظر کړه
د فیرنګي په خوله له ځانه بیل شو
دین و دنیا یې یو ځاے ونه لیدو

"یو" مو دا رنګې سل ټوټې ولیدو
چې دې شمېرلو ته مو شمېر پیدا کړو
دنیا یو موتېز خاوره ده پرته ده
د یو پاک ذات د سرګذشت ټوټه ده
حکیم له مړو خاورو صورت رغوي
دمِ عیسٰےِ یدِ بیضا نه لري
په دې حکمت کښې مي زړۀ هیڅ نه ویني
ځان ته یو بل نوے حکمت لټوي
زړۀ وایم دا جهان یو انقلاب دے
زړۀ یې ژوندے دے او په پیچ و تاب دے

له دې شمېرلو له شمېرونو تېر شه
ځان نه خبر له جهانونو تېر شه
په دې جهان چې جزو له کل فزون دے
خیال د رازي او د طوسي جنون دے
یو زمانه د ارسطو اشنا شه
یوه لحظه د بیکن هم نوا شه
مګر له دې مقامه مخکښې تېر شه
د دوے له صبح و شامه مخکښې تېر شه
په دې خرد چې بېش و کم پېژني
دننه زړهٔ د کان و یم پېژني
دغه جهان د چون و چند قبضه کړه
ماه و پروین ته دي کمند حلقه کړه
بیا بل حکمت زده کړه د دې د پاخه
د ورځو شپو له مکره ځان وباسه
د تا مقام له زمانې بهر دے
نشے دے د کېنې له بهانې بهر دے

## (۴) سوال

قدیم محدث به په څهٔ شان جدا شو
چې یو عالم شو او دا بل خدا شو؟

که هم معروف هم عارف ذات پاک دے
په څهٔ سودا اخته دا مشت خاک دے؟

# ځواب

دخودۍ ژوند دا دے چې بل پیدا کړي
معروف له ځانه خپل عارف جدا کړي
قدیم، حادث زموږ د شمار جادو دے
زموږه شمار د دې روزګار جادو دے
تل د پرون او صبا شمار کوو موږ
په "دے" او "وو" او "وي به" کار کوو موږ
له هغه لرې تلل فطرت دے زموږ
نه رسېدل او سول فطرت دے زموږ
نه زموږ زړۀ له ده فرار کواے شي
له نه دے بې له مونږ قرار کواے شي
نه مونږ بې ده، نه دے بې مونږ څۀ حال دے؟
فراق زموږ فراق دے هم وصال دے
جدایي خاورو ته نظر ورکوي
وښو ته دروند وجود د غر ورکوي
جدایي میني ته آئینه ورکوي
جدایي ځکه عاشقان خوښوي
که مونږ زنده یو نو د دې په وجه
که پاینده یو نو دې په وجه
نه هغه راز یو د الله د مقام
دوه ګواهان یو مونږ زما د دوام
خلوت جلوت کښې هر ځي نور د ذات دے
د انجمن میانځ ته راتلل حیات دے

محبت بې ګنې جهان نه ویني
بې انجمنه دے خپل ځان نه ویني
زمورِ محفل کښې تجلي وګوره
دنیا ناپیده دے پیدا وګوره

در و دېوار د خوا و شا نشته دے
دلته څوک بې له ده او ما نشته دے
کله خپل ځان له موږه بیل خوښوي
او کله موږه لکه ساز ږغوي
کله یې د کاڼي نه بتان جوړوو
کله په نالیدو سجدې وروو
کله پردې یې د فطرت څیرې کړو
د چا جمال بې باکانه و وینو
دا څۀ سودا دا موږِ خاوره لري
داسې سودا چې ترې نه نور وریږي
داسې سودا چې له فراقه یې ژاړي
بیا هم له دغې امیدونه غواړي
دغه فراق داسې صاحب نظر کړو
چې خپل ماښام یې په خپل ځان سحر کړو
نو دوے ته یې غم د امتحان ورکړو
غم خو یې زوړ ؤ عیش یې ځوان ورکړو
له لوندو سترګو یې ګوهر را ټول کړل
له ترخې وني یې ثمر را ټول کړل

خودي را جوخته کلکه غېږ کښې نیول
فنا بقا په یوه تله تلل
مینه؟ ځولۍ کښې مقامات غونډول
مینه له هري انتها تیرېدل
مینه څۀ مینه د انجام نه لري
د دې سحر چرته ماښام نه لري
لار کښې د عقل پېچ و خم شته دے
نو د فروغ پکښې یو دم شته دے
زر جهانونه چې دې لار کښې راځي
زموږه لارې کله سر ته رسي
اې مسافره! تل ژوندے یه تل مره
دنیا چې مخې ته درځي خپلوه

په دې درياب کښې ډوبېدل مو نشته
که جهان خپل کړو ورکېدل مو نشته
خو دے خودۍ کښې ځايېدلے نۀ شي
خودي له ځانه بېلېدلے نۀ شي

## (۵) سوال

زۀ آخیر څوک یم؟ ما له "ما" خبر کړه
څۀ معنا "خپله خپل ځان کښې سفر کړه"

## ځواب

خودي تعویذ د حفظ کاینات دے
ړومبۍ جلوه د دۀ د ذات حیات دے

ژوند چې له خوږه خوبه رو بیدار شي
د زړهٔ دننه یو وي یو بسیار شي
زموږ په وجه د هغه کشود دے
او د هغه په پاک زموږ نمود دے
زړهٔ یې دریاب دے نا پیدا کنارې
هره قطره یې بې قراره څپې
ساز و برګ و شکیبایي نه لري
بې له افرادو پیدایي نه لري
خودي بخرے دے او اور حیات دے
لکه د ستورو یې سفر ثبات دے
له ځانه نه اوري او واړه ویني
د انجمن مینځ کښې یوازي اوسي
ګوره له ځانه یې تاویدل وګوره
په خاورو ختو رغړیدل وګوره
له سترګو لري ها و هو کوي
څهٔ جستجو د رنګ و بو کوي
د زړهٔ له سوي په جست و خیز اخته دے
له خپله ځانه په ستیز اخته دے

د ژوند نظام په دغه جنګ چلیږي،
له موتي خاورو آئینې جوړیږي
د دې جلوو نه یې خودي وریږي
له دې دریابه یې ګوهر را خیزي

پرده خودۍ ته دا خاکي پیکر دے
په دې پیکر کښې پټ ختونکے لمر دے
زموږ سینه کښې د دې لمر خاور دے
زموږ د خاورو رڼا دا ګوهر دے
ته وایې څوک یم؟ ما له "ما" خبر کړه
څۀ معنا؟ خپله خپل ځان کښې سفر کړه
زۀ وایم ربط د تن و جان څۀ شے دے؟
خپل ځان کښې وګوره چې ځان څۀ شے دے؟
ځان کښې سفر بې پلار ومور زیږېدل
ستوري له بامه د اسمان شو کول
ابد په یو پرېشانۍ خپلول
بې پلوشو له لمره ښۀ ښکارېدل
طمع او ویره لکه نقش وینځل
لکه کلیم د سمندر زړۀ چول
د ملک و بحر و بر جادو ماتول
په یوه ګوته د سپوږمۍ زړۀ چول
له لا مکانه داسې بېرته راتلل
زړۀ کښې هغه او دنیا لاس کښې راوړل
ولې د دغه راز ویل مشکل دے
ویل تېکرے دے ښیښه لیدل دے
زۀ به څۀ و وایم د "زه" د دنیا
په خپله ولوله "انا عرضنا"

مڅکه آسمان د دهٔ له زوره رپي
زمان مکان د دهٔ له شوره رپي
د دهٔ مقام د بنیادم زړګے شو
د موتي خاورو په قسمت کښې دے شو

جدا له نورو وابسطه له نورو
په ځان کښې ورک او پیوسته له نورو
په موتي خاوره کښې د خیال جهان دے
چې بې زمانه دے او بې مکان دے
هم زنداني دے هم آزاد دا څۀ دے؟
خپله هم صید دے هم صیاد دا څۀ دے؟
یوه ډیوه ده په سینه کښې د تا
دا څنګه نور دے آئینه کښې د تا
بې پروا مه شه ته د دې آئینې
څومره کم عقل یې چې ځان نه وینې

## (٦) سوال

چې زیات له کله دے دا څنګه جز دے؟
او دغه جز په کومه لار شي موندے؟

## ځواب

خودي زموږ د اندازې نه تېره
خودي د تا لیدلي کل نه ډېره
پاس له اسمانه را وربږي خیژي
د دنیا بحر کښې ډوبېږي خیژي

بې له دې داسې خود نګر نشته دے
د بې وزرو دومره پر نشته دے
په سل تیارو کښې اوسي نور په غېږ کښې
بې له جنته اوسي حور په غېږ کښې
په خوږو ټکو پاک سترا وينځلي
د ژوند د تل نه جواهر واخلي
د ژوندون زړۀ به همېشه ژوندے وي
تا ته په سترګو زمانې ښکارېږي
د دۀ تقدیر د "شته" او "وُ" مقام دے
د ځان ساتو او د ښیو مقام دے

څۀ غواړې څۀ نه دے او څۀ نه نه دے
د دۀ تقدیر بهر د دۀ نه- نه دے
د "څه" او "څنګه" له جګړې اوزګار دے
باهر مجبور دے اندرون مختار دے
دغه د بدر د سلطان فرمان دے
ایمان دے جبر و قدر تر میان دے
خلګو ته قید د پابندو وایي
بنده د لرې د نزدو وایي
ولې دا روح دم جان آفرین دے
دومره جلوې لري خلوت نشین دے
د دې د جبر بیان شوے نه دے
چې د آزاد بندیوان شوے نه دے

د کم و کیف جهان یې شا ته پرېښو
د مجبورۍ نه مختارۍ ته لاړو
چې له خپل ځانه مجبوري وشنډي
او خپل جهان لکه ناقه وشړي
آسمان بې حکمه د دهٔ نه ګرځېږي
ستوري بې لطفه د دهٔ نه ځلیږي
یو ورځ بېباکه د زړهٔ راز ښرګند کړي
په خپلو سترګو خپل جوهر و ویني
نوریان همه ورته قطار- قطار وي
په انتظار ولاړ د دهٔ په لار وي
له ده توے شوي یو څو څاڅکي واخلي
د دهٔ په خاورو دے خپل مس کیمیا کړي
که لار د دهٔ د کتو غواړې دا ده
لږ تر مقام د ها و هو را کوز شه
دا ورځ او شپه دے په ابد اووله
سوړ اسویلے دي په خرد اووله
خرد پنځه واړه حواس اسره کړي
او اسویلي له سینې اور اخلي

خر د جز وګوري اسویلي کل نیسي
خرد به مري او اسویلي به نه مري
خرد ابد را ځایولے نهٔ شي
د ګړۍ ستنه ده وختونه شمېري

ورځې او شپې او سحرونه جوړې
لمبې ترې پاتې شي بځري تولې
په اسویلو کښې خزانې پرتې وي
په یو لحظه کښې یې زمانې پرتې وي
خودي چې تول خپل ممکنات ځرګند کړي
غوټۍ د زړهٔ په خپل طاقت و سپړي
کوم نور چې ویني هغه ته نه لرې
اني یې شمیرې او فاني یې شمېرې
مرګ که راځي مرګ دي راځي بېباکه
پخه خودي شي له مرګونو پاکه
له دې راتلونکي مرګه نه وېرېږم
دا لا بل مرګ دے چې ترې زړهٔ رپېږم
د عشق د مینې له مستۍ پرېوتل
خپلو بځرو نه اور نه لګول
په خپلو لاسو خپل کفن جوړول
په خپلو سترګو ځان ته مرګ لټول
ستا په تلاش کښې دغه مرګ اخته دے
له دې وېرېږه چې مو مرګ دغه دے
قبر د تا له خپل بد نه جوړ کړي
منکر نکیر د زړهٔ دننه جوړ کړي

## (۷) سوال

مسافر څنګه وي رهرو څهٔ شے دے؟
زړهٔ چا ته و وایم پوره سړے دے؟

# ځواب

که د زړهٔ خوا ته سترګې غړوې
خپله سینه کښې به منزل ووینې
دغه په ناستي کښې سفر کول دي
دغه له خپله ځانه ځان ته تلل دي
هیڅوک خبر نه دے چې مونږ چرته یو
لمر او سپوږمۍ ته په نظر نه راځو
انتها مه غواړه پایان نه لري
چې انتها ته رسي ځان نه لري
موږ پاخه مه ګڼه تر اوسه خام یو
په هر منزل تمام او نا تمام یو
تر انتها نه رسېدل ژوندون دے
نه ختمېدونکے سفر تل ژوندون دے
ګړو له ماهي تر ماهه موږه جولان
د لارې ګرد مو دې زمان و مکان
ځان نه تاویږو ځان ښیل غواړو
موږ د وجود د سمندر څپې یو
هر وخت د خپل ځان په کمین کښې اوسه
له شکه تښته په یقین کښې اوسه
د محبت د تاب فنا نشته دے
او د یقین څهٔ انتها نشته دے

د ژوند کمال د عین ذات لیدل دي
لا د یې له قیده د مکان وتل دي
داسې د حق سره خلوت نشین یې
چې هغه تا ویني او ته دے وینې
من یراني" په رښا- رښا شه
پکښې ورک نه شې سترګې مه زنبوه
محکم تیرېږه د هغه په حضور
دوبېږه مه په سمندر کښې د نور

ذرې ته داسې اضطراب و بخښه
چې یې د لمر حریم کښې و ځلوه
داسې د یار په جلوه ګاه کښې سوځه
چې ځان ښرګند او هغه پټ بلوه
چا چې عالم "ولید" هغه امام دے
زهٔ "ته" نیمګړي یو هغه تمام دے
که هغه نه مومې تلاش یې وکړه
که هغه و مومې لمن یې نیسه
د شیخ، فقیه او ملا لاس مه نیسه
له دام و جاله غافل مه تېرېږه
د ملک و دین کار ته هغه پیدا دے
چې مونږ ړانده یو او هغه بینا دے
لکه خورې پلوشې ختے لمر وي
د دهٔ په هر ویشته کښې یو نظر وي

فیرنګي اینېږ دے دستور جمهوري
د دیو له غاړي یې رسۍ پرانستي
نغمې یې نشته دي او ساز نه لري
بې طیارې نه ځي پرواز نه لري
له دې باغونو یې وران ښۀ دے
د دوے له شهره بیابان ښۀ دے
دوے رهزنان دي کاروانونه ګوري
او خپلو خېټو ته نانونه ګوري
روح یې ویده دے او بدن بیدار دے
دین و دانش یې خوار هنر کښې خوار دے
د عقل کار کفر کافر کول دي
د فیرنګیانو فن سړي خیرل دي
د بل خوړو ته هر تولے تیار دے
خدای یې ملګرے شه که دا یې کار دے
د مغرب خلکو ته مي دا پیغام دے
چې خلـګ تیغ دے تیغ بې نیام دے

داسې شمشیر دے چې سرونه وهي
او مسلمان او کافر نه پېژني
په خپل غلاف کښې په آرام نه اوسي
د ځان او یا د جهان سر پرېکوي

## (۸) سوال

کومه نکته بیانوي اناالحق؟
که بې معنا ګڼي دا رمز مطلق؟

# ځواب

د انا الحق نکته به بیا و وایم
هند و ایران ته به رښتیا و وایم
په بتخانه کښې برهمن څۀ اووې
"ژوند اوغلېدو له ځانه "زه" یې اووې
الله ویده شو ترې نه مونږ پیدا شو
د دۀ له خوبه موږه اوښکارېدو
دا خوا دېخوا لاندې باندې خوب دے
دا شوق د تللو مخ په وړاندې خوب دے
دا زړۀ او عقل نکته بین هم خوب دے
ګمان او فکر او یقین هم خوب دے
د تا بیدارې سترګې مړې ویدې دي
د تا کارونه او ګفتې ویدې دي
که را بیدار شو هغه بیا څوک نشته
د شوق د مینې د سودا څوک نشته
عقل قیاس نه رڼایي اخلي
قیاس و حواسو باندې کار چلوي
که حس بدل شو دا عالم بدل دے
سکون او سیر و کیف و کم بدل دے
وېلې شو ملک و رنګ و بو نشته دے
زمین اسمان و کاخ و کو نشته دے

ویلې شو دا چې افسانه ده خواب دے
د هغې پورته ذات د مخ نقاب دے
ویلې شو دا د پوهېدو جادو دے
د غوږ د سترګو د پردو جادو دے
خودي د رنګ و بو له ملکه نه ده
نه د حواسو په اسره پرته ده
سترګي د دې حرم ته لار نه لري
نظر له دې سره څۀ کار نه لري
شمیر يې په ورځو د فلک نه دے
مل يې تخمین او ظن و شک نه دے
که خیال کوې چې "زه" وهم و ګمان دے
له د هغې او د دې په شان دے
دغه کونکے د ګمان ثوک دے
زړۀ کښې دننه بې نشان ثوک دے
جهان څرګند دے او دلیل غواړي
د جبریيل فکر هم نه ور رسي
خودي ده پټه او دلیل نه غواړي
خیال وکړه، پوه شه، دا څۀ راز کېدے شي
حقه خودي باطله ونه ګڼې
پټې د بې حاصله ونه ګڼې
پخه خودي چرې زوال نه لري
فرق د مین هجر و وصال نه لري

بخري تېز الوزولړ هم شي
دا سوځي يې لا زوال کولړ هم شي
حق ځان ته خپل دوام کتلړ نه دے
ده پيدا کړے او کتلړ نه دے
دوام هغه دے چې په سوال غوښتړ ځان
په خپله مسته مينه شي جاودان
دا کوه و دښت و منزل هيڅ نشته دے
خودي باقي ده او بل هيڅ نشته دے

څۀ د منصور شنکر له کاره غواړې
مولا به هم په خپله لاره غواړې
په ځان کښې ورک شه خودي ولټوه
اناالحق وايه د خودۍ مل اوسه

## (۹) سوال

څوک د وحدت له رازۀ ښۀ خبر شو؟
چې څوک خبر شو نو له څۀ خبر شو؟

## ځواب

د آسمان لاندې ځاے د زړۀ خوښيږي
خو د دې لمر او سپوږمۍ زر مړه کيږي
د آفتاب لاش دے د ماښام پر اوږو
د سپوږمۍ سپين څادر کفن د ستورو
غرونه الوزي لکه رنګ روان وي
درياب لحظه په لحظه بل بل شان وي

باد د خزان اخته د ګل په ښکار دے
مرګے ولاړ د قافلې پر لار دے
شبنم لاله ته ګوهر پاتې نه شو
تاج یې د اوښکو پر سر پاتې نه شو
نا اوریدلې نغمې چنګ کښې مري
بڅري نه وتے په سنګ کښې مري
څۀ به پوښتې عالم ګیري د مرګي
زۀ او ته دواړه ځنځیري د مرګي

## غزل

مرګ یې تریخ شراب د هر یو جام کړو
څومره بې دردۍ سره یې عام کړو
یو تماشه ګاه یې د مرګ جوړ کړو
ملک د لمر سپوږمۍ یې ورته نام کړو
یو نفس که خوے د تیښتې واخستو
رو په جادوګر نظر یې رام کړو
ما نه قرار څۀ غواړې چې زړۀ مې یې
بند په هېر و پېر کښې د ایام کړو
چاک د دې خودۍ سینه کښې وساته
روڼ په دغه ستوري یې ماښام کړو

دا جهان ټول د ډوبېدونکو ځاے دے
د ستړو- ستړو مسافرو سراے دے
زړهٔ مو تلاش کښې د باطل نه اوسي
غم مو سینه کښې بې حاصل نه اوسي
دلته محفوظه هر آرزو لرو موږ
مزې د شوق د جستجو لرو موږ
دا خودي لازوال کېدلے هم شي
دغه فراق وصال کېدلے هم شي
ګرم نفس مو بلواے ډیوې شي
د اسمان خیري ګرېوان بیا ګنډاې شي
رب ژوندے بې ذوقِ سخنه نه دے
جلوې لرې بې انجمنه نه دے
چا دا جلوې ځیګر کښې و ځایولې
چا دا بادې ساغر کښې و ځایولې
د چا په زړهٔ حسن د خوبي کتے شي
چا نه دا لمر او دا سپوږمۍ تاویږي
له کوم خلوته د "الست" آواز دے
"بلٰے" را وتې بیا د چا له ساز دے
مینې څۀ اور زما په خاوره ګډ کړو
نوا مې څو پردو ته اور ورته کړو
چې موږه یو د ساقي جام چلیږي
او په مجلس کښې یې ګرمۍ پاتې دي

زړۀ مي د دۀ په تنهايي وسولو
د دۀ مجلس ته مي رونق را غونډ کړو
لکه دانه خپله خودۍ کرمه
د دۀ دپاره يې ژوندۍ ساتمه

## خاتمه

ته تېره توره يې بهر را ووزه
لږ له نيامه لاس په سر را ووزه
خپل قوتونه را برسېر کړه ته
لمر او سپوږمۍ ستوري را ګېر کړه ته
يدِ بيضا دے له استين بهر کړه
شپه د رڼا ورځ د يقين په لمر کړه
څوک چې په وينو سترګو زړۀ ته ګوري
کري بڅري او بيا ستوري ربېي
زما له زړۀ ختے بڅرے واخله
لکه رومي ګرمه زما نوا ده
کني د نوي تهذيب اور خپل کړه
بهر روښانه شه دننه ومره

# بندگي نامه

# بندګي نامه

سپوږمۍ خپل رب ته یوه ورځې اووې
زما رڼا دا توري شپې ورځې کړې
څو خوږې شپې وې چې بې ورځو شپه وم
د زمانې زړهٔ کښې ویده پرته وم
ستوري زما په مرحلو کښې نه وو
او ګردشونه زما پښو کښې نه وو
نه مې صحرا ته آئینې ورکولې
نه مې بحرونو ته څپې ورکولې
اُف دا فیرنګ او دا جادو د وجود
اُف دا رڼا او دا خواهش و نمود
له لري لمر نه مې رڼا واخسته
بیا مې دې مړو خاورو ته وبخښله
دا رنړې خاورې چې یې ورک فراغ دے
د غلامۍ نه یې مخ داغ په داغ دے
بنیادمان یې جال کښې نښتي ماهي
چې یزدان وژني او آدم ښکلوي
تا د یو آب و ګل بنده کړمه زه
په دې طواف دي شرمنده کړمه زه
دا ځاے له خپل نوره خبر نه دے
دا ځاے لایق د سپوږمۍ لمر نه دے

دا په دې شنه فضا کښې تار په تار کړه
او مونږ نوریان د دې نه زر اوزګار کړه
یا مي له دې خدمته زر رها کړه
یا له دې خاورو بل آدم پیدا کړه

زما رڼا سترګې ړندې ښې دي
خدایه په دې ملک کښې تیارې ښې دي
د غلامۍ نه زړهٔ بدن کښې ومري
په غلامۍ کښې روح په جسم بار شي
د غلامۍ نه ځوان ځلمے بوډا شي
د شین زمري بې وخته غاښ پرېوزي
په غلامۍ کښې ملت تار په تار شي
دے له هغه هغه له ده بېزار وي
یو په سجده کښې وي او بل په قیام
لکه د جمع لمونځ بغیر له امام
هر یو د بل سره په جنګ اخته وي
او هر یو ځان ته نوے غم کړه وي
د حقې مل ځلمے زنار وتړي
یکتا ګوهر یې له قیمته پرېوځي
خانګې یې پاڼې او ثمر نه لري
ژوند یې بې مرګه بل اثر نه لري
کور ذوقه زهر لکه نوش خوښوي
بې مرګه مړ ځان په اوږو ګرځوي

د ژوندون قدر آبرو نه پېژني
لکه د خرونو په وښو پسې مري
ممکن یې وګوره محال یې ګوره
تللي راغلي ماه و سال یې ګوره
ورځي یې د ورځو په ماتم تیرېږي
رو یې له شګو نه قدم تیرېږي
شاړه صحرا لشې لشې لړمان
غټ غټ میږي د سرو مارانو ښکاریان
سوے صرصر و سور دوزخ له اوره
سپېرې خپې له نامراده کوره
په سره هوا کښې د بخرو شعلې
لمبې لمبو نه چار چاپېره لمبې
ترخو لوګو کښې سره او توره هوا
د تندر ګړځ د دریابونو غوغا
په کنارو کښې یې ماران په قهر
ججې ججې ماران او زهر زهر

له لیوني سپي نه چیچونکې لمبې
بند په بند سوونکې ویروونکې لمبې
په داسې قهر کښې سل عمره ژوندے
د غلامۍ د یو لحظې نه ښۀ دي

# د غلامانو د فنون لطیفه بیان کښې

## موسیقي

د غلامۍ فنونه دي مرګونه
زړۀ به څۀ و وایم له دې فسونه
د ژوند له اوره یې نغمې خالي دي
لکه څپې د ژوند دېوال نړوي
د غلام زړۀ کښې په هر خوا تیرې وي
لکه د دۀ د دۀ نغمې ویدې وي
زړۀ یې مړژواندے دے او شون نه لري
ذوق د صبا مزه د نن نه لري
د زړۀ رازونه یې آواز کښې ښکاري
یو مړه دنیا د دۀ په ساز کښې ښکاري
بې ساه، ناتوانه او زار زار به وکړي
له دنیا لاس ختے بېزار به وکړي
سرې اوښکې سترګو ته د دۀ رانجه دي
د اودرېدو نه تښتېده ترخه دي
را نغښتے مرګ د دۀ ساز دے او بس
نشت یې پټ کړے په آواز دے او بس
نشته! زمزم په دې حرم کښې نشته
بل څۀ بې مرګ یې زیر و بم کښې نشته

د زړهٔ نه سوز ورکوي غم ورکوي
زهر جامونو کښې د جم ورکوي
غم په دوه قسمه دے اې وروره! واوره
د زړهٔ ډيوه په دې لمبه بله کړه
يو هغه غم دے چې کوم غم آدم خوري
يو هغه غم دے چې هر رنګې غم خوري
دا دويم غم چې زموږ هم دم دے
روح مو آزاد په ده له هر يو غم دے
ده کښې دے شور و شر د غرب و د شرق
هر يو موجود په دې درياب کښې دے غرق
چې کله دے پر زړهٔ ډېره شي
زړهٔ يو خوره بې کنارې چپه شي
په دغه راز غلامې نه پوهيږي
له دغه غمه يې نغمې تشې دي
نه وايم دا چې يې نوا خطا ده
کونډې ته دا رنګې ژړا روا ده
نغمه د تندر د سېلاب غوندي وي
چې له زړګي جمله غمونه يوسي
نغمه په کار ده ليونتوب پاللي
د زړهٔ په وينو کښې په اور لړلې
چې يې په نم باندې نغمې لوييږي
او خاموشي يې يوه برخه کيږي

پوه يې؟ سرود هغه مقام ياديږي
چې پکښې بې ټکو کلام توکيږي
سپينه نغمه بله ډيوه د فطرت
د دې معنا نقش بندي د صورت
معنا خبر نه يم له کومې راغله
خو رنګ يې پېژنم زما اشنا ده
که معنا نه لري نغمه نو مړه ده
د زړهٔ له سوزه بې پروا ويده ده

د معنا راز پير رومي څرګند کړو
فکر مې ده ته په سجدو پرېوتو
"معنا هغه ده چې پوره واخلي تا
له هره نقشه بې نيازهٔ کړي تا
معنا دا نه ده چې تا کور و کر کړي
په صورتونو ښخ د تا نظر کړي"
زمونږ مطرب دا نوا ونه ليده
نقش يې خوښ کړو او معنا يې پرېښوه

## مصوري

دا عجيبه "صورت ګري" ده خلقه
ابراهيمي، نه آذري ده خلقه

بوډا راهب جال د هوا و هوس
رنګین دلبرو شین مارغه د قفس
یو شهنشاه د یو فقیر مخې ته
کوهستانۍ د لړګو بار پر اوږه
یو نازنین د بتخانې په خوا کښې
جوګۍ یوازې په خوره صحرا کښې
بوډا د خپلې ضعیفۍ نه داغ داغ
چې یې په لاسو کښې مړ کیږي څراغ
یو مطرب مست په بېګانوو نغمو
چې تا ریې سست شي د بلبل په چغو
ځلمۍ د مست نظرو غشي نخښه
ماشوم سور شوۍ د بابا پر اوږه
د هر قلم په خوله مضمون د مرګ دۍ
یو افسانه ده او افسون د مرګ دۍ
علم حاضر سجده فاني ته ګوري
شک زیاتوي له زړۀ یقین تښتوي

بې له یقینه تحقیق نۀ شي کېدۍ
بې له تحقیقه تخلیق نۀ شي کېدۍ
د بې یقینه زړۀ سینه کښې رپي
او نوۍ نقش ورته ګران ښکاریږي
له خودۍ لرې دۍ بیمار دۍ او بس
خلګو پسې روان په لار دۍ او بس

خیرات د حسن له فطرته غواړي
رهزن دے لاره د تش لاسو وهي
ځان نه بهر حسن کتل خطا دے
څۀ چې په کار دے تا کښې دے د تا دے
چې نقش ګر قلم فطرت ته ورکړي
خپل ځان فنا کړي او د بل په لاس شي
یو لحظه هم له ځانه رنګ وا نخلي
په شیشه خپل کاڼے ونه ازمایي
فطرت اووه رنګه څادر اغوستے
کښښې د دۀ په کاغذ ګوډ پښې ماتې
د پتنګ زړو کښې یې هم سون نشته دے
د صبا عکس یې په نن نشته دے
نظر یې وتې له افلاکه نه دے
زړۀ په سینه کښې یې بیباکه نه دے
خاکسارو بې حضور و شرمګین دے
باقي له صحبت روح الامین دے
خیال یې ناداره او بې ذوق ستیز
د اسرافیل آواز یې بې رست و خیز
ځان چې آدم کله خاکي و شمیري
د یزدان نور د دۀ په زړۀ کښې ومري
چې له خپل ځانه بهر دا موسیٰ شي
لاسونه یې نور شي او رسۍ عصا شي

د ژوند قوت بې له اعجازهٔ نه دے
خو څوک خبر له دغه رازهٔ نه دے

هغه ژوندے چې په فطرت څهٔ زيات کړي
زموږه سترګو ته خپل راز وښايي
ګرچه درياب يې احتياج نه لري
زموږ چينې ورته خراج رسوي
يوسي آرام د زمانې له زړهٔ نه
هر يو نګار واخلي ژوندون د دهٔ نه
حور يې له حوره د جنت بهتر دے
د دې بتانو نه منکر کافر دے
پيدا کړے نوے کاينات پيدا کړے
مړه شوو زړونو کښې حيات پيدا کړي
بحر يې موج سره ټکرې وهي
څپې يې دې خوا ته ګوهر غورځوي
له خپلو ډکو خزانو چې لري
د هر يوه تشه لمن ډکوي
د دهٔ فطرت د ښهٔ او بد عيار دے
د دهٔ صنعت د دې آئينه دار دے
هم ابراهيمؑ دے دې او هم آذر دے
هم بت شکن دے دې او هم بتګر دے
هره ذره بنا صفا غورځوي
او موجوداتو ته ځلا ورکوي

په غلامۍ کښې تن له جانه تش شي
له تش بدنه به څوک څۀ ووینې
ذوق د ایجاد او د نمود ترې ورک شي
آدم له ځانه بې خبره سپک شي
که جبرئیل هم څوک یو ځل غلام کړي
د آسمانونو نه به کوزۀ پرېوزي
د غلام کار تقلید او آذري ده
جدت د دۀ په خیال کښې کافري ده
تازۀ تازۀ یې د زړۀ شک زیاتوي
زاړه زاړه او وران او خوښوي

تیارو ته ګوري آینده نه ویني
د منجاور غوندي په قبر پایي
دغه هنر د تمنا فنا دے
دننه سخا دے او بهر صفا دے
هوشیار مرغۀ پکښې ځان نه نښلوي
که څوک جالونه د ریښمو جوړ کړي

## د غلامانو مذهب

د غلامۍ مینه مذهب جدا وي
د ژوند ګبین یې بې مزې وي سخا وي

مینه توحید اول په زړهٔ وهل دي
بیا پکښې حل د هر مشکل کتل دي
د غلام مینه بس د خولې خبرې
د خولې خبرې او له کاره لرې
د شوق کاروان یې بې له ذوق د رحیل
بلا یقین او بې سبیل او دلیل
دین و دانش غلام ارزان ورکوي
بدن ژوندے ساتي او ځان ورکوي
څهٔ که په شونډو یې د خدای نامه ده
فرمان روا طاقت د دهٔ قبله ده
طاقت قوت یې بافروغه دروغ
چې پیدا کیږي تر دروغ او دروغ
څو یې سجده کوې دا بت مولا دے
چې ترې نه ودرې فاني فنا دے
هغه خدای نان ورکوي جان ورکوي
دغه خدای نان ورکوي جان تښتوي
هغه خدای یو دے او دې سل ټوټې دے
هغه د هر چا خپل دے دې پردې دے

هغه علاج د سوز او غم او فراق
دا خدای خبرې او جګړې او نفاق
دا خدای د ځان سره بندیان خوګر کړي
سترګې او غوږ او هوش یې ټول کافر کړي

چې په بنده پوره د دهٔ اختیار شي
جان یې له تنه په تن کښې ویزار شي
بې ساه ژوندے وي او ژوندے وي بې ساه
درته بهٔ وښیم رنګینه معنا
دا مړه کېدل او دا حیات د نفس
واړه خو اعتبارات دي او بس
ماهي ته غر نشته صحرا نشته دے
مرغۍ ته تل نشته دریا نشته دے
کوڼ د نوا په معنا نه پوهیږي
په خوند د صوت و صدا نه پوهیږي
ړانده په صوت و په صدا مستیږي
او له رنګونو بې پروا تیریږي
روح وي د حق سره زنده پاینده
کني نو ده ته مړه هغه ته زنده
چې "حي لا یموت" دے هغه حق دے
حیات د حق سره حیات مطلق دے
چې ژوند بې حقه تېروي مردار دے
د دې ژوندي سړي ماتم په کار دے
ډېر د لیدو یې له نظره پټ وي
زړګے یې شوق د انقلاب نه لري
د مشتاقۍ سوز یې کردار کښې نشته
د آفاق نور یې په ګفتار کښې نشته

تنګ يې مذهب وي کله تنګ يې آفاق
د شپې نه زيات توره تياره يې اشراق
ژوندون يو بار ښکاري د دۀ پر اوږو
مرګ لويوي ځان ته په خپله جولو

مينه د دۀ په خوا کښې وي آزرده
اور يې په يخو اسويلو افسرده
لکه چينجے د ختو تل کښې اوسي
لمر او سپوږمۍ او آسمان نه پېژني
له غلام مينه د ديدار مه غواړه
په غلامۍ کښې زړۀ بيدار مه غواړه
سترګو يې د هيڅ ليدو کوشش ونه کړو
ډېره يې وخوړه ويده شو مړ شو
حکمرانان که تر يو بند پرانزي
روح ته يې نوري زولنې واچوي
غوټه په غوټه آئينو نه جوړ کړي
لکه د زغري يې در واغوستوي
کينه او قهر شور و شر ور وښيئ
له ناڅاپي مرګه خطر ور وښيئ
چې د غلام له ځانه لاس وخيزي
او په سينه کښې يې آرزو ويده شي

# ق

بيا نوي خلعتونه ورکړي
د دۀ په لاس کښې خو کارونه ورکړي

مهرېِ په ځاے رسا ورسوي
او خپل پیاده تر باچا ورسوي
په نعمتونو یې رنګ رنګ شي راکړي
په نن یې موړ کړي ترې نه هېر صبا کړي
بدن یې درووند شي د باچا په مهر
او روح یې ورک شي په سختۍ په قهر
که یوه روح ته پرې آزار رسیږي
ښۀ ده که ښار ښار بدنونه مړه شي
زولنې پښو کښې نه دي زړونو کښې دي
ګران دا غمونه په غمونو کښې دي

## د ازادو ابادۍ

وخت کړه لږ تېر له تېرو خلګو سره
د آزادانو صنعت هم وګوره
کار د ایبک او د سوري ووینه
که زړۀ لرې سترګې دي وغړوه
ځان یې له ځانه را بهر خرګند کړو
عالم یې ټول په تماشه ودرېدو
کاڼي یې د کاڼو سره ولګول
اوږده وختونه یې په لمحو وتړل

په یو دیدن باندې به تا پوخ کړي
له دې جهانه به د بل ته یوسي
نقش به خبر د نقش ګر ورکړي
د دهٔ د زړهٔ نه به خبر ورکړي
بلنده طبعه او همت مردانه
د کاڼو زړونو کښې لعلونه دي دوه
دا سجده ګاه د چا دے؟ دا مه پوښته
ناپوهه! تن نه حال د ساه مه پوښته
زهٔ خو له خپل ځانه حجاب کښې پروت یم
او د فرات په کناره تږے یم
زهٔ خو له جرې او له وېښه وتے
لرې له خپله ځایه وچ پرېوتے
بې له یقینه زړهٔ محکم نشته دے
د یقین څانګو کښې مې نم نشته دے
په ما کښې ذوق د الا الله نشته دے
سجده شایان د دې درګاه نشته دے
یو ځل هغه ګوهر ناب وګوره
تاج پلوشو کښې د مهتاب وګوره
مرمرۍ تیز ځي له روانو اوبو
یوه لحظه تېره تر زمانو
د سرو میني خپل اسرار ویلي
کاڼي یې په څوکو د بڼو پېیلي

د سرو مینه له جنته خوره
د کانو خبنتو نه وباسي نغمه
د سرو عشق دے د خوبانو معیار
هم پرده در د حسن هم پرد دار
همت یې پورته له آسمانه تېر شو
د چون و چند له دې جهانه تېر شو
چې تول لیدلي یې په خوله نه راتلو
زړونه یې په بله طریقه وسپړدو
له محبته جذبې پورته خیژي
ناکامیابیان پر کامیابۍ اخلي
بې محبته ژوند ماتم دے او بس
کار یې ناکاره نا محکم دے او بس
محبت عقل ته صیقل ورکوي
مینه له کاڼي آئینه جوړوي
زړګي لرونکو ته سینا ورکوي
دمِ عیسیٰ، یدِ بیضا ورکوي
شکست خورده ورته ممکن او موجود
دے خوږ او تریخ تمام جهان د نمود
زموږه خیال ګرم د دهٔ په نار دے
پیدا کول ژوندي کول یې کار دے
عشق هر څه، هر بنیادم ته بس دے
یوازې دے همه عالم ته بس دے

دلبري بې قهري جادوګري ده
د قاهرۍ سره پیغمبري ده
دواړه د یو بل مشغولا کړه میني
جوړه دنیا کښې یو دنیا کړه میني

# جاوید نامه

## ژباړه

## امیر حمزه شنواره

# فهرست


| شمېر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | مناجات | ۵۹۵ |
| ۲. | آسماني تمهید د ازل په رومبۍ ورځ آسمان | ۶۰۰ |
| ۳. | د ملایکو سندره | ۶۰۳ |
| ۴. | د مځکي تمهید د حضرت رومیرح روح | ۶۰۴ |
| ۵. | غزل | ۶۰۵ |
| ۶. | د زمان او مکان روحِ ز روان مسافر د عالم علوي سیل ته بیایي | ۶۱۴ |
| ۷. | د ستورو نغمه | ۶۱۷ |
| ۸. | د سپوږمۍ آسمان | ۶۱۸ |
| ۹. | یو هندي عارف چې د سپوږمۍ په یو غار کښې | ۶۲۱ |
| ۱۰. | رومي او جهان دوست | ۶۲۳ |
| ۱۱. | د هندي عارف یو نهه خبري | ۶۲۶ |
| ۱۲. | د سروش جلوه | ۶۲۹ |
| ۱۳. | د سروش نوا | ۶۳۰ |
| ۱۴. | د یرغمید کڅۍ ته | ۶۳۱ |
| ۱۵. | د ګوتم طاسین((د یوې بې حیا ډمي ښځي توبه کول)) | ۶۳۵ |
| ۱۶. | د زرتشت طاسین ((اهرمن د زرتشت امتحان کوي)) | ۶۳۷ |
| ۱۷. | د مسیح طاسین د حکیم طالسطائي خوب | ۶۴۰ |
| ۱۸. | طاسین د محمد ص ((د ابوجهل د روح ژړا د کعبې په حرم کښې)) | ۶۴۳ |
| ۱۹. | د عطارد آسمان د جمال الدین افغاني رح او | |

| | | |
|---|---|---|
| | د سعید حلیم پاشا رح | ۶۴۶ |
| ۲۰. | افغاني او زنده رود | ۶۴۹ |
| ۲۱. | افغاني رح «دین او وطن» | ۶۵۰ |
| ۲۲. | اشتراکیت او ملوکیت | ۶۵۲ |
| ۲۳. | سعید حلیم پاشا شرق او غرب | ۶۵۳ |
| ۲۴. | د قرآني عالم محکمات (۱) د آدم خلافت | ۶۵۶ |
| ۲۵. | د خدای ج حکومت | ۶۶۰ |
| ۲۶. | مځکه د خدای ملك دے | ۶۶۲ |
| ۲۷. | حکمت لوے خیر دے | ۶۶۴ |
| ۲۸. | زنده رود | ۶۶۵ |
| ۲۹. | روسي ملت ته د افغاني رح پیغام | ۶۶۹ |
| ۳۰. | د روم پیر زنده رود ته وایي: "چې شعرونه واوره" | ۶۷۳ |
| ۳۱. | د زنده رود غزل | ۶۷۵ |
| ۳۲. | د زهرا فلك | ۶۷۶ |
| ۳۳. | د پخوانو قامونو د خدایانو مجلس | ۶۷۸ |
| ۳۴. | د بعل سندره | ۶۷۱ |
| ۳۵. | د زهرا سیند ته ورکوزېدل او هلته د فرعون | ۶۸۳ |
| ۳۶. | غزل | ۶۸۳ |
| ۳۷. | رومي رح او فرعون | ۶۸۶ |
| ۳۸. | ذوالخرطوم | ۶۸۷ |
| ۳۹. | د سوډاني درویش روح څرګندیږي | ۶۸۸ |
| ۴۰. | د مریخ فلك د مریخ اوسېدونکے | ۶۹۰ |
| ۴۱. | د مریخ د نجومي د رسګاه نه بهر راوتل | ۶۹۳ |
| ۴۲. | رومي رح د مریخ حکیم | ۶۹۴ |
| ۴۳. | په مرغدین ښار کښې ګرځېدل | ۶۹۶ |

| | | |
|---|---|---|
| ۴۴. | حکیم مریخي او زنده رود | ۶۹۸ |
| ۴۵. | د مریخ د هغې پېغلې حال چې د رسالت دعوه يې کړې وه | ۷۰۲ |
| ۴۶. | د مریخ د پیغمبر وعظ | ۷۰۳ |
| ۴۷. | د مشتري فلك | ۷۰۶ |
| ۴۸. | د حلاج نوا | ۷۰۸ |
| ۴۹. | د غالب نوا | ۷۰۹ |
| ۵۰. | د طاهرې نوا | ۷۱۰ |
| ۵۱. | زنده رود پاکو ارواحانو ته خپل مشکلات وړاندې کوي | ۷۱۱ |
| ۵۲. | زنده رود او غالب | ۷۱۷ |
| ۵۳. | د فراق جنو سود او ابلیس څرګندېدل | ۷۲۵ |
| ۵۴. | د ابلیس ژړا | ۷۲۹ |
| ۵۵. | د زحل فلك | ۷۳۰ |
| ۵۶. | د وینو دریاب | ۷۳۲ |
| ۵۷. | د هندوستان روح څرګندیږي | ۷۳۳ |
| ۵۸. | د هندوستان روح ژړا، فریاد کوي | ۷۳۴ |
| ۵۹. | د وینو د دریاب د کشتۍ د یو سپاره فریاد | ۷۳۶ |
| ۶۰. | د آسمانونو نه بره د المانوي حکیم نطشه مقام | ۷۳۸ |
| ۶۱. | ق | ۷۴۱ |
| ۶۲. | د جنت الفردوس په لور لېږدېدنه | ۷۴۱ |
| ۶۳. | د شرف النسآء محل | ۷۴۴ |
| ۶۴. | د امیر کبیر حضرت سید علي همدانيرح او ملا طاهر غني کشمیريرح زیارت | ۷۴۷ |
| ۶۵. | د شاه همدان په حضور کښې | ۷۴۸ |
| ۶۶. | غني | ۷۵۴ |

| | | |
|---|---|---|
| ۶۷. | د هندي شاعر "برتري هري" سره صحبت | ۷۵۸ |
| ۶۸. | د مشرق د سلطانانو محل ته روانېدل نادر ابدالي سلطان شهید | ۷۶۱ |
| ۶۹. | د ناصر خسرو روح څرګندېږي یو مستانه سندره وایي بیا غایب شي | ۷۶۵ |
| ۷۰. | ابدالي او زنده رود | ۷۶۶ |
| ۷۱. | سلطان شهید او زنده رود | ۷۷۱ |
| ۷۲. | د سلطان شهید پیغام کاویري سیند ته | ۷۷۳ |
| ۷۳. | زنده رود د جنت الفردوس نه رخصتېږي حورې ترې څۀ غوښتنه کوي | ۷۷۷ |
| ۷۴. | د جنت حوره | ۷۷۸ |
| ۷۵. | د زنده رود غزل | ۷۷۸ |
| ۷۶. | حضور | ۷۷۹ |
| ۷۷. | د جمال ندا او زنده رود | ۷۸۲ |
| ۷۸. | د جلال تجلي را پرېوزي | ۷۸۶ |
| ۷۹. | جاوېد ته خطاب | ۷۸۸ |

# مناجات

بنیادم په دې اووه رنګه جهان کښې
تل اخته دے په فریاد او په فغان کښې
د ملګري تمنا یې ژړوي
څۀ خوږې- خوږې نغمې ور زده کوي
مګر دا، دا د اوښو خټو دنیا
څوک ویلے شي یو زړۀ لري دانا؟
غاړې، غرونه، دریابونه کاڼه غلي
لمر سپوږمۍ او آسمانونه کاڼه غلي
آسمانونو کښې یې ستوري دي بلا
خو هر یو تنها د یو بل نه جدا
هر یو مونږ غوندي یوازي بې چاره دے
ځان ته شنه خوره فضا کښې اواره دے
کاروان نه کړي د سفر لا ارادې
لوے آسمان دے او ناراسته اوږدې شپې
دا دنیا ده زموږ ښکار او مونږ ښکاریان یو
که د چا له یادو اوتي اسیران یو
ډېر مې وژړل رانغله یو صدا
د انسان ملګرے کوم دے په دنیا
د خلور کنجه دنیا ورځ مې لیدلې
چې روښانه کړي ګلې، کوڅې او کلې

رڼايي يې ده د يو ستوري د تلو
بل څۀ نشته خو بس دا چې "لاړو" وو
ورځ هغه ده چې شمېر نه ده له ايام
د سحر يې نه غرمه شته نه ماښام
که روښانه روح په نور باندې د دې شي
آواز هم لکه د رنګ ليده کېدے شي
پټ د دغې به رڼا را څرګندېږي
او د دې نوبت نه ځي او نه تېرېږي
اې مالکه! دغه ورځ روزي زما کړې
او له دې بې سوزه ورځو مې رها کړې
د تسخير آيت[1] ښيلے د چا شان دے
دا شين رنګے آسمان چا وته حيران دے
څوک ؤ پوه په راز د علم الاسمآء؟
څوک ؤ مست په هغه جام هغه مينا؟
تا څوک خوښ کړلو له دې ډکې دنيا؟
څوک دې کړلو د خپل راز سره اشنا؟
اې چې ستا غشي څيري سينه زما
د "ادعوني" ټکے چا ته وې چا؟
د تا مخ زما ايمان، زما قرآن دے
ته زما نه دې جلوې ساتې ارمان دے
که د لمر نه سل شعلې را وورېږي
خو د لمر هغه دولت پرې نه کمېږي

[1] آيت تسخير د علم الاسماء. قرآني آيتونو ته اشاره ده.

حاضر عصر کړلو عقل را حصار
څۀ شو- څۀ شو زما جانِ بې قرار؟
په عمرونو وجود ځان سره تاوېږي
چرته ي بېتابه روح ترې را کوزيږي
خفه کيږه مه خو ستا دا ښوره زمکه
د آرزو د تخم کر ته سمه نه ده
د دې بې حاصله ختو نه څۀ کيږي؟
غنيمت دے که يو زړۀ ترې وتوکيږي
ته سپوږمۍ راشه زما په شبستان
لږ خو ووينه زما بې نوره ځان
د لمبې به څۀ پرهيز وي له خاشاک
او د تندر پرېوتو نه وي څۀ باک
ژوند مي تير کړو په فراق په جدايي
اوس بل اړخ د آسمان را وښايي
همګي ترلي ورونه راته وا کړه
او دا خاوره فرښتو سره اشنا کړه
داسې اور مي په سينه ولګوه
چې عود پرېږده او لرګے وسوځوه
بيا دا عود مي د انګار دپاسه کښېږده
او لوګے مي خور تمام جهان کښې پرېږده
اور زما په جام کښې شته دے نور يې بل کړه
يو نظر د تغافل سره دِ مل کړه

موږه تا لټوو، ته له نظر دور يې
نه خطا شوم، مونږ ړانده يو ته حضور يې
يا له رازهٔ دا پردې جدا کړه لرې
يا دا بې دیداره روح له ما کړه لرې
بې نمو د فکر اونه شوه زما
یا یو تبر غواړم یا بادِ صبا
عقل را دي کړو، جنون هم راته راکړه
لار د جذب اندرون هم راته راکړه
علم خیال کښې ځان ته اونیسې مقام
او د میني ځاے دے قلبِ لاینام
علم څو له میني ونه خوري مېوې
پکښې کیږي د فکرونو تماشې
د جادو تماشه ګاه د سامري ده
علم بې روح القدس جادوګري ده
بې جلوې هوشیار په لاره نهٔ شي تلے
د خپل خیال په غلبو کښې مري پر ځاے
ژوندون بې د تجلي نه رنځوري ده
مجبوري ده دین او عقل مهجوري ده
دا دنیا ده کوه و دشت و بحر و بر
موږ نظر غواړو او دا وايي خبر
آواره زړهٔ منزل غواړي ورکړه دې ته
د سپوږمۍ دا تږه بیا ورکړه هغې ته

زما خاوره صرف خبري ټوکوي
بیا هم نه خلاصیږي حرف مهجوروي
د آسمان د لاندې زهٔ اوسم غریب
یو ندا له هغه خوا "اِنِيٌ قَرِیٌب"
چې د لمر، سپوږمۍ په شانې شي غروب
دا جهان او دا شمال او دا جنوب
له طلسمه د پرون او صبا تېر شم
زهٔ له لمر او له سپوږمۍ ثریا تېر شم
موږ بخري او ته تل تر بل رڼا
زموږ څهٔ دي؟ په سوال غوښتني یو دوه سا
اې د مرګ د ژوند له جنګه نا آشنا!
دا بنده څوک دے؟ چې رشک کړي په مولا
یو بنده دے آفاق ګیر و ناصبور
نه خوشحال دے په غیاب نه په حضور
زهٔ آني یمه ته ما جاوداني کړه
دا د مځکې اوسېدونکے آسماني کړه
ضبط راکړه د ګفتار و د کردار
لارې شته دي خو که و مومم رفتار
دا چې وایمه د بل جهان بیان دے
راکوز شوے دا کتاب د بل آسمان دے
سمندر یمه اوبهٔ مې نه کمیږي
داسې شته څوک چې مې تل ته ورسیږي؟

ډېر مخلوق مي په ساحل وګرځېدو
هيڅ يې ونه ليدل بې له څو څپو
نا اميده له ډېر عمرو له زړو
کړم خبري د يو ورځي د راتلو
دغه ټکے مي ځوانانو ته آسمان کړې
خدايه دوے ته سمندر زما پايان کړې

# اسماني تمهيد د ازل په ړومبۍ ورځ اسمان د مځکي تعريف کوي

ژوند د لذت ځني د غيب او حضور
جوړ دا جهان کړو د قريب او د دور
داسې يې تار د نفس وشلولو
سازۀ يې کړه حيرت خانه د ورځو
د "ته جدا او زۀ جدا" ناره
د ځان ښودني ولولې کړه ښکاره
ستورو، سپوږمۍ ته د تګ وښود شو چل
سل څراغونه په فضا کښې شو بل
په شين آسمان کښې اودرولو آفتاب
يو زربفتي خېمه د سپينو طناب

ړومبې سحر شو په افق له عدم
غېږ کښې يې واخستو دا نوے عالم
د خاورو خونه وه جهان د انسان
خوره صحرا ده، نه منزل نه کاروان
نه يې په غرونو کښې ولې بهېدې
نه يې وريځې په صحرا ورېدې
نه د مرغانو په يو ښاخ سازونه
نه په ورشو کښې د هوسۍ ټوپونه
د روح رڼا نه وه پر بحر و پر بر
ول ول لوګے يې د بدن ؤ ځادر
د سپرلي باد پرې لګېدلے نه ؤ
د مځکې دِه کښې يې شينکے ويده ؤ
شين آسمان مځکې ته پېغور ورکړو
"داسې سپک ژوند خو مې بل ونه ليدو
په سترګورو کښې په شان د ړندو
سوالي رڼا غواړي زما له ډيوو
خاوره خو خاوره ده روښانه نه ده
غر که شي سياله له آسمانه نه ده
يا خو ژوندون د دلبرۍ زده کړه
يا د مرګي له کمترۍ زده کړه"
مځکه خجله له پېغوره شوله
په زړهٔ درنه له رنګه توره شوله
رب نه يې دا د بې نور يې وغوښتلو
پاس له افلاکه ورته رغ وشولو

وې: "اې زما امانتګرې مځکې
د خپل ضمير نه بې خبرې مځکې
ورځې روښانې دي د ژوند له غوغا
نه چې دا وينې د جهات له رڼا
د سحر نور پيدا کړي نور داغدار
نور د روح پاک د زمانې له غبار

نور د روح تېز د پلوشو نه د لمر
بې له دې جوړو لارو ځي په سفر
ولې مايوس شولې له خپلې دنيا؟
نور به د روح شي ستا له خاکه نما
د انسان عقل به جهان کړي شبخون
او د دهٔ عشق به لامکان کړي شبخون
ځيګر يې لار پېژني بې رهنما
نظر يې تېز ځي د جبريل نه سيوا
خاوره خو الوزي په شان د ملک
يو ويجاړ سراے دے په لار کښې فلک
داسې ورښخ شي د آسمان په بدن
لکه رېشمو کښې چې ښخه شي ستن
لر کړي داغونه د وجود د لمن
د دهٔ نظر دے چې بينا کړي زمن

که خونړے دے عبادت کوي کم
خو د روزګار نيلے پر لاره کړي سم

سترګي رڼا کړي کائینات ووینې
چې په صفاتو کښې بیا ذات ووینې
څوک چې مین شولو په حسن د ذات
هغه سردار شو د جمله موجودات"

## د ملایکو سندره

دا خاک د فرشتو نه به افزون شي یوه ورځ
له بخته به یې دا مځکه ګردون شي یوه ورځ
چې خیال یې پرورش د حادثو له څپو مومي
ګرداب د شین آسمان نه به بېرون شي یوه ورځ
معنا کښې د آدم وکړه لږ فکر، تپوس مه کړه
اوس ښکاري نشه ناک خو به موزون شي یوه ورځ
زمول شوے دے خو داسې به موزون شي دا مضمون
یزدان به د تاثیر نه پرې مفتون شي یوه ورځ

# د مځکي تمهيد دحضرت رومي رح روح ځرگنديږي او د معراج د اسرارو شرح کوي

مينه يو شور دے بې پروا له ښار
شعله يې مړه کاندي غوغا د ښار
غواړي خلوت د سمي غرونو سره
يا په ساحل د دريابونو سره

چې په يارانو کښې محرم نه مومم
سود مي په دا شي چې ساحل ته وزم
لمر پرېواته کښې د درياب ننداره
په شنو اوبو کښې شي لعلونه ښکاره
ړوند هم له دې خوند د نظر اخلي
پکښې ماښام رنګ د سحر اخلي
څه د خپل زړهٔ سره بحثونه مي وو
څه مشورې څهٔ خواهشونه مي وو
آني دے ولې دي "تل" دے نه وي؟
ژوندے دے ولې دي ژوندے نه وي؟
ترے او لري د چيني له غاړي
ما بې اختياره دا بدله ووې

# غزل

شونډي پرانېزهٔ چې قند فروان زما ارمان دے
مخ ښکاره کړه چې دا باغ او ګلستان زما ارمان دے

په یو لاس کښې جام د میو په یو لاس د اشنا زلفې
هم په دې رنګه یو رقص په میدان زما ارمان دے

تا په ناز چې را ته ووې "نور مې مه خفه کوه ته"
"نور مې مه خفه کوه ته" دا بیان زما ارمان دے

عقله ته له ډېره شوقه یو پنډوس شه رغړېدلے
هغه سوے پرېشان عشق نکته دان زما ارمان دے

د فلک اوبهٔ خواړه خو بې وفا لکه سېلاب دے
زهٔ مهے یم زهٔ نهنګ یم لوے کمان زما ارمان دے

د فرعون له ډېره ظلمه زړهٔ زما دے را تنګ شوے
هم موسیٰ ع او هغه نور یې د ګرېوان زما ارمان دے

پرون شېخ ډیوه په لاس کښې ګرځ له ښاره چور لیدلو
زهٔ خفه له دیو او دد یم یو انسان زما ارمان دے

زړهٔ مې تور شو زړهٔ مې بد شو، له ملګرو مستو پستو
یا رستم یا امزرے د پاک یزدان زما ارمان دے

ما وې دا نه پیدا کیږي، زۀ یې سترے په تلاش یم
وې چې کوم نه پیدا کیږي، دا سامان زما ارمان دے

((رومي))

خپه ویده شوله پر فرش د اوبو
لمر چې شو تت د افق مخ تور شو
د یو ټکرې ترې نه غلا وکړه ماښام
ستوري شو پاس لکه یو کښلے په بام
د رومي روح هره پرده کړه پاره
د یوه غر له شا یې مخ کړو ښکاره
مخ یې روښانه ؤ په شان د آفتاب
وه زړبوډی یې لکه وخت د شباب
تن یې روښان د خدای په نور ښکاریده
سر نه تر پښو سرور- سرور ښکاریده
ؤ یې په خله هغه پټ راز د وجود
خلاص کړلو ځان د صوت و حرف له قیود
ؤ هر یو حرف یې آئینه روښانه
علم یې ګډ د زړۀ د سوزه سره
وې مې موجود او ناموجود څۀ وي؟
څۀ وي محمود او نامحمود څۀ وي؟
وې موجود هغه چې نمود غواړي
ښکاره کیدل خو تل وجود غواړي

څۀ دے ژوند؟ ځان سنګارول له ځانه
بیا شهادت په ځان غوښتل له ځانه
ورځ د الست یې انجمن جوړ کړو
په خپل وجود یې شهادت وغوښتو
مړ یې ژوندے یې که دي ساه وي پر لب
کړه شهادت له درې کسانو طلب
ړومبے ګواه دي خپل شعور واخله
د ځان کتل د ځان په نور واخله
دویم ګواه د بل شعور واخله
د ځان کتل د بل په نور واخله
درېیم ګواه شعور د ذات واخله
د ځان کتل په نور د ذات واخله
ته که دے نور ته کلک په ځاے پاتې شې
حے او قائم به لکه خدای پاتې شې
دے خپل مقام ته رسېدل ژوندون
دے بې پردې د ذات لیدل ژوندون
د مومن نۀ شي اطمینان په صفات
مصطفٰےص نه راضي کېده بې له ذات
څۀ وي معراج؟ خو د شاهد یو ارمان
بیا د هغه په مخامخ امتحان
داسې شاهد چې بې تصدیقه د دوے
زموږه ژوند لکه د ګل رنګ و بوے

چې په حضور کښې يې پاتې شي استوار
هغه سړے به وي کامل په معيار
ذره يې ټينګه ساته تاؤ که لرې
کلکه يې غوټه لره تاؤ که لرې

خپل تاؤ پخپله زياتول ښۀ دے
د لمر په مخ يې ازميل ښۀ دے
دا زوړ قالب دي وران کړه بل جوړ کړه
کړه امتحان له ځانه "تل" جوړ کړه
داسې محمود چې وي محمود يې ګڼه
ګڼې ژوند اورمه ګڼه دود يې ګڼه
بيا مي وې حق ته رسېدل څنګه وي
د خاورو غر اوبو شلول څنګه وي؟
ښکاري له خلقه چې خالق دے بهر
موږ زمانې يو بد ځپلي پر سر
وې چې په لاس که درله درشي "شيطان"
په خپل قوت به مات او ګوډ کړې آسمان
ودرېږه زر به شي بربنډ کائينات
څنډ له لمن به وهي ګرد د جهات
محسوص به نه کړې زيات او کم د موجود
ستا دے له ده، د دۀ له تا نه نمود
پوه چې په "الا بسلطان" شي سړي
مېړے ملخ نه دي چې ختو کښې مري

د زېږېدو په طريقه پيدا شوې
بيا دې څلور ګوټه دنيا ته راغلې
بيا ترې تلل هم په زېږېدو کېدے شي
د دې تړون په پرانستو کېدے شي
له اوبو خټو زېږېدل نه دي دا
پرې دے په دې چې لري زړونه صفا
هغه زېږون مجبوري دا په اختيار
هغه پرده کښې پټ او دا په اظهار
يو په ژړل بل په خندل وګنړه
يو په لټون بل په موندل وګنړه
دننه سيل د کائينات هغه دے
او د جهاتو نه بهر دغه دے

هغه د شپو ورځو يو پور وګنړه
دا په شپو ورځو باندې سور وګنړه
هغه چې زېږي نو شکم وشلوي
او دا چې زېږي نو عالم وشلوي
نخښه د دواړو زېږېدو ده اذان
هغه له شونډو دا له زړهٔ شي عيان
يو بيدار روح چې تر بدن راشي
لرزهٔ د دې جهان په تن راشي
ما وې مطلب د زېږون وايه آسان
وې له شانونو دے د ژوند يو شان

ژوندون صفت لري د غیب او حضور
یو په ثبات او بل په تـګ مجبور
کله زړهٔ سوے په جلوت کښې ښکاري
کله زړهٔ جمع په خلوت کښې ښکاري
جلوت یې ځلند وي په نور د صفات
خلوت یې روڼ په تجلو وي د ذات
عقل یې راکاږي د جلوت په طرف
عشق یې را کاږي د خلوت په طرف
عقل یې ځان په دې عالم ازمايي
چې د ما دې دا طلسمونه مات کړي
د لارې کاڼې ورته عقل ښايي
وريځې تندر ورته وعظ کوي
شته دے په سترګو کښې یې ذوق د نظر
ولې دېر نه دے د دیدن خو زړور
لکه د ړوند کړي یون د لارې په ډار
کوي په شان د مېږي نرم رفتار
چې رنـګ او بوے غوندي تاؤ- تاؤ دے خرد
ځکه د یار د لارې کم دے ولد
کار یې ورو- ورو په تدریج مومي نظام
خدای زده چې ویني کله مخ د انجام

عشق وي له میاشتې نه له کاله خبر
د نزدې لري نه د ځنډ پرې اثر

عقل چې کار کوي نو غر ماتوي
مات يې چې نه کړے شي طواف يې کوي
غر وي د ډکي غوندي عشق ته آسان
زړۀ يې چابک لکه سپوږمۍ پر آسمان
ګور ناليدلے له جهان ځنې ځي
عشق په شب خون تر لامکان ځني ځي
طاقت د عشق له اعصابه نه دے
زور يې له باد و خاک و آبه نه دے
اوربشې خوري دے او خيبر نړوي
د پاس سپوږمۍ سپيني ته څېر ورکوي
مات بې ګزاره د نمرود کاندي سر
بې وسلې مات کړي د فرعون لښکر
په روح کښې عشق لکه ليمه کښې نظر
کور کښې دننه هم له دره بهر
دې ايره عشق هم د لمبې نه بره
کار يې د دين او د دانش نه غوره
ښکاره برهان دے او سلطان دے عشق
په دوه عالمه حکمران دے عشق
دے لازمان او نن صبا له هغه
دے لامکان زير او بالا له هغه
له خپله خدايه چې خودي وغواړي
لکه نيلے واړه عالم زغلوي

د زړهٔ مقام شي ښهٔ څرګند د دهٔ نه
شوق د دې زوړ جهان شي ورک د زړهٔ نه
ورکوي خدای ته سر او ځان عاشقان
تاویل کونکے عقل کاندي قربان
عشق بې طرفه له هر خوا نه تلنه
حرامول په ځان د مرګ بلنه

یې لکه مړے په صندوق کښې د ګور
ته پاڅېدے شې بې شپېلۍ په خپل زور
شته په سینه کښې دي خوږې سندرې
ختو کښې نښتیه! داسې ژاړې ولې؟
پاڅهٔ مکان او په زمان سپور شه
پرانېزهٔ غوټې د زنار نور شه
نورې کړه تېزې دواړه سترګې او ګوش
وینې چې څهٔ د هوش په لار یې کړه نوش
څوک د مېړې هم چې آواز اوري
د لري خلکو د زړهٔ راز اوري
واخله له ما دا پړده سوزه نګا
چې ګیرېدے نهٔ شي لیمو کښې د چا
سړے خو "دید" دے باقي پوست وګڼه
"دید" چې ګڼې نو دید د دوست وګڼه
"تن دي تمام په سترګو کښې ویلي کړه
بیا د نظر سره نظر کښې لاړ شه"

((رومي))

نهه آسمانه دي؟ ترې مه وېرېږه
خواره جهانه دي؟ ترې مه وېرېږه
پرانېزهٔ سترګي دا زما او مکان
دواړه یو حال دي له احوالو د "جان"
چې مخکښې پرېوتو نظر له رڼا
جوړ اختلاف شو د پرون او صبا
تبارو د خاورو کښې دانه پراته وي
له لوړې آسمانه بېګانه پراته وي
پوړې ده په دې که وي فراخ ځایونه
زرغونولې شي خپل پټ ښاخونه؟
جوهر یې څهٔ دې؟ خو یو ذوق د نمود
هم یې مقام دغه جوهر هم وجود
اې چې بدن د روح محمل ګڼې
او ځان د روح له رازهٔ نه خبر دې
دا محمل نه دې دا د روح یو حال دې
محمل وینا خو د خبرو چال دې
روح څهٔ دې؟ جذب او سوزېدل او سرور
ذوق د تسخیر د کل عالم په ضرور
تن څهٔ دې؟ شوق د رنګ او بویه سره
د هر مقام د هره سویه سره
را نزدې لري دې یو باب د شعور
څهٔ دې معراج؟ خو انقلاب د شعور

دے په شعور کښې انقلاب له شوقه
آزادول کړي شوق له تحت و فوقه
بدن د روح سره سيالي به څهٔ کا
بند به الوت يې موټے خاوره نه کا

# د زمان او مکان روحِ زروان مسافر د عالم علوي سيل ته بيايي

په خبرو يې دا زړهٔ زما بېتاب شو
هر بخرے مي د تن لکه سيماب شو
چې ناڅاپه د مغرب، مشرق تر ميان
په وريځ د نور مي غرق وليد آسمان
فرشته له دې وريځې شوه راکښته
يو خوا اور بل خوا لوګے په دوه طلعته
يو تک تور دويم روښان لکه شهاب
يو بيدار او د بل سترګې وړے خواب

سره او زېړ يې وو رنګونه د وزرو
لاجوردي آسمان رنګ په سپينو زرو

لکه خیال هسې مزاج يې "رم اشنا" ؤ
تګ له مځکې تر آسمان يې په يو سا ؤ
هر زمان يې بل خواهش بله هوا وه
و الوت ته يې هر دم نوې فضا وه
وې په ټول جهان غالب يمه "زۀ روان يم"
هم ظاهر يم هم د خلګو نه پنهان يم
تدبیرونه په تقدیر غُټه زما دي
زما ښکار دے که خاموش دي که ګویا دي
د غونچې پالنه ښاخ کښې زۀ "زروان" کړم
د مرغۍ بچے په ځاله کښې ګریان کړم
له پالنې مې دانه پوره نهال شي
که بېلتون وي خو له فیضه مې وصال شي
هم خطاب را رسومه هم عتاب
زیاتوم تندي چې ورکړمه شراب
زۀ حیات او زۀ ممات او زۀ نشور يم
زۀ حساب دوزخ، جنت، غلمان او حور يم
دے قیدي زما ملک او آدم پوے دے
دا شپږ ورځو کښې پیدا جهان مې ځوے دے
چې کوم ګل له ښاخه غوځ کړي هغه زۀ يم
زۀ مورچنګه د اشیاوو هم يې زړۀ يم
په جادو کښې زما ګیر دغه جهان دے
دم په دم يې ژړوم راته آسان دے

څوک چې پوړې په سر د "لي مع الله[1]" ځان کا
بس جادو به زما مات هم هغه ځوان کا
که دي زړهٔ وي چې زهٔ ووزمه له میانه
د زړهٔ ورد "لي مع الله" کړه واوره ځوانه!

څهٔ به وایم د هغه د ډېر اثر نه
خو دا زوړ جهان مې ووت له نظر نه
یا مبلمه زما نظر د بل جهان شو
یا هم دا جهان بدل راته بل شان شو
مړ شوم زهٔ په دې دنیا د رنګ او بوړې کښې
شوم پیدا په بل عالم بې هاړې و هوړې کښې
تار مې غوخ شولو له دې زاړه جهانه
شوم ورپېښ نوي جهان ته ناګهانه
د عالم په لوړې نقصان مې زړهٔ جلیا شو
بیا له خاورې مې یو بل جهان پیدا شو
تن مې سپک روح مې سیار لا تر پخوا شو
زړهٔ مې نوري سترګې بیا موندې پنا شو
څهٔ چې پټ ؤ را ښکاره شول له پړدو نه
خوند مې واخستو د ستورو د نغمو نه

---

(۱) لې مع الله. تلمیح حدیث لې مع الله وخت ته.

# د ستورو نغمه

ژوندون حاصل له عقله، عشق دے راز د کائینات
په خیر راغلې آدمه! دې عالم ته د جهات
زهره او مشتري، په کشمکش کښې ستا دپاره
ستا یو نظر دپاره، دي په جنګ تجلیات
په لار کښې د اشنا چي، نوې جلوې ښکاري
صاحب د شوق به نه بایلي، خپل زړهٔ په کلیات
ژوندون په پورته تګ وکړه، ژوند صدق و صفا
ورخور په ملک د خدای شه، له ازل تر ابدا
ورکړه غزلګو ته اجازت د ها و هو
پسته محتسب او رند له مے سبو سبو
شام، عراق او هندوستان، پارس دي روږدي په خوږو
اوس خو لږ تراخه هم ورله ورکړه د آرزو
موج د سمندر سره، چې ووهي ډغره
خوند د "تېز تګۍ" د چینې زړهٔ کښې کړه ورپوه
سور اور دے درویش فقیر، میري قیصري خس ده
زور ته د شاهانو، سپینه یو خبره بس ده
دبدب قلندري شان و شوکت سکندري
جذبه د کلیم ع هغه، دا جادو د سامري

هغه په یو نظر، او دا وژل کړي په لښکرو
هغه هم تن صلح، او دا جنګ زور اوري
جهان دې دواړو خپل کړلو، او دواړه دوام غواړي
دا یو د قاهرۍ په زور، او بل په دلبري
سدمات سکندري کړه، زده ګزار قلندري کړه
تازهٔ د کلیمؑ خوے کړه، ماته ګوډه ساحري

# د سپوږمۍ اسمان

د آسمان مځکه چې ملک د کبریا دے
دا سپوږمۍ پېروني ټول میراث زما دے
هر هغه چې در ښکاره شي په دې لار کښې
خپل نظر ورته محرم کړه په دیدار کښې
خپل وطن کښې مسافر یې لږ چالاک شه
اې له خپله ځانه ورکه! لږ بېباک شه
دوه جهانه به ستا هر حکم په زړهٔ وړي
څهٔ چې وایې ورته ټول به په لېمه وړي
دنیا څهٔ ده؟ د لیدو کتو بتان
هر "صبا" یې د "پرون" په شان روان
د طلب په بیابان کښې دېوانه شه
مطلب دا چې ابراهیمؑ په بتخانه شه

ته که تېر شولې له مځکې له آسمانه
شې به تېر له هغه، هم له دې جهانه
کړه له خدايه نور طلب اووه آسمانه
سل زمانه نور طلب کړه سل مکانه
د جنت په ولو مست ور پرېوتل
د ښو بدو له جګړو اوزګارېدل
که نجات په اوزګارتيا له جستجو وي
ګور به ډېر ښهٔ د جنت له رنګ و بو وي
مسافره! روح مرده شي چې قيام وي
لا ژوندے شي په الوت کښې چې مدام وي
ملګرتيا د ستورو ښهٔ ده په سفر کښې
دمه نه کول مزه ده په سفر کښې
دومره والوتمه پورته مخ په باندي
چې را پاځهٔ ښکارېدل ښکاري را لاندي
توره خاوره وه د شپې له قنديل غوره
زما سيورے ؤ، زما له سره بره
په هر دم نزدې کېدم په هر زمان
آن ښکاره چې د سپوږمۍ شو کوهستان
رومي ووې "له ګمانه راشه پاک شه
اوس په خوے په خصلتونو د افلاک شه
سپوږۍ لرې ده له موږه خو آشنا ده
بس ړومبے منزل زموږ د لار يې دا ده

نزدې لرې د روزګار يې د ليدو دے
لوے غارونه د کهسار يې د ليدو دي"
د دې غرونو وېروونکې څۀ چپيا وه
بهر ټوک- ټوک ؤ دننه يې ځلا وه
"خافطين" او "يلدرم[1]" سلګونه غرونه
تور لړګے په خوله په ګېډو کښې اورونه
له درون يې شينکے تيغ وهلے نه شو
په فضا کښې يې مارغه الوتے نه شو

وريځ وچه هوا تېزۀ تله په منډه
د مړې مځکې سره جنګ ټنډه په ټنډه
زوړ مبتلے يو جهان بې صوت و رنګه
هيڅ خبر نه ؤ د مرګ او ژوند له جنګه
نه د پاسه پرې زرغون د ژوندون خس ؤ
نه يې ملا د حادثو زغلمے مس ؤ
د اګر چې کورنے يې له آفتابه
خو صبا ببګا يې تش له انقلابه
رومي رح اووې چې په وړاندې بې وسواسه
دا بيدار دولت چې پرې نه ږدې له لاسه
د ظاهر نه يې باطن ښکلے روښان دے
په هر غار کښې يې دننه بل جهان دے

[1] خافطين اويلدرم. د سپوږمۍ اورسېدونکي غرونه.

هر چې راشي اې دانا ته يې قبضه کړه
بند يې ښۀ د غوړو سترګو په حلقه کړه
په بينا سترګو هر څېز ليده کېدے شي
ښه په تله د نظر معلومېدے شي
چې رومي دي چرته بيايي ورسره شه
دوه لحظې خو يې له غيره بېګانه شه"
لاس يې ونيوو زما ځان ته يې راکښلم
د يو غار سر ته يې تېز ورسولم

## يو هندي عارف چې د سپوږمۍ په يو غار کښې خلوت شوے دے او د هند خلګ ورته "جهان دوست" وايي

د هغه په اوږه ما کښېښودو لاس
لکه ړوند غار ته داخل شوم بې وسواس
د سپوږمۍ يې له تيارې نه زړۀ داغ- داغ ؤ
پامتدار يې لمر په دې کښې د څراغ ؤ
يرغلونه وهم شک پر ما بسيار کړل
هوش او عقل يې زما دواړه په دار کړل

تلم پر لار او شوکماران راته په څېر وو
د زړهٔ صدق او یقین مي هواګیر وو
چې ناڅاپه جلوه راغله بې حجابه
روڼ سحر شو را د بره بې آفتابه
ده کڅې د هري ترېې زناربنده
لکه دیو هسې له ونو سربلنده
دا رښتیا د خاورو خټو آباد ځاے دے
که په خوب کښې مي خیالي جوړ کړے سراے دے
په هوا کښې یې محسوس د مے سرور ؤ
سورے هم د دغې خاورې په سر نور ؤ
نه د دې مځکې پیدا چرته آسمان ؤ
نه افق یې د شفق نه ګلستان ؤ
هلته نور چې هیڅ تیارو کښې حصار نه ؤ
د سحر ماښام په مخ یې غبار نه ؤ
یو عارف هندي د ونې لاندې ناست ؤ
چې رنجو ته یې هر یو نظر په خواست ؤ

ناست بربنډ ؤ منجلیه وېښته پر سر
یو سپین مار تې نه را تاؤ وو کوز او بر
دا آدم له اوبو خټو بالا تر ؤ
دا عالم یې جوړ له خیاله یو پیکر ؤ
خلاص د ورځو د ګردش نه یې وختونه
بلوسېدې پرې باندې نه شول آسمانونه

وې روميؒ ته درسره دے څوک راغلے؟
چې د ژوند ارمان يې ستړګو کښې ساتلے

# رومي او جهان دوست

يو سړے دے چې ورک شوے په لټون کښې
دے ثابت خو سيارو غوندي په يون دے
پخته کار دے هم له دې چې کار يې خام دے
خوښ زما دے چې منزل يې ناتمام دے
د آسمان په تاخ کښې ده ايښې پياله ده
له جبريله يې د فکر قباله ده
د باتور غوندي د لمر او سپوږمۍ ښکار کا
دا نهه آسمانه ګرد د ځان د لار کا
بنيادمو ته يې خبره رندانه وي
حوره بت ګڼي جنت يې بتخانه وي
سره لمبه يې په لوګو کښې ما ليدلې
کبريا يې په سجدو کښې ما ليدلې
د شپېلۍ غوندي له شوقه په ژړا وي
هم بېلتون او هم وصال ورله قضا وي
خدای زده څرنګه سرشت لري حيران يم
بې خبره له مقامه د دې ځوان يم

# جهان دوست

بې رنګي ده حق، له رنګه جوړ عالم دے
څۀ دے حق؟ او څۀ عالم؟ او څۀ آدم دے؟

## رومي رح

سړے توره ده، حق توره چلوي
دنیا کانړے دے چې دا پرې تېروي
د مشرق خلک خو حقویني جهان نه
د مغرب خلک جهان ویني یزدان نه
پرانستل سترګې په حق دا بندګي ده
بې پردې لیدل خپل ځان دا زندګي ده
کوم بنده چې د ژوند ترمې- ترمي دام کا
خدای په هغه بنده تل صلوٰة سلام کا
چې خبر د خپل تقدیر نه بنده نه وي
د تن خاوره یې د زړهٔ سره مله نه وي

## جهان دوست

په وجود او په عدم کښې را حصار دے
مشرق ډېر کم پېژندلے دا اسرار دے
موږ چې هر وخت یې دنیا ته په کاته یو
ناامیده د هغه له صبا نه یو
ما پرون د قشمرود[1] په دنګه څوکه
فرشته لیده له پاسه شوه را کوزه
ذوق د دید یې له نظر نه څڅېدلو
بس دا یو زما خاکدان یې ځېر کتلو
ما وې راز چې له محرم کا پټ بنهٔ نه دے
ته څهٔ ګوري په دې چپ خاوره کښې څهٔ دے؟

---

(۱) قشمرود: د سپوږمۍ د کوهستان یو لمر.

جوړ ته حسن د زهره کړلې په ماتې
زړهٔ کوهي کښې د بابل شو درنه پاتې
وې چې "وخت شو د مشرق اوس راښکاره دے
یو تازهٔ آفتاب په غیږ کښې ورسره دے
لکه لعل شوه هر ګټه یې په لار کښې
هر یوسف یې له ځاه ووت انتظار کښې
یو قیامت یې دے نیولے په کنار کښې
زلزله ده ترې پیدا په کوهسار کښې
د مقامِ آذري نه یې رحلت شي
دے چې ترک د بتګر یې سره عادت شي
سخ د هغه قام چې سوز د ځان آشنا کا
چې خپل ځان له خپلو خاورو بیا پیدا کا
په مَلَکو لوے اختر هغه ساعت شي
را بیدار چې د غفلت نه یو ساعت شي"
هندي پیر یوه لحظه راښکله سا
بیا په ځیر یې ما تو وکتو بیا- بیا
وې د عقل مرګ ؟ نو ما وې ترک د فکر
وې د زړه؟ نو ما وې چې ترک د ذکر

وې چې تن؟ نو اووې ما چې ګرد د راه دے
وې چې ځان؟ وې مې سِر د لااله دے
وې آدم؟ نو ما وې چېرته سر د هو دے
وې عالم؟ وې مې دا دے روبرو دے

وې دا علم او هنر څۀ دے؟ ما وې پوست
وې دلیل یې څۀ دے؟ ما وې مخ د دوست
وې چې دین د عامي؟ ما اووې شنید
وې چې دین د عارف؟ ما اووې چې دید
په کلام یې زما ډېر خوشحال شو زړه
یو څو رازهٔ یې راته وښودل خوارۀ

# د هندي عارف یو نهه خبري

(۱)

ذات د حق لره عالم نه دے حجاب
اړیکي د غوټې نه وي نقش د آب

(۲)

ډېر بهتره زیږېدل په بل جهان شي
چې سړے پرې بیا دویم کرته ځوان شي

(۳)

حق له مرګه لري؟ عینِ زندګي وي
بنده څۀ زده؟ چې ښکار څنګه د مرګي وي

که هر څو موږه مرغان بې بال او پر یو
خو له خدایهج زیات د مرګ په راز خبر یو

(۴)

څۀ دے وخت؟ خواږه په زهرو دي لړلي
رحمتونه دي په قهر دي لړلي
خالي ویني به یې له قهره دښت او ښار
رحمت دا چې وایي تبر شئ بې له ډار

(۵)

کافري خو مرګ دے اې روښن نهاده!
غازي ځان ساتي په مړیو له جهاده
مرد مومن ژوندے د ځان سره په جنګ وي
په خپل ځان یې تل د پړانګ غوندي غورځنګ وي

(٦)

په زړۀ ویښ مشرک خدمت د خپل صنم کښې
له زاهده ښۀ چې خوب کړي په حرم کښې

(۷)

نازیبا چې وینې دا سترګه ړنده ده
د آفتاب سترګې لیدلې کله شپه ده

(۸)

دانه ونه شي د ختو په صحبت کښې
سړے دغه صحبت ګیر کړي په ظلمت کښې
دا نه ومني له ختو پېچ او تاب
دا په دې چې ښکار کړي وړانګه د آفتاب

(۹)

ما وې ګل ته، څۀ خو وایه سینه چاکه!
څنګه اخلې رنګ او بوے له باده خاکه؟
ګل ویل چې عقلمنده! ښۀ پوهېږې
له خاموشي برېښنا څرنګه خبرېږې؟
زموږ ژوند دا دے چې دا را کاږو او دا
ستا رانښکل وي په څرګنده پټ زما

# د سروش جلوه

بند د دې نه پس نو د عارف د دهن ور شو
مست شو پخپل ځان کښې د عالم نه بې خبر شو
يوړلو له ځانه ذوق و شوق و بې خوديو
لاړو تر وجوده د شهود له نيرنګيو
ؤ به که بځرے په حضور کښې به يې طور ؤ
دے به چې موجود نه ؤ، نو نور ؤ نه ظهور ؤ
راغله په جادو کښې د دې شپې يو نازنينه
شپه که وه بې ستورو دايې ستورې شو له سپينه
زلفو يې سنبل غوندې په ملا وهل ټالونه
ځلند يې له مخ ؤ ګړنګونه وو که غرونه
غر ته په جلوه کښې د خپل حسن مستانه وه
مسته خوش الحانه بې سرود او پيمانه وه
مخې ته يې تېز- تېز چورليدو فانوس د خيال
رنګ- رنګ تماشې لکه فلک ديرينه سال
ؤ هغه فانوس کښې پيکرونه رنګ په رنګ
وه بانبه چرچڼې له هوسۍ لره پلنګ
ومې وې روميؒ ته اې د راز ځنې آګاه
دې ناپوه رفيق ته څه په راز خو شه ګويا

وې "دا پیکر ګورې سپین غټن چې دے روښان
دا دے زېږېدلے اندېشه کښې د یزدان
بیا چې بې قرار شولو د ذوق نه د نمود
کوز شولو خرګند شو، شبستان کښې د وجود
مورِ غوندي بې کوره غریبي یې په نصیب
ته غریب یې، زهٔ غریب، هغه هم دے غریب
شان د جبرائیل ع لري نامه یې ده سروش
هوش له بنده وړي او هم راوړي ورلره هوش
مړه غونچه زموږه په شبنم د دهٔ تازهٔ شي
مړ اور ته چې هم ورکړي پوکے بله لمبه شي
ساز د هر شاعر د زړهٔ په دې زخمک ږغېږي
دے دے چې پرده د کجاوې ترې خیري کیږي
پروت یې په نغمه کښې یو جهان لیدلے ما دے
راشه تاؤ ترې واخله یو ساعت چې په نوا دے"

## د سروش نوا

زهٔ پوهېږم چې کشتۍ به کړې، ورګډه په سراب کښې
په حجاب کښې به پیدا شې، هم به مړ شې په حجاب کښې
چې سرمه مي ووینځله، د رازي رح[1] له خپلو سترګو
ما تقدیر د امتونو، پټ صحي کړو په کتاب کښې

[1] رازي: د قرآن شریف مشهور مفسر

په پټو په غرونو پرېوزه، په صحرا بیابان ورشه
چې د ځان سره ګوانبېږي، تندر هم شي په سحاب کښې
مغربیانو سره وم زه، ډېر لټون مي وکړو نه ؤ
داسې کس چې مقامات بې، راتلې نۀ شي په حساب کښې
بې له ډېره لویه درده، قرب د هغه ممکن نه دے
ګلشن جوړ کړه په ګرېوان کښې، اې خوشبویه[1] په ګلاب کښې
اې زاهده! ظاهربینه، اې ورځه خودي فاني ده
ولې نه ویني طوفان ته، کوم چې پټ وي په حباب کښې
له مضرابه د مطرب خو، دا زړۀ شواندې نغمه نه ده
له جنت وتلې حوره، په ژړا ده په رباب کښې

## د یرغمید کځې ته

### روانېدل چې ملایک ورته د طواسین کځې وایي

رومي رح هغه محبت لره دلیل دے
چې و تږیو ته کلام یې سلسبیل دے
وې "هغه شعر چې تود لکه د اور دے
د ګرمۍ د الله هو نه پکښې زور دے

(۱) بوے په ګلاب کښې د صوفیدو په مشهور غزل تلمیح دې:
او درمن و من در او :: چون بو به ګلاب اندر

غه نوا چې ګلستان کړي خاشا کونه
غه نوا چې مات او ګوډ کړي آسمانونه
غه نوا د حق وجود لره ګواه
د فقیر ځنې چې جوړ کاندي بادشاه
د بدن وینه لا نوره کړي سیاره
وي په زړهٔ د جبرائیل نه لا پیداره
بیا هغه شاعر د سحر په هنر
غل د زړهٔ شي او ابلیس شي د نظر
دا هندي شاعر الله د هغه یار شه
پاک یې زړهٔ له لذتونو د ګفتار شه
عشق د دهٔ ځنې زده کړې مطربې ده
خلیلانو تې ښیلې آذري ده
هر یو ټکے یې پیکه بې سوز و درد
اهلِ دل ورته مرده وایي نه مرد
له هغې خوش الحانۍ بې مقامه
ښه په خوب کښې چې څهٔ ووایي ګلفامه
د ملت مینه کښې زړهٔ شاعر بیدار دے
بې له دې ملت د خاورو یو انبار دے
د شاعر فطرت خو واړه جستجوے دے
دې پالونکي او خالق د آرزوے دے
سوز د زړهٔ پیدا کوونکے د عالم دے
شاعري خو بې له سوزه یو ماتم دے

چې مقصد د شاعرۍ آدم ګري ده
ځکه دا میراث خوره پیغمبري ده
وې مي څۀ پیغمبري وي څۀ خو وایه
دغه راز خو خپل محرم وته نمایه
وې "قامونه ملتونه یې آیات دي
دا زموږه زمانې یې مخلوقات دي
کاڼي بوټي شي ګویا د دوۍ له دمه
دوۍ پټې مونږ یې حاصل یو اې همدمه
پاک د تن رېشه- رېشه نظر- نظر کا
تصور ته د جبریل[ع] وزري ورکا
دا غوغا او هاۍ و هوۍ د کائینات
شي په خوله یې د "نجم" او "نور" او "نازعات"[۱]
داسې لمر دۍ چې هغه له زوال نشته
چې منکر یې وي هغه لا کمال نشته
شته رحمت یې په صحبت کښې د احرارو
د خدای قهر یې په ګزار کښې د کرارو
عقل کل شي هم ترې مه شه ګریزان
دا په دې چې یو ځاۍ وینې تن و جان
درومه "تند د یرغمید پر لویه لار
څو چې ووینې چې هلته دۍ آشکار

---

[۱] نجم، نور، نازعات، د قرآنِ کریم د سورتو نومونه.

د سپوږمۍ په دېوال لیک ؤ دا رنګین
ګوره ته د نبوت څلور طاسین"
شوق پخپله لا پوهیږي بې دلیل
وي الوت یې په وزر د جبرائیل^ع^
که اوږده وي لار خو شوق یې کړي دوه ګامه
تل رنځور دا مسافر شي له قیامه
یرغمید ته مو بیا منډي ګړندۍ شوې
چې څرګندي یې له ورایه بلندۍ شوې

څهٔ تعریف بهٔ درته کړم د دې مقام
چې طواف یې اووه ستوري کړي مدام
د فرش خلک یې په نور روشن ضمیر دي
د عرش خلک په هغو خاورو بصیر دي
ما ته خدای سترګي او زړهٔ او ګفتار راکړ
لوے لټون یې د عالم د اسرار راکړ
له رازونو پرده پورته شوه یارانو!
درته وایم د طاسین د رسولانو

# د ګوتم طاسین((د یوې بې حیا ډمې ښځې توبه کول))

## ګوتم

دازاړه تراخه شراب او، هم معشوق که وي ځوان څۀ دے؟
چې صاحب ځوک د نظر وي، ورته حور او جنان څۀ دے؟
داچې دروند اومضبوط ښکاري، دا به ورک شي دا به لاړ شي
دریابونه صحراګاني، بحر و بر د جهان څۀ دے؟
دا دانش د مغربیانو، فلسفه د مشرقیانو
بت خانې دي طواف پرېږده، دا بتان دي بتان څۀ دي؟
له صحرا په ویره مه ځه، له خپل ځانه وویرېږه
چې ته بې او نور څۀ نشته، اندېښنې د جهان څۀ دي؟
د ښو په ځوکو زۀ چې، غوځومه خپله لاره
بیا غمونه د منزل او، رېګ روان د کاروان څۀ دي؟
تېر له غیبه شه وهمونه، ګمانونه آواره کړه
اوسېدل په دې جهان کښې، او وتل له جهان ښۀ دے
چې یې خدای بخښي وتاته، هغه هیڅ دي جنتونه
که جزا دي د عمل شو؟ بیا ګلان د جنان ښۀ دي
د خپل ځان راحت دي غواړې، د خپل ځان راحت به څۀ کړې؟
د بل غم کښې ستا له سترګو، دریابونه روان ښۀ دي

برند نظر خماري سترګي، ناز انداز او سرودونه
له دې واړو هم يو ښۀ شته، که دا هم په جهان شه دے
ښه ښايست د اننګيو، کله وي او کله نه وي
خو خيالات او کردار ښکلي، د نمانځلو په شان ښۀ دي

## ډمه

دوه ژرندي چې مي نه کړے، دا زړګوټے بې قرار
يو دوه ولونه يې زيات کړه، د تاؤ- تاؤ زلفو دي زار
ده ستا د تجلې نه مي، سينه داسې روښانه
چې لمر سپوږمۍ ته ما ورکړه، تراخه د انتظار
کړل ذوق د حضور جوړ، د بتګر يې هم رسمونه
غولوي مينه په رنګ رنګ، فريبونو اميدوار
چې بيا يوه نغمه نوې، په جمع خاطر وکړم
بيا پرېږده مرغزار ته، دا مارغه د مرغزار
اوس پرامي نزۀ پښې چې، دي بلنده طبع راکړه
چې ستا په شړ يې ورکړمه، خلعت د کردګار
که غر په ترخځ غوخ شي، نو په دې ښکې څۀ وينا؟
له عشقه شه خبر چې، په اوږه کړې کوهسار

# د زرتشت طاسین ((اهرمن د زرتشت امتحان کوي))

## اهرمن

ستا نه مي مخلوق دے، د شپېلۍ غوندي نالان
ستا نه مي سپرلے دے، لکه منے زمستان
زۀ دي بې دریغه، خوار زبون کړم په جهان کښې
رنګ دي کړو خپل نقش، زما په وینو په دوران کښې
حق به تل ژوندے وي، په جلوه ستا د سینا
مرګ به وي زما، د تېرو ستا یدِ بیضا
زړۀ تړل په لوظ، د یزدان بې وقوفي ده
تلل یې په رضا باندي، دا لویه ګمراهي ده
زهر پکښې ګډ وي، که صبا یې ګلابي وي
څۀ یې وي انعام؟ خو، غرغره آره چنجے[1] وي
نه ؤ بې دعا نه هیڅ، د نوح ع سره تدبیر
نه ؤ د غریب خپله وینا کښې څۀ تاثیر
پرېږده وداني او، چرته پټ کښېنه په غار کښې
مل شه د هغوے چي، خوک نوري دے په کردار کښې

[1] اره، چنجے، غرغره، تلمیح د انبیاوو په قیصو

جوړه په یوه نظر، د خاورو نه کیمیا کړه
ته له مناجاته، آسمانونه هم جلیا کړه
شه لکه کلیمؑ، په کوهستان کښې آواره ته
پورته شه، تیار شه، کړه نیم سوزه نظاره ته
تېر شه ولې تېر شه، پرېږده دا پیغمبري
ښایي چې ته پرېږدې، په ځاے دا مړه ملاګري
کس که وي په منځ، د ناکسانوکښې ناکس شي
څو يې که فطرت وي، د شعلې خو جوړ ترې خس شي

واوره نبوت د، ولایت ځنې کمتر دے
عشق دپاره دا پیغمبري، یو درد د سر دے
پورته شه رسېږه، تر مقامه د وحدت
پرېږده جلوتونه، ورشه ونیسه خلوت

## زرتشت

نور دریاب دے او تیاره د هغې غاړه
بل سیلاب يې له زړهٔ ما غوندي مه غواړه
تل په زړهٔ کښې مي موجونه بې قرار وي
بې له غاړي ورانولو يې څهٔ کار وي؟
نقش د هغه پاک بې رنګ چې لیدے نهٔ شي
بس په خون د اهرمن راکښلے نهٔ شي
د خپل ځان ښکاره کول دغه ژوندون دے
او د خپل ګزار ازمېښت دغه ژوندون دے

په تنګسو زغملو لا خودي پخه شي
د خودۍ په لاس له حق لري پرده شي
حق بین بې له حقه نه ویني خپل ځان
لااله وايي په وینو کېږي غلطان
عشق په خپلو وینو سور وي تېر له سر وي
غرغره آره زندے ورله اختر وي
هر چې پېښ په لار د حق کېږي شي تول ښۀ وي
په لېمو د خپل آشنا تراخه خواږه وي
ځان ته څۀ کوي؟ د حق جلوه چشمان
انجمن کېږي حسن ښۀ ښکاري روښان
خلوت څۀ دے؟ درد او سوز او آرزو ده
انجمن لیدل خلوت یو جستجو ده
عشق کلیم دے خو دننه په خلوت کېږي
په صورت د بادشاهۍ شي په جلوت کېږي
دے خلوت جلوت کمال د سوز او ساز
دا حالات او مقامات دي د نیاز

هغه څه؟ دیر او حرم نه تېربدل دي
او دا څه؟ ځان له جنت ته هم نه تلل دي
شته خلوت او جلوت دواړه کېږي مولا
خو آغاز دے یو دویم دے انتها
څۀ دي وې؟ پیغمبري یو درد سر دے
عشق چې ورسي تکمیل ته "آدم ګر" دے

تلل په لار د حق کاروان سره مزه کا
روح یوازي نه، جهان سره مزه کا

## د مسیح طاسین د حکیم طالسطائي[۱] خوب

ان په منځ کښې د یو غر نوم یې هفت مرګ
یو کښې وه، بې مارغه بې ښاخ او برګ
چې له ګرده یې "نن زړه" غوندي قمر ؤ
لمر یې ټکرے په فضا کښې کور او کر ؤ
په کښې کښې یې روان د پارې رود ؤ
تاؤ را تاؤ د کهکشان د سیند په دود ؤ
وړاندې وروستو لوړ ژور ورته یو شان ؤ
تاؤ را تاؤ څپې- څپې او تند روان ؤ
یو سړے ؤ تر ملا ډوب پکښې اوتر ؤ
ډېر فریاد یې خوت له خولې خولې اثر ؤ
په قسمت کښې یې وریځ نه آب او باد ؤ
جل وهلي ته اوبهٔ نه وې سیماب ؤ
یوه ښځه یې په غاړه نازک تنه
په لېمو د کاروانونو وه رهزنه

[۱] طالسطائي- د روس د حکیم مصلح نوم.

هر زاهد ته کافري ور زده کوونکې
په نظر ښهٔ بد کول بد ښهٔ کوونکې

ما هغې ته وې چې څوک یې څهٔ دي نوم دے؟
دا فریاد چې کوي څوک دے، څهٔ یې بوم دے؟
وې لېمو کښې مې جادو د سامري دے
افرنګینه نوم او کار مې ساحري دے
چې نا څاپه هغه رود بیا یخ بسته شو
چې هد- هد د هغه ځوان پرې شکسته شو
کړه یې چیغه چې هاے- هاے زما تقدیره
هاے افسوس! زما فریاده بې تاثیره
افرنګیني ورته وې که دي لېمه وي
ورته ځیر شه خپل اعمال به در په زړهٔ وي
د مریمې ع ځوے څراغ د کائینات
چې یې نور ؤ هر جهت او بې جهات
فلاطوس[1] او غرغره او زیړ بشر
هغه څهٔ کړل؟ او تا څهٔ کړل؟ یې خبر
د ایمان لذت حرام دے په بدانو
اې بنده! د سپینو زرو د بتانو
تا د روح قدس بها نه پېژندله
نن د اخست د روح پنګه دي بایلله"

---

(۱) فلاطوس- د روسي حاکم نوم دے.

دې پېغور د نازنینې په یو آن کښې
مات نشتر کړلو په زړهٔ د هغه ځوان کښې
وې چې "اې په بشر ښکلې په زړهٔ توري!
برهمن او شېخ ګمراه کړې چې ور ګوري
عقل و دین دې دواړه خوار کړل اې کافري
عشق له تا ټکوي سر اې سوداګري
مینه رنځ ده ستا او رنځ یې هم نهان دے
ستا کینه ده مرګ او مرګ هم ناګهان دے
تا صحبت د آب او ګِل دے ور زده کړے
تا په غلا د خدای بنده له خدایه وړے

هغه حکمت چې دِ اشیاوو معرفت کا
تا ته فکر جنګیږي در عنایت کا
په دې پوه هغه سړے دے چې دانا دے
جرم ستا زما له جرمه ډېر سیوا دے
د مسیحع په دم به روح بېرته په تن شي
خو د تا ځنې تابوت د روح بدن شي
څهٔ چې مونږ یې د "ناسوت" سره دي کړي
خپل ملت یې د "لاهوت"[1] سره دي کړي
ته چې مړه شې را ژوندے به ټول جهان شي
صبر وکړه کوم انجام به دي د ځان شي"

(۱) ناسوت- حسم، لاهوت، روحانیت

# طاسين د محمدص ((د ابوجهل د روح ژړا د کعبې په حرم کښې))

ده سينه د محمدص نه مي داغ- داغ
چې مړ کړے د کعبې يې دے څراغ
هم قيصر او هم کسرٰے يې دي وژلي
ځۀ ځوانان يې دي زموږ له لاسه وړلي
ځۀ ساحر دے هر کلام يې ساحري ده
دا دوه ټکي لاالٰه هم کافري ده
د نيکونو دين يې پرېښود دا يې ځۀ کړل؟
د خدايانو سره يې وکړل ځۀ يې وکړل
لات" "منات" يې کړل ټوټې ژاړم له غمه
دا بدل خو ترې نه ته واخله عالمه

له حاضر يې زړۀ غائب وته راغب کړو
هر يو زړۀ يې د حاضر نقشه تائب کړو
انتظار چې د غائب کوي مذموم دے
چې په سترګو ليدے نۀ شي وايه کوم دے؟
چې غائب ته سجده کاندي هغه کور دے
نوے دين کور او کور لري له کور دے

هغه خدای ته تتبدل چې بې جهات وي
وایه څرنګه بهٔ خوند د دې صلوٰة وي؟
د هغه مذهب دښمن د ملک نسب دے
دا قریش منکر له فضله د عرب دے
په نظر یې همه لوے واړه یو شان وي
د غلام سره به ناست په یوه خوان وي
د عرب احرار یې هېر کړل ترې نه موړ دے
د حبش تورو مریانو سره جوړ دے
سره او تور یې یو تر بله خوا په خوا کړل
څۀ درانۀ خاندانونه یې رسوا کړل
مساوات او مواخات یې اعجمي دے
زۀ ښۀ پېژنم سلمان رض[1] چې مزدکي دے
دے دا زوے د عبدالله یې تېر ویستلے
یو طوفان یې په عربو راوستلے
د هاشم اولاد له هوډه او ننګه دور شو
په دې دوه رکعته لمونځ یې مخ بې نور شو
اعجمي څخه نسب د عدنان چرته؟
وایه ګونګ سره ګفتار د سحبان چرته؟
ټول راندہ شول د عربو مشران
اې زهیره![2] پرې به نه ږدې ګورستان

[1] سلمان- حضرت سلمان فارسي، عدنان- د عربو نیکه. سحبان- یو فصیح زبان عرب. مزدک- د ایران یو فصیح زبان سړے ؤ، چې یو نوے مذهب یې جاري کړے
[2] زهیر- د عربو مشهور شاعر.

په دې دشت کښې مونږ دپاره يې دلیل ته
راشه مات کړه دا جادو د جبرئیل ته
وایه بیا سنګِ اسوده وایه- وایه
وشو څۀ له محمده ص وایه- وایه
قبلوونکیه د بنده عذر هبله!
د خپل کور نه بې دینان وباسه خپله
دا رمه يې د لېوانو حواله کړه
دا خرمايې لا په ونه کښې ترخه کړه
مل صرصر ته د صحرا د باد سره کړه
"انهم اعجاز"(۱) نخل خاویه کړه
لات منات چې لاړ نۀ شي د منزل نه
او که دورمي چې مي لاړ نۀ شي د دل نه
اې زموږ په دواړو سترګو ستا وثاق
لږ مهلت "ان کنت از معت الفراق"(۲)

---

(۱) انهم اعجاز- د قرآن آیت.

(۲) ان کنت از معت الفراق- د امرء القیس د یو شعر ټکړه چې مطلب يې دا دے چې که د جدا کېدو اراده دې کړې وي، نو لږ مهلت راکړه.

# د عطارد اسمان د جمال الدین افغانیرح او د سعید حلیم پاشارح

## د روحونو زیارت

دا یو موټے خاوره وړاندې لاړه په فضا کښې
تګ په تګ په خپلې تجلی په تماشا کښې
یا خو زۀ ګیر شوے یم په دام د هست و بود
یا زما په دام کښې راګیر شوے دے وجود
خیره په فلک کښې او دا چاک به وي له ما نه
زۀ یم له افلاکو که افلاک به وي زما نه
یا خو دے فلک زما ضمیر دے راګیر کړے
یا زما بیدار ضمیر فلک دے را زیر کړے
پوه نه یم چې څۀ دي؟ څنګه دي؟ عقل مي حیران دے
زۀ یم په جهان کښې که په ما کښې دا جهان دے
لاړمه روان شومه په پر شوم بل آسمان ته
لاړم ور داخل شومه یو بل نوي جهان ته
دې جهان کښې هم غرونه، دښتونه، بحر او بر ؤ
دا زموږ د خاورو له دنیا دیرینه تر ؤ

داسې یو جهان چې د ایرک نه جوړ پیدا ؤ
لاس نه د آدم تر اوسه پټ پاتې تنها ؤ
نه ؤ په تخته یې د وجود لا څۀ نقشونه
نه ؤ څوک چې کړے یې په فطرت اعتراضونه
ما ویل رومي رح ته چې دا څنګه ښۀ صحرا ده
څۀ ښکلې په غره کښې رواني یې د دریا ده
ورک د دې دنیا نه چې د ژوند همه نښان دے
بیا راځي له کومه دغه ږغ چې د اذان دے
وې راته رومي رح چې دا مقام د اولیاء دے
دا جهان زموږه د دنیا سره آشنا دے
کوم وخت چې آدم ؤ د جنته را وتلے
پاتې ؤ دوه ورځې دے عالم کښې غم ځپلے
دغه فضاګانې د دردو په اور ژوندۍ دي
لیدلې یې په سترګو د سپېدو د وخت زارۍ دي
دا بختور ځاے دے، بختور یې زائران دي
واړه صاحبان د مقاماتو دي پاکان دي
پاک خلک راځي لکه فضیل رح او بوسعید رح
واړه عارفان لکه جنید رح او بایزید رح
پاڅۀ چې دا لمونځ د جماعت خو په لاس راشي
دا سوز و ګداز څۀ یو ساعت خو په لاس راشي"

ورغلو کتل مو دوه سړي وو په قیام
ترک یې مقتدي ؤ افغاني یې ؤ امام

پیر د رومؒ چې تل وي په حالت کښې د حضور
مخ يې شو روښانه په ډېر ذوق او په سرور
وې چې مشرق داسې دوه نور نه دي زېږولې
نوک يې د تدبير چې زموږ غوټې پرانستلې
دا جمال الدينؒ دے چې سيد دے د ساداتو
ژوند يې د ګفتار نه حاصل کړے کائيناتو
دا دويم د ترکو دے سالار حليم دردمند دے
فکر د هغه د خپل مقام په ځير بلند دے
دوه رکعته دوے سره کول عظيم طاعت دے
وګڼې خو کار دے چې بدل ور له جنت دے"
غه ښکلې قرات د دے سپين ږيرې بلا نوش
وې يې چې والنجم او هغه دښت ورته خاموش
دا رنګي قرات وي چې خليل وربانديې مست شي
بيا سپېځلې روح د جبرئيلؑ وربانديې مست شي
زړهٔ پرې د سينو دننه مست شي ناقلار شي
شور د الاالله پرې له قبرونو رابيدار شي
تور لوګي له هم يو اضطراب د شعلې ورکړي
زړهٔ له خپله سوزه د داؤدؑ په شان خبر کړي
هر هغه چې غيب وي له قراته يې عيان شي
واړه راښکاره ترې حکمتونه د قرآن شي
پس له لمونځه زهٔ له خپله ځايه پاڅېدمه
ښکل مې کړل لاسونه د هغه چې وراغلمه

وې ورته روميؒ چې "دا بخرے جهان ګرد دے
پټ د دهٔ په زړهٔ کښې يو جهان د سوز او درد دے
ډوب دي په خودۍ کښې د خپل ځان په ننداره دے
چاته يې خپل زړهٔ ورکړے نه دے آزاده دے
کاندي به لټون د کائينات کښې ډېر مښود
ځکه له شوخۍ زهٔ ورته وايم زنده رود"

# افغاني او زنده رود

## افغانيؒ

وايه زنده روده! څهٔ زموږه له خاکدانه
وايه څهٔ خو ته زموږ له مځکي له آسمانه
خاوره يې خو ستا د فرشتو غوندي نظر دے
څهٔ دي هم راوړے د مسلم ملت خبر دے؟

## زنده رود

وينم د ملت هغه ضمير جهان شکن کښې
جوړه ده جګړه يې په "دين" او په وطن کښې
روح يې دے مړ شوے چې کمزوري يې يقين دے
هم اوس نااميده د قوت نه د خپل دين دے

ترک دے که عرب په فیرنګي پسې روان دے
پړے د فیرنګ دي ور په غاړه که ایران دے
زمول زموږ مشرق شو د مغرب له سلطنته
یوړو کمیونیزم خوند له دین او له ملته

# افغاني رح ((دین او وطن))

وګوره شاطر ته د مغرب چې لوے عیار دے
جال کښې د وطن یې راګیر کړے هر دیندار دے
هغه دے په فکر د مرکز تا کښې نفاق دے
لري کړه دا خیال چې "دغه شام دغه عراق دے"
پوه کړه ځان په دې که ته تمیز لرې سپېځلے
تا په خاورو ګټو پورې زړهٔ ولې تړلے
دین څهٔ دے؟ خو دا چې ځان د خاورو نه بالا کړه
روح دې د خپل ځان د معرفت سره آشنا کړه
څوک چې الله هو وایي هرګز نه حصاريږي
غه په دې خلور ګوټه دنیا کښې نه ځاییږي
خاورو نه پیدا وانبه له خاورو په هوا شي
حیف دے که سپېځلے روح په خاورو کښې فنا شي
څو که ظاهر شوے دے آدم د آب و ګِل نه
ګل غوندي که اخلي رنګ او نم د آب وګِل نه

حيف دے چې دے تل په آب و ګِل کښې راحصار شي
ښايي چې له دې مقامه پورته په رفتار شي
تن وايي مادي يې د مادې سره يار اوسه
روح وايي جهان دے بې کنار- بې کنار اوسه
نه ځايېږي روح په جهانونو کښې هوش منده
حُر خو بېګانه وي تل له هره قيده بنده
حر په تورو خاورو کښې ژوندون کولے نۀ شي
خاورې د منږک غوندي بازان لرلے نۀ شي
هغه موټے خاورې چې نامزد دي په وطن
ته چې ورته وايې دا ايران دے دا يمن
خود د خلکو تل د خپل وطن سره نسبت وي
ځکه چې له خاورو يې جوړ شوے کل ملت وي
اوس که دې نسبت ته نظر وکړې ښۀ په مينه
ځير به کړې نکته چې له وېښته هم ده مهينه
دا خو ده ښکاره چې له مشرق شي را د بره
لمر سره د شوخو پلوشو د لاؤ لښکره
اور يې ځکه بل دننه زړۀ کښې بې قرار دے
خلاص چې شي مشرق او په مغرب کښې ګرفتار دے
دے چې د مشرق نه را ښکاره خپله جلوه کا
داسې راخوره شي چې دنيا همه قبضه کا
اصل د فطرت نې له مشرق مغرب بري دے
څۀ که د نسبت نه ښکاري دا چې مشرقي دے

# اشتراکیت او ملوکیت

"صاحب د سرمایې[۱] چې غه له نسله د خلیل دے
دا هم دے پیغمبر خو پیغمبر بې جبرائیل دے
په دې چې په باطل کښې یې دے پټ د حق څراغ
مومن خو یې دے زړهٔ ولې کافر یې دے دماغ
نن ورځ له مغربي قامونو ورک دي آسمانونه
بس یو د ګېډې کار ورته هم دین هم مذهبونه
روح نه اخلي له تنه زنګ او بوے ځکه چې پاک دے
او بې له تنه وایه چې څهٔ کار د اشتراک دے
یو داسې دین د هغه پیغمبر حق ناشناس دے
چې جوړ په مساواتو یې د ګېډې کل اساس دے
ته غواړې که مقام د ورورولۍ نو هغه زړهٔ دے
دا ځکه چې بنیاد یې دے له زړهٔ له ګېډې نه دے
هم ملوکیت دے چې نفسونه پرې خاربه شي
توره یې سینه شي نور یې ختم ورک یې زړهٔ شي
وي لکه مچۍ چې د هر ګل د پاسه پښې ږدي
یوسي ګبیني ترینه او تشي پاڼې پرېږدي
بوے او رنګ او پاڼې ښاخ د ګل هم هغه شان وي
هم یې په ښایست ژړا کوونکي بلبلان وي
پرېږده د ظاهر د رنګ او بوے جادو یې څهٔ وي

---

[۱] صاحب د سرمایې: کارل مارکس مصنف کتاب "سرمایه" چې د اشتراکیت اصول یې په دې کتاب کښې جمع کړي دي.

ګوره يې باطن ته چې هيڅ پاتې پکښې نه وي
مرګ د باطن نه ښکاري ليدل يې ډېر مشکل وي
ګل ورته ونه وايې معنا کښې هغه ګل وي
روح د دغو دواړو بې قراره وي پرېشان وي
نه پېژني خدای او تېر ويستونکے د انسان وي
ژوند يو له خروج بل له خراج شي په آسانه
وي انسان ښيښه د دغو دوو ګټو تر ميانه
يو نه پرېږدي ژوند په دين او علم او په فن کښې
بل د چا په لاس کښې ټوک ډوډۍ او روح په تن کښې
غرق مې دواړه وليدل په خټو کښې نسکور وي
سپين سپېڅلي دي په رنګ دړه خو په زړهٔ تور وي
ژوند څهٔ دے؟ خپل ځان په سوځېدو کښې سازول وي
خاوره کښې د ژوند د زړونو تخم غورزول وي

# سعيد حليم پاشا شرق او غرب

زيرکے د مغرب خلکو لره ساز دے د ژوندون
مشرقيانو لره عشق يوازي راز دے د ژوندون
چې[1] ملګرے دغه عشق د زيرکي سره کوم دم شي
را پيدا د دغو دواړو نه يو بل نوے عالم شي

---

(۱) دا بيتونه نه دي ژباړل شوي: زيرکي از عشق ګردد حق شناس :: کار عشق از زيرکي محکم اساس

پاڅه- پاڅهٔ د بل نوي جهان جوړ کړه بنیادونه
ته د عشق او زېرکۍ په امتزاج کوه کارونه
اوسېدونکےِ[1] د مغرب په خپله توره لګېدلےِ
دي پراته د خپل نخچیر غوندي پخپله پرهر ژلي
چې مستي او سوز ونه غواړې د دوے له انګور تاکه
نوے دور به را پیدا نۀ شي د هغو له افلاکه
په ژوندون کښې سوز و ساز خو ستا له اوره را اظهار دے
اوس یو بل نوے جهان پیدا کول خو هم ستا کار دے
ټپې د مصطفیٰ[2] د تجدد مي اورېدلې
چې وایي دا زاړه نقشونه ښهٔ ښکاري وینځلي
په دې به نوے نشي د کعبې رخت د حیات
که راشي د فیرنګ نه ورته نور لات و منات
د ترکو په رباب کښې چرته پاتې نوے ټنګ دے
دا نوے چې ګڼي دا خو زوړ شوے د فیرنګ دے
معلومه شوه نور پاتې په سینه کښې یې دم نه ؤ
په دډ کښې د ضمیر یې چرته نوے عالم نه ؤ
هم دا یې ؤ سبب د زمانې سره چې ساز شو
د دې تهذیب له تاره لکه موم هسې ګزار شو
پیدا دے هسې رنګه طبعیت د کائینات
په بل پسې چې تـګ شي جوړې نه نیسي حیات

[1] دویم بیت: شغلهٔ غم افرنگیان غم خورده ایست :: چشم شان صاحب منظر دل خورده ایست

[2] مصطفیٰ- مراد مصطفیٰ کمال دے.

ژوندي زړونه خلاق وي کړي پيدا نوي عصرونه
عادت چې د تقليد شي بې حضوره يې شي زړونه
په تا کښې که همت او حوصله د مسلمان وي
پخپل ضمير کښې فکر ستا نظر به پر قرآن وي
موجود په هر آيت کښې يې سل نوي جهانونه
هر آن هره لمحه کښې يې را نغښتي دي عصرونه
يو بطن يې دے ټولي زمانې ته رسېدے شي
ليکن د زړهٔ نظر دي که معنا ته رسېدے شي
بنده مومن آيت وي يو نښان د پاک مولٰي وي
هر يو جهان د دهٔ د تسن دپاره يو قبا وي
قرآن يې خبردار د ژوندانهٔ په هر هنر کا
زړهٔ چې يې قبا د يو جهان شي بله ور کا

## زنده رود

بېړۍ مو بې ماڼکۍ ده د ساحل مو نښان چرته؟
حيران يو چې پيدا به شي عالم د قرآن چرته؟

## افغاني رح

ورک لا يو عالم شته لا زموږه په سينو کښې
بس خو دے د "قم" په انتظار دے په راتلو کښې

نشته امتياز پکښې د ويني او د رنګ
روڼ لري ماښام د سپين سحر نه د فيرنګ
پاک هغه عالم دے د بادشاه او له غلامه
زړهٔ د مسلمان غوندي بې حده بې تمامه

غه ښکلې عالم چې يې د فيضه د نظر
تخم را زرغون شولو په زړهٔ کښې د عمر
هغه لازوال دے واردات يې نوي- نوي
پاڼې او مېوه له محکمات يې نوي- نوي
تل يې چې باطن د تغير نه وي بې غمه
شته يې په ظاهر کښې انقلاب له هره دمه
دے هغه عالم په تا کښې ښهٔ وکړه نظر
زهٔ يې درکوم له محکماتو دا خبر

# د قراني عالم محکمات

## (۱) د ادم خلافت

ښکاري دوه عالمه کښې آثار د محبت
سر د آدم زوے دے له اسرار د محبت
مه ګڼه چې راز به وي د ميني له ارحامه
دے له سام او حامه، نه د روم او نه له شامه
بې شرقه بې غربه پرېوتل نه يې غروب شته
دا دے هغه ستورے چې شمال نه يې جنوب شته
يو ټکے د "اني جاعل" د دهٔ تقدير دے
څهٔ چې دي له مځکي تر آسمان دا تفسير دے
مرګ او قبر، حشر او نشر واړه يې احوال دي
نور دے او که نار د بل جهان دا يې اعمال دي

دے هغه امام، هغه صلوٰة، هغه حرم دے
هغه سپاهي، هغه کتاب، هغه قلم دے
غيب يې شي حضور خو په ورو- ورو په منزلونه
ملک يې دومره لوے دے چې يې نشته دے حدونه

بس د دهٔ وجود شو اعتبار د کائيناتو
هم يې اعتدال ګڼه معيار د کائيناتو
څهٔ به درته وايم د دې بې ساحل دريابه
غرقې يې په زړهٔ کښې زمانې دي بې حسابه
هغه چې ځايېږي په آدم کښې نو عالم دے
هغه چې عالم کښې نه ځايېږي نو آدم دے
لمر، سپوږمۍ يې دواړه ظاهر شوي له جلوت
لار يې جبرائيل موندلې نه ده د خلوت
لوړ د آسمانونو نه مقام دے د آدم
اصل کښې تهذيب خو احترام دے د آدم
سوال کوې له ژونده، څهٔ خبر يې؟ چې ژوند څهٔ دے
دا يک بينه عشق دے چې کثرت ته په کاته دے
ښځه سړي واړه محبت سره تړلي
بس له دغه شوقه جهانونه زېږېدلي
ښځه محافظه ده د ژوند د حرارت
ليک د ژوند رازونه يې په لوح دي د فطرت
اور له موره واخلي په خپل ځان خومره ستم کا
جوړ يې خپل جوهر د دغو خاورو نه آدم کا

شته یې په ضمیر کښې ممکنات د ژوندانهٔ
دے د دې له سوزه ټول ثبات د ژوندانهٔ
ده هغه شعله چې ډېر بخري ترې زېږېږي
بې د دې له سوزه روح او تن نه یو ځاے کیږي
دا چې په عزت وي موږه هم به په عزت یو
ځکه چې راغلي هم د دې په وساطت یو
مخکښې یې صفا کړه که در کړے خداي بصر
پسته نو پاکې ته د هغې وکړه نظر
اې چې کړې حاضري زمانې غافل له دینه
واوره د پړدې په حق خبره کوم سپینه
ذوق دے د تخلیق لکه چې اور وي په بدن کښې
خومره چې سیوا شي وي رونق په انجمن کښې

هر څوک چې حاصل له دغه اوره خپل قسمت کا
بیا نو د خپل سوز او هم د ساز بنهٔ حفاظت کا
نقش په نظر کښې ساتي خپل په هر زمان
دا د دې دپاره چې پرې بل نهٔ شي عیان
ځکه ؤ حرا کښې مصطفےٰ ص خلوت نیولے
بې له خپله ځانه یې بل کس نه ؤ لیدلے
خدای ج د دوے په زړهٔ کښې دا زموږ نقش پیدا کړو
دا خو یې خلوت ؤ چې ملت یې ترې نما کړو
دا خو ده ممکنه چې منکر شې له یزدانه
کړے نه شې انکار د پاک نبي ص له لویه شانه

زړۀ که د حکیم غوندي هر څو لرې روښانه
شنډ به دي افکار وي چې خلوت نه شې انسانه
لا به دي ژوندے شي تخیل چې کم ګډون کړې
ډېر چې وي ژوندون ډېر به موندل ډېر به لټون کړې
شوق دے او که علم دا د ژوند دي مقامونه
دواړو لره خپله برخه ورکړي الهامونه
علم ته که څیر شې د "تحقیق" نه لذت مومې
عشق وته چې ګورې د "تخلیق" نه لذت مومې
خوښ به یې جلوت وي چې صاحب وي د تحقیق
خوښ به یې خلوت وي چې صاحب وي د تخلیق
سترګو د موسیٰ چې ؤ خواهش د دیدار کړے
پوه شه چې لذت ؤ د تحقیق بې قرار کړے
شته "لن ترانی" کښې څۀ نرۍ نوې نکتې
لږ په دې ژور دریاب کښې ووهه غوپې
پر دې هر خوا پرتې دي نخښې د حیات
ډک دے د چینو نه یې ضمیر د کائینات
ګوره هنګامې او نښانې د جهانونو
مه ورکوه خدای لره زحمت د جلوتونو
نقش د نقاش ساتلې کیږي له خلوته
ګوته کښې غمے د دۀ ځاییږي له خلوته

# د خدای ج حکومت

د حق چې څوک بنده وي بې پرواه له هر مقام وي
نه څوک د دهٔ غلام وي، نه هغه د چا غلام وي
بنده چې څوک د حق وي ځوانمردي لري آزاد وي
که ملک وي که آئین وي، د هغه نو خداداد وي
همه رسم و رسوم دین او آئین یې وي د حق نه
که ښهٔ وي او که بد، تراخه شېرین یې وي د حق نه
د غیرو د ښېګړې نه خودبین عقل غافل وي
د غیرو فکر نه کړي چې خپل سود ورته حاصل وي
لېکن د حق په وحي کښې ښېګړه د هر چا وي
نظر یې تل په سود او په بهبود زما او ستا وي
کړي عدل، که وي صلح او که جنګ وي که مصاف وي
که وصل که بېلتون وي لا یراعي[1] لا یخاف وي
بغیر د حق نه څوک چې شي حاکم په انسانانو
جاري شي ظلم زور د زورورو په خوارانو
د دې فلک د لاندې امیري خو قاهري ده
د خدای نه ما سیوا چې امیري وي کافري ده
حاکم چې وي قاهر او ورسره وي پخته کار
چاپېر کاندي له ځانه د قانون نوے حصار

---

[1] لا یراعي ولا یخاف: نه د چا رعیت کوي او نه د چا وېرېږي.

جره شاهين ته ګوره چې په رپ د سترګو ښکار کا
يو چتې د مشير په حيثيت واخلي په کار کا
بيا جوړ دغه مشير د قاهرۍ ورله دستور کا
يو ړوند واخلي سرمه ګويا بل ړوند ته يې حضور کا
حاصل د بادشاهانو د قانون نه وايه څۀ وي؟
دهقان وي وچ د دوک غوندي غټان پکښې خاربه وي
افسوس مي په دستور د فيرنګي جمهوريت دے
چې مړه وي لا يې مړه کړي د شپېلۍ يې دا صفت دے
دا ټول لکه فلک شعبده باز او ظالمان دي
ناتوان يې په چل- چل دي راګير کړي شاطران دي
وي څوک پکښې شتمن او د افلاس په چا غمونه
هر يو د ټکۍ ايښي وي يو بل وته دامونه
وينا به کوم سپينه چې صفا مي په زبان دي
يو مونږ لکه جنونه دوے زموږ سوداګران دي
دې ميني د سرو سپينو ډېري سترګي کړلې سپيني
اوس مياندي مصيبت ګڼي اولاد پر ځاے د ميني
افسوس په داسې قام به په دنيا کښې د چا ښۀ شي
چې شنډه کاندي ونه چې مېوه يې پيدا نۀ شي
په دې چې يې زخمک نغمه له تاره پيدا نه کا
دننه وي لا نې وي پيدا شوي چې يې مړه کا
ښېوې دي پکښې ډېري چې يې ګورم رنګارنګه
خو زۀ بې د عبرت نه به څۀ اخلم له فيرنګه؟

اې هغه چې یې ګیر یې په تقلید کښې اوس آزاد شه
لمن د قرآن ونیسه آزاد اوسېږه ښاد شه

## مځکه د خدای ملک ده

مشرق نه تر مغربه د آدم دغه قیصه ده
د خاورې په سر جنګ دے او په هر ځاے کښې فتنه ده
مور ټول یې ښتنان یو او هغه ناوې یوه ده
کوډګره د یو نه ده هم د هر یوه سره ده
غلط یې په نخرو مه شه همه مکرو ریاه ده
دا ځلند حقیقت دے نه دي تا ده نه زما ده
کېدے شي کله روغه په انسان او په حجر کښې
دا ګټي خو سامان دے د مقیم ته یې سفر کښې
د ویښ او د ویده به وایه څرنګه ګډون وي
چې پروت وي ملګرتیا د هغه څۀ کړې چې په یون وي

خدای وایي چې دا مځکه ده متاع زما او ستا ده
بیا څنګه بې بها ده دا متاع څنګه ویړیا ده
ته زده کړه زمینداره دا نکته د زړۀ ککۍ ده
روزي او ګور ترې اخله نوره ستا نه ده پردۍ ده
یې څو به ور تر غاړه ته یې بود هغه نابوده
ته ښکاره وجود هغه نمود دے بې وجوده

"يا تور يې فکر وکړه دے دي اصل له افلاکه
ته پرانېزۀ وزري ځان دي ښنډ ووهه له خاکه
لږ بطن د "الارض لله" وګوره ظاهر دے
هر څوک چې دا ظاهر نه ويني پوه شه چې کافر دے
مه پرېږده دنيا که دا دي خيال وي دا خطا دے
ټول دولت د دې جهان د رنګ و بوے دي تا دے
واخله د ګوهر هره دانه د دې له خاکه
ښکار لکه باتور يې کړه تر لاسه له افلاکه
ووهه ترخځ دي د هغې په دنګو غرونو
"نور دي دځان واخله" کړه ګزار يې په اورونو
پرېږده آذري د دغې کار نه دي زړۀ سوړ کړه
ته د خپلې خوښي ځان له نوے جهان جوړ کړه
ته په سمي غرونه رنګ و بوے د دنيا څۀ کړې
زړۀ خو د خداى کور دے چې بل چا ته يې ور نه کړې
ښنګه هغه مرګ وي چې بې ګور او بې کفن وي
هغه چې په غم کښې د فرزند او زر او زن وي
هر کله عامل په لا الله چې کوم انسان شي
ورک په شخصيت کښې د هغه تمام جهان شي
فقر ده نه لوږه که بربنډه نه ګدا ده
فقر سلطاني ده رهباني واړه خطا ده

# حکمت لوه خیر ده

خدای ویلي چې حکمت خیر کثیر دے
چې کوم ځاے یې مومي اخله ستا جاګیر دے
علم حرف وته آواز ته، وزر ورکا
خر مهرې ته لطافت د ګوهر ورکا
شي افلاکو ته هم علم رسېدلے
شي نظر د لمر له سترګي شو کولے
د هغه نسخه هر شیز لره تفسیر دے
په تدبیر پورې ترلے یې تقدیر دے
که له دشته حباب غواړې حباب ورکا
که له سینده سراب غواړې سراب ورکا
کړي نظر په وارداتو د دنیا
چې شي بوے په محکماتو د دنیا
که په خدای وترې زړهٔ پیغمبري ده
که د خدای نه بېګانه شې کافري ده
که دي سوز د زړګي نه وي علم شر دے
که یې نور دے خو تیاره د بحر او بر دے
کور و کر یې له ګیسونو دا جهان شي
پسرلے یې هم وګړي ته خزان شي
سمي غرونه که سیندونه باغ او راغ دي
له بمونو د جهاز نه یې داغ- داغ دي

هم د دهٔ نه د فیرنګ سینه کښې نار دے
خوند د دهٔ نه د شبخون او د یلغار دے
دا دنیا روانه وي د وحشت لور ته
د قامونو سرمایه اچوي اور ته
چې قوت یې د ابلیسه سره یار شي
څوکه نور دے په صحبت د نار به نار شي
مرګ مشکل دے د ابلیس څهٔ آسان نه دے
دا په دې چې پټ ژورو کښې د زړهٔ دے
دا به ډېر ښهٔ وي چې هغه مسلمان کړې
ته چې قتل یې په توره د قرآن کړې
بې جماله د جلال نه استان غواړه
له فراق بې د وصاله امان غواړه
علم بې عشقه وي دام د شیطانانو
او د عشق سره وي کار د لاهوتیانو
مړ حکمت دے او که علم د دانا دے
بې له عشقه عقل غښے نارسا دے
ړوند خرد بینا د میني په دیدار کړه
بولهب نه جوړ علي حیدر رض کرار کړه

## زنده رود

محکمات یې تا بیان کړل له کتابه
خو هغه عالم له نه دے بې حجابه
ولې نه اخلي پرده له خپل بشر
له ضمیر مو ولې نه راځي بهر

یو عالم مونږ سره زوړ او فرسوده دے
چې ملت د دې په خاورو آسوده دے
سوزد کرد او د تاتار له زړهٔ وتلے
مړ مسلم شو که قرآن دے دم ختلے

## سعید حلیم پاشا

دین د حق د کافرۍ نه لا رسوا دے
دا په دې چې "کافر ګر" مومن ملا دے
موږ ته خپله برخه هم ښکاري چې بم دے
او هغه ته دا دریاب لکه شبنم دے
ضمیر نه لري هغه قرآن فروش دے
جبرائیل ع یې هم له لاسه په خروش دے
د خاوند نه د افلاکو بېګانه دے
دا قرآن د دهٔ په نزد یو افسانه دے

ترې نه پاتې د نبي ص د دین حکمت دے
ستوري نه لري آسمان کښې یې ظلمت دے
کم نظره دے بدذوقه بدزبان دے
ټول ملت یې له جګړو ځان په ځان دے
مدرسه، ملا، رازونه د کتاب
لکه وي مورزادي ړوند نو د آفتاب
د کافر دین خو تدبیر دے د جهاد
د ملا دین د الله په نوم فساد

مرد د حق چې په خلوت کښې په آرام دے
ورته ورسوه دا زما پیغام دے
اې حیات چې د مومن ستا له صحبت دے
ستا له دمه د ملت استقامت دے
اې چې حفظ د قرآن د ستا آئین دے
حق وینا کول په ډاګه د تا دین دے
ته کلیم یې تر څو به سرنګون
د لستوڼي نه خپل لاس کړه را بېرون
قیصه ووایه د ښکلي روڼ ملت
کړه هوسۍ ته د صحرا ښکاره وسعت
ستا فطرت خو نوراني له مصطفٰے ص دے
آخیر وه خو وایه کوم مقام زما دے؟
عارف کله رنګ او بوے اخلي د چا نه
او که اخلي مرد د حق نو له یزدانه
نوے روح د دهٔ په تن کښې هر زمان وي
لکه حق یې په هر دم کښې نوے شان وي
دغه راز په هر مومن کړه بیا عیان
چې شي دے "کل یوم هو في شان"
بې کعبې نه بل منزل د کاروان نشته
بې د حق نه یې په زړهٔ کښې ارمان نشته

دا مې نه دے سر کاروان په بل منزل دے
خو کاروان بدل نظر یې هم بدل دے

# افغانه رح

خبر نه یې د نبي^ص هسې فرمان دے
چې ریښتونے دین "غریب" په دې جهان دے
د دې پاک ټکي مطلب نه په دا شان دے
چې د دین غربت- غربت د مسلمان دے
هغه کس ته چې یې نیت د پوهېدو دے
د غربت مطلب ندرت د مسلو دے
د غربت شکل هر عصر کښې جدا دے
ځان پرې پوه کړه که نظر د تا رسا دے
بیا مشعل د لار کړه ځلند آیاتونه
نوے عصر کړه راګیر په کمندونه
د اسرار و د کتاب نه بې خبر دے
ټول شرقي، غربي په بلو- بلو سر دے
نن د روس خلکو پیدا نوے دوران کړو
کړه تر لاسه یې ډوډۍ دین یې تاوان کړو
اې حق بینه، حق غوښتونکیه، حق نمایه!
هغه قام ته مې دا دوه خبري وایه

# روسي ملت ته د افغاني رح پیغام

دے منزل او هم مقصود د قرآن نور څه
خو جوړ کړے خپل آئین مسلمان نور څه
اوس د زړهٔ هغه تاؤ هغه اور نشته
په سینه کښې یې د پاک نبي ص کور نشته
مسلمان له قرآن وانه خیسته ګټه
په پیاله کښې یې شراب ښکاري نه ختّه

هم یې ما ته کسرائي او قیصري کړه
هم یې بیا پخپله جوړه بادشاهي کړه
چې نهال د سلطنت شو کلک او شین
بیا نو رنګ له بادشاهۍ واخیستو دین
په سبب د بادشاهۍ نظر بدل شي
عقل او هوش رسم او رواج او لیر بدل شي
تا چې جوړ نوے نظام لره بنیاد کړو
زوړ دستور د بادشاهۍ دي چې برباد کړو
لکه مونږ مسلمانانو یو کرت کړل
مات هڅونه تا د دې قیصریت کړل
ته به بله د ضمیر تته ډیوه کړې
که عبرت دپاره څیر زموږ قیصه کړې

په دې جنګ کښې دې پښې ټینګې لره شیره
د دې لات هبل نه مه چورله چاپېره
دا زړهٔ دنیا کړي سوال چې یو ملت وي
د بشیر او د نذیر په کښې صفت وي
بیا به ته را خپلوې شرقي قامونه
ستا د دوې سره تړلي قسمتونه
بلې کړې تا په ځان نوې لمبې دي
ستا ضمیر کښې نوې ورځې نوې شپې دي
زوړ شو دین او که آئین ؤ د فیرنګ
دا زړهٔ بتخانه وینه مه ستا رنګ
تا چې کار د دې خدایانو کړو تمام
کړه د "لا" نه اوس "الا" وته خرام
پرېږده "لا" که په طلب کښې ګرځندې یې
د اثبات په لار کښې ځې تل به ژوندې یې
په عالم کښې چې نظام غواړې ښاغلي
څهٔ محکم غوندي احساس دي لټولي
چې د زوړ داستان دي ووینځه هر باب
کړه د فکر روښنایي ام الکتاب

دې تور رنګو ته چا ید بیضا ورکړو
زېرې چا د لا قیصر او کسرٰی ورکړو
غلط مه شه دي جلوې یې رنګ په رنګ
ځان به بیا مومې که پرې دي شود فیرنګ

که له مکره يې خبر د مغربيانو
مزري شي پرېږدی خوے د ګيداړانو
ګيدړتوب څۀ دے؟ خو ځير مه د حشمت
شېر د خدای خوښوي مرګ او حريت
بې قرآنه که شيري وي روباهي ده
قرآني فقر اصلي شهنشاهي ده
د قرآن فقر ګډون د ذکر او فکر
فکر نه مومي تکميل بغير له ذکر
ذکر، ذوق او شوق ته زده کړه د ادب ده
مشغله ده دا د روح نه چې د لب ده
زړۀ سبزونکے ترې لمبې را پورته کيږي
خو مزاج سره لا ستاسو نه جوړيږي
اې د فکر په ادا مسته ملته!
زده له ما د قرآني فکر کړه پته
دے قرآن د مرګ پيغام سرمايه دار ته
په تنګسه کښې رسېدونکې خوار و زار ته
نشته خير له دې نامرد سرمايه داره
"لن تنالوا" به دې لوستي وي هوشياره!
نور د "سود" نه څۀ جوړيږي؟ خو فتنه
څومره خوند کوي قرضه حسنه
سود پيدا د روح تياره کړي سخت پرې زړۀ شي
پنجې غاښ د سړي نه وي خو لېوه شي

روزي تل له مځکي اخله دا روا دي
دے متاع زموږ چې هر څۀ د مولا دي
دې مومن بنده امین حق يې ښتن دے
کل هلاک دے بس ژوندے يو ذوالمنن دے

بادشاهان د خدای نښان را سرنګون کا
دوے چې ورشي ښار او کلي خوار زبون کا
که خوراک مو دے که ښناک له يوه خوا دے
بس "کنفس واحدة" همه انسان دے
چې قائم په دینا نقش د قرآن شو
که کاهن ؤ که پاپا ؤ کار يې وران شو
اوس په جهر وايم هر څۀ مي په زړۀ دي
ښه خبر شه دا کتاب نه دے نور څۀ دي
دا چې ځان کښې شي دننه ځان بدل شي
ځان د چا چې شي بدل جهان بدل شي
دا د حق غوندي هم پټ او هم پیدا دے
هم ژوندے او هم قیوم او هم ګویا دے
د مغرب، مشرق تقدير شي جوړوا ے
ورته ځلند فکر ښۀ شي رسېدلے
مسلمان ته وايي دا په تلي سر کړه
چې دي زيات وي د حاجت نه هغه ور کړه
تا کړو جوړ نوے آئين نوے جهان هم
لږ يې ځير کړه په رڼا کښې د قرآن هم

د ژوندون د زېر و بم نه به خبر شې
د ژوندون د هر تقدیر نه به خبر شې
که محفل مو بې شرابو بې ساقي دے
لا په ساز کښې د قرآن خو ژوند باقي دے
که زخمک مو بې اثره هر ګزار کا
ورله خدای به نور پیدا هزار- هزار کا
د حق[1] ذکر پامتدار د ذاکر نه دے
احتیاج یې روم او شام ته وایه څۀ دے
که یې واخلي خدای له موږه یې بهر کا
په دنیا کښې بل یو قام ته به یې ور کا
په مسلم کښې یو تقلید او درېیم ظن دے
له دې خیاله په لړزان زما بدن دے
زۀ وېرېږم چې محروم به یې مولا کا
خپل الفت بۀ په یو بل زړۀ کښې پیدا کا

## د روم پیر زنده رود ته وایي:
## "چې شعرونه واوره"

هغه پیر د روم چې جذب او درد پا تر سره
پوه یم چې یې حال شو د زړۀ څۀ په دې خبره

[1] دا بیت نه دے ژباړل شوے: ذکر حق از امتیان آمد غني :: از زمان و از مکان آمد غني

آه يې داسې وکړو تا بهٔ وې غوځ يې ځيګر شو
وينو د شهيد غوندي د اوښکو په پرهر شو
هغه چې پېرل يې غشي زړونه د مردانو
مخ يې افغاني ته کړو وې يې په لبانو
ښايي چې مونږ زړهٔ سور لکه شفق کړو
تېر د همت لاس چې و فتراک وته د حق کړو
زړهٔ مو په اميد لکه وله هسې روان دے
ترک د اميد مرګ دے او مرګے هم جاودان دے
بيا يې ما ته وکتل ويل يې "زنده روده"
بل يې اور په زړهٔ کړو له دوه بيته له سروده
اوښه مو ده سترې او درنه مو کجاوه ده
لا ترخه نوا ښايي ساروان ته چې تنګسه ده
تل د پاکو خلکو امتحان په بلا کيږي
ترې چې لا ترے کاندي دا هم روا کيږي
پاڅهٔ د کليم په شانې تېر په رود نيل شه
اور ته ور روان په روڼ تندي لکه خليل شه

بوے د خپل آشنا چې وي د هر چا په نغمه کښې
بيايي يو ملت د آشنا درته په شبيه کښې

# د زنده رود غزل

دا ګل او لاله خو به ته وايې چې مقيم دي ټول
دا دي لاروي ګويا موجونه د نسيم دي ټول

نوې معنا غواړه، پيدا نه شوې وايه چرته دي
شته دې ميخانه، مسجد، مکتب خو شنډ عقيم دي ټول

زده کړه د خپله زړهٔ نه د مطلب ټکې پتنګ شه پرې
دا منجاوران دلته بې سوزه د کليم دي ټول

مه وايه د دوې د صفائي خو راته مه وايه
دا تکيه نشين، ببروېښته ګنده ګليم دي ټول

ګوره علماء چې يې بل حرم کړو جوړ
يو مني څښتن په خوله په زړهٔ باندې دوه نيم دي ټول

بده نه ده دا چې هنګامه د محفل يخه شوه
ګرانه خو شوه دا چې بې خوني او بې نديم دي ټول

# د زهرا فلک

زموږه او د لمر د رڼا منځ کښې دي زرګونه
پراته دي يو په بل د فضاګانو حجابونه
زوړندے زموږ په مخکښې سل رنګه پردې دي
تاؤ د دې پړدو نه آتشي غوندي جلوې دي
دا د دې دپاره دي چې زور د تاؤ يې کم شي
تاؤ يې چې د پاڼو بوټو فصل لره سم شي
تاؤ نه يې پلو کښې د لاله وينه چليږي
رقص نه يې ولې هم د پارې غوندي ځليږي
دغسي پاک روح دے چې د خاورو نه عيان شي
پسته نو په لور د بې لورۍ د رومي روان شي
لاره کښې يې مرګ او حشر وي حشر او مرګ وي
تاؤ د محبت ورله توښه وي ساز او برګ وي
بره په سلګونو فضاګانو د آسمان کښې
وخوري غوټې وخوري بيا بهر په يوه آن شي
دے د ځان حريم او هم پخپله ابراهيم دے
خپله اسمٰعيل غوندي خپل ځان ته په تسليم دے
نهه آسمانونه ورته نهه خيبرونه
تل يې د مقام نه د حيدر وي ګزارونه
پر له پسې دا مجاهده چې وکړي پاک شي
داسې هم محکم شي هم سيار شي هم چالاک شي

بیا یې نو پرواز په فضاګانو کښې د نور شي
پنجه کښې راګیر یې جبرائیل ع ملک او حور شي
دلته یې مازاغ البصر(۱) برخه شي سرشار شي
راشي په مقام د عبده جوړ څوکیدار شي
هیڅ پرې نه پوهېږمه چې کوم مقام زما دے
دومره یم خبر چې د یارانو نه جدا دے
جنګ را کښې دننه بې سورو پلو نه سر دے
ویني یې زما غوندي صاحب چې د نظر دے
نور ترې بې خبر دي جنګ د کفر او د دین دے
ځان مې ورته ګوښے لکه زین العابدین دے
نه څوک له مقامه نه له لارې خبردار دے
بې زما د ږغ نه چې څراغ د حق د لار دے
ډوب دے په دریاب کښې که ماشوم که ځوان که پیر دے
بس خو ځان ساحل ته پورې ویسترے یو فقیر دے
څومره چې پردې وې لرې ما کړې له زندانه
ویره کړم له وصله هم ژړېږم له هجرانه
وصل که د شوق په نتیجه کښې حاصلیږي
اې زما فریاده بې اثره څۀ به کیږي؟
بیا د لاروي نه به د لارې څۀ لټون شي
مینه یې د زړۀ چې په راحت او په سکون شي
زړۀ هغه لرم چې غواړي ما نه هر زمان
ذوق د ننداره مي دم په دم نوے جهان

---

(۱) مازاغ البصر: د دې آیت شریف تلمیح ده: مازاغ البصر وماطغیٰ.

بس خو يو روميؒ خبر د زړهٔ په حال زما دے
وې چې "بل عالم غواړې؟ نو راشه واخله دا دے"
مينه ده شاطره زهٔ په لاس کښې يې مهره يم
ګوره اوس په وړاندې په هيواد کښې د زهره يم
دا دے يو عالم لري خمير له آب و خاکه
پټ په تور غلاف کښې لکه پټه کعبه پاکه
اوسېزهٔ پردې د خپل نظر د برق په ځير شه
منځ د لړو شخرو کښې دې لار جوړه کړه تېر شه
وه به وينې هلته پخواني زاړه خدايان
پېژنمه هلته چې دے ځومره ځانه ځان
"بعل" دے"مردوح" دے او "يعوق" او "نسر" "فسر"
"لات" دے او "منات" دے او "رم خن" او "عسر" "غسر"
بيا د خپل ژوندون دپاره ګوري بهانې
مل يې دے مزاج د بې خليله زمانې

# د پخوانو قامونو د خدايانو مجلس

تېزهٔ وه هوا توره وريځ لکه بلا وه
ورکه په تيارو کښې يې د تندر نه رڼا وه
زوړند يې هوا کښې يو درياب ؤ لر و بر
ځيري يې لمن وه خو کم توے ترې نه ګوهر

ورک يې ؤ ساحل او ؤ په زړهٔ کښې يې موجونه
دوے د هواګانو سره هم کول جنګونه
زهٔ او رومي دواړه "نن زړو" د سیند په میان کښې
وو لکه چې خيال وي د ضمير په شبستان کښې
زوړ دے په سفر هغه زما نوے سفر ؤ
ځکه په لیمو کښې بېقرار زما نظر ؤ
هر ساعت به ما ویل نظر مي نا رسا دے
و نه لیدو ما هغه عالم وایه کوم خوا دے
ان تر هغه وخته چې کوهسار مو په نظر شو
ښهٔ ښکلي چیني او مرغزار مو په نظر شو
سل سپرلي په غېږ کښې د صحرا او د کهسار وو
راغلل چې یادونه همه واړه مشکبار وو
ډېري يې نغمې وې د مارغانو زړهٔ را ښکونکې
ښه تنکي وانښه ښکلې چینې وې بهېدونکې
ډېر يې د هوا نه پاینده د سړي تن ؤ
روح به لا بینا ؤ څو دننه که په تن ؤ
ما پرې نظر واچوو د غر له یوې څوکې
ښکلي غر، کمر او دښت يې کړے د نظر شوکې
ښهٔ ښکلي کڅۍ وه نه يې نشیب نه يې فراز
کړلو د دې خاورو د ژوندون اوبو نیاز
شته زاړه خدایان په کښې هر یو ځان ته ښښتن دے
هغه خدای د مصر دے او دا رب د یمن دے

هغه له اربابو د عرب دا له عراق دے
دا الله الوصل دے هغه رب الفراق دے
دا د لمر د نسل نه او ځوم دے د قمر
هغه په ښتن د مشتري لري نظر
هغه یو په لاس کښې يې ده توره دوه مخونه
هغه بل له غاړې تاؤ را تاؤ لري مارونه
هر یو ترهېدلے له قرآني ذکر جمیل دے
زړهٔ سورے د هر یوه له ګزاره د خلیلؑ دے
او بل مردوخ انسان له خدایه تښتېدلے
هم له کلیسا هم د کعبې نه اوړېدلے
ځو يې چې ادراک او په نظر کښې ارتقا شي
هومره به د کفر پخواني دوران ته راشي
اوس ورته خوندناک هغه زموږ زاړه آثار دي
اوس زموږ په ذکر انسانان واړه سرشار دي
بله افسانه نوې اوس واوري له دورانه
باد د مراد راغلو د خاورو له جهانه"
ډېر د خوشحالۍ نه "بعل" وکړه سرودونه
نورو خدایانو ته يې وې زموږ رازونه

# د بعل سندره

تیت په تیت انسان کړل واړه مځکي آسمانونه
خدای یې بیا هم ونه موند که تېر شو له ګردونه
وایه د آدم په زړهٔ کښې څهٔ دي بې افکارو
یو لکه چپه کړي سر اوچت او بل رمونه
زړهٔ یې تسله اوس په محسوس څیزونو کاندي
بېرته را واپس به شي زموږ هغه دورونه
تل دي وي ژوندے چې فیرنګے مشرق شناس دے
موږ یې چې همه کړو د لحد نه رابېرونه
شابه اوس مو وار دے اې خدایانو پخوانو

ماته ده حلقه د موحدو مومنانو
ذوق د الست هېر د ابراهیم له فرزندانو
غونډه یې خوره ده جام یې ټول ریزې- ریزې دے
پرېښووه باده د جبرائیل[ع] هغه مستانو
بند شول په اطرافو کښې مړدان چې آزاده وو
پرېښودو یزدان وطن کړو خوښ مسلمانانو
اوس یې سپیني تښتي د کفارو له دبدبه
خوښ کړل زنارونه د حرم هم پیرانو
شابه اوس مو وار دے اې خدایانو پخوانو

ورځي په مونږ بیا په جهان راغلې د طرب
دین خوړلې ماتې ده له ملک او له نسب
ویره د څراغ له مصطفٰیﷺ نه زمونږ څۀ ده؟
شته چې یوک وهلو ته یې سل ابولهب
بې شکه چې اورو لا صدا د لااله
ووته له زړۀ اوس به تر کومه وي پر لب
بیا بدي ژوندی کړله جادو د فیرنګیانو
ورځ د یزدان زیړه ده د ویري نه د شب
شابه اوس مو وار دے اې خدایانو پخوانو

ښايي چې د دین د تېرسري نه اوس آزاد شي
دا چې اوس زمونږه بندګان دي چې ډېر ښاد شي
هسې هم د لمونځ ادا کول ورته ډېر سخت دي
بس خو یو رکعت بې له سجدو به ور ارشاد شي
چرته چې نغمه وي هلته خود لوړه جذبه وي
بې سروده لمونځ څۀ بې مزې غوندي فریاد شي
هغه خدای چې پټ وي او په سترګو لیدے نشي
ښه به ترې یو دیو وي که په سترګو باندې زباد شي
شابه اوس مو وار دے اې خدایانو پخوانو

# د زهرا سیند ته ورکوزېدل او هلته د فرعون او کچنر د روحونو لیدل

پیر د روم هغه صاحب چې د "ذکرِ جمیل" وو
شان یې د ګداز لکه ګزار چې د خلیل ع وو
دا غزل یې ووې په مستۍ او په سرور کښې
هر پخوانے خدای په سجده پرېوت په حضور کښې

## غزل

بیا په تېر شوي په راتلونکي پوخ نظر دے پکار
هله بیدار شه فکر بیا د لر او بر دے پکار

مینه د وخت په اوښه خپله کجاوه سموي
د عاشقۍ مرکب له شام او له سحر دے پکار

ما ته خپل پیر ویل دنیا پر یوه لاره نه ځي
بیا د هغې خوښ او نا خوښ ته څۀ نظر دے پکار

ترک د دنیا دي که لازم کړو د دنیا دپاره
نو بیا صبا دزړهٔ نه خیال د سر بهر دے پکار

ما ورته وې لات و منات مي دے په کور کښې د زړه
وې چې دا کوو د دې بتانو کنډ کپر دے پکار

بیا یې ما ته ووئیل چې "پورته شه پسره"
ونیسه لمن زما روان شه د زړهٔ سره
ګوره مخامخ دا بې کلیمه کوهستان دے
واورو نه انبار د سپینو زرو جوړ عیان دے
شاته یې دریاب دے چې الماس غوندي ځلیږي
ډېر یې نه ظاهر نه لا په ښهٔ شان ښرګندیږي
نه یې له څپو او له طوفانه څهٔ خلل شته
تل یې په مزاج کښې یو سکون د لم یزل شته
دغه دے مقام د "ظاهر خوښو" سرکشانو
دا د زوررو د غایب د منکرانو
هغه یو له شرقه دے او هغه بل له غربه
کار یې د نیکانو سره نشته بې له حربه
هغه یو سر کوزے د امسا نه د کلیمؑ دے
هغه بل په تېغ د یو درویش ګوره دوه نیم دے
دا وړوکے هغه لوے دے دواړه فرعونان دي
دواړه سمندر کښې تړي مړه په یوه شان دي

مرګ خو د هر چا شته له ترخو به يې آشنا شي
مرګ د ظالمانو نښانې د پاک مولا شي
ما پسې راځه د هيڅ بلا نه مه وېرېږه
لاس په لاس کښې راکړه د هيچا نه مه وېرېږده
څيري د موسیٰ غوندي سينه به د دريا کړم
تل ته به دې کوز کړمه ستا غوټۀ به سودا کړم
بحر نو بيا مونږ ته خپله غېږه پرانستله
يا خو وه هوا لکه اوبۀ معلومېدله
تل د دې درياب يوه کښې بې رنګ و بويه
وه تياره خوره په دې کښې کښې ډېره لويه
پير د روم په خوله چې د طٰهٰ هلته سورت کړو
سيند کښې را پيدا شوله سپوږمۍ ورک يې ظلمت کړو
غرونه يې وينځلي يخ نيولي وو عريان وو
لاندې پکښې دوه سړي حيران او پرېشان وو

دواړو يو نظر په رومي واچاوه اوتر شول
بيا نو په خپل منځ کښې يو او بل ته په نظر شول
ووئېل فرعون څنګه سحر او څنګه نور دے؟
دا د څۀ سحر دے؟ او دا نور د چا ظهور دے

# رومي رح او فرعون

## روميرح

پټ چې کوم یو څیز وي هم د دهٔ ځني نما دے
اصل د دې نور نه دے بل څهٔ یدِ بیضا دے

## فرعون

حیف چې ما د عقل سره دین هم وبایللو
هغه نور مي ولید خو ما ونه پېژندلو
راشئ بادشاهانو زما حال وته نظر کړئ
راشئ زیان کارانو زما حال وته نظر کړئ
حیف په هغه قام چې خپل هوس یې نابینا کا
سپړده د قبرونو د ګوهرو له سودا کا
پروت په نندارتون کښې چې نن کوم وچ شوے تن دے
سر په یو داستان په څپو شوندو په ګفتن دے
خلـګ خبروي د بادشاهت له ظلم و جوره
وایي چې نظر زما نه واخله راشه ګوره
نور په بادشهت کښې څهٔ مقصد دے؟ خو شقاق دے
ځان مضبوطول دي او په خلګو کښې نفاق دے
وران دغه عمل کاندي تقدیر د هیوادونو
ګډوډ او باطل کاندي تدبیر د هیوادونو

بیا کلیم الله که چرته ووینم یو وار
غوارمه یو زړۀ ترې چې هغه وي خبردار

## روميؒ

بې د زړۀ د نور نه حاکمي وګڼه خامه
بې یدِ بیضا نه بادشاهي هم ده حرامه
زور کښې حاکمي وي چې ناتوان یې محکومان وي
منډ یې وي قوي چې پکښې خلک عاجزان وي
ژوند د تاج په باج وي چې یې څوک ومني سپک شي
کاڼي غوندي سخت سړے ښیښې غوندي نازک شي
فوځ دے که زندان دے که زنځیر دے رهزني ده
حقه بادشاهي د دې سامان ځنې غني ده

## ذوالخرطوم

قام د فیرنګي سره بلند وو مقصدونه
لعل و جوهرو له یې نه سپړده قبرونه
مصر او فرعون او د کلیم معاملې
دوے زوړ آثارو کښې زړې قیصې کتې
علم او حکمت څۀ دے؟ خو کشف د اسرار دے
بې د جستجو نه که حکمت وي نو هم خوار دے

## فرعون

قبر نه زما خو یو تاریخ معلومېدلو
قبر د مهدي دي څۀ دپاره وسپړدول

# د سوډاني دروېش روح څرګندېږي

پړق شو او بېتابه يو برېښنا شوه په اوبو کښې
هره ځۀ ويښه شوه ګډا شوه په اوبو کښې
مستي ورېږمې راغلې د جنت له ګلستانه
روح ښکاره د مصر د درويش شو له يو خوا نه
تاؤ نه يې صدف هر ګوهر په ويلېدو شو
کاڼے زړۀ سينه کښې د کچنر په ويلېدو شو
وې چې "فکر وکړه اې کچنره بد انجامه
شوې خبر له خاورو د درويش له انتقامه
قبر فلک در نه کړلو خاورو ستا و تن ته
تل دې تريو درياب کښې د مرقد جوړ شو بدن ته"
بيا يې په يو حرف مرے غريو ژنه شوه له غمه
آه يې په خوله راغلو له ځيګر قلم قلمه
وې ويل چې اې د عرب روحه را بيدار شه
ته لکه نيکونه د صاحب د اقتدار شه
واوره که "فواد" يې که "فيصل" يې که "سعود" يې
يو بل سره نښتي به ترځو لکه د دود يې
بل دې په سينه کښې مرغيژن پخوانے خس کړه
کومه ورځ چې تللې هغه بيرته را واپس کړه

اې حجازي خاورې یو "خالد" نوے پیدا کړه
هغه د توحید نغمه شروع له سره بیا کړه
اې چې خرماګانې د صحرا دي نه شنډېږي
ولې بل "فاروق" وایه له تا نه څرګندېږي
اې د مشکي مخیو مومنانو پاک جهانه!
بوے د دوامت ما له را درومي ستا له ځانه
وایه په جمود کښې به تر څو پروت یې سرګومه
وې به دې تقدیر د غیر په لاسو کښې تر کومه
کله خپل مقام ته به راځې؟ درومي وختونه
ژاړي په دریاب کښې مې شپېلۍ غوندي هډونه
ویره له بلا مه کړه وینا د مصطفےٰ ع ده
"هغه پاکه ورځ وګڼه ورځ چې دي بلا ده"
ځي یاران یثرب ته موږه نجد ته ساروانه
داسې یو نغمه چې اوښه مسته کړي روانه
وشولو باران پیدا د مځکې نه سبزۀ شوه
سسته هم په دې وجه شاید زموږ ناقه شوه
زړۀ مې دے په چیغو د بېلتون له ډېره غمه
ځه په هغه لاره چې سبزۀ وي په کښې کمه
اوښه خواهش منه د شینکي زۀ د آشنا یم
هغه ستا په لاس کښې زۀ په واک د دلربا یم
وګوره اوبۀ چې خورې شوې په صحرا دي
هم وني په غرونو یې وینځلې څۀ صفا دي

هغه دوه هوسۍ چې يو په بل پسې زغلېږي
وګوره چې پاس د يو غونډۍ نه راکوزېږي
څۀ په ترهه منډه د چينې نه اوبۀ شومي
بيا د خپلې لارې په تکل په مخه درومي
شګه د ورېښمو غوندي نرمه له بارانه
لاره د اوښانو قدمونو ته آسانه
پرونه دي د څوړې که وريځ کړې کړې ده
لرې له مقامه يم وېرېږم چې جړې ده
ځي ياران يثرب ته موږه نجد ته ساروانه
داسې يو نغمه چې اوښه مسته کړي روانه

# د مريخ فلک د مريخ اوسېدونکه

ما يوه لحظه کړې سترګې پټې په اوبو کښې
لاړمه له خپله ځانه لرې په اوبو کښې
کډه مې کړه پورته له دې ځايه بل جهان ته
يومې وړله هغه بل زمان او بل مکان ته
لمر مې آفاقونه د هغې دنيا رڼا کړل
ورځ او شپه يې هلته په يو بل ډول پيدا کړل

تن خو لا د روح له رسم و شا نه خبر نه دے
اوسي په زمان کښې له زمانه خبر نه دے
روح د هر يو سوز سره آشنا وي څۀ چې وي
وخت يې د خوښۍ او د خندا وي څۀ چې وي
نه زړېږي دے د ورځو شپو په الوتو
ورځې دي رڼا د دۀ د نور په ځليدو
دے په ورځو شپو کښې هم ګردش عيان د دۀ نه
وپېژنه هغه چې دے هر جهان د دۀ نه
يو ښکلے چمن ؤ په کښې لوړه رصدګاه وه
ګيره په کمند کښې د دوربين يې ثريا وه
ما وې که راغونډ دے په دې ځاے نهه آسمانه
يا دے يو تور داغ زموږ د مځکې بې ګمانه
کله لټول مې د دې مځکې وسعتونه
کله مې فضا ته د آسمان کړل نظرونه
پير د روم چې پير دے د هموو سترګورو
وې چې "دا جهان دے د مريخ" د بختورو
مځکې غوندي دلته هم جادو د رنګ و بوے شته
کلي شته ښارونه شته دښتونه غر او کوے شته
دلته چې مېشته دي د فنونو خاوندان دي
علم کښې د روح او د تن واړه کاملان دي
ډېر يې په مکان او په زمان باندې قدرت دے
ځکه چې يې علم د فضا کښې مهارت دے

داسې را تاؤ شوي له وجود د دې جهان دي
واړه خم و پېچ یې د فضا ورته عیان دي
ګیر د آدم زادو زړهٔ په خاوره په اوبهٔ دے
دلته ټول بدن د قیادت لاندې د زړهٔ دے
هر کله چې زړهٔ په اوبو خاورو کښې منزل کا
هر څهٔ یې چې خوښه وي هغه په آب و ګل کا
کار دے دا د روح مستي او ذوق او که سرور دے
دے له روحه جسم لره غیب دے که حضور دے
جوړ زموږ جهان کښې روح او تن نه یو وجود دے
روح دے بې نموده خو د تن ښکاره نمود دے
روح او تن زموږه په مثال مارغه قفس وي
دلته په مریخ کښې یو اندېشه هر یو کس وي
دلته چې د مرګ نېټه د کوم یو را نزدې شي
ډېري را پیدا د سوز او شوق په کښې لمبې شي
ورځ دوه آګاهو له خپله مرګه حال عیان کا
بیا نو خبردار له خپله مرګه څو کسان کا
روح د هغوے نه دے پرورده د اندامونو
ځکه عادت نه دے په مزه د اندامونو
تن په روح کښې جذب کړي ساه بنده کړي پنا شي
پټ شي پخپل ځان کښې د جهان ځنې جدا شي
پوهه یم چې لري ستا له عقله دا سخن دے
ځکه چې ستا روح په غلامۍ کښې د بدن دے

ښه نو دوه ساعته خو آرام دلته پکار دے
داسې ښهٔ فرصت چا له ورکړې کردګار دے؟

# د مریخ د نجومي د رسگاه نه بهر راوتل

یو بوډا سړي ږیره د واورو غوندي سپینه
عمر یې خوړلے د حکمت علم په مینه
تیز نظر په مثل د مغرب د دانایانو
داسې یې جامه لکه وي پیر د عیسایانو
ډیر عمر خوړلے لوړ او دنګ لکه د سرو
مخ یې کړه برېښنا لکه ترکان چې وي د مرو
پوه په رو ګودر، رسم و رواج د هر طریق ؤ
فکر یې له سترګو ښکارېده چې ډیر عمیق ؤ

ده چې سړي ولیدل د ګل غوندي شېراز شو
بیا نو دے په ژبه د فارسي سخن طراز شو
دا د خاورو ختو صورت قید د "خځ او ځو"
راغلو له دنیا د "لاندي باندي" په خستو
خاورو ته الوت مي بې جهازهٔ نه ورزده کړ
ور مي ثوابتو ته جوهر د سیاره کړ"

نطق ؤ که ادراک یې د ولې غوندي روان ؤ
زۀ ورته حیران ومه ګفتار یې هسې شان ؤ
خدای زده چې دا خوب ؤ او که نه افسون ګري وه
خوله د مریخي وه ترې جاري فارسي دري وه
وې چې یو سړے ؤ زمانه د مصطفٰیؐ کښې
دلته ؤ په شمار د مریخانو باصفا کښې
بس چې جهان بین نظر یې کښته په عالم شو
شوق یې پیدا زړۀ کښې دې دنیا ته د آدم شو
بر په فضاګانو کښې پرانستې په پرواز شو
آن چې بیا راکښته په صحرا کښې د حجاز شو
وې لیکل چې ده ولیدل هر څۀ لر او بر کښې
نقش یې د جنت د باغ په خیر ؤ په نظر کښې
زۀ هم پاتې شوے یم فرنګ او په ایران کښې
هم په ملک د نیل او په ګنګا د هندوستان کښې
هم مې امریکه لیدلې هم چین او جاپان
ما کړے لټون د معدنیاتو د هر کان
زۀ د شپو او ورځو نه د مځکې ښۀ خبر یم
زۀ یې بحر و بر کښې پاتې شوے په سفر یم
تیر چې په انسان دي هغه پټ نه دي زما نه
هیڅ نه دے خبر انسان له ما زما له شانه

# رومي رحؒ او د مریخ حکیم

## روميؒ

زهٔ یم فلکي خو دا ملګرے مي له خاکه
ډک دے له مستئ خو بې خبر له انګور تاکه
نوم یې "زنده رود" دے بې پروا غوندي انسان دے
مست په تماشه کښې د وجود په هر زمان دے
نن په اتفاق چې یو ستا ښار وته راغلے
یو که په جهان کښې له جهانه یو وتلي
مورِ یې په لټون یو چې جلوې وي نوې- نوې
لږِ راسره مل شه چې ښکاره شي پټې شوې

## د مریخ حکیم

دغه مرغدین دے چې مقام د "برخیا" دے
هغه "برخیا" چې کوم زمورِ ابوالابا دے
لاړو "فرامرز" چې لمسوونکے بد کردار وٗ
ورغلو جنت ته برخیا ته په اختیار وٗ
وې ویل چې "دلته ته لا څرنګه خوشحال یې؟
ټول عمر محکوم چې د یزدان یې په ملال یې
ستا له دې مقامه شته نور ښکلي عالمونه
دي ورته سپرلے د یو ساعت دا جنتونه

شته داسې جهان له هر جهانه بالا تر دے
بس هغه جهان له لامکانه بالاتر دے
داسې يو عالم دے چې يزدان ترې خبر نه دے
بل داسې آزاد جهان زما په نظر نه دے
هلته خپل نظام دے نه چې خداى پکښې د خيل دے
هلته نه کتاب شته، نه رسول، نه جبرائيل دے
نه هلته قيدونه د طواف او د سجود شته
هلته دعاګاني نه لمونځونه نه درود شته"

ووې "برخيا" ورته چې "چې پاڅۀ جادوګره
ځه هغه عالم دي مستفيد کړه له منتره"
بس نو چې آبا مو دا فريب ونه خوړلو
حق ځکه بل نوے جهان مونږ ته وسپارلو
وګرځه دې ملک کښې چې بخشش د کردګار دے
وګوره آئين د "مرغدين" چې ښکلے ښار دے

# په مرغدين* ښار کښې ګرځېدل

بهر د مرغدين لوړې ماڼۍ څۀ خوش منظر ؤ
څۀ به درته وايمه چې خومره بختور ؤ

* مرغدين: په مريخ کښې د يو ښار نوم دے.

خلک یې همه لکه ګبین شیرین زبان ؤ
ښه ښکلي مخونه نرم خوے ساده یو شان ؤ
فکر یې کامل بې له کړاؤ د اکتسابه
پوه په جوړولو د کمیا وو له آفتابه
څنګه چې مونږ مالکه جوړوو تروو اوبو نه
دغسي دوے سره سپین جوړوي د پلوشو نه
دلته چې مقصد دے کوم په علم او په هنر کښې
دې خلوت د خلګو زر یې نشته په نظر کښې
نه ترې څو خبر نه یې نظر شته په درم کښې
لار د دې بتانو ممکن نه ده په حرم کښې
نه دلته غالب په طبعیت دي مشینونه
نه یې د لوګو نه دي تور شوي آسمانونه
دلته د دهقان ډیوه ده بله چې محنت کا
دلته جاګیردار شته او نه څان شته چې غارت کا
دلته کرونده کیږي نه یې جنګ په اوبهٔ خور دے
فصل بې شریکه د هغه دے چې یې کر دے

نشته دے لښکر په دې دنیا کښې نه غوغا ده
نه روزي ګټلې دلته چا په شوکه غلا ده
نه په مرغدین کښې قلم مونتږ دے تشهیر
چري په دروغو خورولو په تحریر
نه په بازارونو کښې غوغا د بې کارانو
نه پکښې نارې او جګجګې د ګدایانو

# حکیم مریخي او زنده رود

## حکیم مریخي

هیڅوک په دې ځاے کښې نه سائل او نه محروم شته
مرېے شته نه څښتن او نه حاکم او نه محکوم شته

## زنده رود

دا د حق تقدیر دے چې سایل هم به محروم وي
دا یې هم تقدیر دے چې حاکم هم به محکوم وي
بې له لویه خدایه بل خالق د تقدیر نشته
ځکه په تقدیر باندې هیڅ زور د تدبیر نشته

## حکیم مریخي

تا ته که شي پېښه ناکامي په یو تقدیر کښې
غواړه بل تقدیر له خدایه مه ګرځه په ویر کښې
بل نوے تقدیر که ترې نه وغواړې روا دي
ځکه د تقدیرونه خو د خداى بې انتها دي
دې بني آدم خپله خودي هم وبایلله
حیف چې یې نکته د تقدیر ونه پېژندله
پټ په دې کښې رمز دے که پو یې په محفل ښې
هغه بهٔ بدل شي خو که تهٔ چرې بدل شې

ځان دي که کړو خاوره تا به باد په تار په تار کا
ځان دي که کړو تيره په بنيبنه به دي ګذار کا
ته که شولې پرخه په تقدير دي پربوتل دي
ځان دي که درياب کړو پائيدل دي تل تر تل دي
تل چې آشنائي ساتې د لات او له مناته
غواړې د بتانو نه ثبات اې بې ثباته
څو بې خبري چې له خپل ځانه ستا ايمان دے
دغه د افکارو خپل عالم در له زندان دے
ته چې وايې "رنج دے بې له ګنجه" دا تقدير دے
کله وايې "ګنج دے بې رنجه" دا تقدير دے
دا که د دين اصل وي او دا يې وي بيان
لا به محتاجان له دغه دين شي محتاجان
حيف په هغه دين شه کوم چې در ولي خوبونه
بيا دي ويښېدو ته هم پرېښږدې په کالونه
دا سحر افسون دے را ته ووايه که دين دے
ګوره چې افيون دے را ته ووايه که دين دے
پوهه په دې نه يې چې رسا طبع له څۀ وي
واوره چې د خاورو په کنډر کښې حوره نه وي
فکر کښې قوت د حکيمانو وي د څۀ نه؟
ذکر کښې طاقت د کليمانو وي د څۀ نه؟
دا زړۀ او په دې زړۀ کښې واردات ګوره له چا دي؟
دا ښکلي فنون او معجزات وايه له چا دي؟

تا کښې څۀ ګرمي که د ګفتار ده له تا نه ده
ډېره که برېښنا دي د کردار ده له تا نه ده
دا واړه عطا خو د بهار نه د فطرت ده
بیا فطرت عطا د کردګار نه د فطرت ده
څۀ دے دا ژوندون؟ خو د ګوهرو ښکلے کان دے
ته امانتګر یې او څښتن یې پاک سبحان دے
مړد د حق هغه وي چې یې طبع وي روښانه
وي خدمت د خلګو یې مقصود بې دریا نه

دا د خدمت رسم په تحقیق د پیغمبر دے
مزد چې د خدمت غواړي هغه خو سوداګر دے
دغسي پټي وریځي، خاوره، که هوا ده
باغ، که ګټه، خښته، آبادي ده که صحرا ده
اې هغه سړیه! ته چې وایې دا زما دي
بس کړه اې ناپوهه دي تا نه دي د مولا دي
مځکه د الله ده وایې ته زما جاګیر دے
بیا نو د لا "تفسدو"* خو وایه څۀ تفسیر دے؟
زړۀ د بني آدم د ابلیسي په لوري زغلي
ما خو بې فساده په کښې هیڅ نه دي لیدلي
هیڅا امانت نه دے پخپله کارولے
ښه هغه چې مال د حق یې حق ته وي سپارلے

* لاتفسدوا: تلمیح په آیة شریف: لاتفسدوا في الارض بعد اصلاحها.

تا واخستو هغه څیز چې ستا ملکیت نه دے
سوزم له دې کاره دي دا ستا د حیثیت نه دے
ته که د یو څیز مالک یې وایې خلې روا دے
او که مالک نه یې او تر لاسه یې کړې خطا دے
ملک د بېچګون که حواله د پېچګون کړې
حل به ته دا دواړه مشکلات د خپل ژوندون کړې
بیا نو مسکیني، فقیري ولې په دنیا دي؟
ځکه چې د خدای مالونه ته وایې زما دي
څوک له خاورو، خټو چې بهر نه شو یو ځله
خپله بنیبنه ده پخپله ګټه ووېشتله
پاتې یې دا لار او د منزل له امتیازه
هر شے بها مومي د کتني له اندازه
ته یې چې متاع ګڼې ګوهر ځکه ګوهر دے
وګڼې دا کاڼے د کونجکي نه کمتر دے
خپل نظر بدل کړه، دا جهان به هم بدل شي
مځکه که بدله شي آسمان به هم بدل شي

# د مریخ د هغې پېغلې حال چې د رسالت دعوه یې کړې وه

موره د کوهو او د ماښو نه تېرېدلو
بیا یو لوۍ میدان ته د دې ښار و رسېدلو
جمع ښځې نر وو سره ډېر په دې میدان کښې
ونې د انار غوندي یوه ښځه وه په میان کښې
مخ یې ؤ روښانه، خو ارواح یې ؤ بې نوره
وه خپله وینا یې د معنا ځنې نفوره
وچې کلکې سترګې او بیان یې بې اثر ؤ
زړۀ یې د آواز د خوشحالۍ نه یې خبر ؤ
تشه یې د جوش نه د ځوانۍ پرته سینه وه
عکس یې قبلوۍ نه شو، ړنده یې آئینه وه
نه له عشق خبره، نه آګاه یې له آئین وه
ګویا چې سپېر کنډه وه، رد کړې چې شاهین وه
وې حکیم چې: "پوهه یې دا پېغله څۀ ده؟
وې چې "دغه پېلغه د مریخ د وطن نه ده
ګوره څۀ ساده او بې فریبه ده له رنګه
دا را تښتولې فرامزده له فرنګه
ښه یې پخه کړې ده، په کار د نبوت کښې
بیا یې دې عالم ته ده را وستې په حکمت کښې

وايي چې يم زه، نازله شوې له آسمانه
ومنۍ دعوت مي که زهٔ يم آخير زمانه
تل د نر او ښځي له مقامه يې سخن وي
وايي به جهر کوم اسرار چې د بدن وي
دا آخر زمان چې يې اصول د ژوندانهٔ دي
زهٔ به د آدم په ژبه ووايم چې څهٔ دي؟

# د مريخ د پيغمبر وعظ

واورئ خويندو، ميندو اې همه واړو زنانو
څو پورې به ژوند کوئ په شان د دلبرانو
دغه دلبري خو په جهان کښې مظلومي ده
څهٔ ده دلبري خو محکومي او محرومي ده
وګرځوئ زلفو کښې شانه دا مو سنګار دے
دا په زړهٔ کښې وګڼو سړے زموږه ښکار دے
شي هم دا سړے ستاسو صياد چې مو نخچير شي
ګرد چې ورته ګرځي مينه نه ده دا زنځير شي
دا يې لوے فريب دے چې له تاسو قربانيږي
دا يې واړه مکر دے چې سوزي او دردېږي

دا منم چې جوړ هغه کافر درنه حرم کا
تاسو مبتلا مګر د ټول عمر په غم کا
واورئ ملګرتیا د دهٔ کړاؤ د خپل حیات وي
وصل د دهٔ زهر او فراق د دې نبات وي
پام کوئ دا مار دے، هسې نه چې دا به ښهٔ شي
ګورئ چې مو وینه کښې دا زهر خواره نهٔ شي
مور چې شي زېږون یې کاندي زېړه مړځېنه
مخ شه د هغې چې وي آزاده بې څښتنه
پر له پسې وحي راځي ما ته له یزدانه
زیات مي لا لذت پرې د ایمان شي د پخوا نه
راغلو هغه وخت چې اوس اعجاز دے په هر فن کښې
اوس بچے دننه لیدے کېږي په بدن کښې
کښت نه به د ژوند اخلې حاصل چې څهٔ دي زړهٔ وي
وایه په زامن لوټو کښې ستا د خوښې څهٔ وي
بیا چې مخالف مو له مراده کوم څښتن وي
مرګ به یې روا بې له صرفې زموږ په دین وي
پس د دې نه نورې زمانې به داسې راشي
نور نوي رازونه به عالم کښې را نما شي
بیا په نوي ډول به بچې روزلي کېږي
بې د مور له رحمه به هم ښهٔ روزلي کېږي
ختم اهرمن چې شي او هم یې افسانې شي
مړ لکه ډنګر د هغې تېرې زمانې شي

بيا دا ريدي ګلې، بې له داغه لمن پاکه
سر به بې پروا له پرخي پورته کړي له خاکه
شي د ژوندانهٔ اسرار به ټول په خپله بې حجابه
تار د ژوند به واوروي نغمه بې له مضرابه
پام چې د نيسان نه شي صدفه پامته دار
ته د سيند په تل کښې ترې مرِ ښهٔ يې نامدار
جنګ کړه له فلک سره زړهٔ کلک کړه له فولاده
ستا د جنګ په زور چې دغه وينځه شي آزاده
ببله له سرِي شه ته توحيد ته اورسېږه
ځان ساته پخپله په مردانو مه نازېږه

## روميؒ

دا نوے دوران، نوے آئين لره حامل دے
ګوره لا ديني يې د تهذيب ځنې حاصل دے
ژوند دپاره شرع که آئين دے هغه عشق دے
اصل تهذيب دين دے او چې دين دے هغه عشق دے
ګورې چې ظاهر يې سوزوونکے آتشين دے
ځير يې که باطن کړې نور د رب العٰلمين دے
تاؤ نه د رڼا نه د باطن يې علم او فن دے
ذوق د فن يې دا، چې انجمن يې علم او فن دے
دين به نهٔ شي پوخ بې د آدابو نه د ميني
دين واخله صحبت نه د اربابو نه د ميني

# د مشتري فلک

## (د حلاج غالب او قرة العین طاهره پاک روحونه چې د جنت استوګنه یې قبوله نه کړه او د تول عمر مزل یې غوره کړو)

سر مي دي د خپل لېوني زړهٔ ځنې قربان وي
نوې ویرانه راته حاصله هر زمان وي
چرته چې دمه شم وایي پاڅهٔ مشه غلې
بحر ورته ډنډ وي چا چې ځان وي پېژندلې
ځکه چې د خدایؒ لا انتها دي نښانونه
نشته مسافره د دې لارې پایاوونه
کار د حکمت دا دے چې خیز ویني بیا هېر کړي
کار د عرفان دا دے چې یې ګورې لا یې ډېر کړي
هغه معلومېږي ښهٔ په تله د هنر کښې
دا تللې کېږي ښه، په تله د نظر کښې
هغه به په خاورو په اوبو اقتدار در کا
دا به د پاک روح د پېژندنې بېرته ور کا
هغه تل نظر په تجلیو ور ګذار کا
دغه تجلي په ځان کښې ورکې په یو وار کا
تلمه په لټون د مسلسلو جلوو تلمه
یو ؤ په افلاک، لکه شپېلۍ به ژړېدمه

دا خو واړه فیض ؤ د هغه چې پاک فطرت ؤ
سوز ؤ د هغه چې زما زړهٔ ته عنایت ؤ
دا دوه کاروانیان چې د وجود وه ورته پته
راغلل په سرحد د مشتري کښې شول رانښکته
نه د دې جهان چرته کښې غاړې ښکارېدلې
ډېري وې سپوږمۍ تر ګېر چاپېره چور لېدلې
تشې يې د تاک ښیښې له میو ښکارېدلې
لا خو يې آرزو نه وه له خاورو ټوکېدلې

شپه لکه غرمه يې په سپوږمیو نوراني وه
نه يې په هوا کښې وه يخني او نه ګرمي وه
څهٔ ګورم چې پاس يې په آسمان څهٔ ننداره دي
ستورے يې و مونږ ته د نزدې نه هم نزدې دي
روح يې په هیبت د نندارې داسې حیران شو
"ځنډ ؤ او که زر، که نزدې، لرې ؤ بل شان شو
درې روحه مې ولیدل چې هر یو ؤ سپېڅلے
اور يې د سینې واړه جهان شولو سېزلے
درې واړو اغوستي لاله رنګ وو څادرونه
سوز نه يې د زړونو ځلېدل ښکلي مخونه
ډوب په سوز ګداز کښې دوے له ورځې د الست وو
درېواړه د خپل ځان د نغمه په میو مست وو
وې راته رومي<sup>رح</sup> چې مخکښې مه ځه دوه قدمه
دا آتش نوا دے ته يې ژوند واخله له دمه

بې غرضه شوق وګوره تا لیدلے نه دے
ګوره یې تا زور د دې صهبا لیدلے نه دے
دا غالب، حلاج، او دا خاتونه د عجم ده
زړهٔ کښې اچولې غلغله یې د حرم ده
چیغې یې په روح کښې لوے ثبات پیدا کوینه
سوز یې سوز د زړهٔ د کائینات پیدا کوینه

# د حلاج نوا

طلب له خپلې خاورې هغه اور کړه چې پیدا نه دے
د غیر د تجلې طلب خو خښ د تقاضا نه دے

جلوې د یار که واخستو جهان په سر خبر نه یم
په ځان کښې یمه ورک پاتې فرصت د تماشا نه دے

په ملک به زهٔ د جم د نظیري دا مصرعه ور نه کړم
"چې څوک په عشق کښې مړ نهٔ شي، له مونږ نه دے له ما نه دے"

منم چې ډیر لښکر را جمع کړے جادوګر عقل
خبر شه زړهٔ په ځاے لره چې عشق دي هم تنها دے

نه بلد د لارې یې، مقام نه ناخبر یې ته
له هیڅ ډول سندرې تش رباب د سلیمٰے نه دے

خبري تل د ښکار او د نیوو د نهنګانو کړه
دا مه وایه کشتۍ زما لیدلې لا دریا نه دے

مرید یمه د هغه لاروي چې یون پرې نه کاندي
پر هغه لار، پکښې چې چرته غر، دښت و دریا نه دے

شریک اوسه حلقع کښې د رندانو باده نوشو ته
مرید د هغه پیر مه شه صاحب چې د غوغا نه دے

# د غالب نوا

دا زوړ ډول راځئ چې دا آسمان وګرځوو
مرګے په جام د میو سرګردان وګرځوو

هیڅ دار نه دے پکار د داروګیر نه د کوتوال
سلطان ته ور واپس چې ارمغان وګرځوو

کلیمع که مو مجلس ته رانزدې شي ځان ترې چپ کړو
په بېرته د خلیلع غوندي مهمان وګرځوو

ملیار که غواړي باج زموږ د بوټو نه په جنګ
تش لاس یې له غنچو د ګلستان وګرځوو

په صلح او په امن خپلو جالو ته واپس
بې کوره د ښاخونو نه مرغان وګرځوو

کېدے شي زهٔ او ته چې پېروان يو د حيدر(رض)
دا نمر بېرته مشرق ته په يو آن وګرځوو

## د طاهرې نوا

مخ په مخ که پرېوځې په تا زما نظر
کړم به دې له غمه له وېښته- وېښته خبر

سر دې په ديدن پسې په شانې د صبا يم
کور په کور کوڅهٔ په کوڅهٔ ګرځم در په در

هجر کښې مې ستا اوښکې روانې له دوه سترګو
سيند په سيند چينه په چينه هر خوا لر و بر

ستا مهر مې زړهٔ دے په نداف د روح اوبدلے
تار په تار رشته په رشته ورو- ورو سر تر سر

بې تا طاهرې دے د زړهٔ کتاب کښې څوک او نه موند
کرښه- کرښه پاڼه- پاڼه کل واړه دفتر

سوز و ساز همه د دې خوږمنو عاشقانو
نوےٰ شور پيدا زما په زړهٔ کښې کړو يارانو

تېرو مشکلاتو را بهر کړل بيا سرونه
و يې کړل زما په عقل فکر شب خونونه

بحر مي د فکر سر تر پايه اضطراب شو
زور د طوفان داسې چې ساحل يې هم خراب شو

ووئيل رومي رح چې وخت ونه باسې له لاسه
اې د هرې غوټې پرانستل چې غواړې پاڅه

څو به يې په دې خپلو فکرونو کښې اسيره
وغورزوه ببرته دا قيامت له خپل ضميره

# زنده رود پاکو اروااحانو ته خپل مشکلات وړاندې کوي

ته د مومنانو له مقامه ولې دور يې؟
يعني د جنت نه د فردوس ولې مهجور يې؟

## حلاج

هغه آزاد مرد چې ښهٔ په ښو بدو پوهيږي
روح د هغه چري په جنت کښې نه ځائيږي

حوري او غلمان خو وي جنت د ملايانو
تل تر تله سير کول جنت د آزادانو
خور او خوب جنت وي د ملا او سرودونه
سير د وجود تل وي د عاشقو جنتونه
قبر چاودېدل په ږغ د صور د ملا حشر
عشق پخپله شور دے هر سحر يې لکه نشر
علم په بنياد ولاړ د خوف او د رجا دے
څوک چې وي عاشق د دغو دواړو نه رها دے
علم دے په ويره، په جلال د کائينات کښې
عشق همېشه غرق وي په جمال د کائينات کښې
علم په تېر شوي او حاضر باندې نظر کا
عشق وايي ښهٔ دا چې څهٔ راځي ټيټ ورته سر کا
علم اقراري وي په آئين باندې د جبر
بله لار يې کومه بې له جبر او له صبر
عشق دے ناصبور او هم آزاد او هم غيور دے
بيا نو د وجود په تماشه کښې هم جسور دے
عشق چې دے زموږه د ګلو نه بېګانه دے
بيا سره د دې هم په ژړا کښې مستانه دے
مه ګڼه مجبوره که مجبوره زما زړهٔ دے
غشے چې زما دے له نظر د حوري نه دے
تاؤ مې لا سوا کړې څکه خوښ زما هجران دے
خوښ مې دے هجران څکه چې روغ زما په ځان دے

بې له سوزه ژوند ته که ژوند وایې ژوندون نه دے
اور چې د تلو لاندې وي بل ژوندون هغه دے
بس دغه ژوندون دے چې تقدیر دے د خودی
بیا په دې تقدیر باندې تعمیر دے د خودی
لمر شي، که ذره وي، چې یې شوق شي بې پایانه
بیا یې شي سینه کښې ځائېدے نهه اسمانه
شوق چې په شب خون د کوم عالم د پاسه راشي
څو که وي فاني هغه عالم په لا فنا شي

## زنده رود

مرګ دے او که ژوند دے د ګردش نه د تقدیر دے
څوک زده! چې ګردش د تقدیر څه؟ څۀ یې تفسیر دے

## حلاج

چا سره چې پنګه نۀ وافره د تقدیر وي
مرګ دے که ابلیس دے د هغه نه ګډ په ویر وي
جبر به یې دین وي کوم صاحب چې د همت دے
جبر د مردانو د کمال نه د قوت دے
پوخ چې کوم سړے وي لا به نور پوخ شي له جبره
خام سړي ته جبر به څۀ کم نه وي له قبره
جبر د خالد چې وي عالم اوړچوینه
جبر چې زموږ وي بېخ بنیاد مو نړوینه
کار د مېړنو وي یو تسلیم بله رضا ده
سمه په کمزورو باندې کله دا قبا ده

ته يې څۀ خبر چې کوم مقام د پير د روم دے
ته ترې واقف نه يې چې کلام د پير د روم دے
وايي چې يو ګبر ؤ په وخت د بايزيد
ووې يو ملګري مسلمان ورته سعيد
خومره به دا ښۀ وي ته صاحب که مسلمان شې
لاره د نجات درته ښکاره شي مسلمان شې
وې ويل "هم دغه که ايمان وي اې مريده!
کوم چې خرګند وينم زۀ له شېخه بايزيده
زۀ نه هومره توان او نه طاقت وينم د ځان
دومره عقيده په وس کښې نه ده د انسان

((رومي رح))

کار زموږ د عامو بې له خوف او رجا نشته
هر چا کښې همت خو د تسليم او رضا نشته
اې هغه! چې وايې چې کېدونکي وو دا وشول
دا وو ټول کارونه د قانون د قضا وشول
ته نو د تقدير په معنا کم يې پوهېدلے
نه خودي ليدلې تا او نه دي خداى ليدلے

نياز لري مومن له خدايه وايي دا په نياز
"زۀ درسره ساز يم ته هم شه راسره ساز"
عزم د هغه چې وي تقدير د پاک مولا دے
غشے د هغه په جنګ کښې غشے د الله دے

## زنده رود

څۀ فتنې خورې کړې کم نظرو خنګه کار کړ
کوم چې ؤ د حق بنده هم هغه يې په دار کړ
راز چې د وجود ؤ هغه تا و ته عيان ؤ
ووايه اخير شوې د تا نه کوم عصيان ؤ

## حلاج

زړۀ کښې زما پروت د اسرافيل د شپېلۍ غږ ؤ
يو ملت مي وليد قصد د ګور يې ؤ په زوږ ؤ
کوم چې مومنان وو په خوۍ بوۍ کښې کافران وو
وې يې لااله او له خپل ځانه منکران وو
دا به يې ويل چې روح فاني دے او باطل دے
ځکه چې د آب و ګل د تن سره شامل دے
بل د دې دپاره د ژوند اور مي په خپل ځان کړ
راز د ژوندانۀ مي هغو مړيو ته عيان کړ
جوړه د خودۍ په زور هغوے نوې هستي کړه
بيا د دلبرۍ سره يې ګډه قاهري کړه
هر چرته ښکاره ده خو بيا هم نه پيدا کيږي
دا خودي هغه ده چې په سترګو نه ښکاريږي
پټ هغه اورونه دا د نور نه د هغې دي
دا د کائينات جلوې د طور نه د هغې دے
هر يو زړۀ چې وګورې په دې زاړه جهان کښې
تل کوي ستائنه د خودۍ په خپل- خپل شان کښې

چا يې چې له اوره برخه وانخسته خړ شو
دے له خپله ځانه بېګانه په جهان مړ شو

هند او که ایران واے له نوره يې محرم دي
هغه چې دا اور يې پېژندے شي واوره کم دي
ما کړل خبردار چې دا يې ناز او دا يې نور ؤ
اې بنده محرمه! بس هم دا زما قصور ؤ
وويرېږه ما چې ځۀ کول هغه کوې ته
بس خو يو محشر په دغه مړيو راولې ته

## طاهره

هر کله ګناه چې له صاحبه د جنون شي
نوے کائینات يو د هغې نه را بېرون شي
شوق چې وي بې حده همګي څېرې پردي کړي
هيري زړې ورځي کړي را نوې تماشې کړي
دار يې په آخير کښې په نصيب وي ور ورسيږي
در د خپل حبيب نه پخپل ژوند نه را ستنيږي
وګوره دا نور يې خور په ښار او په صحرا
هسې نه چې ويې ګڼې تير له دې دنيا
پټ بيا په ضمير کښې دے د خپل دور اوسيږي
خداى زده چې په دې خلوت کښې څرنګه ځايېږي؟

# زنده رود او غالب

## زنده رود

اې! چې ته خوږمن یې د لټون راته ووایه
ته د دغې خپل شعر مطلب ما وته ونمایه

"قمري ده موتې خاورې او بلبل قفس د رنګ دے
فریاده نښان ووایه د سوي ځیګر کوم دے؟

## غالب

سوز نه د ځیګر چې د هر چا وتلے ویر وي
ما ولید چې هر ځاے یې جدا- جدا تاثیر وي
وسوزي سپوږمۍ یې د تاثیر نه لکه شمع
بل خوا ترې بلبل ښکلي رنګونه کړي راجمع
مرګ هم په هغه کښې جوړ په غیږ کښې د حیات وي
دلته یو نفس که وي حیات، هلته ممات وي
دا شانې یو رنګ، نګارخانه چې وي د څۀ نه
دا شانې یو رنګ چې بې رنګي وي د هغه نه
ته نه یې خبر چې دا مقام د رنګ او بوے دے
هر زرهٔ لا قسمت په اندازهٔ د هاے و هوے دے
تیر په بېرنګۍ شه یا د رنګ سره را دروومه
نخښه ته د سوز نه د ځیګر خو څۀ اوومه

## زنده رود

سل جهانه جوړ په دې اوچته شنه فضا شته
دوې کښې هر جهان ته اولیاء او انبیاء شته

## غالب

وګوره په غور لږ ته دې بود او نابود ته
پر له پسې یو جهان او بل راځي وجود ته
چرته چې عالم وي او پیدا یې هنګامه وي
پوې شه رحمة اللعالمین به ورسره وي

## زنده رود

ووایه صفا چې زما فهم نا رسا دې

## غالب

څوک چې دا خبره صفا ووايي خطا دې

## زنده رود

ولې ګفتګوې د عارفانو بې حاصل وي؟

## غالب

نه خو د نکتې راتلل په شوندو لږ مشکل وي

## زنده رود

ته خو سر تا پا د طلب له سوزه اور یې
کړې نه شې خبره جوړ غالب نه یې څۀ نور یې

## غالب

خلق دے که تقدیر* که هدایت دے ابتدا ده
پوے شه رحمة اللعالمین یې انتها ده

## زنده رود

لا تر اوسه مخ مې د معنا لیدلے نه دے
اور که در سره وي ما پرې وسېزۀ ډېر ښۀ دے

## غالب

ما غوندي واقفه د اسرار ځنې د شعر
دا خبره زیاته نه ده د تار ځنې د شعر
ښکلے چې مجلس کړي په خبرو شاعران دي
لاس د بیضا یو نه لري داسې کلیمان دي
غواړې چې یې ته خبره دا د کافرۍ ده
هغه کافري چې ما ورا له شاعرۍ ده

## حلاج

چرته چې جهان د رنګ و بوے ورته نما وي
هغه آرزوګاني یې له خاورو چې پیدا وي
یا خو ښکلے نور د مصطفےٰ ص به ور عطا وي
یا به لا تر اوسه په لټون د مصطفےٰ ص وي

## زنده رود

ستا نه کړم تپوس که دا تپوس مې خو خطا دے
راز د هم هغه جوهر چې نوم یې مصطفےٰ ص دے

---

* خلق و تقدیر: تلمیح ده په دې آیت شریف: خلق فقد و هدٰے.

دے هغه آدم او که جوهر په هست و بود کښې
هغه کله کله چې را دروميي په وجود کښې

## حلاج

څو که ټول عالم ورته سجده کړي مونږ منلے
ځان ته يې پخپله "عبده" دے فرمايلے
پوهي نه مفهوم د "عبده" دې بالاتر دے
دا په دې چې هغه هم آدم او هم جوهر دے
دا جوهر د هغه عربي نه عجمي دے
دے دغه آدم، هم د آدم نه پخواني دے
"عبده" هغه چې ترې ظاهر شول تقديرونه
دي موجود هغه کښې ويرانې او تعبيرونه
عبده ژوندون دے هم فنا کړي د ژوند خټه
عبده ښيښه هم دے او هم يو درنه ګټه
عبد دے جدا او عبده ګورې جدا دے
مونږ منتظر، هغه منتظر زما او ستا دے
دهر دے له عبده او دهر عبده دې
مونږه واړه رنګ يو او هغه بې رنګ و بو دې
عبده سره د ابتدا بې انتها دے
نه د عبده سحر ماښام زما او ستا دے
څوک د عبده له رازهٔ وايه خبر څهٔ دے؟
عبده له بې سر د الاالله نه نور څهٔ نه دے
لااله ده توره عبده يې غوځهٔ ستا يم
هو عبده وګڼه که سپينه درته وايم

عبده په اصل حقیقت د کائینات دے
عبده خو راز د نهایت د کائینات دے
کله دا مطلب څرګندېدے شي له دوه بیته
څو يې چې او نه کسې له مقام د "مارمیتَ"*
څو به ګیر يې ګفت او په شنود کښې زنده روده
راشه کنه غرق شه په وجود کښې زنده روده

## زنده رود

کم په عیش پوهېږم راته وایه دا څۀ کار دے؟
ذوق که د دیدار وي نو بیا وایه څۀ دیدار دے؟

## حلاج

دا مطلب له دید نه د هغه آخر زمان دے
بس چې دے منلے د هغه حکم په ځان دے
ژوند په دې جهان لکه رسول[ص] د انس و جان کړه
ځان په دې سبب سره مقبول د انس و جان کړه
بیا وګوره ځان ته دا دیدار د انحضرت[ص] دے
یو راز له رازونو د هغه ښکلے سنت دے

## زنده رود

وایه اوس دیدار د خدای[ج] د نهو آسمانونو
پاتې يې بې حکمه لمر، سپوږمۍ له ګردشونو

## حلاج

مخکښې چې د خدای صفت په خپل ځان کښې پیدا کړي
بیا يې د جهان و نورو خلګو ته نما کړي

* مارمیت: تلمیح ده په دې آیة کریمه: ومارمیت اذ رمیت الخ.

څوک د خدای په خوۍ چې مکمل په دې جهان شي
خلګو ته دیدار د دهٔ دیدار د پاک سبحان شي
زار له هغه مرد چې یې د "هو" د یو نعرې نه
کړي نهه افلاکه طوافونه د کوڅې نه
حیف شه په هغه دروېش چې "هو" یې له خولې ویېست
بیا یې دواړه شونډې کړلې بندې دم یې نه ویست
حکم د الله ج یې په جهان کښې جاري نه کړو
روټه یې خوړه خو خوۍ یې خپل د علي رض نه کړو
تېښته یې له خیبر وکړه تکیه یې جوړه کړله
ترکه یې دنیا کړه ده شاهي ونه لیدله
خوۍ دي که د حق دۍ دا جهان به دي نخچیر وي
هم ستا د تدبیر سره ملګرۍ به تقدیر وي
جنګ درته دا نوۍ عصر غواړي ځان خبر کړه
خوۍ د حق نه نقش په تختۍ د دې کافر کړه

## زنده رود

خوۍ د حق به څرنګه خوریږي په جهان کښې
وایه دا به څرنګه پیدا شي په انسان کښې

## حلاج

یا خو به په زور د دلبرۍ را پیدا کیږي
یا به په قوت د قاهرۍ را پیدا کیږي
دا ځکه چې حق په دلبرۍ کښې زیات نما دۍ
کار د دلبرۍ د قاهرۍ ځنې اوڅ دۍ

## زنده رود

اې! چې ته خبر يې د مشرق د کل اسراره
فرق به په زاهد، عاشق کښې څۀ وي خبرداره؟

## حلاج

هر څوک چې زاهد وي په دنیا کښې به غریب وي
څوک چې وي عاشق نو په عقبٰے کښې به غریب وي

## زنده رود

ولې انتها د معرفت جوړې نیستي ده
تلونکے جوړ فنا نه په آخر کښې زندګي ده؟

## حلاج

خود به بې نشې وي چې يې تشه پیمانه وي
نېست به وي چې څوک د معرفت نه بېګانه وي
اې! چې په فنا کښې د مقصود په لټون ګرځې
څنګه په عالم کښې د موجود په لټون ګرځې

## زنده رود

هغه چې خپل ځان يې له آدمه ښۀ ګڼلو
خم کښې يې شراب، او نه يې خبري پاته شولو
زۀ که موتبر خاورې وم آشنا شوم له آسمانه
وایه څۀ شو اور د هغه بې سر و سامانه؟

## حلاج

کم کوه تپوس د فراق ژونو د سردار
تږے ازلي په جام د سرو وینو سرشار

موږه ناپوهان یو، هغه پوے په نبست او هست ؤ
کفر يې کړو پوے په هغه راز چې دے پرې مست ؤ
خوند د لړه تږ د پرېوتو نه پیدا کیږي
خوند خو د راحت د دړېدو نه پیدا کیږي
دا ده عاشقي چې يې په اور کښې سوے ته يې
څو يې چې ونه سوزې په اور کښې سوے نه يې
ځکه چې په عشق او په خدمت کښې مقدم دے
حق ده چې آدم يې له اسرارو نا محرم دے
راشه کنه! خیري دا قمیص دي د تقلید کړه
دا به درته ووایم چې زده ترې نه توحید کړه

## زنده رود

اې د زړۀ جهان دي په فرمان، پر تا رحمت شه
بس یوه شېبه راسره نور هم په صحبت شه

## حلاج

نه مي شته تسکین نه د مقامه سره ساز یم
بس خو سر تر پایه ذوق او شوق زۀ د پرواز یم
کار مي هر زمان دیدن کول او سوزېدل دي
بیا نو بې وزرو الوتل او ګرځېدل دي

# د فراق جنو سود او ابلیس څرګندېدل

زړونه چې روښان لري صحبت یې یو دوه دمه
زیاته سرمایه ده، د وجود او له عدمه
عشق یې په ګرمۍ کښې افزون تر کړو لاړو تېر شو
عقل یې څښتن د لوے نظر کړو لاړو تېر شو
سترګي مي کړې پټې چې محفوظ یې وساتمه
بیا به یې د سترګو له مقامه زړۀ ته وړمه
ناڅاپه چې ګورمه جهان واړه تیارۀ شو
دا همه مکان تر لا مکان واړه تیارۀ شو
بیا پۀ هغه شپه کښې را ښکاره یوۀ شعله شوه
بیا پکښې څرګنده د یو زوړ سړي څېره شوه
توره سرمۍ یې وه قبا دا یې نمود ؤ
پټ یې تور لوګي کښې سر تر پایه ټول وجود ؤ
ووئېل رومي رح د فراقجنو سردار دا دے
سر تر پایه سوز د زړۀ په وینو سرشار دا دے
کمه یې خندا زوړ یې بدن کم یې سخن ؤ
سترګوته یې روح ښکاره دننه په بدن ؤ

رند ؤ خرق پوش ؤ، هم حکیم ؤ هم ملا ؤ
وخت کښې د عمل به لکه کلک زاهد نما ؤ

زړهٔ یې بېګانه ببخي د ذوق نه د وصال ؤ
زهد یې ترک کړے پاک جمال د لا یزال ؤ
بس نو چې مشکل یې له جماله خلاصېدل ؤ
ترک د سجود کار یې پخپل مخکښې ایښودل ؤ
راشه لږ خو ته په واردات یې نظر وکړه
ګوره یې تنګسې او په ثبات یې نظر وکړه
بوخت په اخ او ډب د خیر او شر دے لا تر اوسه
سل نبیان یې ولیدل کافر دے لا تر اوسه
سوز نه د هغه مي تن کښې زړهٔ وسوزېدلو
خولې ته یې غمژن یو اسوېلے را پورته شولو
ما وته یې نیم پرانستې سترګې کړې را پورته
دے عمل کښې څوک را رسېدے شي زما لورته
داسې د کارونو په غمونو کښې لګیا یم
زهٔ په جمعه هم له فرصته نا آشنا یم
هیڅ زما دپاره فرښته او نه چاکر شته
ما دپاره وحي بې منت د پیغمبر شته
نه ما یو کتاب او نه حدیث چرته را وړي
هم د فقیهانو شیرین زړونه مي بیا وړي
پرے بهٔ د دین شولولو چا؟ بې د فقیهانو
خښتې- خښتي کړه کعبه آخر کښې نادانانو
داسې خو زموږه د مشرب نه دے تاسیس
نشته فرقې نشته په مذهب کښې د ابلیس

تېر چې د سجدې نه شومه واوره بې خبره
جوړه مې باجه کړله له خیره او له شره
ونه ګڼې دا چې زۀ له خدایه به منکر یم
وګوره باطن مې په دې مه شه چې ظاهر یم
دا بې وقوفي ده، که زۀ ووایم چې نشته
پسته له لیدلو به څۀ ووایم چې نشته

ما خو په پرده کښې دے د "لا" "بلٰے" ویلي
ښه له نا ویلو دي هغه چې ما ویلي
درد زما په زړۀ کښې چې دپاره د آدم ؤ
ده ته مې پرې نه ښود د یار قهر ؤ که غم ؤ
پورته مې له کشته شوې لمبې شرر بارۍ ته
اورسېد انسان د مجبورۍ نه مختارۍ ته
ما چې خپل بدوالے ښۀ په ډاګه را اظهار کړو
تا لره حاصل مې ذوق د ترک او د اختیار کړو
راشه د دې خپل اورځنے ما ته نجات راکړه
اې آدمه! دا د مشکل غوټه زما وا کړه
اې زما په بند کښې ګیره فکر وکړه ځان ته
تا موقع ورکړې د عصیان وه و شیطان ته
اوسې چې جهان کښې نو همت د مردانه کړه
اې زما غم خوره ژوند زما نه بېګانه کړه
تېر شه بې پروا زما د نېش او نوش له زوره
لا عمل نامه چې زما نشي نوره توره

چرته چې وي ښکار هلته ښکاري هم ګیر چا پیر وي
ته چې تر څو ښکارې زما غشي به هم ډېر وي
څوک چې الوتاے شي نه پرېوزي خواري نشته
ښکار که ځان په عقل بچ کواے شي ښکاري نشته
وې مي ورته تېر شه د آئین نه د فراق
"ټولو نه خراب څیز دے زما په نیز طلاق[1]
وې سوز د فراق دې چې نغمه یې زندګي ده
ښکلي د فراق د ورځي ځنګه سر مستي ده
نه راځي خبره مي د وصل په خوله ښۀ یم
او که غواړم وصل نه به هغه نه به زۀ یم
حرف د وصال څۀ ؤ؟ چې له ځانه بېګانه شو
تت یې چې په زړۀ کښې سوز او درد ؤ را تازۀ شو

او چورلېدو یو ساعت چابک په خپل لوګي کښې
بیا نو پس د دې نه شولو ورک پخپل لوګي کښې
بیا له دې لوګي اوچت په غریو کښې دا سخن شو
"مخ د هغه کس دے چې په زړۀ باندې خوړمن شو"

[1] ابغض الاشیاء عندي الطلاق مشهور حدیث دے.

# د ابليس ژړا

اې د کل نېکانو او بدانو کردګاره!
سر شوم په صحبت کښې د آدم په کړه لاره
هيڅ کله زما له حکم سر نه ګرځوينه
پټې سترګې يون کوي خپل ځان نه پېژنينه
خاوره کښې يې پاتې چرته ذوق د ابا نشته
هم پکښې بخرې د غرور کبريا نشته
ښکار پخپله دا وايي ښکاري ته ما اسير کړه
ما خو په امان له دې بنده فرمان پذير کړه
خدايه له دې هسې رنګه ښکار نه مې آزاد کړه
هغه پخوانۍ طاعت زما خو را په ياد کړه
ټيټ د دۀ دپاره زما ختۍ لوړ همت شو
خومره مصيبت شو خدايه خومره مصيبت شو
خام فطرته! کلکه اراده کولۍ نۀ شي
دا حريف زما خو يو ګذار زغملۍ نۀ شي
چرته که ښتن وي د نظر زما پکار دے
پوخ چې وي حريف او ډېر زړور زما پکار دے
دا د خاورو خټو ګوډاګۍ واخله زما نه
نه کېږي پېښې د ماشومانو د بوډا نه
څوک د آدم څۀ دے؟ خو بس يو موټۍ د خس دے
دې يو موټي خس ته زما يو بخرے بس دے

دلته چې دا خس ؤ دومره زور دي ولې راکړو
زور دي ولې راکړو دومره اور دي ولې راکړو
څوک چې ښيښه ويلي کاندي دا ورلره عار دے
هوکه چرې ګټه کاندي ويلي دا يو کار دے
دومره يم تنګ شوے له دې تشو فتوحاتو
تا لره اوس راغلم په غرض د مکافاتو
ما نه چې منکر وي هغه کس غواړم د تا نه
هغه يو ځوان مړد خو راته وښايه يزدانه
داسې بنده غواړم چې را تاؤ زما ګردن کړي
بس چې يو نظر يې زلزله زما په تن کړي
هغه چې ما ورټي او وايي چې "را نه شې"
هغه چې قيمت مي ورته ښکاري دوه وربشې
خدايه يو بنده غواړم ژوندے او حق پرسته
ګوره که لذت ومومم داسې له شکسته

# د زحل فلک

## هغه رذيل روحونه چې د ملک او ملت سره يې غداري کړې وه او دوزخ قبول نه کړل

پير د روم هم هغه چې امام دے د رښتينو
هغه چې اشنا له هر مقام دے د رښتينو

وې د آسمانونو لارويه ډېر دي جوش دے
تا ليدلے دے هغه عالم چې زنارپوش دے
هغه چې ښکارېږي ګير چاپېره يې له ملا دے
وړے دلکۍ نه د يو ستوري يې په غلا دے
دومره دروند چلېږي چې رفتار يې هم سکون دے
هر يو ښۀ د دۀ له حکمه بد دے او زبون دے
هر څو که جوړ شوے يې کالبوت له آب و ګِل دے
کار د ښې په مځکه ايښودو ورته مشکل دے

يو لک فرښتې لري په لاس کښې تندرونه
وېشي د ازل نه د خداى قهر غضبونه
پر له پسې ستورے په دره وهي اکثره
ستورے په هوا کاندي اکثر له خپل محوره
واړه په هستۍ کښې دا عالم مردود رذيل دے
ورځ يې لکه شپه وي چې لمر پټ ساتي بخيل دے
ځاے دے د ارواح پخوا د ورځي له نشوره
دے د سوزېدلو نه دوزخ يې هم نفوره
دي دوه شيطانان پکښې عالم يې لړزولے
ځان دپاره روح د همه قام يې دے وژلے
دے جعفر صادق يو د بنګال بل د دکن دے
هر يو ننګ د دين، ننګ د آدم، ننګ د وطن دے
دواړه ناقبوله، نا اميده، نامراد
روغ ملت د دوے له برکته په فساد

دا ملت چې بند د هر ملت يې پرانستلو
ملک او هم يې دين د خپل مقام نه پرېوتلو
ولې نو ته نه پېژنې ملک د هندوستان؟
هغه چې مين دي پرې د زړونو خاوندان
دا هغه تږه ده چې روښانه پرې جهان دے
لا تر اوسه خاورو او په وينو کښې غلطان دے
خاوره کښې يې چا د غلامۍ تخم کرلے؟
بس دغو ناپاکو ارواحونو دے شيندلے
لږ خو نظر وکړه په دې شنه لويه فضا کښې
ګوره نتيجه د عمل څۀ وي په دنيا کښې

## د وينو درياب

څۀ چې ما ليدلي په بيان کښې نه ځايېږي
روح زما له ويري د خپل تن نه، نه خبرېږي

څۀ ګورم چې سيند دے يو له وينو ډک روان دے
هم پکښې دننه، هم دباندې پرې طوفان دے
پورته پرې ماران لکه په سيند کښې چې نهنګ ؤ
تور کچه وښته يې د پارې غوندي په رنګ ؤ
تند او ماتوونکے يې هر موج لکه پلنګ ؤ
مړے له هيبته په ساحل باندې نهنګ ؤ

خپل ساحل يې لرِ هم په آرام نه پرېښودلو
دم په دم په ګټ له غره په سيند کښې را لوېدلو
يو چپه د وينو به له بلې جنګېدله
منځ کښې يې کشتۍ وه ټټېدله، هسکېدله
دوه سړي سواره وو دې کشتۍ کښې زېړ ځبېښلي
خوار، سپيره، بربنډ، خيرن وېښته، ځيرې ځپلي

# د هندوستان روح څرګندېږي

وچاودو آسمان ترې راښکاره شوه يوه حوره
لري يې پرده کړه چې يې مخ ؤ ډک له نوره
پاس يې په تندي کښې تار او نور ؤ بې زواله
هم په دوه لېمو کښې يې سرور ؤ بې زواله
سپکه لوپټه يې له وريځ، ښکلي تارونه
بس خو د ګلاب د ګل د پاڼو وو رګونه
بيا سره د دې حسنه، نصيب کښې يې زنځير ؤ
خولې نه يې فرياد هسې ختلو چې دلګير ؤ
وې روميؒ دا روح د هندوستان دے و يې ګوره
سوزي پرې ځيګر چې د فرياد له ډېر زوره

# د هندوستان روح ژړا، فریاد کوي

شمع د زړهٔ تته په فانوس د هندوستان کښې
خلـګ یې له ناموسه بېګانه دي په هر آن کښې
واړه نا محرم دي د خپل نفس له رازونو
کم وهي زخمک د خپلو زړونو په تارونو
تل یې په تېر وخت پسې الوت کړي نظرونه
دوے له ساړه اوره تودوي خپل ځیګرونه
لاس او پښې تړلي چې زما دي، له هغو دي
چیغي چې دي غمي مي نارسا دي، له هغو دي
ګوره چې خودی نه یې خلاص کړي خپل ځانونه
دوے زړو رسمونو نه جوړ کړي زندانونه
تنـګ یې سرېتوب دے له وجود او هم له ژواکه
هم دا نوے عصر یې له پاک او له ناپاکه
پرېږده هغه فقر چې حاصل یې عریاني وي
ځار له هغه فقره چې حاصل یې سلطاني وي
پرېږده خوے د صبر او ځان و ساته له جبره
جبر دے مجبور ته او جابر ته زیات له زهره
دا که ګورې روږدے شي په پرله پسې صبر
هغه ګوره روږدے شي، په پرله پسې جبر
بیا نو په دې دواړو کښې عادت د ستم ډېر شي
وردِ "یالیت قومي یعلمون" سې را برسېر شي

شپه د هندوستان به څنګه ورځ شي نه پوهېږم
مړ که وي جعفر روح يې ژوندے دے او وېرېږم
خلاص چې د هغه له يوه قيده نه بدن شي
بله چاله جوړه کړي مېشته په بل يو تن شي
کله د ګرجې سره لګيا وي ساز او باز کا
کله کړي سر ټيټ د هر مسالياتو ته نياز کا
دين دے، که آئين دے، د هغه سوداګري ده
ګويا عنتري دے چې جامه يې حيدري ده
بس خو يو پوټے چې رنګ او بوے د جهان نور شي
رسم او آئين هم د هغه په هغه طور شي
مخکښې يې څۀ نور ؤ اوس څۀ بل د دۀ مسجود دے
نن زموږ په وخت کښې خپل وطن د دۀ معبود دے
ګوره په ظاهر د دې په غم کښې خوار و زار دے
ننه د بامبړ غوندي په غاړه يې زنار دے
وژني به ملت چې وي جعفر په هر بدن کښې
دا زوړ مسلمان ملت کُشي لري په تن کښې
خوله له خندا ډکه و هر چا ته خو يار نه دے
مار که خندنے شي څوک به وايي چې مار نه دے
وګوره نفاق يې، چې وحدت د قام دوه نيم دے
غم کښې خپل ملت مبتلا کړے دې لئيم دے
کار د بربادۍ د کوم ملت چې چرته سر وي
مونږ به د هغې يا يو صادق يا يو جعفر وي
خدايه ته د روح نه د جعفر مو په نمان کړه
بيا د جعفرانو نه مو خلاص د دې زمان کړه

# د وینو د دریاب د کشتۍ د يو سپاره فریاد

"نه چرته عدم مو قبلوي او نه وجود
هاے د بې مهرۍ ځنې د بود او د نابود
هغه ؤ چې تېر شو د جهان له شرق و غربه
ورغلو دوزخ ته مونږ سره د درد و کربه
نه يې يو بخرے په صادق جعفر ګذار کړ
نه د خاورو موټې يې زما پر سر ګذار کړ
وې خوراک دوزخ لا نۀ د خس او له خاشاکه
وې زما لمبه دي له دې دوو کافرو پاکه

لاړمه تر بره پاتې شول نهه آسمانه
لاړمه پخوا زۀ له مرګوټې ناګهانه
وې چې "روح دے راز چې د اسرارو نه زما دے
روح ساتل او تن ورانول دغه کار زما دے
بد روح که هر څو په دوو وربشو هم ارزان دے
اې چې ورانول د تن مې غواړې درومه ګران دے
توان د مرګي نشته چې به هسې رنګه کار کا
روح چې د راحت سره آشنا د يو غدار کا
"تندې هوا! اې د وینو سرو سینده روانه
اې فراخې مځکې اې بې حده شین اسمانه!

اې روښانه ستوريو! اې سپوږمۍ او اې آفتابه!
اې قلمه! اې لوحه محفوظه، اې کتابه
اې سرمایه دارو د مغرب سپينو بتانو
اې بې جنګ جګړې د ملکونو مالکانو
دا همه جهان بې ابتدا، بې انتها دے
او وايي چې څوک د يو غدار بنده مولا دے؟"
ناڅاپه يو ږغ زړهٔ لړزوونکے را پيدا شو
څيري پرې ټټر چې د صحرا او د دريا شو
ربط ؤ، که نظام ؤ، د اقليم د بدن وران شو
ګويا ګټ له ګټه جنګېدو هسې طوفان شو
غرونه پکښې تلل جوړې وريځ وه الوتله
غږ د شپېلۍ نه ؤ، خو دنيا وه نړېدله
پړق د زړهٔ له تاوه، دنياګانې ورانولې
سيند کښې يې د وينو ښکته جالي لټولې
شور کښې وې څپې له خپله واکه وې وتلې
غرونه غاړي هر خوا ته په وينو وې لړلې
هر هغه چې تېر په نا پيدا او په پيدا شول
ستورو به کتل ورته او تېر ترې بې پروا شول

# د اسمانونو نه بره د المانوي حکیم نطشه مقام

هر چېرته جګړه د فنا او د بقا ده
هیڅوک برې پورې نه شو د فلک څۀ مدعا ده
هر چرته پیغام د ژوند مرګې راوړي ډېر ښۀ دے
سخ د هغه کس چې په دې پورې شي چې مرګ څۀ دے
هر چرته ارزان لکه هوا دغه حیات وي
دے خو بې ثبات خو په ارمان کښې د ثبات وي
سل عالمه ما چې په شپږ ورځي کښې پیدا دي
ولیدل تر دغې کائیناته چې نما دي
بیلي هم پرې وني، هم سپوږمۍ د هر جهان دے
بیل یې وي آئین، بیل یې د ژوند ساز او سامان دے
وخت د هر عالم ګاهې روان لکه دریا وي
دلته وي ورو- ورو خو هلته تند لکه هوا وي

کله زموږ چرته کښې یو میاشت چرته یو دم دے
دې دنیا کښې ډېر چې څۀ ته وایو هلته کم دے
دې دنیا کښې عقل مو صاحب چې د فنون دے
دا دي که په بل جهان کښې ولید خوار زبون دے
بیا مي په سرحد د دې نیمګړي جهان ولید
یو سړے مي هلته خوږمن زړۀ او ګریان ولید

سترګو کښې سیوا له باتورانو یې تیزي وه
مخ یې پلوشې کړې ترې ښکاره د مخ ګرمي وه
سوز به یې د زړهٔ په هر ساعت کښې زیاتېدلو
دا بیت یې په خوله ؤ چې سل ځل یې ووئېلو
"تښتي له جبریل، جنت، او حوري هم څښتنه
غه کالبوت چې سوز یې وي له یو روح ارمانجنه"
ما رومي رح ته ووئېل چې څوک دا دیوانه دے
ووئېل رومي رح "دا د ایمان یو فرزانه دے"
ځاے یې دے په منځ کښې د دې دواړو عالمونو
پټه یې نغمه ده، په شپېلۍ کښې له کالونو
بې دار و رسنه دا حلاج دے جوړ راغلے
هغه پخوانے ټکے یې بل ډول ویلے
ټکي یې بېباکه دي افکار یې ډېر عظیم دي
واړه مغربیان یې د ګفتار په تیغ دوه نیم دي
یو ملګرے هم یې له جذبې نه خبرېدلو
هغه مجذوب دوے ته لېونے به ښکارېدلو
عشق او د مستۍ نه عاقلان وي بې نصیبه
تل به یې تشخیص دپاره ورلو تر طبیبه
نور څهٔ وي طبیب سره؟ خو بس فریب او رنګ وي
هاے شه په مجذوب چې زېږېدلے په فرنګ وي
څهٔ ابن سینا کړي؟ خو تکیه په کتابونه
ورکړي خواب آورې ګولۍ یا وهي رګونه

وګوره حلاج ته پخپل ښار کښې ؤ غریب
پاتې چې ژوندے شو له ملا مړ کړو طبیب
نه ؤ لار ښودونکے څوک په خاوره د فرنګ کښې
تنده یې د حد نه شوه نغمه چې وه په جنګ کښې
چا دې لازوے ته مخکښې شمع نه کړه بله
خود په وارداتو کښې یې راغلل سل خلله
زنګ ترې چا ونه کړو که په اصل کښې سره زر وو
چا د کار سرے ترې نه جوړ نه کړو بې ګودر وو
ؤ هغه عاشق چې د خپل آه په زار کښې ورک ؤ
یو هغه سالک ؤ چې پخپله لار کښې ورک ؤ
ما ته یې مستني په هر مقام هره ښیښه کړه
پرې یې هم له خدایه هم د ځان ځنې رشته کړه
ده غوښته لیدنه چې په سترګو ظاهري شي
ګډه په یو ځاے چې قاهري او دلبري شي

ده دغه غوښتل له خاورو ختو چې بېرون شي
دې د زړهٔ پټې کښې چې کوم ورے را زرغون شي
ده چې څهٔ غوښتل هغه مقام د کبریا دے
دا مقام د عقل او حکمت نه ماورا دے
شرح دغه ژوند له اشاراتو د خودۍ دے
"لا" دے که "الا" له مقاماتو د خودۍ دے
پاتې له "الا" شولو په "لا" کښې درمانده شو
ځکه د مقام د "عبده" نه بېګانه شو

ۀ د تجلیٔ سره تر خوا خو بې خبر ۀ
لري د مېوې غوندي له ستې د شجر ۀ
سترګو یې دیدن د بل چا نه غوښت بې آدمه
چیغې یې وهلې آدم کوم دے؟ اې عالمه!

**ق**

وګنې هغه خو د آدمو نه بې زار ۀ
هغه د موسیٰ غوندي طالب د بل دیدار ۀ

دریغه چې هغه په زمانه کښې د احمد رح* وې
دے به رسېدلے خوشحالیٔ ته د سرمد وې
بس د هغه عقل د خپل ځان سره ویېږي
څه په خپله لاره، خپله لار بنۀ معلومېږي
پورته دي قدم کړه، مخکښې اوس هغه مقام دے
بې حرفه پکښې ظاهرېدونکے چې کلام دے

## د جنت الفردوس په لور لېږدېدنه

و وتمه، لاړمه له حد د کائیناته
ورغلمه زۀ چې یو جهان ۀ بې جهاته

* احمد: حضرت شیخ احمد سرهندي رح

ښے او چپ یې نشته دے بې لوره دا جهان دے
شپه او ورځ یې نشته، هسې طوره دا جهان دے
هلته چې ځراغ مي د ادارک ؤ تت او خړ شو
حرف مي د هیبت نه د معنا پرېوتو مړ شو
حال د روح په دې ژبه ویل کله آسان وي
بند چې وي پنجره کښې الوتل ورته ډېر ګران وي
لږ غوندي خو ته وکړه نظر د زړهٔ جهان ته
را چې شي رڼا د د خپل نور ځنې چشمان ته
څهٔ دے زړه؟ دنیا ده بې د رنګ او بې له بویه
پاکه دا دنیا د رنګ او بوے ده، له چار سویه
زړهٔ که څو ساکن دے خو په هر ساعت سیار دے
ډک دغه عالم ته له اجوال او له افکار دے
ځي یو حقیقت نه بل ته ورو- ورو رسي عقل
زړهٔ ځي بې له لارې بې له سیره بې له نقل
سل که وي خیالونه خو هر یو له بل جدا وي
دا له آسمانونو آشنا هغه نارسا وي
هیڅوک داسې نه وایي چې دا ګردون آشنا
مل دے په مزل د هغه خیالِ نا رسا
یا د یار له دید چې شي پیدا هغه سرور دے
یا د کوڅې باد دے چې دارو د زړهٔ رنځور دے
خوب که وي راغلے لا دي تللې له لیمو وي
دید د زړهٔ په ځاے بغیر د لمر د پلوشو وي

بس هغه دنيا د زړهٔ دنيا غوندي به وي
لمر د هغې څهٔ او يام چې خيال کښې نه راځي
بيا هغې جهان کښې لا دننه بل جهان دے
اصل د هغې جهان له ښېله "کن فکان" دے
هغه لازوال دے دم په دم نوے ښکارېږي
نه راځي په وهم کښې لېکن ليدلې کيږي
هر ساعت هغه لره پيدا نوے کمال دے
هر ساعت په هغه کښې ښکاره نوے جمال دے

هيڅ حاجت يې نشته لمر، سپوږمۍ ته له هيڅ شانه
ځاے به شي انګړ کښې د هغه نهه آسمانه
هر هغه غائب چې وي نو هلته د ليدو وي
مخکښې له هغه چې يې پيدا په زړهٔ آرزو وي
زهٔ به درته څهٔ پخپله ژبه وايم څهٔ دے؟
بس دغه جهان ظهور او نور د ژوندانهٔ دے
ښکلے رېدي ګلې يې خندا نه دے په غرونو
دي ښکلي نهرونه يې جاري په ګلزارونو
سپيني آسماني او سرې غونچې يې د ګلانو
دوے همه غوړېږي په نفس د قدوسيانو
ياد يې عنبرين، اوبهٔ په شان د سپينو زرو
شته پرې زمردي ماڼۍ قبې يې د مرمرو
سرې- سرې ياقوتي خېمې زرين يې طنابونه
رشک د آئينو يې معشوقې لري مخونه

ووئېل روميؒ چې "اې راګيره په قياس!
تېر شه ته له دې اعتباراتو د حواس
دا خو تجلي ده د دې ښو بدو کارونو
چرته د جنت رنګ اخلي چرته د اورونو
اوس چې دا ته وينې محلونه رنګ په رنګ دي
اصل يې اعمال دي، نه چې دوې له خشت و سنګ دي
دا چې خلک وايي چې کوثر، غلمان او حور وي
دا له دې جهان جلوه د جذب او د سرور وي
دلته چې کوم ژوند دې، نو بس هغه له ديدار دې
ذوق دې د ديدار او نندارې او د ګفتار دې"

# د شرف النساء محل

ما وې دا محل سوا د لعل له آب و تابه
هغه چې بريښنا يې خراج اخلي له آفتابه
دغه لوړ محل، دغه مانۍ، دا څۀ مقام دې
حورو چې تړلې يې په در باندې احرام دې
اې چې سالکان دي کړل آشنا له جستجو يه
ښوک د دې ښښتن دې را ووايه نېک خويه
وې چې "دا محل مو د بېګم شرف النسآء دې
بس د بام مارغۀ يې د ملکو هم نوا دې

داسې مرغلره زموږ سيند نه ده راوړلې
نه دا هسې لور له بلې موره زېږېدلې
خاوره د لاهور يې جوړ آسمان شوه له مزاره
نشته په جهان يې څوک له رازهٔ خبرداره
هغه سر تر پايه ذوق او شوق او درد او داغ ده
واوره د پنجاب د يو حاکم چشم و څراغ ده
هغه چې و آل عبدالصمد لره رڼا ده
پاتې يې د فقر چې نقشه تر ابدا ده
سوز يې ؤ په زړهٔ کښې د قرآن له برکته
نه اوزګارېدله يو نفس له تلاوته
توره يې تر ملا وه او قرآن به يې ؤ لاس کښې
عشق يې ؤ د خدای په تن بدن او په حواس کښې
لمونځ به ؤ او توره هم خلوت ؤ هم قرآن ؤ
ښنګه ښکلې عمر ؤ چې تير په دغه شان ؤ
ساه په زنکدن کښې چې يې راغله تر مرۍ
او يې کتل مور ته څهٔ په ډېره مشتاقۍ
وې ويل که څهٔ هم زما راز په تا عيان وي
ستا به تل نظر، زما په توره په قرآن وي
دا دوه قوتونه محافظ د يو او بل دي
دا د ژوند جهان ته محورونه تل تر تل دي
دا يې په دنيا کښې هر نفس محافظان وو
ستا د لور هم دغه حقيقي دوه محرمان وو

وخت کښې د رخصت مي وصیت دے چې که ښهٔ کړې
دا توره قرآن چې تهٔ زما نه جدا نه کړې
وکړه پرې عمل چې وایم زهٔ بې قال و قیله
قبر زما جوړ کړے بې ګنبده بې قندیله
تېغ مسلمانانو ته سره د قرآن بس دے
قبر ته زما مورې هم دغه سامان بس دے
پروت ډېره موده د دې په قبر بر قرار ؤ
وه یوه یې توره، بل قرآن یې په مزار ؤ
قبر د هغې د اهل حق دپاره عام ؤ
ژوند لره په دې فاني دنیا کښې یو پیغام ؤ
خپل عمل مسلم له اقتداره پرې ویستلو
فرش د حکومت یې زمانې را ونغښتلو
مرد چې ؤ د حق د غیرِ حق نه په لړزا شو
شیر چې د مولا ؤ د لومبړۍ نه سوا شو
لا یې ړو د زړهٔ نه تب او تاب چې د سیماب ؤ
ته خو ښهٔ پوهېږې بیا څهٔ حال چې د پنجاب ؤ
لاس کښې د سکهانو هم دا توره هم قرآن شو
مړه مسلماني په دې وطن هم مسلمان شو

# د امير کبير حضرت سيد علي همداني رح او ملا طاهر غني کشميري رح زيارت

اور مي زړګي واخيست د روميؒ په دې خبره
را مي غله په خوله چې هاۓ پنجابه بختوره
بل کړل د يارانو غم په ما باندې اورونه
شول مي په جنت کښې په زړګي زاړه غمونه

دې وخت کښې ما واورېده صدا يوه دردمنده
شوله د کوثر د حوض له خوا ځنې بلنده
"يو موټۍ خشاک مي غونډ کړو ځان مي پرې سبزلو
ګل وې ګڼي جاله جوړوي په ګلستان کښې"

(غني)

وې روميؒ چې څوک راشي نو ګوره ورته بويه
څۀ چې وي تېر شوي هغه هېر کړه زما ځويه
يو رنګين نوا شاعر ملا طاهر غني ؤ
فقر د هغه باطن غني ظاهر غني ؤ
ښه نغمه جاري د دۀ په شونډو بۀ مدام وه
دا بۀ په حضور کښې د سيد والا مقام وه
مشر د ساداتو، هم سالار چې د عجم ؤ
لاس يې يو معمار د تقديرونو د امم ؤ

درس د الله هو او ذکر فکر د مردانو
واخیست غزالي رح هم د هغه له مشرانو
هغه چې د دغه بې نظیره وطن پیر ؤ
هغه چې امیر، فقیر، بادشاه لره مشیر ؤ
ګویا ؤ د فیض یې په لستوني کښې سیندونه
ور یې کړة دې ملک ته تهذیبونه هم علمونه
ده په نوو- نوو زړهٔ راښکونکي هنرونو
جوړ دلته وړوکے شان ایران کړو په فکرونو
غوټي به یې وا په یو نظر کړې سل له واره
زر شه پرېږده، غشي د هغه ته د زړهٔ لاره

## د شاه همدان په حضور کښې

### زنده رود

غواړم یې کنجي د تا نه راز چې د یزدان دے
ما نه طاعت غواړي، هم جوړ کړے یې شیطان دے
یو طرف خو ما وته بدۍ ښکلې ښکاره کړې
بل خوا په عمل کښې د نېکۍ مطالبه کړې
ووایه چې دا فسون سازي ده او که څهٔ ده؟
یا د جوار ګرو څهٔ بازي ده او که څهٔ ده؟

دا یو موټړ خاورې او بې حده آسمانونه
وایه مناسب ؤ چې یې وکړه دا کارونه؟
کار دے که افکار زموږ خو مونږ لره آزار دے
چک وهو په خپلو لاسو دا زموږه کار دے

## شاه همدان

هغه بنده کوم؟ چې د خپل ځان ځنې خبر وي
هغه جوړولے شي ترې نفع که ضرر وي
ناسته د شیطان سره وه آدم لره وبال دے
رخه د شیطان سره آدم لره جمال دے
ځان په دې شیطان کړه ور ګذار د لاروي کړه
ته یې همه توره جوړ د هغه نه برچې کړه
تېز شه چې ګذار د سخت شي ورکړه ورله ماتې
وګنې بدبخت به شې په دوه جهانه پاتې

## زنده رود

لاندي تر آسمانه یو سړے د بل خوراک دے
یو ملت په بل ملت یرغل کوي بې باک دے
زړهٔ د وطنیانو سیزي ګویا سپېلنے دے
زړهٔ نه یې خوړمنے چیغې خیژي لبونے دے

څومره خوږ ملت دے، څهٔ زیرک؟ ډک له کمال دے
دا پخپل هنر په ټول جهان کښې یو مثال دے
غرقه یې پیاله د خپلو وینو په غولۍ کښې
دے دغه مضمون چې مي ژړا ده په شپېلۍ کښې

دے چې د خودۍ ځنې پرېوتے بې نصيب دے
ځکه خو هغه پخپل وطن کښې هم غريب دے
وکړي مزدوري خو په قبضه کښې وي د نورو
کب يې د خپل سيند وي په کنډه کښې وي د نورو
لېږدي کاروانونه يې منزل ته ګام تر ګامه
کار يې وي بې خونده خام کچه او بې اندامه
مړې يې شوې جذبې په غلامۍ کښې اوس سړي دي
وې چې يې لمبې د تاک په رګ‌کښې هغه مړي دي
دا په زړۀ کښې مه وايه چې دے هم دغه شے ؤ
تل پردو درشلو باندې پروت د دۀ تندے ؤ
دے په يوه وخت کښې صف شکن او توره باز ؤ
لويه حوصله يې وه، غالب ؤ هم جانباز ؤ
وګوره دا ښکلے سپين غټن غوندي يې غرونه
ګوره دا د اور لاسونه ښکاري چنارونه
وتي په سپرلي کښې يې لعلونه له هر سنګ وي
پورته يې له خاورو يو طوفان غوندي د رنـګ وي
څۀ ټوک- ټوک وريځې يې د غرونو په دامان وې
يا پنبه الوتې د ليندې نه د کمان وې
غرونه دريابونه او د لمر په پرېوتو کښې
خداى مې بې حجابه وليدلو دې ورشو کښې
هلته په نشاط[1] کښې مې نسيم سره پرواز ؤ
"بشنواز نې[2]" ؤ زما په لبو دا مې ساز ؤ

---

[1] نشاط: د کشمير مشهور باغ.

[2] بشنوازني: تلميح د حضرت رومي په شعر: بشنو از نے چون حکايت مي کند.

دا رنګي لګیا ؤ یو مارغوکې په شاخسار کښې
وې کا سیره نشته دې بها په دې بهار کښې
راغے ریدي ګلي تور نرګس هم را عیان شو
ځیري د نوروز د باد له لاسه یې ګرېوان شو
ډېر عمر زرغون شو له دې غر او له کمره
نور نه د سپوږمۍ نسترن پاکیزهٔ تره
ډېر عمر ګلونه راغله لاړه نما نه شو
بل شهاب الدین[1] زموږ له خاورې پیدا نه شو
دا سوې ژړا چې د سحر هغه مارغه کړه
بل شاني ګرمي یې را پیدا زما په زړهٔ کړه
آن چې مي یو ولید لیونے چې په خروش ؤ
یو یې ووې زما نه چې سامان زما د هوش ؤ
"مه غواړه زما نه مستانه ژړا تېرېږده
ښاخ د ګل جادو د رنګ او بوے دے ترې لېردیره
تا وې چې له پاڼو د رېدي خاځي شبنم
دې غافل په غاړه چپه د رود ځځوي نم
یو موټے بڼې او دا سرود او واویلا
دا د غني روح ژاړي په مرګ د تمنا
ته که جنیوا ته چرې ځې بادِ صبا
ورسوه "مجلسِ اقوام ته دا له ما
خرڅې یې ولې پټې باغونه هم دهقان کړ
هم یې قام کړ خرڅ همه، خو خرڅ یې څهٔ ارزان کړ

---

[1] شهاب الدین: د کشمیر یو باچا.

## شاه همدان

زهٔ یو باریک رزم درته وایمه پسره!
تن دي همه خاوره، ولې روح دي مرغلره
جسم چې د روح دپاره ویلي شي پکار دے
پاک څیز چې له خاورو ببلوږ شي هوښیار دے

ته یوه ټوټه د تن که غوښهٔ کړې له تنه
بیا به لاس ته در نهٔ شي جدا شوه له بدنه
او که چرته روح په جلوه مست وي را پیدا شي
ته که یې قربان کړې نو واپس به درته را شي
نه دے د هیڅ څیز غوندي، جوهر چې د هغه دے
دې هغه بندي ولې بیا هم په بند کښې نه دے
مړ شي چې یې ته کوې پالنه په بدن کښې
او که یې قربان کړې شي رڼا په انجمن کښې
روح جلوه مست وايي څهٔ ته؟ مرده د لاوره
خپل روح ورکول څهٔ وي او نمایه بهادره!
روح ورکول څهٔ دي؟ مخ یې حق ته ګرزول دي
بیا د روح په تاؤ باندې د غر ویلي کول دي
څهٔ جلوه مستي ده؟ خو د خپل ځان پېژندنه
تورو تورو شپو کښې لکه ستورے ځلېدنه
نه موندل د ځان په حقیقت کښې ورکېدل دي
ځان موندنه، خپل ځان ته، د خپل ځان ور بخښل دي

ځان چې ولید چا بل یې و نه لید بې له ځانه
خپل ځان یې بهر کړلو د خپل ځان له زندانه
ځان چې کوم یو مست د دې جلوې وپېژندلو
درد ورته له ډېروي خوشو ښۀ وښکارېدلو
ځان د دې نظر کښې لکه باد هسې ارزان شي
بیا نو په لرزان د دۀ په مخکښې خپل زندان شي
دې په تبشه خپله د کلک کاڼي زړۀ چوي
داسې د دنیا نه خپل قسمت پورته کوي
تېر چې له خپل ځانه شي نو ځان هله د دۀ دے
دا که نه وي روح یې د یو څو لحظو مېلمه دے

## زنده رود

تا د ښو او بدو له حکمته کړم خبر
اې هوښیاره مشره! یو نکته یو بل نظر

ته په معنا پوے وې په معنا د پویو سر وې
ته د بادشاهانو د رازونو نه خبر وې
موږه فقیران یو بادشاهان غواړي خراج
څۀ دے اصلیت د اعتبار د تخت و تاج

## شاه همدان

اصل د شاهي څۀ دے په شرق کښې او په غرب؟
یا رضا د خلکو او یا جنګ و حرب و ضرب
زۀ درته رښتیا ووایم اې عالي مقام!
بې له دوو کسانو خراج نورو ته حرام

یا یو "اولِ الامر" چې منکم* د هغه شان دے
دا د خدای آیت د دهٔ ثبوت دے او برهان دے
یا هغه ځلمے چې د سیلۍ غوندي را خور شي
هر خوا ته ملکونه را نیواے په جنګ و زور شي
وي په ورځ د جنګ یې تماشې د قاهرۍ
وي په ورځ د صلحې یې شیوې د دلبرۍ
هند و ایران دواړه په پیسو شي خرڅېدلے
هیڅوک بادشاهي په بیه نهٔ شي اخستلے
هیڅوک د دوکان د ښیښه ګرو نه په دام
نهٔ شي اخستلے اې ځوانانو د جم جام
جام د جم چې خرڅ شي په پیسو تشه ښیښه شي
تشه ښیښه څه؟ د ماتېدو یې اندېښنه شي

## غني

هند ته دا مزه د آزادۍ ورکړله چا؟
صید ته دا سودا د صیادۍ ورکړله چا؟
دا هغه اولاد د برهمن دے زنده دل
سور ریدي د دوے د سرو مخونو نه خجل
تېز نظر او سخت او جفاکش او پخته کار دي
واړه فیرنګیان یې د نظر نه په کوکار دي
اصل د دوے هم زموږ د خاورې له خمیر دے
دې روښانه ستوریو له افق زموږ کشمیر دے

* اولِ الامر منکم: په آیت کریمه اشاره ده.

ته که له سپرغو ګڼې خالي زموږ ایره
لږ خو د نظر په ډکي ځان را اوکیره
ته چې دومره سوز لرې دا وایه دې له کومه
ساه دي دسپرلي نسیم، اونمایه دې له کومه؟
دا هغه نسیم دے چې د دې له تاثیرونو
خوند و رنګ و بوے اخستے دے زموږه غرونو
ښه نو خبر نه یې چې د لري سیند په غاړه
وې یوې څپې بلي څپې ته هسکه غاړه
څو به په دریاب کښې یو د بل سره جنګیږو
پاځهٔ په یو دم کښې چې ساحل ته ورسیږو
هغه پخوانے زموږه سیند د خپل وطن دے
شور یې په کڅیو کښې د غرونو په لمن دے
سر وهي د لار په ګټو کاندي چپاوونه
ان تر دې چې اوکني د غرونو بنیادونه
هغه ځوان چې ښار او د صحرا د رانیوو دے
شوے پرورش یې د سل میاندو په شود دے
دا همه له موږ دے د هغه چې کوم شوکت دے
دا سطوت شوکت یې واړو خلکو ته قیامت دے
ژوند مو د ساحل نه را دننه څهٔ پکار دے
دا ساحل که ګورې ګټه، خټ زموږ د لار دے
روغه د ساحل سره کول مرګ د دوام دے
خیر که په دریاب کښې مو چپاؤ سحر ماښام دے

ژوند دے دا چې زغل په غرو روغو يې وکړو لاړو
ځار له هغه موجه چې ورکيوزي په غاړو
اې هغه د ژوند د تندي خط چې تا لوستلے
اې د ژوندون اور د چې مشرق ته ور بخښلے
اې چې داسې آه لرې چې سيزي ځيګرونه
ته يې ترې بېتاب خو مونږ له تا ترې سوا يونه

ته يې چې بلبل درنه ژړا په هر نفس کړي
ستا په پاکو اوښکو د چمن شينکے اودس کړي
اې چې ستا د طبعې نه پېړ د عشق زرغون شو
اې چې هر يو زړهٔ دي له اميده ډک ممنون شو
غږ چې ستا جرس دے، د همه ؤ کاروانونو
ولې نا اميد يې د وطن له اولسونو
زړهٔ يې لا ژوندے دے په سينو کښې نه چې مړ دے
روڼ د خوړلن لاندې يې بخرے نه چې خړ دے
وار خو وکړه ته، بې د شپېلۍ له آوازونو
يو ملت د خاورو نه به جګ شي د قبرونو
غم در کښې خرګند ولې خاونده د نظر شي
وکړه داسې آه چې سره لمبه دا خشک و تر شي
ډېر د لاجوردي آسمان نه لاندې شته ښارونه
لاړل سره لمبه شوو چې درويش وکړل آهونه
واوره حکومت د بربوکۍ نه هم نازک دے
بس خو يو پوکے چې ورته ور کاندي نو ورک وي

جوړ د شاعرۍ نه شي تقدیر د امتونو
هم کوي تخریب او هم تعمیر د امتونو
څو که ستا نشتر دے هر یو زړهٔ ته رسېدلے
بیا هم حقیقت کښې ته چا نه یې پېژندلے
ده په تا پرده چې د نوا د شاعرۍ نه
ستا ښکلې وینا ده ما ورا د شاعرۍ نه
جوړ څهٔ نوے- نوے شور و شر کړه په جنت کښې
راشه مستانه سندره سر کړه په جنت کښې

## زنده رود

آشنا د دروېشۍ نشه کړه خښه بیا دم په دم
چې پوخ شې پکښې لاندې کړه تر ښنو شاهي د جم
وې خوښ دي تا زموږه دا جهان دے او که نه؟
ما وېل چې نه، ویل یې هله زر یې کړه برهم

ما چرته میکدو کښې ښایسته رقیب ونه لید
رستم سره جامونه خښه د وړکیو سره کم
صحرا کښې ریدي ګله! سوزېدے نه شې ځان- ځان ته
دا روڼ د ځیګر داغ وهه په زړونو د آدم
پټ سوز یې د زړهٔ ته، هم یې په وینه کښې ګرمي یې
باور که نه کړې خیري خو کالبوت کړه د عالم
دا عقل ستا څراغ دے، بس په لاره کښې یې کښېږده
پیاله دي عشق ده، خښه یې له هغه، چې وي محرم

د زړهٔ ټوټې مي سرې په وينو ونوستې له سترګو
دا لعل د بدخشان مي واخله، جوړ کړه ترې خاتم

# د هندي شاعر "برتري هري" سره صحبت

حورو ته مي تللې تر محل او تر خېمو ده
دا "ژړا بلنه" د کاملو سوزېدو ده
هغې يوې ما ته د خېمې نه سر بهر کړ
هغې بلې ښکته له کړکۍ راته نظر کړ
ما په جاودان جنت کښې جوړ هسې ماتم کړ
ډک چې هر يو زړهٔ مي د فاني دنيا له غم کړ
مسکۍ د شونډو لاندې هغه پير سو چې فطرت شو
وې چې "اې هندي ساحره دا دې څهٔ حالت شو"؟
هغه مخامخ ګوره هندي صاحب قلم دے
فيض نه د نظر يې مرغلره هم شبنم دے
دا نکته شناس دے چې نامه يې برتري ده
داسې يې فطرت لکه وريځ چې اذري ده
ده به له چمن نوې غوټۍ راشو کوله
ستا نغمو يې مونږ ته توجه وګرځوله

وګوره بادشاه هم په سخن کښې ارجمند دے
هم د دۀ مقام په فقیرۍ کښې ډېر بلند دے

دے د رسا فکر نه کړي جوړ ښکلي نقشونه
جوړ يې لوے جهان کړي د معنا يو دوه حرفونه
څومره کارخانه چې ده د ژوند دا يې محرم دے
دے پخپله جم دے، شاعري يې جام د جم دے"
موږه يې تعظيم لره اوچت هغه ساعت شو
ورغلو هغه سره بيا موږه په صحبت شو

## زنده رود

اې چې بې بها نکتې دي ووې له اسراره
اې چې شو مشرق په راز خبر ستا له ګفتاره
سوز د چا په شعر کښې راځي له کومه ځايه
ووايه هغه وي د خودۍ نه که له خدايه؟

## برتري هري

هر څوک خبر نه وي شاعر چرته په دنيا وي
پټ په زير او بم کښې په پرده کښې د نوا وي
هغه ګرم زړۀ چې يې دننه په کنار وي
خداى ته هم ولاړ که مخامخ وي بې قرار وي
روح لره زموږه وي لذت په جستجو کښې
پروت د شعر سوز وي په مقام د آرزو کښې

اې چې د سخن له تاکه وي مستي مدام ستا
ته به بختور يې که نصيب شي دا مقام ستا
ستا د کاڼو خښتو د ملک دوه بيته خواږه
وړے شي د جنت د مستانه حورو نه زړه

## زنده رود

وليدل هنديان مي چې وي ډک له پېچ او تابه
وخت راغلے اوس چې، سر د حق کړې بې حجابه

## برتري هري

دا کچه خدايان د خاوورو ګټو وي عالمه
شته دے يو برتر، لري له دير او له حرمه
ذوق چې د عمل يې نه وي خشکه په سجده وي
ده زندګاني د کردار نوم، بده که ښۀ وي
يو ټکے مي واوره چې ډېر کم ترې خبردار دي
څوک يې چې د زړۀ په تخته وليکي هوښيار دے
دا جهان چې وينې ظاهر نه دے له يزدانه
دا څرخه له تا ده هم تارونه يې د تا نه
وکړه مکافات ته د عمل سجده پخپله
ځکه چې دوزخ اعراف جنت دے له عمله

(دبرتري هري ژباړه)

# د مشرق د سلطانانو محل ته روانېدل نادر ابدالي سلطان شهيد

شوه په روح خوره مي چې صدا د برترۍ وه
زۀ پرې وم مست شوے چې نوا د برترۍ وه
وې رومي "لېمه د زړۀ هغه ښۀ چې بيدار وي
ښې وي بهر ښې چې د حلقې نه د افکار وي
راغلې ته، او تير شوې په مجلس د درويشانو
راشه محل هم وګوره لږ د بادشاهانو
شته دې انجمن کښې د مشرق چې بادشهان دي
ګويا سطوتو نه د ايران د کن افغان دے
يو هغه نادر چې پوے په رمز د اتحاد ؤ
ده خخه مسلم لره پيغام د ښۀ و داد ؤ
بل يو ابدالي دے چې وجود د دۀ آيت ؤ
ور يې کړو افغان لره، اساس چې د ملت ؤ
هغه د الفت د شهيدانو چې امام دے
هغه چې عزت د هند او چين او روم او شام دے

نوم يې چې د لمر او د سپوږمۍ نه دے روښانه
ده د قبر خاوره يې ژوندے زما او ستا نه

راز د عشق چې پټ ؤ ده په ډاګه را بهر کړو
ته ترې خبر نه یې ځۀ په شوق یې چې سرور کړو
غه په برکت چې سر د بدر او د حنین ؤ
دے وارث په فقر او جذبه کښې د حسین ؤ
لاړو ترې سلطان له دې فاني سرایه رحلت دے
پاتې لا تر اوسه په دکن کښې یې نوبت دے"
فکر مې ناقص دے حرف او ږغ هم زما خام دے
نه شمه ښودلې چې ځۀ شان هغه مقام دے
ټول نوري مخلوق یې د جلوو ځنې بصیر ؤ
هم ژوندے دانا ؤ هم ګویا او هم خبیر ؤ
داسې یو محل د فیروزې یې دیوالونه
ځاے به ؤ آسمان پکښې لرل یې رفعتونه
هیڅ په اندازۀ کښې نه راتلو، هسې رفعت ؤ
فکر هم د داسې اندازې نه په هیبت ؤ
سروي او ګلاب او چمبېلي ښکلي ښاخونه
جوړ په لطافت کښې د سپرلي وو تصویرونه
پاڼې یې د ګلو او د ونو کړي زلقونه
شوق د شېرازۍ کښې بدلوي نوي رنګونه
وګوره نسیم ته هم چې څومره جادوګر دے
بس خو چې ته سترګي رپوې نو زېړ احمر دے
ښکلې فوارې یې هر طرف ګوهر فروشه
ښته دے فردوسي مرغان پکښې ډک له خروشه

جوړ ښکلې دربار دے یو په دې محل بلند کښې
داسې یې ذره ده چې یې لمر وي په کمند کښې
ستني دي، که چت، که دېوالونه، د عقیق دي
فرش یې دے له پشمه ګرد، برېدونه د عقیق دي
جوړ د دې دربار په ښي او چپ ښکلي صفونه
حورو دي تړلي څۀ زرین کمر بندونه

تخت ؤ د سرو زرو پکښې ناست پرې بادشاهان وو
ټول په دبدبه کښې د بهرام او جم په شان وو
بیا هغه روميرح چې آئینه د ښۀ ادب ؤ
ډېر په دلبرۍ سره یې دا ټکې په لب ؤ
وې: "بادشاهانو ته، شاعر د مشرق دا دے
وا یي که شاعر او که ساحر د مشرق دا دے
فکر یې باریک دے او په زړۀ کښې یې دردونه
بل په مشرقیانو د دۀ شعر کړه اورونه

## نادر

سترې مشې اې چې نکته سنج یې خاورې یې
تا سره پارسي ښایي چې پوهه په دري یې
اې زموږ د راز محرمه، راز راته عیان کړه
حال که در معلوم وي را څرګند یې د ایران کړه

## زنده رود

پس له ډېره عمره یې خپل ځان وپېژندلو
بیا د یوې لومې په حلقه کښې ونښتلو

مړ په تېغ د ناز شو د بتانو شوخو شنګو
پلار ؤ د تهذیب خو مقلد شو د فرنګو
واړه سروکار یې اوس له ملک او له نسب شو
ستایې به شاپور په سپکاوي کښې د عرب شو
ژوند یې سراسر د وارداتو نه خالي دے
غواړي له زړو قبرونو ژوند داسې سوالي دے
خوښ یې کړو وطن او د خودۍ نه لاس په سر شو
عشق یې د رستم کړلو اختیار، هېر یې حیدر شو
اخلي د فرنګه ځنې نقش چې باطل دے
خپل تهذیب یې پرېښودو فرنګ وته مائل دے
شوه چې زمانه د بزد جرد نو ایران زوړ ؤ
سره یې د مخ تللي ؤ د مړي غوندي سوړ ؤ

دین ؤ که آئین، هم یې زوړ شوے ټول نظام ؤ
هم یې ؤ زوړ شوے که سحر که یې ماښام ؤ
نه څرګندېدلو موج د میوې له تاکه
نه یوه سپرغۍ یې را وته چرته له خاکه
ان چې خدای ورپېښ له صحرا ورته محشر کړو
داسې یو محشر ؤ چې یو نوے ژوند یې ورکړو
داسې یو محشر د عنایاتو له مولا دے
شو ایران ژوندے او فنا رومةالکبرٰے دے
هغه چې ارواح یې له کالبوته شوه رخصته
بیا وتړ له خاورو نشي مخکښې له قیامته

حیف دے د عربو د احسان په منکرانو
ویلي شول په اور کښې همګي د فیرنګیانو*

# د ناصر خسرو روح ځرګندېږي یو مستانه سندره وایي بیا غایب شي

# غزل

لاس کښې چې دي توره قلم واخستو غم مکړه
ګډه وي که بربنډه وي که بېکاره دي وي تن

زېږي د قلم توري له څوکو هنرونه
ځنګه چې رڼا له اوره اور له نارون

بې ایمانه تیغ و قلم دواړه بې هنره
څۀ قیمت، بې دینه، د لرګي او د آهن

دین په عقلمندو ګران دے سپک دے په بې عقلو
داسې لکه غواته نسترن او یاسمن

* دا دوه بیتونه نه دي ژباړل شوي دي:
مرد صحرا بایدان جان دمید :: باز سوے ریگ زار خود دمید
کنهه احسان عرب نشاختند :: از آتش افرنگیان بگداختند

یا لکه پنبه چې نیمه شي قمیص الیاس ؑ ته
نیمه بدقسمته یهودي لره کفن

# ابدالي او زنده رود

## ابدالي

هغه ځوان ملت چې یې کړه جوړ سلطنتونه
پس شو، بیا مښته شو په خپل غرونه میدانونه
اور یې چې بل شوے رو په غره له ډېره زوره
وسوزېد که ووتو سوچه له دغه اوره؟

## زنده رود

هر ملت د بل کوي ورورې ولاړ په ننګ دے
بس خو یو پښتون دے چې د ورور سره په جنګ دے
ژوند دے د مشرق، د دهٔ په ژوند کښې بختور دے
طفل لس کلیز د دې ملت ځان ته لښکر دے
حیف چې دے له خپله استعداده بې خبر دے
ځان ته که یې پام شولو بې شانه هنرور دے
دې د زړهٔ ښتن دے خو غافل دے د زړهٔ خپل نه
بیل دے تن په تن او زړهٔ په زړهٔ د یو او بل نه

دا لاروے نه پېژني لاره، خو روان دے
خپل مقصد ترې پټ دے خپل منزل ترې نه پنهان دے

څۀ ښۀ فرمائي هغه شاعر افغان شناسه
هغه چې څۀ ويني کړي ظاهر يې بې وسواسه
هغه چې حکيم ؤ د ملت د افغانانو
هغه چې طبيب ؤ د علت د افغانانو
راز به د يو قام ؤ ورمعلوم ده به ويلو
ټکے چې د حق ؤ په شوخئ به يې ښودلو
"چرته چې اولجه کاندي يو اوښ آزاد افغان
ساز او د سامان سره پرې بار در و مرجان
ګوره خو په ځاے د درګوهرو څۀ هوس کا؟
اوښ بار کړے پرېږدي کوز له غاړې يې جرس کا"

## ابدالي

خټه کښې زموږه تب او تاب چې دے له زړۀ دے
خاورو کښې چې ګوري بيداري او خواب له زړۀ دے
تن د زړۀ له مرګه په بل شان شي که يې ويني
شي په مساماتو کښې خوله يې وينې وينې
زړۀ چې شي فاسد نو راته وايه بدن څۀ دے؟
بې د زړۀ نه بل خواهش چې ونه کړې زړۀ ښۀ دے
ملک د ايشيا که يو قالب د آب و ګِل دے
دا د پښتنو ملت په دې قالب کښې دل دے

دې کښې که فساد راشي فساد يې د ايشيا دے
دے که وي فراخه نو کشاد يې د ايشيا دے
زړۀ چې آزاد تر کومه تن به هم آزاد وي
وګڼې دا تن به خس په مخه کښې د باد وي
زړۀ لکه د تن غونډې پابند د يو آئين دے
زړۀ له کينې مړ شي خو ژوندون د دۀ په دين دے
زور که دے په دين کښې له مقامه د وحدت دے
چرته چې وحدت شي را څرګند هغه ملت دے
ځان به ورک له شرقه شي چې چارې د تقليد کا
ښايي د اقامو نه چې مغرب باندې تنقيد کا

نه دے د مغرب قوت د چنګ او له ربابه
نه له جينکو نه چې ګډېږي بې حجابه
او نه د جادو د لاله مخو ساحرانو
او نه له بربنډ پنډو او غوڅو وېښتانو
نه يې محکم والے په سبب د لادينۍ دے
نه د ترقۍ سبب يې خط د لاطينۍ دے
زور چې د فرنګ دے دا له علمه او له فن دے
بس هم دغه اور دے چې څراغ يې پرې روښن دے
وجه د حکمت خو نه د خاص قسم جامه ده
چا وې چې مانع د هنر علم، عمامه ده
واورئ علم او فن دپاره اې مستو ځوانانو
مغز دے په کار نه چې لباس د فيرنګيانو

تـګ پر دغه لاره بې نګاه نه، واوره نهٔ شي
وي که دا ټوپې او یا هغه ټوپې نو څهٔ شي؟
بس درلره دا دے د تا فکر که چالاک وي
دا درله کافي دے طبعیت دي چې دراک وي
ډېري شپې خوراک د چا لوګے چې د څراغ شي
پسته ښهٔ معلوم د علم و فن ورته سراغ شي
هیچاحد د علم او د حکمت نه دے موندلے
بې له ستر جهاده لاس ته نه دے ورغلے
مست چې فرنګي کړو ترک له ځانه لاړو ورک شو
زهر ي پرې وڅښل په شربت کې بې درک شو
ځکه چې تریاق یې د عراق لاړل له لاسه
بس خو څهٔ بهٔ وایمه شې مل یې رب الناسه
ذوق د دې غلام د فیرنګي د نمود دا دے
وړے یې میدان له مغربیانو په ګدا دے
څهٔ پاکیزهٔ روح یې کړو برباد په لوبو وشتو
ګران ؤ علم زړهٔ یې کړلو ښاد له لوبو وشتو
دومره آسان خوښے شو چې هپه کړه آسان ته
هم د دهٔ فطرت ور مخکښې لپه کړه آسان ته
څوک چې اساني غواړي په دې زاړه جهان کښې
پوهه شه بدن به یې روح نه لري په ځان کښې

## زنده رود

پوهه یې په دې ؟ څنګه تهذیب دے د فرنګ
دوه سوه فردوسه شته، نړۍ کښې یې د رنـګ

دغو فردوسونو یې سبزلي ډېر کورونه
هم یې ځالي، پاڼي دي سبزلي هم ښاخونه
وګوره ظاهر یې زړهٔ راښکونکې تا بنده دے
زړهٔ لري کمزورے او نظر لره بنده دے
سترګي یې کاته کړي، زړهٔ لړزانه اندرون دے
دغې بتخانې وته پرېوتے سرنګون دے
هر څوک نه پوهېږي د مشرق چې څهٔ تقدیر دے
څهٔ د دې ظاهر پورې تړلي زړهٔ تدبیر دے

## ابدالي

هغه په تقدیر چې د مشرق پوره قادر دے
یو صاحب د عزم پهلوے دے بل نادر دے
هغه پهلوے وارث د تخت چې د قباد دے
غوټه د ایران یې چې پرانستې، نېک نهاد دے
هغه شاه نادر چې دے سردار د درانیانو
هغه چې نظام دے، د ملت د افغانانو
هغه چې د دین او وطن غم کښې خوار و زار ؤ
ده چې را ویستلے لوے لښکر له کوهسار ؤ
هغه چې سپاهي، سپه سالار او امیر هم دے
اوسپنه دښمن لره، یارانو ته رېښم دے
ځار شم د هغه نه، چې خپل ځان یې پېژندلے
هم دا نوے عصر یې ډېر ښهٔ دے سنجولے
یاده مغربیانو ته څهٔ ډېره ساحري ده
بل باندې تکینه بغیر له ځانه کافري ده

# سلطان شهيد او زنده رود

## سلطان شهيد

اوس نو راته وايه څهٔ له هند او هندوستانه
هغه چې وانښه يې هم بها دي له بوستانه
هغه چې مړه شوې د مسجد يې هنګامه ده
هغه چې لمبه په بتخانو کښې يې سره ده
هغه چې په ده مې د زړهٔ وينې دي خوړلې
مينه يې چې ما د زړهٔ په غوښو ده روزلې
غم بهٔ د هغه، زما د غم نه اندازهٔ شي
حيف د خپل عاشق نه چې غافله معشوقه شي

## زنده رود

واړه د قانون نه يې منکر دي چې هنديان دي
سحر د فرنګ پرې اثر نه کړي هسې شان دي
وي آئين د غيرو چې منل يې ورته ګران وي
څو هغه آئين که نازل شوے له قرآن وي

## سلطان شهيد

کوم وخت چې انسان د موټي خاورو نه پيدا شي
دې سره د زړهٔ پکښې آرزو، جهان ته راشي
بيا د ګناهونو خوند مشکل د هغه کار دے
بې له ځانه، بل ته نه کتل د هغه کار دے

ځکه چې خودي نه راځي ځان ته بې عصيانه
دا چې لاس ته نه راځي شکست راشي انسانه
تا خو زما ښار او هم ديار دے ښۀ ليدلے
هم دي په ليمو زما مزار دے ښۀ ليدلے

اې چې دي ښکاره د کائنات درته حدونه
وايه په دکن کښې څۀ د ژوند شته اثرونه؟

## زنده رود

تخم مي د اوښکو دے شيندلے په دکن کښې
هلته ريدي ګلي به زرغون شي په چمن کښې
سيند د کاويري دے په سفر کښې ځي په زور دے
و مي ليد چې بل شانې پيدا پکښې يو شور دے

## سلطان شهيد

اې چې زړۀ روښان کړي درعطا هسې وينا ده
لا مي ستا له اوښکو له ګرمۍ هستي جليا ده
ځار يې له نوکانو چې پوهان دے د رازونو
وباسي ولې د وينو، رګ نه د سازونو
ستا له زړۀ را ووځي چې نوا کومه لمحه کښې
سوز کاندي دننه را پيدا هره سينه کښې
پاتې يې حضور کښې يم مولا چې کوم د کل دے
هغه چې رهبر او هم هادي د کل سبل دے
څو که په حضور کښې يې جرآت دګفتار نشته
روح لره بل کار هلته سوا له ديدار نشته

اور غوندي چې ورته ما ته ستا تاوده اشعار شول
ناڅاپه روان زما په ژبه ستا افکار شول
وې چې "دغه شعر چې تا اووې دا د چا دے؟
شور چې پورته کيږي ترې د ژوند، ګويا دريا دے
بس د هغه سوز سره چې روح شي پرې روښانه
يوسه کاويري ته دغه دوه حرفه زما نه
ته يې زنده رود او هم هغه دي زنده رود وي
ښه وي څومره ښهٔ چې يو سرود کښې بل سرور وي

# د سلطان شهيد پيغام کاويري سيند ته
## ((د مرګ ژوند او شهادت حقيقت))

اې د کاويرې سينده! چې نرم په خرام يې
ډېر جوړ ستړے شوے يې په څغاسته چې مدام يې
اې چې مونږ ته ګران يې د جيحون او له فراته
زياتې دي دکن ته چې اوبهٔ دي تر حياته
آه چې هغه ښهر ؤ ژوندے ستا له آغوشه
روڼ يې چې ګوګل ؤ ستا د ښو اوبو له نوشه
زوړ شوې پخوانے شوې خو ځواني دي هم هغه ده
پېچ او تاب، اوبهٔ او رواني دي هم هغه ده

بس د مرغلرو زیږېدونکې ستا چپه وي
نېغه او تروه دي تر آبده ستا شمله وي
سوز پکښې د ژوند ښکاري دا هسې ساز دي تا دے
څۀ هم پرې پوهېږې چې پیغام پکښې د چا دے؟
هغه چې مدام یې په طواف کښې د سطوت وې
هغه چې یې ته څرګنده نخښه د دولت وې
هغه چې صحرا یې کړه جنت غوندي رنګینه
هغه چې خپل نقش یې کړلو جوړ پخپله وینه
هغه چې ده خاوره یې مرجع د ارمانونو
دے هم ستا له وینو، اضطراب یې د موجونو
هغه چې ګفتار هم د هغه همه کردار ؤ
ټول مشرق ویده ؤ خو دا یو ؤ چې بیدار ؤ
زۀ او ته څپې د ژوند د سیند یو چې تیرېږي
هره ساه چې اخلې کائینات ګوره بدلېږي
ژوند ته نظر وکړه انقلاب یې په هر دم دے
ځکه چې لټون کښې دغه ژوند د یو عالم دے

دې سره او سامان د هر یو څیز له رفت او بوده
دے دا همه ذوق او هم نمود له رفت او بوده
لارو لره هم د لارووو غوندي سفر دے
هر ځاے کښې چې ګورې سفر پټ، ښکاره حضر دے
اوښه که صحرا ده، که جنګې که کاروانونه
هر څیز ته چې وګورې ژړېږي له بېلتونه

ګل چې په چمن کښې دے مهمان د يو نفس دے
رنګ که يې ښايست دے، امتحان د يو نفس دے
څۀ وي پسرلے؟ خو هم ماتم وي هم مېله وي
غېږ کښې يې غونچه وي لاش د ګل يې پر اوږده وي
ما ريدي ته اووې چې لږ نور هم وسوځيږه
وې چې ته پوې نه يې لږ په راز مې وپوهېږه
وې د خس خاشاک ځنې تعمير د وجود څۀ وي؟
وايه نتيجه بې له حسرت، د نمود څۀ وي
مه راځه دې سرائے د هست او بود ته که راځې ته
مه راځه عدم ځنې وجود ته که راځې ته
او که راغلې، مه مره، د سپرغۍ غوندي له ځانه
شابه! په لټون کښې د يو درمن شه روانه
وي که ستا په زړۀ کښې لکه لمر هسې تاوونه
تا لره ميدان دے دا فراخه اسمانونه
وسېزۀ مرغان، غر و ګلشن او ميدانونه
پورته شه د سيند د لاندې اوسېزۀ کبونه
بيا که په سينه کښې دي د غشي خوږو توان وي
مرګ او ژوند به ستا لکه شاهين په دې جهان وي
ژوند چې مقصد وي په هغه کښې ډېر ثبات دے
ما له خدايه غوښتے ځکه کم اوږد حيات دے
رسم دے که دين دے، که طريق، د ژوندون څۀ دے؟
سل کاله د ګډ تر نه يو دم د مزري ښۀ دے

ژوند چې دے محکم نو له تسلیم او له رضا دے
مرګ خو یا جادو یا شعبده یا سیمیا دے

مرګ لکه هوسے، بنده د حق زمرے هوښیاره
مرګ له سل مقامو یو مقام، د دهٔ په لاره
داسې کامل مرد په مرګ غوټه وکړي له بره
څرنګه شاهین چې راشوغه شي په کوتره
هره ګړۍ مري، چې وي غلام، د مرګ له ویرې
ژوند په دې دنیا وي پرې حرام، د مرګ له ویرې
کوم یو چې آزاد بنده د حق وي شان یې نور وي
نوے ژوندون ورکړي جوړ په مرګ باندې یې پور وي
فکر د خودۍ کړي خلاص د مرګ وي له هیبته
مرګ د آزاده ؤ نه وي زیات له یو ساعته
داسې مرګ وه مه مره چې فنا شې تل لحد وي
ځکه چې په دې ډول خو مرګ د دام و دد دي
مرد چې وي مومن نو غواړي دا له خدایه پاکه
هغه دویم مرګ، چې بیا را پورته شي له خاکه
هغه دویم مرګ د شوق د لاري انتها وي
هغه اخیري تکبیر د مني د غزا وي
مرګ له هره قسمه خوږ مومن ته وي که سپور دے
مرګ چې د فرزند د مرتضیٰ رض ؤ هغه نور دے
جنګ د بادشاهانو د جهان غارت ګري وي
جنګ د مومنانو خو سنت پیغمبري وي

جنګ د مومن څۀ وي؟ خو هجرت په لور د یار وي
ترکه کړي دنیا د یار کوڅې ته یې اختیار وي
هغه چې د شوق ټکے یې خور کړو په اقوام کښې
ویې وېل چې "جنګ رهبانیت دے په اسلام کښې"
بې شهیده دا نکته چا ونه پېژندله
څکه چې هغه په خپلو وینو وګټله

# زنده رود د جنت الفردوس نه رخصتېږي حورې ترې څۀ غوښتنه کوي

ما ته د سکون، صبر، ښېښنه مي شوه له لاسه
پیر د روم په غوږ کښې راته ووئېل چې پاڅه
څۀ د شوق خبري وې او څۀ جذب و یقین ؤ
آه! هغه ایوان هغه محل، څومره رنګین ؤ
لاړم دروازې ته یې چې زړۀ مي ډېر مغموم ؤ
هلته دروازې سره د حورو لوے هجوم ؤ
بس د دوے په خوله ؤ زنده رود، اې زنده روده
اې هغه چې زړونه اخلي سوز دي له سروده
شور او هم غوغا له هر طرف وه سراسره
"یو ساعت خو موږ سره هم کښېنه د زړۀ سره!"

### زنده رود

هغه لاروے چې د سفر په راز پوهېږي
زيات له رهزنانو دے د "ناستې" نه وېرېږي
عشق ته قرار نشته په هجران او په وصال کښې
شته ورله قرار خو په جمال د لايزال کښې
کېږي معشوقو ته سرکوزي په ابتدا کښې
راشي د هغو نه آزادي، په انتها کښې
عشق دے بې پروا، مدام په تـګ او پوے په لار دے
وي که په مکان، که لامکان کښې "ځوے د لار دے"*
کار مي دے په شانې د څپو او تيز مي ګام دے
لار مي خوره کړې ده، پرې ايښے مي مقام دے

### د جنت حوره

خوے د زمانې دي چې نصيب دے قلندره!
موږ ته هم که ووايې خوره غوندي سندره

## د زنده رود غزل

آدم ته رسېدے نه شې مولا څۀ لره غواړې؟
له ځانه تښتېدلے يې آشنا څۀ لره غواړې

* ابن سبيل

ته بيا د ګل د څانګې سره سم شه نم ترې واخله
اې اوچه رنګ الوتيه! صبا څۀ لره غواړې؟

يو دوه څاڅکي د زړۀ وينه ده، مشک چې ورته وايي
غر څۀ د حرم، ته يې له خطا څۀ لره غواړې؟

د فقر امتحان په سلطاني، جهانګيرۍ شي
د چم بادشاهي وغواړه، بوريا څۀ لره غواړې؟

درک يې کړه معلوم په سرو ټلونو د ريدي کښې
زما په وينو سره، نوا له ما څۀ لره غواړې؟

نظر خو په صحبت کښې د روښان زړونو زياتيږي
د تا نظر که کم دے نو توتيا څۀ لره غواړې؟

زما دې کرامت جهان بيني زۀ قلندر يم
زما نه نظر غواړه، کيميا څۀ لره غواړې؟

# حضور

څوکه دے جنت له تجلۍ د کردګاره
زړۀ مي قرار نه کړي بې محبوب د ښۀ ديداره
پټ چې له خپل ځانه وي پرده کښې هغه زۀ يم
خپله ځاله ورکه ده له ما، هغه مارغه يم

دا علم زما که کوږ فطرته بد جوهر دے
ستر̊گو ته زما په مخکښې دا حجاب اکبر دے
علم نه مقصد د چا په خیال کښې که نظر دے
بس نو دغه علم ده، هم لار او هم رهبر دے
تا ته کړي در مخکښې چې پوستکے د وجود دے
ځکه چې ته وپوښتې، څۀ راز د دې نمود دے
بس نو هم په دې ډول د لار آوارووينه
دغه شان دي تګ دپاره شوق بيدارووينه
سوے، دردونه، هم تودې سرې درته عطا کا
هم د غريو ژړا د نيمې شپې درته عطا کا
علم د تفسير د رنګ او بوے د دې جهان
دې نه تربيت اخلي که زړۀ دے که چشمان
تا مقام د جذب او شوق ته راولي، بيا ليږدي
تا د جبرائيل غوندي يوازي هلته پرېږدي
عشق بغير له ځانه بل څوک نه وړي تر خلوته
ځان د عشق مجبور وي هم د خپل ځان له غيرته
تل په ابتدا کښې هم رفيق او هم طريق وي
بيا په انتها کښې يې مزل بې له رفيق وي
بيا مې له دې حور او له قصور واخسته ګډه
ما د زړۀ کشتۍ د نور په سيند کښې کړه ورګډه
ډوب يې ومه زۀ په تماشه کښې يو جمال ؤ
وو په انقلاب کښې هر دم، خو لا يزال ؤ

ورک شوم په ضمیر د کائینات کښې ورک حجاب شو
ما وته ژوندون ښکاره، په شان د یو رباب شو
داسې چې هر تار به یې رباب ځان ته جدا ؤ
سور یې هر آهنګ په وینو یو له بل سوا ؤ
یو ده قبیله زموږ له نار یو که له نوره
لمر، سپوږمۍ، آدم دے، جبرائیل دے او که حوره
ځوږنده زموږ د روح په مخکښې آئینه ده
ګډه حیراني ده، د یقین سره پرته ده
دا د نن سحر ګوره چې نور یې ښۀ ظاهر دے
نن او که صبا دے په حضور کښې یې حاضر دے
حق خو ښۀ څرګند سره د کل واړه اسرار دے
کړي زما په سترګو خپل دیدن دغه یې کار دے
دید د هغه بې د کمېدلو زیاتېدل دي
دید د هغه څه؟ د تن د قبر نه وتل دي
عبد او که مولا دے، دے یو بل ته په خزۀ کښې
دواړه یو او بل ته دي په شوق د نندارہ کښې
ژوند که په هر ځاے کښې وي لټون به ورسره وي
پوے نه شو مه ښکاره به یمه زه، که به هغه وي
میني زما زړۀ وته لذت د دیدار ورکړ
هم یې زما ژبې ته جرائت د ګفتار ورکړ
اې چې دوه عالم ته نور نظر دے ستا له لوره
لږ هغه د خاورو دنیاګۍ ته هم وګوره

ستا آزاد بنده دپاره دا نه وي سازګاره
وکري سنبل ک پکښې ډکه شي له خاره
کار د زورورو عېش عشرت کښې غرقېدل وي
کار د مغلوبانو بس د شپو ورځو شمېرل وي
ستا جهان خراب ملوکیت کړو پرې تنګسه ده
پټه په لستوڼي د آفتاب کښې توره شپه ده
عقل د فرنګ سره ډاکې دي، هنر نشته
جوړې له خیبره شوے ګرجې، چې حیدر نشته
وایي لاالٰه چې هغه خلق بې چاره دي
نه لري مرکز ځکه یې فکر آواره دي

سخته ساه لري چې ورپسې مرګه ځلور دي
دا ځلور: "ملا دے او والي، پیر او سودخور دے
دا غونډي عالم مناسب نه دے ستا له شانه
ستا په لمن داغ دا اوبۀ ختې دي یزدانه"

# د جمال ندا او زنده رود

## د جمال ندا

ښۀ او بد نقشونه ټول د خدای قلم راښکلي
ښۀ چې مونږ دپاره ؤ هغه یې دي لیکلي

څۀ ته موجود وايې څۀ خبر يې نېک صفا ته؟
واخلي د جمال برخه چې څوک د حق له ذاته
څۀ له پيدايښت دے خو لټون له د دلبرو
ځان ښکاره کول دي بر، په نورو "لار پسرو"
څومره هنګامه چې د عالم درته ښکارېږي
بې زما له حسنه هيچري نه پيدا کېږي
دا زندګاني خو هم فاني ده هم باقي ده
دا خو همه واړه خلاقي او مشتاقي ده
اې که ته ژوندے يې، نو مشتاق شه چې خلاق شې
ما غوندي چې ته راګېرونکے د آفاق شې
خوښ چې نه وي ستا هغه ور پاڅۀ کنډکپر کړه
بل نوے جهان د خپل ضمير نه را بهر کړه
وي آزاد بنده چې د هغه دپاره ګران وي
ژوند تېرول مرګ ورته، د غيرو په جهان وي
هر هغه خالي چې د قوت نه د تخليق دے
دے هغه کافر زما په خيال کښې هم زنديق دے
برخه د جمال يې هيڅ زما وانخستله
ده د ژوند د ونې هيڅ مېوه ونه خوړله
پاڅۀ پر کوونکې ته په مثل د شمشير شه
ته دې خپل جهان لره پخپله خپل تقدير شه

## زنده رود

بس دغه آئين دے جهان دے چې ښکارېږي
نه راځي چينې ته بيا اوبۀ چې وبهېږي

ژوند چې څۀ کار وکړي، دويم ځل هغه کار نه کا
روږدے يې فطرت دے هسې شان چې تکرار نه کا
لاندي تر اسمانه بيا واپس نه را ستنيږي
هغه قام چې پرېوتو بيا نه را پورته کيږي
کوم ملت چې مړ شو، پورته کيږي کم له قبره
بله لار يې څۀ وي بې له قبره بې له صبره

## د جمال ندا

مه ګڼه دا ژوند چې تله راتله به د نفس وي
اصل يې له حيّ او له قيوم دے، دا به بس وي
اني قريب ويونکي ته د روح نزدې کېدل
خپله نصيبه د عمري ژوند نه اخستل
فرد وته توحيد چې ور حاصل شي لاهوتي شي
ور چې شي ملت لره توحيد جبروتي شي
جوړ دے بايزيد او هم شبلي، بوذر د دې نه
هم دې امتونو ته طغرل، سنجر دې نه
بې د تجلیٰ نه د آدم کله ثبات وي
يو جلوه زما فرد او ملت لره حيات وي
دې دواړو اخستې د توحيد ځنې کمال وي
ژوند په دوے کښې يو لره جلال، بل ته جمال وي
دا سليماني[ع] ده هغه بله سلماني[رض] ده
هغه سر تر پاپه فقيري دا سلطاني ده
هغه يو ليدل دي او دا بل دي يو کېدل
زده کړه له هغو ناسته، له دغو اوسېدل

څۀ دے ملت؟ اې چې تل په خو له دې د لاالٰه وي
سترګي که زرګونه وي، يوه د دوے نګاه وي
يو د حق پرستو وي دعوې او حجتونه
بېلې مو خېمې دي، خو دي يو مو سره زړونه
وي ډېري ذرې چې يو نظر لري افتاب شي
تاسو يو نظر شئ، درته حق چې بې حجاب شي
کم ورته ونه ګورئ چې دا يو نظري ده
دا د تجلو نه د توحيد يو تجلي ده
مست چې د توحيد په پاکو ميو کوم ملت شي
ده وته حاصل هم جبروت او هم قوت شي
روح راشي ملت کښې له ټولني انجمنه
روح د ملت نه را پيدا کېږي له بدنه
بس نو چې وجود يې د صحبت نه پيدا کېږي
مړ شي، شيرازه د دې صحبت چې يې خورېږي
مړ که يې نو واوره، يو نظر شه چې زنده شې
لرې ځان ځاني کړه يو له بل چې پائنده شې
جوړ دي په کردار او په افکارو کښې وحدت کړه
بيا نو اقتدار د جهان واخله حکومت کړه

## زنده رود

زۀ څۀ يم؟ ته څۀ يې؟ جهان کوم دے؟ راته وايه
ولې زۀ او ته وبله لري يو بې ځايه
زۀ ولې په بند او زولنو کښې د تقدير يم
ته چې نه مرې، زۀ د مرګ په دام ولې اسير يم؟

## د جمال ندا

ته يې پاتې شوې په څلور ګوټه جهان کښې
هلته چې مېشته وي، خود به مري هغه مکان کښې
ونيسه خودي که درته ژوند غوره د ځان دے
غرق يې کړه په ځان کښې چې څلور کنجه جهان دے

و به وينې پس له چې زۀ څۀ يم ته له چا يې
څنګه په دنيا کښې مرې او څنګه پکښې پايې

## زنده رود

څوکه دے ناپوهه، سوال قبول د دې بنده کړه
لرې د څيرې نه د تقدير راته پرده کړه
رنګ- رنګ انقلاب د روس، المان، دے ما ليدلے
هم په زړۀ کښې شور د مسلمان دے ما ليدلے
ما د شرق او غرب همه ليدلي تدبيرونه
ما و ته ښکاره د شرق او غرب کړه تقديرونه

## د جلال تجلي را پرېوزي

ناڅاپه مي وليدلو زوړ زما جهان
هغه زما مځکه، زما هغه لوړ آسمان

غرق ۇ په يو نور کښې چې شفق غوندي پرې خور ۇ
سور ۇ داسې تا به وې نغرے ۇ ډک له اور ۇ
ډېرو تجلو له خپله خوده و ایستمه
زۀ لکه موسیٰ په "دیدن مست" را ولوېدمه
نور د هغه هره يو پرده کړه راته لرې
ډېري نندارې مي خوله کښې وچې کړې خبرې
بيا نو له ضمير، د بې چګون غوندي عالمه
پورته شوه ندا، ډکه له سوز او له المه
تېر شه له مشرق هم د جادو د فرنګي نه
دي زاړه که نوي د وربشې هم نه دينه
ور دي کړو شيطان ته درسره چې کوم نګين ۇ
نه ۇ د ګروئ که يې قابل روح الامين ۇ
ژوند ټولنه غواړي پخپله ځان يې هم نظر دے
ځان ته اوسه څو که دي کاروان سره سفر دے

ته ځائي راغلے يې د لمر نه ډېر تابانه
داسې ژوند کوه چې هر بڅرے کړې روښانه
پروت چې لکه باد وته يو خس په ره ګذر دے
تللے هم دارا، قباد، خسرو او سکندر دے
ستا له واړه جامه ميکده رسوا شوه شومه
واخله پياله وڅښه حکيمانو غوندي درومه

# جاوېد ته خطاب

## (د نوي کهول سره یوه خبره)

هسې د د نیا ښایسته کول څۀ د کار نه دے
نه را ووځي هغه چې په تل کښې مي د زړۀ دے
سل نکتې مي وښودلې وې چې په حجاب کښې
شته یوه چې نه به شي پیدا په یو کتاب کښې
زۀ که یې څرګنده کړمه، لا به پېچېده شي
دا به ږغ او حرف کښې به له تاسو پوشېده شي
واخلئ ترې نه سوز چې مي موجود دے په نظر کښې
یا زما له آهه، چې کوم یې په سحر کښې
تا ته خپلې مور ړومبے سبق ؤ درښودلے
ته یې له صبا لکه غوټۍ وې غوړېدلے
رنګ او بوے په تا کښې دا عطا ده د هغې نه
اې زموږه پنګې ستا بها ده د هغې نه
جمع تا د هغې نه دولت کړو پائېدونکے
ته چې له هغې د لاالٰه شوې زده کوونکے
اې بچیه! ذوق اوس د نظر زما نه واخله
سول په لاالٰه کښې سراسر زما نه واخله
ته که لاالٰه وایې د روح په خوله یې وایه
بوے د روح چې ستا له هر اندامه شي نمایه

سوز د لااله نه لمر سپوږمۍ په ګرزېدو کښې
دا سوز مي ليدلې هم په غر هم په وښو کښې
دوه د لااله حرفونه، نه دي له مذکوره
نشته چې امان ترې لااله ده هغه توره
سوز د هغې ژوند کښې چې وي وصف د قهار دے
لااله ګذار دے، ولې ښۀ کامل ګذار دے
حيف دے چې مومن او کمر کس د غير په وړاندې
دې له غدارۍ، فقر و نفاق، پرېوتې لاندې
خرڅ يې په يوه کاسيره خپل دين او ملت کړو
وې سېزلو کور، هم يې سامان د کور لت پت کړو
لمونځ کښې لااله د دۀ موجود ؤ خو اوس نشته
ناز يې هر نياز کښې په نمود ؤ خو اوس نشته
نور يې ښکاره نه شو د لمانځه او د روژو نه
تشه پاتې شوې يې دنيا ده د جلوو نه
هغه چې يقين يې ؤ سامان له پاکه دره
ځاے يې کړه په زړۀ کښې د مال مينه د مرګ ويره
تلې د سرور او د مستۍ يې هغه زور دے
دين ترې په کتاب کښې پاتې شوے دے په ګور دے
مل شو د دې نوې زمانو د انسانانو
نوے دين يې زده کړلو له دوو پيغمبرانو
هغه له ايرانه پيدا دا هندي نژاد
هغه دے له حجه بېګانه دے له جهاد
پاتې چې جهاد شو او نه حج له واجبات
روح له کالبوت ووتو د صوم او له صلٰوة

روح چې کوم وخت د لمانځه او له صیامه
فرد یې شو کاواکه، او ملت یې بې نظامه
تاؤ یې په سینو کښې پاتې هیڅ د قرآن نه دے
بیا د داسې خلګو نه امید د نېکۍ څهٔ دے
لارې د خودۍ هغه قیصې، کړې مسلم هیرې
لاس دي راکړه خضره! شوې اوبهٔ له سره تیرې

څهٔ یوه سجده وه چې ترې مځکې لړزېدلې
هم چې لمر، سپوږمۍ د دې په خوښه چورلېدلې
نقش به که په کاڼي د هغه سجدې نښان شو
کاڼے به هوا کښې د لوګي غوندې پرېشان شو
نن صبا خو هغه نور څهٔ نه دي، سرټیټي ده
نور څهٔ پکښې نشته د پیرۍ ناتواني ده
اوس مو هغه شان چرته په ربي الاعلیٰ کښې
دا د دهٔ ګناهٔ ده؟ که تقصیر په ما او تا کښې؟
نور خلګ پخپلو لارو وینم تېز خرامه
اوښه ده زموږه تېرېدلې بې لګامه
ذوق د طلب نه لري، که لاس کښې یې قرآن دے
زهٔ ورته حیران یمه، حیران یمه، ارمان دے
ته چرې خاوند که د نظر هغه قدیر کړې
ښایي چې راتلونکې زمانه ډېره ښهٔ خیر کړې
زړونه یې بې سوزه دي بې باکه یې عقلونه
دي مجاز کښې ډوب، نه لري سترګو کښې شرمونه

علم و فن دے، دین او سیاست که عقل زړونه
ډلې- ډلې کړي د آب و ګِل نه طوافونه
هغه ایشیا، چې ځاے د نور او د آفتاب دے
غیرو ته اوس ګوري د خپل ځان نه په حجاب دے
زړهٔ یې دے خالي له نوو- نوو وارداتو
نشته دوه وربشې یې قیمت د حاصلاتو
ژوند یې په دنیا کښې د مړګونو نه بتر دے
یخ دے او ولاړ دے او بې ذوقه د سفر دے
ښکار د ملایانو بادشاهانو دے نو څهٔ کا
ګوده یې هوسۍ د عقل فکر څهٔ به تلهٔ کا
عقل دے، که دین دے، که دا تش، که نام و ننګ دے
بند یې په تسمه کښې د ټګانو د فرنګ دے
وکړلو یرغل مې په عالم یې د افکارو
څیرې یې پرده کړه، چې ده ویړ یې په اسرارو

ما خپله سینه کښې دا خپل زړهٔ دے پرې چوولے
پس له دې جهان مې د هغه دے لړزولے
خپلې زمانې دپاره دوه حرفونه وئیلي
دوه لوښو کښې ما دوه سمندره راوستلي
دا مې ؤ خواهش، چې څهٔ پېچې، څهٔ لشه دار کړم
عقل او زړهٔ دواړه د سرو پرې باندې ښکار کړم
ده یوه وینا مې پېچاپېچ لکه فرنګ ده
بله مستانه یوه ژړا، له تار او چنګ ده

دا جوړه له ذکره، هغه بله ده له فکره
خدای دي میراث درکاندي له دې فکره او ذکره
یم هغه وله، چې له دوه سینده را نما یم
هم یم د هغو سره واصله هم جدا یم
جوړه چې مزاج د زمانې نوې دنیا کړه
طبعې زما نوې هنګامه ځکه پیدا کړه
ترې دي ځلمي، تش یې په لاس کښې دي جامونه
روڼ مخونه، تور زړونه، روښانه دماغونه
واړه بې یقینه، ناامیده، کم نظر دي
دوی په سترګو هیڅ لیدلي نه دي بې خبر دي
دی ایمان په غېرو یې له ځانه منکرېږي
خښتې د ګرجو د دوی د خاورو نه جوړېږي
نه ده مدرسه د خپل مقصد نه خبرداره
ځکه چې د زړهٔ جذبې ته نه بیا مومي لاره
نور یې د فطرت پېچې له زړونو او وینځلو
یو ګل یې له شاخه چرته ونه غوړېدلو
خومره کړې خښتې دا معمار زموږه ږدینه
دې د باز بچې ته خوی د بطې ورښیینه
علم چې تر څو وانخلي سوز له دې حیاته
زړهٔ به خوند وانه خلي هیچرې له وارداته
علم نور څهٔ نه دی، شرح ستا د مقاماتو
علم نور څهٔ نه دی، خو تفسیر ستا د آیاتو

ښايي چې پرې وسوزې چې اور دي دے په حس کښې
و به کړې بيا فرق په سپينو زرو او په مس کښې
علم خو د حق اول حواس آخر حضور دے
بس دغه آخر دے، چې ډېر لري له شعور دے
سل کتابه زده که د خاوند نه د هنر شي
ښۀ هغه سبق دے چې اخسترے له نظر شي
بس هغه شراب چې د نظر څنې څڅيږي
هر سړے چې ګورې په بيل ډول پرې مستيږي
باد چې د سحر په چلېدو شي، ډيوې مړې شي
ډکي د رېدي پرې د شرابو نه پيالې شي
کم دي کړه خوراک، او کم دي خوب، کم دي ګفتار کړه
ته له خپله ځانه چورلېدل لکه پرکار کړه
وي د حق منکر چې، د ملا په نزد کافر دے
وي منکر د ځان چې، نو زما په نزد کافر دے
هغه په افکار د حق تندي اوکړه "عجول" شو
دغه هم عجول او هم ظلوم او هم جهول شو
خوږے د اخلاص ښۀ محکم ملګرے د خپل ځان کړه
پاک دي زړۀ له ويرې د امير او د سلطان کړه
عدل چې پرې نه ږدې ته، په قهر او په رضا کښې
اوسه ميانه رو په غريبۍ او په غنا کښې
حکم دي مشکل وي، خو تاويل پسې لاړ نه شې
ګوره بې خپل زړه، په بل قنديل پسې لاړ نه شې

ده د روح ساتنه ذکر، فکر بې حساب
ده د تن ساتنه، ځان ساتنه په شباب
ګوره دې دنیا کښې حکومت د کوز و پاس
بې د روح او تن ساتنې نه راځي په لاس
خوند د ګرزېدو خپله مقصد د هر سفر دے
مه الوزهٔ ګورې! که په ځاله دي نظر دے
ګرځي سپوږمۍ ګرځي چې بیا و مومي مقام
ګرځنده آدم له حرام شوے دے مقام

ګرځي قمر دې لره، ښتن چې د مقام شي
سیر چې د آدم وي نو مقام ورله حرام شي
ژوند خو نور څهٔ نه دے، خو لذت یو د پرواز دے
کله شي فطرت یې چې د ځالي سره ساز دے
رزق وي د ګور خاورو کښې د زاغ او ټپوسانو
رزق وي په وطن د لمر، سپوږمۍ کښې د بازانو
راز د دین رښتیا- رښتیا ویل خوراک حلال
ځان له او په جمع تماشا کړې د جمال
لاره د خپل دین کښې داسې سخت لکه الماس شه
زړهٔ تړه په خدای او نور له هرڅهٔ بې وسواس شه
راز یو د رازونو نه د دین بهٔ درته وایم
واوره چې داستان د مظفر* درته ونما یم

* مظفر: د ګجرات بادشاه د سلطان محمود زوے چې د هند مسلمانانو به ورته بیګړه ویل

هغه په اخلاص کښې بې مثاله ؤ فريد ؤ
ؤ خو يو بادشاه خو په مقام د بايزيد ؤ
ؤ د دهٔ يو آس چې پرې د ځوے غوندي ډېر ګران ؤ
کلک د خپل ښتن غوندي به وخت کښې د جولان ؤ
دا له رنګه شين او ښهٔ اصيل نجيب عرب ؤ
ډک ؤ د وفا نه څهٔ بې عيبه پاک نسب ؤ
پېژنې؟ چې ګران وي هر مومن ته نکته رسه
بل څه؟ بې قرآنه، بې له توري بې له اسه
څو به کړم صفت درته د دې اصيل د ښو تلو
ؤ لکه د غر خو لکه باد به په اوبو تلو
دې د جنګ په ورځ به جنګ ته څک لکه نظر ؤ
تاؤ به لکه باد هسې له غر او له کمر ؤ
دے به چې په زغل شو زلزلې به جوړېدلې
ګټې به يې تل د سُم له زوره وړېدلې
بيا نو يوه ورځ چې محترم لکه انسان ؤ
خوړ د ګبډې راغله، پرې مضطر هغه حيوان ؤ
وکړل سلو ترې يې په شرابو علاجونه
آس د بادشاه جوړ شو، لاړه ورک يې شو دردونه
بيا پرې بادشاه سپور نه شولو ګوره څهٔ تقوٰے ده
بيا د تقوٰے لار زموږ خو وګوره جدا ده
اې چې خداى در کړے درته ښهٔ زړهٔ او ځيګر دے
څهٔ دي هم طاقت د مسلمان وته نظر دے

دغه سر تر پایه سوزېدل دي له طلبه
عشق یې انتها وي ابتدا یې له ادبه
ګل چې قدرولے شي سبب یې رنګ و بوے دے
وي چې بې ادب، بې رنګ او بوے، بې ابروے دے
ما وته ښکاره چې بې ادبه کوم یو ځوان شي
ورځ که وي خو ما باندې تیاره هغه جهان شي
سوز مي دم تر دمه په سینه کښې سیوا کیږي
بیا نو زمانه د مصطفےؐ راته یادیږي
ژوند چې کړم په خپله زمانه کښې پښېمان شم
زۀ تېرو پیړیو ته ور دو کړمه، پنهان شم
ښځي لره ستر خپل خاوند ګڼه، یا ګور دے
دا د سړو ستر چې بد یار ورله پېغور دے
خوک چې بد زبانه وي په بده لار روان دے
ټول د خدای مخلوق دے که کافر که مسلمان دے
څۀ دے سړے توب خو احترام د بنیادم دے
پوهه شه خبر شه څۀ مقام د بنیادم دے
ربط یو له بله تعلق د سړو ښۀ شي
ښه وي چې وبله د دوستۍ په لاره تله شي
خوک بنده د خدای چې وي له خدایه یې طریق وي
هغه په کافر په مسلمان باندې شفیق وي
کفر وي که دین، ساته یې زړۀ کښې دا به ښۀ وي
زړۀ چې له زړۀ تښتي وایه داسې زړۀ بۀ څۀ وي

زړۀ که پراته د خاورو ختو دے بندونه
بیا هم دے پیدا له زړۀ آفاق او آسمانونه

ځان که یې د کلي یا مالک د لوے جاګیر یې
ښه به ښکاري داسې چې په خوے له فقیر یې
دے د تا په زړۀ کښې سوز د فقر اوده پاتې
دغه مي دے ستا له مشرانو زاړه پاتې
بې د خواخوږۍ نه، نور سامان د دنیا هیڅ دے
سوال کوه د خدای ځنې، سلطان د دنیا هیڅ دے
دے هغه سړے چې حق پسنده او بصیر شي
ډېر چې شي نعمت نو هغه ړوند شي هواګیر شي
ډېر چې شي نعمت نو سوز ګداز د زړۀ نه یوسي
ناز پکښې پیدا کاندي نیاز د زړۀ نه یوسي
زۀ یم په کالونو په دنیا کښې ګرځېدلے
نم مي د "شتمنو" په لیمو کښې کم لیدلے
زار شم له هغه چې یې ژوندون فقیرانه وي
حیف شه په هغه چې د الله نه بېګانه وي
نشته مسلمان کښې هغه بوے د ذوق او میني
نه هغه یقین او هغه خوے د ذوق او میني
علم د قرآن نه بې نیازۀ عالمان دي
ږیري د صوفیانو دي اوږدې خو شرمښان دي
وي په خانقاګانو کښې اخته په هاوهو کښې
کوم دے پکښې مرد چې یې شراب وي میکدو کښې

ګیر مسلمانان د فیرنګیانو په ګرداب کښې
ګوري د کوثر چینه لټون کړي په سراب کښې
واړه بې خبره د اسرارو نه د دین دي
ډک دے د کینې او د حسد نه، بې یقین دي
خیر که برکت دے په خاصانو کښې حرام دے
صدق او که اخلاص دے په عوامو کښې مدام دے
وپیژنه ته چې دینداران او حاسدان دي
ناسته د هغو سره کوه چې حق جوبان دي
بیل د ټپوسانو دے، چې رسم او آئین دے
شان یې څۀ جدا دے، کوم الوت چې د شاهین دے

مرد د حق را پرېوځي له آسمانه لکه برق وي
اوسیزي ښارونه که صحرا که غرب او شرق وي
موږ یو لا تیاره او په ظلام د کائنات کښې
هغه وي شریک په اهتمام د کائنات کښې
وي هغه داؤدؑ، مسیحؑ، کلیمؑ او هم خلیلؑ وي
هغه محمدؐ وي، هم کتاب هم جبرائیلؑ وي
لمر د کائینات چې وي د زړۀ د خاوندانو
ژوند وي د هغه د پلوشو نه د پاکانو
تا به په اول کښې په خپل اور باندې سوخته کړي
پس د دې نه چل د بادشاهۍ به درته زده کړي
دا د هغه سوز دے چې پرې برېښي زموږ زړونه
او ګني د خاورو ختو یو فاني نقشونه

ته چې يې پيدا په کښې دا عصر دا مي غم دے
غرق دے په بدن کښې او د روح نه خبر کم دے
کوم وخت چې بدن د روح د قحطه نه ارزان شي
مرد چې وي د حق هغه پخپل ځان کښې پنهان شي
بيا خو موندے نشي هغه مرد په يوه لوري
ځو که مخامخ چا سره ناست وي ورته ګوري
بيا هم دے بايد د طلب شوق دي په زياتي شي
ځو که ستا په لاري را پيدا سل اړيکي شي
ستا که صحبت ونه شو له هيڅ يو خبرداره
واخله څۀ چې پاتې ما ته دي له نيکه پلاره
ته که پير د روم رح په ملګرتيا درسره ساز کړې
ته له خپله خدايه ج به حاصل سوز و ګداز کړې
ځکه چې رومي رح له مغزۀ پوست شي ببلوڵے
نه محکم قدم شي د يار در کښې ايښودلے
شرحه يې ده کړې، خلګو دے نه وي ليدلے
متن نه غر څۀ يې د معنا دے تښتېدلے
دوے يې له وينا د تن ګډا خو ده زده کړې
سترګي يې د روح د ګډېدو نه دي تړلي

رقص چې د تن دے، هسې خاورې بدول دي
رقص چې د روح دے، آسمانونه لړزول دي
رقص نه د روح، علم و حکمت لاس ته را درومي
هم مځکه اسمان، هم حکومت لاس ته را درومي

فرد وه حاصل ترې د کلیم ع غوندي جذبه شي
پاتې ترې ملت ته، د ملکونو میراثه شي
رقص چې د روح دے، د هغه زده کول ګران دي
بې له حقه نور همه سېزل کله آسان دي
څو دي چې ځيګر کښې اور د حرص او غم بليږي
هيچري ګدا د روح بچيه نه زده کيږي
ضعف د ایمان، د دنیا غم او دلګیري ده
واوره اې ځلميه! دغه غم نيمه پيري ده[1]
څوک چې وي حريص نو تل افلاس ورته حاضر[2] وي
زۀ غلام د هغه چې خپل نفس باندې قاهر وي
اې ځلميه! بس دغه تسکين زما د زړۀ دے
رقص که د روح دي شي نصيب نو څومره ښۀ دے
تا ته چې مي اووې راز د دين د مصطفٰے ص دے
هم مي درته قبر کښې لاس پورته په دعا دے

پاے

---

(۱) نیمه پیري: تلمیح ده د مشهور حدیث: اللهم نصف الهرام.

(۲) فقرِ حاضر: تلمیح ده د مشهور حدیث: ایاکم والطمع فانه الفقر حاضر.

# پس چه باید کرد

# مع مسافر

## ژباړه

## سید تقویم الحق کاکاخېل

# فهرست


| شمېر | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | د کتاب لوستونکي ته | ۸۰۵ |
| ۲. | تمهيد | ۸۰۶ |
| ۳. | لمر ته خطاب | ۸۰۹ |
| ۴. | د کليمؑ حکمت | ۸۱۱ |
| ۵. | د فرعون حکمت | ۸۱۴ |
| ۶. | لا اله الا الله | ۸۱۶ |
| ۷. | فقر | ۸۱۹ |
| ۸. | مردِ حُر | ۸۲۶ |
| ۹. | د شريعت رازونه | ۸۲۹ |
| ۱۰. | د هنديانو په بې اتفاقۍ يو څو اوښکې | ۸۳۴ |
| ۱۱. | موجوده سياست | ۸۳۷ |
| ۱۲. | يو څو ټکي امت عربيه ته | ۸۴۱ |
| ۱۳. | اې د مشرق قامونو! اوس څۀ وکړو؟ | ۸۴۴ |
| ۱۴. | په حضور کښې د رسالت مآبﷺ | ۸۵۱ |
| ۱۵. | د سرحد قامونو ته خطاب | ۸۶۱ |
| ۱۶. | مسافر د کابل ښار ته راځي او د اعلٰے حضرت شهيد په خدمت کښې حاضرېږي | ۸۶۴ |
| ۱۷. | د شهنشاه بابر "خلد آشياني" پر مزار | ۸۶۸ |
| ۱۸. | د غزني سفر او د حکيم سنايي رح مزار | ۸۶۹ |
| ۱۹. | د حکيم سنايي رح روح د جنت نه ځواب ورکوي | ۸۷۱ |
| ۲۰. | د سلطان محمود رح پر مزار | ۸۷۴ |
| ۲۱. | د لېوني مناجات د غزني په کنډرو کښې | ۸۷۶ |

۲۲. قندهار او د خرقې مبارکي زيارت ۸۷۸
۲۳. غزل ۸۷۹
۲۴. د خرقې شریفي زیارت ۸۸۰
۲۵. د احمد شاه بابا مؤسس ملت افغانیه پر مزار ۸۸۲
۲۶. د اسلام باچا اعلی حضرت ظاهر شاه ته خطاب ۸۸۳

# د کتاب لوستونکي ته

نوي تازهٔ سپاهیان ور استومه د مینې د ملک
چې په حرم کښې ویره ده د بغاوت د عقل

زمانه هیڅ په حقیقت د دې خبر نه شوله
جنون قبا ده برابر ده په قامت د عقل

تر داسې ځاے ورسېدم چې مې تر غېږه کړله
زما د بام و در طواف دے سعادت د عقل

دا خیال ونه کړې چې د عقل تول او تله نشته
د مسلمان بنده نظر دے قیامت د عقل

# تمهید

پیرِ روم زما مرشد روشن ضمیر
د مستۍ د محبت د کاروان میر
ځاۓ یې پورته له سپوږمۍ او له آفتاب
کهکشان یې د ضمیر راکښو طناب
د قرآن نور یې په منځ کښې د سینې
جامِ جم یې شرمنده له آئینې
یو نغمې د هغه پاک ذات د شپېلۍ
بیا زما خاورې کښې ګډې کړې غلۍ
وې چې روح بیا په رازونو خبردار شو
لمرخاته له درانۀ خوبه را بیدار شو
ورته یې ورکړې نوې- نوې ولولې
ترې یې پرې کړې د ګلونو زولنې
یو ته پوه یې په رازونو د یورپ
نور ټینګ نه شو په اورونو د یورپ
د خلیلؑ په شانې مست اوسه پکښې
تار په تار کړه د عمرونو بتخانې
اصل ژوند دۓ د امت جذبِ درون
کم نظره ورته نوم ږدي د جنون
هیڅ یو قام د دې شینکي آسمان د لاندې
نه دۓ لاړ بې لېونتوبه مه په وړاندې

په کلک نیت او په توکل مومن قاهر دے
که دا دواړه پکښې نه وي نو کافر دے
دا مومن شي ببلوڼے خیر و شر
له نظره یې عالم زیر و زبر
له ګوزاره یې ریزې- ریزې کمر
په ګریوان کښې یې هزار رنګه محشر
چې دي جام یووړو زما له میخانې
بیا دي نوې کړې وخت تیرې تماشې
په چمن لکه بوے اوسه پټ څرګند
په رنګونو کښې له رنګه بې پیوند
دي تا دور د روح په راز نه دے آګاه
دین یې څۀ دے بې له حبِ غیرالله
فلسفي په دې نکتو کله پوهیږي
خیال یې تش له آب وګِله را تاویږي
سترګې یې نه کړلې رڼا په نور د زړه
نور څۀ نهویني خو زیر او شنه او سره
ښه هغه چې نه کړي زړۀ په چا پیرزو
ځولنې له غیرالله لر کړي له پښو
د زمرو په راز به څۀ پوهیږي غوا
بې زمرو بل چا ته مه کړه دا وینا
د کم ذاته سره خښلې نۀ شي مې
که باچا شي د فارس او روم د ري

که یوسف زموږ د پړانګ د پنجو ښکار شي
له دې ښۀ دے چې ناکس يې خريدار شي
د دنيا خلـک بې فکره بې ښېلتونه
اطلس نه پېژني بيه کړي ټاټونه
د عجم د شاعر څۀ ښکلې وينا ده
چې لمبه يې له تاثيره تن کښې سا ده
"د دنيا خلګو ته چيغې د عاشق وي
لکه بانګ د فيرنګيانو په وطن کښې
بيا څۀ ووايه له دين له سياسته
بيا څرګند بيان کړه دا دواړه حکمته
غم خوره، مه خوره د غم کارو خلګو نان
غم هوشيار خوري او شکرې ماشومان

((رومي))

په فقير باندې وي بار خپله قبا
بل څۀ مه وړه بې خوشبوے لکه صبا
ته قلزم يې؟ سر په دشت و در وهه
ته شبنم يې؟ ځان تر ګلو رسوه
راز د حق د اهلِ حقو نه پټ نه دے
د مومن په روح خبر يې چې دا څۀ دے؟
ځاځکي پرخه چې په مينه د افشا
خپله غوټه يې په خپله کړله وا
د آسمان له خلوتونو را بهر شوه
د خودۍ نه په خپل زړۀ ور برابر شوه

مخ يې نه کړو د سيندونو په طرف
ځان يې ورک نه کړو لمن کښې د صدف
د سحر غېږ کښې پرته يو لحظګۍ
بيا ور وځځېده زړۀ کښې د غوټۍ

## لمر ته خطاب

اې باچا د لمرخاته مهر منيره!
شوه له تا هره ذره روښن ضميره
دا جهان سوز و سرود مومي له تا
هر يو پټ ته ورکوې خوند د افشا
د کليمع له لاسه زياته ځلنده
ستا د سرو کشتۍ د سپينو په چينه
ستا شغلو سپينې سپوږمۍ ته رڼا ورکړه
او د کاڼي زړۀ کښې يې لال ته ځلقا ورکړه
د لاله داغ د سينې ستا برکت دے
هم يې وينه کښې څپې ستا برکت دے
نرګس سل پردې کړې خيرې را بهر شي
چې د تا د پلوشو نه بهره ور شي
په خير راغلې توره شپه دې کړه صبا
هر ونه دې کړه ونه د سينا

ته رڼا یې د سحر زۀ نیمه شپه
په دې زړۀ کښې مه کړه بله یو ډیوه
په خپل نور مې توره خاوره کړه رڼا
په جلوه کښې مې در ونغاړه صفا
چې د شرق د فکر توره شپه صبا کړم
د آزادو د سینو تیاره رڼا کړم
دا کچه، پاخه په تاؤ د خپل کلام کړم
او آشنا نوے ګردش ځنې ایام کړم
د مشرق فکر آزاد کړم له فیرنګ
او زما له نغمو واخلي آب و رنګ
ژوند ساتلے شي د ذکر په ګرمۍ
آزادي راځي د فکر په پاکۍ
چې خراب د یو قام فکر اندېشه شي
کره زر یې په لاسونو کښې کوټه شي
د سینې دننه ومري ژوندے زړه
او نظر ته یې بیا نېغ ښکاري کاږه
د دنیا له حرب و ضربه کناره شي
خپل ژوندون ورته آرام کښې ور ښکاره شي
له دریانه یې را خیزي نه څپې
مرغلرې یې تیکري بې معنې
نو اول په کار ده فکر کښې پاکي
بیا آسانه شي د فکر آبادي

# د کلیم ع حکمت

نبوت چې د خدای ج حکم کړي روان
لته ورکړي سلطنت ته د سلطان
د باچا محل يې خيال کښې بتخانه وي
د بل حکم يې غيرت ته تازيانه وي
په خدمت کښې يې شي پوخ هر يو کچه
يو تازهٔ غوغا ترې واخلي زمانه
درس يې دا وي چې خدای ج بس دے نور هوس
چې بنديان نهٔ شي په بند د ها يو کس
له نمۍ يې د انګور خانګو کښې اور شي
او له ساه يې موټي خاوره کښې روح خور شي
دے معنا وي د جبريل ع او د قرآن
دے د فطرة الله اوسي نګهبان
د فنکار له عقله ښهٔ د دهٔ حکمت
له ضميره يې را وځي يو ملت
حکمران دے بې پرواه له تخت و تاجه
بې سپاهي او بې چوغې او بې خراجه
په نظر يې سپرلے جوړ شي له يخنيو
او د خم خير يې يې زيات تريخ وي له ميو
د سحر په اسويلو کښې يې حيات وي
په سحر يې تازهٔ شوے کائنات وي

بحر و بر يې په طواف خراب، تراب
په نظر کښې يې پيغام د انقلاب
د "لا خوف عليهم"* درس ورکوي
په سينه کښې د آدم زړۀ ځايوي
ورښيي تسليم د عزم او د رضا
ورکوي لکه ډيوه ورته رڼا
خبر نه يمه چې څۀ جادو کوي
خو د تن دننه روح بدلَوي
په صحبت يې مرغلرې شي تيکري
په حکمت باندې يې ډک شي هر خالي
درمانده بنده ته وايي چې پاڅه
دا زاړه معبودان کړه ذره- ذره
بنده ورک کړه جادو د دې دنيا
په دې دوو ټکو د ربي الاعلیٰ
فقر غواړې له خالي لاسه مه ژاړه
عافيت په حال کښې نه په مال کښې غواړه
اخلاص، صدق او صفا او سوے او درد
نه سره سپين او کېمخابونه شنه او زرد
ځوانه! تېر شه له "کاوس" او له "کې" څه
خپل طواف کوه، د بل د کوڅې نه
له خپل ځايه لرې پروت يې افتاده
تپوس کيږه مه چې يې شاهين زاده

---

* تلميح ده د قرآن پاک د آيت: لا خوف عليهم ولا هم يحزنون.
ژباړه: نه يې څۀ ويره شته او نه غم کوي.

یو غریب مرغۀ چې راشي د باغ خوا له
چرته جوړه کړي د خپلې خوښې ځاله
ته چې فکر دي اوچت دے له آسمانه
دا غریب مرغۀ زیات مه ګڼه له ځانه
بیا دا نهه آسمانونه کړه بِنا
او په خپله مرضۍ جوړه کړه دنیا
په رضا کښې چې فنا شي د مولا
دا مومن بنده قضا شي د مولا
دا څلور واړه طرفه شنه فضا
د هغه له پاک ضمیره شي پیدا
پخوانو غوندي رضا کښې شه فنا
خپل ګوهر کړه له صدفه را جدا
په تیارو کښې د دې کاڼو د جهان
د فطرت په نور رڼا کړه خپل چشمان
چې د حق جلال دي نه شو په نصیب
نو د حق جمال دي نه شو په نصیب
ابتدا د مستي مینې قاهري ده
انتها د مستي مینې دلبري ده
مومن دے له کمالاتو د وجود
دے وجود دے او باقي هرشي نمود
که را خپل کړي سوز و تاب د لا ا لٰه
په مراد به د دهٔ ګرځي مهر و ماه

# د فرعون حکمت

د اربابِ دین حکمت مي کړو بیان
د اربابِ کین حکمت کړم در عیان
د اربابِ کین حکمت دے مکر و فن
مکر و فن؟ تخریب د روح تعمیر د تن
یو حکمت د دین له قیده بې پروا
او د شوق له ځایه پروت لري بل خوا
په تدبیر یې د مکتب دا وي نظام
په خواهش د مالک سوچ کوي غلام
د قام شیخ چې بنایسته مجلس لري
په مراد دده خپل دین نوے کوي

په منتر دده یو قام شو په منځ نیم
سم به نهٔ شي بې کوتکه د کلیم
هاے! دا قام چې د پردو په تدبیر مري
خپله ځاله ورانوي بل جوړوي
په علمونو کښې به شي صاحب نظره
او له ځانه له وجوده بې خبره
د غمي نه یې د حق نقشې کړې ورانې
زړهٔ کښې و ټوکېدې مړې شوې آرزوګانې
بې نصیبه دے اولاد د غیرتي
روح د تن مړې په قبر کښې ساتي

د حیا نه بې خبره بوډاګان
جینکو غوندي ځلمي مشغول په ځان
آرزوګاني يې په زړهٔ کښې نه ټینګیږي
ژوندون نه ویني خو مړي را پیدا کیږي
جینکۍ يې خپلو زلفو کښې نښتونکي
شوخ نظره، ځان ښیونکي، عیب ویونکي
جوړې- جوړې غوړې- غوړې زړهٔ ورکړي
دواړه ورزي لکه توري بهر کړي
سپینې لېڅې يې مزې دي د کتو
د مهي سینه په مینځ کښې د څپو
یو ملت دے خاکستر يې بې شرر
له ماښامه يې لا زیات تور دے سحر
په تلاش د ساز سامان دے سر تر سره
کار يې څهٔ دے؟ د ژوند فکر د مرګ ویره
مالداران يې دي شومان او عیش پرست
مغز نه ویني په تش پوستکي مست
د حاکم طاقت ته پروت وي په سجده
زیان د دین او د ایمان ګڼي فایده
ځان يې نه کړلو له ننه را جلا
خیال تې نه راځي نقشونه د صبا

په ترخونو کښې دفتري د نیکونو
او بې برخي دي د دوے له عملونو

دین یې غیر سره وفا عهد محکم
جوړوي دیر چې په خښتو د حرم
آه دا قام چې شو له حقه لاس پر سر
مړ شو بیا هم په خپل مرګ نه شو خبر

## لا اله الا الله

یو نکته ده وایي دا مردانِ حال
لا جلال دے د امت الا جمال
لا او الا کاینات را ټینګوي
لا او الا دروازې بېرته کوي
دا تقدیر دے د جهانِ کاف ونون
لا حرکت پیدا کوي الا سکون
چې خو پوه نه یې په راز د لا اله
شلوے نه شې زولنې د غیر الله
په دنیا کښې دے هر کار شرو په لا
دے اول منزل د خدای د بنده دا
کوم ملت چې په دې سوز وترپېدو
ځان یې بیا له خپلې خټې پیدا کړو
دے ژوندون د غیر الله ته ویل لا
ده په دغه هنګامه تازهٔ دنیا

هر ګرېوان نه دے په دې لېونتوب چاک
ښايي نه داسې لمبې ته هر خاشاک
دغه يوه جذبه په زړهٔ کښې د يو ځوان
سل د لاري ناست په لاره کړي روان
ته غلام غواړې په جنګ د خپل آقا
موټي خاورې ته يې کړه ګډ تخم د لا

چې دا سوز د چا ور ګډ شي په حيات
د قيامت له هوله، هول وي د دهٔ زيات
لا، مقام دے د ضربونو پے به پے
دا د تندر شور دے ساز نه دے د نے
هر يو شته يې په ګزار شي نيست نابود
چې بهر شي له ګردابه د وجود
درته وايم د عربو زوړ روزګار
چې خبر شي د کچه او پوخ په کار
ريز مريز يې په ګزار لات و منات
په جهاتو کښې آزاد شو له جهات
چاک در چاک زړهٔ قبا د دوے له لاسه
مړ قيصر شو مړ کسرٰے د دوے له لاسه
کله غر يې له بارانه په ژړا
کله سيند يې له طوفانه په ژړا
جهانونه يې په اور کښې لکه خس
دغه ټوله هنګامه ده د "لا" بس

دے زوړ دیر کښې مسلسل و تړپېدو
یو تازهٔ جهان یې بل وټوکوو
د حق بانګ ګور د دهٔ سحر خیزي ده
څهٔ چې وینې دا د دهٔ تخم ریزي ده
دا چې بلې د لاله وینې ډیوې
ټوکېدلې یې دي پر غاړه د چینې
د غیر نقش یې ووینځلو له سینې
موټې خاورې یې پیدا کړې هنګامې
دا چې وینې په دې دور کښې د فیرنګ
غلامې او آقایې سره په جنګ
د روس زړهٔ شو وینې- وینې او ځیګر
د ضمیر نه یې یو "لا" شو را بهر
زوړ نظام یې لاندې باندې وویشتلو
په نشتر یې د دنیا رګ ووهلو

ما یې کړې مقاماتو ته نګاه
"لا سلطان"، "لا" کلیسا او "لا اله"
پاتې فکر یې سیلو کښې شو د "لا"
اسج یې لا نه ړو تر ځایه د "الا"
دا کېدے شي چې په زور کښې د جنون
ځان یو ورځ له دې سیلیو کړي بېرون
آرام نه کوي د "لا" ځاے کښې حیات
د "الا" خوا ته روان وي کاینات

"لا" او "الا" ساز و برګ دے د امت
بې اثباته نفي مرګ دے د امت
محبت کښې پخېدے نۀ شي خليل ع
چې خو "لا" يې د "الا" نۀ شي دليل[١]
د حجرې په مجلسونو مبتلا
يو نمرود ته چيغه ووهه د "لا"
ته د "لا اله" په زور نا خبر مه شې
نه ارزيږي دا چې وي په دوه اوربشې
چې د چا په لاس کښې توره وي د "لا"
هغه دے په هر وجود فرمان روا

# فقر

اې د خټو بندګانو! فقر څۀ دے؟
يو دانا بينا نظر، يو ژوندے زړۀ دے
فقر خپل روزګار پخپله سنجول دي
او د "لااله"نه تاؤ را تاؤ کېدل دي
فقر څه؟ خيبر ګټل په اوربشينه
فقر تل د باچهانو ښکار کوينه

[١] راه نما

فقر ذوق او شوق تسلیم او هم رضا
فقر دلته امانت د مصطفےٰ ص

فقیري په فرشتو شبخون وهي
په بنیاد د زمانو شبخون وهي

تا په بل اوچت مقام ورغورزوي
الماسونه د نبینبو نه سازوي

له قرآنه ساز و برګ د دهٔ سازیږي
یو فقیر سړے په کند کښې نه ځاییږي

په مجلس کښې کم امیزهٔ کم سخن
خو د دهٔ په ساه وي ګرم انجمن

بې وزرو ته ذوق ورکړي د پرواز
نري ماشي ته زور ورکړي د شهباز

چې سلطان سره په جنګ ورشي فقیر
د شړ له زوره ورپي سریر

لېونتوب یې غوغا ګډه کړي په ښهر
مخلوقات خلاص کړي له ظلمه او له قهر

بې له هغې صحرا دے نه دیره کیږي
چې شاهین یې له کونتر ځنې ویریږي

زړهٔ یې زور لري په جذب و په سلوک
هر باچا ته وهي چیغه لا ملوک

زموږ خاوره کړله اور هغه لمبې
چې له خسه یې په ویره ځي شغلې

هغه قام به نۀ شي جنګ کښې چاته لر
چې پکښې اوسي يو مردِ قلندر
ټول عزت زموږ د دۀ په استغنٰے دے
سوز زموږه د دۀ شوقِ بې پروا دے
ته د دۀ په آئينه کښې ځان ته ګوره
چې خبر يې د څرګند دليل له زوره
دے قوت د دين د فقر بې نيازي
او حکمت د فقر دے دلنوازي

هر مومن ته وايي دا سلطان (صلعم) د دين
"چې مسجد زموږ دا ټول روئې زمين"*
الامان له ګردشونو د آسمان
چې زموږ په مسجد نور شي قابضان
سخت کوشش کړي هر بنده په زړۀ صفا
چې تر لاسه کړي مسجد د خپل مولا
وايې ته پربږده دنيا؟ مه وايه دا
پرېښول دا دي چې قبضه کړه دا دنيا
په دنيا ور سورېدل د دې پرېښول دي
او له دې مقامه مخکښې تيرېدل دي
دا د خاورو ختو ملک د مومن ښکار دے
باز خپل ښکار پرې اېښے؟ دا څنګه روزګار دے؟

* تلميح د حضورؐ د يو مشهور حديث چې پکښې ارشاد دے چې تمامي ځمکه زما جماعت يعني مسجد دے.

په حل پوه نه شوم د دې نکتې مشکلي
چې شاهین له آسمانونو تښتي ولي؟
حیف هغه شاهین چې نه کړي شاهیني
یو مرغۍ د دهٔ په لاس نه شوه زخمي
پروت په ځاله کښې حیران و پرېشان
ویې نه لیدو الوت د شین آسمان
د قرآن فقر حساب د ؤ او شته
نه سرود، رقص، رباب، مستي، نشه
د مومن فقر تسخیر د شش جهات
چې بنده کړي په اثر مولا صفات
د کافر فقر خلوت د دشت و در
د مومن فقر لرزا د بحر و بر
د هغه ژوندون سکون په غر په غار
او د دهٔ ژوندون یو مرګ دے باوقار
هغه خدای غوښتل او خپل بدن پرېښول
دا خودي د خدای په کاڼي تېرول
هغه څه؟ خودي وژل او سوزول
دا خودي لکه ډیوه رڼا کول
چې خرګنده فقیري شي پر جهان
له هیبته یې لمر، سپوږمۍ شي په لرزان
میدان ګرم کړي د بدر و د حنین
را اوچت کړي تکبیرونه د حسین رض

فقیري چې اوس ځان نه ځرګندوي
بې جلاله پاتې شوه مسلماني
هائے! دا موږه او هائے! دا زړهٔ دنیا
د "لا" توره له ستا لاس کښې نه زما
بېرته زړهٔ له غیرالله کړه اې ځلمیه!
ورکه دا زړهٔ دنیا کړه اې ځلمیه!
چې د دین غیرت دي نه وي دا څهٔ ژوند دے؟
مسلمانه مرګ له دې ژونده ښهٔ ژوند دے
مردِ حق دوباره وزېږوي ځان
او د حق په نور رڼا کړي خپل جهان
ځان کره کړي په عیار د مصطفےؐ
چې پیدا کړي یو تازهٔ غوندي دنیا
آه! دا قام به پرېوتو په تقدیر نه
چې شاهان یې کړو پیدا او فقیر نه
د دې قام افسانه مه پوښته له ما
څهٔ به ووایم چې نه ده د وینا
غوټه- غوټه مې مرۍ ده غریو نیولي
قیامتونه د سینې دننه ښهٔ دي
د دې ملک مسلم له ځانه نادیده
و یې نه لید په مودو د خدای بنده
په قوت د دین کوي بدګماني
کاروانونه خپل په لاره کښې وهي

له درې قرنه دا امت زبون او خوار
ژوند بې له سوزه، او بې لطفه يې روزګار

ذوق يې ړوند، فطرت کچه، خيال نارسا
نه يې شوق لري مکتب نه يې مُلا
بد فکرۍ کړو په دنيا کښې خوار و زار
دښمنيو له خپل ځانه کړو ويزار
له مقام او له منزله بې خبره
ترې نه خوند د انقلاب هېر شو له سره
طبعيت يې صحبت ناخلي د هوښيار
نامنونکې، افسرده، بې خونده خوار
يو غلام دے چې شړلے خپل مولا
خوار، غريب، مفلس، زبون او بې پروا
نه په لاس کښې يې طاقت چې سلطان لر کړي
نه په زړهٔ کښې يې رڼا چې شيطان لر کړي
پير يې دے د فيرنګي د لاټ* مريد
او په خوله ښيي مقام د بايزيد
وايي دے د دين رونق دے محکومي
د ژوندون او د خودۍ نه محرومي
د اغيارو حکومت رحمت ګڼي
چورلي مست د کليسا نه او بيا مري

* لاټ يعني لارډ

اې له ذوق و شوق و درده سوي خالي
زمانې په مونږ څۀ وکړو؟ څۀ کوي؟
زمانې موږه له ځانه کړو پردي
د جمالِ مصطفیٰ ص نه کړو پردي
چې د دۀ مینه مو لاړه له سینې
له اینې لاړو جوهر د آئینې
د دې عصر زړۀ دي ونه پېژندو
په اول داد کښې دي ځان پرې بیالودو
چې دماغ دي کشمکش کښې پرېوتو
په زړګي دي پیدا نه شوه یو آرزو

ځان را ټینګ کړه ناخبره له خپل ځانه
یو لحظه شه بې خبره له هرچا نه
دا تر کومي غم وسواس خوف و خطر
لږ دي ځان له خپل مقامه کړه خبر
ډیري لوړې ځانګې شته په دې بوستان
په پرېوتو ځانګو مه تړه آشیان
خوږ آواز لرې خوږوې نغمې لرې
په کارغانو کښې ځان څنګه ګډوې
اول ځان لکه د تورې کړه تېره
بیا یې ورکړه د تقدیر په لاس کښې ته
ستا په زړۀ کښې دي سیندونه سېلابونه
چې خسنې ورته ښکاري درانۀ غرونه

د سېلاب ژوندون په دې کښې دے چې ځي
نه یوه لحظه آرام کوي نه مري
نه ملا یم، نه فقیه نکته ور
نه د فقر دروېشي نه یم خبر
د دین لار کښې تېز نظره او سست ګام
پوخ زما کچه او کار مي ناتمام
چې غمونه د زړګي یې را بخښلي
سلو غوټو کښې یې یو ده پرانستلي
"له دې سوزه خپله پرخه کړه جدا
بیا به را نۀ شي فقیر لکه زما"

## مردِ حُر

مردِ حر په "**لا تخف**ؑ" دے زوره ور
موږ سرټیټي یو میدان کښې دے زړۀ ور
مردِ حر په لا اِلٰه روشن ضمیر
نه غلام وي د باچا نه د امیر
مردِ حر له د اوښ بارونه وړي
مردِ حر بارونه وړي او ازغي خوري
مردِ حر داسې مضبوطه پښه کښېږدي
چې د لارې نیض له سوزه ټوپ وهي

روح د دهٔ په مرګي لا را ژوندی کیږي
او تکبیر یې بې اوازهٔ پورته خیزي
چې ښیښې ګڼي د لارې پراته سنګ
دا فقیر اخلي شاهانو نه قلنګ
ګرموي دي طبعیت د دهٔ پیاله
لویه کړي د دهٔ سیند دهٔ ستا وله
باچهان پټ د حریرو په قبا
وي د دې بربنډ فقیر نه په رپا
د دین راز مونږ ته خبر ده ته نظر
دے د کور دننه مونږ ترې نه بهر
مونږ دوستان د کلیسا، مسجد فروش
دے له لاسه د حضرت ص پیمانه نوش
نه پیالې په لاس او نه د مخ غلام
دے په مے د الست مست او مونږ تش جام
د ګل مخ سور دے د دهٔ د نم له زوره
تور لوګے یې زیات روښان زمونږ له اوره

په سینه کښې یې تکبیر د امتونو
په تندي کښې یې تقدیر د امتونو
زمونږ مخ کله ګرجې ته کله دیر ته
دے روزی له هم متازهٔ نه وي غیر ته
مونږ بندیان د فیرنګي دے عبدهُ
نه ځایږي په جهان د رنګ و بو

موږ سهار ماښام په غم د ساز سامان
او آخر کښې څه؟ تریخ مرګ مو وي پایان
ده ته مرګ له مقاماتو د جهات
بې ثباته دنیاګۍ کښې یې ثبات
خاوندان د زړهٔ زموږ صحبت کښې مړه
او د دهٔ صحبت کښې ختې مومي زړه
په ګمان او ظن تړلې زموږ کار
او د دهٔ خبرې کمې ټول کردار
موږ نهر کلي پر کلي کړو ګدا
د دهٔ فقر لري تېغ د "لا الٰه"
موږ بنې سپکې، سیلۍ مو وړي را وړي
دے په درز له غره چینې را بیوي
د دهٔ خپل شه او پردے شه له جهان
کور دي وران کړه، او د کور مالک کړه ځان
ګیلې مه کړه د آسمان له چور لندي
ځان ژوندے کړه په صحبت د دې ژوندي
د کتاب علم صحبت ته نه رسیږي
په صحبت کښې د سرو، سرے جوړیږي
مردِ حر دے غرق دریاب څپې- څپې
اوبهٔ اخله له دریاب پرېږده ناوې
جوش وهي د دهٔ سینه لکه د دېګ
لوے- لوے غرونه د دهٔ مخکښې موټې رېګ
وي په امن کښې رونق د انجمن
لکه باد چې د صبا وي پر چمن

او په جنګ کښې هغه پوهه په تقدیر
ځان ته خپله کني قبر په شمشیر
له تا زار شم، له مونږ تښته ده ته ځه
په لمن پورې یې ځان ونښلوه
په دې خاوره کښې زړۀ نه کیږي یارانو!
بې نظره د زړګي د خاوندانو
"د یو خس قیمت دي نشته پر دنیا
که لمن دي ټینګه نه کړله د چا"

## د شریعت رازونه

ما د روم له پیره زده کړې څو نکتې
ځان مي اوسوځوو خپله په هغې
که د دین د پاره مال پورته کوې
نعمَ* مال صالح به رسولص وې

((رومي))

که په دې حکمت دي تا نه وي نظر
ته غلام یې او مالک دي سیم و زر
له تش لاسو فراخي مومي ملت
او له داسې امیرانو مصیبت

* نِعْمَ مال صالح: د حدیث ټکړه ده، مطلب دا چې که مال په دین لګي نو ښۀ دے

نوے کار هر یو د دهٔ په نظر خوار وي
او د هر زوړ او بېکاره خریدار وي
ناروا ده ته روا، روا خراب
وېرېدونکے له غوغا د انقلاب

د مزدور په ډوډۍ موړ کارخانه دار
د مزدور د لور عزت کړي تار په تار
په حضور یې غلام ژاړي لکه نے
فریادونه یې په شونډو یے به یے
صراحي کښې څهٔ لري نه په پیالو کښې
محلونه جوړ کړي ګرځي په کوڅو کښې
امیر هغه چې فقیر غوندي اوسیږي
او په دې زمانه هم د خدای ویریږي
چې زده نه کړي کوم سړے اکلِ حلال
د هغه ژوند شي په قام باندې وبال
اَه! یورپ په دې نکته نه دے آګاه
هم پوه نه دے په "ینظر بنورالله"*
دے پوه نه دے په حلال او په حرام
فلسفه یې ده کچه کار ناتمام
یو امت په بل امت باندې خریږي
دے دا نه کړي حاصل د هغه کیږي

* ینظر بنورالله: حدیث ته اشاره ده، چې مومن د خدای په رڼا لیدل کوي.

د غریبو نه مړی تروړل حکمت دے
او د دوے له تنه روح وکښل حکمت دے
د دې نوي تهذیب کار بندیان څیرل دي
دا څیرل سوداګری کښې پټول دي
دا بېنکونه د یهودو چالاکي
د انسان له سینې نور د مولا وړي
چې څو دړې وړې نۀ شي دا نظام
د تهذیب د عقل و دین فکر دے خام
بنیادم په دې جهان د خیر و شر
خپله نفع پېژندے شي نه ضرر
څوک خبر نه دے د ښۀ او بد له غمه
کومه لاره ورانه ده او کومه سمه

د ژوندون له تله شرع شي را پورته
رښا راوړي د دنیا د تیارو کور ته
که د دې حرام ټول ومني حرام
تر قیامته به مضبوط وي دا نظام
فقیهان دا هسې نه کوي له ځانه
ورته وګوره په بل شان د بل خوا نه
حکم یې عدل دے تسلیم دے او رضا
جرړې یې ښخې په ضمیر د مصطفٰےؐ
له فراقه وي د زړونو تمنا
ته به نه یې که هغه شو رونما

که له دردہ دي تر شونډو راشي سا
وصل مه غواړه رضا غواړه رضا
مصطفٰےص د دې رضا نه کړو خبر
نور څهٔ نشته دغه دین دے مختصر
د جم تخت لاندې پټ کړے دے بوریا
شاهي، فقر مقامات دي د رضا
ژاړه مه او د سلطان حکم منه
د میدان په ورځ بحثونه کوه مه
د هغه له حکمه مه اوړه څهٔ چې وي
چې هیڅ ستا له حکمه مخ نه اړوي
د الله په شرع "احسن التقویم"* شه
او وارث پرې د ایمان د ابراهیمع شه
څهٔ وي نور د طریقت په لاره تلل
د ژوندون تل کښې د دین شرع لیدل
که صفا غواړې لیدل د دین رازونه
په غور وګوره د خپل ضمیر تلونه
که ته نه وینې ستا دین ده مجبوري
داسې دین به دي له خدای لرې لري
څو چې حق، بنده او نه وینې آشکار
را وتې نه شې له جبر و اختیار

* تلمیح دے د قرآن پاک د آیت: چې د انسان د وجود ساخت په ډېره ښهٔ طریقه شوے دے

ځو غوپې په خپل فطرت کښې ووهه
د حق ځوان شه دا ګومان او شک پرېږده
چې خبر شې چې ښۀ څۀ ؤ بد څۀ ؤ؟
څۀ پټ کړي وو د راز نهو پردو؟
چې له رازۀ د نبي ص واخلي نصيب
جبريل ع ته هم هغه شي ور قريب
اې چې ته په لوے قرآن باندې نازېږې
په حجره کښې به تر کومې پټ اوسېږې
په دنيا کښې له دين پورته کړه پردې
او نکتې د دين کړه هر ځاے کښې خورې
چې هيڅوک نۀ شي محتاج چرې د چا
دا نکته د شريعت ده او بس دا
څۀ مکتب او ملا جوړې کړې قيصې
بې خبره مومنان له دې نکتې
ژوندے قام يې په تاويل د قرآن مړ کړو
او بل اور يې په سينه کښې د ځان مړ کړو
صوفيان با صفا مي وليدل
د مکتب شيخ او ملا مي وليدل
يو نبي هم شو پيدا له دې زمانه
چې قرآن کښې بل څۀ نه ويني بې ځانه
هر يو کس پوه په قرآن او په خبر
او په شرع کښې کم علمه کم نظر

عقل و نقل غلامان يې د هوس
او منبر يې د روټۍ منبر دے بس
څۀ به وي دا کليمان څۀ يې رڼا
تش لستوڼي لري بې يد بيضا
د قامونو کار نيمګړے نا رسا دے
په عمل به وښيې چې حق دي تا دے

## د هنديانو په بې اتفاقۍ يو څو اوښکې

اې اټکه! همالې! او اې ګنګا!
دا ژوندون تر څو بې خونده بې رڼا
بوډاګان له فراسته بې نصيبه
او ځوانان له محبته بې نصيبه
شرق او غرب آزاد او موږه ګرفتار
زموږ خښتې او د بل د کور ديوار
ژوندون خپله تېرول په مراد د بل
خوب هم نه دے دا خو مرګ دے تل تر تل
له آسمانه دا بلا نه را کوزيږي
دا مرګے د زړۀ له تله را ټوکيږي
د دې ښکار نه قبر غواړي، نه ملا
نه دوستان نه فاتحه او نه دعا

نه د دهٔ په غم څوک څیري کړي ګرېوان
نه دوزخ غواړي په بل خوا له آسمان
حشر نشر نه غوبل او نه غوغا
د دهٔ تن کښې خپله پروت د دهٔ صبا
څوک چې دلته څهٔ کړي دلتې رېبي
دا بنده به خدایج ته څهٔ دپاره ځي؟
چې د کوم امت وي زړهٔ بې تمنا
هغه نقش، فطرت اوچت کړي له دنیا
دا جادو دے اعتبار د تاج و تخت
دې جادو جوړ کړو ښیښو نه کاڼے سخت
په مرضۍ باندې د دهٔ سحرِ مبین
کافر پرېښوه کافري او مومن دین
هندیان واړه ور اخته شو یو په بل
په زړو فتنو کښې بیا ور پرېوتل
فیرنګے اوس د مغرب د سر زمین
فیصلې کوي په مینځ د کفر و دین
څوک پوه نه شو چې اوبهٔ دي که سراب؟
انقلاب! اې انقلاب! اې انقلاب!
چې د خاورو ختو فکر کوې ته
د اللهج نه طلب کړه د ژوندي زړه
زړهٔ په دغو خاورو ختو کښې اوسیږي
خو دا نهه واړه آسمانه ترې څرخیږي

چرته خاوره خته ځان ونه ګڼې
چې دے، دے ان د افلاک له بلندۍ
دا جهان ده ته دیار خوږه کوڅه
د یار بوے ګوري قبا ګڼېږ د لاله
هر ساعت یې له روزګاره سر تیزۍ وي
په ګزار یې ریز مریز د لار تبۍ وي
د منبر او د سولۍ سره آشنا دے
او خپل اور یې بل ساتلے په ربنتیا دے
یو وله ده پکښې پټ دے سمندر
هر یو موج یې د طوفان راوړي خبر
بې روتۍ شي واړه عمر اوسېدے
لحظه نهٔ شي بې حضوره پایېدے
د وجود د شبستان بله ډیوه
هم مجلس دے پرې روښانه هم کوټه
داسې زړهٔ په مولا مست په ځان خبر
بې له فقره به په لاسو نهٔ شي ور
اې ځلمو! لمن یې ټینګه ونیسئ
که پیدا یې غلامۍ کښې آزاد مرئ

# موجوده سیاست

کلکوي په کلکو غوټو غلامي
کم نظره ورته وايي آزادي
د جمهورو هنګامه يې وليده
باچهي له يې مخ پټ کړو په پړده
سلطنت ته وايي جامع الاقوام
په کار پوخ راته ښکاريږي په خوله خام
په فضا کښې يې خوريږي نه وزر
په کونجې يې پرانستې نۀ شي يو در
د پنجرې مارغه ته وايي د زړۀ سره!
د ښکاري کور کښې کړه ځاله برابره
چې په غر په صحرا ځاله جوړوي
ځان پخپله باز بابښې ته غورزوي
له جادو يې مرغۍ مست شي په دانه
په مرۍ کښې مړه کړه خپله ترانه
آزادي غواړې؟ له داسې دامه تښته
تږې مړ شه خو د دۀ له جامه تښته
امان غواړه له ګرمۍ يې د ګفتار
الحذر يې له کلامِ پهلو دار*
سترګې کړي د دۀ رانجه زياتې بې نوره
او مجبور بنده له دې شي لا مجبوره

* پهلودار: داسې خبره چې ګڼې معنې لري

د شرابو له پیالې یې الحذر
هم له بدو، جوارو یې الحذر
مردِ حر نه وي له ځانه بې پروا
ځان ساته چرته افیم ونه خورې دا
کړه فرعون ته د کلیمؑ غوندي وینا
چې په یو ګزار دې پرق وچوي دریا

زړهٔ مي چوي په بدنامۍ د دې کاروان
چې له نور یې نادیده دي امیران
تن پرست او په جاه مست او کم نګاه
زړهٔ کښې نه لري رڼا د لا اله
د حرم څوے او مرید د کلیسا
تار په تار یې کړه زموږ پرده حیا
د دهٔ لاس لمن نیول بیوقوفي ده
چې سینه یې له روښانه زړهٔ خالي ده
په دې لار تکیه په ځان کړه چې سړي
په رندو سپو ښکار کوے نهٔ شي اوسي
آه! دا قام چې سترګې یې پټې کړې له ځانه
غیرالله ته یې زړهٔ ورکړو په آسانه
چې خودي شي د ملت سینه کښې مړه
غر نوړي خو باد یې وړي لکه بڼه
پروت په خټه کښې یې شته دے لا اله
خو تر تن ترې یو مسلم نهٔ شه پیدا

هغه کس چې بې یقین کړي په یقین
له سجدې یې آسمان رپي او زمین
د تیغ لاندې یې له خولې ځي لا اله
او له وینې یې ټوکیږي لا اله
هغه سوز شته نۀ مستي نۀ مشتاقي
په حرم کښې ژوندے زړۀ نۀ دے باقي
مسلمانه! ته په دې دیرِ کهن
څو به پروت اوسې قیدي د اهرمن
په توفیق کوشش او خوند د جستجو
موندے نۀ شي بې د شپې له اسویلو
تر څو ژوند لکه د خس په سمندر
ځان را ټینګ کړه او کلک کاڼے شه د غر
خبروي نۀ څوک د زړۀ په حال دانا
خو خپل غم ساتلے نۀ شمه له تا

غلامۍ کښې پیدا شوے یم غلام
لرې پروت یم له مسجدِ حرام
چې په نوم د مصطفےؐ وایم درود
ویلي- ویلي مي له شرم شي وجود
عشق مي وایي "اې چې بل ځاے د تا ستانه ده
او سینه دي د بتانو بت خانه ده
رنګ او بوے د محمدؐ چې نۀ لرې
په درود یې نامه څۀ خرابوې"

له قیامِ بې حضور مي څۀ پوښتې
له سجودِ بې سرور مي څۀ پوښتې
د حق پړق که یو لحظه وي یو نفس
په قسمت کښې د آزادو دے او بس
یو آزاد بنده چې پرېوځي په سجود
په طواف یې څرخ وهي چرخِ کبود
غلامان یې له جلاله ناخبره
له جمال یې له زواله ناخبره
له غلامه غواړه مه خوند د ایمان
که هزار ځله حافظ وي د قرآن
مسلمان دے او پېشه یې آذري
د دۀ دین او د دۀ پوهه کافري
که لرې د ژوندون سوز په تن او ځان
په لمانځه کښې دے معراج د مسلمان
او که ګرمه وینه نۀ لرې پر تن
سجده څۀ وي؟ زوړ دستور دے د بدن
د آزاد اختر کښې شان د ملک او دین وي
د غلام اختر بس جمع مومنین وي

# يو څو ټکي امت عربیه ته

تر آبده دي باقي وي ستا صحرا
د چا چيغه ده لا قيصر و کسرٰے*
د دې لرې او نزدې په دا جهان
چا د ټولو نه اول لوستو قرآن
اول چا زده کړلو راز د الاالله
کوم ځاے بله شوه اول دغه ډيوه
حکمت علم ؤ د چا پر دسترخان
په آيت د "**فاصبحتم**ج" کښې د چا شان
له سيرابې سا د دې امي لقب
سره لاله شولو ميرې- ميرې عرب
حريت ساتلے ده غېږه کښې تن دے
په رښتيا د دهٔ پرون د خلګو نن دے
زړهٔ يې کښېښود په بدن کښې د انسان
بې نقابه يې آدم کړلو روښان
هر زوړ خداى يې کړلو لاندې تر قدم
هر يو شاخ وکړې غوټۍ د دهٔ په نم
ګرمي- ګرمي هنګامې بدر و حنين
دا صديق، فاروق، حيدر او دا حسين رض

* لا قيصر ولا کسرٰے: تلميح دې حديث ته: کسرٰے ولا قيصر بعده

دا اوچت- اوچت او درونددند اذان په جنګ کښې
دا قرآت د والصٰفٰت[1] روان په جنګ کښې
ایوبي ج توره نظر د بایزید[2]
د دوو کونو خزانو ته یو کلید
زړۀ او عقل دواړه مست له یوه مې
اختلاط د ذکر و فکر روم و رې[3]
شرع، دین، عقل و حکمت، انتظامونه
په سینو کښې بېقراره ژوندي زړونه
عالم سوز ښایست د الحمراء او تاج
چې اخلي قدوسیانو نه خراج
دغه ټول د دۀ د وخت یوه لحظه ده
یو جلوه تجلیاتو نه د دۀ ده
په ظاهره یې دا رنګ په رنګ جلوې دي
له عارفه یې لا پټې خزانې دي
ډېر ثنا صفت د دې رسولِ پاک ص
چې رڼا یې په ایمان کړو موټې خاک
حق ته زیات تېز او تېره کړے له شمشیر
د اوښانو سپور یې سپور کړو په تقدیر
د تکبیر نارې او لمونځ او حرب و ضرب
دې غوغا کښې خوش بختي د شرق او غرب

[1] الصٰفٰت: د قرآن کریم سورة دے
[2] بایزید: حضرت بایزید بسطامي رح یو لوے ولي دے
[3] رروم و رے: حضرت جلال الدین رومي رح او امام فخرالدین رازي رح

واه- واه هغه مجذوبي دل بردګي
آه! دا فکر دلګیري افسردګي
ټولو خلګو خپل عزت کړلو سیوا
ته پوه نهٔ شوې په قیمت ستا د صحرا
یو امت وې درنه جوړ شو امتونه
خپل مجلس دي تار په تار کړو بدشګونه
د خودۍ نه چې جدا شو هغه مړ شو
چې ملګرے د بل چا شو هغه مړ شو
تا چې وکړو په ځان نهٔ دي کړي چا
په تکلیف دے در نه روح د مصطفےٰ ؐ
بې خبره له جادو د فیرنګي
په لستوڼي کښې فتنې پټې ساتي

له فریبه که د دهٔ غواړې امان
له خپل حوضه یې شړه لرې اوښان
په حکمت یې هر یو قام کړو بې اسرې
د عربو وروروليي شوه سل پرې
چې عرب د دهٔ په جال کښې شو قیدیان
یو لحظه امان ور نهٔ کړلو آسمان
په خپل عصر باندې وکړه یو نظر
را پیدا کړه ځان کښې بیا روح د عمرؓ
جمعیت مضبوطوي دینِ مبین
دین خو عزم دے اخلاص دے او یقین

څو زړګې د دهٔ رازدان وي د فطرت
د صحرا زلمې پاسبان وي د فطرت
ساده زړهٔ يې په هر ښهٔ او بد پوهيږي
په طلوع يې زر سل ستوري وي ډوبيږي
پرېږده سمه، صحرا، غر، د غره لمنه
خپل وجود کښې خېمه ووهه دننه
طبع تيزهٔ کړه په باد د بيابان
او ناقه دي کړه را وړاندې په ميدان
دا اوس دور دے ستا له ورځو را پيدا
ستا په ميو مست دے ستا په نور رڼا
ته پخپله وې د دې اول معمار
او له تا څرګندېدل د دې اسرار
فيرنګيانو چې په ځوے ونيوو دا
يو شاهد شو بې ناموسه بې حيا
د کتو دے ښايسته دے او شيرين
خو ډېر شوخ او کج خرامه او بې دين
د صحرا زليمه! پوخ کړه دا کچه
په زر کاڼي دي کره کړه زمانه

## اې د مشرق قامونو! اوس څهٔ وکړو؟

آدميت ژاړي زار- زار له فيرنګي
ټول ژوندون دے ناقرار له فيرنګي

اوس څهٔ وکړو د مشرق قامونو څه؟
رڼا کيږي په مشرق خوره تياره
په زړګي کښې يې ژوندے شو انقلاب
شپه تيريږي را ختونکے دے آفتاب
يورپ خپله شو په خپل خنجر زخمي
خوروي د آسمان لاندې لاديني
پړانګ پر ځان خور کړے د ګډ پوستين
او ګډانو ته پټ ناست دے په کمين
په مشکل يې اخته کړے دے انسان
او له ده بنيادمتوب دے پريشان
بنيادم د دهٔ نظر کښې آب و ګِل
د ژوندون قافله نهٔ لري منزِل
دا چې څهٔ وينې تمام د حق انوار دي
د څيزونو حکتونه يې اسرار دي
چې د خدای علامې ويني مردِ حر دے
او هم دغه حکمت اصل د "انظر"* دے
مسلمان بنده د دې نه بهرور دے
په بل زړهٔ سوځي د ځان په حال خبر دے
چې يې علم خاورې ختې کړې رڼا
لا يې زياته ويره کيږي له ملا

* آيت ته اشاره ده: افلا ينظرون الیٰ الابل کيف خلقت،
ژباړه: يعني د فطرت نظام په غور ګورئ

دغه علم زموږ خاورو ته کېمیا دے
فیرنګیانو کښې د دې اثر جدا دے
چې د ښهٔ بد معیار نهٔ لري د سره
سترګې یې اوښکې نهٔ لري او زړهٔ یې ویره
رسوا علم کړي په ښار په بیابان
جبرئیل[ع] یې په صحبت کښې شي شیطان
د یورپ عقل دے توره پر اوږه
د انسان په هلاکت پسې اخته
دې تیلو سره په ملک د خیر و شر
ښایي نهٔ مستي د علم او د هنر
هاے! افرنګ او هاے آئین د فیرنګي
د دهٔ فکر د دهٔ عقل لا دیني
علم و عقل ته یې ښیلې ساحري
ساحري، جادوګري نهٔ کافري
هر طرف ته سل فتنې کوي غوغا
د رهزن له موټې توره کړه جدا
اې! چې روح او بدن بیل- بیل پېژنې
د یورپ لادیني کړه ټوټې- ټوټې
د مشرق روح به یې په تن کښې پوک وهې
چې پرې لرې د معنا نهٔ کړې جندرې
د زړګي د لاندې عقل یزداني وي
او د زړهٔ نه چې آزاد شي شیطاني وي

زندګي ده هر ساعتې کشمکش
عبرت واخلئ له حالاتو د حبش
د یورپ مذهب بې جنګ و قېل و قال
په پړانګانو تېول ګډوري کړي حلال
نوے نقش په دنیا کړي را برسېر
د کفن د غلو نه څۀ امید د خېر
بې له دې نه چې نور څۀ کړي جنیوا؟
چې دا ګډه دي تا ښکار شوه دا زما
په دنیا کښې نه ځاییږي دا نکتې
یو جهان غوبلې یو دنیا فتنې
اې په رنګ مینه ځان پاک کړه له رنګ
شه مومن د ځان کافر شه له فیرنګ

نفع زیان سود او سودا دي ستا په لاس کښې
د مشرق عزت حیا دي ستا په لاس کښې
بیا دا تار په تار قامونه وګنډه
او اوچته د رښتیاوو کړه جنډه
اهلِ حق زندګي مومي په قوت
او قوت دے اصلیت کښې جمعیت
بې قوته فکر، مکر او افسون
بې له فکره قوت جهل او جنون
سوز و ساز او درد و داغ دي له ایشیا
دا شراب او دا ایاغ دے له ایشیا

موږه مينې ته ښيلې دلبري
دلبري چې بنيادم پيدا کوي
دين، هنر دواړه مشرق نه څرګنديږي
آسمانونه دغې خاورې ته زيريږي
موږ څرګند کړو څۀ چې پټ ؤ له نظره
لمر له موږه دے او موږه يو له لمره
ګوهرونه وروي زموږ سپرلے
د هر سيند شوکت زموږه طوفان دے
خپل روح وينم په نغمو کښې د بلبل
د آدم وينه په سور مخ کښې د ګل
زموږ فکر چې تلاش کړو د وجود
نوے سور کړو اول تار د هست و بود
په سينه کښې مو دننه ؤ يو داغ
دا مو بل کړلو د لار په سر څراغ
اې د دين او د تهذيب دواړو امينه!
را څرګند يدِ بيضا کړه له آستينه
پاڅۀ پرانځه د دهر غوټه سخره
او نشه د فيرنګي لر کړه له سره
د مشرق د نوي نقش کښېږده بنياد
او خپل ځان له اهرمنه کړه آزاد

پېژنې ښۀ فيرنګيان او هم يې کار
وي تر څو به غاړه ستا د دۀ زنار

کړو زخمي د دهٔ نشتر د دهٔ له ستنو
موږ له اوس هم طمع دار یو د ګنډنو
ښه پوهیږې باچهي خو قاهري ده
قاهري زموږ په دور سوداګري ده
د دوکان د تختې مل دے تخت د تاج
یو نه یې ګټه ده او بل نه یې خراج
هغه شاه چې هم باچا هم سوداګر دے
په خوله خیر ستایي او زړهٔ کښې یې لوے شر دے
که د دهٔ حساب دي ولیدو پوره
له حریره یې ده نرمه ستا پنبه
بې نیازهٔ یې له ځاے په مخه ځه
له یخ مړ شه خو پوستین یې اخله مه
بې ګزاره مړ کول د دهٔ آئین
سل مرګونه یې ګردش کښې د مشین
په بوریا باندې یې مه اخله قالین
خپل پیاده یې بدل مه کړه په فرزین
لعل کښې یې رګ دے او ګوهر یې دے داغي
مشک د دې سوداګر دے نافه د سپي
بخملونه یې د سترګو نه خوب وړي
دې رنګونو سره ستا رنګونه ځي
سل سل غوټې دي ورکړي هر یو کار ته
چې د دهٔ جامه وانخلې ستا دستار ته

یو هوښیار د دهٔ له خمه نهٔ څښي مے
څوک چې وڅښي مړ وي پروت په هغه ځاے
د سودا پر وخت مسکے خوږې خبرې
ماشومان یو خرڅوي په مونږ شکرې
پوه په زړهٔ او په نظر د خریدار
سوداګر دے خدایه دے که سحر کار

ګټه وکړي سوداګر د رنګ و بو
خریدار ړانده کاڼه کړي لکه یو
چې ستا خاورې ټوکولې دي ساده
هغه اغونده، هغه خرڅوه، خوره
پوخ نظرو چې ځانونه پیژندل
څادرونه به یې خپل خپله اوبدل
اې د نوې زمانې نه بې خبره
د یورپ کاریګري کړه تر نظره
شتا رېشم نه قالینونه جوړوي
او د تا مخ ته یې بیرته غورزوي
ستا نظر یې په ظاهر باندې خطا شي
په ښایست پسې یې ورک زړګے دي تا شي
صد افسوس په داسې بې موجه دریا
چې د خپل ګوهر غواص نهٔ کړي سودا

# په حضور کښې د رسالت ماب ص

## د درېيم اپرېل ۱۹۳۶م په شپه په دارلاقبال بهوپال کښې وم، سید احمدخان رح مي په خوب کښې ولید، فرمایل يې چې خپله بیماري د جناب رسالت ماب ص دربار کښې پېش کړه.

اې زمورِ د غریبانو ساز و برګ
دا قام وساته له ویرې نه د مرګ
تا په اور وسول زاړه لات و منات
را تازهٔ دي کړو له سره کاینات
د جن انس د ذکر و فکر په وینا
ته اذان يې او ته لمونځ يې د صبا

د زړهٔ سوے خوند سرور دے لا الله
او د فکر شپه کښې نور دے لا الله
نهٔ مو خدای جوړ کړو له غوا او نهٔ د خر
نهٔ مو ټیټ کړو د کاهن په مخکښې سر
نهٔ سجده د معبودانو پخوانو
نهٔ طواف د باچهانو د کوڅو
دا همه ستا عنایت دے بې پایان
زمورِ فکر دے لوے کړے ستا احسان

د تا ذکر هغه شوق هغه مستي
چې په فقر کښې ساتي قام غیرتي
ته مقام ته مرحله د هر رهرو
ته د زړهٔ پټه جذبه د هر رهرو
زموږ ساز شو بې آوازهٔ هسې شان
چې مضراب یې په رګونو دروند او ګران
که عجم مې ولیدل او که عرب
مصطفیٰ ص ګران او ارزان ابولهب
دا بچے د مسلمان روښن دماغ
د ضمیر توره کوټه یې بې څراغ
په ځوانو کښې له ریشمو نرم دي
او آرزو یې په سینه کښې ژر ژر مري
دا غلام ابن غلام ابن غلام
حریت په تصور د دهٔ حرام
مکتب ورکه ترې نه کړه د دین جذبه
له وجوده یې دومره ښکاري چرې وه
دغه مست په فیرنګي له ځانه ورک
د ورېشو روټۍ غواړي ترې نه سپک
روټۍ اخلي دا نهر روح ورکوي
په ژړا مو د دهٔ زخم ژړوي
دا نې ګوري، لکه وي د کور چرګان
ناولده له خوره ور شینکي آسمان

د مکتب شیخ کم سواد او کم نظر
دے یې نۀ کړلو له خپل ځانه خبر
د فیرنګ په اور یې ویلي کړو خپل ځان
او بیا دې دوزخ بدل کړو په بل شان
دا مومن دے او له مرګه نا آګاه
زړۀ کښې یې نشت لا غالب الا الله[1]
په سینه کښې یې زړۀ مړ پروت دے هلاک
بل څۀ نې وینې خو خوب دے او خوراک
د "نعم" او "لا" نشتر خوري په یونان
په یوه ګېډه د سل زرو احسان
فیرنګي نه بیه کړي د لات، منات
مسلمان دے او غم کړي د سومنات
"قم باذني"[2] ورته وایه دے ژوندے کا
"الله هو" یې په زړۀ کښې سوے ژوندے کا
موړه تول جادو وژلي یو د غرب
فیرنګیانو مړه کړو بې له حرب و ضرب
ته له دې جام ماتې قامه دوباره
را پیدا کړه په خدای مست ژوندے بنده
چې مسلم پر جهان بیا وویني ځان
او د هر چا نه اعلےٰ وویني ځان

---

[1] لا غالب الا الله: بې له خدایه بل څوک غالب نشته

[2] قم باذني: یعني پاځۀ زما په حکم

واکې ونیسه شهسواره! یو لحظه
دا خبري له خولې وزي په دمه
آرزو ووایم که نۀ پرانېزم لب؟
شوق مي نۀ مني خبره د ادب
هغه وايي خوله دي پرانېزۀ دردمنده
وايي دے غړوه سترګې ژبه بنده
ستا نه چار چاپېره چورلي کاینات
له تا غواړمه نظر د التفات
زما ذکر، فکر، علم، عرفان ته یې
کښتۍ ته یې دریاب ته یې طوفان ته یې
یو اوسے یم زوړ زبون زار او ناتوان
چا یو نۀ وړم تر فتراکه پر جهان
زما ځاے زما حرم دي تا کوڅه
تا ته راغلمه د تا په تلوسه
هغه څۀ شو په سینه کښې ساز ساتل
په نفس د غوټو غوټې پرانستل
په مرۍ کښې مي حصاره شوه نغمه
له سینې مي بهر نه شوله لمبه
نه مي ساه کښې پاتې سوز شو د ځیګر
او نۀ لطف په قرآن کښې د سحر
چې په زړۀ کښې ځایدے نۀ شي نغمه
نو تر کومه به بندي وي په سینه

ورته ښايي فضا ارته بې كرانه
ورته ښايي په وسعت نهه آسمانه
آه دا درد چې مي پر ځان دے او پر تن
ستا نظر كښې دي دارو د دې دردمن
دا كمزورے زړۀ مي نۀ مني دارو
تراخه زهر او بدخونده او بدبو
دا بيمار به په دې غم پروت وي تر څو؟
د ماشوم غوندي پټېږي له دارو
په شكرو يې تراخه زهر غولوم
حكيمان مي په ځان پورې خندوم
بصيري* غوندي له تا غواړم شفا
چې مي تېره ورځ په ببرته راشي بيا

ته په ډېرو گنهگارو مهربان يې
په خطا بخښو كښې خوږ د مور په شان يې
يم د شپې د پرستار سره اخته
په غوړو خپلو مي بله كړه ډيوه
اې چې ستا وجود دنيا لره سپرلې
له ما پټې مه ساته خپلې جلوې

* بصيري رح: د قصيده برده مصنف، دا قصيده د حضور ص په نعت كښې ده، روايت دے: چې بصيري رح دا قصيده په بارگاه نبوي ص كښې قبوله شوه او هغه له فالج نه جوړ شو

"ته خبر يې چې بدن خوړ دے په جان
او جان خوړ دے په شغلو د خوړ جانان"

((رومي))

چې د غيرالله نه و نۀ کړم اميد
يا مي کړه توره تيره او يا کليد
زما فکر تيز د دين په کار پوهيږي
خو پر مځکه مي کردار نۀ زرغونيږي
زما تبر نور تيره کړه چې زما
د فرهاد نه زيات محنت دے او بلا
زۀ مومن يم او له ځانه کافر نۀ يم
يو څرخ راکړه چې بدذات بدګوهر نۀ يم
د ټول عمر کر مي هيڅ ونه خاته
خو يو څيز راسره شته دے نوم يې زړه
سنبال پټ يې ګرځومه له جهان
چې د تا د اس د پل لري نشان
يو غلام ته چې هيڅ نۀ غواړي دنيا
ژوندون مرګ دے بې حضوره د مولا
اې چې کُرد دي کړو د زړۀ په سوز عرب
دا غلام په خپل حضور کښې کړه طلب
يو غلام لکه لاله داغ پر ځيګر
خپل غلام يې هم له غمه ناخبر
يو بنده تشه ژړا لکه د نے
سوے روح يې نغمې وايي پے به پے

لکه نیم سوے لړګے په بیابان
زۀ لا سوځمه او تېر شولو کاروان
پر دې لویه دے خور وره صحرا
خدای خبر چې بل کاروان شي را پیدا
روح مي تن کښې له فراقه په ژړا دے
هاے دا زه، او وایي دا زه، فریاد زما دے

# د افغانستان د څو ورځو سیل

## بسم الله الرحمٰن الرحیم

نادرشاه[۱] پښتون بادشاه درویش صفت
وریده د دهٔ پر ګور د خدای رحمت
د ملت کار یې محکم کړو په تدبیر
د خدای دین یې و ساتلو په شمشیر
په لمانځه کښې ویلي زړهٔ لکه بوذررض
او په جنګ کښې یې ګزار ماتوي غر
د صدیقرض دور یې تازهٔ شوه له جماله
د فاروقرض دور یې تازهٔ شو له جلاله
د دین غم یې پر زړهٔ داغ لکه لاله
د مشرق د توري شپې بله ډیوه
په نظر کښې یې مستي او ژوند د ذوق
او د روح جوهر یې سوے او جذب د شوق
شاهانه توره درویش غوندي نګاه
دوه ګوهره له محیطِ لا اله
شاهي فقر واردات د مصطفیٰص دي
جلوې دواړه د یو ذات د مصطفیٰص دي

---

(۱) خطاب اعلي حضرت شهید نادرشاه ته.

دواړه مومي د مومن ځنې وجود
یو قیام د مسلمان دے بل سجود
فقر، سوز او درد و داغ دے او آرزو
فقر مومي په سرو وینو کښې آبرو
آفرین په فقیرۍ شه د نادر
فقر یې ځان په وینو سور کړلو اخر
د صبا باده! قاصده تېز رفتاره
د مرقد طواف یې رو کړه په قراره
شاه ویده دے پښه نیولې ګرځه رو
په مزه پرانېزۀ غوږې د غوږو
له حضور یې دا فرمان راغلو تر ما
زما خاورو ته یې ورکړه نوې سا
"وسو موره په ګرمۍ ستا د آواز
خوش قسمته دي چې پوے دي ستا په راز
ستا له غمه دے ملت زموږ آشنا
موږ خبر یو دا نوا ده له کوم خوا
اې زموږ د وریځ غبږ کښې لکه برق
منور دے نن دي تا په رڼا شرق
یو لحظه زموږه غرونه هم رڼا کړه
زړې مینې ته بیا تب و تاب عطا کړه
خو په قید یې په بندونو د بلا
ته کلیم یې په لار راشه د سینا"

طےِ مي کړلو باغ و راغ د دشت و در
لکه باد تېر شوم له غر له او له کمر
خیبر نۀ دے د ځلمو نه ناآشنا
په زړګي کښې يې قیصې دي هزارها
کومي لاري داسې تاؤ را تاؤ ښکاريږي
چې نظر يې په تاوونو کښې ورکيږي
په لمن کښې يې شينکےِ نۀ زرغونيږي
رنګ و بوے يې له زړګي نۀ را تښتيږي
د دې مځکي زرکان دي شاهين مزاج
د زمرو نه يې هوسۍ اخلي خراج
په فضا کښې يې تيرې پنجې بازان
چې رپيږي يې له ويري نه پړانګان

ليکن ټول بې مرکزۍ کړلو تباه
بې نظامه نا تمامه نيمه ساه
د بازانو يې طاقت نشته د پر
د تنزرو نه هم ټيټ ساتي وزر
مړ- مړ قوم دے سوز يې نشته د ژوندو
بې نصيبه يې ژوندون له حادثو
يو به پروت وي په سجده بل په قيام
ټول روزګار يې لکه لمونځ وي بې امام
ريز مريز يې کړه په خپل کاني مينا
آه دا نن يې بې خبره له صبا

# د سرحد قامونو ته خطاب

اې له ځانه پټه، ځان ووينه بيا
په اسلام کښې دا پړده ده ناروا
راز د دين د مصطفیٰ ﷺ خبر يې څه؟
باچهي ده دا خپل ځان څرګند ليده
څۀ دے دين؟ د ځان له رازۀ خبرېدل
مرګ دے بې له ځان ليدو ژوند تېرول
کوم مومن بنده چې ويني خپل ځان
خپل ځان چونې کړي له همه واړه جهان
په ضمير د کايناتو دے آګاه دے
تېره تېغ د لا موجوده الا الله دے
شور يې خور دے د مکان تر لا مکانه
ورک د دۀ ويړتيا کښې نهه واړه جهانه
د دۀ زړۀ راز د رازونو د مولا دے
حيف چې دے له خپله ځانه ناآشنا دے
دا بنده د حق وارث د انبياء
ځائېدے نۀ شي د بل چا په دنيا

چې پيدا کړي ځان دپاره بل جهان
زوړ جهان کړي لت په لت ويجاړ ويران

ژوندے کس له غیر حقه لا پروا وي
او خودي يې د وجود بله رڼا وي
ښېې يې کلکې وي په جنګ د خیر و شر
توره يې ذکر وي او فکر يې سپر
د خپل زړۀ ځنې يې څیره کړي سحر
نه سحر له لمر ختيځ راختے لمر
پاک فطرت يې بې جهته له جهات
دے حرم وي په طواف يې کاینات
شي ذرې د دۀ د ګرد لکه آفتاب
د لويي يې ګواهي کوي کتاب
د دۀ پاک فطرت غوړيږي له ملته
رڼې سترګي يې غړيږي له ملته
لږ ور ورک شه په قرآن او په خبر
او بيا خپل ځان ته په ځير وکړه نظر
په جهان کښې آواره يې بې اسرې يې
يو وحدت دي ورک کړو سل رنګه پرې يې
شوې په بند د غيرالله دي ښېې بندي
دا غوے مي سوے داغ ستا د تندي
د خپل مشره له پټ مکره ساته ځان
چې برباد نۀ کړې ښتون روح د افغان
د مردانِ حق په اور دي سوځومه
يو نکته د پيرِ روم درته ښايمه

"رزق له حقه غواړه، مه له زید و عمر
او نشه له حقه، نهٔ له بنګ و خمر
خاوره مه پیره، مه خوره، مه لټوه
چې څوک خاوره خوري تل وي زیړه ګونه
زړهٔ تلاش کړه تل ځلمےِ اوسه او ځوان
په رڼا یې سور مخ ګرځه ارغوان

بنده اوسه لکه اس پر مځکه ځه
مه د نورو په اوږو شه جنازه"
ګیله مه کړه له ګردشه د آسمان
ګیر چاپیر ګرځه له لمره د خپل ځان
ځان له رزقه او له شوقه کړه خبر
تا ذره یې؟ پاڅهٔ ښکار کړه سپوږمۍ لمر
د موجودې دنیا وکړه اندازه
په جهان پورته د ځان کړه آوازه
د دنیا ساز و سامان دے له وحدته
او ژوندون په دې جهان دے له وحدته
تېر شه ته د زاړه رنګ او زاړه بو
پاکه ووینځه له زړهٔ زړهٔ آرزو
نه ارزېږي زوړ سامان په دوه اوربشې
نوے نقش د آرزو جوړ کړه چې ښهٔ شې
د ژوندون بنیاد آرزو بنیاد آرزو
ښیي تاته دي تا ځان د تا آرزو

آرزو سترګې غوږ او عقل تېزوي
آرزو خاورو ته لاله راټو کوي
د آرزو تخم چې زړهٔ کښې نهٔ کري
لکه لوټه ځانه په پښو کښې د لوي
آرزو پنګه د سلطان او د امیر
آرزو جام جهان بین دے د فقیر
آرزو جوړ له خاورو ختو بنیادم کړي
آرزو موږه د خپل ځان سره محرم کړي
د دې خاورې نه کړي پورته شراره
او ذره کړي د آسمان غوندي خوره
د آذر فرزند کعبه کړله تعمیر
په نظر باندې یې خاورې کړي اکسیر
ته خودي خپله په خپل ځان کښې تعمیر کړه
او دا خپلې موټې خاورې دي اکسیر کړه

## مسافر د کابل ښار ته راځي او د اعلٰه حضرت شهید په خدمت کښې حاضرېږي

د کابل ښهر، رنګین جنت شان
چې انګور یې څښوي آبِ حیات

د صائب[۱] سترګې يې تورې په رنجو
تل آباد اوسه روښان په پلوشو
د ليدو يې دي د شپې سمن رازونه
د شينکو په فرش يې رغړي سحرونه
ښکلے ملک، ښايسته وطن، پاک مرز د بوم
باد يې ښۀ دے له هوا د شام او روم
خلک وهي اوبۀ يې، خاورې يې پړقيږي
په هوا يې مړې- مړې خاورې ژوندے کيږي
نه ځائيږي حرف و صورت کښې يې اسرار
ډېر غرونه يې ويده دي په کهسار
اوسېدونکي يې موړ سترګي خوش ګوهر
لکه توره له خپل زوره ناخبر
سلطاني محل چې نوم يې دل کشا دے
او کتونکو ته يې د لارې ګرد کيميا دے
دې اوچت محل کښې ومي ليد باچا
شو باچا ته مخامخ دردمند ګدا
په اخلاقو يې ګټلے ملک د زړونو
بې پرواه د باچهۍ له دستورونو
په دربار کښې زۀ د داسې لوے باچا
په دربار کښې د عمر[رض] يو بېنوا

---

(۱) مرزا صاحب د کابل په صفت کښې ويلي دي:
خوشا وقتې که چشم از سوادش سرمه چين گردد

زړۀ مي يې ويلي د خبرو له ګرمۍ
لاس مي يې ښکل کړلو په ډېره عاجزۍ
يو باچا ساده لباس په ژبه نرم
په کار سخت ؤ په خوے پوست او په جوش ګرم
صدق اخلاص يې له کتو څرګندېدو
دين دولت يې په وجود مضبوطېدو
يو خاکي له فرشتو زيات په پاکۍ
هم خبر له فقيرۍ هم له شاهۍ
په نظر کښې يې روزګار د شرق و غرب
حکمتونه يې رازدار د شرق او غرب
يو باچا لکه حکيم پوهے په حکمت
خبردار په مد و جزر د ملت
د معنٰے له مخه يې لرې کړې پردې
راڅرګندې يې کړې د ملک د دين نکتې
وې په هغه اور چې ستا په زړۀ کښې دے بل
تا ملګرے او عزيز ګڼمه خپل
چې اثر يې وي د ميني په وجود
په نظر کښې مي هاشم دے او محمود
په خدمت کښې مي د دې لوے مسلمان
د تحفې په طريقه پېش کړو قرآن
ما وې د ا د اهلِ حقو سرمايه ده
چې يې زړۀ کښې د ژوند ټوله طريقه ده

انتها ده دا د هرې ابتدا
حیدر رض شو د دې په زور خیبر کشا
د دې ګفت نشې یې وینه کښې خورې شوې
اوښکې سترګې نه باران قطرې- قطرې شوې
وې نادر په دې دنیا کښې بېچاره ؤ
د وطن او دین له غمه آواره ؤ
غر بېدیا مې ناآشنا له اضطرابه
بې خبره له دې غمه بې حسابه

ډېرې چیغې مې ملګرې د مرغو کړې
ډېري اوښکي مې ملګرې د چینو کړې
بې قرآنه مې بل نۀ ؤ غم ګسار
د دۀ زور ؤ چې هر در شو راته لار
دې خبرو د سلطان عالیجاه
نوې- نوې جذبه راکړه نوې ساه
مازیګر شو آواز وشو الصلٰوة
هغه لمونځ چې مومن پاک کړي له جهات
انتها د عاشق څۀ وي؟ سوے زړه
ده پسې مې وتړه نیت د لمانځه
راز د هغه اودریدو هغه سجدو
د هر چا په مخ کښې نۀ دے د وایو

# د شهنشاه بابر "خلد اشياني" پر مزار

راشه د مغرب ساز دے پرېوتے له نغمو
نشته په پړدو کښې يې هيڅ بې له اسويلو
زر ځله سنګار کړو زمانې زاړه بتان
ما حرم پرې نۀ شو چې ډېر پوخ ؤ په ارو*
با د عثمانيانو د ملت جنډې شوې پورته
ستا په کور څۀ وواېم څۀ غم راپرېوتو
دا خوش نصيبي وه چې ستا خاورې دلته راغلې
دا مځکه جدا ده له جادو د فيرنګو
زر ځله کابل په ختهه ښۀ دے له ډيلي نه
هغه بوډۍ ناوې ده د سل زره ځلمو

خپلې سرې- سرې اوښکي ساتم سترګو کښې دننه
زۀ فقير دا يو خدايي دولت لرم د سرو
ګرچه د حرم پير وظيفه د لا ا لهٰ کړي
څۀ شو ها نظر چې له فولادو به وتو

---

* اره معنې بنياد.

# د غزني سفر او د حکیم سنایي رح مزار

د شهید سلطان له مهره له نظر
شپه او ورځ مي شپه او ورځ ده د اختر
د مشرق نکته شناس هندي فقیر
او مېلمه د شهنشاه کیوان سریر
تر هغې چې له شاهي ښاره روان شوم
په سفر کښې د حضرت نه زیات شادان شوم
ټوکولي یې لاله وو په بېدیا
زړهٔ مي پرانست هغه باد ته چې پخوا
آه غزني هغه د علم و فن ورشو
مرغزار د ښهٔ مردانو پخوانو
ښکلې ناوې د محمود د اقتدار
چې طوسي حکیم کوو ورته سنګار
پروت یې خاورو کښې حکیمِ غزنوي
په نغمو یې د ځوانانو زړهٔ قوي
پوه په پټو او خاوند د مرتبو
چې په ذکر یې رومي رح نهٔ مړېدو
زهٔ "خرګند" نهٔ، دې د "پټ" نهٔ په سرور دے
او د دواړو سرمایه ذوقِ حضور دے
د ایمان له مخه ده لر کړو نقاب
او زما فکر تقدیر کړو بې حجاب

دواړه اخلو له قرآنه یو سبق
دے د حق بیان کړي زۀ د مردِ حق

تیر مې کړو په قبر درود و سوز و سوے
چې مې وکتلو یو سوړ اسویلے
ما وې اې چې ته پټ راز وینې د ځان
تاته ښکاري دا جهان هغه جهان
زما عصر ورک مین په آب و ګل دے
اهلِ حقو ته پېښ شوې لوے مشکل دے
فیرنګیانو په مومن وکړې کانې
په حرم کښې را څرګندې شوې فتنې
چې نظر ادب له زړۀ وا نۀ خستو
سترګې یوړې د فیرنګ مستو جلوو
اې په پټو پوهه! اې امام د عارفانو
ستا په فیض پاخه شو خام د عارفانو
را څرګند کړه پټ د غیبو په پردو
ګوندي لاړې اوبۀ راشي تر چینو

# د حکیم سنايي رح روح د جنت نه ځواب ورکوي

پوه په راز د خیر و شر کړم فقیری
زۀ ژوندے صاحب نظر کړم فقیری
فقیري چې واخلي لاره د مولا
د خودۍ په رڼا ووینې الله
لټوي دننه ځان کښې لا ا لٰه
وایي ان د توري لاندې لا ا لٰه
د روح غم کړه، نۀ د تن لکه زنان
د ځوانانو غوندې غورزۀ پر میدان

سلطنت د خاورو ختو د دنیا
یوه خاځکې د زړۀ وینه یې بها
په دنیا کښې مومنان چې ځان ته وایي
په خوراک او په خوب نه، په مینه پایي
دا مستي او مینه پوهه یې، له چا ده؟
پلوشه یوه د لمر د مصطفٰے ص ده
ته ژوندے یې څو دا سوز دي ځان ساتي
دغه مینه به دي تا ایمان ساتي

د دې خاورې له رازونو ځان خبر کړه
په اکسیر د خپل زړګي باندې يې زر کړه
زړهٔ د دین نه سرچشمه د هر طاقت شي
دین موندے په معجزاتو د صحبت شي
کتابونو کښې دین چرته؟ بې خبره!
کتابونو کښې حکمت، دین له نظره
بوعلي پوهیږي ښهٔ په آب و ګِل
بې خبره دے له درده او له دل
نېش او نوش پرېږده د بوعلي سینا
له زړهٔ مندو لټوه د زړهٔ دوا
مصطفٰے[ص] دے لوے دریاب لوړې څپې
پاڅه! وتړه دا سیند دي په ولې
تر مودو يې په ساحل و ګرځېدلې
تا څپېرې د څپو و نهٔ خوړلې
یو لحظه ځان دې دریاب ته ورګزار کړه
مړ بدن دي له ورک روحه په کنار کړه
بې له حق په بله لار نهٔ شې پویانه
نه له عام رحمت مایوس شې مسلمانه!
پرده پرېږده را ښکاره دي کړه خپل ځان
چې دي مځکه له سجدو شي په لړزان
ما بېتابه فطرت ولید یو زمان
د اسباب د هنګامې روحِ روان

ؤ نظر يې په ښهٔ بد د دې دنيا
او تر سترګو يې دي واړه پټ پنا
لاس يې ؤ خاورو اوبو سره اخته
دغه يو ځاے ؤ هغه ريزه- ريزه
ما وې څوک تلاش کوې؟ څهٔ لټوې؟
په دې خاورو او اوبو کښې څهٔ کوې؟
وې د پاک مولا په حکم په کرم
له دې خاورو جوړوم نوے آدم
موټے خاوره يې سل رنګه ازمايله
تاودوله، کموله، زياتوله
آخر آب و رنګ يې ورکړو د لاله
او په زړهٔ کښې يې ورته کښېښو د لا ا لهٔ
صبر وکړه وبه وينې بل بهار
زيات رنګين له زوړ سپرلي او خوشګوار
هر ساعت دا تدبيرونه کړي رقيب
چې ته خپل سپرلي نه وانخلې نصيب
ځي زما د ګل په شانګو کښې نظر
څو غوټۍ مي دي ليدلې په سفر
په بېديا په غرونو غاړو په ميرو
پاتې کيږي نهٔ لاله له ټوکېدو
د تلاش خاوند، مالک د مرتبې
اوريدے شي دمريي پټې نغمې

# د سلطان محمودؒ پر مزار

له زړګي بې واکه خيزي واويلا
هغه شهر آه! چې دلته ؤ پخوا
هغه ملګ او محلونه ويرانې دي
هغه شان و شوکت او رعب افسانې دي

يو ګنبد چې په طواف کښې يې آسمان دے
دغه قبر د محمود غازي سلطان دے
هغه شاه چې به ماشوم پاکه کړه خوله
نو اول به يې نامه دا اخسته
په دنيا د دهٔ جنډه د خدای نشان[1]
پر مزار يې فرشتې وايي قرآن
د خيالونو شوخۍ يووړمه له ځانه
خبر نهٔ شومه له ځانه له جهانه
له سينې مې را څرګند شو هغه لمر
چې تول پټ يې له رڼا شي را بهر
چې جلال ته يې کړي رکوع مهر ګردون
پلوشې يې را څرګند کاندي پرون

---

(۱) د دې بيت ژباړه نه ده شوې:

زير ګردون آيت الله رائتش :: قدسيان قرآن سدا برتربتش

شوم آزاد د سترګو غوړو له دنیا
چې مي ولید نن، پرون غوندي صفا
غزني ښار جنت د رنګ او د بویونو
زمزمې يې د چینو په محلونو
محلونه لوړ اوچت قطار- قطار
آسمانونه يې له څوکو همکنار
په مجلس کښې مي طوسي ولید موجود
او په جنګ کښې مي لښکرې د محمود
روح مي سیل کړو د رازونو د دنیا
چې را ویښ کړم د یو مست ملنګ وینا
هغه ټول سوز و سرود د تمنا ؤ
په دنیا لکه د مستو بې پروا ؤ
ویې کړلې څو د اوښکو مرغلرې
او له خدای سره يې وکړې څو خبرې

زۀ چې نۀ وم بې خبره له دې راز
څکه وسوم په ګرمۍ د دې آواز

# د لېوني مناجات د غزني په کنډرو کښې

لاله يو پلوشه غواړي آفتاب
وي په ځانګه کښې په څومره پېچ و تاب
چې سپرلے يې را ښکاره کړي وايي بس
په وينا دي تا ژوندون دے يو نفس
دواړه راغلو يو او بل ته ساز د برګ
خبر نۀ يمه چې ژوند ښۀ دے که مرګ ؟
مسلسل جنګ دے د تريخ او خوږ ژوندون
د نن رنګ روڼ کړے وينې د پرون
له دې مکره او له دامه الامان
له سحر او له مانبامه الامان
اې مولا! د روح او جسم مصوره!
تا ته کړي دا لېونے يوه خبره
فتنې وينو مونږ په دې ديرِ کهن
فتنې وينو په خلوت په انجمن
دا عالم ستا له تقديره دے پيدا
او که نۀ څوک بل خالق لري جدا
په ظاهر صلح صفا په باطن جنګ
د زړۀ منو ښيښه سل ټوټې په سنګ

رښتیا مینه او اخلاص نهٔ دي باقي
پیالۍ ماته شوه او لاړلو ساقي
ته نظر لرې په سور مخ د فیرنګ
نو آدم که هم د دوے سحر بدرنګ
له چا اخلي ربط او ضبط دا کاینات؟
اې شهیده! په ادا د لات، منات
مردِ حق هغه بنده روشن نفس
ستا نائب په دنیا دغه یو ؤ بس
اوس قیدي د مال او ښځي او اولاد
که کېدے شي دا بتان یې کړه برباد
دا مومن اوس عبادت کوي د چا؟
چې یوه هنګامه نهٔ لري په خوا
سینه بې له سوز و سوي او روح بې جوشه
اسرافیل دے او شپېلۍ یې ده خاموشه
نهٔ یې زړهٔ محکم مضبوط دے نهٔ یې ځان
نه یې مال د قبلېدو دے پر جهان
د ژوندون په کشمکش کښې بې ثبات
په لستوني کښې یې پټ لات و منات
د کافرو په شان مرګ ګني هلاک
اور یې دغسي ارزان دے لکه خاک
له دې خاورو یې لمبه کړه را پیدا
هغه زوړ تلاش او مینه ورکړه بیا

ورته بیا زړې جذبې ورکړه د زړه
لېونتوب ورکړه څپې ورکړه د زړه
په وجود باندې یې کلک د مشرق ځان کړه
د صبا سحر یې پورته له ګرېوان کړه
کړه ټوټې بحرِ احمر یې په همسا
کوهِ قاف یې کړه له رعبه په لړزا

# قندهار او د خرقې مبارکي زیارت

قندهار ښکلے وطن رنګین سواد
د هر ځاے خاوره یې خاوره د مراد
هواګانې خوشبویانې او چینې
ځلنده لکه پاره لکه آینې
له لاله ؤ ډک د غرونو خلوتونه
وو اورونه په اورونو یخ دننه
د دې ښار کوڅې زما د یار کوڅې
اې ساروانه! تړه دې خوا کجاوې
بیا به ستا یم په نغمو یاران د نجد
چې ناقه هم په مستۍ شي او په وجد

# غزل

را روان شوم میکدې نه بې ګردشه د صهبا مست
په منزل کښې د "لا" پروت یم په نشه د "الا الله" مست

په دې پوه یم چې نظر یې د هر کس لوښي ته ګوري
زهٔ زما نیازبین ساقي کړم په نازونو په ادا مست

دغه وخت دے که پرانېځم مي خانه دورميؒ بېرته
د حرم بزرګان وینم په میدان د کلیسا مست

دغه کار د حکیم نهٔ دے کړه لمن د کلیمؑ ټینګه
نهٔ سل کسه د ساحل مست او نهٔ یو کس د دریا مست

زړهٔ مي یووړلو چمن ته د ګلشن هوا کړو مړاوے
مري په باغ اوپه چمن کښې دالاله وي په صحرامست

په خوږو- خوږو نغمو یې د حرم رازونه اووې
کافرګے مي پرون ولید په وادي کښې د بطحا مست

دا سینا ده که فاران دے خدایه! دا لا کوم مقام دے؟
هر بخرے مي د خاورې یو نظر په تماشا مست

# د خرقې شریفې زیارت

ما خرقه د "**برزخ لا یبغیان**"[۱]
په نکته کښې ولیده د "**خرقتان**"ج
د دۀ دین د دۀ آئین تفسیر د هرڅه
آ تندي باندې یې لیک تقدیر د هرڅه
عقل شو د دۀ نه صاحبِ اسرار
ورکړه ده مینې ته تیغِ جوهر دار
دے د شوق د کاروانونو سر منزل
موږ د خاورو یو څو موټې او دے دل
دې د دۀ څرګندېدل زموږ اسرا[۲]
د دۀ زړۀ زموږه مسجدِ اقصیٰ
له قمیصه یې را خوره شوله خوشبو
موږ ته یې راکړله نعره د الله هو
څۀ مې وکړل په زړۀ شوق بې پروا
دې شرابو څه- څۀ وکړل په مینا
د سینې دننه مست په ګډا سر شي
چې د سترګو د نظر په لار بهر شي

---

(۱) برزخ لا یبغیان، (قرآن)

(۲) تلمیح د آیتِ قرآني.

وې يې زۀ يم جبريل نور د الله
چرې دے داسې ليدلے نۀ ؤ ما
ژاړي خاندي د روميؒ په شعر دے
خدايه څوک دے دا هوښيار دا ليونے
په حرم کښې يې د مستۍ خبرې کړې
د شرابو د ساقي د پيمانې
ما وې بس کړه دا بېباکه ګفتګو
چپ شه دا ځاے دے د غلي کښېنستو
ما را لوے کړلې په خپلو وينو سرو
کړې آشنا مې د سحر له اسويلو
ځان په دې نکته خبر کړه نکته جو
مينه غواړي په خپل ځان باندې قابو
وې چې عقل، هوښياري آزار د زړۀ دے
او مستي ځان هېرول روزګار د زړۀ دے
يو څو چيغې يې کړې او پرېوت په سجده
بيا دے نۀ ؤ د آواز لمبه يې وه

# د احمد شاه بابا مؤسس ملت افغانیه پر مزار

د هغې روشن ضمیر باچا تربت
چې له زړهٔ یې یو ملت شو را اوچت
سپین ګنبد یې خپل حرم ګڼه آسمان
لمر، سپوږمۍ یې له فروغه دي روښان
د فاتح ج غوندي امیر دے صف شکن
لره حکم په اقلیم هم د سخن
د تلاش په خوند یې پورته کړو ملت
فرشتې یې درود وایي پر تربت
په آزاد لاس د سخي په فراغ زړه
ډېر ملکونه یې اخسته او پرېښوده
هم د دې تورزن عارف او دی دانا
وکړه ما وته پاک روح یې دا وینا
وې خبر یم په مقام باندې د تا
ستا نغمه ده دې خاورینو ته کېمیا
کاڼو خښتو خپل کړو زړهٔ ستا له وینا
په خبرو دي که روڼ د زړهٔ سینا
زما خوا کښې اې آشنا د یار د لار
لږ خو کښېنه چې ورمه لرې د یار

ښه دې هغه چې خودي يې کړه آئينه
دې آينه کښې يې دنيا وپېژنده
دا آسمان زوړ شو دا مځکه شوه زړه
مياشت د غر کم نظرۍ کړله ړنده
اوس په کار ده يوه ګرمه هنګامه
چې زوړ رنګ او تللے رنګ شي را ښکاره
اسرافيل شي ورته يو مومن بنده
تار په تار کړي دا دنيا خوره وره
اې چې خداى درکړے زړۀ دے او نظر
ته د ملک د دين له رازۀ يې خبر
رښتيا ووايه فرزند ته د نادر
په ظاهر ته خپل باطن کړه دا ظاهر

# د اسلام باچا اعله حضرت ظاهر شاه ته خطاب
## ((ايده الله تعاله بنصره))

په بدن دي تا پوره شاهي قبا ده
د تا سيورے زموږ خاورې ته کيميا ده
باچهي ستا په وجود ځان سنجوي
ملک و مال د تا جلال حصاروي

اې د فتح و ظفر پنګې ستا له ذاته
دبدبه د احمدشاه د تخت شوه زیاته
سینه بې دي تا له مینې ویرانه شه
له زړګي او له امیده دېوانه شه
دا ابدار خنجر چې دے د تا تر ملا
نیمه شپه یې سحر کیږي په رڼا
زهٔ پوهیږمه خنجر دے د نادر
زهٔ څهٔ ووایم باطن یې دے ظاهر
دا څو ټکي دي زما که قبلوی
یو فقیر وایي رازونه د شاهی
اې! چې ستا نظر تېره دے له شاهینه
دغه خدای درکړے ملک دي لږ ووینه
دا چې وینو دا د چا د تقدیر کار دے؟
هغه شے څهٔ دے؟ چې نشته او په چار دے
ورځ او شپه آئینه زموږه د تدبیر ده
ورځ او شپه آئینه زموږه د تقدیر ده
درته وایم اې ځلمیه! جفاکشه!
صبا څهٔ دے؟ د پرون او نن د نسه
کوم خوش بخته چې د نن مالک کړو ځان
د هغه نه چورلندے چورلي آسمان
د جهان ښایست د دهٔ د مخ اوبه
نن له ده، پرون له ده، صبا له ده

مردِ حق د شپې او ورځې سرمایه
دے د خپل تقدیر پخپله ستاره
نظر من بنده دے پیر د امتونو
په نظر کښې يې تقدیر د امتونو
تر تيرې توري تيره د دهٔ نظر دے
موږه ټول ښکار يو او دے رانه بهر دے
له پوخ فکره يې رپيږي حادثې
لا په خټه کښې پرتې دي زمانې
لکه پلار، اهلِ هنره خوښوه
په رښتیا صاحب نظره خوښوه
د هغه غوندي هوشیار او بیدار اوسه
سخت کوششه، باهمته، کرار اوسه
کراري پيژنې څنګه ده څهٔ وي؟
يو مقام د مقامونو د علي رض
امتونه په دې دهر بې ثبات
تيروې بې کرارۍ نهٔ شي حیات
ګوره څهٔ تير شو په سر د عثمانیانو
وينې زړونه په فريب د فيرنګيانو
چې يې وه د کراري نه نصيبه
بيا يې پورته په دنیا کړله جنډه

هندي ولې میدان پرېښود په خوارۍ
په همت کښې نهٔ ؤ بوے د کرارۍ

شولې داسې خاورې یخې یې اومړې
چې تاودې نهٔ کړلې بیا زما نارې
ستا په وینه کښې پرته ده نادري
سروري او دلبري او قاهري
اې د هر ځوان او بوډا د سترګو توره!
د هاشم او د محمود کار ته وګوره
هم هغه ځوان* چې پر غر او په بیدیا
حق د دهٔ له توري پورته کړه صدا
په شپو- شپو په ورځو- ورځو تړپېدے شي
یو دنیا نوې پیدا کواے شي
سل جهانه را مونده شي په قرآن
آیتونو کښې یې وسوځوه ځان
بیا پښتون ته د دې سوي ورکړه اثر
مازیګر ته یې ور وبخښه سحر
یو ملت ورک په خوره دنیا ښکارېږي
په تندي کښې یې څهٔ بل څهٔ را ښکارېږي
چې په زړهٔ کښې مې ؤ درد او غم او سوے
له قسمته د دهٔ زهٔ خبر کړم خداې
کاروبار مې یې تللے دے کره
پټ قسمت مې یې لیدلے دے ښکاره
دے ژوندے په الله هو، مردِ میدان
او په ښو کښې یو څلور مخه جهان

* اعلیٰ حضرت شاه ولي خان

چې بې خدايه ځوک په بل زړۀ نۀ ترې
په ښيښه باندې کلک کاڼي ماتوي
نه ځايېږي پر جهان د څۀ او څو
دا سيند نۀ دے تهمتي د کنارو

چې له خپل مخه راپورته کړي حجاب
دے حساب دے او ثواب دے او عذاب
سر سامان زموږ کتاب دے او حکمت
په دې دوو طاقتو ټينګ اوسي ملت
او د ذوق او شوق دنيا را خپلوي
بيا د لاندې باندې ملک قبضه کوي
دغه دواړه نوازش د ذوالجلال(ج)
يو جمال د مومنانو بل جلال
حکمت نۀ دے فيرنګي سره پيوند
اصل يې څۀ دے د ايجاد مزه او خوند
که خيال وکړې مسلمان کره پيدا دے
دا پرېوتے ګوهر اصل کښې زما دے
چې عربو پرې وزرې کړې خورې
د حکمت علم يې کښېښودے ارې
تخم دې صحرا نشينو وکرلو
او حاصل ترې فيرنګيانو واخستلو
دا زموږه د اسلافو شاپېرۍ ده
بيا يې خپله کړه که اوس درنه پردۍ ده

خو تهذیبِ لادیني نه ځه پر ځنګ
د دې وي د اهلِ حقه سره جنګ
رنګارنګ فتنې خورې کړي دا شیطان
په حرم ورننه باسي بیا بتان
په جادو د دې شي سترګې نابینا
روح ترې مري له ډېري تندې په ژړا
وي له زړۀ د بېتابۍ لذت او خوند
بلکې پرې کړي د بدن او زړۀ پیوند
زوړ غلګۍ تل په ځرګنده کوي غلا
لاله ژاړي چې تور داغ ځۀ شو زما؟
حق دې برخه کړي د تا ذوقِ حضور
بیا به ووایم ویلي په زبور

"مړه کېدل ژوندي کېدل دا د نفس
دي یو ځو اعبارات واړه او بس
کوڼ د نوا په معنٰۍ نۀ پوهیږي
په خوند د صوت و صدا نۀ پوهیږي
ړوند مست خوشحاله وي په چنګ او سرود
خوشي رنګونو ته د مړي په دود
روح وي د حق سره زنده پائنده
کني نو ده ته مړ هغه ته زنده
چې "حي لا یموت" دے هغه حق دے
ژوندون د حق سره ژوندون مطلق دے

چې ژوند بې حقه تېروي مردار دے
په دې ژوندي سړي ماتم په کار دے"
د قرآن مېوه خوره غواړې که ثبات
چې يې وينم زړهٔ کښې زهٔ آبِ حيات
راکوي راته پيغام د لا تَخَفْ
رسوي مي تر مقام د لا تَخَفْ
د امير باچا قوت دے لا اله
د فقير شان او هيبت دے لا اله
چې مو دواړه توري وي لا او الا
پرې مو نهٔ شوې غلامې د ماسيوا
په شغلو مي لمرخاته شولو رڼا
خوش قسمته دے په عصر کښې زما
له دې تب و تابه واخله خپل تقدير
بيا به را نهٔ شي زما غوندې فقير
ما پېيلې مرغلرې د قرآن
او د صبغة الله راز مي کړو بيان
مسلمان ته مي بخښلے دے يو غم
وچې خانګې ته مي بيا ورکړے نم
زما مينه د ژوندون لري پيغام
په شرابو مي دے روڼ د عقل جام
داسې عقل زياتوونکې نقطې چا وې؟
مسلمان ته سوې- سوې مصرعې چا وې؟

ژړېدم لکه شپېلۍ پر سمه غر
چې آخر له خپل مقامه شوم خبر
چې ستي شومه د شوق سبق مي زده کړو
او مړ شوے اور مي بیا بله لمبه کړو
اسویلي یې سوي راکړو د سحر
یو واښه ته یې قوت ورکړو د غر
په سینه کښې مي دے نور د لا ا لهٔ
په شرابو کښې سرور د لا ا لهٔ
له دې فیضه مي خیال پورته ګرځوي
او چینه مي کنارې نهٔ قبلوي
له دې میو نه مي واخله څو پیالې
چې په شان د ویستي تورې پړق وهې

پاے

# ارمغانِ حجاز

## ژباړه

امير حمزه شنواره

# فهرست


| شمېر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | د حق په حضور کښې | ۸۹۵ |
| ۲. | د رسالت په حضور کښې | ۹۰۹ |
| ۳. | د ملت په حضور کښې | ۹۴۳ |
| ۴. | خودي | ۹۴۸ |
| ۵. | اناالحق | ۹۴۹ |
| ۶. | صوفي او ملا | ۹۵۱ |
| ۷. | رومي رح | ۹۵۳ |
| ۸. | د فاروق رض پیغام | ۹۵۵ |
| ۹. | د عرب شاعران | ۹۵۸ |
| ۱۰. | اې د صحرا زویه! | ۹۶۱ |
| ۱۱. | څۀ خبر یې ته.....! | ۹۶۲ |
| ۱۲. | خلافت او بادشاهي | ۹۶۴ |
| ۱۳. | عثماني ترك | ۹۶۶ |
| ۱۴. | د ملت لوښې | ۹۶۷ |
| ۱۵. | نوې زمانه | ۹۶۹ |
| ۱۶. | برهمن | ۹۷۰ |
| ۱۷. | تعلیم | ۹۷۱ |
| ۱۸. | د رزق لټون | ۹۷۵ |
| ۱۹. | نهنګ خپل بچې ته | ۹۷۶ |
| ۲۰. | خاتمه | ۹۷۶ |
| ۲۱. | د عالم انساني په حضور کښې | ۹۷۹ |
| ۲۲. | تمهید | ۹۸۱ |

۲۳. زره ۹۸۹
۲۴. خودي ۹۹۲
۲۵. جبر او اختیار ۹۹۳
۲۶. مرګ ۹۹۴
۲۷. ووایه ابلیس ته ۹۹۵
۲۸. خاکي ابلیس او ناري ابلیس ۹۹۶
۲۹. د لاري ملګرو ته ۹۹۹
۳۰. د لاري ملګرو ته ۱۰۰۰

# د حق په حضور کښې

ښه هغه چې بې توښې مسافرت کا
کم قبول چې د یارانو نصیحت کا

زړۀ روښانه د هغه په سوي آه کړه
ورک د سلو کالو غم په یو ساعت کا

# د حق په حضور کښې

(۱)

یو یې ورو زموږ بې دلو زړونه لاړو
د لمبې غوندي مړۀ سوي خونه لاړو

راشه یو لحظه په عامو کښې ورګډ شه
چې خاصانو کړو خالي جامونه لاړو

چې خبري مي د نشت او شته کېدلې
ما له شرمه شونډې کمي پرانستلې

د ژوندو سرو سجده که پېژندے شي
له سجدې به مي انداز د کار اخلې

زما زړۀ په کشالو د جهان بند دے
د هغه نظر پروینو نه بلند دے

په دوزخ کښې یوه ورانه ګوشه ورکړه
دا کافر د حد نه زیات خلوت پسند دے

دا ځهٔ شور دے چې راځي له آب و ګله
عشق ته پېښ شول د یو زړهٔ نه سل مشکله

قرارے د یو نفس په ما حرام دے
رحم بویه سریکار مي دے له دله

دا جهان له ځانه چا دے را ویستلې
بیا له چا جلوې یې حسن ځلولې

ما ته وایې چې ځان ژغوره له شیطانه
راته وایه چې هغه دے چا روزلے

(۲)

دا زما آزاد زړګے په پېچ و تاب دے
چې په برخه مي عتاب دے که خطاب دے؟

نه شم زړهٔ د ابلیس هم آزارولے
په دې یو نیمه ګناه کښې مي ثواب دے

اُم عمرو! وار دے واړوو په بله
تا د نبیٔ ډېې سرې کړل محروم څله؟

دا که رسم د دوستیٔ وي نو دا جام او
صراحي دے د حرم په دېوال وله

"ځان لیدونکي" په خپل زړهٔ کښې بندیوان دي
همه درد دي خو ناخوښۍ په درمان دي

ته له ما څهٔ سجده غواړې چې شاهان خو
له غه کلیو خراج نهٔ غواړي چې وران دي

ځم په داسې لار چې نهٔ لري منزل
کرم تخم چې یې هیڅ نشته حاصل

له غمونو مې ډار نهٔ کیږي خو ګوره
هغه غم نه چې د زړهٔ نه وي قابل

زما مے د دې تنګجامو نه ساته
دا پاخه شراب د خامو نه ساته

لري شپې د اور سپرغۍ دي له نیستانه
د خاصانو شے د عامو نه ساته

په طلب کښې نشته ستا دا ګړاوونه
نهٔ دا داغ او نهٔ دا سوے او نهٔ دردونه

هم په دې له لامکان وتښتېدمه
هلته نشته دا د نیمي شپې آهونه

هنګامه ورکړه زما نه دې جهان ته
نوے رنګ ورکړه دې مځکې دې آسمان ته

بل آدم زما د خاورو نه پيدا کړه
مرګے ورکړه دې غلام د سود او زيان ته

جهان لا ډېر د تيرو دے په آفتاب
هو صواب يې سراسر دے نا صواب

چې دې خاورې ته ترڅو به ورکوې ته
د آدم د پاکې وينې رنګ و آب

زۀ غلام يمه غلام ستا د رضا يم
ځان به بې ستا له ښودلې لار نه بيا يم

ولې ته که ما ناپوهه ته اووايې
چې ته خر ته تازي اووايه نۀ وايم

(۳)

په سينه کښې زړۀ لرم خو بې سرور دے
لپه خاورو کښې مې سوے شته دے نۀ نور دے

را نه وايې خله، چې بار دے پر ما باندي
دا ثواب زما د مونځ چې بې حضور دے

څۀ قصه به کړم د دین او د وطن
چې په جار کولے نۀ شم دا سخن

چې خفه نۀ شې هم ستا د بې مهرۍ نه
درمسال مې پخوانے کړو بیا مسکن

نن په بند کښې د فرنګ چې مسلمان دے
د خپل زړۀ تر لاس کولو یې کار ګران دے

چې د غیر په در وي ټیټ هغه تندي کښې
سجود چرته د بوذر رض او د سلمان رض دے

زۀ خواهش د هغه، نۀ د دې جهان کړم
دا مې بس ده چې دے پوهے په راز د ځان کړم

یو سجده را چې له سوز او له مستۍ یې
په ګدا باندې سر مځکه او آسمان کړم

وایه څۀ غواړې له داسې تن آسایه
چې کوم باد راغلو اوچت یې کړم له ځایه

نن سحر مې په سجده کښې "جاوید" اولید
په سحر یې کړه مابنام زما زیبا یه

(۴)

هغه قام ته درنه غوارم فراخي
چې یې سپور او بې یقینه دے فقهي

ما دا خومره ناشونې اولېدلې
دریغه نهٔ واے زیرېدلے، الٰهي!

ستا نظر عتاب آلود به وي ترڅو
دا بتان حاضر موجود به وي ترڅو

د خلیل اولاد په دغه بتخانه کښې
نمک خورده د نمرود به وي ترڅو

هغه تېر سرور به بیا راځي که نه؟
چې نسیم به د بطحا راځي که نه؟

بس تر سره شو ژوندون د دې فقیر
چې به بل د راز دانا راځي که نه؟

که چرې هغه دانا راځي د راز
ورته اورسوه دا سوے آواز

چې ضمیر د امتونو پاکوونکے
یا کلیم وي یا حکیم وي نے نواز

ټول دولت مې يو زړګے دے درد آشنا
په قسمت مې يو فرياد دے نارسا

رېدي ګل ولاړ زما په خلي ښۀ دے
چې هم چپ دے هم د وينو په ژړا

(۵)

هيڅ خبر نۀ دے د چا د زړۀ په ورڼه
نه سينه کښې د غمونو په پالنه

ما خپل روح په هغه خاورو کښې "پو" کړۀ
چې يې نۀ زده بې خوړنې بې مردنه

زړۀ زما دے له کوګله تبنتېدلے
شته ظاهر خو د معنو نه دے نتلے

ښه له ما دے د درګاه هغه رټلے
چې يې حق ليدلے، ما دے اورېدلے

جبرائيل دے څۀ خبر د ها و هو نه
بيا خبر څۀ دے مقام د جستجو نه

کړه تپوس د خوار بنده نه چې خبر دے
د خوږو او د ترخو د آرزو نه

شپه د دغه انجمن مي بنايسته کړه
لکه مهه مي په ګردش ويلي تنه کړه

قصه ستا د تغافل او بې نيازۍ وه
خو له مينځه نه يې ما "سپکه پښه" کړه

داسې دور به فلک نۀ وي ليدلے
چې يې زړۀ د جبرائيل هم وي ربيلے

ښنګه ښکلے دير يې جوړ کړو چې مومن د
عبادت ځنې کافر دے زېږېدلے

(٦)

کړه عطا سوز د خسرو شور د رومي رح
راکړه صدق او اخلاص د سنائي رح

بندګي کښې دے دا هسې يم خوښ شوے
وا به نۀ خلم که را اوبخښې خدايي

(۷)

فاقه مست او کند اغوستې مسلمان دې
جبرائیل یې له کارونو پرېشان دې

راشه نقش د یو بل ملت بنا کړه
دا خو پېټې پر اورو د دې جهان دې

بل ملت چې کار ته مخه کاندي کار کا
بل ملت چې له تراخو خوارِه اظهار کا

چې په دې یوه وینا نۀ راضي کیږي
دوه عالمه پاس په خپلې اوږه بار کا

هغه قام چې لاالٰه ورد د زبان کا
نیمي شپې نه را پیدا سحر خندان کا

لمر وي پوهه په منزل د دۀ د لاري
شګې رېګ تړې نه جارو د کهکشان کا

(۸)

دې په واک د څو نامردو ستا جهان
دي کسان یې د ناکسو بندیوان

هنرمند یې په کارګو کښې خوري ځانونه
چې یې عېش په غوښو اوکړي ښو ګنجیان

پیر ته داسې یو مرید فاقه مست اووې
چې لوے خدای زما له حاله خبر څهٔ دے

د شارګ نه هم نزدې دے هغه مونږ ته
خو د ګېډې نه ډېر مونږ ته نزدې نهٔ دے

(۹)

په بل ډول دا وطن د هندوستان دے
په بل طور یې هم مځکه هم آسمان دے

ته پنځه وخته لمونځ مه غواړه له ما نه
د مریو د صف کېدلو کار خو ګران دے

چې محکوم شو خود فروشه مسلمان دے
په جادو کښې ګیر د ګوش او د چشمان دے

پلسې مو سستې محکومۍ کړلې دا هسې
یو دروند پېټے راته دین، آئین، قرآن دے

(۱۰)

لږه وکړه اندازۀ د سود او زیان
د جنت غوندي همېش کړه دا جهان

ګورې نۀ چې مونږ له خاورې زېږېدلیو
ځومره ښکلې ښایسته کړ دا خاکدان

ته خو پوه یې چې ژوندون جاودان څۀ دے
خو پوه نۀ یې چې مرګِ ناګهان څۀ دے

ستا اوقات به پرې یوه لحظه کم نۀ شي
که زۀ هم شم جاودانه، نقصان څۀ دے؟

(۱۱)

آخیر عمر چې د دې بوډا جهان شي
پټ تقدیر به هم چې کوم یو وي عیان شي

ما چې خپل ښکلي بادار ع ته رسوا نۀ کړې
د هغوے نه دي حساب زما پنهان شي

تن ضعیف خو روح زما دے په رفتار
هغه ښار ته چې بطحا يې ده په لار

ته هم دلته د خاصانو سره عېش کړه
زۀ روان يم تر منزل د ښکلي يار

# د رسالت په حضور کښې

نازک له عرشه ځاے د ادب لاندې تر فلک شته
ساه ورکے شي جنید رض او بایزید رض چې دلته راشي

((عزت بخاري))

# د رسالت په حضور کښې

(۱)

"اې خېمه کښې ناسته له خېمې نه شه بهر
پورته کاروانيان شو او را مخکښې شو رهبر"[۱]

عقل کجاوه په مخکښې نۀ بوزي عاجز شو
اوس مي قيزې خپلې کړې د زړۀ په لاس کښې ور

ما په نظرونو کښې ساته جوهر د زړه
سومه يشېدم پړقېدم لر و بر د زړه

اوتښتېدم زۀ د کلي ښار له هواګانو
پرا مي نستو باد د باديې ته ور د زړه

خدای خبر د چا جلوې شهيد کړلو دا خوار
نه مي شته د زړۀ نصيب کښې يو لحظه قرار

بو مي تلو صحرا ته هلته لا زياتي غمژن شو
لاړو د چينې په خوا کښې اوژړېدو زار

---

(۱) دا د منو چهري شعر دے

مه کوه تپوس د جلوه مستو د کاروان
لاس يې دے اخستے له اسبابه د جهان

زړۀ يې د جرس د آوازونو هسې شور کړي
ګويا کښې چې دي د نسيم چې نيستان!

ما په بوډا ځان د يثرب لاره وه نيولې
مستې نغمې وايم د مزې عاشقانه

ښنګه چې مرغان د باديې وختي مابنام
الوزي د ونو سر کښې ګوري آشيانه

(۲)

عام يې ګناهونه کړو د ميني مستۍ عام
کړو يې هر دليل د پختګانو راته خام

زۀ په حجازي آهنګ کښې خپلې نغمې وايم
"هغه چې وړومبۍ قطره يې ګډه کړه په جام"

څۀ تپوس کوې له مقاماتو د نوا
کم خلګ خبر دي چې څۀ وايمه له چا؟

خپل اسباب مي خور کړلو په دې خوره بېديا کښې
ځان ته چې خلوت کښې خپله يم نغمه سرا

(۳)

اوښې ته مي وې سحر چې رو رو قدم واخله
سور دي خوار خسته دے او کمزورے او بوډا

داسې مستانه قدم یې واخست ته به وایې
چا ورته ریښم دي غوړولي په صحرا

پرې یې ږده مهار ساروانه! بې مهاره ښۀ ده
دا هم په زړګي زما او تا غوندي بینا ده

زۀ یې د قدم د دې څپو نه معلوممه
دا لکه زما د زړۀ جادو کښې مبتلا ده

توري سترګي یې ډکي دي د اوښکو له قطرو
زړۀ مي سوزوي د نیمې شپې په اسویلو

هغه سرۀ شراب چې زما زړۀ یې سره لمبه کړو
دا راووروي د نظرونو له څپو

(۴)

سخ د هغه چولي چې په هغه کښې کاروانونه
اولي کجاوې په مخه وایي درودونه

ږدي سر په سجده چې د هغه په ګرمه شګه
سیزي پرې تندے ځو چې پرې جوړ شي محرابونه

ځنګه ښۀ صحرا ده، هر ماښام یې سحر خند دے
شپه ده پکښې لنډه ورځ اوږده ځومره یې خوند دے

پام کوم قدم پرې باندې رو ږده لارویه!
دلته هر بخرے لکه زۀ، هسې دردمند دے

(۵)

دا عجمي څوک دے؟ چې امیر دے د کاروان
نه لري آهنګ یې د سرود عربي شان

داسې نغمه کاندي چې د هغې له مړښته
یخ تېر به اوپایي انسان په بیابان

ځاے یې د منزل عشق او مستي ده چې په تلۀ دے
ګوره ځومره اور په آب و ګِل کښې د هغه دے

سمه د هر چا د زړۀ سره د دۀ نوا ده
ځکه چې په هر ګوګل کښې ټوک د دۀ له زړۀ دے

(٦)

غم زما چې پټ دے بې وینا نه هم عیان دے
دا که چرې را مې شي پر ژبه، یو داستان دے

لاره تاؤ را تاؤ ده لاروے بې دمه ستړے
مړه یې ده ډیوه په مخکښې شپه ده حق حیران دے

پورته کړل سپرلي ګل لاله په بیابان
ښخې شوې خېمې په صحرا، جمع شو یاران

زۀ چې ځان ته ناست یمه بس خوښ یمه په دې کښې
ښه د ولې غاړه چې راځي له کوهستان

(٧)

کله مې اشعار د عراقي شي پر زبان
کله د جامي وینا مې اور بل کړي په ځان

خو که د عربو له آهنګه خبر نۀ یم
بیا هم زۀ شریک یم په نغمه کښې د ساروان

غم د لاروي سره خوښي کړه ګډه ډېره
چیغه د فریاد یې د جنون نۀ کړه ور تېره

واوره اې ساروانه! په اوږده لاره روان شه
سوے د جدايي مي لا سيوا کړه را برسېره

(۸)

راشه ياره! مونږ چې سره وژاړو زار زار
دواړه يو وژلي يو جلوې د يوۀ يار

راشه چې دوه دوه د زړۀ خبري سره اوکړو
اومښو بيا سترګي په پښو باندې د بادارﷺ

کمه مقرر د حکيمانو شوه بها
کړه يې و نادان ته مستانه جلوه عطا

څومره خوش بختي ده، څنګه ښکلې زندګي ده
کړه يې يو درويش ته دروازۀ د سلطان وا!

دا همه جهان مي دے د تن په لر او بر کښې
شته دے هم هوا د لا مکان زما په سر کښې

زۀ چې کوم ساعت د دغه لوړه بامه تير شوم
پرېوت لکه ګرد چې مي الوت ؤ په وزر کښې

ښکاري دې کشتۍ کښې زمانې جاوداني
خیژي يې له خاورو بې صورته معاني

دلته خوا په خوا دي حکیمان او کلیمان
ځکه چې څوک نۀ وايي ببخي "لن تراني"

(۹)

هغه مسلمان چې دے فقیر خو کجکلاه
ووځي د سینې نه يې هر دم چې سوے آه

ژاړي يې زړګے خو نۀ وي پوے چې ولې ژاړي؟
یا رسول اللهؐ یوه نګاه یوه نګاه!

تاؤ زما په زړۀ کښې دے د تا د سوز له غمه
دا زما نوا خو یو تاثیر دے ستا له دمه

ژاړمه په دې چې په وطن د هندوستان کښې
وه مي نۀ لید داسې بنده ستا چې وي محرمه

شپې لره د هند د غلامانو سحر نشته
لمر دپاره نشته په دې لاره ګذر نشته

وکړه لږ په مونږ باندې نظر چې په مشرق کښې
بل مسلمان داسې بې اسرې او کمتر نشته

څۀ به درته وايم له هغه فقير دردمنده
هغه مسلمان چې دے په خټه ارجمنده

پاک پروردګار د دې سخت جانه ساتندوے شه
ښکته را پريوتے دے له لوے بامه بلنده

حال يې درته زۀ څرنګه ووايم په خولۀ
تا ته خو څرګند زما ظاهر دے هم مې زړۀ

بس دغه روداد يې دے د دوو سوو کالونو
زړۀ لکه کنده د يو قصاب لرمه زۀ

لا خو دا فلک په کاږه ډول په خرام دے
ځکه دا کاروان لا لري لري له مقام دے

حال به د دې قام د بې نظمۍ درته څۀ وايم
ته پخپله وينې دا ملت چې بې امام دے

وينه کښې ګرمي هغه ړومبۍ يې نۀ ښکاريږي
ځکه يې په شړو کښې لاله نۀ زرغونيږي

تش د توري تیکې یې په شاني د کیڅۍ دے
طاخ کښې د وران کور یې کتاب ایښې دے زړېږي

خپل زړهٔ چې هغه په رنـګ او بوے کښې ګرفتار کړ
تش د ذوق او شوق نه د آرزو یې په یو وار کړ

څکه پېژندے نهٔ شي اوس رېغ د شابازانو
غوږ چې اموخته یې خپل د ماشي په بنګار کړ

بېرته و هغه ته دروازهٔ نهٔ شوه د زړه
وه پکښې خودي خو پیدا شوې واے له څه

رېغ نهٔ د تکبیر یې که ضمیر ګوري تش پروت دے
څکه د هغه حرم د ذکر ولوېده

خیري ګریوان، ژوند یې بې د فکر له ګندو نه
خداے زده بې ارمانه به څهٔ واخلي له ژوندو نه

مرګ یې په نصیب کښې دے، یو سوړ نیمګړے مرګ
هغه مسلمان چې کوي ژوند بې الله هو نه

حق هغه ته ورکړه چې مسکین دے او اسیر دے
مرګ یې غیرت زر نهٔ قبلوي څو که فقیر دے

ور د میخانې يې دے هغه ته پورې کړے
مړ مسلمان دې ملک کښې د تندي نه زهير دے

یو ځل يې بیا هغه خاوره خته کړه سپېڅلې
جوړه يې دنیا کړه بیا په زړهٔ کښې ځلېدلې

تېزهٔ ده هوا، د دهٔ لمن لکه غلبېل ده
غم يې د ډېوې کوه سلګیو ده نیولې

غیر يې په خلوت کښې دے د ژوند ناوې سنباله
سیل يې په مقام کښې د نیستی له بده حاله

دا ګنهګار ښخ قبر کښې پروت دے بې له مرګه
دې نکیر منکیر يې له ګرجې او درمساله

نه ښکاري هغه ته، څنګه نور، چرته سرور دے
نه يې په ګوګل کښې هغه زړهٔ، چې ناصبور دے

خدای دي د هغه امت ملګرے او یاور شي
مرګ يې چې د دې نه دے چې زړهٔ يې بې حضور دے

کول د مسلمان او بیا له مرګه نا محرمه
ویري نه د مرګ په رپندي د مرګ تر دمه؟

ما يې په ټوکر سينه کښې زړۀ ونه ليد
ساه يې لنډه ګنډه او لړزان د مرګ له غمه

دا ملوکيت دے سراسر ښيښه بازي
نۀ دے ترې په امن کښې رومي نۀ حجازي

غم بيانومه د يارانو ستا حضور کښې
ځکه چې په داسې وخت کښې شي دلنوازي

تن د مسلمان راته معلوم دے پايدار دے
خټه يې مضبوطه ده کالبوت يې استوار دے

داسې يې د سترګو نه هوښيار طبيب ته ښکاري
روح يې د خودۍ تن کښې کمزورے رعشه دار دے

ټيټ لېمۀ مسلم دے هم له دې چې بې کلاه دے
دين يې مړ او فقر يې عبارت له خانقاه دے

پوه يې چې زموږه ميراث څۀ دے په دنيا کښې
کند خو داسې کند چې له اسبابه د بادشاه دے

څۀ به يې تپوس را نه کوې چې په څۀ شان دے
مځکه يې بې خونده لکه څنګه يې آسمان دے

اوس هغه مارغه ته، چې ساته دے په اینځرو
ځان له د یوې دانې لټون په صحرا ګران دے

ځلنده ښکاره مي کړه هغه ته زندګي
راز مي د "صبا" کړو او د "نن" ورته جلي

ویلي شي د روح اسرار د دې نه زیات په سپینه
دې عجم ته ورکړې که ته نطق عربي

هر څو مسلمان که بې لښکره بې سپاه دے
اوګوره ضمیر یې چې ضمیر د یو بادشاه دے

بیا که خپل مقام ورته عطا دویم کرت شي
شته دے په جمال کښې یې جلال چې بې پناه دے

وې زړې قصې همه د شیخ چې خزانه وه
کوم یې چې کلام ؤ نو ګمان او افسانه وه

لا خو یې تر اوسه دے اسلام زنار تر غاړه
دا به یې بامبړ ؤ دا حرم چې بت خانه وه

ځنګه په بل طور لا دینی دغه جهان کړو
روح یې د آثارو د بدن ځنې بیان کړو

بس له هغه فقره چې عطا دے وه صدیق رض ته
ښه به وي که دا مین په تن دے په سوران کړو

رنګ او بوے حرم، له درمسال اخلي عیان دے
بت زموږ سپین ږیرے پرېشان وېښته حیران دے

نه مومي زموږ د تور بختانو په ګوګل کښې
هغه زړهٔ روښان چې په انوارو د ارمان دے

کله په مسجد کښې صف په صف چې فقیران شول
ټول شهنشاهان د دوے له لاس خیري ګرېوان شول

مړ چې هغه اور شو چې یې بل ؤ په سینو کښې
بیا په دربارونو کښې رابنکي مسلمانان شول

نن مسلمانان دي پخپل منځ کښې جنګېدلي
ټولو د دوے نقشونه زړونو کښې ساتلي

ژاړي که څوک خښته تښتوي له جماعته
خپله هم له هغه جماعته تښتېدلي

موږه چې شو خوښ په سجده بل ته بې الله نه
شو لکه د ګبر یې دربار کښې نغمه خوانه

وژاړم د چا نه له خپل ځانه ګیله من یم
ځکه چې مونږ خپله قابل نۀ وو ستا له شانه

تش چې نن په لاس د میکشانو کښې اياغ دے
ځکه چې ساقي مو په محفل کښې په فراغ دے

زۀ د دغې آه ساتنه کړمه په سینه کښې
ځکه چې لرګے یې له هغې روښن څراغ دے

تشې صراحۍ دي د خانقاه له میو باري
هم روان مکتب دے دويم ځل په تللي لاري

لاړمه خفه د شاعرانو له مجلسه
مړې نغمې يې ووځي د شپيلۍ نه خواري- زاري

زۀ په هر وطن کښې مسافر یم مسلمان یم
کار مي د دې خاورې په دنيا نشته روان یم

يم په پېچ و تاب کښې که هر څو یم بې طاقته
ځکه چې مخ شوے غیرالله سره په ځان یم

ستا راکړي پر چې وو په هغې الوتمه
زۀ خپلو نغمو کښې سوځېدمه پرړېدمه

هغه مسلمان چې مرګ ترې ویره کړې رپیږي
چرته مي او نهٔ لید په جهان و ګرزېدمه

خدای ته یوه شپه داسې په زار وژړېدمه
ولې خوار و زار دي په دنیا مسلمانان

بیرته آواز راغلو چې خبر نهٔ يې؟ دا قوم
زړونه خو لري، زړونو کښې نهٔ لري جانان

نه وایم زما هغه دبدب جلال چې تېر شو
سود يې شرح اوس نهٔ لري هغه حال چې تېر شو

مړه شوه دوه صدۍ کښې، وه ډیوه چې مي سینه کښې
وار د تیرو راغلو خود هغه جمال چې تېر شو

کړو چې حفاظت يې د حرم معمار د دیر دے
مړ يې دے یقین، او هم نظر يې اوس په غیر دے

ښه يې د انداز نه د نظر معلومېدے شي
سکُټ ترې ناامیده دے، اسباب چې کوم د خیر دے

لږ خو له دې سوزه د فقیر چې ره نشین دے
ورکړه ورله ته هغه ضمیر چې آتشین دے

زړۀ یې کړه روښانه هم رڼا یې پائېدونکې
ته له هغه آسه، چې زېږون یې له یقین دے

پرېوزم کله کله ستا نۀ شمه په غورځنګ
ځنګه تویوم وینه بې توري بې تفنګ

اوکړه یو نظر د التفات د بام له سره
ځکه چې یم خپلې زمانې سره په جنګ

ما لره ګوشه یوازي ځان آه و ناله ښه
ځم چې مدینې ته بې کاروانه بې جوپه ښه

چرته مدرسه، چرته د شوق میخانه وایه
ما لره به دا وي که د هر څۀ نه هغه ښه؟

زۀ یې په خوره خوږه فضا کښې والوتم
پر مې شو لانده د بارانې وریځ په نم

ما چې تمامې حرم را غونډ کړو په ضمیر کښې
و مې وې هغه چې ؤ ضمیر کښې د حرم

هیڅا مې غوږ کښېنه شو په راز او په بیان
نۀ مې چا په ښاخ کړه خرما خوښه، نۀ په خوان

اې د امتونو مشره! داد دي تا نه غواړم
دې یارانو وشمېرلم زۀ یو غزلخوان

شعر نه ما خپله رضا پورې تړلې
غوټه مې د تار د معاني ده پرانستلې

تش په دې امید چې که اکسیر یې عاشقي کا
مس ځکه د دغه مفلسانو مې کړو ویلې

تا وې چې وینا کړه له ژونده د دوام
غوږ وته د مړي رسوه د ژوند پیغام

دا ناحق شناس ګوره چې څۀ غواړي زما نه
زۀ د مرګ تاریخ د یو او بل چې کړم ارقام

مخ شولو زما له پټه درده زعفراني
وینه زما څاڅي له لېمو ارغواني

غوټه مې خبره په مرۍ کښې شوه چې راغله
تا ته بې وینا مې ښکاره حال دے نهاني

ژبه چې زموږ د غریبانو ده، نګاه ده
وې چې د خوږمن خبره اوښکي دي یا آه ده

ستر‌ګي مي پرانستې دي او شونډې مي ګنډلې
ځکه چې په خوله وايه، زموږ په نزد ګناه ده

ځان نه مي خبر کړو له خپل ځانه نا محرم
ومي را سپړدو د دۀ په خټه کښې زمزم

هغه ګرمه ګرمه ناله راکړه چې په تاؤ يې
اوسوزوم بې د دين له غمه هر يو غم

بل څۀ مي ګو‌ګل کښې بې لو‌ګي د نفس نشته
بې د تا د لاسه زما بل دسترس نشته

بيا دا د غمونو قصې ووايمه چا ته
ننه په سينو کښې چې بې تا نه بل کس نشته

دا خوار دړدېدلے مسافر شيرين صدا
دا چې سوزوي يې پخپل تاؤ خپله نوا

ته خبر يې څۀ لټوي؟ څۀ ګوري؟ څۀ غواړي؟
زړۀ چې وي له دواړو جهانونو بې پروا

نم او رنګ به هيچرې او نۀ غواړم له باده
يم چې زۀ شتمن د تا دي لمر د فيض له داده

پورته مي نظر ځي له سپوږمۍ او له پرېوونو
نه کړمه لحاظ د چا خبره کړم آزاده

هغه سمندر کښې چې يې هيڅ غاړه ګودر نشته
بل د عاشقانو بې د خپل زړهٔ نه رهبر نشته

تا وې ځکه لاره د بطحا مي اونيوله
او ګني بې تا نه مي بل خوا ته سفر نشته

مه شړه له دره مي، مشتاق ستا د حضور يم
ستا راکړے درد دے ستا له درده ناصبور يم

وه فرمايه ما ته څهٔ چې وايې بې له صبره
ځکه چې زهٔ دوه سوه فرسنګه له دې دور يم

زړهٔ مي د فرنګ په ښايستاؤ او بايللو
تاؤ د بتخانې د ښکليو ويلي ويلي کړلو

زهٔ له خپله ځانه تر دې حده بېګانه وم
خپل ځان مي چې اوليدلو نه مي پېژندلو

ما پياله د ميو د مغرب چې اونوشله
درد د سر مي واخست، پخپل سر قسم پخپله

کښېناستمه خوا کښې د نیکانو فیرنګیانو
ما هسې بې سوزه بله ورځ او نهٔ لیدله

زهٔ فقیر چې څهٔ غواړمه، غواړم یې له تا نه
اوربه په پانه د وښو مي زړهٔ د غر

راکړل، خوږ د سر راته سبق د حکیمانو
ځکه چې زهٔ لوے په ترتیب یم د نظر

زهٔ نهٔ د صوفي خوا کښې کښېنم نهٔ د ملا
ته خو ښهٔ پوهېږې چې نهٔ هغه یم نهٔ دا

اولیکه الله زما د زړهٔ پر تخته باندي
هم به ځان څرګند اووینم هم هغه صفا

زړهٔ د ملا تش دے په زړګي کښې یې غم نشته
اوچ نظر یې سترګو کښې غړېږي خو غم نشته

ځکه زهٔ د دهٔ له مدرسې اوتښتېدلم
نشته دے د دهٔ د حجاز ریګ کښې زمزم نشته

ناست چې پر ممبر وي هر کلام یې لشه دار دے
ځکه در څخه د کتابونو یو انبار دے

ما له شرمه هیڅ اونه ویل ستا په حضور کښې
دے له ځانه پټ دے او مونږ ټولو ته اشکار دے

زړۀ له خاوندانو د زړه، ده که ما وکښلې؟
بیا خبر د شوق ورلره، ده که ما راوړلې؟

موږه یو دوه غشي په ترکش د دین کښې دواړه
مینځ د ګل زیړي اووایه، ده، که ما ویشتلې؟

زۀ په خپل محفل کښې مسافر او بې نوا یم
اووایه دا خپلې ګرانې سختي چا ته وایم

ویره مي له دې ده چې پټ راز به مي څرګند شي
خپل زړۀ ته هم ځکه خپل غمونه نۀ ورښایم

خپل د زړۀ اختیار مي چاته ور نۀ کړو هیڅکله
ما د هر مشکل غوټه پخپله پرانستله

یو کرت که ما په چا تکیه اوکړه بې خدایه
پریوتمه زۀ له خپل مقامه سل سل ځله

شته لا هغه سوے د لیونتوب زما په سر کښې
لا زما وجود دے هم په هغه شور و شر کښې

لا خو د طوفان د هغه زور نۀ چې تېر شوے
نشته قرارے مي په موجونو د ګوهر کښې

لا په دغه خاوره کښې دننه پټ شرر شته
لا مي په سینه کښې اسویلے د لوے سحر شته

اوکړه تجلي زما په سترګو چې ووینې
څو که زړ بوډی ده خو طاقت مي د نظر شته

دا چې زۀ څۀ وینم ترې نظر مي بې نیاز دے
زړۀ زما له خپله پټه سوزه په ګداز دے

زۀ او دا بې سوزه، بې اخلاصه زمانه څه؟
دا خو راته ووایه آخر چې دا څۀ راز دے؟

زۀ یې په بې سوزه زمانه کښې آفریده کړم
ډک له شوره روح یې، زۀ له خاورو د میده کړم

ژوند یې هسې راکړو لکه بیاسته مي په څټ کښې
ته به داسې وایې چې په دار یې کشیده کړم

رنګ او بوے مي ګل او لاله نۀ اخلي هیڅ شان
لاړو مړ زما شو په ګوګل کښې پټ ارمان

پټ غم مي وينا کښې نۀ ځايېږي او که ځاے شي
اووايمه څه؟ او چا ته يې اوکړمه بيان

د خاته تر پرېواته زۀ خوار او غريب يمه
ځکه بې نصيبه چې له هغو يارانو يمه

خپل غمونه خپل زړۀ سره وايم ځان ته ناست يم
څۀ معصومانه مسافري غلطومه

مات مي د حاضر علم جادو کړو په يو وار
پورته مي دانه کړه جال مي مات کړو تار په تار

خداى ته ده معلومه چې په څير د ابراهيم[ع]
څنګه بې پرواه يې ور درون شومه په نار

سترګو کښې زما چې دا نګاه ده دا له تا ده
دا رنګ چې ځلا د لاالٰه ده دا له تا ده

مخ مي کړه سحر د من رآني[*] سره هم ته
شپه مي چې سپوږمۍ غوندي رڼا ده دا له تا ده

---

[*] من رآني" تلميح ده د مشهور حديث: من رآني فقد رآالله. يعني چا چې زه وليدم هغه خداى وليد.

خپله چې ما اوکړه د خپل ځان سره قربت
ستا په نور مي ولید خپل مقام هغه ساعت

جوړ مي د نوا نه د سحر کړو په دې دیر کښې
څۀ ښکلې جهان یو د مستۍ او محبت

شته په دې دنیا کښې یو جنت چې ښۀ خرم دے
ګرځي په هر ښاخ کښې یې زما د وینو نم دے

لا خو هاے و هوے د هغه نشته په نصیب کښې
څوک چې لا تراوسه منتظر د یو آدم دے

داسې یو زلمے ورلره ورکړه چې پاکباز وي
مست په هغو میو وي چې کوم یې خانه ساز وي

متې یې مضبوطي وي په شاني د حیدرؓ
زړۀ یې له دواړو جهانونو بې نیاز وي

جام کړه ساقي پورته راشه زړۀ کړه زما ښاد
سوز د میو زیات کړه د شبلۍ د سوز په داد

بیا مي په سینه کښې هغه زړۀ کښېږده را پاڅه
تاؤ چې کړم پنجه زۀ د کاؤس او کیقباد

دا جهان له مېنې مینه ده ستا له سینې نه
دې سرور يې ستا د زړو میو د چینې نه

بې له دې په حال د جبرائيل څۀ خبر نۀ یم
دا چې یو جوهر دے هغه ستا د آئینې نه

سوز چې کوم زما دے هغه فیض دے ستا له دمه
کور کښې مې چینې د میو دي ستا له زمزمه

ملک د جم زما د درویشۍ څنې خجل دے
ځکه چې آشنا دے زړۀ زما ستا له حرمه

کم مې په دې دیر کښې د زړۀ بل پورې تړون دے
بیا سره د دې هم دا خپل مقام نه ستون دے

غواړي نن زما څنې سجده چې ورته اوکړم
هغه خدای هم هغه چې مات کړې مې پرون دے

داسې لاله پورته شه زما له موټې خاورو
وینه يې قطره قطره څڅومه د لیمه نه

دا دلنوازي ده، که هم دا سوغات قبول کړې
زۀ خو نور څۀ نۀ لرمه، بې د یوه زړۀ نه

دې ښکلي ملت په مخکښې زهٔ اوسوځېدمه
جوړه کړله ما یوه نوا چې وئېدمه

وايي دا ادب چې کړه خبره مختصره
وترهيدم، روغه مي کړه، بيا په آرام شومه

ستا قسم د رندو په سپېڅلي طبعيت
ستا قسم زما په اسويلو د محبت

راوله وريځ د پسرلي په هغو خاورو
غبړه کښې زما دانه را نيسي په الفت

زړهٔ لرم ورغوي کښې، دلبر او جانان نشته
ډېر لرم سامان خو چرته غل د سامان نشته

اونيسه مقام مي په سينه کښې راشه راشه
ما غوندي دنيا کښې يک تنها مسلمان نشته

ما ورکړو حرم کښې د رومي غوندي اذان
زړهٔ مي له هغه د روح رازونه کړل په ځان

دور د فتنه کښې دے د تيري زمانې ؤ
دور د فتنه کښې يمه زه، د دې زمان

خاورو نه زما یو ګلستان کړه را بهر
اوښکي مي په وینه د لاله کړه تر بتر

هر ځو که قابل زهٔ د علي رض د توري نهٔ یم
تېز راکړه د توري د علي رض غوندي نظر

ناست چې پر ساحل دے مسلمان خوب ورغلے
بحر نهٔ خجل امید له ځانه یې شلېدلے

بې له دې ځوانمړد فقیر چې درد یې دے په زړهٔ کښې
پټ یې چې زړګے لکه غلبیل دے چا لیدلے

چا هغه ته اووئیل چې بوے راځي د یار؟
ورکړلو امید ورلره چا د نوبهار؟

هغه پخوانے سوے خو د دهٔ د آه نه لاړو
بیا د دهٔ نیستان ته چا ورپورې کړو شرار؟

ته له خپله بحره مي چینې ته ګوهر راکړه
پنګه مي خوره په غر په سمه په صحرا کړه

تا چې ؤ راکړے دې طوفان مي زړهٔ پرا نهٔ نست
بل یو طوفان راکړه زیاتي شور و غوغا راکړه

وګوره جلوت مي شپېلی چې ږغومه
ګوره په خلوت کښې چې خپل زړهٔ ویلي کومه

ما خپلو نیکونو نه، نکته د فقر زده کړه
ګوره له سلطانه څومره زهٔ بې پروا شومه

وم چې په هر حال کښې خو خوشحال ومه ډېر ښهٔ وم
وړو مي چې نقاب د هر معنٰے له مخه زهٔ وم

مه پوښته زما بې قراري چې په لحظه به زه
ومه د آشنا سره او بل ساعت به نهٔ وم

زهٔ ومه شریک په درد و غم کښې د لاله
نه وم چې مي پټ ضمیر د ژوند کړلو ښکاره

خدای زده چې د ژوند نکته مي چا وته ویله
ځکه چې تنها وم او سرود مي کړو تنها

ستا په نور به ځلنده زهٔ دا خپله نګاه کړم
ځیر چې بیا پرې زهٔ دننه ډېر د مهر و ماه کړم

کله مسلمان چې ځان ته وایم اورېږم
زهٔ چې ګرانې چارې را په زړهٔ د لاالٰه کړم

ستا کوځهٔ کښې ما دپاره سوز د یو نوا بس
دغه ابتدا را لره، دغه انتها بس

ځار شم د هغه سپېځلي رند له دې جرآته
خدای له چې یې ووئیل: "ما له مصطفٰے بس"

(۱۲)

زړهٔ کړو هاے و هوے ما د خپل شوق له برکته
هغه چې جاري کاندي چینه له کاڼي کښته

دغه یو ارمان لرم په زړهٔ کښې چې "جاوېد"
واخلي رنګ و بوے دا ستا له عشق او محبته

وګوره لږ راشه کجکلاهه فیرنګیان
ته به وایې لمرونه یا سپوږمیاني دي په ځان

بچ یې اوساته له دې کافر نظر کوونکو
دا زما د ګرمي وینې ساده ځوان

ورکړه لاس چې پرېوتل له لاده باده ستړي
هغو ته چې زړونه غیرالله ترې نه دي وړي

لږ د هغه اور ځنې چې بل زما په ځان دے
برخه د هغو کړه مسلمان چې دي زو کړي

(۱۳)

ته هم واخله مې د دوست له جامه نابلده
هغه چې دي دوست سره واصل کړي تر ابده

دا نۀ ده سجده، که کړم جارو عبدالعزیزه!
خاورې په ښو د یار د درنه څۀ ده بده؟

شاه یې ته سلطان یې حجازي او زۀ فقیر
یم به خو په ملک د معاني کښې یم امیر

کوم جهان زرغون چې شو د لاالٰه له تخمه
راشه که یې ګورې زما غېږ کښې د ضمیر

خوښ بې دارو نۀ دے که څو زۀ یم دردېلې
او نۀ وایې دا چې یمه خوار عمر خوړلې

لا خو د لیندو د باره ښۀ په کارېدے شم
غشي د ترکش نه د ملت یمه لوېدلې

راشه یو تر بله چې لاس ورکړو سره ګډ شو
هېره دا دنیا چې سراسر کړو سره ګډ شو

یو ځل په حریم کښې د کوځې د هغه دوست
سرې اوښکې د سترګو را بهر کړو سره ګډ شو

واوره په یو داسې بیابان کښې ستا مقام دے
مخ یې د ماښام لکه سحر آئینه فام دے

چرته دي په خوښه وي خیمه اووهه کښېنه
بل چا نه طناب غوښتل په دې ځاے کښې حرام دے

زۀ یم مسلمان، یمه آزاد له هر مکانه
زۀ یم ترې بهر، که وي حلقه نهه آسمانه

ما ته یې سجده هسې را زده کړه چې په هغې
زۀ شم پېژندے د هر یو خداى بها آسانه

بت د فیرنګي نه بېګانه اوسه هر دم
لوظ یې له بها چې د اوربشې نۀ دے سم

قرض نظر واخله ته له سترګو د فاروقه
دې نوې دنیا کښې بیا زړور واخله قدم

# د ملت په حضور کښې

مه غواړه زما نه ته وینا عارفانه
ځکه چې لرمه زۀ سرشت عاشقانه

اوس به په دې باغ کښې درته سرې د وینو اوښکې
اوشیندمه زه، لکه شبنم دانه دانه

# د ملت په حضور کښې

(۱)

خدای ج پورې زړۀ وتړه پر لار د مصطفٰے ځه
پاڅۀ په منزل کښې د هلال غوندي صفا ځه
ورو په ورو غځېږه په فضا کښې په ځلا ځه

غواړې خپل مقام که ته په دغه بتخانه کښې
خدای ج پورې زړۀ وتړه پر لار د مصطفٰے ص ځه

موج غوندي پیدا یمه له خپله سمندره
ځان کښې پیچیده یم لکه وي چې مرغلره

ځکه خو نمرود راته دا هسې په غصه دے
کومه د حرم د جوړوو خواري له سره

راشه ساقي راشه په ګردش دي کړه جامونه
کړه خواره لستوني دي په دواړه جهانونه

راز د حقیقت یې ظاهر کړے په رندانو
ځکه چې ملا پېژني کم د دین رازونه

راشه ساقي راشه کړه نقاب د مخ نه لري
اوڅڅېدې ویني مي له سترګو نه نادري

اوس په هغه غاړه، چې شرقي ده نهٔ غربي ده
وایه د مقام د "لاتخف*" راته سندري

پاڅهٔ را بهر خپلې سینې نه خپل تکبیر کړه
ته پخپله خاوره باندې طرح خپل اکسیر کړه

واخله خودي ویې نیسه کلکه، خوشحال ژوه
بل ته یې ور نهٔ کړې پخپل لاس کښې دې تقدیر کړه

ډک له خودۍ وي مسلمان مرد تمام دے
ورکه یې خودي که شوه د خاورو نه غلام دے

ته که دې متاع د ځان، خپل ځان ګنې خبر شه
بې له خپله ځانه په بل چا نظر حرام دے

ښه مسلمانانو چې خپل ځان اوپېژندلو
قدر یې ګوهر غوندي هر سیند کښې اوموندلو

بیا دې بتخانه کښې که له خپلې خودۍ تېر شو
ستا په سر قسم دے چې مرګے یې واخستلو

* د قرآن پاک د دې آیت تلمیح ده: "لاتخف انک انت الاعلےٰ.

مخ نه د تقدير هغه پرده مي رابنکودله
مه شه نااميد د مصطفٰیؐ په لاره زغله

ستا که پرې باور نۀ وي دا ما چې درته اووې
وتښته له دينه مرګ د کفر در آخله!

تُرکو ته يې پرانستل چې پورې وو درونه
جوړ يې د مصريانو بنۀ محکم کړه بنيادونه

ته هم د خودۍ لمن په لاس اونيسه کلکه
بې له دې ورکيږي چاته دين او نۀ ملکونه

هر هغه يو قام چې يې برباد کړل بهارونه
ده سره جوړيږي الوتلي نکهتونه

څو که يې له خاورو ريدي ګلې را زرغون شي
خپله د قبا نه يې الوتي وي رنګونه

خدای هغه ملت په سردارۍ اونمانځلو
چا چې خپل تقدير پخپلو لاسو اوليکلو

هيڅ يې سريکار د هغه قامه سره نۀ وي
خپل ملک يې دهقان چې بل دپاره اوکرلو

زده کړه د رازي ځنې حکمت چې د قرآن دے
خپل څراغ يې بل کړه له څراغه چې روښان دے

بیا سره د دې يوه نکته واوره زما نه
ژوند چې پکښې سوز او مستي نۀ وي هغه ګران دے

## خودي

(۲)

چا په لاالٰه چې د خودۍ وهلے سر دے
ده ته حاصل شوے د مړو خاورو نه نظر دے

مه پرېږده لمن د داسې ځوان چې ما ليدلے
ګيره په کمند کښې يې سپوږمۍ ده او هم لمر دے

پورته شه ناپوهه زړۀ آګاه اولټوه
ته خپلو نيکونو غوندي راه اولټوه

پوه يې چې ښګه مومن پټ رازونه سپړي
د لا لا موجود الاالله" اولټوه

زړۀ دي شته منمه خو داغ نۀ لري پنهان
نشته پکښې چرته خوږ او سوے د مسلمان

ځۀ شي که چمن ته د خودۍ دي اوبۀ ورکړې
تا له هغه سینده چې پکښې نشته طوفان

# اناالحق

(۳)

بې له حقؑ نه ځان ته چې حق وايي حق د چا دے؟
څوک يې چې قابل د دار اونه ګڼې خطا دے

سر وهل يې ښۀ دے که یو کس هسې وینا کا
دا ټکے که غږ وي د یو قام هغه روا دے

خير که اناالحق د هغه یو ملت نعره وي
نم د دۀ د ويني نه چې هره ونه شنه وي

پروت يې پټ دننه یو جمال وي په جلال کښې
دا نهه آسمانه هغې یو ته آئینه وي

ډېر په امتونو کښې هغه بلند مقام دے
دواړو جهانونو کښې د هر ملت امام دے

یو لحظه کښېني نۀ په آرام له پیدایښه
ځکه ستوماني او خوب په ده باندې حرام دے[1]

[1] آیات پاک ته اشاره ده:- لا تاخذه سنة و لا نوم.

تن یې د لمبې غوندي له سوزه د درون دے
خس غوندي هغه ته دا جهان د چند او چون دے

شرحه یې همت د اناالحق شي ښۀ کولے
وه چې وایي "کن" ورپسې وګوره "یکون" دے

الوزي وسعت کښې د آسمان چې کامل تر وي
ګرځي که هر خوا پخپله ځاله یې نظر وي

ستوري او سپوږمۍ یې هغه نښتي وي کمند کښې
لاس کښې یې تقدیر د زمانې وي باندې بر وي

باغ کښې خوږ آواز کوي په شان د بلبلانو
وي چې په راغه کښې کړي غوټه د شابازانو

وي یې چې امیر په بادشاهۍ کښې فقیري کا
کار یې درویشي کښې کړي فقیر د امیرانو

ډکه له زړو شرابو نوې پیمانه کړه
لاندي تر فروغ دي غر محل او کاشانه کړه

غواړې که له ښاخه د منصور مېوه نو راشه
روڼه په "لا غالب الا الله" د زړۀ خانه کړه

# صوفي او ملا

(۴)

تریو راته تندۍ د ملا ښکاري د کړو وړونه
پوست یې نظر نهٔ شي بېلولې د مغزو نه

هم که زما دا مسلماني وي چې یې وینې
ښه کړې که شړې مې د کعبې د دروازو نه

خلق د کعبې فیرنګي ښکار کړل هم د دیر
ږغ د خانقاهونو نه را خیژي د "لا غیر"

لاړم بیا له سره مې ملا ته دا قصه کړه
وه یې کړه دعا چې "عاقبت دي وي په خیر"

اې چې د صوفي او د ملا یې بندیوانه
ژوند نهٔ اخلې ولې له حکمت ډک له قرآنه

نور دي د قرآن له آیتونو څهٔ کار نشته
بې له دې چې ساه یې په یٰسین ورکړې آسانه

ځان ته اوېزانه آئینه کړه له قرآنه
ته یې بدل شوې غوندي اوتښته له ځانه

ته د خپل عمل دپاره تَلَه ځان ته کښېږده
بیا دي هغه تېر قیامتونه جوړ کړه ځوانه

زهٔ سلام کوم ورته صوفي دے، که ملا
ما ته را رسولے یې پیغام د کبریا

دا ده چې تاویل یې په حیرت کښې غورزولے
پاک پروردګارؒ او جبرائیلؑ او مصطفٰےﷺ

ذکر د دوزخ کړو یو واعظ وته کافر
دې نه زیاته بنهٔ خبره اوکړه یو کافر

هیڅ نهٔ دے خبر هغه غلام له خپله ځانه
وایي چې دوزخ د بل په برخه دے بدتر

واوره یو مرید چې خود شناس وُ پخته کاره
وه یې کړه یو پیر ته، څهٔ خبره لشې داره

ځان پخپله یو نیمګړي مرګ ته ورسپارل دي
رزق را غونډول د چا له خاورو له مزاره

خپل زوے ته یو پیر خرقه پوش اووې برخورداره
دا نکته "تعویذ کړه د ژوندون" د ځان دپاره

تل اوسه آشنا د زمانې د نمرودانو
ژوند ابراهیمي یې بیا له فیضه ځنې شماره

## رومي رح

(۵)

تېر تر ستونې ته هغه زاړه شراب کړه بیا
ملک چې د پرویز یې د یو جام نهٔ ده بها

بیا دي د رومي جلال الدین په تاوده شعر
کړه د زړهٔ کعبه کښې دېوالونه په ګډا

واخله له پیالې یې شرابونه لاله رنګه
داسې یې تاثیر دے چې لعل جوړ کاندي له سنګه

هغه چې هوسۍ ته د مزري زړهٔ ورکوینه
هغه چې د ملا داغونه وینځي له پلنګه

ما اخستې برخه د هغه له تاب و تبه
شپه شوه زما ورځ، د دهٔ د ستوري له سببه

وګوره هوسۍ ته چې په چول کښې د حرم ده
پرېښې چې خندا د امزریانو یې له لبه

واړه سر تر پایه سوز د درد د آشنايي
وصل يې پوهيږي په زبان د جدايي

اخلي د شپېلۍ نه يې جمال د عاشقۍ
خپله نصيبه يې د جلال کبريايي

غوټه د مشکل، د دې ناکاره يې پرانستله
ګرد چې ؤ د لارې ترې کېميا يې جوړه کړله

عشق او د مستۍ سره آشنا هغې شپېلۍ کړم
هغه چې سپېڅلې نۍ نواز و غږوله

ور زما د زړۀ يې را ته ببرته هغه آن کړ
جوړ زما د خاورو ځنې هغه يو جهان کړ

دا د هغه فيض ؤ چې پيدا مې اعتبار شو
ځان چې را آشنا سپوږمۍ او ستورو د آسمان کړ

خيال يې کړي د ستورو او سپوږمۍ هم نشيني
ځي نظر يې پورته د پرېوتو نه ببځي

خپل قرار زړۀ يوسه هغه ته يې مخکښې کېږده
وړې په يو نظر چې د پارې نه رپندي

زده کړه د رومي ځنې رمزونه فقیري
هغه فقیري چې ورته سوزي امیري

و ژغوره خپل ځان د هغه فقر و درویشۍ نه
تا چې و مقام د سرکوزۍ ته رسوي

لاړ شان و شوکت د بادارۍ چې خودي لاړه
فقر ته یې وښیل کارونه د ګدا

ما دي راپور کړي د رومي له مستو سترګو
واړه لذتونه د مقام کبریا

تاک نه یې زما ځلند شراب او بیا وه
ځار شم ترې دامان یې چې زما پرې ولاړه

برخه له هغه اوره لرم چې په اول کښې
زړهٔ کښې د رومي رح چې سنایي رح اولګاوه

# د فاروق رض پیغام

(٦)

باده! د عرب له بیابانه څه غوټه کړه
نیل کښې د مصریانو را پیدا یوه څپه کړه

پاڅۀ د فاروقرض دغه پیغام یوسه فاروق ته
ځان کښې سلطاني فقیري دواړه ګډ سره کړه

تاج و تخت د فقره سره، دغه خلافت دے
سخ شه چې لري یې بې پایانه ډېر دولت دے

دا فقر چې پرې نۀ ږدې ځلمیه بختوره!
مړ شي بې د دې ځنې ډېر ژر چې بادشاهت دے

هر کله ځوانمړد چې معرفت پیدا د ځان کا
جوړ به بیا له سره هغه تېر ښکلے جهان کا

کړي د دۀ طواف به په زرګونو انجمنه
هغه چې د ځان سره خلوت شي زړۀ روښان کا

ببرته په اخلاص د زړۀ او عقل هر یو ور کړه
ته حاصل د هري میخانې له پیر ساغر کړه

ځان کښې کړه پیدا هسې نیاز چې زړۀ روښان کړي
پاکه چې لمن لرې لستوڼے خیر دے تر کړه

سخ د هغه قام چې وي خپل ځان ته رسېدلے
درد نه د لټون وي بې آرامه تپرېدلے

وي يې د آسمان لاندې برېښنا لکه د تندر
داسې لکه تېغ چې وي له میانه را وتلے

يو ترکي ماڼکي ويله څۀ ښکلې بدله
سترګي آسماني او سره ګونه يې ځلېدله

وې که چرې ګېره مې کشتۍ شي په درياب کښې
نه يم پرې رضا که بې طوفانه ووتله

واک د کل جهان زما په خته کښې اخښلے
شان د امانت يې په تندي زما ليکلے

وګوره درون ته دي لږ ځير هغه جهان کړه
غم يې په زړۀ کښې د فاروق رض چې ۇ کړلے

هغه ځوک چې پوهے وي په اسرارو د يقين
کړي يې يو ليدونکے که لېمه يې وي دوبين

ګډه چې يو ځاے کاندي رڼا د دوو شمعو
مه کړه انديښنه د افتراق د ملک او دين

هغه مسلمان چې ځان يې تېر له امتحان کړو
جوړ د خپلې لارې د غبار نه يې آسمان کړو

و يې ساته ښۀ که لرې ته د شوق بخره
لمر به درنه جوړ کاندي که ځان دي هسې شان کړو

# د عرب شاعران

(۷)

پوه زما د خوا کړه سندر غاړي د عرب
ما يې بها کمه کړله لعل چې ؤ د لب

ما په هغه نور چې مي حاصل کړو له قرآنه
سپين سحر کړو جوړ د سل اتیاوو کالو شب

زړونو کښې د خلګو هاے و هوے را پیدا ما کړو
غر محل مي شمېر د موتي خاورو په بها کړو

بحر ډک د شور سره حریف په یوه ورځ شي
هغه شور و شر چې په سینه کښې مي پیدا کړو

مه جوړوه راشه نور د ښکلیو صورتونه
بې له خپل ضمیر د بل نه مه اخله امدادونه

تا زما په باغ کښې پر او بال دي پیدا کړي
ورکړه مسلمان ته، کوم چې ته لرې دردونه

زړهٔ مي شته په تن کښې او په زړهٔ کښې مي يو غم شته
لا خو په دې وچه زړهٔ ځانګه کښې څهٔ نم شته

ته هغه چينه جاري د خپل هنر په دم کړه
ځان ته پټ د هر مسلمان وينه کښې زمزم شته

وي چې مسلمان بنده د خدای لري صفات
زړهٔ د هغه راز وي د اسرارو نه د ذات

بې د حق له نوره بل په څهٔ جمال ليدے شي
ځکه چې دے اصل کښې ضمير د کائينات

خاوره کښې يې بيا کړه پيدا هغه سوز و تاب
اوزيږي د شپې نه د هغه چې يو آفتاب

وربغوه داسې يو نوا چې ستا له فيضه
ببرته ور عطا شي هغه ذوق د انقلاب

څهٔ مسلماني ده؟ غم د زړهٔ پيدا کول دي
غم کښې د يارانو د پارې په شانې سول دي

بس چې د ملت دپاره تېر شي د خپل ځانه
بيا دويم کرت "اناالملت" نعره وهل دي

هغه چې آګاه شو په اسرارو د خپل ځان
بې له خپلو سترګو په بل نهٔ ویني جهان

جوړه په سینه کښې کړه یوه نوا دننه
بیا نو جوړولې پسرلې شې له خزان

پام ورته کوه چې ستا په خټه کښې پراته دي
تا ته ترې حاصل مستي سرور او سوځېده دي

وینم یې خالي سبو د دهٔ او د هغه دې
پاتې بس شراب په صراحۍ کښې ستا د زړهٔ دي

سیزي چې سینه دا شپه د دښت او د کهسار
موج شته د اوبو نه د مارغه پکښې چغار

نه روښانه کیږي په قندیل د راهبانو
ته خو ښهٔ پوهیږې چې دے لمر ورله پکار

ښه دے دا محراب چې په تندي کښې ستا نما دے
ونیسه معلوم کړه هغه رګ چې د صبا دے

کښېږده قدم ما غوندي صحرا کښې د حرم ته
شي درته معلوم پکښې وسعت هغه چې ستا دے

# اې د صحرا زویه!

(۸)

شول په صباؤن کښې چې روښان در او دشتونه
وکړه یو مارغه له یوې څانګې آوازونه

زویه! د صحرا پاڅهٔ ښېمه کړه خپله غونډه
ذوق چې د تګ نهٔ وي څهٔ حاصل وي له ژوندونه

پاک الله عرب چې راهنما کړو د کاروان
ځکه چې د فقر یې په ځان اوکړو امتحان

فقر د هغوے که وي غیور چې غریبان وي
کړے شي، که هغوے کړي لاندې باندې ټول جهان

شور په هغو شپو کښې د سحر د بل صبا دے
هغه چې روښان په تجلیو د سینا دے

تن او ځان محکم یې د دښتونو په سیلی
ځلک د امتونو خو د غر او د صحرا دے

# څهٔ خبر يې ته.....!

(۹)

يو ځلي آئين بيا د تسليم او رضا واخله
لاره ته د صدق و د اخلاص او وفا واخله

مه وايه چې شعر مي "داسې دے هغسي نهٔ دے"
راشه دا هوښيار غوندي جنون خو له ما واخله

تل پرې هغه واړه چمنونه ويرانه شي
چرته چې جنون د هنګامو نه بېګانه شي

هو! له هغه شوره چې مي ګډ کړو په دې ښار کښې
ښکاري دا جنون خو نتيجه کښې فرزانه شي

زهٔ ړومبے لاله د پسرلي د چمن يمه
پر له پسې سوځم له دې داغ چې يې لرمه

مه ګوره په کم نظر زما و تنهايي ته
سل د ګل کاروانه د خپل ځان سره لرمه

داسې يم پرېشان لکه د لارې چې غبار شي
هغه چې د باد په اوږه سور شي په قرار شي

څومره خوشبختي به وي دا، څۀ خوشحال به ژوند وي
ما نه رابښکاره که یو غښتلے شاه سوار شي

ښه دے هغه قام که څو پرېشانه یې روزګار وي
شي پکښې پیدا هسې ځوانمرد چې پخته کار وي

راز دے د رازونو نه د خدای دا پیدایښت یې
نه ده، چې ظاهر له هره ګرده شاهسوار وي

موج غوندي وم زۀ پخپل دریاب کښې بې قرار
ان چې په ورو ورو شو یو طوفان را په اظهار

بل یو ښکلے رنګ بغیر د دې نه ما اونه لید
ما پخپلو وینو یې تصویر کړلو تیار

ډک شي د هغه په یو نظر سره خمونه
کور د ارمانونو کښې روان کړي شرابونه

سم د سمندر سره به دا همه لښتے کا
دے چې ورته ورکړي بې قېمته طوفانونه

هغه څوک تر لاسه چې جلب د قافلو کا
شوق به پټ اشیاوو کښې پیدا د تجلو کا

ټول داسې په ډاګه کړي وګړي د افلاکو
نهه آسمانونه جوړ پېزار د خپلو پښو کا

وركړه هغه پاک انسان ته ته مبارکي
هغه چې سالار د قافلې و زېږوي

بیا به نو د داسې بختورې مور له غېږې
ځار به کړم، خجله به کړم حوره جنتي

زړۀ مي کړي سینه کښې دا وینا چې یو دلبر شته
مال دي په کاله کښې را پیدا کړه غارت ګر شته

ما ته زنکدن کښې له آسمانه صدا راغله
وو چې رژېدله شګوفه ترینه ثمر شته

# خلافت او بادشاهي

(۱۰)

ځان د مصطفیٰ په نور عربو اوسېځلو
مړ د مشرقیانو یې څراغ اولګولو

ورکه کړه لار هغه خلافت، چې په اول کښې
چل یې مسلمان ته د شاهۍ ور وښیلو

کاندي خلافت په مرتبه يې ګواهي
ده په ما حرامه چې هغه ده بادشاهي

مکر ورته وايې که جادو، دا بادشاهي ده
حفظ خلافت کړي د ناموسِ الٰهي

جنګ چې شي پيدا د بادشاهۍ او له کليمهؑ
جنګ له يو فقيره، بې کلامه، بې ګليمه

لوبي د تقدير دي داسې هم کيږي که ګورې
کله کله کار د صر صر واخلي له نسيمه

لا خو چې آدم په دې جهان کښې دے غلام دے
کار يې دے نيمګړے هم نظام يې واړه خام دے

يم غلام د فقر، د هغه شاهِ دارينو
هر ملوکيت چې د هغه په دين حرام دے

دے نظر د هغه چې الفت يې پائيدار دے
عشق لره، مستي لره، مسلک د دۀ معيار دے

ورکړے شو مقام د عبده خو که پوهيږې
بس جهان د شوق لره هم دے پروردګار دے

# عثماني ترک

(۱۱)

ترک پخپل وطن کښې دا منم چې نن امیر دے
زړهٔ هم باخبر لري، په سترګو هم بصیر دے

دا مکوه خیال چې د فیرنګ له بنده اووت
لا خو د جادو په زولنو کښې یې اسیر دے

مات یې د دوے سحر کړو ځوانان هغه دي
زړهٔ چې نهٔ تړي د فیرنګانو په پیمان

مه شه ناامیده، د خپل ځان سره یار اوسه
اوس هم شته، پخوا هم وُ، دنیا کښې ځوانمړدان

ور یې کړه ترکانو ته څهٔ نوي ارمانونه
جوړ یې خپل کردار سره کړه نوي جهانونه

هوا! خو ولې کوم داسې ستم دے چې ووایې
لري یې د مخ نه د تقدیر کړه نقابونه

# د ملت لوښې

(۱۲)

پرېږده اې پېغلوکې! دا انداز د دلبرۍ
نه دي مناسبي مسلمان ته کافرۍ

زړهٔ دي د پوډرو په بالبنت مه تړه چرې
زده کړه په کاته د زړهٔ غارتګرۍ

توره ستا نظر دے چې له خدایه دے عطا
راکړو مونږ ته خدای د زړهٔ د زخم په بها

زړهٔ سوچه کامل خو یوړو هغې پاکې جلې
آب یې خپلې توري ته چې ورکړو د حیا

پټ ضمیر د دې زمانې نهٔ دے په نقاب کښې
خوښ دے دنیاګۍ ته وي څرګند، په رنګ و آب کښې

زده د خدای د نور نه د جهان روښانول کړه
دې سره د سلو تجلو چې په حجاب کښې

دے چې دا جهان قایم، د میاندو برکت دے
هرچا لره پروت یې په فطرت کښې امانت دے

هر یو هغه قام په دې نکته چې پوهه نهٔ وي
کاروبار کچه، هم یې نظام د حکومت دے

ما له چې راکړے دا خرد پرور جنون دے
دے د مور نظر، چې پاکیزهٔ یې اندرون دے

کله په مکتب کښې زړهٔ او سترګې پیدا کیږي
څهٔ ده مدرسه؟ خو یو جادو دے یو افسون دے

ښه هغه ملت دے چې د دې په پېش و تو
راشي قیامتونه د مخلوق په دنیا ګو

څهٔ به وریښېږي او ښخوا څهٔ وریښ شوي
ځلنده لیدلے شي د میاندو په تندو

ته که نصیحت د درویش ومنې په ځان
زر قامه به مړه شي ته به نهٔ مرې په هیڅ شان

شه لکه بتول رض او پټ له دغې زمانې شه
پورته چې په غېږ کښې کړې شبیر رض غوندي انسان

ته مي راپیدا کړه د ماښام ځنې سحر
وبله قرآن ته یو ځل بیا اهلِ نظر

تا ته خو معلوم دے چې قرآت* کښې دي کوم سوز دے
هغه چې تقدیر یې ور بدل کړو د عمر رض

# نوې زمانه

(۱۳)

ښنګه زمانه ده چې کړي دین ترې فریادونه
شته په آزادۍ کښې یې زرها رنګه بندونه

رنګ او آب یې ټول د سرېتوب له مخه یوور
جوړ چې بهزادۍ کړل د هغې غلط نقشونه

جوړې د نظر نه یې نقشې د کافرۍ دي
پټې په کمال کښې د صنعت یې آذرۍ دي

و یې ساته ځان د سوداګرو د ټولۍ نه
دا دي جوارۍ چې په ظاهر سوداګرۍ دي

لمسه کړي ځلمو ته ده بلا دا زمانه
ده د ابلیس شپې ته ورځ رڼا دا زمانه

زۀ یې د لمن نه تاؤ را تاؤ لکه لمبه یم
ده چې بې له سوزه بې ځلا دا زمانه

* د حضرت عمرτ د اسلام راوړلو واقعې ته اشاره ده.

یو ځاے مسلمان کړه فقیري او سلطاني
ګډ سره ضمیر یې کړل باقي ؤ که فاني

غواړم و لیکن امان د دغې زمانې نه
دې چې سره یو کړه سلطاني او شیطاني

څۀ وایم ګډا دي ښنګه ده او ښنګه نۀ ده
دے اثر د بنګو خوشحالي کله د زړۀ ده

نشته ستا رګونو کښې هغه طوفان د وینې
وایه په تقلید کښې د فرنګ دي ګټه څۀ ده

# برهمن

(۱۴)

خپله ځان ته در دسل فتنو دي پرانستلو
دوه ګامه وې تېر، چې ستا قدم وښویېدلو

ښکلے برهمن ګوره خپل تاخ کړو په بتانو
تا واخست قرآن دي پاس په تاخ کښې کښېښودلو

ولې به زۀ وایم برهمن وته بېکاره
ما ته درنه تیره کړي لږ وګوره هوښیاره

نه کېږي بغیر د لاسو مټو له طاقته
جوړ چې کړي پخپله یو معبود د ځان دپاره

ګوره برهمن ته چې نظر یې پخپل کار وي
نه ښایي هیڅا ته کوم چې ده څخه اسرار وي

ما ته خو دا وایي چې تسبې دي لر کړه پرېږده
دے پخپله ګوره تل په غاړه یې زنار وي

پاڅۀ در د غیر نه، برهمن وکړو بیان
ډک د پیرزویني دي د خپل وطن یاران

دوه ملایان چرې یو جمات کښې نۀ ځایېږي
ځاے شي درمسال کښې داسې دم لري بتان

# تعلیم

(۱۵)

چا کښې تاب و تب چې مدامي وي پرې سوځېږي
دا د ژوندون اس لره متروکه ثابتېږي

دغه تاب و تب زده کړه زامنو ته چې ما ته
دا کتاب، مکتب، خو افسانه، جادو ښکاریږي

سوے چې پکښې نۀ وي له دې علمه چاره سازه
ډېره ډېره ښۀ هغه نګاه چې وي پاکبازه

بیا نو لا بهتر دے د هغې پاکي نګاه نه
هغه زړۀ چې وي له دوه عالمه بې نیازه

هیڅ د خدای د هغه مسلمان سره کار نشته
روح یې چې دننه په کالبوت کښې بیدار نشته

وتښتېدم ځکه د یارانو له مکتبه
یو زلمے پکښې هم د خودۍ خوکیدار نشته

دا زما نه زده کړه چې یو ړوند په دواړو سترګو
ښه دے د هغه بینا نه کوم چې غلط بین وي

واوره که ناپوهه وي لېکن چې نېک عمل وي
ډېر ښۀ دے له هغه دانشمنده چې بې دین وي

رسي که آسمان ته څۀ حاصل له هغه فکره
چورلي چې چاپېر له هر ثابت و سیاره

وي لکه يوه ټوټه د ابر چې له باده
پورته په وسعت کښې د فضا شي آواره

پوه وي که ناپوهه په ادب به معلومیږي
ښکلې په ادب چې وي خوشحاله به اوسیږي

هیڅ زما د هغه مسلمان زویه خوښ نۀ دے
زيات چې وي په پوهه او ادب پکښې کمیږي

مه شه ناامیده د طفلانو نه بې ځایه
خیر دے که دماغ یې نارسا ښکاري له ورایه

ښه ده نو اې شېخه! د مکتب که ته پوهیږې
زړۀ شته په سینه کښې د هغو که نشته وایه؟

زده کړه دین دانش دي و خپل کول ته اې دانا
اوچه کړي نګین یې د سپوږمۍ ستورو ځلا

تا که څۀ هنر کړو ور تر لاسه بیا یې ګوره
پټ په خپل لستوڼي کښې لري یدِ بیضا

زړۀ نه د مارغه د چمن یو یې وړه نوا
هم د ریدي سوز چې یې وو وینه کښې پخوا

څۀ به کوې ناز په دې مکتب او په دې پوهه
در يې ډوډۍ نۀ کړه در نۀ وايې خسته ساه

خدایه د هغه درویش دي تل بنۀ وي وختونه
شول لکه غنچه چې يې له دمه تازۀ زړونه

دا د عا زما د مکتب طفل ته يې وکړه
نه دي شي ډوډۍ لره د هيچا په بندونه

چا چې "لااله" کړو غوټه وايې خست له ځانه
خلاص شولو له قيده د مکتب او د ملا نه

زړۀ په هغه دين، هغه دانش، مه تړه چرې
اخلي چې لاسونه خپلې سترګي زړۀ له ما نه

وينې چې ته دا چې کاروان مړ کړو رهزنانو
بيا يې څۀ تپوس کړې خنګه مړ کړو ظالمانو

مه اوسه بې غم له هغه علمه چې يې لولې
روح پرې د يو قام وژل کېدے شي هوښيارانو

ښکلے ؤ يو ځوان لکه د ګل رنګين کلاه
ؤ د امزرو غوندي نظر يې بې پناه

علم د چیلیو یې حاصل کړو په مکتب کښې
خدای دي ورله ور نۀ کړي یو پاڼه د ګیاه

اوښ ته په صحرا کښې هسې اووې خپل جونګې
خدای د دې ځلور کنجه دنیا به چرته وي؟

پلار ورته ویل زویه! چې پښه یې وښویږي
خدای ورته ښکاره شي او هم ځان و پېژني

# د رزق لټون

(۱٦)

وي چې الوتل یې له یو بام تر بله بامه
داسې جره نۀ رسوي باز تر خپل مقامه

بیا له هغه ښکار ځنې چې یو موټی ښې وي
ښه دے چې شي مړ پخپله ځاله کښې ناکامه

تل ساته خپل ځان باندې نظر محرمانه
ځکه چې وي موره له نظر خپل تازیانه

ځکه يې لټون د رزق پر مونږ باندې واجب کړ
شي مو چې د پر د پرانستلو بهانه

## نهنگ خپل بچي ته

(۱۷)

خپل بچي ته ښکه ښۀ خبره نهنګ وکړه
وې په موږ، زموږ په دين، د سيند غاړه حرامه

ژوه د څپو سره ځان ژغوره له ساحله
دا د سيند دنيا مونږ لره ځاله ده تمامه

نه يې سمندر کښې ته، په تا کښې سمندر دے
خپل ځان دي طوفان ته غورزوه دا دي جوهر دے

ته که يو لحظه يې د څپو نه دمه ګير شوې
بس نو بيا هم دغه سمندر دي غارتګر دے

## خاتمه

(۱۸)

نۀ مي له ساقي، نۀ له پيالې، مي درته اووې
وو د عشق حديث په بيباکۍ مي درته اووې

ما چې اوربدلي له پاکانو د امت ؤ
هغه د رندانو په شوخۍ مي درته اووې

بيا راشه خپل ځان ته لمن ونيسه د زړه
اونيسه مقام خپله سينه کښې شه مېشته

پاڅۀ دا پټې پخپله وينه کړه خړوبه
ما وشينده تخم او حاصل يې واخله ته

بل حرم که وايې بې له زړۀ او نظر نۀ دے
دا طواف، طواف د چا د بام و د در نۀ دے

راز دے يو زما او د الله د کور تر ميانځه
داسې چې پخپله جبرائيل ترې خبر نۀ دے

# د عالم انساني په حضور کښې

څۀ دے سرپټوب خو احترام دے د سړي
شه ترې خبردار چې کوم مقام دے د سړي

# د عالمِ انساني په حضور کښې

## تمهید

(۱)

هغه پخواني زاړه شراب راوړه ساقي!
دا یخنۍ زیلۍ بوډا ځوان کړه د سپرلي

داسې نوا راکړه چې له خپلې ساه له فیضه
بل لکه مشال کړم د شپېلیو دا لرګي

یو ځل د حجرې نه د خلوت را وتل بیا کړه
ته سینه فراخه په بادونو د صبا کړه

کوم چې دا خروش دے په مقام د رنګ و بوے کښې
ته یې په ژړا د یو مارغه هومره سوا کړه

(۲)

راوړې زمانې فتنې یارانو! تیره شوله
وه یې کړل روزل د کم اصلانو تیره شوله

خوے یې چنګیزي ؤ چې یې دوه سوه بغداده
کړل لکه د ګور د تور بختانو تېره شوله

ډېر دي داسې تللي چې اندوه یې وه زغمله
مړه شو پرون ورځ یې د صبا اونه لیدله*

سخ شه د هغو چې د لمن ځنې د "نن" یې
نوې په زرګونو هنګامه را ټوله کړله

(۳)

هیڅ لکه بلبل ژړا په زار نهٔ لرې ته
تن لرې خو روح پکښې بیدار نهٔ لرې ته

بیا په دې ګلشن کښې چې روا ګل شو کول دي
زخم یو پوټې قدر د خار نهٔ لرې ته

راشه د خپل ځان سره وهل پرزول زده کړه
ته پخپلو نوکو د سینې ګرول زده کړه

لیدل که به پرانستو سترګو ته غواړې د خدای
راشه نو په ډاګه د خودۍ دي لیدل زده کړه

* دا د امیر خسرو شعر دے.

مه کوه ګیله ته د سختۍ نه د وختونو
ځوک چې سختي ونه زغمي هغه کم عیار دے

تا به د ولو د اوبو تګ خو وي لیدلے
رغړي چې په کاڼو باندې ځنګه خوشګوار دے

ځهٔ ښکلې خبره یو کامتر کړه خپل بچې ته
ژوند لکه ریښم په نرم خوے نهٔ شي بسره

چیغه د "یاهو" که اوکړې شوق او په مستۍ کښې
سر نه د شاهین به هم اوچته کړې کپره

لاړې له مقام کبریائي نه پریوتې
سر د نا اصیلو په دربار کښې ټیټوې

ته خو یې شاهین خو تر هغې خود شناس نهٔ یې
څو چې ته د خپلې خودۍ دام کښې نهٔ راځې

ښه به هغه ورځ وي چې خپل ځان و مومې بیا
ده دا فقیري چې امیري کړي در عطا

راز د ټول عمري ژوندون خو پټ دے په یقین کښې
مړ به شې که لاره د ګمان ونیوه تا

ما غوندي ته هم يې د خپل ځان نه په حجاب
څۀ ښۀ هغه ورځ ده، چې ځان او مومې جناب

بیا به کړي کافر دا اندېښه او غم د رزق
تا به کړي کافر دغه خپل علم د کتاب

وکړ خپل جونګي ته يو اوښ څۀ ښکلے ګفتار
سخ د هغه کس دے چې پوهېږي پخپل کار

زده کړه دا له مونږ چې د صحرا يو زاړه تلوني
ښايي چې په خپله ملا اوچت کاندي خپل بار

(۴)

يادو کښې زما دي د فرنګ له دانايانو
داسې ډېر رازونه د وجود او د عدم

هو! خو دا دوه ټکي درته وايم ويې نغوېږه
ما ته را زده کړي يو سپين ږيري د عجم

اې هغه چې ته نامحرمانو يې وژلے
يو زړۀ له کربږ دي د غمونو دے پيرلے

ډېر ښۀ يې صحبت دے د ملا له تاويلونو
څو لحظې د هغو چې يې ځان دے پېژندلے

(۵)

دے وجود چې ګورې که نمود دے؟ وایه دا
څۀ مشکل آسان دے دا حکیم زمورِ دانا

هغه د "غوپې" په فن کتاب خو ولیکلو
کوز نۀ شو لیکن هیچرې تل ته د دریا

غوځ کړه بېستون دي د ترېنځ په یو ګذار
ځکه چې فرصت درلره کم فلک دو رنګ دے

پرېږده حکیمان چې وي په دغه اندېښنه کښې
وځي د ترېنځ نه دا شرر او که له سنګ دے

مه ږده کلک په لاس کښې خپل څراغ د آرزو کړه
پورته شه تر لاسه ته مقام د هاؤ هو کړه

ګوره په چارسو د دې جهان کښې چې ورک نۀ شې
ځان ته را واپس شه درې ورې دا چار سو کړه

زړۀ د سیند د تا دے د سکون نه بېګانه
جېب کښې یې له تا ده د ګوهر یوه دانا

موجه محافظ دي دغې خپل اضطراب اوسه
ځکه چې د سیند د خوني ته یې خزانه

ښايي چې را کش کړې ځان ته دا دواړه جهانه
تېښته مناسب نهٔ ده چې ويې کړې له ځانه

ګورې که خپل "نن" دي د "پرون" په نور يې ګوره
غوڅ چې شي "پرون" له نن بهر دے له امکانه

تا را ته خپل ځان کړو را ځرګند ريديه ښهٔ وې
لري چې پرده د ښکلي مخ دي کړه دا ته وې

شوې چې را زرغون په ريدي ګل يې نامزد کړې
ته د ښاخ په دړ کښې چې وې څرنګه وې؟ څهٔ وې؟

(٦)

نه ژاړي ځوانمرد چري له درده رنځه غمه
هم يې وي ګيله د زمانې نه په زړهٔ کمه

ستا غوندي ژړا د هغه نهٔ ده قياس مه کړه
سوز او له مستئ يې وي ژړا نهٔ له المه

مه ګڼه چې شي به مېړنے د امتحان مړ
نه مري که هر څو شولو د لاندې د آسمان مړ

ستا سره هم دا شاني مرګ ښايي او که نهٔ وي
بيا دي په کوم مرګ چې وي رضا شې به آسان مړ

خاوره که د تن دي وي د روح نه نا محرمه
ښاخ به دي هم اوچ وي د نيسان له ښکلي نمه

خلاص به شې له غمه محافظ دي د خپل دم شه
نشته غم چې ډکه دي سينه ساتې له دمه

هره ساه زموږ وي پرېشانه له څو غمه
بيا په هر يو غم کښې وي شريک څو نامحرمه

دومره ده چې ته پرې د "صبا" بنياد کېښوے شې
پوه که په بها يې يې لرې چې دا څو دمه

هغه مېړنے چې يې په ځان ؤ اعتبار
جوړه يې بې خوفه په سيندونو کښې کړله لار

مست که په جلوو باندې نظر شي دا روا دے
اوسه و لېکن له زړهٔ او لاسو خبردار

زړهٔ مو د هغو ټولو غمونو نه دردمند دے
اصل يې له دې نابوده خاورو چې څرګند دے

زۀ او ته له هغه خواږه غم نه خبر نۀ يو
اصل د هغه چې له افکارو دے بلند دے

مه وايه چې خداى راسره دا وکړه بې خونده
ځکه چې لمن خپله څنډلے شې له ګرده

پاڅۀ لاندې باندې دا عالم کړه چې په دې کښې
داؤ د جوارى ګټى نامړد له يو ځوانمرده

اوباسه کين دي له سينې چې دود د خوني
ښه وي بلا ښه، د دريچې په لار وتلې

ور چې نۀ کړې ته خراج د زړۀ د پټي چا ته
اې د کلي نبکه ګوره وران چې نۀ کړې کلے

ډير يې دي د شپې په ګريبان کښې سحرونه
ځلند يې د مخ له ستوري دواړه جهانونه

مړد چې وي د حق، نوره يې څۀ نخښه اوښايم
شونډو کښې موسيږي د مرګي په چپاوونه

(۷)

پرخې په ژړا، د سحر باد وته دا اووې
ستا ځنې لرمه زۀ اميد د يو نظر

زړۀ مي دے تور شوے د ګلانو له صحبته
توے چې په ګیاه شم داسې تبر شه په ما بر

# زړه

(۸)

زړۀ دے هغه بحر چې ساحل ترې نه جوړیږي
موج کښې یې هیبت دے چې نهنګ ترې نه رپیږي

هغه یو سیلاب چې سل هامونه را نغښتے شي
دغه لوے فلک یې یو حباب ته نۀ رسیږي

اور دے زما زړۀ او تن زما د هغه دود دے
دم په دم چې سوځم دغه ساز یې د وجود دے

دے یې جمعیت زما د نیمې شپې له ذکره
لړزنده پاره چې یې قرار په چوب عود دے

کار د هغه خپله زمانه وړي مخ په وړاندې
وي چې د درویش نظر په خپله خودۍ باندې

فقر و سلطاني ده، هم دا اوساتي چې خپل زړه
خپله مرغلره لکه سیند د نظر لاندې

نه چري خپل زور دي د خودۍ دے ازمایلے
نه دي ترِ د خپلو لاسو پښو دے پرانستلے

وه به زولنه هم دغه خپل عقل سرِي ته
خدای که په سینه کښې ورته زړهٔ نهٔ وي بخښلے

داسې وایې ته چې زړهٔ پیدا له خاک و خون دے
هغه په جادو کښې گرفتار د کاف و نون دے

زړهٔ زموږ منم چې په سینه کښې وي زموږه
بیا هم د جهان ځنې زموږ هغه بېرون دے

لمر، سپوږمۍ جهان یې نهٔ دے خلاص د زنارۍ نه
وا شي هره غوټه هم د هغه د زارۍ نه

ورکړه هندوستان وته پیغام زما د لوري
تل غلام آزاد شي د هغه د بې زارۍ نه

زهٔ او ته پټې یو د الله دا یې حاصل دے
ناوې د ژوندون لره هم دغه خو محمل دے

گرد شولو د لاري چې دانا ؤ د رازونو
پوے نهٔ یې چې عقل ورته وایي؟ دغه دل دے

کله په طلب کښې دے د حسن د غریب
کله د صلیب پر سر ولاړ لکه خطیب

کله وي بادشاه چې لاؤ لښکر ورسره ښکاري
وي سره د دې د خپل دولت نه بې نصیب

مه ګڼه جهان د رنګ او بوے، جهان د زړه
نۀ کوڅۀ محل، نۀ يې خاته، نۀ پرېواته

نۀ څلور اطرافه پکښې نۀ مځکه آسمان شته
بې د الله هو په دې عالم کښې نشته څه

ولیدو نظر او اندازې پیدا کړې عقل
غواړي چې پرې کچ کړي دا څلور اړخه جهان

هغه مست د میو چې په زړۀ بللے کیږي
را يې ښکلو واړه رنګ و بو ترې له خپل ځان

څۀ دے محبت؟ خو یو تاثیر دے د نظر
څۀ خوږ يې پرهر دے چې له تېر دے د نظر

ښکار ته ځې د زړه؟ نو دا ترکش خو دي اړتاؤ کړه
ځکه چې دا ښکار د تا نخچیر دے د نظر

# خودي

(۹)

نور د کبریا دے چې پرې ځلک وهي خودي
جوړې رسائي کړے د هغه نارسائي

وصل یې مقام د جدائي له مقاماتو
ده له مقاماتو د وصال یې جدائي

تږ چې شي کوم قام له لا له حاصله ګفتګو
هله یې را وټوکیږي خاورو ته آرزو

بیا دغه خودي شي د آرزو نه تیره توره
داسې چې ګذار یې دوه ټوټې کړي رنګ و بو

مومې دا خودي وجود د پاک رب له وجوده
مومې دا خودي نمود، د پاک رب له نموده

نه پوهیږم زۀ چې به دا ځلنده ګوهر
کوم مقام کښې دے که دا دریاب دے ناموجوده

زړۀ چې کړي د ختو آشنائي هغه ککړ شي
خوند ترې د خوبونو د غفلت واخلي خړ پړ شي

"زه" کاندي پیدا کومه ګړۍ چې را بیدار شي
بیا که دغه "زه" د تن محکوم شي هغه مړ شي

وصل مي وصال دے خو وصال دے په فراق کښې
دا غوټه څوک نۀ شي پرانستې بې له نظر

ورک وي همېشه ګوهر په غېږ کښې د دریاب
بیا د سیند اوبۀ خو اوبۀ نۀ دي د ګوهر

دا زما دا موتې خاوره ده له هغه دره
ګل او کشمالو مي دي له هغه ابرِ تره

نه یمه خبر څۀ به "زه" څۀ به "هغه" وي
"زه" دے په هغه کښې یمه دومره باخبره

# جبر او اختیار

(۱۰)

دا مي دے ایمان چې لوے ښنتن به ضرور کیدي
تَلَه د عمل د دې نړۍ و هر هر څۀ ته

ویره مي له دې ده چې صبا ته په قیامت کښې
دا چاره به سمه وي نۀ ما ته نۀ هغه ته

یو بوډا راهب را ته روما کښې شو ګویانه
شته یوه نکته راخخه وایې خله زما نه

هر یو قام د ځان دپاره خپله مرګ پیدا کړه
تاسو تقدیر مړه کړئ، مونږ تدبیر اووژلو ځوانه

## مرګ

(۱۱)

اورم چې مرګِ یوه ورځ خدای ته داسې اووې
څومره دا وچ سترګي دي له خاورو چې زیږیږي

زهٔ چې د هغه ځنې روح اخلمه شرمیږم
یم حیران هغه ته، چې له مړینې نه شرمیږي

ته ورکړه ثبات چې هغه میر د شش جهات دے
هم یې په لاسونو کښې زمام د کائینات دے

نه شرمیږي هغه د خوارۍ ځنې د مړینې
ځکه بې خبر چې له ناموسه د حیات دے

# ووایه ابلیس ته

(۱۲)

ووایه ابلیس ته دا له ما ورکړه پیغام
ووایه پرړیږي به تر څو ګیر یې په دام

ما ته دا جهان د خاورو هیڅ ښهٔ نهٔ ښکاریږي
څکه چې سحر یې دے استازے د ماښام

دا جهان چې جوړ یې د عدم نه کړو هر ګوره
یخ یې ؤ ضمیر او هم خالي پروت ؤ له شوره

بې زما له ځانه سوے ؤ چرته راته وایه
ستا هستي یې هم کړله پیدا زما له اوره

سترګي د شوق لا شولې روښانه په بېلتون
لا بېلتانهٔ زیات د شوق په زړهٔ کښې کړو لټون

حال به څنګه ستا وي؟ زهٔ د دې نه خبر نهٔ یم
زهٔ خپل آب و ګِل پوے کړم د خپل ځان په مضمون

پوهه یم چې ته یې د خپل در نه اوشړلې
بیا یې په طاغوت، رجیم، کافر هم وبللې

زۀ ترې د ازل نه په کړاؤ یمه تر اوسه
ونې د اغزو مې یې چې زړۀ کښې دې کرلې

ته خو مې خبر یې له صواب او ناصوابه
ټوکیږي نۀ دانه زما له دې پټي خرابه

تا سجده ونه کړله په ما دې زړۀ زهیر شو
واخسته په ځان زما ګناه دې بې حسابه

راشه د شطرنج وکړو بازۍ لکه شاهان
ویلې چې له سوزه کړو څلور کنجه جهان

جوړ یې چې د پاڼې د وښو نه په هنر کړو
یو ښکلې جنت چې دې خوا ته د آسمان

# خاکي ابلیس او ناري ابلیس

(۱۳)

ښه د دې حاضرې زمانې فساد اظهار دے
ټول جهان د دې له بدو چارو شرمسار دے

ذوق دي که پیدا کړو د نظر نو، شیطانان خو
دوه سوه که هم وي، نو هر یو دي خدمتګار دے

هر طرف ته دي د غوږ، د سترګو، رهزنان
سخته کاندي شوکه دا د زړونو، ظالمان

غټ غټ ګناهونه خرڅوي په یو کنجکه
ځکه چې دي ډېر ارزان فروش سوداګران

څۀ دے شیطان هغه اپوټه چې کاندي یون
هغه چې ړندې کړي درله سترګې په افسون

زۀ په حقیقت کښې هغه مړ شیطان ګڼمه
هغه چې به ښکار کوي د تا غوندي زبون

څۀ ډکه د زهرو د هغه ده پیمانه
مړ کړي روح، خو تن ترې بې خبر او بېګانه

ته خو به حلقه د دام یې وینې چې ښکاره ده
نه ښکاري چې دام لري دننه په دانه

دے چې دا بشر د خپل مقام نه غورزولے
څومره چې محکم وي هغه هومره بریښبدلے

وي دي تا گناه به هم بې خونده یخه پخه
ستا ابلیس که وي چرې له خاورو زېږېدلے

ښکار نۀ شي د دغې زمانې د ابلیسانو
ښه راځي غمزه چې د هغوے په رذیلانو

ښه دے اصیلانو ته هم هغه ابلیس ښۀ دے
خداے یې چې لیدلے او ښۀ پوخ دے هوښیارانو

کلک ولاړ گذار ته د هغه مردِ میدان دے
زېرنده دا اور چې دے هغه بلند مقام دے

هر خاکي هغه لره لائق د گذار نۀ دے
څکه چې کوم ښکار وي خوار، په ده باندې حرام دے

څۀ هم که له فهمه د ناولیو خلکو دور دے
بیا هم درته ښایم دا نکته په ما ضرور دے

روغ د دغو نوو ابلیسانو سره نۀ دے
هغه گنهگار، د طبیعت نۀ چې غیور دے

# د لاري ملګرو ته

راشئ کنه! کار د دې امت چې سره ساز کړو
مونږ چې مېړنو غونډي قمار د ژوند آغاز کړو

داسې په جمات کښې د ښار وژاړو په کوکو
زړهٔ چې په سینه کښې د ملا صاحب ګداز کړو

# د لاري ملگرو ته

(۱)

باز دے دلاور دے قلندر د آسمانونو
درونډ کار که دي سپک شي د هغه په وزرونو

پورته شه فضا د هغه کار لره ورشو ده
نه چورلي له جالو، ځان ساتي له دې عيبونو

روح نه مي نغمه د الله هو را ووتله
ګرد غوندي د رخت نه د هستۍ ودوړېدله

ساز واخله له ما چې د زخمک له سوزه تار يې
دا لکه چې اوښکې دي زما وڅڅوله

اوښکي غوندي زړهٔ کښې د فطرت چې ترپېدمه
سترګو ته يې زهٔ په ترپېدو ورسېدمه

وګوره رڼا زما، د هغه د ښو نه
ځکه د وښو د پاڅهٔ کم و څڅېدمه

بوے راغلو ما ته له منطقه ده خامي
دے دلیل د هغه د هغه نا تمامي

پورې دروازې کړي د اسرارو راته بېرته
دوه بیته چې وي د پیر د روم رح یا د جامي رح

راشه کنه! واخله له ما هغه پخواني
هغه چې ژوند خاورو د پیالې ته ورکوي

چرته که اوبهٔ ورته زما له ښیښې ورکړې
لوے به پرې لاله شي لکه قد دے د سرې

دے زما په لاس کښې هم هغه پخوانے چنګ
شته پکښې دننه ژړاګاني رنګ په رنګ

هو! خو ږغول یې د زمري په نوک پکار دے
ځکه چې تارونه یې رګونه دي د سنګ

یو مي سه د دهر پرویزانو ته خبرونه
نه یم زهٔ فرهاد چې تېر تر خځ ته کړم لاسونه

زهٔ په هغه یو اغزي چې ښخ مي دے په زړهٔ کښې
غوڅ به د سلګونو بېستونو کړمه زړونه

زهٔ یمه فقیر ساز و سامان مي یو نظر دے
ما ته وچ وابنه ښکاري یارانو ته چې غر دے

ښه د هغه باز ځنې کارغه د ادیرې دے
روږدے چې په لاس د یو بادشاه قوله په سر دے

هیڅا ته د زړهٔ دروازهٔ پورې نهٔ کړه ما
نه زهٔ له خپلوانو له دوستانو شوم جدا

ځاے مي د استوګنې ځان ته جوړ کړو په سینه کښې
خوښ یم د دې چورلنده فلک لاندې سدا

شته په دې چمن کښې نهٔ مي آب او نهٔ مي جاه
شته مي په نصیب کښې نهٔ قبا او نهٔ کلاه

ما ته ګلچین وایي تا چمن وران آموخته کړو
ما چې د نرګس سترګو ته ورکړله نګاه

دوو سوو هوښیارو دې محفل کښې سخن اووې
لا یې ترې نازک لکه چې برګ د سمن اووې

اووایه لېکن ما ته هغه سترګور څوک دي؟
و یې کتل اغزي ته، حال یې ټول د چمن اووې

ما وته معلوم دي نۀ علمونه نۀ فنونه
ور مي کړل سخن ته په بل ډول مقامونه

کوم چې زما سوز او کوم سرور ؤ په کاروان کښې
پورته پرې سپين ږيرو سپک او تند کړه قدمونه

نه پوهيږې ته چې زۀ مارغه يم د صبا
نه پيژنم بل څۀ بې د سوز او د ژړا

مه پريږده لمن مي چې به اولولې بېشکه
ته کنجي د باغ پرته په ځاله کښې زما

ښکاري دا جهان راته ښخي يو رهگذر
نه مي شته زړګونو لاروو کښې همسفر

صبر مي کړه زړۀ له دې خويښانو له خپلوانو
ځکه چې د دوے نه پردے نشته بل بشر

پاڅۀ "ناشته والي" کښې هم ته شته کېدل زده کړه
ته خپلې بها لره هر دم زياتول زده کړه

راشه په نغمه کښې مي شه محو که پوهيږې
دُر غوندي طوفان کښې مي آرام اوسېدل زده کړه

زۀ پخوانۍ دې خاکي جهان پاللې يمه
بيا هم له دې خپل مقامه سترې زړۀ لرمه

څو که را زرغون شوم هم د دۀ د نم له فيضه
بيا هم خپل آسمان زۀ دغه مځکه نۀ ګڼمه

پوې به نۀ شي څوک چې نامحروم وي د مردانو
زړونه چې ژوندي دي، دا په دم دي د مردانو

ځان ساتي له آه و له فرياد و له فغانه
تل د ځوانمردانو غوندي غم وي د مردانو

اوزېږو نظر په تن کښې اووينه خپل ځان
هغه ګل چې نۀ دے لا د ښاخه نمايان

او که نه، په شانې د يو غشي په لينده کښې
راشه په نظر د تير انداز اوله نښان

نه دے د يقين له ذوقه عقل خبردار
بد يې دے ملګرے د حکمت علمِ قمار

دوه سوه رازيؒ او بو حامدؒ يې سيالان نۀ دي
هغه يو ناپوهه چې ليدے شي خپله لار

ووایه سامان و زر او لعل و ګوهر څهٔ دي؟
دا زرین کمر غلامان ځلند بشر څهٔ دي

دے له دوه جهانه بې پروا لکه چې خدای دے
دا یې سرمایه نور خاوندان د هنر څهٔ دي؟

هوش مي دے خودۍ لره نشه چې ده زما
کم له میخانې مي ځکه شور وزي سدا

ډېر هم که خیرنه ناصفا ده ته یې اوڅښه
خټه د پرون د خم لري دغه صهبا

ستا که د چیني د منډوسه سره کار دے
ما ته له خپل ځان راغلے بوے د یو نګار دے

بس دغه لرګے دي د شپېلۍ راله پنګه
نهٔ مي د منبر او نهٔ لرګے پکار د دار دے

ما چې جوهر ولید د خپل ځان په آئینه کښې
جوړ مي کړو خلوت ځان ته دننه په سینه کښې

زهٔ له دې رندو او د بې ذوقه هوښیارانو
وتښتېدم، خوښ یم، په غمونو دیرینه کښې

پورته چې مي کډه کړه د ژوند له دې جهانه
هر چا به هم دا ویل چې دے زما آشنا ؤ

هیڅوک مګر پوے نۀ شو، په دې چې دے غریب
څۀ ویل؟ او چا ته؟ او راغلے له کوم خوا ؤ

(۲)

زړۀ که یې دانا وي او صفا یې وي ضمیر
وي داسې فقیر په تشو لاسو هم امیر

وي که په اوږه د یو منعم بې دین ناپوهه
نه ده قبا، کته ده، خو کته د حریر

(۳)

ته سجده کوې ورته دارا وي او که جم
ولې اې ناپوهه! شرموې داسې حرم

پام کوه حاجت دي فیرنګي ته وړاندې نۀ کړې
اوغورزوه ته د زړۀ له تاخه دا صنم

ما وړوکے پاړکے اوریدلے له یو پیر
ډیر چې دانشمند ؤ پخوانے روشن ضمیر

وې که يې خودي په ناداری کښې اوساتله
کړي دواړه جهانه به تر لاس هغه فقير

پټ دے په دوه حرفه کښې د ژوند چې کوم اسرار دے
هيڅ کله منبر د عشق مقام مه ګڼه دار دے

نه ډارېږي هيڅ يو ابراهيم له نمرودانو
ځکه چې د عود کچه لرګے ته اور عيار دے

مه غواړه ريديه له هيچا غم ګساري
ما غوندي دننه له ځان وغواړه ياري

غږ ورته پرانېزۀ چې کوم باد راشي خود داره
مه پرېږده د خپل پخواني داغ چوکيداري

ياد له يو سپين ږيرے مې دي دا دوه نصيحته
نه ښايي چې څوک بې خپله روحه په بل ژوي

تښته له هغه سړي چې لاس يې بل ته ټيټ وي
روح کاندي په بل باندې ګاڼه څۀ که تل ژوي؟

اوئې وې ساحل ته چې يو موج ؤ بې قرار
زۀ به يو فرعون لره خپل ځان کړمه معيار

کله به خپل ځان کښې تاؤ را تاؤ کړمه معیار
کله به ګډېږمه په ذوق انتظار

ستا دا مرتبه او د مخ آب که له فرنګ وي
مه ږده خپل تندے بې له هغه د بل پر در

اونیسه کوتک ته یې خپل ځان څۀ بده نۀ ده
ځکه چې دا حق د خر والا دے په خپل خر

نه دے فیرنګي لره زړۀ لاندې تر نګین
دي یې ټول ملکونه خو بس یو نۀ لري دین

داسې یو څښتن دے چې طواف کښې د حرم یې
شته دي شل ابلیسه نشته یو روح الامین

(۴)

ما او تا د زړۀ او هم د دین نه لاس وینځلي
یو لکه د ګل د بوے له اصله تښتېدلي

دین زموږه هم زموږ د زړۀ له مړیني مړ شو
موږه دي دوه مرګه په یوه سودا پیرلي

هغه مسلمان چې دے خبر په راز د دین
ټیټ به غیرالله ته هیچري نۀ کړي جبین

ونه چورلي سم که د مقصد سره فلک یې
وګرځوي دے پخپل مقصد به دا زمین

خوے یې د پردو دے نۀ دے زړۀ له دې خاکدانه
شپه او ورځ یې هم نۀ دي له دور د آسمانه

ولټوه وخت دي خپل قیام لره پخپله
لمونځ خو وي د عشق او د مستئ بې له اذانه

نشته دے مقام د شوق چې صدق و یقین نشته
دا دواړه بیا بې صحبت د روح الامین نشته

وي در شخه برخه که له صدق او له یقینه
پند کوه زړور درته هیڅوک په کمین نشته

بس دے مسلمان لره عرفان دغه ادراک
وګوري صفا چې ځان کښې رمز د لولاک[1]

خدای نۀ شي راتلے زمونږ په پوهه کښې هیچري
ویېژنه هغه چې یې وې "ماعرفناک[2]

(۱) تلمیح په حدیث: "لولاک لولاک لما خلقت الافلاک.

(۲) حدیث: "ما عرفناک حق معرفتک.

وسپارلو ځان دي د فرنګ په سرو بتانو
مړ په بتخانه کښې يې په شان د نامړدانو

عقل دي د زړۀ نه بېګانه، سينه بې سوزه
تا چې شراب نوش نه کړه له تا که د نيکانو

نۀ هر کس له خپله ځانه تير نۀ په ګداز دي
نه هر يو سړے د نياز په حال کښې مست د ناز دي

ده د لااله قبا په سرو وينو لړلې
دا اوږد لباس دے د نامړد په قد دراز دي

سوزي پرې مومن چې يې خپل تاؤ دے په وجود کښې
دې کشود د هرې غوټۍ هم د دۀ کشود کښې

ښکاري په قيام کښې جلالت د کبريا يې
هم ښکاره جمال د بندګۍ يې په سجود کښې

څۀ پوښتې چې څۀ رنګه وي لمونځ عاشقانه
وي رکوع يې هم لکه سجود محرمانه

دومره تب او تاب يې وي يوه الله اکبر کښې
نه ځايېږي ستاسو په تمامه پنځګانه

وي يې دوه جهانو ته بلنه په قرات کښې
ژوند ابدي پټ د مسلمان پڅپل رکعت کښې

پوے د دې بې سوزه زمانې مړي پرې څۀ دي
شته دے قیامتونه د هغه په "قدقامت" کښې

(۵)

پوے د رزاقۍ په راز فرنګ دے په ښۀ شان
واخلي له هغه ده ته يې ورکړي په احسان

بیا په داسې ډول رسوي روزي شیطان
خپله پاک الله يې هم دې کار ته شي حیران

نشته څۀ حاجت چې اوږدوم درته داستان
واخله په یو حرف چې پټ اسرار کړم درعیان

خپل همه جهان يې سوداګرو وته ورکړ
څۀ خبر په قدر د مکان دے، لا مکان

یو جنت دپاره د پاکانو د حرم دے
یو جنت دپاره د اربابو د همم دے

ووایه مسلم د هندوستان ته خوشحالي کړه
یو جنت د خدای په رضا مفت او ویړیا هم دے

(٦)

نیت دا قلندر، د تقریر نه لري هیڅ
بې د دې نکتې نه بل اکسیر نۀ لري هیڅ

نشته دے حاصل څۀ د هغه شدل پټې نه
په چې د وینو د شبیر نۀ لري هیڅ

پاے